تفسیر ابوحنیفہ

تالیف

علامۃ العصر وحید الدہر ابو الفضل مولانا محمد عبد الشہید الایوبی

الغزنوی المولد الخیلی الحنفی النقشبندی عفی عنہ

ناشر

مکتبۃ القراءۃ والتجوید

کانسی روڈ شالمار کوئٹہ

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner



Maktaba Tul Ishaat .com



تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں



تفاسیر	خطبات	منطق
احایث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

Maktaba Tul Ishaat.com

MAKTABATUL QIRAIATI WALTAJWED QUITTA

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

په پښتو ژبه کښې اولنی او په افغانیه تاریخ کښې یې سارې

په زر ګونو جدیدو مسئلو باندې مشتمل

تفسیر البیان

يَعْتَذِرُوْنَ *** وَمَامِنْ دَآبَّةٍ

نهم توک ۹

تالیف اوتصنیف

د علامة العصر ابو الفضل شیخ التفسیر والحدیث فقیه دوران مفسر الزمان

حضرت مولانا محمد عبید الله الایوبی

الکندهاري السلیمانخیلي الحنفي النقشبندي حفظه الله تعالی

مکتبة القرآن والتجوید

کانسي روډ شالدره کوټه

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم ..... تفسیر ایوبي پښتو ټهم ټوک

مولف ..... الحاج مولنا محمد عبید الله الایوبي الکندهاري

السلیمانخیلي الحنفي حفظه الله تعالی بفضله الوهبي

کمپوزر ..... حبیب الحق حقاني (مینګل)

تایپ ..... حقاني کمپیوټر اداره

نشر کوونکي اداره ..... مکتبة القراء ت والتجوید کانسي رود کوټه

د چاپ ځای ..... لاهور پاکستان

یو نظر دې خوا

هیڅ یو مسلمان هم په قرآن مجید، احادیثو یا د فقهي په کتابو کي په قصده سره غلطي نه کوي، زمونږ اداره تر خپله وسه پوري د کتابو تر لیکلو وروسته تصحیح ته زیاته پاملرنه کوي، چې ددې په وجه زمونږ کتابونه معیاري دي، خو بیا هم بنده بنده دی، یو نه یو ځای څه ناڅه غلطي په املاء کي یا په یوه جمله کي څنې صادره سي، نو زمونږ د ټولو ناظرینو څخه دا خواست دی چې که ستاسي تر نظر داسي غلطي تېره سي لطفاً زمونږ سره تماس ونیسئ، تر څو د کتاب د دوهم وار په چاپ کي د هغې تېروتنې اصلاح وسي.

په درناوي ستاسي ورور شمس الحق شمس

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

جميع الحقوق محفوظة

جميع حقوق الطبع والنشر محفوظة لمكتبة القراءة والتجويد ولا يجوز نسخه بالكامل

او جزء منه بأي طريقة او بصورة او بواسطة او اضافة بنفس الكتاب كاملا او جزأ او تسجيله على اشرطة كاسيت او ادخاله على الكمبيوتر او برمجته على اسطوانات ضوئية الا بموافقة الناشر خطيا.

Copyright ©
All rights reserved
Tous droits reserves

Exclusive rights by Maktabatul-Qiraat Waltajweed Quetta - Pakistan. No part of this publication may be translated, reproduced distributed in any form or by any means, or stored in a data base or retrieval system, without the prior written permission of the publisher.

الطبعة الاولى

١٤٢٩ هجري - ٢٠٠٨ ميلادي

مكتبة القراءة و التجويد

شارع كاسي كوئته - باكستان

MAKTABTUL-QIRRAT
WALTAJWEED

الحمدلله وحده والصلوة والسلام على من لا نبي بعده.

وبعد محترمو لوستونکو!

قرآن مجيد د الله تعالى هغه سپيڅلى كتاب دى، كوم چې د خپل اختصار سره سره د دنيا د ټولو مشكلاتو، مقصدونو او كړاوونو حل ورکښې موجود دى.

لو ددې خبرې اعتراف او تصديق د دنيا كفارو او لادينو مذهبونو هم كولې او هم يې كوي، دوى به ويل "مالهذا الكتاب لايغادر صغيرة ولا كبيرة الا احصاها" دا څرنګه كتاب دى چې د دنيا د هيڅ ورځيو او لويو شيانو تذكره يې نه ده پرې اينې بلكې هر څه يې ذكر كړي دي او دا هغه كتاب دى چې خپل په ټوټې والي كښې زور سوى نه دى علما كرام له ده څخه ټوټې ټوټې مسائل او ټوټې ټوټې احكام راباسي، او دى د دنيا يو واحد كتاب دى چې لا تر اوسه پې خپل انتهى ته څوک نه دى پرې اينې. څكه نو علامه شاطبي په خپل تصنيف "الشاطبيه" چې اصل نوم يې "حرز الاماني ووجه التهاني" دى داسې وايي:

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

واخلق به اذ ليس يخلق جدةٌ
جديداً موالیه علی الجد مقبلاً

او لا تر اوسه هم بې شمېره داسي آيتونه لري چې زمونږ له ذهنو څخه پورته او په پوهه کښې يې مونږ د مشاهدې ضرورت لرو، ولي انسان څرنګه چې عقل يې محدود دی.

نو د هم هغو شيانو په تفصيل پوهېږي کوم چې دده ومخې ته راغلي وي، خو قرآن مجيد داسي بې شمېره آيتونه لري تر اوسه پورې د هغو ظهور ته لا وخت سته.

زما محترم استاذ حضرت علامه فضيلة الشيخ مولانا محمد عبيدالله الايوبي القندهاري ته دي الله تعالى صحت کامله ورکړي چې د قرآن مجيد او نورو علومو اسلاميه وو په خدمت کښې يې خپل قلم په کار اچولی دی.

له محترمو لوستونکو څخه هيله!

محترمو لوستونکو! مکتبة القرائت والتجويد ستاسو خپله مکتبه ده په ښوو مشورو سره مونږ ونازوئ، او د قرآن مجيد د علومو په خپرولو کښې مو له دعا څخه مه هېروئ، هيله ده چې خپرونکې اداره او حضرت ايوبي صاحب مدظله العالي به له دعا څخه هېر نه کړئ.

د دعاؤ په هيله

(قاري) فضل الحق حقاني
خادم التجويد والقراءة کوئټه

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سکين او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله الذي لاشريک له متوحداً بجلال ذاته وجمال صفاته والصلوة والسلام على سيد البرية وخير الخليفة محمد وآله وصحبه اخيار امته اجمعين.

اما بعد: د يوولسم جزء تفسير په ورځ د يکشنبې پر يوولس بجې من اول شهر ذوالقعدة من سنه ۱۴۲۸ هـ ق. خدايه ته يې راته آسانه کړې او توفيق راکړې او ستا په لوی دربار کښيي يې راڅخه قبول کړې.

يَعْتَذِرُوْنَ اِلَيْكُمْ اِذَا رَجَعْتُمْ اِلَيْهِمْ

دوی يعني منافقين هغه کسان دي چې دوی د تبوک له غزا څخه تخلف کړی ؤ چې له اتيا کسانو څخه بالا وه. يعني عذر باطل د تخلف درڅخه کوي (اليکم) "ايها النبي والمؤمنون" چې تاسي رجوع وکړی له غزا څخه د تبوک ومدينې منورې ته.

دروښ وايي: چې په دې آيت کې معجزه باهره ده د رسول کريم ﷺ، ولې چې دوی بعد نزول هذه الآية عذر کولو ته راغله او پوچ عذرونه يې بيانول.

قُلْ لَّا تَعْتَذِرُوْا لَنْ نُّؤْمِنَ لَكُمْ

ته ورته ووايه ايها النبي چې د درواغو عذرونه مه کوئ هرګز موږ ستاسي د عذر تصديق نه کوو.

پوه سه: چې دا جمله علت ده د نهي له عذر څخه. ولې چې د عذر کونکي خو دا غرض وي چې زما تصديق دي وکړل سي فيما يعتذر به.

پوه سه: چې علت د عدم تصديق يې دا قول دی.

قَدْ نَبَّاَنَا اللّٰهُ مِنْ اَخْبَارِكُمْ وَسَيَرَى اللّٰهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُوْلُهٗ

ولې چې موږ خبر کړو خدای ﷻ په ذريعه د وحي الى رسوله ﷺ ستاسي د بعض اخبار او حالاتو څخه من الشر والفساد او د اعتذاراتو کاذبه وو. او ژر دی چې خدای ﷻ او رسول ﷺ به ووينې عمل ستاسي په وروسته زمانه کې تاسي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

توبه له نفاق څخه کاږئ او که نفاق ته دوام ورکوئ. ددې آیت معنا داده چې هنوز هم دروازه د توبې وتاسي ته خلاصه کړل سوې ده ان اردتم التوبة. مثنوي.

از منافق عذر رد آمد نه خوب ..... زانکه درلب بود آن نی در قلوب

ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَىٰ عَٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَٰدَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿١٠٥﴾

بیا به تاسي رد کړل سئ یعني دروسته تر مرګ و هغه ذات ته چې دی په پټو عملو ستاسي خبر دی. چې له مؤمنانو څخه مو پټ ساتل من النفاق القلبي او په حاضرو او ښکاره کارو ستاسي چې د مسلمانانو سره به مو لمونځ کاوه او اظهار د ایمان به مو کاوه.

پوښتنه: د خدای پاک نوم خو د مخه ذکر ؤ. نو ولي یې په وصف سره ذکر کړی یعني عالم الغیب آه. او داسي به کافي نه وای "ثم تردون الیه بارجاع الضمیر"؟

ځواب: د وصف په راوړلو کي تنبیه پر دې ده چې د علم شامل څخه نه ددوی سر خلاص دی او نه یې علانیه فلا فائدة لهم في اظهار الایمان واضمار الکفر. نو به خبر کړي خدای ﷻ تاسي په هغو شیانو چې تاسي یې عمل کاوه یعني په دنیا کي من النفاق مراد له خبر تیا څخه تعذیب بالنار دی.

پوه سه: که کلمه د ما موصوله سي، نو عائد و ماته محذوف دی والتقدیر بما کنتم تعملونه. او که کلمه د ما مصدریه سي نو معنا یې داده بعملکم في الدنیا.

سَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ لَكُمْ إِذَا انقَلَبْتُمْ إِلَيْهِمْ لِتُعْرِضُوا عَنْهُمْ

ژر دی چې قسمونه به واخلي دوی په خدای ﷻ وتاسي ته. یعني ستاسي د اطمنان لپاره او لپاره د دفع د توهم د نفاق لپاره چې تاسي رجوع وکړئ له غزا څخه د تبوک ودوی ته. چې تاسي ددوی څخه یعني ددوی له ملامتیا او عتاب څخه مخ واړوی.

تنبیه: داسي یې نه وویل "اذا انقلبتم الی المدینة" ولي چې بعض ماهره منافقان د علیه الصلوٰة والسلام او مؤمنانو مخ ته ورو تلي وه یعني د مدینې تر رسیدلو دمخه او اظهار د عذر یې کاوه. وهذا سانح عزیز.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَأَعْرِضُوا عَنْهُمْ ۖ إِنَّهُمْ رِجْسٌ

نو تاسي اعراض وکړی له دوی څخه یعني مه عتاب ورته کوئ او مه ورسره کښینئ. ولي چې دوی نجس دي یعني په نجاست باطنه سره چې نفاق دی، نو نه ددوی سره الفت روا دی او نه مصاحبت او معاتبه ددوی فائده نه لري، ولي چې دوی لکه خنازیر له نجاست باطن څخه توبه نه کاږي فما الفائدة في المعاتبة.

وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ ۖ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ

او ځای ددوی یعني په قیامت کې دوزخ دی چې دا جزاً ده د هغه څه چې دوی یې کسب کاوه من النفاق والتخلف عن تبوک.

بوه سه: چې "جزاً" یا مفعول مطلق د فعل محذوف ده. والتقدیر یجزون جزاً او یا علت دی د "مأواهم جهنم" بغوي رحمه الله په خپل سند سره له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت کړی دی چې ده وویل چې دا آیت په جد بن قیس او په معتب بن قشر او په ملګرو کې ددوی چې اتیا کسان وه نازل سوی دی. چې علیه الصلوٰة والسلام چې مدینې منورې ته راغلی امر یې وکړی چې د دغو کسانو سره دوستي مه کوئ او مه وسره کښینئ. دا وزوسته آیت په قول د مقاتل رحمه الله په عبدالله بن ابی کې نازل سوی دی چې ده و علیه الصلوٰة والسلام ته وویل بالله الذي لا اله الا هو چې تر دې وروسته بیا زه له تا څخه تخلف نه کوم یعني پر هره خوا چې ته غزا ته ځې او د علیه الصلوٰة والسلام څخه یې طلب وکړی چې ته زما څخه راضي سه.

يَحْلِفُونَ لَكُمْ لِتَرْضَوْا عَنْهُمْ

دوی قسم بالله اخلي وتاسي ته چې تاسي راضي سئ.

پوښتنه: "یحلفون" صیغه د جمع ده او سره ددې چې مخالفت خو یو اخي ابن ابی وکړی؟

خواب: چونکه ابن ابی د ټولو منافقینو رئیس ؤ، نو دده قسم گویا د ټولو قسم دی.

سوال: ابن ابی خو یو اخي د علیه الصلوٰة والسلام رضا غوښتله، نو د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"لترضوا" په لفظ د جمع څه معنی ده؟

خواب: چونکه د علیه الصلوة والسلام رضا مستلزمه راضي والي لره د ټولو مسلمانانو ده. نو یې ځکه لفظ د جمع راوړی.

فَإِنْ تَرْضَوْا عَنْهُمْ فَإِنَّ اللَّهَ لَا يَرْضَىٰ عَنِ الْقَوْمِ الْفَاسِقِينَ ﴿٩٦﴾

که چېرې تاسي راضي هم سئ ددوی څخه په تحقیق خدای ﷻ نه راضي کېږي له هغه قوم څخه چې فاسقان وي. والمعنی چې منافقانو که څه هم د درواغو په قسمو تاسي راضي کړلاست لکن پر خدای ﷻ چې عالم الغیب والشهادة دی د درواغو قسم دوی نه سي تېروړلای چې خدای ﷻ به هم راضي کړي په دغو درواغو په دې کې اشاره ودې ته ده چې دوی دغه قسمونه د توبې پر ډول نه اخستي بلکې نفاق یې باقي دی صرف دوی تقیه کوي یعني ځان ساتنه ستاسي څخه. او دوی فائده نه کوي رضا ستاسي سره د غضب الهي بلکې خدای پاک پر دوی سپکاوی بې عزتي مسلطه وي په دې دنیا او عذاب النار في دار القرار نعوذ بالله من غضب الجبار. وفي المثنوي.

عذر احمق بدتر از جرمش بود ..... عذر نادان زهریر دانش بود -
بروی وریا خرقه سهلست دوخت ..... وگر باخدا درفروشی نکوست

مسئله: د درغو او قسم په معاملاتو یعني په بیع وشرا کې هم حرام دی، ورد في الحدیث الصحیح "ان الیمین الکاذبة منفقة للسلعة ومحقة للبرکة" یعني او په درواغو قسم اخستل تېر به کړي مبیعه پر مشتري لکن محو کونکی د برکت د بیع دی.

حکایت: شبلي نعماني قدس سره وایي:

زنی رامیگرید ومیگوید واویلا من فراق ولدی یعني چې زوی یې مړ وُاو دې د واویلا بغاري پر وهلې "شبلي وژړل او داسي یې وویل واویلاه من فراق الاخدان (جمع د خدن یعني دوست اندروني وقلبي چې خدای ﷻ دی) بنځي ورته وویل چې تا ولي دا خبره وکړه؟ شبلي رحمه الله ورته وویل چې ته پر مخلوق ژاړې چې حتماً به یو وخت فاني کېږي. نو زه ولي پر فراق د خالق چې باقي دی نه وه ژاړم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَلْاَعْرَابُ اَشَدُّ كُفْرًا وَّنِفَاقًا

صحرا نشینان ډېر سخت دي په کفر او په نفاق کښې تر اهل البلد. یو خو دوی وحشي طبعیته دي او بل یې زړونه سخت دي او د علما سره ناسته او ولاړه نه لري. او بل قرآن مجید او احادیث نبویه نه اوري.

وَاَجْدَرُ اَلَّا يَعْلَمُوْا حُدُوْدَ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝

ای احق په دې دي چې دوی دي نه پوهېږي په احکامو د ما انزل الله تعالی پر رسول خپل من الفرائض والواجبات وسنتها. او په مباحاتو او محرماتو هم نه دي خبر په سبب د جهل ددوی. او خدای ﷻ د مخلوقاتو په ټولو حالاتو خبر دی که بادیه نشین دي او که اهل البلد دي. او په هر شي کې حکمت لري.

وَمِنَ الْاَعْرَابِ مَنْ يَّتَّخِذُ مَا يُنْفِقُ مَغْرَمًا وَّيَتَرَبَّصُ بِكُمُ الدَّوَآئِرَ ؕ

او بعض له اعرابو څخه داسې کسان دي چې بولي او ګڼي او ګمان لري پر ماینفق في سبیل الله صرف تاوان. ولي چې دوی په سبب د کفر هغه څه چې دوی یې نفقه کوي د ثواب طمع نه لري او پر ورکړه د عذاب نه بېرېږي لانکارهم من یوم القیامة بلکې دوی که څه انفاقاً ریاءً یا خوفاً منکم یې کوي. او دوی انتظار باسي د حوادثو د زمانې چې پر تاسي به راسي یعنې چې علیه الصلوٰة والسلام به مړ سي او مشرکان به پر مسلمانانو غالب سي او مورږ به له انفاق څخه نفاقاً ریاءً او خوفاً منکم هم خلاص سو.

عَلَيْهِمْ دَآئِرَةُ السَّوْءِ ؕ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ۝

پر تاسي دوی دائرة السوء یعني العذاب.

پوه سه: چې دا ښېرا ده ودوی ته په مثل د هغه څه چې دوی یې انتظار کاوه د مسلمانانو لپاره من نزول البلاء علی المؤمنین. او یا اخبار دی چې پر تاسي باندې دائرة السوء یعني عذاب نازل سي لکه تاسي چې د مؤمنانو لپاره غوښتونکي واست.

فائده: د "دائرة" لفظ اسم فاعل دی من دار یدور هغو حوادثو ته وایي چې په مرور د زمانې منځ ته راځي من الخیر والشر ولهذا قید بالسوء (والله سمیع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

علیم) او خدای ﷻ اوربدونکی دی د هغو خبرو چې منافقان یې د خپلو شیطانانو یعنې مجاهرو کافرانو سره کوي. او علم لري پر هغه نفاق چې دوی یې په زړو کې ساتي. بغوي رحمه الله وایي چې آیت مذکوره په اعرابو کې او بنې تمیم او اسد او غطفان نازل سوی دی. د اعرابو په باره کې:

ده مرو ده مرد را احمق کند ..... عقل را بی نور وبی رونق کند

پوه سه: چې مراد له اعرابو څخه یا د لفظ د اعرابو څخه هغه قریې دي چې د امصارو څخه چې مجمع د اهل علم دي دهري لهري واقع وي لا الملتصقة بالبلاد فانها في حكمها كما لايخفى.

وَمِنَ الْأَعْرَابِ مَنْ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ

او بعض له اعرابو څخه هغه کسان دي چې پر خدای ﷻ ایمان لري. یعنې په وحدانیت سره او پر ورځ د اخیرت چې راتلونکې ده.

دروښ وایي: چې په دې آیت کې تنبیه ده پر دې باندې چې ټوله اعراب دغسې نه دي یعنې اشد کفراً ونفاقاً. بغوي رحمه الله وایي چې دا آیت نازل دی په بنې مقرن کې چې د مزینه د قوم یو ښاخ دی. او هغه دمخه آیت هم په دوی کې نازل سوی دی یعنې قوله تعالى ولا على الذين اذا ما اتوك لتحملهم الآية. او عبد الرحمن بن معقل وایي کنا عشرة ولد مقرن.

دروښ وایي: چې بعض مفسرین په مراد کې ددې دلې د اعرابو متناقض بیان کړي دي والله اعلم.

وَيَتَّخِذُ مَا يُنْفِقُ قُرُبٰتٍ عِنْدَ اللّٰهِ وَصَلَوٰتِ الرَّسُوْلِ

او دوی ګڑځوي یعنې عقیده لري پر ما ینفق في سبيل الله سبب د ثواب په نېز د خدای ﷻ او سبب د قرب وخدای ﷻ ته. او سبب د دعاګانو د رسول الله ﷺ او د استغفار د علیه الصلوٰة والسلام ددوی لپاره په دربار کې د رب العزت ﷻ، ابن عباس رضي الله عنهما وایي چې څه وخت چې ابن ابي اوفى خپله صدقه راوړه، علیه الصلوٰة والسلام دا سې دعا ورته وکړه اللهم صل على آل ابى اوفى. ټولو صحاح سته وو دا حدیث راوړی دی الا الترمذي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي. چې روح البيان او مظهري دغه دعا د عليه الصلوٰة والسلام اللهم صل آله صحيح کتابو څخه رانقل کړې ده لکن نور تفصيل يې نه دی پکښې کړی. لکن روح المعاني د يوولسمي پاڑې په شپږمه صفحه کې ډېر تفصيل پکښې کړی دی، دی وايي چې اوس هم که يو فقير يا يو عالم ته چا صدقه ورکړه بايد د خير دعا او د برکت دعا او طلب د ښې ورته وکړي. لکن داسې به نه وايي اللهم صل علی فلان ای المتصدق. ولي چې علماء فقهاء او محدثين تولې وايي چې صلوٰة ويل پر غير د انبيا او ملائکه عليهم السلام نه دی روا الا بالتبع نحو صلی الله تعالی علی سیدنا محمد وعلی آله واصحابه وعلی ابی حنيفة واحبابه وعلی امته رحمة لان في الصلوة تعظيم مالیس في غيرها من الادعية. او صلوٰة لپاره د زيادت رحمت او قرب دی وخدای ﷻ ته. فلا بد ان يتصور منه الذنوب والخطايا والنبي معصوم منها. او تبعاً په دې روا دی چې په هغه کې تعظيم د متبوع دی او دی وايي چې په دې کې اختلاف دی چې مکروه تحريمي دی او که تنزيهي. او که خلاف الاولی دی، نووي رحمه الله په خپل کتاب الاذکار کې دويم مذهب مختاره کړی دی يعنې چې مکروه تنزيهي دی، روح المعاني وايي وهو الصحيح.

پوښتنه: په حديث کې د صحاح پر ته له ترمذي داسې راغلي دي اللهم صل علی آل ابی اوفی. نو وغير ته د نبي ﷺ ولي نه ده روا داسې وينا؟

خواب: په مستصفی کې وايي چې دا د عليه الصلوٰة والسلام حق ده فله ان يتفضل به من يشاء ابتداً وليس غيره عليه الصلوٰة والسلام كذلک فلا يقوم حجة علی المانع. بيا آلوسي رحمه الله د سلام مسئله پسې څېړلې ده او وايي چې لقاني رحمه الله په شرح کې د جوهرة التوحيد په نقل د امام جويني رحمه الله وايي چې سلام په معنی د صلوة دی په دې معنی چې پر غائب يوازې په غير کې د انبيا او ملائکه عليهم السلام يې انفراداً ويل جواز نه لري مګر تبعاً کما مر في الصلوة فلا يقال علي عليه السلام كما يقوله الشيعة بل يقال علي رضي الله عنه وسواء في ذالک الاحياء والاموات الا الاموات الحاضرين فيقال السلام عليكم ايها الاموات الحاضرين وهذا مجمع عليه مثلاً يقول سلام عليكم دار قوم مؤمنين والظاهر في منع السلام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

على غير الانبياً والملائكة عليهم السلام اصالة ماقال النووي ان ذالک من شعار اهل البدع كالشيعة فانهم يقولون علي عليه السلام وقد يكتفون بالسلام. وهذا كما يقال الله عزوجل وامثاله ولا يجوز ان يقول محمد عزوجل وان كان محمد عزيزاً جليلاً. حاصل دا چي تحقيق د معنى لغوي په صلاة او سلام او عزوجل په مدعوله كي كافي نه دى بلكې اذن شرعي شرط دى.

دروښ وايي: چي صاحب د روح المعاني نور بحث اوږد كړى دى او د نورو امامانو مذهب يې رانقل كړى دى وفيما نقلته كفاية لمن القى السمع وهو شهيد والله الموفق والمعين.

اَلَآ اِنَّهَا قُرْبَةٌ لَّهُمْ

آگاه اوسه چي دا نفقه او صدقه ددوى قربت او ثواب دى ددوى لپاره ده يعني ددوى ظن پر خداى پاک صحيح دى چي خداى پاک په اول كي ددې جملې حرف تنبيه راوړى او كلمه د "ان" د تحقيق يې راوړه او جمله يې په ډول او ترتيب د جمله استينافيه بيانيه راوړه فافهم لانه دقيق.

سَيُدْخِلُهُمُ اللّٰهُ فِيْ رَحْمَتِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝

ژر دى چي خداى پاک به دوى داخل كړي په خپل رحمت چي جنت دى او خداى غفور او رحيم دى.

وَالسّٰبِقُوْنَ الْاَوَّلُوْنَ مِنَ الْمُهٰجِرِيْنَ وَالْاَنْصَارِ

او هغه كسان چي سبقت او اوليت د مهاجرينو له ډلي څخه يعني د خپل قوم او خپل وطن او د خپلو اوطانو او اموالو څخه په سبب د ظلم د كفارو د مكې او هغه كسان چي كومك يې كړى دى د عليه الصلوٰة والسلام او د مهاجرينو سره او ځاى يې دوى ته وركړى په خپل بنار مدينه كښې چي انصار يې بولي، مظهري رحمه الله وايي چي په دې كښې اختلاف دى چي سابقين د دواړو ډلو مهاجرين او انصار څوک مراد دي بعض علماً رحمهم الله وايي چي سابقين د دواړو ډلو هغه كسان دي چي دواړو قبلو ته يې لمونځ كړى دى يعني بيت المقدس والكعبة، او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بعض وايي چي هغه کسان دي چي بيعة الرضوان يي د عليه الصلوٰة والسلام سره کړی ؤ په حديبيه کي چي عليه الصلوٰة والسلام د عمري لپاره تخميناً د پينځلسو سوو (۱۵۰۰) صحابه کرامو ﷺ سره راروان سوی ؤ له مدينې منورې څخه د ذو العقدې په مياشت کي او قريش يې مانع سوه وروسته صلح سره وسوه. او بعض وايي چي له مهاجرينو څخه اته کسه دغه دي (۱) ابوبکر (۲) عثمان بن عفان (۳) علي (۴) زبير بن العوام (۵) عبدالرحمن بن عوف (۶) سعد بن ابي وقاص (۷) زبير بن الحارثه (۸) طلحة بن عبيدالله ﷺ. بغوي رحمه الله وايي چي ټوله فرق پر دي متفق دي چي اول چي پر عليه الصلوٰة والسلام يې ايمان راوړی ام المؤمنين حضرت خديجة الكبرى ﷺ وه. وروسته تر هغې جابر بن عبدالله رضي الله عنه وايي چي علي بن ابي طالب رضي الله عنه ؤ. ويدل عليه:

سبقتكم الى الاسلام طراً ..... غلاماً مابلغت اوان حلم

ابن اسحاق رحمه الله وايي چي حضرت علي رضي الله عنه د لسو کالو ؤ چي ايمان يې راوړی، او ابن عباس رضي الله عنهما او ابراهيم نخعي او شعبي وايي چي وروسته تر خديجې ﷺ اول حضرت ابوبکر رضي الله عنه ايمان راوړی، او بعض وايي چي اول زيد بن حارثه رضي الله عنه ؤ. وهو قول الزهري وعروة بن الزبير رضي الله عنهم. اسحاق بن ابراهيم حنظلي رحمه الله ددې اقوالو جمع په دې دول کړې ده چي اول من النسأ خديجة الكبرى ﷺ وه. او اول د رجالو ابوبکر رضي الله عنه ؤ. او اول د کوچنيانو علي رضي الله عنه ؤ. او اول د مريانو زيد بن حارثه رضي الله عنه ؤ. د تاريخ په پانو کښې وايي چي ابوبکر رضي الله عنه چي ايمان راوړی نو خپل ايمان يې ښکاره کړی او خلګو ته د اسلام دعوت شروع کړی. چونکه ابوبکر رضي الله عنه په مکه کښې يو تجار ؤ او د خلق حسن خاوند ؤ او د خلګو سره يې لوی لوی احسانونه کول او خلګو ته ډېر محبوب ؤ. او په قريشو کي د لوړ نسب صاحب ؤ، نو دده د قوم خلګ په ده ته راتله لحسن مجالسته ده به تبليغ ورته کاوه. لکن هغه چاته به يې تبليغ کاوه چي دده به پر هغه اعتماد ؤ. نو حضرت عثمان رضي الله عنه دده پر لاس ايمان راوړی او زبير بن العوام او عبدالرحمن بن عوف او سعد بن ابي وقاص او طلحة بن عبيدالله ﷺ. نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ابوبکر ﷺ دوی راوستل و علیه الصلوٰة والسلام ته حین اسلموا وصلوا ثم اسلم غیرهم حتی چي مسلمانان ئر او ښځي نهه دېرش ته ورسېدل په اووه کاله کښې، وروسته عمر ﷺ ایمان راوړی چي څلوېښت پوره سوه، حتی چي بعض مفسران رحمهم الله وایي مسلمانان چي څلوېښت ته ورسېدل دا آیت نازل سو "یاایها النبي حسبک الله ومن اتبعک من المؤمنین" عمر ﷺ چي اسلام راوړی د مکې مشرکانو وویل چي نیمایي برخه زموږ ولاړه، دا ؤ بیان د سابقینو د مهاجرینو.

او سابقین د انصارو هغه کسان دي چي په نیز د جمرة العقبة یې د علیه الصلوٰة والسلام سره بیعت وکړی چي په دې وخت کي علیه الصلوٰة والسلام په مکه کي ؤ چي په عقبة اولی سره مشهوره ده، او بعض وایي چي شپږ کسه وه او بعض وایي چي اووه کسه وه او بعض وایي چي په عقبه ثاني کي دوولس کسه وه او اوویا کسه په عقبه ثالثه کي وه. او هغه کسان هم په سابقینو کي حساب دي چي علیه الصلوٰة والسلام ابو الدردا او مصعب بن عمیر ﷺ مدینې ته واستول لپاره د تعلیم القرآن فاسلم في المدینة خلق کثیر من الرجال والنسآ والصبیان.

وَالَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُمْ بِاِحْسَانٍ

او هغه کسان چي د سابقینو متابعت یې کړی په اسلام راوړلو کي په اخلاص سره یعني دون النفاق.

پوه سه: چي اکثره مفسرین رحمهم الله وایي چي دا تابعین بالاحسان نور مهاجرین او انصار دي پرته له سابقینو اولینو څخه، او بعض مفسرین رحمهم الله وایي چي دا تولې هغو کسانو ته وایي چي د سابقینو پر لار روان وي په ایمان او په هجرت کي له کفارو څخه او د دین اسلام نصرت کوي الی یوم القیامة.

دروښ وایي: چي پر دې تفسیر هغه مسلمانان چي د افغانستان څخه یې هجرت کړی دی په سبب د تسلط د روسانو پر افغانستان همسایه ممالکو لکه پاکستان او ایران ته نو دوی هم په مهاجرینو کي حساب دي، او دا ممالک حتی سعودي عربستان چي ددوی سره یې امداد کړی دی په انصارو کي حساب دي، عطا رحمه الله وایي چي "الذین اتبعوهم آه" هغه کسان دي چي د رسول الله ﷺ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اصحاب ﷺ یې په ترضی او ترحم او دعاسر ذکر کوي. او حمید بن زیاد رحمه الله وایي چې زه محمد بن کعب القرضي ته ورغلم ما ورته وویل "ماقولک في اصحاب رسول الله ﷺ؟" ده راته وویل چې د رسول الله ﷺ ټوله اصحاب ﷺ به په جنت کې وي محسنهم ومسیئهم، ما ورته وویل من این تقول هذا؟ دا خبره ته د څه درکه کوې؟ ده راته وویل اقرأ والسابقون الاولون من المهاجرین الی ان قال الله رضي الله عنهم ورضوا عنه" په دوی کې خدای پاک شرط نه وایه "والذین اتبعوا باحسان" یعني په تابعینو کې یې شرط وایه چې دوی متابعت د اصحابو کوي په افعال حسنه وو کې دون السیئة، حمید بن زیاد رحمه الله وایي لکه ما چې دا آیت هیڅ کله نه ؤ ویلی او زه یې په تفسیر نه وم خبر حتی قرأ علی محمد بن کعب وفسرهالي، بل دلیل ددې چې اصحاب د علیه الصلوٰة والسلام به ټوله په جنت کې وي دا قول د خدای ﷻ دی "لایستوي منکم من انفق قبل الفتح وقاتل اولئک اعظم درجة من الذین انفقوا من بعد وقاتلوا کلا وعد الله الحسنی ای الجنة فانه صریح بان جمیع الصحابة اولهم وآخرهم وعدهم الله الحسنی ای الجنة. فضائلهم قال رسول الله ﷺ اصحابي کالنجوم بایهم اقتدیتم اهتدیتم، رواه رزین من عمر بن الخطاب رضي الله عنه. وقال رسول الله ﷺ ما من احد من اصحابي یموت بارض الا بعثه الله قائداً ونوراً لهم یوم القیامة رواه الترمذي من حدیث بریدة. وقال رسول الله ﷺ لاتمس النار من رأني اوري من رأني (وهم التابعون) رواه الترمذي عن جابر وقال رسول الله ﷺ لاتسبوا اصحابي تاسي بنکنځل مه کوئ زما و اصحابو ته یعني اجتماعاً او انفراداً.

دروښ وایي: چې په دې حدیث کې سخت ګذار دی پر شیعه ګانو چې ابوبکر او عمر رضي الله عنهما ته بد وایي او پر روافضو چې علي رضي الله عنه ته بد وایي "فوالذي نفسي بیده لو ان احدکم انفق مثل احد ذهباً ما ادرک مد احدهم ولانصیفه، بخاري مسلم (زما دي قسم په خدای ﷻ وي چې زما روح د هغه په قدرت کې دی که یو ستاسي څخه نفقه په مثل د احد سره زر یعني في سبیل الله نه سي پیدا کولای ثواب د یوه مد د اصحابو د انفاق او نه د نیمایي د هغه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ

خدای ﷻ راضي دی له دوی څخه چي د رضاٴ الهي نتیجه دا ده چي ددوی اعمال به ټوله قبول وي په دربار کي د خدای ﷻ او خدای پاک به ددوی اعمال خوښوي. او دوی به راضي وي له خدای ﷻ څخه په حسن ثواب سره پر لږ عبادت او دوی به وایي نرضی بالله رباً وبالاسلام دیناً وبمحمد نبیاً ﷺ وبالقرآن اماماً وصراطاً مستقیماً.

وَاَعَدَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ تَحْتَهَا الْاَنْهٰرُ

او جوړ کړي خدای پاک ودوی ته جنتونه چي بهېږي لاندي تر درختو د جنتو ددوی او تر قصورو د دوی، ولي چي څلور دي اوبه، شراب، شیدې او عسل.

خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ۭ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝ وَمِمَّنْ حَوْلَكُمْ مِّنَ الْاَعْرَابِ مُنٰفِقُوْنَ ۚ

همېشه ابدي به وي دوی په دغو جنتو کي او دا هم لویه کامیابي ده. بعض د شاوخوا څخه ستاسي اعراب ستە چي منافقان دي چي دا منافقان د دغو قومو څخه وه مزنیه، جهنیه، اشجع، اسلم وغفار چي ددوی کورونه د مدینې پر اطرافو وه.

پوه سه: چي "منافقون" مبتدا ده او "ممن آه" یې خبر دی او مصحح د ابتدائیه د نکره والي د مبتدا دی او من الاعراب بیان دی د من حولکم.

پوښتنه: په مناقبو کي د غفار، اسلم او اشجع د قبیلې ډېر احادیث صحیحه راغلي دي، نو دلته د نفاق حکم څرنګه دی؟

ځواب: دلته خدای پاک من تبعیضي راوړی دی، نو بعض منافقین په دوی کي منافي د مدح او منقبت سره ددوی منافات نه لري.

وَمِنْ اَهْلِ الْمَدِيْنَةِ ۛ مَرَدُوْا عَلَي النِّفَاقِ ۣ

او بعض د اهل مدینې چي د قبیله اوس او خزرج بعض نفر وه، چي اهل نفاق دي.

پوه سه! چي دا "من" تبعیضي عطف دی پر "ممن قبله" باندي "مردوا علی النفاق" صفت دی د منافقینو چي دوی ثابت دي پر نفاق یقال فلان مرد علی معصیة ای مرن وثبت علیها، ابن زید رحمه الله وایي معنا یې داده اقاموا علیه ولم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يتوبوا. په قاموس کې وايي چې تمرد غاية او نهاية ته د هري ګناه وايي، والمعنى هم بلغوا غاية النفاق.

لَا تَعْلَمُهُمْ ۖ نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ ۚ سَنُعَذِّبُهُمْ مَّرَّتَيْنِ ثُمَّ يُرَدُّونَ إِلَىٰ عَذَابٍ عَظِيمٍ ﴿١٠١﴾

يعنې ته يې اې محمده نه پېژنې په صفت د نفاق سره د کمال عقل او فطنه ستا او د فراست ستا. ولې چې دوی په فن کې د نفاق دومره ماهره دي چې د تهمت له ځايه د هر ځان ساتي "نحن نعلمهم" موږ يې پېژنو. ولې دوی که هر څو د ځان په پټولو کې سعي وکړي له تا سره لکن زما څخه نه سي پټېدلای لانه تعالى يعلم سرائر قلوبهم "سنعذبهم مرتين" خداى پاک وايي چې موږ به عذاب ورکړو دوی ته دوه واره.

پوه سه: چې له "عذاب عظيم" څخه چې دوی ورته ردېږي مراد عذاب د جهنم دی هم فيها خالدون وهذا هو عذاب الآخرة نجي الله المؤمنون منه.

دروښ وايي: چې له يوه عذاب څخه عذاب القبر مراد دی په اتفاق د مفسرينو. او بل عذاب څوک رسوا کول دي د دوی چې سدي او کلبي روايت کړی دی چې عليه الصلوة والسلام د جمعې پر خطبه ناست و ويې ويل وکړی اخرج يا فلان فانک منافق، اخرج يا فلان فانک منافق اخرج يا فلان فانک منافق اخرج ناساً من المسجد داشپږدېرش نفره وه رسوا يې کړه وهذا هو العذاب الاول.

سوال: په دمخه ايت کښې داسې وويل سوه "لاتعلمهم" نو څرنګه عليه الصلوة والسلام نامه په نامه دوی ولاړه کړل سره ددې چې د عليه الصلوة والسلام څخه يې نفي د علم غيب کړې وه؟

ځواب: په تعليم د خداى ﷻ عليه الصلوة والسلام دوی نامه په نامه وپېژندل او له مسجد څخه يې وه شړل، وقال مجاهد رحمه الله الاول القتل والسبي وفيه ان هذا لم يثبت في الاحاديث الصحيحة وقال ابن زيد رحمه الله اول عذاب يې مصائب په اولادو او په اموال کې، او د مجاهد رحمه الله په بل روايت کې راغلي دي عذبوا بالجوع مرتين في كل سنة. او له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی اقامة الحدود عليهم في الدنيا وفيه مافيه. ابن اسحاق رحمه الله وايي چې عذاب الدنيا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دخول ددوی دی په اسلام کي مع غیضهم للاسلام، او بعض وایي چي اول عذاب ددوی احراق د مسجد ضرار ددوی ؤ په اور سره وقیل غیر ذالک.

وَاٰخَرُوْنَ اعْتَرَفُوْا بِذُنُوْبِهِمْ خَلَطُوْا عَمَلًا صَالِحًا وَّاٰخَرَ سَيِّئًا

معطوف دی پر منافقون باندي یعني وممن حولکم من الاعراب آخرون او من اهل المدینة آخرون لیسوا بمنافقین بل حالهم هکذا، چي دوی اقرار وکړی په ګنهو سره خپل یعني تخلف من غزوة تبوک بلا عذر، یعني وقوم آخرون غیر منافقین چي دوی سره ګډ کړی دی عمل صالح من الایمان والصلوة والجهاد مع رسول الله ﷺ وبر وارونه واظهار الندم والاعتراف "وآخر سیئاً" وهو التخلف عن تبوک کاهل النفاق.

عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّتُوْبَ عَلَيْهِمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۰۲﴾

شاید خدای ﷻ به ددوی توبه قبوله کړي چي ددوی د اعتراف بالذنب څخه معلومېږي لان الاعتراف بالذنب ینبئ عن الندم وقد ورد في الحدیث الصحیح الندم هو التوبة، چي وتائب ته مغفرت د ګناه کوي او علاوه پر هغه نور احسان هم ورسره کوي کمایدل علیه اقتران الرحیم بالغفور.

پوه سه: چي اطماع د کریم مثل الوعد المحتوم یعني لفظ د "عسی" چي ذکر سو.

پوه سه: چي ددې آیت په شان نزول کي بیهقي او نورو راویانو له ابن عباس رضی الله عنهما څخه داسي روایت کړی دی چي لس کسه (یعني مخلص مسلمانان بېله کوم عذره) په غزوه تبوک کي یې له علیه الصلوٰة والسلام څخه تخلف کړی ؤ چي په هغو کښي ابو لبابه بن عبد المنذر رضی الله عنه ؤ، څخه وخت چي علیه الصلوٰة والسلام له تبوک څخه راوګرځېدی او مدینې ته نژدې سو، نو اوو کسانو ددوی څخه ځانونه د مسجد نبوي په تنبو پوري وترل (یعني هر سړي یا زوی یا ماینه یا بل قریب راوغوښتی چي ما په دغه تنبه پوري په رسۍ تینګ وترې او هم دغو قریبانو به د لمانځه پر وخت دوی خلاصول یا د دوډۍ خوړلو پر وخت یا د اودس مات لپاره یا د اودس تازه کولو په وخت کښي به یې خلاصول چي دا ضروریات به دوی پر ځای کړل بهرته یې ترل) علیه الصلوٰة والسلام چي به له مسجده وتی دغه ترلي کسان یې په لار کښي وه علیه الصلوٰة والسلام چي دوی ولیدل داسي یې وویل "من هؤلاء الملحوق انفسهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي دغه کسان خو علیه الصلوٰة والسلام پیژندل. استفهام یې په حقیقت کښې راجع وسبب ته د ترلو ؤ. خلګو ورته وویل چي دا کسان ابو لبابه او دده نور ملګري دي چي دوی ستا څخه په غزا کي د تبوک تخلف کړی ؤ او دوی دا معاهده سره کړې وه چي موږ به خپل ځانونه خلاص نه کړو تر څو چي علیه الصلوٰة والسلام په خپل لاس مبارک موږ خلاص نه کړي، علیه الصلوٰة والسلام وویل وانا اقسم بالله لا اطلقهم ولا اعذرهم (زه قسم په خدای اخلم چي زه نه دوی خلاصوم نه یې زه عذر قبلوم) حتی یکون الله هو الذي یطلقوهم "ای یحکم الله لي باطلاقهم" رغبوا عني وتخلفوا عن الغزو مع المسلمین، نو دوی چي دا خبره د علیه الصلوٰة والسلام واورېدل او یا چا ورورسول دوی ووېل لانطلق انفسنا حتی یکون الله یطلقنا (یعني چي خدای ﷻ حکم په ایله کولو کښې ونه کړي) فانزل الله تعالی هذه الآیة. نو دا آیت چي نازل سو نو علیه الصلوٰة والسلام دوی ته سړی ورواستاوه چي ستاسي عذر خدای پاک قبول کړی ځانونه خلاص کړئ. هغه نورو ملګرو خو ځانونه خلاص کړه، مګر ابو لبابه رضی الله عنه ووېل چي زما دي قسم په خدای ﷻ وي چي علیه الصلوٰة والسلام مي په خپل لاس خلاص نه کړي که بل څوک ما خلاص کړي. نو علیه الصلوٰة والسلام ورته راغلی او دی یې خلاص کړی بیده المبارکة.

پوښتنه: ددې کسانو عذر ولي قبول سو او د منافقانو عذرونه نه سول قبول؟

ځواب: دا کسان مخلص مسلمانان وه او په ګناه یې اعتراف وکړی او پر ګناه یې د زړه له کومي توبه وکښل ولهذا قبل عذرهم بخلاف المنافقین. راوي وایي چي دوی ورغله خپل مالونه یې راوړه وقالوا یا رسول الله هذه اموالنا فتصدق بها عنا واستغفرلنا، علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل ما امرت ان اخذ من اموالکم فانزل الله تعالی هذه الآیة.

خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِمْ بِهَا

واخله بعض اموال ددوی په صدقه کښې یعني دا کفاره ده ددوی د ګنهو یعني ګناه د تخلف او بعض مفسران وایي چي د زکوة په توګه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې په "تطهرهم بها" کښې تا یاد خطاب ده او مخاطب علیه الصلوة والسلام دی یا صفت د صدقة دی. او صیغه غائبه مؤنث ده لتانیث الصدقة.

"وتزکیهم بها" ته دوی پاک کړه په دغه صدقه سره دا صیغه حتماً مخاطب ده یعنې دوی پورته کړه په سبب د تصدق د اموالو د دلیل ومنازلو ته د مخلصینو.

دروښ وایي: چې په عدد کښې د دغو کسانو اختلاف دی دمخه تېره سوه چې لس کسان وه. دا روایت د سعید بن جبیر او ضحاک ورزین بن اسلم وغیره رحمهم الله دی. لکن بغوي رحمه الله وایي چې عطیه له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت کړی دی چې پینځه کسه وه، ابو لبابه او سعید بن جبیر رضي الله عنهما. زید بن اسلم وایي اته کسه وه، او ضحاک وایي چې اووه کسه وه.

دروښ وایي: چې د ابو سفیان او د جابر رضي الله عنهما په روایت کښې دغه نومان ذکر سوي دي (۱) ابو لبابه (۲) اوس بن حذام (۳) ثعلبه بن ودیعه (۴) کعب بن مالک (۵) مرارة بن الربیع (٦) هلال ابن امیه او په دې روایت کښې راغلي دي چې دوو کسانو ځان په تنبو (ستنو) پوري تړلی ؤ ابو لبابه او ثعلبه، او بعض روات وایي چې یوازي ابو لبابه رضي الله عنه ځان په تنبه پوري تړلی ؤ که څه هم مخلصان د غزا څخه د تبوک تخلف کونکی دېر وه والله اعلم.

وَصَلِّ عَلَيْهِمْ ؕ

او دعا د مغفرت وکړه ودوی ته، بغوي رحمه الله وایي چې په وجوب کښې د دعا پر امام باندې په نهز د اخذ د صدقه. بعض علما وایي چې واجبه ده بعض وایي مستحب ده بعض وایي چې په صیغه مفروضه یعني الزکوة واجبه کښې واجبه ده پر امام. او په صدقه نافله کښې مستحب ده او فقیر ته مستحب ده ان یدعوا للمعطي في المفروضة والنافلة.

فائده: صلوة په لغت کښې دعا. رحمت او استغفار ته وایي وحسن الثنا من الله علی رسوله کما في القاموس چې معتبر کتاب دی په تفسیر او بیان کښې د عربي الفاظو. نو چې اسناد یې وسي وبندګانو ته کما في هذه الآیة وصل علیهم فالمراد بها الدعا والاستغفار، او چې اسناد یې وخدای ﷻ ته وسي مراد ځندي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رحمت دی لکه په دې قول کښې د علیه الصلوٰة والسلام اللهم صل علی آل ابي اوفی یا په دې قول د علیه الصلوٰة والسلام اللهم اجعل صلوتک ورحمتک علی آل سعد بن عبادة رواه ابو داؤد والنسائي.

درویش وایي: چې مظهري رحمه الله په هغه صلوة کښې چې اسناد یې وخدای جل جلاله ته وسي دا سي ویلي دي یراد به الرحمة والثناء الحسن انتهی. د ثناء حسن د خدای ویلو د یو چا ناز ښیا دی.

درویش وایي: چې د صلوة ویلو مسئله په تحقیق سره ناقلاً عن روح المعاني بلکې د سلام پر غائب یې هم تفصیلاً ذکر کړی.

اِنَّ صَلٰوتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ ؕ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۰۳﴾

په تحقیق ستا دعاء ددوی د زړه ارام. اطمنان او رحمت دی. او خدای پاک اورېدونکی دی د اقرار ددوی په خپلو ګنهو سره او په دعاء د علیه الصلوٰة والسلام ودوی ته او علم کامل لري پر احوالو ددوی.

درویش وایي: چې صاحب د روح المعاني په صفحه څورلس کښې وایي چې له صلوة څخه معنی لغوي مراد ده ای ادع لهم واستغفرلهم والحمل علی صلوة المیت بعید انتهی. او بغوي او مظهري هم دغه معنی لغوي راوړې ده. لکن روح البیان د یوولسم جزء په تفسیر کښې په صفحه ۴۹۶ صلوة الجنازة څنګه اخستی دی او د سړي د غسل او صلوة الجنازة د آدم علیه السلام څخه د علیه الصلوٰة والسلام تر زمانې پورې څېړلی دی او تخمیناً څلور صفحې ته یې تفصیل او بیان اوړد کړی دی نه پوهېږم چې په مذکوره آیتو کښې بېله دعاء او استغفار وصلوة الجنازة هیڅ اشاره نسته او نه هیڅ یوه مفسر بېله روح البیان دغه آیتونه پر صلوة الجنازة حمل کړی دی بلکې په قیل یا ویحتمل یې هم نه دی راوړی والله اعلم بالصواب، بغوي رحمه الله وایي چې څه وخت چې توبه قبوله سول له مذکوره متخلفینو څخه نو هغو کسانو چې توبه یې نه وه کښلې له تخلف څخه ان هؤلاء یعني المتخلفین التائبین کانوا معنا بالامس پرون دغه کسان خو زمونږ له ډلې څخه وه یعني نه چا خبرې ورسره کولې او نه ورسره کښېنستل نن بیا څه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پېښه سوه چې د دوی خبرې او ناسته ولاړه شروع سوله فنزل هذه الاية.

اَلَمْ يَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ هُوَ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهٖ وَيَاْخُذُ الصَّدَقٰتِ

آیا نه دي خبر دغه متخلفین الغیر التائبین چې خدای ﷻ توبه قبلوي د خپلو بندګانو څخه وحاصل الجواب لسؤال هؤلاء المذکورین قد تابوا عن التخلف او اقرار یې وکړی په خپل ګناه سره او پښېمانې یې ښکاره کړه له صدق قلب څخه او خدای پاک توبه قبلوي د خپلو بندګانو یعني دغه پېښه سوه. او اخلي صدقات له مؤمنانو څخه یعني قبلوي یې.

بوه سه: چې اخذ قبول د شي په ورکړه سره د عوض لکه مشتري چې مبیعه قبوله کړي په ورکړه سره د ثمن. نو خدای ﷻ چې تعبیر په اخذ سره وکړی ددې لپاره چې پر ورکړي د صدقې اجر او ثواب موعود سته.

دروېش وایي: چې علامه بغداد السید محمود الآلوسي رحمه الله د یوولسم جزء په تفسیر کښې په صفحه ۱۵ کښې ددې آیت پوره تحقیق کړی دی (۱) اخذ استعاره ده و قبول ته (۲) خدای پاک اول نسبت د اخذ ورسول ﷺ ته کړی دی خذ من اموالهم صدقة آه او دلته یې نسبت وخان ته وکړی "ویأخذ الصدقات" اشاره ودې ته ده چې اخذ د رسول ﷺ قائم مقام د اخذ الله دی تعظیماً لشانه نبیه ﷺ کما في قوله تعالی "ان الذین یبایعون انما یبایعون الله" نو پر دې تقدیر اخذ محمول پر حقیقت دی وقال هو معنی حسن (۳) امام آلوسي وایي چې عبد الرزاق له ابي هریرة رضی الله عنه روایت کړی دی ان الله یأخذ الصدقات اذا کانت من طیب ویأخذها بیمینه (یعني په رسته لاس) وان الرجل لیتصدق بمثل اللقمة فیربیها کما یربی احدکم فیصله او مهره فتربو في کف الله تعالی حتی تکون مثل احد.

دروېش وایي: چې داسي حدیثونه له متشابهاتو څخه دي چې د هغو په باره کښې د سلف رأیه داده چې ایمان بما اراد الله تعالی به سره کوي او تفویض د علم به یې وخدای پاک ته کوي. او متأخرین دا حدیث پر تمثیل حمل کوي یعني لکه یو سړی چې د یوه شي په اخستلو سره د بل چا څخه اعتنا کوي نو رسته لاس وروغځوي را وایي خلي. قالوا رأی السلف احکم لاحتمال الخطأ في

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

التاويل ورأى المتأخرين مسلم لدفع توهمات الزائغين (۴) وروسته دا بل حديث په روايت د دار قطني له ابن عباس رضي الله عنهما څخه ده وويل چې رسول الله ﷺ وويل تصدقوا فان يعطى اللقمة او الشيئ فيقع في يد الله قبل ان يقع في يد السائل ثم تلا ابن عباس رضي الله عنهما هذه الآية.

دروښ وايي: چې دا حديث هم د متشابهاتو څخه دی مثل الاول وقد مربيانه آنفاً.

(۵) آلوسي رحمه الله وايي چې په بعض رواياتو کښې د حديث داسې راغلي دي چې د خدای ﷻ له خوا اخذ حقيقةً نسته. ده له ابن منذر څخه دا حديث را نقل کړی دی "عن ابي هريرة رضي الله عنه قال رسول الله ﷺ والذي نفسي بيده ما من عبد يتصدق بصدقة طيبة من كسب طيب ولا يقبل الله الا طيباً ولا يصعد الا طيب ويضعها في حق الا كانت كانما يضعها في يد الرحمن الى اخير الحديث.

دروښ وايي: چې آلوسي رحمه الله دا حديث پر دې دعوی چې اخذ حقيقة من الله نسته په دې دول ګرځولی دی چې په دې حديث کې حرف تشبيه راغلی دی يعني لفظ د كانما يضعها الحديث.

دروښ وايي: چې مظهري رحمه الله د ابو هريره رضي الله عنه حديث دا دول راوړی دی كانما يضعها في يد الرحمن الحديث. يعني حرف تشبيه يې راوړی نور تفصيل يې نه دی کړی دا هم دې ره ښه توجيه ده چې په دې توجيه د متشابهاتو ګرځول د احاديث مذکوره مور کم عمره ملايان خلاصېږو او دا حديث چې مجسمه وو پر جسميت د خدای ﷻ دليل ګرځولی دی نجات زمور په برخه سو او د دوی دلائل ناکامه سوه والله اعلم بالصواب.

وَاَنَّ اللّٰهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۰۴﴾

او په تحقيق سره خدای پاک توبه قبلونکی دی د تائبينو او نور تفضل او احسان هم ورسره کوي كماهو معني الرحيم.

دروښ وايي: چې بعض مفسرين د "تواب" ترجمه په توفيق ورکونکي د توبې کوي بلطفه وکرمه دی وايي ولولا توفيقه ماتاب مذنب قط كما لايتوب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ابليس، وايده مافي المثنوي:

جزعنایت که کشاید چشم را ..... جز محبت که نشاند خشم را

جهد بی توفیق خودکس رامباد ..... درجهان و الله اعلم بالرشاد

وَقُلِ اعْمَلُوا فَسَيَرَى اللّٰهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُوْلُهٗ وَالْمُؤْمِنُوْنَ ۚ

ووایه اې محمد ﷺ ودغو تخلف کونکو ته او یا تولو خلګو ته چې تاسي عمل کوئ هرڅه چې کوئ ژر دی چې خدای ﷻ به ووینې عمل ستاسي، ولي خدای ﷻ د بندګانو په خیر او شر د عمل خبر دی او رسول د خدای ﷻ او مؤمنان یعنې چې خدای ﷻ ستاسي پټ حالات به رسول او مؤمنانو ته ظاهر کړي، مجاهد رحمه الله وایي چې دا لوی وعید دی متخلفینو لره،

وَسَتُرَدُّوْنَ اِلٰى عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۝

او بیا به تاسي رد کړل سئ یعنې په ورځ د قیامت و هغه ذات ته چې عالم الغیب والشهادة دی، یعنې غیب او شهادت د خلګو لانه لاغیب عند الله، نو هغه خدای ﷻ به تاسي خبر کړي په عملو ستاسي،

وَاٰخَرُوْنَ مُرْجَوْنَ لِاَمْرِ اللّٰهِ اِمَّا يُعَذِّبُهُمْ وَاِمَّا يَتُوْبُ عَلَيْهِمْ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝

او نور کسان له مدینې والاو څخه چې تخلف یې له غزا څخه د تبوک کړی ؤ هغه څلورول سوي دي لپاره د امر د خدای ﷻ ددوی په باره کښې یا به عذاب ورکړي خدای ﷻ ددوی ته او یا به توبه قبوله کړي ددوی، ولي چې پر خدای ﷻ کوم کار واجب نه دی که یې مشیت سي پر صغیره ګناه به چاته عذاب ورکړي وان شاْ یغفر الکبائر بلا توبة، نو بنده ګان باید همیشه د خوف او رجاْ ترمنځ ژوند وکړي یعنې نه د ګناه په سبب د خدای ﷻ له مغفرت څخه نا امید کېږي او نه دي پر عبادت تکیه کوي، او خدای ﷻ علم لري پر ظاهر اعمال د بندګانو او پر قلبي پټو احوالو ددوی او هیڅ کار یې له حکمته خالي نه دی، مظهري رحمه الله وایي چې د دغو کسانو څخه کعب بن مالک، هلال بن امیه او مرارة بن الربیع مراد دي د هغه لسو کانو څخه چې تخلف یې کړی ؤ له غزاْ څخه د تبوک او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځانونه یې په سواري پورې د مسجد نه وه ترلي، نو رسول الله ﷺ امر وکړی چې دغو کسانو ته مه سلام وراچوئ او مه خبري ورسره کوئ وفوضوا امرهم الی الله فرحم الله، راوي وایي چې پینځوس ورځې وروسته ددوی توبه قبوله سوه او دا آیت نازل سو "لقد تاب الله علی النبي الی قوله وعلی الثلاثة الذین خلفوا، سعید شیرازي رحمه الله وایي:

بسانام نیکوی پنجاه سال ..... که یک نام زشتش کنند پای مال

دروښ وایي: چې اسلامي تاریخ خبري کوي چې پینځو ژباړه یې داده چې مدینه والو مهاجرینو او انصارو رضی الله عنهم ته د علیه الصلوٰة والسلام د هجرت اوله روانګي څخه له مکې څخه دمخه خبر رارسېدلی وو حتی چې مهاجرین او انصار رضی الله عنهم به هره ورځ ثنیة الوداع چې د یوې غونډۍ غوندي ځای نوم دی وتل به.

وجه التسمیة: د مدینې والو دا عادت وو چې د یوه محترم مېلمه د رخصتی چې وداع یې بولي تر دغه ځای ورسره راتله نو چې غرمه به سوه لمر به تود سو کور ته به ولاړه، څرنګه چې به ماپښین سو بیا به ثنیة الوداع ته د استقبال لپاره راغله نر خو لاڅه کوې ښځي چې تر حجاب به نه وې لاندي او پېغلانې نجونې به هم ثنیة الوداع ته راوتلې، تاریخ وایي په ورځ د دوشنبې پر دوولسمه د ربیع الاول ثنیة الوداع ته راورسېدی نرانو به دا شعر وایه.

طلع البدر علینا من ثنیات الوداع ..... وجب الشکر علینا ما دعی لله داع

او نجنو او ښځو به دا شعر وایه

نحن جوار من بني النجار ..... یاحبذا محمداً من جار

د علیه الصلوٰة والسلام مور د مدینې د بني النجار له قوم څخه وه، نو اول یې په قبا کښې پر بني عمر بن عوف واړول چې یوه کوچنۍ قبیله د انصارو د قبیلې وه، او پر کور کلثوم بن الهدم چې سپین ږیری د بني عمر بن عوف وو بعض راویان وایي چې دا شیخ دمخه مسلمان سوی وو او بعض وایي چې په وخت کښې د رسېدلو د علیه الصلوٰة والسلام مسلمان سو.

پوه سه: چې قبا نژدې ومدینې منورې ته تخمیناً پر نصف فرسخ واقع ده، نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عمار بن یاسر رضی الله عنه وښي عمر ته وویل چي علیه الصلوٰة والسلام چاره نه لري د یو سایې له ځایه او د لمانځه له ځایه ځخه، نو دغه مځکه چي مسجد قباٰ په هغه وخت کښې پر جوړ سو یوه خالي مځکه وه چي دوی به له باغو ځخه خورما راښستله. نو پر دغه اوار ځای باندې به یې اښوولې، ښي عمر دا خبر د عمار بن یاسر ومنل او د مسجد د جوړېدلو رایه په اتفاق ومنل سوه، نو علیه الصلوٰة والسلام امر وکړی چي د نژدې غره ځخه دي پر بودګانو باندې ډبري راوچلول سي او ځیني خلګ دي خښتي وموړي او د چا په باغ کي چي د خورما زاړه ټیران وي هغه دي راوباسي او د خورما د درختو پاڼې چي دوی به هر کال پرې کول هغه دي راوباسي نو ډبري وغیره مذکوره شیان سره جمع سوه، نو علیه الصلوٰة والسلام په خپل مبارک لاس د مسجد قباٰ نقشه و عمار رضی الله عنه ته تسلیم کړه او دبادب کار شروع سو او په ځو وروځو کښې مسجد قباٰ په ساده ډول پای ته ورسېدی، نو مسجد قباٰ اول مسجد دی چي د مسلمانانو په لاس جوړ سو، او اول مسجد دی چي علیه الصلوٰة والسلام په جماعت ځپلو اصحابو رضی الله عنهم ته لمونځ ورکړی په امن او امان کښې، د بخاري په روایت سره چي تر لس ورځو بالا علیه الصلوٰة والسلام په قباٰ کښې تېرې کړې و المنقول عن مسلم چي ځلور لس ورځې یې تېرې کړې، وروسته چي علیه الصلوٰة والسلام مدینې ته ولاړی هره د شنبې ورځ به یا راکباً یا ماشیاً راتلی د ځانښت په وخت کښې او په مسجد قباٰ کښې بې یو ځو رکعته نفل وکړه بیرته به مدینې ته ستانه کېدی، په سیرة الحلبیة کي وایي چي علیه الصلوٰة والسلام وویل که چا اودس په ښه ډول تازه کړی او بیا ورغلی په مسجد قباٰ کښې لمونځ وکړی، نو ده لره د یوې عمرې ثواب لري.

دروښ وایي: چي حاصل دادی چي د مسجد قباٰ واضع رسول الله ﷺ دی او معمار یې عمار رضی الله عنه دی او کومکیان یې بنې عوف دي، په حدیث شریف کښې راغلي دي "من بنی مسجداً لا یرید به ریاً ولا سمعة بنی له بیتاً في الجنة"

دروښ وایي: چي ددې حدیث معنا دا نه ده چي بیت الجنة به په طول او عرض کښې دومره وي لکه مسجد لان الحسنة بعشر امثالها ادنی درجه د ثواب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ده او په حدیث کښې راغلي دي چې د يوې خورما ثواب لکه د غره دی بلکې معنا يې داده چې صلکې به جوړه کړي د مسجد د باني لپاره بنا اشرف واعظم وارفع في الجنة. امام قرطبي رحمه الله په خپل تفسير کښې وايي انما هو بما يقترن بالفعل من الاخلاص فان بنى على غير الاخلاص يعني للرياء والسمعة او اضرار المسجد القديم فلا ثواب للباني ولا يعبأ لفعله.

پوښتنه: وکافر ته دا امکان ورکول کېږي چې مسجد د مسلمانانو لپاره جوړ کړي دا به څرنګه وي؟

خواب: بعض علما وايي چې صحيح داده چې امکان دي ورکړل سي بدليل قوله عليه الصلوٰة والسلام ان الله قد يؤيد هذا الدين بالرجل الفاجر كذا في تفسير البغوي. لکن واحدي رحمه الله په تفسير ددې قول د خداى عزوجل ماكان للمشركين ان يعمروا مساجد الله الآية" داسې وايي چې کفار ممنوعون دي د تعمير د مساجدو د مسلمانانو انتهى.

مسئله: کافر په بنا د مسجد مسلمان نه ګرځي حتى چې شهادتين په خوله وښه وايي بخلاف المسلم. ولي مسلمان که عبادتګاه ته نصارى چې کنائس يې بولي په قصد او نيت د تعظيم د کنائسو ورغلى کافر ګرځي لان الكفر يحصل بمجرد نية التعظيم للكنائس. والاسلام لا يحصل بمجرد النية بل لابد من الشهادتين يعني اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمداً رسول الله.

درويش وايي: چې د قصې سر ته درځه. نو پوه سه! چې بني عمر بن عوف ددوی چې مسجد قبا تعمير کړی. نو ددوی د اکا زامنو يعني بني غنم بن عوف ددوی سره حسد پيدا سو او دوی به ويله چې مونږ به په په د خرو د ترلو په ځای کښې لمونځ کوو. دا ددې سببه دوی ويله چې يوه ښځه وه د بني عمر بن عوف چې دې به په دغه ځای کښې کله کله خر تاړه پر کوم ځای چې مسجد قبا تعمير سو، او دا ددوی نهايت حماقت دی چې مونږ دمخه وويل چې د مسجد قبا ځای عفه دی چې بني عوف به دمخه دلته خورما وي وچولې او دا ځای د کلثوم بن حذم رضي الله عنه دی، الغرض چې بنو غنم بل مسجد جوړ کړی و مسجد قبا ته نږدې على قصد الفساد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وتفريق المؤمنين الذين كانوا يصلون في مسجد قباً اوامام به يې ابو عامر راهب چې د شام څخه راسي.

قصة ابي عامر الراهب: دی د اشرافو د قبيلې د خزرج ؤ او د دين د نصارى وو يې دين خپل کړځولی ؤ او د کراسټي کالي به يې اغوستل وکان ماهراً في التوراة والانجيل، حسين كاشفي مصنف د تفسير حسيني د ابو عامر په شان کې داسي وايي، او پيوسته نعت وصفت سيد عالم ﷺ بر اهل مدينه ميخواند ونهايت معتقد آنحضرت ﷺ بود چون آنحضرت بمدينه هجرت كرد اهل آن خطه شيفته جمال وكمال وى شده و ازصحبت ابو عامر راهب برميدند وپروای او نكردند آرى، چرا نمى كردند، بيت:

باوجود لب جان بخش تو اى آب حيات
حيفم اىد سخن از چشمه حيوان گفتن

نو د ابو عامر د عليه الصلوٰة والسلام سره حسد پيدا سو، ولي چې ابو عامر رياست پر قوم باندې له لاسه ورکړی په سبب د ذات انور د عليه الصلوٰة والسلام نو ابو عامر راغلی و عليه الصلوٰة والسلام ته او ورته وه يې ويل چې هر قوم چې ستا سره جنګ کوي زه په هغو کښې شامل ستاسره جنګ کوم، نو دغه ابو عامر همېشه د عليه الصلوٰة والسلام سره په جنګ اخته ؤ حتى په جنګ کې د هوازن ابو عامر د هوازنو په صف کښې ولاړ ؤ حتى هوازنو شکست وخوړی ابو عامر وتښتېدی شام ته ولاړی، او د شام باچا ته ورغلی چې ماته فوج راکړه زه د مسلمانانو سره جنګ کوم او په عين حال کښې يې خط نوشته کړی وه منافقانو ته چې دده اتباع وه لکه ثعلبه بن حاطب وامثاله چې تاسي په خپله مځکه کښې ماته مسجد جوړ کړئ په مقابل کې د مسجد قباً چې زه مدينې ته درسم هورې به زه تعليم او ښوونه د لاړو چارو درته کوم، هغو يعني بنو غنم هم مسجد ضرار آباد کړی او هغه وخت چې عليه الصلوٰة والسلام په تياری د غزوة التبوک بخت ؤ هغه د مسجد بانيان منافقان ورته راغله وه يې ويل چې موږ د ضعيفه خلګو او د بې چاره ګانو لپاره چې مسجد قباً ته يې رسېدل نه سي کېدای په وخت کښې د باران يا د يخ يو مسجد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جوړ کړی دی او د علیه الصلوٰة والسلام څخه یې التماس وکړی چې دا زمونږ په مسجد کښې یو لمونځ وکړئ د تبرک لپاره اصلاً ددوی غرض دا وُ چې د علیه الصلوٰة والسلام د لمانځه په سبب به زمونږ مسجد محکمه سي او رواج به پیدا کړي، په سیرت حلبیه کښې رایې چې منافقان په دغه مسجد کښې سره جمع کېدل او د علیه الصلوٰة والسلام غیبونه به یې بیانول او په علیه الصلوٰة والسلام به یې پسخند واهه، نو علیه الصلوٰة والسلام دوی ته داسې وویل "اني علی جناح سفر وحال شغل ولو قدمنا لصلینالکم فیه" القصه: علیه الصلوٰة والسلام چې له سفره څخه د تبوک راستون سو دوی بیا ورغله چې حسب الموعود زمونږ په مسجد کښې لمونځ وکړه، علیه الصلوٰة والسلام ښه قمیص راواخستی چې رایې غوندې او ددوی سره ولاړ سي او ددوی په مسجد کښې لمونځ وکړي انزل الله تعالی هذه الآیة والذین اتخذوا مسجداً، نو چې خدای ﷻ حقیقت حال ددوی منافقانو په دغو آیتو کښې علیه الصلوٰة والسلام ته ښکاره کړی، نو علیه الصلوٰة والسلام په منځ کښې د مغرب او عشا وخښې قاتل حمزة، او نور څو کسان راوغوښتل چې ورسئ ودې مسجد الظالم اهله ته رنګ یې کړئ او وه یې سوځئ او د مځکې سره یې برابر کړئ، نو دې جماعت په ډېر تلوار سره د خورما وچ لرګي ورسره واخستل نو مسجد ته یې اور واچاوه او تر مځکې پورې یې ونړاوه، او علیه الصلوٰة والسلام امر وکړی چې ددغه مسجد پر ځای دې کناسه جوړه کړي چې په اصطلاح د پاکستان یې تپ بولي او په اصطلاح د افغانستان یې خاک انداز بولي یعنې چې جارو کښې او مردار شیان پکښې غورځوي، راوي وایي چې وروسته تر ډېرې زمانې دغه مسجد ضرار ځای وه ثابت بن ارقم ﷺ ته ورکړی چې هغه ورته ویلي وه چې زه سرای نه لرم زه په سرای پکښې جوړ کړم، په دې سرای کښې هیڅ مولود نه وزېږېدی او یو وخت په دې سرای کښې یو ځاه ثابت ﷺ کیندی چې دود څښې راوتی او ابو عامر په شام کښې مړ سو غریباً وحیداً، راوي وایي علیه الصلوٰة والسلام چې مدینې منورې ته تشریف راوړی او د ابو عامر حسد ورسره پیدا سو کسامر، نو ابو عامر یوه ورځ و علیه الصلوٰة والسلام ته وویل ما هذا الذي جئت به؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دا څه دین دی چې تا تګ په کړی دی؟ علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل جئت بالحنیفیة دین ابراهیم! ابو عامر ورته وویل چې زه پر ملت حنیفیه دین ابراهیم یم؟ علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل انک لست علیها! ابو عامر ورته وویل چې بلکې زه پر حنیفیت دین ابراهیم یم لکن تا په حنیفیت نور شیان ګډ کړي دي؟ علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل ما داسي نه دي کړي لکن جئت بها بیضاً نقیة فقال ابو عامر امات الله الکاذب منا طریداً وحیداً غریباً، علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل آمین، نو علیه الصلوٰة والسلام پر ده د ابوعامر فاسق نوم کنښښنو، نو ابو عامر فاسق مړ سو په قنسرین کې کافراً، قنسرین د یو بنار نوم دی، د تعجب وړ خبره سره د دومره خیانته د ابو عامر دده یو صالح زوی وُ چې ابو حنظله رضی الله عنه یې باله چې په غزا کښې د احد شهید سو او ملکو علیهم السلام غسل ورکړی..... سعدي

هنر بنمای اگر داری گوهر ..... گل از خارست ابراهیم ز آذر

پوښتنه: ابو حنظله چې شهید سو، نو غسل ته د ملکو یې څه ضرورت و؟

ځواب: هغه وخت چې د احد د غزا اعلان وسو ابو حنظله د خپلې ښځې سره د جماع په حال کښې وُ، نو له ډیره تلواره قبل الغسل غزا ته ولاړی.

وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مَسْجِدًا ضِرَارًا

اې د متخلفینو څخه د غزوه تبوک چې منافقین وه هغه کسان دي چې بنا کړی یې وُ مسجد، او کلمه د واو عاطفه ده ای منهم الذین اتخذوا الآیة "ضراراً" مفعول له دی لاتخذوا یعني لپاره د ضرر د مؤمنانو د مسجد قباً. ابن اسحاق صاحب المغازي وایي چې دا بانیان د مسجد ضرار دوولس نفره وه (۱) خذام بن خالد (۲) ثعلبه بن حاطب من بني امیه بن زید (۳) معتب بن قشیر من بني صبیعه (۴) ابو حبیبة بن الاذعر من بني صبیعه (۵) عباد بن حنیف من بني عمرو بن عوف (٦) حارثه بن عامر (۷) مجمع بن حارثه (۸) زید بن حارثه (۹) بنتل بن الحارث من بني صبیعة (۱۰) نجاد بن عثمان من بني صبیعه (۱۱) ودیعة بن ثابت (۱۲) رجل یقال له نجرج، دوی چې دا مسجد بناه کړی لپاره د ضرر د مسجد قباً وکفراً بالله ورسوله انتهی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَكُفْرًا وَتَفْرِيقًا بَيْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ

او لپاره د جلا کولو یو له بله د مؤمنانو، ولي چې دوی به ټولو دمخه لمونځ په مسجد قبا کښې کاوه ددوی غرض چې بعض اهل قبا به دې مسجد ته مخ راړوي.

بوه سه: چې د مسجد ضرار امام مجمع بن حارثه ؤ.

وَإِرْصَادًا لِّمَنْ حَارَبَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ مِنْ قَبْلُ ۭ وَلَيَحْلِفُنَّ اِنْ اَرَدْنَآ اِلَّا الْحُسْنٰى ۭ

او دوی انتظار کوي د هغه چا چې محارب د خدای او د رسول د خدای ﷻ دي، بغوي رحمه الله وایي چې دا ابو عامر الراهب ؤ "من قبل" ای قبل بناء المسجد الضرار "وليحلفن" او قسم اخلي دغه منافقان چې مسجد ضرار یې تعمیر کړی ؤ، زمونږ اراده نه وه په بناء سره ددې مسجد مګر خصلت ښه چې د مسلمانانو به کومک سي د ضعیف خلګو چې مسجد قبا ته نه سي تلای او د باران له کبله ومسجد ته د رسول الله ﷺ نه سي تلای کمامر من قبل تفصیلاً نو په دې مسجد کې به لمونځونه کوي.

وَاللّٰهُ يَشْهَدُ اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ۝

او خدای ﷻ شاهدي ادا کوي چې دوی درواغ وایي په دې قول کښې "ان اردنا الا الحسنى.

لَا تَقُمْ فِيْهِ اَبَدًا ۭ

ته اې محمد ﷺ مه درېږه یعني د لمانځه لپاره په دغه مسجد ضرار کښې د همېشه لپاره، بغوي رحمه الله چې بني عمرو بن عوف چې مسجد قبا جوړ سو نو عمر بن الخطاب رضي الله عنه ته راغله چې مجمع بن حارثه ته دي اجازه ورکړي چې زمونږ سره دي په مسجد قبا کښې لمونځونه کوي، عمر رضي الله عنه ورته وویل لا الیس بامام مسجد الضرار، نو مجمع بن حارثه وویل لاتعجل علي فو الله لقد صليت فيه واني لا اعلم ما اضمروا عليه ولو علمت ماصليت معهم فيه كنت غلاماً قارياً للقرآن وكانوا شيوخاً لا يقرئون القرآن فصليت اماماً لهم ولا احسب الا انهم يتقربون الى الله ولا اعلم مافي انفسهم، نو عمر رضي الله عنه دی معذور وباله او د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لمانځه اجازه يې په مسجد قبا کښې ورکړه.

تمهيل: دروښ وايي چې علماً ټوله متفق دي "ضراراً وتفريقاً وارصاداً" هر يو علت مستقل دی لکون المسجد مسجد ضرار، واذا تمهد هذا، پوښتنه اوس داده چې پر يو مسجد حکم د ضرار اوس روا دی په دې معنا چې لمونځ دي نه وي پکښې روا؟

ځواب: په دې معنا خو مسجد ضرار نسته چې باني يې منافق دی، ولې باني د هر مسجد صحيح مسلمان دی، او په دې معنا هم مسجد ضرار نسته چې د مثل د ابو عامر راهب فاسق کافر بالله ورسوله لپاره د انتظار دی مسلمان جوړوي، البته ددې احتمال موجود دی چې مسلمان په نيت د تفريق المؤمنين عن المسجد القديم دي مسجد جوړ کړي.

سوال: د مسجد جديد د باني نيت خو پټ شی دی، نو د سړي به څرنګه اطلاع پر راسي؟

ځواب: هو! نيت خو پټ دی لکن بعض قرائن سته چې پر دې دلالت کوي چې د مسجد جديد د باني غرض د مسلمانانو تفريق دی له قديم مسجد څخه، لکه بعض اعمال يا اقوال چې د مسجد جديد د باني به شرط شی وي معنا دا چې زما په جوړ کړي مسجد کې به لمونځ نه کوې نو زه زکوة او کومک درسره کوم، يا يې شرط لا شئ وي معنا چې په قديم مسجد کې به لمونځ نه کوې، او که دده اعمال او اقوال لا بشرط شيئ وه چې مرتبه د اطلاق ده، نو دده نيت صحيح دی تفريق المؤمنين عن المسجد القديم يې غرض نه دی فافهم والله جل شانه اعلم بما في صدور عباده، دا ؤ مجمل بيان.

دروښ وايي: چې د مسجد بنا لپاره د ريا او سمعه خو مسجد ضرار نه ګرځوي بالمعنى المذكور لكن باني لره هيڅ ثواب نسته كما في سائر الاعمال المندوبة يعني غير الفرائض كما ثبت في الاحاديث الصحيحة.

لَمَسْجِدٌ أُسِّسَ عَلَى التَّقْوٰى مِنْ اَوَّلِ يَوْمٍ اَحَقُّ اَنْ تَقُوْمَ فِيْهِ ؕ

پوه سه: چې کلمه د لام يا د ابتدا ده او يا لپاره د قسم دی.

دروښ وايي: چې عطيه له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چې مراد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

له دې مسجد څخه مسجد قبا دی وهو قول عروة بن الزبیر وسعید بن جبیر وقتادة رحمهم الله زه وایم چې سابق کلام د خدای ﷻ په مسجد قبا کښې ؤ، نو دا وروسته کلام هم په مسجد قبا کښې دی یعني فیه رجال یحبون الآیة بالاجماع کما سیأتي چې اساس یې علیه الصلوٰة والسلام اینبسی دی کمامر ایضاً قد مر فضائل مسجد القبا فمعنی الآیة هر آئینه او قسم په خدای ﷻ چې هغه مسجد چې اساس یې پر تقوی اینبوول سوی دی ډېر حقدار ده دی چې ته پکښې ودریږې یعني لصونځ پکښې وکړې والیه ذهب جمع من المفسرین رحمهم الله.

پوښتنه: احق خو اسم تفضیل دی، نو مفضل علیه خو یې مسجد ضرار دی، نو په هغه کښې خو د علیه الصلوٰة والسلام لمونځ نه دی روا للمفاسد الاربعة المذکورة؟

ځواب: تفضیل بناً دی پر تنزل یعني لو فرضنا جواب قیامه في مسجد الضرار لکان الصلوة في مسجد التقوی وهو مسجد قبا احق و اولی. فکیف والقیام فیه لایجوز.

دروېش وایي: چې اولی جواب د مولی ابو مسعود رضي الله عنه دی هغه وایي چې احق دلته په معنی د حقیق دی اذ لا اشتراک لمسجد القبا والمسجد الضرار في نفس الفضیلة کما یقیضه صیغة اسم التفضیل وجواز الفرض تکلف کما لا یخفی.

سوال: د اساس معنی خو تادای دی یعني اول دای د بناً چې وروسته نو دهوالونه پر وهل کېږي، نو تقوی خو معنا ده. نو اساس د مسجد قبا څرنګه کېدای سي؟

ځواب: واجاب عنه اللآلوسي رحمه الله في روح المعاني انه مبني علی المبالغة په دې معنی چې غایت تقوی چې د بنا سره د مسجد قبا یعني تقوی د علیه الصلوٰة والسلام چونکه ملګري وه فجعل التقوی کانه اساس مسجد القبا مبالغة.

دروېش وایي: چې د افکارو سره د مبتدیانو دا جواب مناسب دی چې علی په معنی د مع دی ای مع التقوی، وبالجملة فمسجد مبتدأ ده او وروسته جمله یې صفت دی او احق یې خبر دی، او "من اول یوم" متعلق دی په اسس سره، نو کلمه د من د ابتدا د زمانې لپاره ده لکه د کوفیانو نحاتو مذهب چې دی یعني چې من جاره په مکان پورې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خاص نه دی، او بصریان نحات وایي چي من په مکان پوري خاص دي هغه په دې اینت کي من په معنی في بولي، او في په ظرف زمان او مکان دواړو کي مستعملېږي.

دروښ وایي: چي ابن عمر، زید بن ثابت او ابو سعید خدري رضي الله عنهم وایي چي دا مسجد چي په آیت مذکوره کښي ذکر سوی دی مسجد نبوي ﷺ په مدینه منوره کي دۀ، ولي چي مسلم، احمد، ابن ابي شیبه، ترمذي او نسائي او نورو ګنهو شمیرو راویانو رحمهم الله له ابو سعید خدري رضي الله عنه څخه روایت کړی دی، دی وایي چي زه ورغلم علیه الصلوٰة والسلام د بعضي ازواجو په کور کښي تشریف درلودی فقلت یا رسول الله ﷺ ای المسجد الذي اسس علی التقوی یعني المذکور في الآیة المذکورة ده مبارک یو موټ شګي د مسجد نبوي پر مخکه د مسجد نبوي وښېندلې ثم قال هو مسجدکم هذا المسجد للمدنیة. او طبراني هم د زید بن ثابت رضي الله عنه روایت کړی دی ان النبي ﷺ سئل عن المسجد الذي اسس علی التقوی قال علیه الصلوٰة والسلام هو مسجدي هذا. او له ابن عمر رضي الله عنهما څخه ابن ابي شیبة رحمه الله رایت کړی دی چي المسجد الذي اسس علی التقوی هو مسجد النبي ﷺ، او د مسجد نبوي په فضیلت کښي بې شمېره احادیث مبارکه صحیحه راغلي دي منها مارواه البخاري ومسلم عن ابي هریرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ مابین بیتي ومنبري روضة من ریاض الجنة ومنبري علی حوض (یعني یوم القیامة علی الحوض الکوثر) او بغوي رحمه الله داسي ویلي دي مابین قبري ومنبري، دا دوه حدیثونه په معنی کي فرق نه سره لري، ولي قبر د علیه الصلوٰة والسلام په بیت کي د عائشې رضي الله عنها دی.

دروښ وایي: چي دغه دوهم حدیث یعني مابین قبري ومنبري آه معجزه د علیه الصلوٰة والسلام ده یعني چي اخبار په دې سره چي زما قبر به زما په بیت کي وي، او ترمذي د علي او ابو هریرة رضي الله عنهما څخه روایت کړی دی چي علیه الصلوٰة والسلام وویل صلوة في مسجدي هذا خیر من الف صلوة فیما سواه من المساجد الا المسجد الحرام.

دروښ وایي: چي په ظاهر کي د تفضیل د مسجد قباٰ وکونه اسس علی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

التقوی او د تفصیل د مسجد نبوي وکړنه اسس علی التقوی چې د دواړو په باره کښې احادیث تاسي واوربدل، تعارض دی. لکن داوډي، سهیلي او شریف السمهودي رحمهم الله دا قدر ویلي دي کل من المسجدین مراد لان کل منهما اسس علی التقوی من اول یوم تاسیسه انتهی.

دروېش وایي: چې دا جواب او وجه د جمع الاحادیث المروية کافي نه ده، ولي چې وجه د اولیت د دواړو مسجدو یې نه ده بیان کړې. نو فقیر په توفیق د قدیر وایي چې مسجد قبا په کومک د بني عمر بن عوف او په معماري د عمار بن یاسر رضي الله عنه تاسیس کړل سوی دی، او اولیت د مسجد نبوي له دې جهته دی چې څه وخت چې علیه الصلوٰة والسلام له مسجد قبا څخه دار الهجرة مدیني منورې ته داخل سو اول یې مسجد نبوي تاسس کړی، وقصة هکذا چې علیه الصلوٰة والسلام چې د مسجد قبا له تعمیر څخه فارغه سو او عمار بن یاسر رضي الله عنه یې د لمونځو د امامت لپاره وټاکی، نو قصد یې دار الهجرة المدینة المنورة ته وکړی، بني نجار ته یې سړی ورواستاوه چې تاسي مقلدین السیوف راسئ زه مدیني ته درځم، نو د بني نجار ځوانان توري په غاړه راغله او پر رسته اړه او پر چپه لاس د علیه الصلوٰة والسلام د مدیني پر ځوا رهي سوه، راوي وایي چې علیه الصلوٰة والسلام د څانښت په وخت کښې له قبا څخه ووتی د جمعې په ورځ لکن د ماپښین لمونځ یې پر لاري مدیني ته نارسیده ادا کړی بالجماعة پر یو خالي ځای باندي چې وروسته پر هغه ځای باندې محبت ورزانو دده مبارک یو کوچنی مسجد په نامه د مسجد الجمعة بنا کړی تبرکاً چې دروېش په هغه ومسجد کښې دوه رکعته نفل هم ادا کړي دي. لکن په اوسنی زمانه کښې چې لاري وقبا ته پاخه د امبري سړکان سوي دي هغه مسجد مي نه کړی پیدا والله اعلم.

سوال: د مدیني پوري خو د پیاده سړي د دوو ساعتو او پینځه ویشت دقیقو لار ده، نو ولي علیه الصلوٰة والسلام ومدیني منورې ته د ماپښین لمونځ نه ورساوه؟

ځواب: د لاري پر دواړو غاړو کورونه وه د مسلمانانو عقیدت منډان پر دواړو غاړو نران او ښځي حتی نابلغه نجونې ولاړ وه. نو علیه الصلوٰة والسلام د خپلو کریمانه اخلاقو په سبب د دغو عقیدت مندانو سره خوش آمدید او جور پرسان ورسره کاوه حتی چې بعضي نجونو به دا شعر هم وایه کمامر:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نحن جوار من بني النجار ..... يا حبذا محمداً من جار

خير عليه الصلوٰة والسلام چي مدينې منورې ته ورداخل سو. نو يې داسې وويل چي زما اوښه مأموره ده يعني من عندالله د هر چا كور ته چي په خپله چوكه سوه عليه الصلوٰة والسلام د اوښي مهار ايله كړی اوښه تله تله د ابو ايوب انصاري ﷺ وكور ته چوكه سوه، نو عليه الصلوٰة والسلام خندي تاسو او دا يې وويل هذا المنزل ان شاء الله يعني دغه به زما كور وي، راويان وايي چي پر اهل مدينه باندې په تاريخ كښې دغسې روښانه او د خوشالی بله وړځ نه وه راغلې لكه وړځ د قدوم د ذات انور د عليه الصلوٰة والسلام ددوی وښار ته او داغه رنګه پر مدينې والو داسې تاريكه وړځ او د غم په تاريخ كښې د مدينې نه وه راغلې وړځ د وفات د عليه الصلوٰة والسلام.

دروښ وايي: چي دواړه حالته د مدينې والو رشتيا او برجا دي. تاريخ وايي چي د ابو ايوب انصاري ﷺ و كور ته نژدې يو باغ وُ د بني النجار چي په هغه باغ كې يو څو زاړه قبرونه وه د مشركينو او يو څو زړې د خورما درختي وې چي خورما يې نه كوله او يو څو كنډوالې د پخوانې كورو پكښې وې. نو عليه الصلوٰة والسلام و بني النجار ته وويل "ثامنوني بحائطكم هذا يعني" يعني دا باغ ستاسې ماته په بيعه راكړئ چي زه مسجد پكښې جوړ كړم. بني نجار ورته وويل "لانطلب ثمنه الا من الله" يعني زمونږ له خوا دا باغ وقف دی د مسجد نبوي لپاره. نو عليه الصلوٰة والسلام خلګ امر كړه چي دغه د خورما درختي قطع كړئ او د مشركانو قبرونه وشنئ هډوكي يې دباندې وغورځوئ او كنډوالې د مځكې سره يو كړئ، او خلګ يې امر كړه چي له نژدې غورو څخه ډبرې پر خرو وغيره راوړئ. او بعض خلګ دي خښتې موړې او بعض خلګ دي خپل د خورما د درختو وچ لرګي او د خورما د درختو بلګونه دي راوړي، نو دا كارونه چي خلګو ترسره كړه، نو عليه الصلوٰة والسلام د مسجد نبوي تادای په خپلو لاسونو مبارکو كښېښود د مسجد قبا په رنګه په ساده ډول مسجد نبوي پايه تكميل ته ورسېدی چي نه په مسجد نبوي كښې بوريا وه او نه سترنجي بلكې پر خاورو يې سجدې كولې، ددې مسجد نبوي اندازه معلومه ده چي خلګ او مسلمانان يې د جنت د مځكې په نامه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يادوي اللهم ارزقني زيارة مسجد النبي ﷺ وزيارة قبره ﷺ في العام الجاري يعني في اوائل سنه ١٤٢٩ هدا و مختصر بيان د مسجد نبوي ﷺ.

فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَنْ يَتَطَهَّرُوا

"فيه" اى في المسجد المؤسس على التقوى من اول يوم والمراد به مسجد القبا "رجال" يعني الانصار من بني عمر بن عوف. ددوى خوښه ده چې د نجاساتو او اخباثو څخه كه بدني وي او كه عملي وي. كه معاصي وي او كه خصال ذميمه وي څانونه پاک وساتي.

پوه سه: چې "فيه رجال" جمله مستأنفه ده. مبين ددې ده چې قيام او لمونځ دي عليه الصلوٰة والسلام وكړي په دې مسجد كښې.

وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ ﴿١٠٨﴾

او الله تعالى راضي دى له مطهرينو څخه.

پوه سه: چې دا آيت چې نازل سو عليه الصلوٰة والسلام راهي سو ومعه المهاجرون حتى وقف على باب مسجد قبا. نو انصار په مسجد كښې ناست وه، عليه الصلوٰة والسلام ورته وويل امؤمنون انتم. فسكت القوم بيا عليه الصلوٰة والسلام دمخه خبره ورته تكرار كړه فقال عمر رضي الله عنه انهم المؤمنون وانا معهم. په تحقيق دوى مؤمنان دي او زه هم ددوى ملګرى يم. فقال عليه الصلوٰة والسلام اترضون بالقضا. يعني تاسي راضي ياست په قضا د خداى ﷻ. قالوا نعم! قال عليه الصلوٰة والسلام اتصبرون على البلا. تاسي صبر كوئ پر بلا له طرفه څخه د خداى ﷻ قالوا نعم. قال عليه الصلوٰة والسلام اتشكرون في الرخا؟ آيا تاسي شكر وايست د نعمت په وخت كښې؟ قالوا نعم! قال عليه الصلوٰة والسلام مؤمنون ورب الكعبة. نو عليه الصلوٰة والسلام وروسته كښېنستى بيا يې ورته وويل يا معشر الانصار. په تحقيق خداى ﷻ ستاسي صفت كړى دى په آيت كښې. نو تاسي څرنګه فعل كوئ په اوداسه كښې و عند الغائط يعني چې چكر وهئ. فقالوا يا رسول الله نتبع الغائط الاحجار الثلثة ثم نتبع الاحجار الما. نو عليه الصلوٰة والسلام دا آيت ورته تلاوت كړى "فيه رجال يحبون ان يتطهروا" وفي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

روایة هو ذالک فعلیکموه، دوی ورته وویل چي تر غائط وروسته موږ پاکي حاصلوو په درو ډبرو سره او تر ډبرو وروسته موږ په اوبو سره استنجا وهو، نو علیه الصلوٰة والسلام آیت مذکوره ورته تلاوت کړی، او ورته وه یې ویل چي هم دغه ستاسي تطهر دی دوام پر وکړئ.

دروښ وایي: چي په اوسنۍ زمانه کښي په ښارو کښي ډبري یا لوتي د ډبري د پاکېدلو لپاره نه دستیاب کېږي او خلګ استنجا د دواړو طرفو یعني ذکر او دبري په اوبو سره وهي نو حکم به یې څه وي؟

جواب: قال الفقهاء رحمهم الله الضرورات تبیح المحذورات، نو د ضرورت په لحاظ دا استنجا روا ده ان شاء الله تعالی لکه تیمم په وخت کښي د عدم الماء او یا مسح پر جبیره باندي، او ځینې بې ځایه صوفیان وایي چي باید چي سړی لوتي په جېب کښي ورسره ګرځوي، دروښ وایي چي دا خو لوی حرج دی، والحرج مدفوع في الدین، البته په صحراؤ کښي د لوتو یا د ډبرو د استنجا امکانات ستة، والله اعلم، ځینې راویان رحمهم الله وایي چي اول سړی چي د ډبرو تر استنجا وروسته یې په اوبو سره استنجا وهلې ده حضرت ابراهیم علیه السلام دی.

مسئله: له خوبه چي څوک راوینښ سي او یا یې باد ووځي وهغه سړي ته استنجا وهل بدعت دی.

دروښ وایي: چي د طهارت لپاره یعني اودس یا غسل د جنابت یا د حیض او یا د نفاس د فقیر کتابونه چي په پښتو ژبه دي، یعني قدوري اول ټوک او یا د نکاح دوه جلده هم ورسره، او نور الایضاح په پښتو درې جلده، او شروط الصلوة پښتو د مطالعې وړ دي د عوامو لپاره بلکې د ځینې امامانو لپاره هم ضروري دي، او داغه رنګه کنز الدقائق پښتو له نظره څخه مه باسئ دغه کتابونه ان شاء الله کورنۍ استاذان دي، والله الموفق.

أَفَمَنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَىٰ تَقْوَىٰ مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانٍ

آیا هغه څوک چي تادای یې د بنیان د دین اینښی دی او اساس یې ابادي د مسجد قباء او د مسجد المدینة المنورة اینښی دی پر کامل تقوی له خدای ﷻ څخه او پر طلب د رضاء د خدای ﷻ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې ددې سوال جواب محذوف دی لکونه بیناً. یعني الاول خیر من الثاني لان الاول بناه رسول الله ﷺ واصحابه، والثاني بناه اعداً الله المنافقون کماسر.

پوه سه: چې افمن آه" جمله مستأنفه ده لپاره د بیان د خبریه د بانیانو د مسجد قباً او مسجد نبوي چې علیه الصلوٰة والسلام او اصحاب کرام رضی الله عنهم دي پر بانیانو د مسجد ضرار.

قانون نحوي: همزه چې د استفهام لپاره دی چې پر حرف عطف داخل سي که واو وي او که فاً او که ثم وي. نو حرف عطف پر ماقبل د حرف استفهام خو نه سي عطف کېدای لفوات صدارت حرف الاستفهام. نو پر هر ځای کښې هر حرف عطف چې وي عطف پر محذوف دی. نو دلته یې تقدیر داسي دی ابعد ما علمت حالهم فمن اسس آه.

دروښ وایي: چې مظهري رحمه الله وایي چې دا استفهام لپاره د تقریر دی ای حمل المخاطب علی الاقرار بکون الاول خیر من الثاني، او روح البیان وایي وهمزة الاستفهام للانکار ای لانکار کون الثاني کالاول والمآل واحد فافهم.

خَيْرٌ أَمْ مَّنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَىٰ شَفَا جُرُفٍ هَارٍ فَانْهَارَ بِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ ۗ

یعني اول خیر دی که هغه چې تادای د بناې خپل چې مسجد ضرار دی.

پوه سه: چې "شفا" طرف ته د شي وایي او "جرف" بضم الحرف الاول والثاني او بضم الاول واسکان الثاني لغتان هغه محکي ته وایي چې بهخ یې سیلو بارانو کښلی وي او سر یې تکیه وي، او "هار" چې اصل د هاري دی په قرآن کښې حرف یا یې له جهته د التقاً الساکنین حذف سوې ده معنی یې نړېدې ونړېدلو ته ده، ولي خو بهخ یې ګوګ دی.

پوه سه: چې د "فانهار" ضمیر د فاعل راجع دی وبنیان ته، او ضمیر د "به" راجع دی وباني ته یعني ونړېدی دا بنیان چې مسجد ضرار دی سره د صاحب البنیان چې منافقان دي په اور کښې د جهنم.

حضرت جابر بن عبدالله رضی الله عنهما وایي چې ما دود ولیدی چې له مسجد ضرار څخه راوتی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: د هار دمخه اعلان چي دروښ وکړی بنآ پر مذهب ده او قول د روح البیان چي روح المعاني هم راوړی دی، او مظهري رحمه الله وایي چي اصل د هار هور دی واو یې په سبب د فتح د ماقبل په الف سره واړاوه فلا حذف فیه لشین او دا قول روح المعاني هم را نقل کړی دی. فلغاته هاور هایر هور،

وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۹﴾

او خدای ﷻ هدایت موصله نه کوي و هغه قوم ته چي ظالمان وي وحق لار ته چي سبب د نجات ددوی لانهم لایطلبون الهدایة والا لما تبعوا ابو عامر الراهب الفاسق الکافر، بل اتبعوا محمداً الصادق المصدوق المؤید بالمعجزات.

لَا يَزَالُ بُنْيَانُهُمُ الَّذِي بَنَوْا

همېشه به وي مسجد ضرار چي دوی یعني یعني منافقانو بنآ کړی وُ په مقابل کښي د مسجد قباً یعني د ابو عامر الراهب الفاسق الفاجر لپاره کمامر حاله.

پوه سه: چي مفسرین په اتفاق سره وایي چي "بنیان" مصدر دی په معنی د مفعول ای المبني او جمع د بنآ نه ده. مظهري رحمه الله په دلیل د افراد دا ویلي دي چي ځکه یې وصف مفرد راوړی دی یعني الذي، او بل دلیل یې دا ویلی دی چي اخبار یې په ریبة ځني وکړی آه چي هغه هم مفرد دی آه. روح المعاني وایي والاخبار بریبة لا دلیل فیه علی عدم الجمعیة لانه یقال الحیطان (جمع د حائط) منهدمة (یعني بوصف المفرد) والجبال راسیة (یعني جبال خو جمع د جبل دد او وصف یې راسیة مفرد دی)

رِيْبَةً فِيْ قُلُوْبِهِمْ

شک او نفاق وُ په زړو کښي ددوی.

سوال: حمل د ریبة پر بنیان په معنی د مبنی کمامر څرنګه صحیح دی؟

جواب: په حذف د مضاف ای سبب ریبة. والحاصل چي بنیان ددوی چي مسجد ضرار وُ چي د علیه الصلوٰة والسلام په امر منهدم او د مځکي سره سم سو سبب د دوی د شک وُ په نبوت کښي د علیه الصلوٰة والسلام او د زیاتوالي د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نفاق ددوی، ولي دوی چي دا مسجد ضرار بنا کړی په توهم ددې چي دا مسجد به زموږ کار وکړی لکه د قوم د موسی علیه السلام په زړو عبادة العجل بنکاره ورغلی ؤ قاله ابن عباس رضي الله عنه او کلبي رحمه الله د ریبة معنی په حسرت او پښېمانې سره کړې ده یعني دوی په زړو کښې پښېمانه وه چي کاشکي موږ دا مسجد نه وای جوړ کړی نو د دومره مصیبت سره به نه مخامخ کېدای.

دروښ وایي: چي دا معنی د لغوي معنی سره د ریبة مطابقت نه لري الا بتکلف، او سدي رحمه الله وایي لا یزال هدم بنیانهم ریبة ای غیظاً وغصة في قلوبهم مع رسول الله ﷺ، والحاصل چي دوی دمخه تر بنیان په نبوت کي د علیه الصلوة والسلام شکمن وه بلکي منکر وه او دمخه یې هم د علیه الصلوة والسلام بغض او عداوت درلودی په هدم سره د مسجد ددوی یې نور شک او انکار او بغض وعداوت زیات سو لانهم یحسبون انهم یحسنون صنعاً.

إِلَّآ أَن تَقَطَّعَ قُلُوبُهُمْ ۗ

مگر نه تر هغه وخته پورې چي ددوی زړونه ټوک ټوک کېږي یعني مري، دا ریبه به یې په زړونو کښې پاته وي، یعني مرګ به دا ریبه ددوی له زړونو څخه باسي.

پوه سه: چي "تقطع" باب د تفعل دی او یوه تا یې څنې حذف کړې ده والاصل تتقطع، والاستثناء مفرغ من اعم الازمان او اعم الاحوال ای لا یزال بنیانهم ریبة في قلوبهم في کل وقت من الاوقات او في کل حال من الاحوال الا وقت تقطع قلوبهم، نو له زړونو څخه به یې ریبة ووځي او حق به ورته ظاهر سي، او خپل کفر او نفاق به هم ور معلوم سي حین لا ینفع علمهم، سعدي صیګوید:

تو پېش از عقوبت دری عفو کوب ..... که سودی ندارد فغان زیر چوب

وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ۝

او خدای ﷻ خبر دی په نیتو ددوی او حکمت لري في الامر بهدم بنائهم.

زبری: د اهل سیرو د عربي حکایت پښتو ژباړه: رسول الله ﷺ په یوولس کال دده د نبوت په موسم کي د حج د مکي مکرمي څخه ووتی وقبائلو ته د عربو په پېغام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د توحید او خپل د نبوت د رسېدلو په نیت، نو جمرة العقبة یو څه ناشناخته عرب یې ولیدل چې د خزرج د قبیلې وه علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل من انتم؟ تاسې څوک یاست، دوی ورته وویل نفر من الخزرج، علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل چې تاسې نه کنبښئ چې زه یو څو خبرې درته وکړم، دوی ورته وویل چې هو کنبښنو، ېې سره کنبښنستل، نو علیه الصلوٰة والسلام د توحید دعوت ورکړی یعنې لا اله الا الله. او د قرآن مجید یو څو آیته یې ورته تلاوت کړه او اسلام ته یې راوبلل. او د خدای ﷻ حکمت وُ چې ددوی په بلاد کښې یهودان هم وه چې اهل کتاب وه. او د اوس او خزرج دوې قبیلې اکثریت بت پرستان وه. نو کله چې په د اوس یا د خزرج د قبیلې د یهودانو سره څه جګړه پېښه سوه، نو یهودانو به ویل چې ژر دی چې په عربو کښې به یو نبي مبعوث سي، چې د علاماتو له لارې یې زمانه وپېژنده که هغه مبعوث سي موږ به د هغه مبایعت وکړو او له تاسې یعنې الاوس والخزرج سره به د هغه نبي په فوج کښې جنګ وکړو او تاسې به له منځه ورک کړو، علیه الصلوٰة والسلام چې دا خبرې ودوی ته وکړې یعنې د خزرج د قبیلې خلګو ته، دوی په هغه نعت چې له یهودانو څخه یې اورېدلی وُ پوه سوه، نو بعضو ددوی نورو ته وویل چې دا سړی نبي دی، باید یهودان له موږ څخه سبقت وه اسلام ته ونه کړي لکه یهودانو چې به ویل، نو دې کسان قبول د اسلام وکړی اووه نفره وه تولې د خزرج د قبیلې وه چې نومان یې دادي (۱) سعد بن زرارة رضي الله عنه (۲) عوف بن الحارث رضي الله عنه. او دده مور (۳) عفرا رضي الله عنها (۴) رافع بن مالک رضي الله عنه (۵) قطبة بن عامر بن جدیدة رضي الله عنه (۶) عقبة بن عامر بن زابي رضي الله عنه (۷) جابر بن عبد الله رضي الله عنه. وقیل عبادة بن الصامت مقام جابر رضي الله عنهما، علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل چې تاسې زما شا نسئ یعنې زه ستاسې قوم ته د تبلیغ اسلام لپاره درسم؟ دوی ورته وویل چې زموږ د خزرج او د اوس قبیلې تر منځ د بعاث جنګ پېښ سوی دی چې په سلګونو کسان د دواړو قبیلو یکښې وژل سوي دي او هغه بدي مو تر اوسه پورې پاته ده، نو که ته اوس راسې او زموږ بدي سره پاته وي موږ پر تا اجتماع نه سوو کولای، نو اوس موږ پرېږده موږ به خپلو قبائلو ته ورسو شاید خدای پاک زموږ او د اوس تر منځ یوه صلحه راولي موږ به

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دوی ته دعوت د هغه دین وکړو چي تا موږ ته دعوت راکړی "فعسی الله ان یجمعهم علیک" نو که خدای پاک دغسي وکړه فلا احد اعز منک، وموعدک الموسم من العام القابل. نو دوی ولاړه په مدینه کي یو سرای له سرایو څخه د انصارو داسي نه وُچي د علیه الصلوٰة والسلام د نبوت بیان به نه پکښي کېدی، نو دا بل موسم حج چي راغلی چي دوولسم کال د علیه الصلوٰة والسلام د نبوت وُ. ځینې راویان وایي چي دوولس کسه ځینې وایي یوولس کسه په عقبه ثانیه کي د علیه الصلوٰة والسلام سره یو ځای سوه چي په هغو کي پینځه کسه د تېر کال وه غیر له جابر ﷺ څخه اووه کسه نور وه (۱) معاذ بن الحارث اخو عوف مذکور ﷺ (۲) ذکوان ﷺ (۳) عبادة بن الصامت (۴) یزید بن ثعلبة ﷺ (۵) عباس بن العبادة ﷺ من الخزرج. او دوه کسه د اوس وه (٦) ابو الهیثم بن التهیان ﷺ (۷) عویمر بن ساعدة ﷺ فاسلموا وبایعوا ورجعوا الی المدینة، او اسعد بن زرارة ﷺ به مسلمانان په مدینه منوره کښي سره یو ځای کول، وروسته اوس او خزرج په متفق ډول و علیه الصلوٰة والسلام ته مکتوب نوشته کړی چي موږ ته یو څوک راواستوه چي موږ ته قرآن عظیم الشان تعلیم کوي، نو علیه الصلوٰة والسلام مصعب بن عمیر ﷺ وروا ستاوه. نو د مصعب ﷺ پر لاس ډېرو خلګو ایمان راوړی، داغه رنګه اسلام راوړی سعد بن معاذ ﷺ او اسید بن حضیر ﷺ او د دغو دوو کسانو په اسلام سره ټوله بني عبد الاشهل په یوه ورځ نر او ښځي ټوله مسلمانان سوه، وروسته په کال دیارلس کي د نبوت د علیه الصلوٰة والسلام په اوسط کي د ایام تشریق له مدینې څخه په اختلاف د روایاتو اوویا نران او درې ښځي او یا درو اوویا نر او دوې ښځي راغلي او د علیه الصلوٰة والسلام سره یې بیعت وکړی، بغوي رحمه الله وایي چي عبد الله بن رواحة ﷺ په وخت کي د بیعت علیه الصلوٰة والسلام ته وویل یا رسول الله ﷺ ته پر موږ شرط کښېږده د خدای لپاره او د ځان لپاره چي ستا خوښه وي، علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل اشترط لربي ان تعبدوه فلا تشرکوا به شیئاً (یعني من الوثن والملائکة والنار وغیرها) واشترط لنفسي چي تاسي په ما ساتئ چي تاسي خپل ځانونه او اموال ځندي ساتئ، دوی ورته وویل په مشري د عبد الله بن رواحة ﷺ چي موږ د غسي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وکړو نو مور لره به څه شی وي؟ قال علیه الصلوٰة والسلام الجنة. دوی ورته وویل چې زمور سودا گټوره ده یعني مور په گټه کښې یو "لانقیل" مور فسخ ددې سودا نه کوو "ولا نستقیل" او نه د بل چا فسخ د عقد قبله وو" فنزلت هذه الآیة.

دروښ وایي: چې د اهل مکې د مشرکانو او د مدینې د مسلمانانو چې تاسي واورېدی مثال داسي دی لکه چې یو کلی د لوی غره په لمن کښې وي، نو لمر چې راوخېژي اول یې نور او رڼا پر لېرې ځایو او باندې وي، دهر وروسته د کلي چې د غره په لمن کښې پراته وي، نور د لمر رائي، نو علیه الصلوٰة والسلام لکه شمس الهي ؤ اوله رڼا یې پر مدینې والو واقع سوه، او اهل مکه په سایه کښې د شپې پاته وه یعني پر کفر او شرک دهره زمانه، وروسته پر اهل مکه باندې دا نور الهي تابان سو یعني څه وخت چې د بدر غزا او فتح د مکې وسوه.

إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ۚ

په تحقیق خدای پاک رانیول د له مسلمانانو څخه ځانونه او مالونه ددوی یعني چې في سبیل الله او لپاره د اعلاء د کلمة الله به یې قربانوي که ځانونه وي او که مالونه په دې سره چې دوی لره به جنت وي یعني په ورځ د قیامت یعني دا یې ثمن ورته کښېښود.

پوه سه: چې "اشتری" په دې آیت کښې استعاره تبعیه ده یعني خدای پاک مشابه کړی بذل د اموالو او انفسو د مؤمنانو في سبیل الله په معاوضه د شراء د شي او په عوض ثمن ورکول چې جنت دی، نو په شراء سره یې تعبیر وکړی، او قانون د شراء دادی چې چونکه سړی د یو چا شي ورکړه د ثمن د مشتری له خوا وبائع ته ضروري ده چې مبیعه، دغه رنگه که مؤمنان بذل د انفس او اموال في سبیل الله وکړي ثمن چې جنت دی په فضل د خدای ﷻ او په قرار د وعدې د خدای ﷻ ودوی ته لازم دی فلا یرد انه لاوجوب علی الله بشیئ. اهل السیرة وایي چې اول سړی چې لاس یې پر لاس د علیه الصلوٰة والسلام کښېښود لپاره د بیعت براء بن معرور رضی الله عنه ؤ، او ابو الهیثم رضی الله عنه او اسعد رضی الله عنه ؤ، چې دوی به ساتی علیه الصلوٰة والسلام لکه دوی چې ساتي خپلې ښځې او زامن، او دوی به جنگ کوي د احمر او اسود سره، نو د اول آیت د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قتال په باره کښې دا بیعت چې پای ته ورسېدی له لیلة العقبة کې په پټه د قریشو د مکې امر وکړی مسلمانانو ته چې دده سره په مکه کې وه په هجرت سره ومدینې ته او علیه الصلوٰة والسلام په خپله په مکه کې پاته سو واجازې ته د خدای ﷻ منتظر وُ په هجرت کې. نو اول چې هجرت وکړی ابو سلمه بن عبد الاسد ﷺ قبل بیعة العقبة الثالثة یو کال. او بعض مسلمانان چې حبشې ته تللي وه مکې ته بیرته راغله لکن کفارو د مکې دوی زهیرول نو دا کسان هم مهاجر د مدینې سوه. وروسته عامر بن ربیعه ﷺ د خپلې مایئې سره چې لیلی یې نوم وُ هجرت وکړی. وروسته عبد الله بن جحش ﷺ هجرت وکړی وروسته مسلمانان ډله ډله مدینې ته روان سول. وروسته عمر بن الخطاب ﷺ او ده ورورزید او عباس بن ربیعه ﷺ چې مجموعه شل نفره وه په اطراقو کې د مدینې واړول وروسته عثمان بن عفان ﷺ هجرت ته خان تیار کړی او ولاړی. او ابو بکر صدیق ﷺ هم علیه الصلوٰة والسلام ته وویل چې زه به هم هجرت وکړم. نو علیه الصلوٰة والسلام به ورته ویل لاتعجل لعل الله ان یجعل لک صاحباً. نو ابوبکر ﷺ په دې پوه سو چې د علیه الصلوٰة والسلام خپل خان مراد دی له صاحب څخه. بیا قریشو یوه جلسه جوړه کړه په دار الندوة کې چې علیه الصلوٰة والسلام ووژني نو خدای ﷻ و علیه الصلوٰة والسلام ته امر د هجرت وکړی او ابوبکر ﷺ یې هم ملګری وُ په هجرت کې.

دروېش وایي: چې د دار الندوة د جلسې تولې جریانات او د علیه الصلوٰة والسلام او ابوبکر ﷺ د هجرت قصه په تفصیل سره دروېش په تفسیر کې د سورة الانفال پر لوی میدان د کاغذ د قلم په نوک بیان کړي دي ولله الحمد.

یوه سه: چې بعض اوهامو ته دا اعتراض په زړه نو کې ورګرځي چې بنده او ده مال تولې ملک د مولی عزوجل دی. نو خدای پاک څرنګه خپل ملک په خپل ملک چې جنت دی رانسې؟

ځواب: دا لفظ د اشتراٰ چې یې ذکر کړی لپاره د باعثه کولو د بنده ګانو پر غذاٰ باندې کما في آیة اخری من ذا الذي یقرض الله قرضاً حسناً الآیة. وبالفارسیة کما قال الحسین الکاشفي ﷺ، ای بنده از تو بذل کردن نفس ومال وازمن عطاٰ دادن بهشت بی زوال. قال جعفر الصادق ﷺ یا ابن آدم اعرف قدر نفسک فان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الله عرفک قدرک لم یرض ان تکون لک ثمن غیر الجنة، قال المولوي جلال الدین الرومي في المثنوي:

خویشتن نشناخت مسکین آدمی ..... از فزونی آمد و شد درکمی
خویشتن را آدمی ارزان فروخت ..... بود اطلس خویش را بردلق دوخت

امام همام فخر الدین الرازي رحمه الله په تفسیر کبیر کي وایي چي په حدیث شریف کي راغلي دي چي ابلیس په دغه آیت سره احتجاج کوي، او دا مسئله شرعي خدای ﷻ ته پېښوي چي یو مشتري چي متاع معیوب رانسي بیرته یې بائع ته ردوي، نو دی ووایي نفوس او اموال د بندګانو خو تولې معیوبه ده تا ځني رانیول بیرته یې ور رد کړه ستا شریعت په حکم سره تا چي دوی زما ملګري سي حیث اکون، خدای پاک ورته ووایي چي ته جاهل یې زما په شرعه او عدل سره یو مشتري چي یو متاع رانسي بکل عیب فیه بفضله وکرمه لایجوز رده في شرعي في مذهب من المذاهب، نو شیطان مخ توری سي.

دروښ وایي: چي والله یعلم بصحة الخبر المذکور لان الرازي رحمه الله لم یذکر ناقله عن النبي ﷺ ولا سنده.

يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ

دوی په جنګ کوي په لاره کي د خدای ﷻ؛ نو به یا دوئ کافران وژني او یا به دوی وژل کېږي د کافرانو له خوا.

فائده: په اول صورت کښې دوی غازیان دي فلهم الجنة او په دوهم صورت کښې دوی شهدا دي فلهم الجنة ایضاً.

پوښتنه: مسلمانان چي غزا ته ولاړ سي بعض داسي کسان په فوج کي البته سته چي نه یو کافر قتل کړي او نه دی قتل کړل سي، نو دې مسلمان ته هم ثواب د جنت سته؟

ځواب: هو! په غزا کي فعل د بعض فوجیانو یعني چي یا کافر قتل کړي او یا دی شهید سي؛ تولو فوجیانو ته منسوب کېږي، ولي چي هر غازي وهر یوه ته ددې فعلو اماده ؤ، نو دا ته خدای پاک جنت ورکوي پر مجرد نیت صادقه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دده، ولو لم يوجد منه واحد من الفعلين.

سوال: حمزه او کسائي له قراً سبعه رحمهم الله څخه مجهول فعل دمخه راوړی دی، او معلوم يې وروسته فکيف يتصور القتل من المقتول؟

ځواب: په نحو کي وايي چې کلمه د واو عاطفه ترتيب نه غواړي فلا يرد السوال المذکور فافهم.

وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرٰىةِ وَالْاِنْجِيْلِ وَالْقُرْاٰنِ ؕ

پوه سه: چې ضمير د "وعداً" راجع دی وشراً ته او "وعداً" مفعول مطلق دی د فعل محذوف ای وعدالله لهم وعداً "حقاً" صفت دی د "وعداً" او يا مصدر دی د فعل محذوف ای حقه حقاً.

دروښ وايي: چې له دې آيت څخه يعني "في التورٰة آه" دا وفهمېده چې اهل التوراة او اهل انجيل چې يهود او نصاری دي لکه مسلمانان چې اهل قرآن دي، ټوله مأموربه په جهاد سره وه او د ټولو سره وعده د جنت کړل سوې وه علی الجهاد، پوه سه! حرف جر چې في د متعلق دی په فعل محذوف پورې د "وعداً سره کمامر آنفاً.

وَمَنْ اَوْفٰى بِعَهْدِهٖ مِنَ اللّٰهِ

الاستفهام للانکار ای لا احد اوفی آه ولي چې په عقائدو کي وايي چې خلف الوعد بد کار دی او پر خدای ﷻ محال دی، او وفاً بالوعد کرم ولا احد اکرم منه تعالی والمقصود المبالغة في انجاز الوعد.

فَاسْتَبْشِرُوْا بِبَيْعِكُمُ الَّذِيْ بَايَعْتُمْ بِهٖ ؕ وَذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝

خوشحاله اوسئ، غاية الفرح ايها المؤمنون المجاهدون په بيع سره چې تاسي د خدای ﷻ سره وکړه هغه يعني انفس او اموال پر خدای ﷻ خرڅ کړه په جنت سره ولي دا ډېره ګټوره سودا ده ستاسي چې حقير فاني چې انفس او اموال دي په شريف باقي سره چې جنت سودا کړي.

فائده: په دې آيت کي التفات دی له غيبت څخه په يقاتلون کي، وه خطاب ته د فاستبشروا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده سنیه: پوه سه! چې په حدیث شریف کې راغلي دي ان الجنة تحت ظلال السیوف "جنت د تورو تر سایو لاندې دی" وان من اغبرت قدماه في سبیل الله حرمه الله علی النار "که د چا پښې سپرې سوې په لار کې د خدای ﷻ یعنې په جهاد کې هغه سړی به خدای پاک حرام وګرځوي پر اور باندې یعنې د دوزخ اور ورته حرام دی" ومن انفق دیناراً في سبیل الله کتب بسبعمائة دینار وفي روایة سبعمائة الف دینار" او که چا مصرف کړی یو دینار په لار کې د خدای ﷻ ورته وبه لیکل سې په اووه سوه دیناره سره او په بل روایت کې په اووه لکه دیناره سره" وان الشهداً حقاً عند الله من الاحیاً وان ارواحهم في جوف طیور خضر تتبوء من الجنة حیث تشاً" او هغه کسان چې شهیدان وي په حق سره یعنې في سبیل الله ژوندي دي په نېږ د خدای ﷻ یعنې حیوةً روحیةً وان کانت ابدانهم في القبور او روحان ددوی په نسو کې (وفي روایة في حواصل جمع د حوصلة ده چې په پښتو کې جوجری ورته وایي) د زرغونو مرغانو دي چې ګرځي دا مرغان په جنت کې هغه چې اراده وي د شهیدانو، علماً او شارحان د حدیث نبوي ﷺ وایي چې دا اجواف یا حواصل د شهداً لپاره لکه صدف د ملغلرو لپاره" وان الشهید یغفرله جمیع ذنوبه وخطایاه وانه یشفع له في سبعین من اهل بیته و اولاده "او شهید ته ور بخښل کېږي ټوله ګناه کبائر او صغائر دده او د شهید شفاعت قبلول کېږي په اوویا کسانو کې د اهل بیت دده او د اولاد دده" وانه امن یوم القیامة انضرع الاکبر "او شهید به په امن کې وي په ورځ د قیامت له لوی ښهري څخه "وانه لا یجد کرب ولا هول المحشر "او شهید نه پیدا کوي د مرګ درد یعنې د زکندن او نه ښهره د ورځې د محشر" وان الطاعم النائم في الجهاد افضل من الصائم القائم في سواه "او هغه سړی چې په دوډی یې ځان مور کړی وي او په خوب بیده وي د جهاد په صحنه کې افضل یعنې په نېږ د خدای ﷻ تر هغه چا چې د ورځې یې روژه وي او شپه په قیام کې د تهجد تېره کړي ماسوا له جهاد څخه" ومن حرس في سبیل الله لاتبصر النار عیناه "او هغه څوک چې پهیره وکړي یعنې چوکیداري وکړي في سبیل الله یعنې د غازیانو چې هغه ښغمه خوب وکړي نه به وویني سترګې دده اور یعنې دوزخ"

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې فضائل د غزواتو او شهداؤ بې اندازې ډېر دي چې راوړل يې سبب د ډېر تطويل او اطناب وګرځي وفيما ذكرناه كفاية لمن رزقه الله الفهم والله الموفق.

اَلتَّآئِبُوْنَ الْعٰبِدُوْنَ الْحَامِدُوْنَ السَّآئِحُوْنَ الرَّاكِعُوْنَ السَّاجِدُوْنَ

يعني هغه كسان چې توبه يې وي له شرک څخه او اخلاص يې وي له نفاق څخه، او روح البيان دا هم زياته كړې ده ومن كل معصية صغيرة كانت او كبيرة الخ.

پوه سه: چې ددې تفسير رجوع وعصمت ته كېږي والعصمت مختصة بالانبياؑ عليهم السلام، مفسرين رحمهم الله په يوه خوله وايي چې تائبون مرفوع على المدح خبر د مبتدأ محذوف اى هم والمراد بهم المؤمنون المذكورون في قوله تعالى ان الله اشترى من المؤمنين آه. ولي دوى بيعت كړى و امتثال د مايأمرهم ولا يعصونه في معروف.

دروښ وايي: چې په قرائت كې د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه او ابى التائبين بالجر راغلى دى. نو پر دې قرائت لفظاً صفت دى د مؤمنين چې په دمخه آيت كې ذكر سول. او زجاج رحمه الله وايي چې تائبون تر اخيره پورې مبتدأ ده او خبر يې محذوف دى تقديره التائبون آه من اهل الجنة. وان لم يجاهدوا په دې شرط چې معاند نه وي او نه يې په نيت كې وي ترک الجهاد عند القدرة المفروضة. نو پر دې تقدير دا لوى زهرى دى د جنت د ټولو مؤمنانو سره كما في قوله تعالى وكلا وعد الله الحسنى "العابدون" يعني لله وحده چې نه مشركين په شرک جلي وي او نه خفي چې رياً او سمعه ده "الحامدون" چې حمد د خداى جل جلاله په حال كې د سراً او ضراً، طبراني، حاكم او بيهقي رحمهم الله په سند صحيح كې له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت كړى دى، قال رسول الله ﷺ اول من يدعى الى الجنة الحامدون الذين يحمدون الله في السراً (يعني په وخت كې د خوشحالى په نفس او مال او عيال) "والضراً" او په حال كې د ضرر يا ناجوړى يا فقر او مسكنت او يا فوت الاولاد وغيرها من موجبات التهلف.

دروښ وايي: چې مفسرينو په اتفاق اول تفسير د "السائحون" په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

روژاتيانو سره كړي دی، د ابن جرير رحمه الله په روايت د عليه الصلوة والسلام څخه چا پوښتنه وكړه عن السائحين قال الصائمون. او ابن جرير او ابن المنذر له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت كړی دی كل اينما ذكر في القرآن السائحين فهم الصائمون. او له عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی فرمايي سياحة هذه الامة الصيام. سفيان بن عيينة رحمه الله وايي چي صائم ته ولي سائح وايي چي صائم لكه سائح تولە لذات او شهوات من المطعم والمشرب والنكاح يعني جماع پرې اينسي دي لپاره د رضی د خدای جل جلاله. نو له دې سببه په حديث د ابي هريرة رضي الله عنه چي بخاري او مسلم يې روايت كړی دی چي رسول الله ﷺ وويل كل عمل بني آدم يضاعف الحسنة بعشر امثالها الى سبعمائة ضعف (هر عمل د ابن آدم دوه چنده كېږي نېک عمل يې په لس مثل سره تر اووه سوه شل پورې يعني په تفاوت د اخلاص د بندګانو يا په اختلاف د ازمانو الى غير ذالک) قال الله تعالى الا الصوم فانه لي وانا اجزی به يدع شهوته وطعامه من اجلي الى اخير الحديث (خدای پاک وايي مګر نه روژه ولي روژه زما ده.

دروېش وايي: چي نسبت يې وځان ته وكړی كه څه هم تولە عبادات خو د خدای جل جلاله دي په دې سبب چي په روژه سره ریا او سمعه لرې پيدا كېږي او زه يې ثواب وركوم يعني وملكو ته يې نه سپارم چي هغو ته يې قدر د ثواب نه دی معلوم. وفي رواية وانا اجزی به بصيغة المجهول يعني زه ثواب يم د روژې يعني زما ديدار يا زما رضا ثواب دی د روژې. روژې والا پرېښو خپل شهوت او طعام زما لپاره الخ)

دروېش وايي: چي وتفسير ته د سياحت په روژې سره لوی جماعت د صحابه كرامو رضي الله عنهم او تابعينو رحمهم الله تک كړی دی. آلوسي رحمه الله په روح المعاني كي وايي چي اطلاق د سياحت پر روژې باندې د استعاري له قسمه څخه دی، ولي چي روژه صائم منع كوي له دې هرو شهواتو څخه لكه اكل شرب جماع لكه چي سياحت په اغلب الناس كي داغسي وي، او بله وجه دې هره الطف يې دا ويلې ده چي روژه سفر روحاني دی چي ددې سفر په وياړ دې هر احوال د ملك او ملكوت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وروژياتي ته کشف کبري فشبه الاطلاق عليها بالاطلاع للسائح على البلدان او پر دېرو ځايو باندي الى اخيره، او ابن ابي حاتم له ابى زيد ځخه روايت کړى دى چې سائحون هم المهاجرون دي وليس في امة محمد ﷺ سياحة الا الهجرة. او ابو الشيخ له عكرمه ﷺ ځخه روايت کړى دى چې سائحان طالب علمان دي يسيحون في الارض لطلب العلم، او طبراني او حاكم وايي له ابى امامة ﷺ ځخه په روايت چې يو سړي له عليه الصلوة والسلام ځخه اجازه د سياحت وغوښتل، نو عليه الصلوة والسلام ورته وويل سياحة امتي الجهاد في سبيل الله، لكن اول تفسير اولى دى.

پوښتنه: د سياحت تفسير بې ولې په معنى لغوي سره نه دى کړى؟

ځواب: سياحت په معنى لغوي د نصارى وو د رهبانيت پوه ځانګه ده وقد نهى رسول الله ﷺ عن الرهبانية يعني بانواعها.

دروښ وايي: چې ابو الشيخ له عكرمة ﷺ ځخه په روايت چې تفسير د سائحين په طلاب العلم سره کړى دى د پر په زړه پورې دى، لانه قال ابو الدرداء ﷺ سمعت رسول الله ﷺ من سلك طريقاً يطلب فيه علماً سلك الله به طريقاً من الجنة (که ځوک پر يو لار روان سو چې په هغه کې يې علم طلباوه، ځداى ﷻ به دى يوزي په دغه سلوک ولاري ته د جنت) وان الملائكة ليضع اجنحتها رضى لطالب العلم (او په تحقيق ملکي ايږدي خپل وزرونه يعني چې طالب العلم وويني دوى خپل طيران قطع کوي لپاره د رضى د طالب العلم يعني ورته درېږي.

دروښ وايي: چې بعض ملا امامان چې وايي چې ملکي د طالب العلم تر پښو لاندې وزرونه ايږدي هغه تفسير غلط دى او اهانت دى د ملائكة الله) وان العالم ليستغفر له من في السموات ومن في الارض حتى الحيتان في جوف الما (او عالم يعني بالعلوم الدينية اذ لا اعتداد لغيرها هر آئينه طلب د د بخښې کوي هغه ځوک چې په اسمانو کې دي يعني الملائكه، او هغه ځوک چې په مځکه کې دي، والمراد صالح مؤمنان، حتى چې طلب د بخښې ورته کوي ماهيان په نس کې د اوبو اى بلسان القال والله اعلم بحقيقة الحال) وان فضل العالم على

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

العابد كفضل القمر ليلة البدر على سائر الكواكب (او فضيلت د عالم يعني چې صرف فرائض او واجبات پر ځای کوي او له منهيات شرعيه وو ځخه پرهېز کوي. او نور وخت په تعليم کې د علم تېروي يعني يا په درس کې يا په مطالعه کې د ديني کتابو يا په تصنيف کې يعني نوافل العبادات نه کوي پر عابد چې په نوافل العبادات من الصلوة والصيام والاذكار وغيرها بخت وي. لكه فضيلت د سپوږمۍ د څورلسم د مياشتې پر نورو سترو) وان العلماء ورثة الانبياء وان الانبياء لم يرثوا ديناراً ولا درهماً وانما ورثوا العلم فمن اخذه اخذ بحظ وافر (رواه احمد والترمذي وابو داؤد وابن ماجه) اللهم اجعلني منهم بفضلك وكرمك.

او په تحقيق علماء وارثان د انبياء عليهم السلام دي. او انبياء عليهم السلام په ميراث نه دي پرې اينبي دينار او نه درهم. بلكې دوی پرې اينبي دی علم ای علم الدين والشريعة، نو که چا د علم برخه واخستل يعني علم يې حاصل کړی بيا يې مبذول کړی، نو يې واخستل پوره برخه يعني له ژوند ځخه د دنيا.

پوه سه: چې مراد له "الراكعون والساجدون" ځخه لمونځ کونکي د پينځه وخته مفروضه دي.

پوښتنه: له لمانځه ځخه يې تعبير په دغه رکوع او سجده سره وکړی وجه يې څه ده؟

ځواب: لمونځ خو عبادت دی عبادت کول په رکوع او سجده سره تر نورو ارکانو د لمانځه ښه معلومېږي. ولې چې عادةً سړی ګاهي ولاړ وي او ګاهي ناست وي او رکوع او سجده د عادت شيان نه دي، نو هر ځوک پوهېږي چې دا سړی لمونځ او عبادت کوي.

سوال: په يوازي رکوع او سجده سره خو لمونځ مراد کېدای سوای. نو دواړو ته کوم ضرورت وو؟

ځواب: د تکرار فائده يې داده چې دلالت وکړي پر فضيلت د لمانځه پر ټولو عباداتو کما جاؤ في حديث ابن مسعود رضي الله عنه دی وايي چې ما پوښتنه وکړه د عليه الصلوة والسلام ځخه ای الاعمال احب الى الله؟ قال الصلوة لوقتها (کوم عمل د هر محبوب دی و خدای جل جلاله ته؟ عليه الصلوة والسلام وفرمايل لمونځ پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خپل وخت يعني مستحب وخت) قلت ثم اى قال بر الوالدين (بيا ما ورسته ورته وويل چي بيا كوم عمل محبوب دى و خداى ﷻ ته؟ عليه الصلوة والسلام وفرمايل چي احسان كول د مور او پلار سره يعني خدمت يې كوه كه د خدمت محتاجه وه او نفقه وركوه الى غير ذالك) قلت ثم اى قال الجهاد في سبيل الله (ما ورته وويل بيا نو كوم عمل احب دى وخداى ﷻ ته؟ ده مبارك وفرمايل چي جهاد په لاره كي د خداى ﷻ يعني لمرضاة الله واعلاً كلمة الله، رواه بخاري ومسلم، وفي رواية لو استزدته لزادني (كه ما نوري پوښتني څني كړي واى يعني ثم اى ثم اى عليه الصلوة والسلام به ماته زياتوب كړى واى يعني د هغو څوابونه به يې هم راكړي واى، مطلب يې دادى چي ما شفقتاً له عليه الصلوة والسلام څخه نوري پوښتني نه وكړې) وقال رسول الله ﷺ الصلوة عماد الدين رواه ابو نعيم وفي رواية فمن اقامها فقد اقام الدين ومن هدمها فقد هدم الدين، وقال عليه الصلوة والسلام الصلوة نور المؤمن رى عن انس ﷺ وقال الصلوة قربان كل تقي (لمونځ نژدې والى د هر تقوى مؤمن يعني سبب د نژدېوالي وخداى ﷻ ته د هر تقوى داره سړي.

الْآمِرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّاهُونَ عَنِ الْمُنْكَرِ

چي امر كونكي دي په معروف سره چي ايمان دى او عمومي طاعات دي او نهي كونكي له بد كاره څخه چي كفر او عموماً گناهونه دي.

سوال: د ناهون سره يې ولي واو عاطفه راوړى او په نورو خصالو كي يې واو عاطفه نه راوړى؟

څواب: نور خصال تولـه هر يو جلا جلا خصلت دى، او امر بالمعروف او نهي عن المنكر يو صفت او خصلت دى ولهذا جمع بالعطف بينهما، او حدادي رحمه الله وايي چي معروف هو السنة النبوية اى الطريقة النبوية ﷺ والمنكر هو البدعة آه، په حديث شريف كي راغلي دي "كل بدعة ضلالة" ابن مالك رحمه الله وايي يعني كل خصلة جديدة آتى بها الشخص ولم يفعلها النبي ﷺ ولا الصحابة رضي الله عنهم آه او له دې څخه تخصيص كړى علماؤ د مذاهبو بدعت حسنه كما قال عمر ﷺ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حین جمع الناس علی ابی بن کعب رضی الله عنه في صلوة التراویح نعمت البدعة. علماً رحمه الله وایي چي بدعت پینځه قسمه دی، یو واجب لکه جمع کول د دلائلو عقلیه او نقلیه لپاره د دفع د شبهاتو د ملاحده ؤ او د روافضو وسائر فرق الضلالة ککتب المتأخرین في العقائد کشرح العقائد وشرح المقاصد للعلامة التفتازاني رحمه الله والمواقف للقاضي عضد الملة والدین رحمه الله وشرحه للسید الشریف وغیرها، ومندوبة کتصنیف الکتب في العلوم الدینیة من کتب التفاسیر وکتب الاحادیث والکتب الفقة والفتاوی، وبناً المدارس والجسور وغیرها ومباحة کالبسط في الماکولات، ومکروهة وحرام وهما ظاهران.

وَالْحٰفِظُوْنَ لِحُدُوْدِ اللّٰهِ

او دوی ساتونکي وي د هغه اوامرو او منهیاتو چي خدای عزوجل ودوی ته حد او تعین کړی وي.

پوه سه: چي حسنات یعني خصلات حسنه چونکه په ماذکره الله فیما قبل کي حصر نه وه، ولي که ټوله حسنات د اعضاً بدنیه ؤ او قلبیه ؤ څوک یې جمع کوي، نو کتاب مجلدات به ځني جوړ سي یعني من العقائد الدینیة الخالیة عن الزیغ والبدعة والاحکام الشرعیة الفقهیة واحکام تصفیة النفس من الرزائل کما بین في التصوف، نو له دې کبله په واو عاطفه سره چي وه شامل مامر ذکره ته او ما بقی ته هم دي کمامر ذکره منا یو حاصل مجمل کلام جامع او مانع ذکر کړی چي "والحافظون لحدود الله" دی.

پوه سه: چي شیخ احمد غزالي رحمه الله وخپل ورور محمد غزالي رحمه الله ته وویل چي تولهٖ دین ماتاته په دوو خبرو کي جمع کړی دی، التعظیم لامر الله، والشفقة علی خلق الله.

وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۱۲﴾

او ته زېری وکړه یا محمد ﷺ وټولو مؤمنانو ته یعني الموصوفون بما ذکره الله من الخصال الحمیدة وبما ذکره الله تعالی في الاجمال یعني زېری د رضی الهي وکړه او زېری د دار الکرامة جنت وکړه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: دغه کسان خو د وړاندې ذکر سوه، نو ضمیر د هم یعني وبشرهم کافي نه وُ؟

ځواب: په ذکر د لفظ د "مؤمنین" تنبیه پر دې ده چې ایمان ددوی سبب د خصال حمیده وګرځېدی، ولي چې علماً قاطبةً وایي چې تعلیق د یو حکم لکه دلته چې بشارت دی په یو مشق سره چې لفظ د مؤمن دی دلالت کوي پر سببیت د مبدأ الاشتقاق چې ایمان دی د هغه حکم لپاره چې بشارت دی.

په قرآن مجید کې خدای ﷻ مبشر به نه کړی ذکر چې تنبیه پر دې باندې چې پر ټوله مبشر به باندې عبارت احاطه نه سي کولای، او دروېش په طور د مشت نمونه خروار اجمالي بیان د مبشر به وکړی.

دروېش وایي: چې بخاري او مسلم له سعید بن المسیب ﷺ او له خپله پلار ځخه داسي روایت کړي دی چې ابو طالب عم رسول الله ﷺ چې د وفات وخت یې نژدې سو علیه الصلوة والسلام ورته راغلی او په مجلس کې ابو جهل او عبدالله بن ابی امیه هم حاضر وه، نو علیه الصلوة والسلام وه ابو طالب ته وویل قل لا اله الا الله احاج بها عندالله، ابوجهل او عبدالله بن ابی امیه ورته وویل اترغب عن ملة عبدالمطلب یعني فهم کوه چې د ملت او دین ځخه د عبدالمطلب چې شرک دی وانه وړې، نو علیه الصلوة والسلام ګړی په ګړی د توحید کلمه وه ابو طالب ته پېښوله او بو جهل او ملګري یې خپل خبره ورته تکراروله حتی چې د ابو طالب اخیره خبره داوه علی ملة عبدالمطلب وابی ان یقول لا اله الا الله او مړ سو. نو رسول الله ﷺ دا خبره وکړه والله لاستغفرن لک مالم انه عنه (قسم په خدای ﷻ دی چې زه به همېشه ستا لپاره طلب د بخښي کوم تر هغو پورې چې زه نه یم نهي سوی یعني د خدای ﷻ له خوا ستا له استغفار ځخه، نو دا آیت نازل سو.

دروېش وایي: چې د آیت شریف پر مذکوره شان حسین بن الفضل رحمه الله داسي سوال کړی دی چې د ابو طالب وفات خو قبل الهجرة درې کاله منځ ته راغلی دی او دا سورت له اخیرو سورتونو ځخه دی چې په مدینه منوره کې نازل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوي دي. فاصل واحدي رحمه الله ددې سوال په خواب کي وايي چې دا سوال نه دی وارد. ولې چې علیه الصلوة والسلام د ابو طالب استغفار له خدای ﷻ څخه غوښتی د وفات له وخته څخه بیا تر وخته د نزول ددې آیت په مدینه منوره کي فان التشدید مع الکفار انما ظهر في هذه السورة. او ورته خواب صاحب التقریب هم ذکر کړی دی.

سوال: په مذکوره شان نزول کي خو داسي راغلي دي فنزلت هذه الآیة. کلمه د فا په نیز د نحاتو خو لپاره د تعقیب بلا فصل ده؟

خواب: کلمه د فا لپاره د تعقیب نه ده بلکې لپاره د سببیت ده، پر دې توجیه د واحدي رحمه الله ډېرو نورو علماؤ رحمهم الله اتفاق کړی دی او دا یې ویلي دي چې هذا توجیه وجیه، پر دې توجیه علامه بغداد په روح المعاني کي دا سوال کړی دی چې ابن سعد رحمه الله او ابن عساکر رحمه الله له حضرت علي رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې ما خبر ورکړی په مرګ د خپل پلار ابو طالب، نو علیه الصلوة والسلام وژړل یعني د ابو طالب پر موت بهله ایمان راوړلو څخه، وقال اذهب فغسله وکفنه واراه غفرله الله ورحمه ففعلت (علي رضي الله عنه ته یې وویل چې ورسه غسل ورکړه او کفن ورکړه او ښخ یې کړه خدای ﷻ دي وده ته بخښي وکړي او رحم دي پر وکړي، علي رضي الله عنه وایي ماهم د فرموده سره د علیه الصلوة والسلام کار وکړی وجعل رسول الله ﷺ یستغفرله اياماً ولا یخرج من بیته حتی نزل علیه جبرییل علیه السلام بهذه الآیة ماکان للنبي الآیة (نو علیه الصلوة والسلام په استغفار د ابو طالب شروع وکړه څو ورځي او له کوره نه راوتی حتی چې جبرئیل علیه السلام دا آیت راوړی ماکان للنبي ﷺ له دې روایت او حدیث څخه خو صراحةً دا فهمېږي چې علیه الصلوة والسلام چې وروسته تر دفن د ابو طالب له کوره نه راوتی تر وخته د نزول د آیت چې دا آیت په مکه کي نازل سوی دی، آلوسي رحمه الله وایي اللهم الا ان یقال بضعف هذا الحدیث لکن محمود آلوسي رحمه الله وایي چې ما داسي څوک نه دی لیدلی چې دا حدیث دې ضعیف ګڼلی وي.

آلوسي رحمه الله صاحب د روح المعاني وایي چې اولی په خواب کي د اصل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال چي حسين بن الفضل رحمه الله وارد کړی وو پر منذکوره شان نزول چي دا سورت چي روات مدني بولي په اعتبار د غالب آيتو دی فلا ينافي نزول شيئ منها في مكة وهي هذه الآية ماكان للنبي الآية.

دروښ وايي: چي صاحب د روح المعاني په اخير د مبحث مذکور دا عبارت راوړی دی والآية دليل على ان اباطالب مات كافراً وهو المعروف من مذهب اهل السنة والجماعة ص۳۳.

دروښ وايي: چي محمود آلوسي رحمه الله په روح المعاني کي وايي چي د شيعه ګانو مذهب دادی چي ابو طالب پر ايمان مړ سو او دوی داسي دلائل راوړي دي چي ثکلی به پر وخاندي (ثکلی هغه ښځه بولي چي ځوان زوی يې مړ وي) او دی وايي چي شيعه ګانو داسي دلائل پر ايمان د ابو طالب راوړي دي چي اوهن من بيت العنكبوت دي. هوا په ايمان او نه ايمان کي د ابو طالب دپر بحث کول وه مؤمن ته نه ښايي لکه په باره کي د نورو کفارو د قريشو لکه ابوجهل وامثاله، ولي چي ابو طالب لره فضليت سته پر نورو کفارو د قريشو، ولي چي ابو طالب رسول الله ﷺ له کوچنيوالي څخه بيا تر ځوانۍ پورې په قرار د وصيت د پلار عبد المطلب دی مبارک دپر ناڑاوه، او نکاح د خديجة الكبرى رضي الله عنها د عليه الصلوة والسلام سره په سن کي د پينځه ويشت کلنۍ د ابو طالب په ژوند کي واقع سوه او هر څه ازارونه د قريشو د کفارو پر عليه الصلوة والسلام باندي په قرار د صحيح احاديثو تر وله پس له وفاته د ابو طالب راغلي دي، وقد روى نفع تلك المحاسن لابى طالب مع رسول الله ﷺ في الآخرة افلا ينفعه في الدنيا في الكف عن الخوض فيه وعدم معاملة المؤمن مع ابى طالب معاملة غيره من كفار قريش كابى جهل وغيره، له ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما له رسول الله ﷺ څخه واورېدل چي يو چا پوښتنه د ابو طالب په باره کي وکړه، عليه الصلوة والسلام وويل ولعله تنفعه شفاعتي يوم القيامة فيجعل في ضحضاح من النار.

پوه سه: چي ضحضاح هغه لږو اوبو ته د رود وايي چي تر بجلکو پورې وي،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

علیه الصلوة والسلام زیاته کړه که زما شفاعت نه وای دی به په غمرات کي د اور وای او کما قال ﷺ. علامه بغداد رحمه الله په صفحه ۳۶ کي وایي چي ښکنځل وه ابو طالب ته زما په نېز ډېر بد کار دی خصوصاً چي په دې ښکنځلو کي د ابو طالب د علوینو ازار دی، وقد ورد في الحديث الصحيح لاتؤذوا الاحياً بسبب الاموات.

دروښ وایي: چي روح البیان د ابو طالب د ناروغی قصه په ښه ډول سره څېرلې ده. دی وایي چي ابو طالب مریض سو دمخه تر هجرت نبوي ﷺ دري کال اولس کاله د نبوت د علیه الصلوة والسلام پوره سوله، قریش د ابو طالب د مرض له شدت ته خبره سوه، نو یو وبل ته یې سره وویل چي حمزه او عمر رضي الله عنهما مسلمانان سوه او حال د محمد ﷺ قد فشا في بعض قبائل د قریشو ورځي، راسي چي ورسو ابو طالب ته، نو زموږ چي زموږ لپاره دی د خپل وراره عهد واخلي او زموږ له خوا دی وده ته عهد ورکړي، ولي موږ بېرېږو چي دا سړی زموږ امر یعني شرک به یکلخته له منځه یوسي، او به یو روایت کي داسي راغلي دي چي موږ بېرېږو که دا شیخ یعني ابو طالب مړ سي، نو موږ خو علیه الصلوة والسلام حتماً قتل کوو، نو موږ ته به عرب پېغور راکوي چي د اکا ابو طالب په ژوند یې کار نه په درلودی چي هغه مړ سو محمد ته یې لاس ورواچاوه، نو د د قریشو دغه نامور اشراف سره راټول سوه، یعني عتبه وشیبه چي زامن د ربیعه وه او ابو جهل بن هشام او امیه بن خلف او ابو سفیان چي دغه وخت مسلمان نه ؤ ولي چي ده د مکې د فتح په شپه ایمان راوړی، نو یو سړی یې وه ابو طالب ته ورواستاوه چي موږ ستا پوښتنې ته درځو اجازه سته؟ نو ابو طالب هم اجازه ورکړه فدخلوا علیه، دوی تر پوښتنې وروسته وه ابو طالب ته وویل یا ابا طالب ته زموږ سردار یې زموږ مشر سړی یې او تا ته ناروغي درپېښه سوه، موږ بېرېږو یعني ستا پر مرګ باندي، او ته خبر یې چي زموږ او ستاد وراره تر منځ لوی جنجال دی، نو ته یې راوه غواړه زموږ او دده تر منځ یوه فیصله راوکړه په دې ډول چي موږ او خپل دین سره پرېږدي او زموږ خدایانو ته دي پوچ نه وایي، موږ دی او خپل دین سره پرېږدو، نو علیه الصلوة والسلام ته ابو طالب سړی ورواستاوه، علیه الصلوة والسلام خپل اکا ته راغلی،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي چې دا رواج له پخوا څخه راروان دی چې د ناروغه د څنګ سره د يوه سړي ځای پر ېږدي ددې لپاره چې د مريض اواز طبعاً ضعيفه وي، نو هغه څوک چې د پوښتنې لپاره د مريض و څنګ ته کښېنې او په کرار اواز د مريض احوال پرسي کوي، عليه الصلوة والسلام چې په حجره داخل سو ابو جهل ور په هوا سو او هغه د ابو طالب بغل يې اشغال کړی چې نه بايد چې محمد دلته کښېنې، نو به د ابو طالب د قرابته زړه پر وسوځي او ايمان به پر راوړي، نو عليه الصلوة والسلام د ځای د نيستی له کبله د موچنو په ځای کې کښېنستی، نو ابو طالب و عليه الصلوة والسلام ته وويل يا ابن اخي هؤلاء اشرافوا قومک ددوی سره هغه رفتار وکړه چې دوی يې غواړي او دوی ستا څخه د انصاف سوال کوي چې ته ددوی له خدايانو څخه د بدويلو خوله بنده کړه يعني چې دا خدايان هيڅ شی نه دي او ددوی عبادت شرک دی، دوی به تا او ستا خدای سره پر ېږدي، عليه الصلوة والسلام دوی ته وويل چې تاسي راته وواياست چې زه که هغه شی تاسي ته درکړم يعني درسره وه يې منم تاسي په ماته هغه شی راکړئ يعني راسره وه به يې منئ، يوه خبره چې تاسي په د هغې خبري په منلو سره د عربو مالکان سئ يعني سلطنت به پر کوئ او عجم به ستاسي فرمانبردار ه سي ای يطيع ويخضع، ابو جهل ورته وويل چې د هغو خبري د منلو سره به لس نوري خبري درسره ومنو قال ﷺ تقولون لا اله الا الله او تاسي به پر ېږدئ ما تعبدون من دون الله، دوی سره چک چکي کړې ثم قالوا يا محمد ﷺ زمونږ څخه سوال وکړه غير له دغې کلمې يعني لا اله الا الله، عليه الصلوة والسلام ورته وويل که تاسي لمر راوړئ او زما په لاس کې يې راکښېږدئ (وهذا تعليق بالمحال) زه به ستاسي څخه سوال نه وکړم غير د لا اله الا الله، نو دوی يو له بله سره وويل مايعطيکم هذا الرجل شيئاً مما تريدون، درځئ خپل د پلرو دين تينګ کړئ حتى يحکم الله بينکم وبينه، نو ټوله ولاړه، وروسته عليه الصلوة والسلام ابو طالب ته وويل ای عم ته دغه کلمه ووايه يعني اشهد ان لا اله الا الله، يعني زه به ستا دغه کلمه په ورځ د قيامت و خدای ﷻ ته پيش کړم او ستا شفاعت به وکړم، ابو طالب ورته وويل يا ابن اخي لو لا مخافة العار وان تظن العرب اني انما

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قتلتها خوفا من الموت لقلتها فنها عن كلمة التوحيد قال ﷺ زه به همېشه تاته طلب د مغفرت کوم تر څو زه ځني منع سوی نه یم فنزلت هذه الآية.

مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ يَّسْتَغْفِرُوْا لِلْمُشْرِكِيْنَ وَلَوْ كَانُوْٓا اُولِيْ قُرْبٰى مِنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ اَنَّهُمْ اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ﴿١١٣﴾

نه ښايي نبي لره چې مراد ځني رسول الله ﷺ دی او نه هغه کسانو ته چې ایمان یې راوړی وي چې طلب د پخښنې به کوي د خدای ﷻ څخه د هغو کسانو لپاره چې مشرکان وي که څه هم ددوی یعنې د مسلمانانو لپاره خاوندان د قرابت وي لکه په مانحن فیه کې ابو طالب وروسته تر دې چې ښکاره سي و مسلمانانو ته چې دغه اولی القربی ددوی صاحبان دي د اور یعنې د دوزخ معنی دا چې پر کفر مړه سوه.

تنبیه: د مشرکانو ذکر اتفاقي دی په اعتبار د مقام ورنه هیڅ کافر ته که یهودي وي او که نصراني وي د مغفرت دعا نه ده ورته روا چې سړي ته معلومه سي چې پر یهودیت یا نصرانیت مړ سو.

مسئله: وژوندي کافر ته دعا د مغفرت روا ده، ولې چې د دعا مقصد داوي چې خدای ﷻ دي توفیق د ایمان ورکړي چې د بخښنې سبب یې وګرځي.

فائده: ابو طالب چې له ایمان راوړلو څخه انکار وکړی او مړ سو، نو علیه الصلوة والسلام ډېر غمجن سو، نو دا آیت نازل سو "انک لا تهدي من احببت ولکن الله یهدي من یشا وهو اعلم بالمهتدین" یعنې موضع آخر من القرآن.

دروښ وایي: چې بعضي محدثانو لکه حاکم رحمه الله علیه په مستدرک کې دا آیت یعنې ماکان لنبي آه په شان کې د بي بي آمنه ام رسول الله ﷺ چې علیه الصلوة والسلام ددې طلب د مغفرت کاوه نازل سوی دی، او حاکم رحمه الله علیه په پای کې ویلي دي وهذا حدیث صحیح، امام ذهبي رحمه الله علیه د مستدرک په شرح کې ویلي دي چې ددې حدیث راوي ایوب بن هاني هغه ابن معین ضعیف سړی بللی دی، او ورته حدیث طبراني له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت کړی دی، جلال الدین السیوطي رحمه الله علیه وایي چې ددې حدیث روایت تر ابن عباس رضي الله عنهما پورې رسول

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اسناد يې ضعيف دی لاتعويل عليه، او امام سيوطي رحمه الله وايي چې ټوله روايت چې په دې باره کې دي له علت او ضعف څخه خلاص نه دي، او حافظ ابن حجر رحمه الله په شرح کې د بخاري وايي قد تأملت كلها معلولة وفي هذه الروايات يعني ان الآية نزلت في استغفار رسول الله ﷺ لابويه علة اخرى وهو انها مخالفة لما في الصحيحين ان هذه الآية يعني ماكان للنبي آه، فنزلت بمكة عقيب موت ابي طالب وما ذكره من ان هذه الآية نزلت في والدي رسول الله ﷺ ففي كلها ان هذا الاستغفار كان بعد الهجرة، حاصل د كلام دادی چې په دې آيت سره دليل پر دې ويل چې والدين د عليه الصلوة والسلام مشرکان وه غلط دی او دپر تجاسر دی په شان کې د سيد المرسلين ﷺ ولي هغه محدثان چې د جرح او تعديل بيرغ ددوی په لاس کې دی دغه روايات چې هر چا کړي دي ضعيف او معلول يې بولي.

دروښ وايي: چې يرحم الله الشيخ الاجل جلال الدين السيوطي رحمه الله ويرضى عنه حيث صنف رسائل في اثبات ايمان ابوی رسول الله ﷺ وجميع آبائه وامهاته الى آدم عليه السلام.

دروښ وايي: چې وعلى هذا اعتقاد الفقير غفرله.

ع... وللناس فيما يعشقون مذاهب.

وقد روى البخاري رحمه الله بسنده عن النبي ﷺ بعثت من خير قرون بني آدم قرناً فقرناً حتى بعثت من القرن الذي كنت فيه.

دروښ وايي: چې مظهري رحمه الله وايي فلا يمكن انيكون كافر في سلسلة آبائه ﷺ انتهى، نعم په زمانه کې د فترت د انبيا عليهم السلام يوازې توحيد يعنې لا اله الا الله کافي دی د ايمان لپاره لان غير التوحيد موقوف على السماع من صاحب الشرع.

شان نزول: ترمذي د علي رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چې علي رضي الله عنه وايي چې ما د يو سړی څخه چې مور او پلار يې پر شرک مړه وه او زوی يې طلب د بخښنې د دوی کاوه، ما ورته وويل اتستغفر لابويک وهما مشركان؟ ده راته وويل چې ابراهيم عليه السلام ولي طلب د بخښنې د پلار کاوه وهو مشرک! علي رضي الله عنه وايي ما ددې خبرې پوښتنه له عليه الصلوة والسلام څخه وکړه فنزلت هذه الآية.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ إِبْرَاهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَنْ مَوْعِدَةٍ وَعَدَهَا إِيَّاهُ

او نه ؤ استغفار د ابراهيم عليه السلام خپل د پلار يعني آذر لپاره مگر نه په سبب د يو وعدې چي ابراهيم عليه السلام هغه وعده کړې وه د پلار سره بقوله سأستغفر لک ربي په دې طمع چي به ګوندي ايمان راوړي.

دروښ وايي: چي دا ترجمه چي ما وکړه ضمير مرفوع د وعد وه ابراهيم ته راجع دی، او ضمير منصوب د "اياه" يې و پلار ته راجع دی، وعلى هذا اکثر المفسرين رحمهم الله ويؤيد قرائة من قرء موضع اياه، آباه بالباء الموحدة، او دليل پر دې چي وعده د استغفار د پلار سره په داسي کي وه چي دی مشرک ؤ، قوله تعالى قد كانت لكم اسوة حسنة في ابراهيم آه، وفي اخير الآية المذكورة الا قول ابراهيم لابيه سأستغفرلک، ولي ددې استثناء معنى داده چي په ابراهيم پسې به دغه قول چي استغفار يې د مشرک پلار لپاره کاوه اقتداء مه کوئ، ولي د ابراهيم عليه السلام استغفار په سبب د وعدې ؤ چي ده د خپل پلار سره کړې وه په طمع ددې چي دی به ګوندي زما په شفقت چي ورسره لرم مسلمان به سي.

دروښ وايي: چي زمونږ له ترجمې څخه د بعض مفسرين د قول ضعف ښکاره سو چي وايي ضمير مرفوع د وعد وپلار ته راجع دی او ضمير منصوب د "اياه" وابراهيم ته راجع دی، نو معنى د آيت داسي کېږي چي دعاء د ابراهيم نه وه مګر په سبب د وعدې د پلار د ابراهيم سره چي زه ايمان راوړم، نو ابراهيم عليه السلام ورته وويل چي ته چي ايمان راوړې سأستغفرلک ربي، د آيت د شان نزول حاصل دادی چي څوک دي استغفار د مور او پلار چي مشرکان وي قياس پر استغفار د ابراهيم عليه السلام نه کوي، ولي چي استغفار د ابراهيم عليه السلام خو د وعدې له کبله ؤ، نورو خلګو خو دا وعدې نه دي کړې، نو د مشرک لپاره دي استغفار نه کوي والله اعلم بالصواب واليه المرجع والمآب.

فائده: استثناء د "الا عن موعدة" استثناء مفرغ ده يعني مستثنا منه يې محذوف دی اى ماكان استغفار ابراهيم لابيه ناشياً من شيئ من الاسباب الا عن موعدة آه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې د فقير مذکور تفسير ددغو تفاسيرو سره سمون لري تفسير کبير، تفسير قرطبي، تفسير روح المعاني، تفسير مظهري او تفسير روح البيان.

فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ

چې څرګند سو ابراهيم عليه السلام ته کفر د پلار يعنې چې پر کفر مړ سو او يا خدای پاک وحي ورته وکړې چې پلار دي ابداً ايمان نه راوړي روح البيان دغه دواړه تفسيرونه راوړي دي لکن ويلي يې دي چې د وحي تفسير يې انسب د وروسته سره دی ولي عداوت د خدای عليه السلام په وخت کې د مرګ څه معلومېږي، او مظهري هم دواړه تفسيرونه راوړي دي او نور څه يې نه دي ويلي لکن د روح البيان وجه د انسبيت صحيح نه ده ولي لکه ابو طالب چې په وخت کې د زکندن وويل چې زه پر دين د ابو عبد المطلب يم او وفات سو دغسې شايد پلار د ابراهيم عليه السلام دي ورته خبره کړې وي په وخت کې د وفات والی ماذکرنا اشار صاحب روح المعاني ولي هغه هم دواړه قوله راوړي دي او وجه د انسبيت د روح البيان يې هم راوړې ده وروسته يې ويلي دي والامر بين ففي قوله الامر بين اشارة الى ماذکرنا فافهم.

اَنَّهٗ عَدُوٌّ لِّلّٰهِ تَبَرَّاَ مِنْهُ

چې پلار مې دښمن د خدای عليه السلام دی، نو ځکه يې بېزاره سو او استغفار يې پرېښو، يو قول ضعيف مظهري رحمه الله له سباق څخه د کلام مخالف راوړی دی په قيل سره چې ضعف ته يې اشاره د حيث قال وقيل فلما تبين له في الآخرة انه عدو لله تبرأ منه آه او دا حديث يې د دغه قول دليل ګرځولی دی، چې بخاري رحمه الله روايت له ابو هريره رضي الله عنه څخه کړی دی عن النبي صلى الله عليه وسلم چې ده مبارک وويل چې ابراهيم عليه السلام به د خپل پلار آذر سره ملاقي سي په ورځ د قيامت چې د آذر پر مخ به تور والی او ګرځ وي، نو ابراهيم عليه السلام به پلار ته ووايي چې ما ته تا په دنيا کې نه وه ويلي چې زما څخه عصيان مه کوه يعنې زما امر بتوحيد الله ومنه؟ پلار به يې ورته ووايي چې نن نه ورځ دي عصيان نه کوم، نو ابراهيم عليه السلام به خدای عزوجل ته داسې وايي "يارب انک وعدني ان لا تخزني يوم يبعثون" يا خدايه تا له ما سره وعده نه وه کړې چې زه به تا نه رسوا کوم په هغه ورځ چې خلګ بعث

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کهږي يعني وعده دي کړې وه "فای خزی اخزی من ابی الابعد" نو تر دې لويد رسوايي به څه وي زما تر پلار چې ابعد له ايمان څخه ؤ يعني چې دی دوزخ ته ورولې دا زما رسوايي ده "فيقول الله اني حرمت الجنة على الكافرين" ما حرام ګرځولی دی جنت پر کافرانو "ثم يقال يا ابراهيم انظر الى ماتحت رجليک فينظر فاذا هو بذيخ متلتخ فيؤخذ فيلقى في النار وفي رواية فتبرء منه يؤميذ" ابراهيم عليه السلام ته به وويل سي چې ته وګوره لاندې تر پښو شي ته، دی چې وګوري يو يږ وي په مرداريو ککړ نو تر پښو يې ونسي دوزخ ته يې وغورځوي، او په بل روايت کې راغلي دي چې ابراهيم عليه السلام به ځني ببزاره سي په دغه ورځ،

إِنَّ إِبْرَٰهِيمَ لَأَوَّٰهٌ حَلِيمٌ ﴿١١٤﴾

پوه سه: چې د "اواه" معنی کثير التاوه يعني چې د سړي ډېر زه تنګ سي له يو سبب څخه او يا يې يو ځای ډېر درد کوي نو وايي آه من کذا او داسي ووايي آوه په مد د الف او په تشديد او فتحه د واو او په سکون د ها عند تطويل الصوت.

دروښ وايي: چې روح المعاني او مظهري ښځي ډېرې معناوي د "اواه" ذکر کړې دي (١) کعب الاحبار چې معنا يې کثير الخشية من الله تعالى وکان ابراهيم يکثر ان يقول آه قبل لا ينفع آه يعني يوم القيامة لانه لاينفع کثرة الخشية والتاوه يوم القيامة، سعدي شيرازي ميګويد:

تو پېش از عقوبت درعفو کوب ..... که سودی ندارد فغان زير چوب

(٢) وقيل الاواه هو الذي يتأده من الذنوب ومآلهما واحد (٣) بغوي رحمه الله وايي چې په حديث شريف کې راغلي دي چې چا پوښتنه د عليه الصلوة والسلام څخه وکړه د "اواه" د معنی عليه الصلوة والسلام ورته وويل الخاشع المتضرع، ولي چې خشوع او تضرع مستلزمه ده کثرة التاوة من الذنوب والنار (٤) عطاء وايي چې د "اواه" معنا الراجع عن کل مايکره الله الخائف من الله والنار (٥) ابن مسعود رضي الله عنه وايي چې د "اواه" معنا ډېر دعا کونکی (٦) له ابن جرير رحمه الله څخه نقل دی چې "اواه" مؤمن تواب ته وايي (٧) حسن بصري او قتاده رحمه الله وايي چې "اواه" هغه سړي ته وايي چې ډېر مهربان وي پر بندګانو د خدای عزوجل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(٨)مجاهد رحمه الله وايي چي "اواه" مؤمن موقن ته وايي (٩) عكرمه رحمه الله وايي چي "اواه" متيقن ته وايي د حبشه په لغت كي، وفيه شيئ وله جواب فتامل (١٠)عقبة بن عامر رضي الله عنه وايي چي "اواه" كثير الذكر الله تعالى ته وايي (١١) له سعيد بن جبير څخه نقل كړل سوى دى چي "اواه" معلم الخير ته وايي (١٢) نخعي رحمه الله وايي چي "اواه" فقيه ته وايي (١٣) ابو عبيده وايي چي "اواه" هو المتاوه شفقاً المتضرع يقيناً ولزوماً للطاعة، زجاج وايي چي قول د ابو عبيده تولو معنا وو ته چي ذكر سوي دي شامل دى والله اعلم.

پوښتنه: تفسير د رسول الله ﷺ د "آواه" چي په دريم نمبر كي تهر سو، نو د هغه عدول چاته څرنګه روا دى؟

ځواب: په روح المعاني كي وايي نعم ماذهب اليه الجماعة غير مناف لما قاله رسول الله ﷺ انتهى.

دروښ وايي: چي عدم منافات خو بې مسلم دى لكن د عدول وجه يې څه ده؟ فالاولى ان يقال ان بعضهم لعله لم يبلغهم تفسير النبي ﷺ ولعل بعضهم فسر باللازم من قول رسول الله ﷺ توضيحاً او تقليلاً واختصاراً فتامل.

پوښتنه: د "اواه" لفظ په دغو مذكوره ديارلس معانيو كي مشترك لفظي دى او كه په بعضو كي حقيقت او په بعضو كي مجاز دى؟

ځواب: علماً رحمهم الله وايي يو لفظ چي مشكوك سي په معاني متعدده وو كي چي دا لفظ په دې معنا وو كي مشترك لفظي دى او كه په بعضو كي حقيقت دى او په بعضو كي مجاز دى، نو ظن غالب دادى چي پر حقيقت او مجاز دي حمل سي، ولي چي حقيقت او مجاز په عربي ژبه كي ډېر دى تر مشترك لفظي وهذا تفصيل قولهم ان المظنون الحاق المشكوك بالاعم الاغلب انتهى ومع قطع النظر عن القانون المذكور فالاشتراك للفظ واحد في معاني (١٣) نادر جداً حتى لا يكاد يوجد في لفظ واحد، واما الحقيقة والمجاز فله (٢٥) طرق كما بين في كتب الاصول فالحمل عليها اليق و اولى والعلم عند الله.

{حَلِيم} اى صاحب د حلم دى يعني تجاوز او عفو كوي هغه چا ته چي دى به

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یې ازار کړی وي ځکه پلار دده چې ده ته یې پېش رو وکړی لئن لم تنته لارجمنک" که ته منع نه سې له تبلیغ څخه د توحید زه به تا په ډبرو سنګسار کړم، ابراهیم علیه السلام ورته وویل سلام علیک سأستغفرلک ربي. ابن عباس رضي الله عنهما وایي چې "حلیم" سردار ته وایي، او په قاموس کې وایي چې حِلم بکسر الحاً انائت او عقل ته وایي او روح البیان وایي صبور علی الاذیة ته وایي.

دروښ وایي: چې دا تولې معناوي سره نژدې دي ومآل الکل واحد کما لایخفی.

پوه سه: چې ابن ابي حاتم له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت کړی دی چې یو د حلم څخه د ابراهیم علیه السلام دا وُ چې چا په ازار کړی ده به ورته وویل هداک الله تعالی کذا في روح المعاني، وهذا المعنی ایضاً قریب الی مامر فافهم.

وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِلَّ قَوْمًا بَعْدَ إِذْ هَدَاهُمْ حَتَّىٰ يُبَيِّنَ لَهُمْ مَا يَتَّقُونَ

نه دی خدای پاک چې حکم د ضلال دي وکړي پر یو قوم او ضاله دي وبولي، وروسته تر دې چې خدای جل جلاله دوی ته هدایت یعني د اسلام بیان کړی وي تر هغه وخته پورې چې خدای جل جلاله به بیا نوي ودوی ته هغه عمل چې له دې څخه باید ځان وساتئ او دوی ځان ونه ساتي، نو پر دوی حکم د ضلال خدای پاک کوي.

مفسرین رحمهم الله ددې آیت په شان نزول کې بعض وایي لکه مقاتل او کلبي چې یو قوم له خارجه څخه د مدیني و علیه الصلوة والسلام ته راغله او ایمان یې راوړی په هغه وخت کې شراب نه وه حرام سوي او قبله د بیت المقدس څخه کعبې ته نه وه ګرځېدلې، نو دوی بیرته خپلو باندو ته ولاړه تر دې وروسته خمر حرام سوه او قبله بدله سوه او دوی په خپل کلیو کې چې وه لمونځ یې بیت المقدس ته کاوه او شراب یې څیښله بل وخت چې بیا دوی راغله هم شراب حرام سوي وه او هم قبله اوښتې وه، نو دوی و علیه الصلوة والسلام ته وویل چې دا څو ورځې خو تاسي پر یوه دین واست یعني لمونځونه به مو کعبې ته کوله او خمر مو حرام ګڼل او موږ پر بل دین وُ یعني لمونځ به مو بیت المقدس ته کاوه او شراب به مو څیښل فنحن اذاً ضلال فانزل الآیة یعني تاسي ته خو ناسخ نه وُ معلوم، نو ځکه مو په منسوخ عمل کاوه نو په دې سره تاسي ضلال نه یاست بلکې معذورین یاست والمعذور لایسمی ضالا،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او محمود آلوسي رحمه الله وايي چي په دې آيت سره تسلي وهغه کسانو ته ده چي استغفار به يې مشرکينو مړو ته کاوه قبل نزول الوحي في المنع عن دعاء الاستغفار للمشرکين ومعنى الآية على هذا التقدير انه ليس من لفطه تعالى ان يذم المؤمنين ويواخذهم في الاستغفار للمشرکين قبل ان يبين لهم انه غير جائز بلکې خداى جل جلاله ذم او مواخذه د هغه چا کوي چي استغفار للمشرکين وروسته تر نهي هم کوي، او حسن بصري رحمه الله وايي چي دا آيت په شان کي د هغو مسلمانان نازل سوى دى چي دوى به دمخه تر نزول د بعضي فرائضو د دين مړه سوي وه، نو اقرباؤ د هغو مړو و عليه الصلوة والسلام ته وويل چي زمونږ قريبان خو تر نزول د دغو فرائضو مړه سوي دي فما هو منزلتهم عند الله وكيف حالهم.

له دې آيت څخه دا حکم هم معلوم سو چي يو سړى چي ناخبره د بعضو مأموراتو څخه چي موقوف پر سمع وي لکه لمونځ او روژه وغيره ذالک كما في من آمن بالله ورسوله ويسكن في شواهق الجبال ولم يعلم بالفرائض فهو غير ما خوذبها كذا في روح البيان وروح المعاني.

دروښ وايي: چي هغه وخت چي په شواهق الجبال کي اوسېږي او علم پر صانع الخالق للعالم نه لري هغه معذور نه دى لعدم توقف هذه العقيدة على السمع بل العقل كافر في ان يتدبر في المخلوقات ويعلم به الصانع ولذا قيل:

گرانبياً هم نمادى نى شرع بودى درجهان
واجب شدى برمؤمنان ايمان بخالق مقتدر

برگ درختان سبز درنظرهوشيار ..... هر ورقى دفتريست معرفت كردگار

که څوک په دغو دوو بيتو قناعت نه کوي، نو مسلم الثبوت د محب الله البهاري رحمه الله في علم الاصول دي مطالعه کړي.

إِنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿١١٥﴾

په تحقيق خداى جل جلاله خبر دى په حال د من فعل جهلاً ومن فعل تمرداً او داغه رنګه خبر دى په حال د من يستحق الاضلال ومن لا يستحقه بل بكل شيئ من مخلوقه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ اللّٰهَ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ۗ وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿١١٦﴾

په تحقیق خدای ﷻ لره ده بادشاهي او تصرف د اسمانو او د مځکي څوک ژوندي کوي یعني د کتم العدم څخه یې میدان ته د وجود راولي او څوک وژني او نسته تاسي لره ایها الناس ماسوٰی له خدای ﷻ څخه. یو دوست چې د خدای له عذابه مو خلاص کړي یعني ان شاء تعذیبکم. او نه کومکي چې ضرر د څخه دفع کړي. نتیجه یې داده چې تاسي لازماً دوستي له مشرکانو سره ونه کړئ او یا استغفار ددوی لپاره ونه غواړئ که څه هم دوی ستاسي اولی القربی وي.

واحد اندر ملک و اورا یارئی ..... بندگانش راجزاً وسالارنی
نیست خلقش رادگرکس مالکی ..... شرکتش دعوه کند هالکی

پوه سه: چې د ولي او نصیر تر منځ عموم او خصوص من وجه دی یعني ګاهي به د سړي قریب ورور یا زوی یا بل نژدې قریب وي چې ښه قوي سړی وي او هغه سړی چې د چاسره عداوت وکړي نو هغه قریب به یې ځني خلاص کړي، نو دا هم ولي دی او هم نصیر، او ګاهي د یو سړي چې د یو چا سره یې جنګ سي یو سپین ږیری سال خورده پلار مثلاً لري ولي خو یې دی لکن کومک نه سي وسره کولای. او ګاهي د یو چاسره جنګ کوي یو بهګانه سړی یې ځني خلاص کړي نو دا بهګانه سړی نصیر دی او ولي نه دی.

لَقَدْ تَّابَ اللّٰهُ عَلَى النَّبِيِّ

ددې آیت ترجمه ابن عباس ﷺ داسي کړې ده چې عفوه وکړه خدای ﷻ ونبي ته چې ده اجازه د تخلف ومنافقینو ته ورکړه د تبوک په غزا کي.

سوال: دا اجزاً څو یوازي علیه الصلوة والسلام ورکړې وه، نو مهاجرین او انصار یې ولي په توبه کي وسره ملګري کړه؟

ځواب: چونکه په اجازه د تخلف چې علیه الصلوة والسلام منافقینو ته ورکړه مهاجرین او انصار ﷺ هم راضي وه فاشرکهم في التوبة وهذا من قبيل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قولهم بشوا فلان قتلوا مع ان القاتل واحد منهم.

فائده: چې دی فعل ته علیه الصلوة والسلام زلت وایي من قبیل حسنات الابرار سیئات المقربین لان الانبیآ علیهم السلام معصومون من الکبائر والصغائر عندنا.

سوال: د ذلت معنا څه ده؟

ځواب: د ذلت معنا دا نه ده چې له حق څخه وباطل ته ولاړی بلکې معنا یې داده چې له افضل کار څخه وفاضل ته ولاړی.

سوال: چې د ذلت معنی داده، نو توبې ته څه حاجت دی؟

دروېش وایي: چې په قندهار کې یو قومي مفتدر عالم وُ چې هغه د جمعې د ورځې په عمومي محفل د وعظ دا ویلي وه لکه فرقه حشویه چې وایي چې انبیآ علیهم السلام له کبائرو څخه معصوم نه دي فضلاً عن الصغائر، او دلیل یې دا ویلی وُ چې آدم علیه السلام چې خدای عزوجل نهي کړی په جنت کې ولاتقربا هذه الشجرة فتکونا من الظالمین" او آدم علیه السلام له هغې درختې څخه خوړک وکړی او دغه رنګه موسی علیه السلام قبطي مړ کړی او دغه رنګه سید البشر ﷺ ومنافقینو ته د تخلف اجازه چې په شان کې یې دا آیت نازل سو لقد تاب الله علی النبي" ده ویل توبه خو فرع د معصیت ده وغیره وغیره دلائل یې و عوامو ته وویل. د هغې زمانې برجسته او مدرسین علماً د قندهار د ښار له ده څخه سخت مخالف سوه حتی چې قضیه د مرافعې تر محکمې پورې ور ورسېده له او علماً خپل دلائل د عصمت د انبیآ علیهم السلام وه قاضي ته د محکمه مرافعه پیش کړه او قاضي خطیب مذکور ملامت کړی او ده وویل چې زه خطاوتلی وم، خبره خو خلاصه سوه لکن یوه یا دوې جمعې وروسته بیا خطیب مذکور خپل خبره تکرار کړه، نو علماً د قندهار وه دروېش ته وویل چې ته یوه رساله تصنیف کړه موږ به یې ټوله تقریظ کړو او چاپ به یې کړو په ټولو خلګو به یې تقسیم کړو او دا فتنه به دفع سي، نو دروېش د علماؤ ودې غوښتنې ته لبیک ووایه او په رساله مي شروع وکړه او نوم یې دا وُ "کشف العظآ عن عصمة الانبیآ" چې په رساله کې دده د دلائلو جوابونه او د احادیثو او د فقهي او د عقائدو د کتابو څخه قوي قوي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دلائل په توفيق د خدای ﷻ سره جمع کړه او پر هغه رساله د تولو علماؤ د قندهار امضاً او تقريظ موجود ؤ حتی د حضراتو د هرات د ښار، نو هغه رساله پر ډېرو اوراقو مشتمل چاپ سوه او تقسيم سوه چې اوس هم په بعضي کتابخانو کې د کوټې د ښار دستياب کېږي ومن الله التوفيق.

ځواب: د انبياً عليهم السلام چونکه قدر او رتبه په نېز د خدای ﷻ لوړه ده ځکه دوی ته عتاب په ذلت سره هم ورکول کېږي، دليل د عصمت د انبياً له کبائرو او صغائرو څخه په مختصره توګه خو دادی چې د ګنهو په سبب د خلګو له زړو څخه هشمت او دبدبه د انبياً عليهم السلام وځي.

وَالْمُهٰجِرِيْنَ وَالْاَنْصَارِ

او مهاجرين او انصار، دا عطف دی علی النبي.

پوه سه: چې مهاجرين هغه کسان بولي چې د مکې د کفارو د ډېر ازار له سببه هجرت ته مجبوره سوه په اجازه د عليه الصلوة والسلام ځنې حبشې ته ولاړل او ځنې مدينې ته ولاړل حتی اخيري مهاجر يې سيد المرسلين ﷺ او ددې همراه په غار کې د جبل الثور ابوبکر الصديق ﷺ چې مدينې ته يې هجرت وکړی او د حبشې مهاجرين ﷺ چې خبر سول هغه هم په مشری د جعفر بن ابي طالب ﷺ مدينې ته راغله، او انصار يا جمع د نصير ده لکه شريف او اشراف او يا جمع د ناصر ده کصاحب او اصحاب، دا ډله عبارت ده د اوس او خزرج د قبيلې د هغو کسانو چې په مدينه کې يې ځای ورکړی ومهاجرينو ته او خپلې مالي مرستې يې په فوق العادة ډول ورسره کولې چې د تاريخ اسلامي پاڼې په منوري دي، نو د انصار نوم اسلامي نوم دی حتی چې په صحيح حديث نبوي ﷺ کې راغلي دي چې "حب الانصار آية الايمان وآية المؤمن حب الانصار وآية النفاق بغض الانصار" كذا في فتح القريب.

مسئله: مهاجرين افضل دي تر انصارو عقلاً ونقلاً، اما عقلاً فلان المهاجرين تركوا الوطن المالوف مكة وقد قيل حب الوطن من الايمان وآذوا من كفار مكة اذى كثيراً كما يشهد به التواريخ، واما نقلاً فقوله عليه الصلوة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والسلام لولا الهجرة لكنت امرأ من الانصار. ابن ملک رحمه الله وايي چې مراد له دې حديث څخه اکرام د انصارو دی بانه لارتبة بعد الهجرة اعلى من نصرة الدين وايضاً قال الله تعالى والسابقون الاولون من المهاجرين والانصار. حيث قدم المهاجرين في الذكر، او ددې فضيلت له کبله خلفاً اربعه رضي الله عنهم وروسته تر علیه الصلوة والسلام تولو مهاجرين وه.

فائده: له دې آيت څخه يعني لقد تاب الله الآية بايد مسلمانان لوړ مقام د توبې وفهموي، ولې چې شروع د توبې يې د سيد المعصومين ﷺ څخه وکړه وروسته يې سادات د تولو مؤمنانو ذکر کړه يعني المهاجرين والانصار رضي الله عنهم اجمعين ثم وثم.

الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ الْعُسْرَةِ

نعت للمهاجرين والانصار يعني هغه مهاجرين او انصار چې دوی متابعت وکړی د علیه الصلوة والسلام چې دوی طلب کړه او وه يې هڅول وغزا ته د تبوک يعني نه چا له دوی څخه عذر وکړی او نه يې تخلف وکړی لکه منافقان په وخت کې د سختۍ، بغوي رحمه الله وايي چې غزا ته د تبوک غزوة العسرة وايي او لښکر ته يې جيش العسرة وايي لان تلک الغزوة كانت في شدة الحر وبعد المسافة وفي مقابلة جيش عظيم من الروم او په عين حال کې د سپرتيا دواب ښځې لږ وه چې لسو کسانو ته په يو اوښ رسېدی او په نوبت به پر سپرېدل. حسن بصري رحمه الله وايي چې ددوی خوراک خورما وه چې هغه به هم د ډېرو کلو وه او اوربشي به وې چې هغه به هم توري سوي وې، ځينې کسان داسې هم وه چې خورما به ورځخه وه چې وږی به سو خورما به يې خولې ته واچول يو ګړی به يې په خوله کې سره واړول راواړول چې په خوله کې به يې خوند پيدا سو اوبه به يې پسې وڅيښلې خورما به يې بل ملګري ته ورکړه هغه به هم په خوله کې سره واړول اوبه به يې پر وڅيښلې وهكذا الى آخر وآخر حتى چې د خورما منده که به پاته سول، نو پر دغه حال د علیه الصلوة والسلام سره روان وه د تبوک پر لور په صدق او اخلاص او يقين سره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې مظهري رحمه الله وايي چې احمد او ابن خزيمه او ابن حبان او حاكم له عمر بن الخطاب رضي الله عنه روايت كړی دی چې موږ د عليه الصلوة والسلام سره د دوبي په سخته گرمۍ كې ووتلو چې يو ځای مو وارول اوبه نه وې او داسې سخت تږي سوو چې موږ به ويل چې اوس به مو مغزی مات سي له تندي څخه حتی تر دې اندازې مو تنده ورسېدله چې يو سړي به اوښ حلال كړی نو په نس كې هغه خوشايي چې به وه وبه يې ننښتېځل او اوبه به يې وڅيښلې او پاته اوبه به يې په نس پورې ومښلې، نو په داسې حال كې ابوبكر رضي الله عنه وويل يا رسول الله ﷺ بېشكه چې الله تعالى وتاته وعده دركړې ده په دعا كې د خير فادع الله يعني في طلب الماء. عليه الصلوة والسلام راته وويل اتحب ذالك "ستا دغسې خوښه ده يعنې چې د ابو لپاره خداى ﷻ ته غواست وكړم" قال ابوبكر رضي الله عنه نعم، نو عليه الصلوة والسلام خپل دوه لاسونه مباركان پورته كړه د اسمان پر لور، ده مبارك لا لاسونه پر مخ نه وه راتېر كړي چې پر اسمان وريځ پيدا سوه او باران شروع سو، نو خلګو ژر ژر خپل كوتهوريان او مشكولاوي په ډكې كړې بيا موږ له هغه ځای څخه روان سو، او موږ چې د لښكر له ځايه تېر سوو پر مځكه مو د باران هيڅ اثر ونه ليدی، او ابن ابي حاتم رحمه الله عليه د حرزة الانصاري رضي الله عنه څخه روايت كړی دی چې يو يا دوه منزله وروسته بيا اوبه تمامې سوې فشكوا ذالك الى رسول الله ﷺ، نو عليه الصلوة والسلام دوه ركعته نفل وكړه او بيا يې دعا وكړه بيا وريځ پيدا سوه او ډېر باران وورېدی او خلګو خپل د اوبو شيان ډك كړه، نو د انصارو يو سړي وبل سړي ته وويل چې هغه متهم بالنفاق دۀ ويحكِ قد ترى مادعى رسول الله ﷺ فامطر الله علينا، د انصاري رضي الله عنه غرض دا وۀ چې د دغسې معجزو سره سره ته نفاق كوې هغه منافق ورته وويل مطرنا بنوء كذا (پر موږ د فلاني ستوري په بركت باران وسو) نو خداى ﷻ هغه بل ځای مذكور آيت نازل كړی "ويجعلون رزقكم ان كنتم تكذبون" تاسي گرځوئ شكر د رزق د خداى ﷻ چې تاسي تكذيب په خداى ﷻ كوئ يعنې نسبت ددې رزق وستورو ته كوئ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مِنۢ بَعۡدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٍ مِّنۡهُمۡ

بوه سه: چې جمله د "ماكاد يزيغ آه" مضاف اليه ده بعد ده يعني وروسته تر تناهي او پاى ته رسېدو د سختۍ د سفر د تبوک، والمعنى وروسته تر دې چې كاږه سي زړونه د يوې ډلې له دوى څخه يعني له غزاتو څخه د تبوک.

دروبش وايي: چې مظهري رحمه الله وايي چې مراد له زيغ څخه ميل دى وتخلف او انصراف ته د عليه الصلوة والسلام له دې سفر څخه لغاية الشدة كما مر عنقريب ولم يرد الميل عن دين الاسلام آه، او روح المعاني دا تفسير خو اول راوړى دى، وروسته يې ويلي دي هو اشراف بعضهم الى ان يميلوا عن الثبات على الايمان" يعني قريب وه چې بعض كسان دي ميل وكړي له ثبات څخه پر ايمان.

دروبش وايي: چې دا احتمال بعيد دى. ولې چې دغه زائغين سُچه مسلمانان وه كما سيئاتي. خو بيا هم روح المعاني دا پر صرف وسوسه حمل كړى دى لكنه بعيد ايضاً، او بله توجيه يې دا كړې ده چې دغه كسان حديث العهد بالاسلام او ضعيف الايمان وه، دا توجيه هم د قبول ور نه ده لكه چې ژر دى چې ددغو كسانو د حال له بيانو څخه به ظاهره سي.

بوه سه: چې ابن اسحاق او محمد بن عمر وايي چې دا يو څو كسان وه چې تخلف يې وكړى سره له نيته د الحاق په نبي كريم ﷺ پسې بېله شكه او ارتياب په دين كې چې په هغو كې يو كعب بن مالك رضي الله عنه و او بل هلال بن اميه رضي الله عنه و او بل مرارة بن الربيع رضي الله عنه و چې ددوى درو بيان به د وروستي آيت په تفسير كې راسي يعني وعلى الثلاثة الآية، او بل ابو حيثمة رضي الله عنه و او بل ابو ذر الغفاري رضي الله عنه و او دا گړه صادق او مخلص مسلمانان وه هيڅ تهمت د نفاق په دوى كې نه و. ابن اسحاق رحمه الله له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت كړى دى چې رسول الله ﷺ د تبوک پر خوا سره له فوجه د تبوک پر خوا رهي سو، او د مدينې تر حدودو ټهر سوه، نو د نومورو كسانو څخه بعض همراهانو د عليه الصلوة والسلام به ده ته وويل يا رسول الله تخلف فلان، عليه الصلوة والسلام به ورته وويل پرې يې ږدئ كه په هغه كې خير وي نو به په مورږ او تاسې پورې ملحق سي وان يک غير

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذالک فقد اری حکم الله فیه، حتی چي یو چا ورته وویل یا رسول الله تخلف ابو ذر الغفاري او په حقیقت کي د ابو ذر غفاري ﷺ اوښ له کاره لوېدلی وُ او دی یې معطله کړی، علیه الصلوة والسلام د ابو ذر ﷺ په باره کي هم هغه مخکښې خبره ورته وکړه، د ابو ذر ﷺ اوښ چي دېر ډنګر وُ یو څو ورځي خو یې وانښه ورواچول چي له اوښه نا امیده سو نو یې بستره په شا واخستل اوښ یې هم هلته پرېښو او په نصف النهار کي یې په علیه الصلوة والسلام پسي ځان ورساوه، مسلمانانو علیه الصلوة والسلام ته وویل چي هغه دی یو سړی راروان دی پلټه، یې په شا ده، علیه الصلوة والسلام وویل کن اباذر، نو ابو ذر ﷺ چي خلګو ته رانږدې سو، نو خلګو وویل یا رسول الله هو والله ابو ذر ﷺ علیه الصلوة والسلام وویل رحم الله اباذر یمشي وحده ویموت وحده ویبعث وحده، ابوذر ﷺ چي راغلی او خپل عذر یې علیه الصلوة والسلام ته بیان کړی، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل غفر الله لک یا اباذر بکل خطوة ذنباً الی ان بلغتني، د ابن اسحاق رحمه الله په روایت داسي دی چي څو ورځي د علیه الصلوة والسلام د سفر چي تېري سوې، د ابو خیثمه ﷺ دوې مېنې وې چي هرې یوې ده په باغ کي د څوزانو وغیره کوډل جوړه کړې وه او هرې یوې خپل کوډل ښه اوپاشي کړې او یخه کړې وه او د ابو خیثمه لپاره یې یو څه طعام هم پوخ کړی وُ، دی چي باغ ته ورغلی او خپلو مېنو ته یې وکتل او هغه طعام ته یې هم وکتل د کوډلي په دروازه کي ودرېدی فقال سبحان الله چي رسول الله ﷺ چي خدای ﷻ وده ته بخښلي ماتقدم من ذنبه وما تأخر چي دا ده اشاره و یوه آیت ته وه هغه په ګرمي کي او په ګرمه هوا کي سلاح په غاړه روان دی او ابو خیثمه په ظل بارد کي او طعام مهیا ورته پروت دی د ښائسته مېنو سره به په خپل باغ کي مقیم وي "ما هذا بالانصاف" دا خو انصاف نه دی، نو مېنو ته یې وویل والله لا ادخل عریش واحدة منکما حتی الحق بالرسول الله ﷺ. مېنو ته یې وویل ما ته نفقه د سفر را برابره کړئ مېنو یې دده د امر سره موافق کار وکړی، ابو خیثمه ﷺ ورغلی اوښه یې ځین کړه چي ده په دغه اوښه له څاه څخه اوبه راکښلي او باغ یې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په اوباوه خپله سلاح يې واخستل له کوره ووتی په طلب کې د رسول الله ﷺ. نو ابو خیثمه ﷺ هغه وخت علیه الصلوة والسلام ته ورسېدی چې ده مبارک سره له فوجه په تبوک کې اړولي وه او ابو خیثمه په لاره کې د عمیر بن وهب الجهني سره ملګری سوی ؤ چې تبوک ته ورنژدې سو ابو خیثمه و عمیر ته وویل چې ما یوه ګناه کړې ده یعني التخلف عن رسول الله ﷺ. نو ته تر ما وروسته سه چې زه یواځي و علیه الصلوة والسلام ته ورسم، عمیر بن وهب ﷺ هم وروسته سو حتی چې ابو خیثمه ﷺ ښه لښکر ته ورنژدې سو خلګو و علیه الصلوة والسلام ته وویل هذا راکب مقبل یعني دادی یو سړی سپور راروان دی، علیه الصلوة والسلام وویل کن ابا خیثمة ښه چې ورنژدې سو خلګو وپېژندی فقالوا والله هو ابو خیثمة ﷺ، نو علیه الصلوة والسلام وویل اولی لک یا ابا خیثمة (دا کلمه د تهدید ده والمعنی دن الی الهلاک) نو ابو خیثمه ﷺ خپل ټوله حال و علیه الصلوة والسلام ته ووایه فقال له رسول الله ﷺ خیراً ودعا له بخیر.

ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوبُوا إِنَّ اللَّهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴿۱۱۸﴾

وروسته بیا توبه قبوله کړه خدای ﷻ ددوی ولي خدای ﷻ بخښونکی د ګناه دی او مهربان دی.

پوه سه: که ضمیر د علیهم راجع وي وه علیه الصلوة والسلام او مهاجرینو او انصارو ﷺ ته، نو دا جمله تاکید دی د اول آیت لقد تاب الله آه، د تاکید عطف په ثم سره روا دی په نېز د نحاتو که څه هم اهل معاني په دې مسئله کې مخالف دی او په دې آیت کې قبول د توبې د دوی چې اجازه یې د تخلف ومنافقانو ته ورکړه په سبب د سختیو د سفر په تبوک کې چې دوی هغه سختی برداشت کړې او که چېرې ضمیر د علیهم راجع سي وفریق ته في قوله تعالی بعد ماکاد یزیغ الآیة نو تکرار د اول آیت نه دی بلکې د فریق قصد کول د تخلف عن النبي ﷺ بدون اجازته هم ګناه ده لکن چې دوی تخلف ونه کړی او پر خپل قصد پښېمانه سول او توبه یې خدای ﷻ قبوله کړه په سبب د شدائدو د سفر.

پوه سه: چې د رؤف او رحیم معنی یوه ده ففیه تاکید علی قبول التوبة. او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بعض مفسرين رحمهم الله وايي چي رأفة عبارت دی عن ازالة الضرر، والرحمة عبارة عن ايصال النفع.

فائده: د خدای ﷻ په لاره کي شدائد برداشتول د ګنهو د بخښني سبب دی، حافظ شيرازي رحمه الله وايي:

مکن زغصه شکايت که درطريق طلب
براحتی نه رسيد آنکه زحمتی نه کشيد

تجديد النظر على ذالک السفر.

دروښ وايي: چي د تبوک د غزا سفر پر ډېرو معجزو د عليه الصلوة والسلام مشتمل دی (۱) يو باران چي عليه الصلوة والسلام د اسمان وخواته لاسونه پورته کړه او پر لښکر باران وورېدی بقدر مايکفی (۲) بل وار باران چي عليه الصلوة والسلام دوه رکعته نفل وکړه بيا يې د باران دعا وکړه (۳) کن اباذر کمامر (۴) کن ابو خيثمة (۵) د تبوک لار چونکه ډېره طويل وه، په يوه روايت کي راغلي دي چي يوه ورځ چي خلګ تږي سوه او عليه الصلوة والسلام ته يې شکايت وکړی عليه الصلوة والسلام وويل اين صاحب المبضئة. د مشکولا خاوند چېرې دی، هغه ورته وويل زه يم يا رسول الله ﷺ عليه الصلوة والسلام ورته وويل ورسه مشکولا دي راوړه! هغه ورغلی رايې وړه لږ اوبه پکښې وې هغه اوبه يې په يوه شي کي واچولې، نو عليه الصلوة والسلام د مبارک لاس ګوتې خلاصي پر کښېښولې، راوي وايي چي ماوليدی چي د عليه الصلوة والسلام د ګوتو تر منځ د صافو اوبو چينې راووتلې، نو خلګ راغله څښل ژيان (ګودي) مشکولاوي او لوښي يې ټوله ډک کړه او د اوبو تسلسل جاري ؤ چي خلګو آسان او اوښان هم اوبه کړه او د تبوک په عسکرو کي دوولس زره آسان وه او پينځه ويشت زره اوښان وه او دېرش زره کسه وه او په بعضو رواياتو کي اوويا زره کسه وه، قال السلطان سليم الاول:

کوثر نمی زچشمه احسان رحمتش .... آب حيات قطره از جام مصطفی است

دروښ وايي: چي د عليه الصلوة والسلام د ګوتو مبارکو څخه د اوبو راوتل په متعددو وارو سره پېښ سوي دي روي بعض تلک الواقعة البخاري وغيره،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(٦) روایت دی چي د تبوک په غزا کي چي دمخه يې نمونه بيان سوه پر خلګو ډېري لوړي غلبه وکړه چي بعضو خلګو و علیه الصلوة والسلام ته وويل چي موږ ته اجازه وکړه چي بعض اوښان حلال کړو علیه الصلوة والسلام ورته وويل چي ستاسي خوښه ده، عمر ﷺ چي خبر سو خلګ يې د اوښانو د ذبح او نحر څخه منع کړه او علیه الصلوة والسلام ته ورغلی او ورته وه يې ويل چي که چېرې د اوښانو د حلالېدلو اجازه ورکړل سي، نو اخیر به د سپرتیا اوښان ختم سي سفر به پر څه شي کوو، بلکې خلګ امر کړه چي د چا سره خوارکي مواد موجود وي راډې وړي، او تاسي خدای ﷻ ته د برکت خواست وکړئ شاید خدای پاک به په موجوده مواد ازراقیه کي برکت پیدا کړي علیه الصلوة والسلام ورته وويل (نعم) د څرمنې سترخوان يې آوار کړی او خلګ يې امر کړه چي د چا سره چي خوراکي شی وي هغه دي راوړي، يو سړي به يوه لپه جوار پر سترخوان واچول بل سړي به يوه لپه خورما راوړل بل سړي يو څه غنم راوړه وهکذا حتی چي پر سترخوان ډېر لږشی سره جمع سوه، نو علیه الصلوة والسلام خدای ﷻ ته د برکت خواست وکړی وقال خذوا في اوعیتکم (واخلئ دغه شیان په خپلو بوجیو کي) نو خلګو دا شیان په خپلو بوجیو کي واخستل حتی چي ټولو عسکرو ته ووېشل سو چي تعداد يې موږ دمخه بیان کړی يوه بوجي نه سوه پاته چي ډکه نه سي، نو خلګو خوراک ځني وکړی او ځانونه يې ښه ماړه کړه او ډېر مواد فاضله پاته سوه، فقال رسول الله ﷺ اشهد ان لا اله الا الله واني رسول الله لا يلقي بها (يعني په دغه کلمه سره يو بنده چي شک نه پکښې لري) الا وقاه النار (خدای ﷻ به يې د دوزخ له اوره وساتي) اللهم انا نشهد بتلک الکلمة غیر شاکین فوقانا یا الله من نار الجحیم برحمتک یا ارحم الراحمین تصدیقاً لنبیک سید المرسلین صلوات الله وتسلیماته علیه وعلی آله وصحبه اجمعین آمین یارب العالمین.

وَعَلَى الثَّلٰثَةِ الَّذِيْنَ خُلِّفُوْا

عطف دی علی "قد تاب الله علی النبي" یعني علی لفظ علی النبي في الآیة المتلوة والمعنی قبوله سوه توبه د هغو درو کسانو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې روح المعاني او روح البيان اول تفسير د خلفوا ذکر کړی دی چې توبه ددغو درو کسانو د تاخير سره تر توبې د ابي لبابه بن عبد المنذر واصحابه ﷺ، يعني عليه الصلوة والسلام ددې درو کسانو په باره کې هيڅ حکم د قبول يا رد يې ونه کړی تر هغو چې ددوی په باره کې قرآن نه وٌ نازل سوی، او مظهري رحمه الله اول تفسير دا کړی دی ای تخلفوا عن غزوة تبوک.

دروښ وايي: چې دا تفسير بالعام دی ولا يناسب حال هؤلاء الثلثة وروسته مظهري بيا تفسير لکه نور مفسرينو په لفظ د قيل راوړی دی ولا ينبغي له ذالک دا درې کسان په اتفاق د مفسرينو رحمهم الله دغه دي کعب بن مالک الشاعر، مرارة بن الربيع العنبري او هلال بن امية الانصاري ﷺ، مظهري رحمه الله وايي چې دا درې سره له انصارو څخه وه.

لطيفه: دا درې نفره په لفظ کې د "مکه" سره جمع او په اخير کې د نومانو د پلار ددوی (عکه) سره جمع کېږي فافهم.

پوه سه: چې بخاري، مسلم او نورو محدثينو رحمهم الله له کعب بن مالک ﷺ څخه روايت کړی دی وايي چې په هيڅ غزا کې له عليه الصلوة والسلام څخه نه يم پاته سوی غير له تبوک څخه نعم په غزا کې د بدر هم نه يم شامل سوی، لکن د بدر د غزا په تخلف کې هيڅ چاته خدای پاک عقاب نه دی ورکړی، سبب د نه عقاب يې دادی چې عليه الصلوة والسلام سره د درو سوو او دياولس (٣١٣) کسانو د ابو سفيان د قافلې په تعقيب پسې وتلي وه چې د قافلې فقط څلويښت کسان وه. لکن پر قافلې نه سوه برياليتوب اتفاقاً دغه درې سوه ديارلس په بدر کې د قريشو د لوی لښکر په مشری د ابوجهل چې تعداد يې تخميناً زر کسه وه مخامخ سوه، نو ځکه عليه الصلوة والسلام پر تخلف د بدر هيڅ منت نه وکړی او نه يې په باره کې خدای ﷻ په قرآن کې کوم عقاب نازل کړی، کعب بن مالک وايي چې زه په ليلة العقبة (يعني ليلة العقبة الثالثة) سره د رسول الله ﷺ حاضر سوی يم چې موږ په دغه شپه د عليه الصلوة والسلام سره ميثاق وکړی پر اسلام (يعني پر حمايت او تبليغ د اسلام) کعب بن مالک ﷺ وايي چې زه خوښه نه لرم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې په عوض کې د ليلة العقبة ماته خدای ﷻ د بدر غزا نصيب کړې دی وايي چې که څه هم بدر په خلګو کې ډېر شهرت لري (ددې سبب دادی چې په ليلة العقبة کې عليه الصلوة والسلام په مکه مکرمه کې وُ چې د کفار قريش له خوا بې نهايت د کړاوُ شپې او ورځې تېرولې، او په بدر کې خو عليه الصلوة والسلام او مسلمانانو في الجملة ښه د آرام شپې او ورځې تېرولې) کعب بن مالک ﷺ وايي چې زه هيڅ ډومره قوي او غني نه وم لکه په وخت کې د تبوک د غزا چې زه ځني پاته شوم کعب بن مالک ﷺ وايي چې قسم په خدای ﷻ دی که هيڅ وخت ما دوې د سپرتيا اوښې پيدا کړې دي لکه په وخت کې د تبوک د غزا چې ما دوې راحلې درلودې، کعب بن مالک ﷺ وايي چې عليه الصلوة والسلام چې د تبوک تر مخه نورې غزاوې کولې په توريه او کنايه سره بې د هغو غزواتو نومان او ځايرنه ښوول، او دا به يې ويل الحرب خدعة. نو چې د تبوک د غزا نوبت راورسېدی چې عليه الصلوة والسلام ددې غزا قصد په سختې ګرمۍ کې وکړی او سفر بعيد يې په مخ کې درلودی او لوی بيابانونه او دښتونه يې په مخ کې درلودل او لوی دښمن چې روم وُ چې عدوه يې تخميناً يو لک کسان وه او ټوله مسلح وه، نو د تبوک په دې غزا کې عليه الصلوة والسلام علانية او په ډاګه د تبوک نوم واخستی تاچې مسلمانان په پوره توګه خپل تياري ونسي، چې د اسلامي فوج عدد د مسلم په قول تر لس زره باله وُ. حاکم رحمه الله عليه له معاذ بن جبل ﷺ څخه روايت کړی دی "خرجنا مع رسول الله ﷺ الى تبوک زيادة عن ثلثين الف" ابو زرعة وايي چې کوم دفتر جامع د عسکرو د تبوک نه وُ، کعب بن مالک وايي چې يو سړي چې به د تخلف قصد درلودی دا به يې غالب ګمان وُ چې په دې دومره لوی لښکر کې زما درک نه معلومېږي تر هغو چې په وحي به مې درک معلومېږي، کعب بن مالک ﷺ وايي چې عليه الصلوة والسلام د تبوک غزا په داسې وخت کې وکړه يعنې قصد يې ورته وکړی چې د خورما د درختو سايې او مېوې په چم او جوش کې وې، کعب بن مالک ﷺ وايي چې عليه الصلوة والسلام او مسلمانانو کاروبار د سفر چې تجهيز يې بولې برابر کړی او د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بنجشنبې په ورځ له مدينې څخه ووتل او د عليه الصلوة والسلام دا خوښه وه چې په سفر به وتې که جهاد وای که بل سفر وای چې د پنجشنبې په ورځ رهي سي کعب بن مالک ﷺ وايي چې ما کوشش کاوه چې زه هم خپل تجهيز وکړم او ددوی سره يو ځای ووځم. لکن باغ ته به ولاړم بازار ته به راغلم هيڅ کاروبار به مي نه ؤ برابر کړی او په زړه کې به نفس راته وويل چې ته قدرت والا يې دوې راحلې درته ولاړې دي ته هر وخت خپل جهاز کولای سي حتی چې په دغو فکرو کې هغه ورځ ورسېدل چې عليه الصلوة والسلام غازي او نور مسلمانان ورسره د سهار په وخت کې د مدينې منورې ووتل او ما هيڅ کار نه ؤ برابر کړی. نو ما په خپل زړه کې ويل چې يوه ورځ يا دوې ورځې وروسته چې په سي ووځې هم پسې ورسېدلای سې، نو چې دوی ووتل ما هم خپل د کارسازۍ اراده وکړه مابنام چې به کور ته راغلم هيڅ کار سازي به مي نه وه کړې، کعب بن مالک ﷺ وايي چې ددغه ټن صبا په کارسازۍ کې ډېرې شپې او ورځې تېرې سوې او مسلمانان په ډېر سرعت سره روان وه او د غزا ځای چې تبوک ؤ وار په وار نژدې کېدل، دې وايي بيا مي هم قصد وکړی چې په سي ووځه، او دې وايي چې کاشکې مي داسي کړي وای لکن تقدير ؤ نه مي وکړه، کعب بن مالک ﷺ وايي چې وروسته چې به زه بازار ته راووتلم هغه څوک به مي ليدل چې يا به مطعون په نفاق ؤ او يا هغه څوک چې خدای پاک به معذوره کړی ؤ من الضعفا، کعب ﷺ وايي چې زما د حال پوښتنه عليه الصلوة والسلام له چا څخه نه وکړه حتی چې تبوک ته ورسېدی، نو عليه الصلوة والسلام په داسي حال کې چې په خلګو کې ناست ؤ پوښتنه يې وکړه مافعل کعب بن مالک، نو يو سړي له بني سلمه څخه او په بل روايت من قومي چې د هغه نوم عبدالله بن انيس ؤ وويل يا رسول الله حبسه برديه آه والنظر في عطفيه هغه بند کړی د تبوک د سختي غزا څخه کتل خپل د کشميري قميص او پر توګ او کتل وخپل يوه بل او بل بغل ته.

پوه سه: چې دا دوه عبارته کنايه ده له عجب او تکبر څخه، نو معاذ بن جبل يا ابو قتادة وهغه سړي ته وويل بئس ماقلت (تاپه شان کې د کعب بن مالک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وہرہ بدہ خبرہ وکړہ) او هغه معاذ یا قتادة وویل یا رسول الله ماعلمت علیه الا خیراً فسکت علیه الصلوة والسلام، کعب بن مالک ﷺ وایي چي ماته چي دا خبر ورسېدی چي علیه الصلوة والسلام له تبوک څخه د مدینې پر خوا راروان سو پر مالونو غم مسلط سو چي علیه الصلوة والسلام که پوښتنه راسه وکړه چي ته ولي تبوک ته نه وې راسره تللی زه به څه جواب ورته وایم، کعب بن مالک ﷺ وایي چي هرڅه باطل عذرونه په زړه کي سره جوړ کړه چي په دې به له سخط او غضب څخه د علیه الصلوة والسلام خلاص سي او دی وایي چي د ذې رایسه خلګو څخه مي طلب د کومک وکړی یعنې تاسي ماته یوه لار وښایاست چي د علیه الصلوة والسلام له غضبه په خلاص سم، کعب بن مالک ﷺ وایي چي دا خبر چي ما واورېدی چي علیه الصلوة والسلام نثه ورځ مدینې ته داخلېږي، نو هغه ټوله باطل عذرونه مي له زړه څخه ووتل او زه خدای ﷻ په دې پوه کړم چي هر ګز نه سي خلاسېدای په داسي عذر سره چي په هغه کي درواغ وي، نو ما په زړه کي عزم وکړی چي صاف رښتیا به ورته وایي، او زه په دې وپوهېدم چي نجات نه سي پیدا کولای بېله رښتیا ویلو، نو د سهار په وخت کي علیه الصلوة والسلام مدینې ته داخل سو، قال ابن سعد في شهر رمضان، کعب بن مالک ﷺ وایي چي د علیه الصلوة والسلام دا عادت و چي له سفر څخه مدینې ته نه داخلېدی مګر په وخت کي د څاښت او چي له سفره به راغلی اولاً به مسجد ته ورغلی دوه رکعته نفل یعني تحیة المسجد به یې ادا کړه بیا به په مسجد کي تشریف فرما سو د خلګو خوښ آمدي یعني روغبړ لپاره، بیا به ورتلی د بي بي فاطمة الزهرا ﷺ کورته، بیا به د ازواجو مطهراتو حجرو ته ورتلی، په دې ورځ کي د تبوک هم حسب العادة دوه رکعته نفل یې مسجد کي ادا کړه او د خلګو لپاره کښېنستی دادی چي مخلفون چي تعداد یې اتیا په څه بالا ؤ راغله او په باطلو عذرو یې شروع وکړه او هر یوه پر خپل عذر هم قسم اخستی، علیه الصلوة والسلام یې عذرونه ومنل چي دوی علانیه وکړه او ددوی باطن یې و خدای ﷻ ته وسپاری او بیعت یې ورسره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وکړی او د مغفرت طلب یې هم ورته وکړی. کعب بن مالک ﷺ وایي چې زه هم ورغلم سلام مې ورته ووایه. علیه الصلوة والسلام د غضب تبسم راته وکړی. فقال ﷻ تعال زه چې ورغلم ورته کښېنستم بین ید یه علیه الصلوة والسلام مخ راڅخه واړاوه. ما ورته وویل یا رسول الله ﷺ مخ ولې راڅخه اړوې "فوالله ما نافقت ولا ارتبت ولا بدلت" قسم په خدای ﷻ دی که زه منافق سوی یم او یا په مسلمانۍ او ستا په نبوت کې شک په زړه کې راګرځېدلی دی او نه مې دین بدل کړی دی. علیه الصلوة والسلام راته وویل ته څه شي پاته کړې د تبوک له غزا څخه اوښ دې هم د سفر لپاره رانیولی ؤ. کعب ﷺ وایي ما ورته وویل هو اوښ مې د سفر لپاره رانیولی ؤ. کعب ﷺ وایي ماورته وویل زه که کښېنستلی وای غیر له تا څخه بل چاته د اهل دنیا زما یقین ؤ چې د هغه د سخط په عذر باطل سره ځان خلاسولای سم. لکن والله زه په دې نه پوهېږم چې که نن زه تاته درواغ ووایم په عذر کې تا به هم راضي کړم. او خدای ﷻ قریب ده چې ما به تاته رسوا کړي راته په غضب به دي کړي او که زه تاته اوس رښتیا ووایم ته به راته په غصه سې لکن خدای ﷻ به ماته عفوه وکړي. کعب ﷺ وایي چې ما خپل صورت حال و علیه الصلوة والسلام ته داسې بیان کړی ماکان لي من عذر ماته هیڅ عذر په تخلف کې د تبوک نه ؤ. والله ماکنت اقوی ولا ایسر مني حین تخلفت عنک علیه الصلوة والسلام خلګو ته وویل اما هذا فقد صدق لکن راته وه یې ویل چې راڅخه ولاړ سه حتی یقضی الله فیک بما یشآء. کعب ﷺ وایي زه هم ولاړ سوم وروسته زما د قوم خلګ بنو سلمه راپسې راولاړ سول. نو دوی ماته وویل چې موږ علم نه لرو چې تا دې تر اوسه ګناه کړې وي تر نن ورځې دمخه آیا ته عاجز وې چې داسې د درواغو عذر دې کړی وای لکه هغه نورو مخلفینو چې وکړی. که دا درواغ ستا ګناه وې خو د علیه الصلوة والسلام استغفار تا لره کافي ؤ ددې ګناه لپاره. کعب ﷺ وایي چې زما قوم په ما پسې وه حتی چې ما اراده وکړه چې بیرته و علیه الصلوة والسلام ته ورسم او خپل ځان په دمخه خبرو کې یعني چې ما و علیه الصلوة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والسلام ته کړي وې چي ما عذر نه درلودی کاذب وګرځوم، بيا مي د ځان سره فکر وواهه چي دوې ګناهوي څرنګه يو ځای کوې چي يو تخلف له رسول الله ﷺ څخه او بل درواغ ورته ويل چي ما خو عذر درلودی، وروسته مي ځپل قوم ته وويل چي بل ځوک ما غوندي سته چي عليه الصلوة والسلام ته يې رشتيا ويلي وي، او ده مبارک يې امر تر امر الهي پوري معطل کړی وي. قالوا نعم رجلان قالا مثلي ماقلت فقيل لهما مثل ماقيل لک، ما ورته وويل چي هغه دوه کسه ځوک دي؟ قالوا مرارة بن الربيع العمري ﷺ و هلال بن امية الواقفي ﷺ . کعب بن مالک ﷺ چي دوی دغه دوه مذکوره صالح کسان ذکر کړه چي د بدر په غزا کې شامل سوي وه چي ما اقتدا په هغو دوو پسې ښه کار وبالله، نو زه هم ولاړم چي دا دوه کسان دوی ذکر کړه يعني بيرته د ځپل قول د تکذيب لپاره عليه الصلوة والسلام ته نه ورغلم، وروسته عليه الصلوة والسلام صحابه کرام ﷺ منع کړه له خبرو کولو څخه زموږ درو سره "من بين من تخلف عنه" يعني چي دمخه معتذرين بالباطل وه، نو زموږ درو څخه خلګو ګوشه نشيني مختاره کړه، نو موږ دې په خلګو کې ګرځېدلو نه به چا خبري راسره کولې او نه به يې سلام را اچاوه او نه به يې زموږ سلام ته جواب کاوه، او موږ ته خلګ داسي معلو مېدل لکه بېګانه خلګ لکه موږ چي دوی نه پېژندل، او د مدينې منورې سرايونه او دېوالونه داسي راته ايسېدل لکه موږ چي هيڅ کله نه وې ليدلي، کعب ﷺ وايي چي زه پر دې بېرېدم چي زه به مرسم او ماته به د جنازې لمونځ عليه الصلوة والسلام نه کړي را. او يا خدانخواسته عليه الصلوة والسلام وفات سي نو موږ به پر دغه حال پاته سو چي ځوک به خبري نه راسره کوي تر مرګه پوري، او چي مړه سو ځوک به د جنازې لمونځ نه راکوي، کعب ﷺ وايي چي پېښځوس ورځې پر دغه حال تېري سوې، او زما هغه دوه ملګري له اولي ورځې څخه چي دا معامله پېښه سوه په کور کې کښېنستل ژړل يې او زه هم ځوان وم او هم قوي، نو زه به لمانځه ته جماعت ته راوتلم او د مدينې په باراز کې به ګرځېدم، او مسجد ته چي به ورغلم عليه الصلوة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والسلام به د خلګو سره ناست ؤ ما به سلام ورواچاوه يعني تر لمانځه وروسته. زما به په زړه کي دا شک پيدا سو چي عليه الصلوة والسلام شوندان مبارکان وښورول که نه، بيا به نژدې و عليه الصلوة والسلام ته پر لمانځه درېدم ما به په پته عليه الصلوة والسلام ته کتل او ما چي په خارج الصلوة وده ته وکتل ده به مخ راځخه واړاوه. کعب ﷺ وايي چي زه به پر لمانځه يعني نفل وغيره ودرېدلم عليه الصلوة والسلام به راته کتل، کعب ﷺ وايي چي دا ببزاري د خلګو زما سره اوږده سوه، يوه ورځ د ابي قتاده ﷺ باغ ته پر دېوالـه ورواوښتم چي ابو قتاده هم د بني سلمه چي زموږ د قبيلې ؤ (او په حديث کي يې تعبير په ابن العم سره کړی دی لکن سکه د اکا زوی يې نه ؤ) او ابو قتاده پر ما ډېر ګران هم ؤ "فسلمت عليه" ما سلام ورواچاوه "فوالله مارد علي السلام" قسم په خدای ﷻ دی چي ابو قتاده جواب رانه کړی، کعب ﷺ وايي چي اې ابو قتاده آيا ته پر دې علم لرې چي زما خدای ﷻ او رسول ﷺ څومره محبوب دي؟ ده هيڅ جواب رانه کړی، بيا مي دا خبره ورته وکړه ده جواب رانه کړی بيا به مي پوښتنه ځني وکړه دريم يا څلورم وار يې دا قدر وويل الله ورسوله اعلم. کعب ﷺ وايي چي زما ترسترګو اوښکي راتوی سوې او د ابو قتاده له باغه بيرته پر دېوالـه واوښتم، کعب ﷺ وايي چي زه يوه ورځ د مدينې په بازار کي ګرځېدم چي يو نبطي له انباط څخه د شام (نبطي هغه څوک بولي چي غله راوړي له بل ځای څخه او په مدينه کي يې خرڅول) او دا نبطي له شام څخه راغلی ؤ او غنم وغيره يې راوړي وه او په مدينه کي يې خرڅول، دا نبطي له خلګو څخه يعني د مسلمانانو څخه د مدينې پوښتنه کوي چي څوک به ماته کعب بن مالک را وه پېژني، خلګو صرف په اشاره زه وروښوولم داسي يې نه وويل چي کعب هغه دی، يعني زما نوم هم مسلمانانو نه اخستی، هغه نبطي ماته راغلی او يو کاغذ يې ماته راکړی چي د ورېښمو په تکر کي پېچلی ؤ له طرفه څخه د باچا د غسان په شام کي او په خط کي داسي نوشته وه. اما بعد فانه قد بلغني ان صاحبک قد جفاک واقصاک (په تحقيق ماته رسېدلې ده چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ستا صاحب مراد يې رسول الله ﷺ په يقين ده له تاسي سره جفا کړې ده او ته يې له ځانه لېرې کړی يې) ولم يجعلک الله بدار الهوان ولا مضيعة (او ته ګرځولی يې خدای په وطن کې د سپکاوي ستا يعني المدينة "ولا مضيعة" (يعني په ځای کې د ضائع کېدلو ستا د حق يعني ته لوړ او شريف سړی يې بايد. خلګ ستا حق نه کړي ضائع. غرض يې دا وې چې لکه صاحب ستا چې عليه الصلوة والسلام دی ستا حق يې ضائع کړی دی او ستا حق يې نه دی ضائع کړی) حيث منع الناس عن السلام والكلام معک. فان شئت فالحق بنا نواسلک فقلت لما قرئها وهذ ايضاً من البلاء قد طمع اهل الكفر فتميمت بها التنور فسجرته (که ستا خوښه وي په موږ پسوري ملحق سه يعني موږ ته راسه موږ به ستا سره کومک وکړو، کعب ﷺ وايي ما چې دا خط ووايه ما له ځان سره وويل چې دا هم د خدای ﷻ يو امتحان دی چې په ما يې کوي چې طمع پيدا سوه د اهل کفر وماته نو مي قصد و تناره ته وکړی او خط مي پکښې وسو، کعب ﷺ وايي د پينځوس ورځو څخه چې ځلوېښت ورځې تېرې سوې عليه الصلوة والسلام ماته سړی راواستاوه چې خزيمة بن ثابت ﷺ و ماته يې وويل چې عليه الصلوة والسلام تا امر کوي چې له مايښې څخه جلا سه، ماورته وويل چې څه معنا آيا طلاقه يې کړم، خزيمه راته وويل يا طلاقوه يې مه جماع مه ورسره کوه. او هغه زما دوو ملګرو ته يعني چې په دې مصيبت کې زما سره شريک وه مرارة بن الربيع العمري او هلال بن امية ته يې هم داغسې حال د خزيمة په لاس ورکړی و، کعب بن مالک ﷺ وايي چې ما خپل مايښې ته وويل چې ولاړه سه د پلار کره تر هغو چې زموږ په کار کې خدای ﷻ يوه فيصله کوي. کعب ﷺ وايي چې د هلال بن امية مايښه و عليه الصلوة والسلام ته راغله چې خولة بنت عاصم وه او وه يې ويل چې هلال بن امية سپين ږيری دی او هيڅ خادم بېله ما نه لري، آيا ماته اجازه سته چې خدمت يې وکړم، عليه الصلوة والسلام ورته وويل چې خدمت خو يې کوه خو تاته دې نه در نژدې کېږي چې کنايه له جماع څخه ده، خوله ورته وويل "مابه حركت الى شيئ والله انه ليبكي منذ كان من امره ماكان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الی یومنا هذا" چي نسته په ده یعني زما په مېړه کي حرکت ویوه شي ته دی هم کنایةً نهي د جماع وکړې او دې دا هم وویل چي هلال بن ربیعه له کومه وخته څخه چي دا موضوع د هجران الناس د خدای ﷻ په امر ده ته پېښه سوې ده په ژړا دی تر ننې ورځي پورې، کعب ﷺ وایي چي ماته هم ځینې قربانو وویل چي کاشکي تا هم اجازه اخستې وای د رسول الله ﷺ په باره کي د مایني د خدمت کما اذن لامرئة هلال بن امیة، کعب ﷺ وایي ما قربانو ته وویل والله لااستأذن فیها رسول الله ﷺ ولي چي زه څه خبر یم چي علیه الصلوة والسلام به ماته څه ووایي که زه د مایني د خدمت اجازت ځني وغواړم او زه په خپله شکر ځوان یم د مایني وخدمت ته ضرورت نه لرم، کعب ﷺ وایي چي لس ورځي چي نوري تېرې سوې یعني وروسته تر ځلوېښت حتی چي زمونږ د هجران پینځوس ورځي پوره سوې یعني له هغه وخته څخه چي علیه الصلوة والسلام زمونږ د کلام او سلامه څخه خلګ منع کړي وه، نو په دریمه کي د شپې دا آیتونه نازل سوه "وعلی الثلثة الذین خلفوا الی اخیر الآیة" او علیه الصلوة والسلام په دغه شپه د ام سلمة ﷺ په کور کي ؤ، او ام سلمة ﷺ یي د آیت په نزول خبره کړه، ام سلمة ﷺ ورته وویل چي پر کعب ﷺ باندې زېرې ونه کړو، علیه الصلوة والسلام ورته وویل چي که زېرې وسي خلګ دېر راجمع کېږي، ولي چي دا یوه درنه او سخته موضوع وه چي خدای پاک حل کړه او ته وله شپه مو بیا خلګ له خوبه باسي، کعب ﷺ وایي چي د پینځوسمي شپې سپېدې راوچاودې او علیه الصلوة والسلام زمونږ د توبې اعلان په مسجد نبوي ﷺ چي خلګو ته کړی ؤ کعب ﷺ وایي چي زه په دغه وخت کي پر یو بام ناست وم حزین او د فکر په حال کي چي پر ما مځکه تنګه وه سره له فراخی لکه خدای ﷻ چي زمونږ د دغه حال په قرآن مجید کي حکایت کړی دی چي یو سړي لویه ناره وکړه پر جبل سلع باندې یا کعب بن مالک ابشر، او محمد بن عمرو وایي چي پر جبل سلع باندې ناره کونکی ابوبکر ﷺ ؤ فصاح قد تاب الله علی کعب یا کعب ابشر، یعني زېرې مي دربانديي چي توبه دي قبوله سوه، وقد انزل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الله فيكم القرآن، كعب ﷺ وايي چي د ځاري په اور بدلو سره زه پر سجده پر هو تلم فرحاً بالتوبة په دې پوه سوم چې مشکل حل سو، او عليه الصلوٰة والسلام زمونږ د درو کسو په توبه سره اعلان وکړی چې د سهار لمونځ بې وکړی او بعض مسلمانان زما پر خوا راروان وه چې په هغو کې يو پر آس سپور په دې تلوار راغلی چې زبير بن عوام ﷺ ؤ او بل سړی په وچه ځغاسته ماته راغلی د زهري لپاره لکن د صارخ اواز تر دواړو دمخه رارسېدلی ؤ او بعض مسلمانان د هغو دوو نورو وځوانه چې زما سره شريکان وه په دې مشکل سره د زهري لپاره هغو ته ورغلي وه، او هغه څوک چې هلال بن امیه ﷺ ته يې زهري وروړی ؤ. دی وايي چې ما زهري ورته وکړی دی پر سجده پرېوتی او له دې خوشالیه په ژړا سو، او زما گمان دا سو چې له سجدې به سر نه کړي راپورته حتی تخرج نفسه. ولي چې ده له هغه وخته په طعام څکه نه وه کړې او پيوسته به روژه داره ؤ او يو گړی بې ژړا نه ؤ.

سوال: پينځوس ورځې څرنگه بې خوړلو د طعام سړی ژوندی پاته کېدای سي؟

ځواب: مراد له طعام څخه طعام ملئ البطن دی او د پينځوس شپې لپاره د سد الرمق يو څه لږ طعام خوړی او کېدای سي چې ذکر د خدای ﷻ قائم المقام د طعام او د شراب ؤ کما جرب بعض اهل الله في اربعيناتهم، او هغه څوک چې مرارة بن الربيع ﷺ ته يې د توبې زهري وروړی ؤ ملکان بن ابي سلامة ﷺ او کعب ﷺ وايي چې زه راهي سوم د عليه الصلوٰة والسلام پر خوا او خلگ فوجاً فوجاً په مخ راتله د توبې د قبوليت مبارکي يې راکوله. کعب ﷺ وايي حتى دخلت على رسول الله ﷺ، او عليه الصلوٰة والسلام ناست ؤ او شاوخوا خلگ پر راگرځېدلي وه، کعب ﷺ وايي چې طلحة بن عبيد الله ﷺ وړې ښورولې او زما سره يې روغبړ وکړی او مبارکي يې راکړه، کعب ﷺ وايي له مهاجرينو څخه بل هيڅ څوک نه دی راولاړ سوی. کعب ﷺ وايي چې د طحلة بن عبيد الله ﷺ دا احسان به زه هېر نه کړم چې زما سره يې روغبړ وکړی او مبارکي يې راکړه، کعب بن مالک ﷺ وايي ما چې عليه الصلوٰة والسلام ته سلام ووايه ده وروسته د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سلام تر جواب راته وویل په داسي حال کي چي د علیه الصلوٰة والسلام مخ مبارک زمونږ د توبې د قبلېدلو په وجه برېښېدی "ابشر بخیر یوم مر علیک منذ ولدتک امک" کعب ﷺ وایي ما ورته وویل امن عندک ام من عند الله" دا قبول د توبې زمونږ ستا له خوا دی او که د خدای ﷻ له خوا دی؟ ده راته وویل لابل من عند الله، انکم صدقتم الله فصدقکم الله"یا زما له خوا نه دی بلکې د خدای ﷻ له خوا دی، تاسي وخدای ﷻ ته رشتیا وویل یعني باطل عذرونه مو نه کړل پېش خدای ﷻ ستاسي تصدیق وکړی، کعب ﷺ وایي چي علیه الصلوٰة والسلام چي په ډېره خوشاله ؤ مخ مبارک به یې برېښېدی لکه یوه ټوټه د سپوږمی، خلګ په له دغې علامې څخه په خوشالی پوهېدل، کعب ﷺ وایي چي زه دده په حضور کي کښېنستم، ما ورته وویل یا رسول الله ﷺ "ان من توبتي ان انخلع من مالي کله صدقة الی الله والی رسوله ﷺ" چي زما د تمام د توبې دادی چي زه د ټولې مالې څخه خپل ځان خالي کوم د صدقې د خدای ﷻ او د رسول ﷺ د هغه وفي روایة فاجعلها یا رسول الله فیما اراک الله"ته زما دغه ټوله اموال مصرف کړه په هغه ځای کي چي خدای پاک یې وتاته دروښیي، ده مبارک راته وویل چي ځینې مالونه دي له ځان سره وساته چي دا ځینې مال ستا لپاره خیر دی، ما ورته وویل چي نیمایي خیرات کړم؟ ده مبارک وویل لا، ما ورته وویل درېیمه حصه یې خیرات کړم؟ ده مبارک وویل هو! کعب ﷺ وایي ما ورته وویل چي زه خپل په مال کي هغه جائیداد راګرځوم چي په خیبر کي دی، کعب ﷺ وایي چي ما ورته وویل یا رسول الله انما نجي الله بالصدق وان من توبتي ان لا احدث الا صدقاً مابقیت فوالله ما اعلم احداً من المسلمین اهلاه الله في صدق الحدیث منذ ذکرت ذالک لرسول الله ﷺ احسن مما ابتلاني وما تعمدت منذ ذکرت ذالک لرسول الله ﷺ الی یومي هذا کذباً واني لارجو ان یحفظني الله فیما بقت:

ژباړه: کعب ﷺ وایي چي ما و علیه الصلوٰة والسلام ته وویل چي ماته چي نجات راکړی له عذاب څخه هغه په رشتیا ویلو سره وتاته، او زما له توبې څخه دا هم دی چي زه په هیڅ خبره نه کوم مګر چي رشتیا وي تر څو چي ژوندی یم،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کعب ﷺ وایي چي ماته نه دی معلوم هیڅ څوک له مسلمانانو څخه چي خدای پاک دي احسان ورسره کړی وي او انعام دې ورکړی وي په رشتیا ویلو کي د هغه وخته چي ما دا رشتیا وویل و علیه الصلوٰة والسلام ته یعني عذر بالباطل مي نه ووایه بالا تر هغه چي زما سره یې وکړی، کعب ﷺ وایي چي ما د درواغ ویلو قصد له هغه وخته چي ما دا رشتیا وه علیه الصلوٰة والسلام ته وویل تر ننني ورځي پوري نه دی کړی او زما امید دی چي ما به خدای پاک وساتي له درواغو څخه تر هغو چي زه په دنیا کي باقي یم.

پوښتنه: د کعب او دده د ملګرو ﷺ په توبه کي پینځوس ورځي څنګه څه حکمت الهي و؟

ځواب: ځینې مفسرین رحمهم الله وایي چي پینځوس ورځي د علیه الصلوٰة والسلام د تبوک په غزا کي تېري سوې او دا درې کسه غائب وه، کعب بن مالک ﷺ وایي چي لوی احسان وروسته تر اسلام راوړلو چي پر ما باندې خدای ﷻ وکړی هم دغه ډېر چي ما علیه الصلوٰة والسلام ته رشتیا وویل یعني عذر بالباطل مي نه ورته وکړی لکه نورو منافقانو چي ورته وکړی، ولي که مي درواغ ورته ویلي وای نو زما حال به د نورو منافقانو رنګه وای یعني هغو چي عذر بالباطل ورته ووایه او قسم بالله یې هم ورته واخستی علیه الصلوٰة والسلام ځني قبول کړی او بیعت یې هم ورسره وکړی او طلب د بخښني یې هم ورته وکړی، او چي قرآن نازل سو د هغو منافقینو په باره کي سخت الفاظ راوړه چي د هیڅ په باره کي خدای ﷻ نه وه نازل کړی، قال الله تعالی سیحلفون بالله لکم اذا انقلبتم الیهم الی ان قال فان الله لایرضی عن القوم الفاسقین، نو کعب ﷺ وایي چي که مونږ هم درواغ ویلي وای، نو مونږ درې به هم په سخت ترین آیت کي چي د منافقینو په په باره کي نازل سو داخل به وای.

سوال: ددې درو کسانو په باره کي داسي عبارت قرآني نازل سو کمامر "وعلی الثلثة الذین خلفوا آه"؟

ځواب: کعب بن مالک ﷺ وایي چي د هغه آیت معنا دا نه ده چي دا درې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کسان له غزا څخه د تبوک پاته سوي وه او تخلف يې کړی ؤ. بلکې معنا يې داده چې زمونږ توبه وځنډېدله او وروسته سوه تر هغو کسانو چې علیه الصلوٰة والسلام ته يې پر خپل عذر بالباطل باندې قسمونه واخستل او علیه الصلوٰة والسلام قبول کړه کمامر آنفاً او مونږ درو چې رشتیا ورته وویل زمونږ توبه يې وځنډول حتی چې خدای پاک زمونږ په باره کې وویل "لقد تاب الله علی النبي الی ان قال وعلی الثلثة الذین خلفوا الآیة.

حَتّٰٓى اِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ

تر هغو چې تنګه سوه مځکه یعنې ارض المدینة ددې سببه چې ټولو مسلمانانو په امر د نبي ﷺ ددوی له کلام او سلام څخه يې امتناع کوله.

پوه سه: چې په "بما رحبت" کې "با" په معنی د مع ده او کلمه د "ما" مصدریه ده او "رحب" فراخی ته وایي ای سره د فراخی په مځکه کې، پوهان وایي چې دا ضرب مثل دی د هغه چا لپاره چې په یوه حیرت او اضطراب کې واقع سي، نو مځکه ځای نه ورکوي او دا مثل په هره ژبه کې ستد کما لا یخفٰی.

وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ اَنْفُسُهُمْ وَظَنُّوْٓا اَنْ لَّا مَلْجَاَ مِنَ اللّٰهِ اِلَّآ اِلَيْهِ

او تنګ سوه پر دوی زړونه ددوی له ډېر غم او وحشت څخه چې نه يې په زړو کې خوشالي ځای درلودی او نه د چا سره الفت، او ددوی دا یقین سو چې ځای د پناه نسته له عذاب او غضب څخه د خدای ﷻ مګر نه و خدای ﷻ ته یعنې چې خدای ﷻ بخښنه ورته ونه کړي.

ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوْبُوْا ؕ

بیا خدای ﷻ توبه قبوله کړه، لکه تفصیل چې يې تېر سو.

پوښتنه: وروسته تر "تاب علیهم" د لیتوبوا څه معنا ده؟

ځواب: د "لیتوبوا" معنا دا ده چې دوی استقامت او همېشه توب وکړی پر توبه او په آئینده کې يې ورته کار بیا ونه کړی، او ځینې مفسرین رحمهم الله وایي چې معنا يې داده لیعدوا من جملة التوابین.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ اللَّهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴿١١٨﴾

په تحقیق خدای ﷻ دی توبه قبلونکی او مهربان.

پوه سه: چې "تواب" صیغه د مبالغې ده، نو یا یې معنا داده چې د ډیرو خلګو توبه قبلوي حتی که د نړۍ ټوله کافران په یوه پلا له کفر څخه توبه وکاږي او ایمان راوړي خدای ﷻ یې توبه قبلوي او یا یې معنا داده چې که د نړۍ ټوله عاصیان مسلمانان له عصیان څخه توبه وکاږي خدای ﷻ یې توبه قبلوي او یا یې معنا داده که یو مسلمان له ډیرو کبائرو ګنهو لکه غیبت، بهتان، زنا، لواطت، قتل النفس بغیر حق وامثال ذالک، او بیا توبه وکاږي په یوه وار خدای ﷻ یې قبلوي، ولنعم ماقیل:

ابشروا یا قوم اذا جاء الفرج ..... افرحوا یا قوم قد زال الحرج

مي دمد درګوش هر غمګین بشیر ..... خیز ای مد براه اقبال ګیر

درویش وایي: چې په یو صحیح حدیث کې چې روایت یې ډیرو محدیثینو کړی دی داسې راغلي دي چې خدای جل شانه خوشحاله کیږي په توبه د یو عبد مذنب تر هغه مسافر چې اوښ ورسره وي پر اوښ یې د ابو شی هم ترلی وي او نور خوراکې شیان هم، نو د غرمې د ګرمۍ په وخت کې تر یوې درختي لاندې واړوي او اوښ چوک کړي لکن ګوډه یې نه ور وتړي او اوبه او نور شیان نه کې ځندي راکښته خیال یې دا وي چې یو ګوړی به بیده سي بهرته به روان سي دی چې بیده سي اوښ سره د سامانه د سوري ولاړ سوی وي د خوراک دپاره ګوښه تللی وي دی په خوب کې ترې سوی وي چې راکښېنې اوښ نه وي یوه خوا بله خوا میدان کې د اوښ درک نه معلومېږي او اخیر الامر تنده ډیره غلبه پر وکړي او دا غالب ګمان وي چې د تندي څخه مري، نو بهرته راسي تر هغې درختي لاندې سر کښېږدي د مرګ په انتظار اخیر بیده سوی وي چې را وېښ سي اوښ راغلی وي چوک وي دی د ډیرې خوشحالی څخه خوله یې خطاوزي یعني د ده داسې وینا په خیال کې وي چې بېشکه ته خدای یې زه دي بنده یم لکن د غلبې څخه د خوشحالی داسې پر خوله ورسي بېشکه زه خدای ته مي بنده یې دا وه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پشتو ژباړه د حدیث، چې نامه وړې محدث صاحب الصحیح مسلم یې روایت کړی او نور محدثین هم.

درویش وایي: چې مسلم د ابو موسی اشعري ﷺ څخه روایت کړی دی ابو موسی ﷺ وویل چې علیه الصلوة والسلام وویل ان الله ﷻ یبسط یده باللیل لیتوب مسیئ النهار ویبسط بالنهار لیتوب مسیئ اللیل حتی تطلع الشمس من مغربها.

پوسه: چې داحدیث په مذکوره الفاظو د متشابهاتو څخه دی لعدم کونه تعالی جسما ذا اعضاً عند اهل السنة والجماعة وقد مر في هذا التفسیر چې قدماً د اهل السنة والجماعة په باره کې د متشابهاتو وایي الله اعلم بمراده یا رسول الله اعلم بمراده ونحن مؤمنون بمراده تعالی ومراد رسوله. لکن متاخرین د بعض متشابهاتو تاویل کوي دوی وایي چې په دې او او امثاله کې مراد دید څخه رحمت د خدای دی لیلا ونهارا.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَكُونُواْ مَعَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿١١٩﴾

ای هغه کسانو چې ایمان یې را وړی دی وبهر ډډئ د عذاب څخه د خدای ﷻ او ملګري اوسئ د صادق خلګو یعنې عمل په مثل د دوی کوئ.

پوسه: چې ابن عباس او ابن عمر ﷺ وایي چې د آیت معنا دا ده کونوا مع محمد ﷺ واصحابه ﷺ الذین صدقت نیاتهم واستقامت قلوبهم واعمالهم وخرجوا مع رسول الله ﷺ الی غزاة التبوک باخلاص ونیة دون المتخلفین.

درویش وایي: چې دا تفسیر په قرینه د مقام دی دوو اصحابو ﷺ کړی دی، لکن عبارت د قرآن عام دی، د عموم معنی یې دا ده کونوا مع الذین صدقوا في ایمانهم، احترازا عن المنافق وفي عهودهم لا کا الیهود وفي دین الله لا کا المشرکین نیة وقولا وعملا.

پوسه: چې ابن الانباري رحمه الله د ابن عباس ﷺ څخه نقل کړی دی چې د کونوا من الصادقین وایه، او بیهقي د عبد الله بن مسعود ﷺ څخه هم کونوا مع الصادقین قرائت نقل کړی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې مآل د دواړو قرائتو یو دی لان المراد بالبعضية والمعية التي كانت قلباً ولساناً وعملاً ونيةً.

پوه سه: چې په آیت کې مدح عظیم د صدق ده، جلال الدین السیوطي رحمه الله وایي چې په دغه آیت سره دلیل وایي هغه کسان چې وایي درواغ هیڅ ځای روانه دي نه تصریحانه تعریضا، او د ابن مسعود رضي الله عنه ډیرو راویانو روایت کړی چې ده وویل لا یصلح الكذب في جد ولا هزل، یعنې نه په قصد او نه په مسخرواکي درواغ لکن الحق خلاف ذالک ولي چې په څو ځایه کې درواغ مباح دي، ولي چې ابن شیبة رحمه الله علیه او احمد رحمه الله علیه د اسماء رضي الله عنها بنت یزید څخه عن النبي ﷺ انه قال كل الكذب يكتب (يعني في صحيفة المعاصي) الا رجل كذب في خديعة حرب (مګر نه یو سړی چې درواغ ووایي په چم کې د جنګ د کفارو مثلا یو کافر مسلمان په غشي وولي دی نارې کړي مړ دي کړم او ځان پر محکمه وغورځوي کافر چې پر را میدان کې سلاح ځندي واخلي مسلمان یې په توره سر ور پرې کې ومثل ذالک.

او اصلاح بین اثنین، یا اصلاح د دوو کسو چې سره دښمنان وي یو بل مسلمان په مابین کې د دوی اصلاح په درواغو وکړي، مثلا ثالث بالخیر د هر یوه د خوا څخه خبرې د صلحې نقل کوي او درواغ وایي یوه د صلحې خبره ودته نه وي کړې آخیر یې صلح وروکړي.

او یا سړی مایني ته درواغ وایي چې ځندي راضي سي مثلا مایني ته وایي چې بهځي را باندې ګرانه یې او داغسې نه وي وامثال ذالک.

دروښ وايي: چې په صحیح حدیث کې راغلي دي (التجار يحشرون يوم القيامة فجار) تاجران یعنې شی ځرځونکي او رانیونکي دی حشر کړه کهږي فاجران.

پوسه: چې فجار جمع د فاجر ده هغه چاته وایي چې په محارم کې غرق وي، تاجران یې د دې سببه فجار وبلل چې په بیعه او شرا کې ده درواغو قسمونه اخلي او غبن فاحش کوي او د مبیعې عیب پټ ساتي او سود کوي نو له دې سببه په آخیر د دغه حدیث کې راغلي دي "الا من اتقى" یعنې چې ځان وساتي د درواغو څخه "وبر" ځان نه کې حانث په قسم کې "وصدق" او خبره د رشتیا کوي،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بائع بايد چي خپل د خرڅهدو شی پر مشتري باندي د درواغو په قسم نه کي تېر مثلا بائع ومشتري ته ووايي چي ما داشی په سل روپې رانیولی دی قسم په خدای دی او ده تر سل روپې په لږو روپو رانیولی وي. او دغه د ده حلف کاذب برکت د ثمن د مابین څخه وړي. او په بل صحیح حدیث کي راغلي دي (ان اطیب الکسب کسب التجار الذین اذا حدثوا لم یکذبوا) هغه تجار چي خبري کوي درواغ نه وایي (واذا ائتمنوا لم یخونوا) چي څوک دی امین وبولي خیانت نه کوي. (واذا وعدوا لم یخلفوا) او چي وعده وکړي خلاف د وعدې نه کوي.

او چي شی رانسي د هغه شي بد نه وایي او چي شی خرڅوي د هغه ډیر صفت نه کوي. او که پر دوی پور د چا باندې وو پور نه ځنډوي لان مطل الغني ظلم او که د دوی پور پر چا باندي وو هغه تنګه وي نه. حاصل د کلام دا دی چي صدق او روشتیا ویل ممدوح دی په دنیا او آخرت کي او کذب مذموم دی په دنیا او آخرت کي لکه په آیت المذکوره کي.

وعلی الثلثة الذین خلفوا" چي کعب بن مالک رضی الله عنه او دوه نورو ملګري وه چي علیه الصلاة والسلام ته یې په تخلف کي د غزوة تبوک رشتیا وویل. او نور منافقان چي په تخلف کي د غزوة تبوک یې درواغ وویل او په درواغو یې حلف بالله هم واخستی کمامر تفصیل کل واحد من الصادقین والکاذبین.

مناجات فقیر الی الله عزوجل محمد عبید الله:

الهی مثل من گناه کارکه خواهدبود ....ومثل تو آمرز گار دروجود کی خواهدبود
الهی اگر گناه من بیکران است..... مغفرت تو بالا تر ازان است
الهی بعجز من ورحمت خود بنگر ...وبعصیان و خطاهای من منگر
الهی اگر همواره درعصیانم....اما از کرده خود پشیمانم
الهی اگر گناه کردارم....اما خوف تو دردل دارم
الهی چون دروازه مغفرت تو باز است... عاصی را درطلب آن آز است
الهی اگر چه بدن باشیطا است...مگر دل باحضرت سلطان است
الهی اگرچه عاصی بمرض معصیت رنجور است
اما خوشدل وبدای مغفرت مسرور است

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الهی چه کنم که نفس اماره مرا از تو باز میدارد
مگر انکه فضل تو این محبوس را ها دارد
الهی بنده گر یخته چون باز آید .... چون مولا اش مهربان چه باک دارد
الهی اگر از درخود برانی نمیروم .... زانکه در وازه د یگر نمید انم
الهی درهر کار بر تو توکل دارم .... واز جناب والای تو مدد میخواهم
وقت خفتن است تقریباً هشت نیم بجه است از شب پنجشنبه ۲۰ ماه ذوالقعدة از شهور سنه ۱۴۲۸ هجري قمري.

مَاكَانَ لِاَهْلِ الْمَدِيْنَةِ

نه وه صحیح او نه وه روا اهل ته د مدینې.

پوه سه: چې ظاهر د عبارت قرآني اخبار دی او مراد ځنې نهي دی یعنې دوی دې دغسې نه کوي.

بنهانه فائده من تفاسیر معتبرة په ژباړه د دروښ، پوه سه! چې مدینة علم بالغلبة ده دار الهجرة کالنجم للثریاً لکه لفظ د نجم چې مطلق ستوري ته وایي په عربي ژبه کې لکن په استعمال علم بالغلبة دی د پېرونې، نو چې مطلق لفظ د مدینه ذکر سي مراد ځنې دار هجرت د رسول الله ﷺ والمهارجرین ﷺ دی، او که بل ښار د سړي مراد وي مقید به یې وایي نحو مدینة قندهار او مدینة هرات الی غیر ذالک. او نسبت و مدینة الرسول ته مدني دی بدون الیاً او نورو ښارو ته مدیني یا په نسبت کې رائحي للفرق لکن في انسان العیون امام نووي رحمه الله په شرح کې د مسلم وایي چې د تولې نړۍ په ښارو کې اکثر اسماً تر مکې مکرمې او تر مدیني منورې نسته، او بعض علماً او تاریخ پوهان وایي چې د مدینة الرسول ﷺ سل (۱۰۰) نومان دي المشهور منها (۱) دار الاخیار (۲) دار الابرار (۳) دار السنة (۴) دار السلامة (۵) دار الفتح یعني چې فتح د مکې له دغه ښار څخه وسوه (۶) البارة یعني چې اهل ددې ښار نېکوکاران دي (۷) طابة (۸) طیبة په سبب د طیب په دې ښار کې او یاً ددې سبب چې خوشبویي د عطر په ښار کې تر نورو ښارو دېره ده (۹) دار الشفاً چې ځاوري ددې ښار شفاً د انشک مرض او د پیس دي بل من کل داء، او عجوه خورما د دغه ښار دواً ده د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

زهرو لپاره که دري داني علی الصبح سړی وخوري په دغه ورځ کي نه زهر او نه زهريلي حيوان پر ده تاثير کوي لکه لړم، مار او داسي نور (١٠) مزار الرسول ولي چي مزار انور او روضة مطهره د عليه الصلوة والسلام په دغه ښار کي ده وغيرها من الاسماً.

پوه سه: چي مکي مکرمې او مدينې منورې ته خدای پاک دا خصوصيت ورکړی دی چي هيڅ وخت وروسته تر اسلامه د اهل علم والدين والفضل څخه خدای خالي کړې نه ده.

پوه سه: چي خبره وايي چي مدينه منوره به تر قيامت څلو ښښت کاله دمخه خرابيږي والله اعلم بالصواب واليه المرجع والمآب.

وَمَنْ حَوْلَهُمْ مِّنَ الْأَعْرَابِ

او هغو کسانو لره چي پر شا وخوا دي د مدينې والاوو چي صحرا نشينان دي لکه مزينه قبيله او جهينه قبيله او اشجع قبيله او د غفار قبيله وغيرهم من الاعراب الذين هم في حوالي المدينة.

اَنْ يَّتَخَلَّفُوْا عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ

چي دوی دي پاته سي په خپلو کورو کي له عليه الصلوٰة والسلام څخه چي دی په خپل نفس شريفه سره غزا ته ووځي کما في غزوة تبوک فيما نحن فيه چي درې متخلفين او نور منافقين غزا ته د تبوک نه ولاړه.

وَلَا يَرْغَبُوْا بِاَنْفُسِهِمْ عَنْ نَّفْسِهٖ

او دوی دي نه سپمول خپل ځانونه له نفس شريفه څخه دده مبارک چي هغه اقدام پر يوه غزا په خپل نفس سره وکړي دوی دي هم ورته اقدام وکړي.

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ لَا يُصِيْبُهُمْ ظَمَاٌ وَّلَا نَصَبٌ وَّلَا مَخْمَصَةٌ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

"ذالک" اشاره ده ومنهي عنه ته چي تخلف دی له عليه الصلوٰة والسلام څخه او علت د نهي دی "بانهم" په سبب ددې چي دوی ته نه رسيږي يوه تنده او نه ستړيا او نه لوږه په لاره کي د خدای ﷻ او په معاونت کي د رسول د خدای ﷺ او په اعلا کي د کلمة الاسلام او په دفع کي د شر او فساد د کافرانو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَا يَطَئُونَ مَوْطِئًا يَغِيظُ الْكُفَّارَ

او دوی نه ایږدي پښې پر مځکه د غزا په سفر کي، چې دا تګ دوی پر مځکه لپاره د غزا په غصه او غضب کي اچوي کافران.

وَلَا يَنَالُونَ مِنْ عَدُوٍّ نَيْلًا إِلَّا كُتِبَ لَهُمْ بِهِ عَمَلٌ صَالِحٌ

او دوی نه پیدا کوي له دښمن څخه یو شی چې یا یې قتل کړي او یا یې بندیان کړي یا غنیمت څنې راوړي او یا ښځي مینځیاني څنې راولي، مګر نه لیکل کیږي یعني په صحیفو کي د اعمالو ددوی په دې ټولو تقدیرو کي عمل صالح دی، نو باید عاقل له ګډونه څخه په غزواتو کي د علیه الصلوٰة والسلام ډډه ونه کړي بلکې په تمام اخلاص او محبت مشایعت ورسره وکړي.

إِنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ

په تحقیق خدای ﷻ نه ضائع کوي ثواب د ښوو کارو کونکو او د اخلاص درلودونکو هر عمل د خیر چې کوي خصوصاً غزاګانې.

پوه سه: چې دا جمله علت دی د "کتب لهم آه" لپاره او تنبیه پر دې ده چې جهاد د کفارو سره احسان او ښه عمل دی، ولې چې مجاهدین کوشش کوي چې اسلام دوی پایه تکمیل ته ورسوي او کفار له ابدي اوره خلاص کړي په نهایت سعي سره لکه سړی چې لهوني او کوچني ته په ضرب سره تادیب ورکوي، او په حق کي د مسلمانانو هم جهاد احسان دی، ولې چې د جهاد په کولو سره مسلمانان خلاصیږي له غلبې څخه د کفارو او له تسلط څخه ددوی پر بلا د مسلمانانو.

تجربه: چونکه مسلمانان عیش پرسته، شهوت پرسته او د جهاد له کړاوو څخه لکه چې بېزاره سوه امریکایانو د ظلم لاسونه پورته کړه، او یو وار په یوه بهانه او په بله بهانه چې هغه بهانې په کذب بحت وي پر قوي دلالت د مسلمانانو په نړۍ یعني عراق باندې حمله وکړه او عراق یې دربدر کړی او ښه کوتې او منازل ددوی یې له خاورو سره خاوري کړه چې تر اوسه پورې یې رحمانه ظلم دوام لري، او بیا یې پر یو غریب دولت د مسلمانانو یعني پر افغانستان باندې یې حمله وکړه چې ددوی ظلم پر افغانستان باندې پینځه کاله کېږي چې دوام لري.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بې رحمانه بمباری پر کلو باندو او د بې ګناه ښځو او اطفالو وژل دوام لري تر دې سنې یعنې ۱۴۲۹ هـ پورې. او افغانستان دوی د یوې محکمې اډې په توګه د ایران، چین، روس او پاکستان لپاره ګڼې، په حدیث شریف کې راغلې دي چې ابي عبس ﷺ یې روایت کړی دی قال سمعت رسول الله ﷺ چې ده وویل که د چا پښې په خاورو سوې د الله تعالی په لار کې یعنې په جهاد کې حرمه الله علی النار رواه البخاري في الصحیح واحمد والترمذي والنسائي، او له ابو هریره ﷺ څخه روایت دی چې علیه الصلوٰة والسلام وویل چې حال د مجاهد في سبیل الله لکه حال د هغه چا دی چې د ورځې یې روژه وي او د شپې تولې شپې قرآن وایي نه په لمانځه کې سستي کوي او نه په روژو کې تر هغو پورې چې مجاهد في سبیل الله کور ته راځي، بخاري، مسلم کذا قال الامام المظهري رحمه الله.

دروښ وایي: چې بغوي رحمه الله وایي چې د اهل علم په دې کې اختلاف دی یعنې په حکم کې د آیت مذکوره یعنې "ماکان لاهل المدینة" الی اخیر، قتاده رحمه الله وایي چې ددې آیت حکم په علیه الصلوٰة والسلام پورې خاص دی یعنې اذا غزا بنفسه الشریفة لایجوز لاحد ان یتخلف عنه الا بعذر شرعي حق او وروسته امراً د اسلام چې غزا ته بانفسهم ووځي، نو روا ده مسلمانانو ته چې تخلف وکړي که د مسلمانانو دوی ته ضرورت نه وۀ، او ولید بن مسلم رحمه الله وایي چې ما له اوزاعي، له ابن المبارک، د ابن جابر او د سعید بن عبد العزیز رحمهم الله ددې تولو څخه واورېدل چې دوی تولو داویل ان هذه الآیة لاول هذه الامة واخیرها. او ابن زید رحمه الله وایي مسلمانان چې د هر سوه دا آیت منسوخ سو آه.

دروښ وایي: چې په څه شي سره منسوخ سو دا خو قطعي آیت قرآني دی، نو ناسخ یې هم باید قطعي وي ولم یوجد. مظهري رحمه الله چې د دین امامان رحمهم الله تولې پر دې متفق دي چې جهاد فرض کفایي دی اذا قام به جماعت من المسلمین وحصل بهم الکفایة سقط عن الباقین کصلوة الجنازة، له سعید بن المسیب رحمه الله څخه روایت دی چې جهاد فرض عین دی په سبب د دې چې آیات وارده في الجهاد عام دی، او پر متخلفینو له غزوه څخه د تبوک چې تغلیظ راغلی دی هغه هم عام دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې تغليظ پر متخلفينو له غزا ځخه د تبوک خاصه د عليه الصلوٰة والسلام وه او آيت د جهاد چې عام دی هغه په هغه وخت کې دی چې نفير عام سې په هغه صورت کې څو بالاجماع جهاد فرض عين دی او په غير کې د صورت د نفير عام فرض کافيه دی لقوله تعالى لا يستوي القاعدون من المؤمنين غير اولى الضرر والمجاهدون في سبيل الله الى قوله تعالى وكلا وعد الله الحسنى.

بوه سه: چې له ابو هريره ﷺ ځخه روايت دی چې يو څو نفرو د رسول الله ﷺ له اصحابو ځخه د يوه غره په منځ کې يوه د شرينو اوبو چينه وليدل نو يې خوند ورکړی په زړه کې يې دا قصد وکړی چې پر دې چينې واړوې له خلګو ځخه به ګوښه يې يعنې د خداى ﷻ عبادت به کوې. بيرته يې د ځان سره وويل چې دا کار او ګوښه نشينې به نه کوو چې د رسول الله ﷺ سره مشوره ونه کړو، نو راروان سو او عليه الصلوٰة والسلام ته يې د خپل قصد اظهار وکړی. عليه الصلوٰة والسلام ورته وويل لا تفعلوا يعنې داسې کار مه کوئ "فان مقام احدكم في سبيل الله افضل من صلوته سبعين عاماً اى سنةً الا تحبون ان يغفر الله لكم ويدخلكم الجنة" ولې اوسېدل ستاسې د يوه په لار کې د خداى ﷻ يعنې په جهاد کې افضل دی تر اوويا کاله لمانځه يعنې نوافل. آيا ستاسې نه ده خوښه چې تاسې يعنې په سبب د جهاد خداى ﷻ وبخښې او جنت ته مو داخل کړي؟ "اغزوا في سبيل الله من قاتل في سبيل الله فواق ناقة وجبت له الجنة" غزا کوئ په لار کې د خداى ﷻ هغه څوک چې جنګ وکړي په لار کې د خداى ﷻ په مقدار د ددې لکه د اوښې غلا چې ښځې نسې يعنې چې يو وار يې ولوشي بيا يې جونګی در ايله کړي چې اوښه شيدې پر را ايله کړي جونګی بيرته ځني ونسې او بيا يې ولوشي، دا خو د پر لږ وخت غواړي بيا هم واجب دی ده لره جنت.

مسئله: له دې حديث ځخه دا معلومه سوه چې جهاد افضل دی تر عزلت يعنې ګوښه اوسېدلو لپاره د نفلي عبادت من الصلوات والصيام وذكر الله ﷻ وغير ذالک.

مسئله: که يو سړي له غزا ځخه متخلف سي ولو کان مع رسول الله ﷺ په عذر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شرعي سره لکن نیت مصمم یې داوي که ما عذر نه درلود ای زه به هم د علیه الصلوٰة والسلام سره غزاً ته تللی وای دغه سړی د مجاهدینو سره په ثواب او اجر کي شریک دی، والدلیل علیه الحدیث الصحیح المروي في البخاري چي علیه الصلوٰة والسلام چي له تبوک څخه راستون سو خلګو ته یې وویل چي بعض اقوام موږ په مدینه کي ترشا پرې اینبي دي موږ سفر نه دی کړی مګر په یوه دره یا په یوه شپله کي الا وهم ومعنا دوی زموږ ملګري دي، بعضو اصحابو ورته وویل دوی په مدینې کي دي علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل هو! حبسهم العذر دوی زموږ څخه پاته سوي دي په سبب د عذر، نو معنا ددې حدیث داده چي دوی زموږ سره شریک دي په استحقاق کي د ثواب، ولي چي دوی زموږ ملګري دي په نیت کي وانما تخلفوا عنا للعذر، دوی چي زموږ څخه پاته سوه یعني په مدینه کي د عذر له کبله، ولو لاه لکانوا معنا ذواتاً که یې عذر نه وای دوی به زموږ سره په خپلو ځانو ملګري وای، ابن الملک رحمه الله وایي چي له دې حدیث څخه دي څوک دا ګمان نه کوي چي دغه متخلفین په سبب د عذر او مجاهدین په ثواب کي سره برابر دي لان الله قال فضل الله المجاهدین علی القاعدین اجراً عظیماً، محقق برسوي رحمه الله ددې سوال په جواب کي داسي ویلي دي چي مذکوره آیت خو مطلق دی یعني بیان د عذر او عدم عذر پکښي نسته حدیث مذکور یې قید دی یعني چي آیت مذکوره په بې عذره متخلفینو کي دی لکه هغه درې کسان چي کعب بن مالک او دوه نور رضي الله عنهم وه چي تفصیل یې دمخه تېر سو.

دروېش وایي: چي د بې عذره متخلفینو مثال یې په هغو درو سره ووایه ولي چي بې عذره متخلفین خو منافقان هم وه هغو لره خو د شراکت د مجاهدینو سره نو د آیت معنا داده چي خدای جل جلاله بالا کړي دي مجاهدین پر قاعدینو یعني من غیر عذر لکه هغه درې اجراً عظیماً، برسوي رحمه الله وایي چي دا هیڅ بعیده نه ده له فضل څخه د خدای جل جلاله چي مجاهد في سبیل الله او متخلفین لعذر مع صحة النیت دي سره برابر کي په ثواب کي بل نیة المؤمن خیر من العمل لا یحتمل الریاً دون العزیمة القلبیة فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَا يُنْفِقُونَ نَفَقَةً صَغِيْرَةً وَّلَا كَبِيْرَةً

او دوی نه خرڅوي يعني في سبيلِ الله ای الغزو يو لږ نفقه يا ډېره نفقه، لکه عثمان بن عفان او عبدالرحمن بن عوف او نور صحابه کرام ﷺ په جيش العسرة کي د تبوک کمامر تفصيله في بيان تلک الغزوة.

سوال: پر نفقه صغيره چي ثواب ورکول معلوم سوه نو پر کبيره خو په طريق اولی معلومېږي، نو اولی دا نه وه چي کبيره يې دمخه کړې وای؟

ځواب: تقديم د صغيره په اعتبار د کثرة الوقوع تر کبيره دی.

وَّلَا يَقْطَعُوْنَ وَادِيًا

او دوی نه قطع کوي په سفر کي د غزا خصوصاً غزوه تبوک يوه شپله.

پوه سه: چې وادي هغه فراخه ځای ته وايي چې اوبه او سېل پکښې بهېږي، په اصل کي "ودی" په معنی د "سال" دی. نو شپلې ته چې وادي وايي تسميه د محل ده په نامه د حال.

اِلَّا كُتِبَ لَهُمْ لِيَجْزِيَهُمُ اللّٰهُ اَحْسَنَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۲۱﴾

مگر نه ودوی ته ليکل کېږي يعني په صحائفو کي اعمال ددوی، تعليل د کتب يعني کتابت يې ددې لپاره دی چې خدای ﷻ په فضل او کرم سره ودوی ته ثواب ورکړی.

سوال: له دې آيت څخه داسي نه فهمېږي چې د حسن جزا نسته بلکې د احسن؟

ځواب: امام فخر الدين الرازي رحمه الله په تفسير کبير کي دوې وجهې ويلي دي او صاحب د روح المعاني دواړې وجهې تر تنقيد او سوال لاندې راوستلي دي.

دروښ وايي: چې تفسير ددې آيت وتوجيه او سوال جواب ته ضرورت نه لري ولې دلته خو بحث د غزواتو دی کما يدل عليه سوق الکلام ولاشک ان الانفاق في سبيل الله او قطع د شپلو في سبيل الله احسن الاعمال دی کما روی عن ابی مسعود الانصاري رضي الله عنه قال جاء رجل بناقة مخطومة فقال هذه في سبيل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الله فقال رسول الله ﷺ لک بها يوم القيامة سبعمائة (۷۰۰) ناقة كلها مخطومة رواه مسلم، والمراد والله اعلم ثواب سبعمائة ناقة، وحاصل الكلام ان ايراد احسن باعتبار المقام لالاحتراز عن الحسن فافهم.

وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُوا كَافَّةً

يعني نه ده صحيح او نه ده رواه.

پوه سه: چې عبارت د قرآن ظاهراً نفي دی لکن په معنی د نهي يعني داسې دي نه کوي، او کلمه د لام لپاره د تاکيد د نفي دی يعني نه دی وځي مؤمنان پدې طلب پسې د علم له يوه مخه يعني ټوله، ولي چې داسې خروج ژوندانه کاروبار فاسدوي کما لا يخفى، دا ترجمه د مظهري رحمه الله وه.

او روح المعاني وايي ما استقام لهم ان يخرجوا اى ينفروا جميعاً دی پې دليل دا وايي چې کلبي رحمه الله له ابن عباس رضي الله عنهما څخه داسې روايت کړی دی چې څه وخت چې خداى ﷻ په متخلفينو کې د تبوک د غزا په هر سخت الفاظ په قرآن مبارک کې نازل کړه، نو صحابه کرامو رضي الله عنهم په خپلو کې سره وويل چې له دې وروسته مونږ نه په غزا کې او نه په سريه کې (يعني کوچنی لښکر چې عليه الصلوٰة والسلام نه وي پکښې شامل) يو سړی به هم نه پاتېږو بلکې له يوه مخه به وځو وجنګ ته او داغسې يې هم وکړه او عليه الصلوٰة والسلام يې يوازې پرېښنو، نو دا آيت نازل سو انتهى قول روح المعاني. او روح البيان يې ترجمه په دواړو سره کړې حيث قال للغزوا اولطلب العلم.

فَلَوْلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَائِفَةٌ

پوه سه: چې لولا حرف تحضيض دی که څه هم پر ماضي داخل دی مراد څنې امر دی په مستقبل کې.

ترجمه: نو ولې نه وځي له هري فرقې څخه يعني له لويې قبيلې او ښار څخه د مسلمانانو يوه طائفه يعني يوه کوچنی ډله چې په عرف کې طائفه وکوچنی ډلې ته وايي يعني په طلب پسې د علم چې په پښتو يې طالبان بولي، داد مظهري رحمه الله پر ترجمه، يا د سريه سره دي يوه کوچنی ډله ووځي جنګ ته د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

روح المعاني پر ترجمه.

لِيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّيْنِ

د "يتفقهوا" ضمير راجع دی وطائفه ته لکن چونکه مونث لفظي دی فقط، نو ارجاع د ضمير مذکر ورته روا دی او جمعيت د ضمير په اعتبار د معنی د طائفې دی والمعنی چي دا کوچنی ډله به د دانشمندي حاصله کړي يعني علم دين به زده کړي. داخو د مظهري پر تفسير، او د روح المعاني پر تفسير مرجع د ضمير د "يتفقهوا" صراحةً مذکور نه دی بلکې له طائفه څخه فهمېږي، ولي چي لږ ډله چي سريه ده جنګ ته ولاړه، نو لويه ډله خو د عليه الصلوٰة والسلام سره په مدينه کي پاته سوه نو دغه لويه ډله به د عليه الصلوٰة والسلام څخه د دين علم زده کړي.

وَلِيُنْذِرُوا قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوا إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ ﴿١٢٢﴾

دا عطف دی پر "ليتفقهوا" او دوی يعني هغه کوچنی ډله چي په طلب پسي د علم وتلي وه او په مسجد او مدرسو کي يې علم زده کړی او فارغه سول يعني سند علمي يې تر لاسه کړی وه به بهروي له خدای ﷻ څخه خپل قوم چي په بنارو او باندو کي دي چي دوی رجوع وخپل قوم ته وکړي امر بالمعروف او نهي عن المنکر به ورته وکړي، داخو د مظهري ﷺ پر تفسير، او د روح المعاني پر تفسير يې معنا داده چي وه به بهروي هغه لويه ډله چي په مدينه کي د عليه الصلوٰة والسلام سره پاته وه او دوی له عليه الصلوٰة والسلام څخه دين او قرآن زده کړی وي په غياب د سريه چي جنګ ته تللي وه، قوم خپل چي هغه کوچنی ډله د سريه وه يعني په هغه امر او نهي د سريه په غياب کي دوی د عليه الصلوٰة والسلام څخه زده کړي وه "لعلهم" يعني قوم د بنارو او باندو او يا سريه والا شايد وه بهر ېږي په اندازه ددوی.

فائده: يتفقهوا" مشتق دی له نفقه څخه چي باب د تفعل دی چي لپاره د تکلف دی غالباً كما في الشافية يعني په تکلف او مشقت سره يې تفقه في الدين حاصله کړې وي، په نهايه شرح هدايه کي وايي فقه په اصل کي فهم ته وايي، او په قاموس کي وايي الفقه بکسر الفاء العلم بالشئ والفهم له والفطرة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وغلب على علم الدين لشرفه آه. امام اعظم سراج الامة ابو حنيفة رحمه الله وايي چي فقه پېژندل د نفس دی "مالها" چي د نفس نفع پکښې وي "وما عليها" چي د نفس ضرر پکښې وي.

دروېش وايي: چي دا معنا د فقهي شامل ده و علم العقائد وعلم الفقه المصطلح وعلم اصول الفقه کلها. او تخصيص د فقه د لفظ په علم الفروع سره اصطلاح جديد ده، نو دروېش وايي چي همدا وجه ده چي امام اعظم رحمه الله خپل کتاب چي په عقائدو کي يې تصنيف کړی دی د فقه اکبر نوم يې پر ايښی دی، او دروېش پر هغه کتاب د امام اعظم رحمه الله يوه لويه شرح کړې ده چي علاوه تر شرح د کتاب د امام اعظم رحمه الله د ژوند کامله تاريخچه او دده تقوی او زهد اود لوی علميت پکښې کړی دی په حواله د تواريخو معتبره وو او دا مي هم ثابته کړې ده چي امام اعظم رحمه الله تابعي ؤ وليس البيان كالعيان، نو دا شرح بايد د امام اعظم رحمه الله اهل مذهب د کتب فروشانو څخه تر لاسه کړي تاچي د امام اعظم رحمه الله حالات ورته معلوم سي، عبد الله بن المبارک رحمه الله په مدح کي د امام اعظم رحمه الله يوه پوره قصيده جوړه کړې ده چي بعض ابيات يې دادي:

لقد زان البلاد ومن عليها ..... امام المسلمين ابو حنيفة
باحكام و اثار و فقه ..... كآثار الزبور على الصحيفة
فما بالمشرقين له نظير ..... ولا بالمغربين ولا بكوفة
فمن كابى حنيفة في علاه ..... امام للحليقة و الخليفة

مسئله: معرفت د نفس مالها وما عليها عام دی که په اجتهاد سره وي او که په تقليد د يوه مجتهد حتی که مقلد علم له مجتهد څخه زده کړي او که له کتاب څخه د مجتهد يې زده کړي او يا يې له علماً برجسته څخه د مذهب زده کړي غاړې يې خلاصي دي.

مسئله: زده کړه د ټولو علومو دينيه وو فرض کفايي ده او زده کړه د هغه شي چي پر سړي فرض وي لکه لمونځ، اودس، روژه او پر غني زده کړه د زکوة او حج او پر ښځه باندي د حيض او د نفاس د مسئلو زده کړه فرض عين ده، ولهذا قال رسول الله ﷺ طلب العلم فريضة على كل مسلم رواه البيهقي بسند صحيح عن انس رضي الله عنه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروبش وايي: چي په دول د مشت نمونه خروار په باره کي د علماؤ او د طلاب العلم يو څو حديثونه تاسي ته وړاندي کوم، بخاري، مسلم او احمد له ابو هريره ﷺ څخه روايت کړی دی چي عليه الصلوٰة والسلام وويل چي خلګ دوه قسمه دي "عالم ومتعلم ولا خير في سواهما" والمعنى دغه دوې نوعي چي بنونکي او زده کونکي دي دغه خير د انسانانو دي په ماسوی په ماسوی کي ددوی چنداں خير نسته، امام محمد بن ادريس الشافعي رحمه الله روايت کړی دی "تجدون الناس معادن كمعادن الذهب والفضة فخيارهم في الجاهلية خيارهم في الاسلام اذا فقهوا" ژباړه: تاسي پيدا کوئ خلګ لکه معادن د سرو زرو او سپينو زرو، نو برګزيده ددوی په جاهليت کي يعني من حيث النسب والاخلاق برګزيده د انسانانو دي په اسلام کي هم چي فقاهت په دين کي حاصل کړي يعني د دين محمدي په اصولو او فروعو څانونه خبر کړي.

دروبش وايي: چي داخبره عليه الصلوٰة والسلام په هغه وخت کي وکړه چي مسلمانانو دده څخه سوال وکړی چي په قبائلو کي د عربو کومه قبيله غوره قبيله ده والله اعلم.

بوه سه: چي څان خبرول په دين کي دوه قسمه دي يو فرض عين دی او بل فرض کفايي دی، فرض عين علم دی په عقايدو صحيحه وو سره ولو اجمالاً چي ددې لپاره زده کړه د آمنت بالله تر پايه پوري سره د ترجمې د عوام الناس نرو او بنځو لره کافي ده، او په فروع کي د دين چي هر سړی حاجت ورته لري زده کړه يې فرض عين ده ولو من السنة العلماً الفقهاً لکه طهارت يعني اودس، غسل د جنابت طهارت الثياب او لمونځ سره د ارکانو او واجباتو او سننو او مندوباتو ومايتعلق بالصلوة والصوم روژه سره د خپلو شرائطو او دغه رنګه کړه د هر عبادت چي شرعي فرض کړی وي پر اديانو فيجب على المسلم معرفة احكامها كعلم الزكوة من مقاديرها ونصبها ومصارفها ومعرفة احكام الحج وانواعه وفرائضه وواجباته وهذين العلمين يجب على الاغنياً، او دغه فرض عين د علم د معاملاتو چي جاري بين الناس دی واجبه چي احکام يې زده کړي مثلاً بيع صحيح او فاسده او ربوا د تاجرانو لپاره، او علم د اجاراتو الى غير ذالک عوامو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لره لاذمه ده چي په دې باره کي علماً ته د دين رجوع وکړي.

دروښ وايي: چي په صحيح حديث کي چي روايت يې ډېرو کتابونو د حديثو کړی دی راغلي دي عن انس ﷺ چي د طالب العلم لپاره طلب د بخښني کوي هر شی حتی ماهيان په درياب کي، او فرض کفايه علم دادی چي يو څوک په هر باب کي د علم دومره معلومات حاصل کړي چي د فتوی ورکولو درجې ته ورسېږي، نو که ټوله اهل بلد د داسي علم له حاصلولو څخه کښېنستل ټوله ګناه کاره دي په ګناه کبيره سره، او که يو نفر په ښار کي دا وظيفه د فتوی حاصلد کړي د نور اهل اللبلد غاړې خلاصي سوې او پر خلګو د هغه تقليد د هغه عالم واجب دی کوم حوادث او واقعات چي ودوی ته پېښېږي او د علم تحصيل او نبوونه وبل ته تر هر عبادت نافله بهتره ده، قال رسول الله ﷺ طلب العلم افضل عندالله من الصلوة والصيام والحج، والمعنى والله اعلم افضل من النفلي من هذه العبادات، او تر جهاد في سبيل الله، والمعنى والله اعلم چي د جهاد نضير عام نه وي، او دا حديث صاحب الفردوس له ابن عباس ﷺ څخه روايت کړی دی، وفي الحديث طلب العلم ساعة افضل من قيام ليلة وطلب العلم ساعة افضل من صيام ثلثة ايام، وقال رسول الله ﷺ فضيلت د عالم (يعني چي صرف فرائض پر ځای کوي نور نفلي عبادات نه کوي) پر عابد باندي چي نفلي عبادات لکه نفلي لمونځونه، نفلي روژې، نفلي خيراتونه وغير ذالک کوي لکه زما فضيلت پر ادنی ستاسي، وان الله وملائكته واهل السموات والارضين حتى النملة في جحرها، حتى چي مېږی په خپل غار کي او حتى ماهی په اوبو کي، دعا د خير او مغفرت کوي و هغه چاته چي خلګو ته خير يعني د دين عقائد يا احکام ورښيي، رواه الترمذي بسند صحيح عن ابي امامة ﷺ، وقال رسول الله ﷺ فقيه واحد اشد على الشيطان من الف عابد، رواه الترمذي وابن ماجه عن ابن عباس ﷺ، وقال رسول الله ﷺ انسان چي مړ سي عمل يې ټوله قطع کېږي مثلاً لمونځونه، روژې وغيرهما الا من ثلثة، الا من صدقة جارية، چي صدقه جاريه وروسته تر مرګ هم لکه يو مسجد چي يې جوړ کړی وي او يا يو عمومي پل وغيرهما، او علم ينتفع به، يا يې علم پاته سي چي خلګ نفع پر اخلي وروسته تر مرګ دده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مثلاً شاګردان يې پاته سي چې هغه پيا نورو خلګو ته تعليم کوي.

دروښ وايي: چې که څوک په علم دين کې يو کتاب تصنيف کړي او پر هغه باندې مسلمانان نفع اخلي، نو دا هم صدقه جاريه ده او هم علم ينتفع به دی، او ولد صالح يدعوله، او يا ولد صالح چې پلار ته دعا کوي، په صالح سره يې مقيد کړی ولې د غير صالح زوی دعا مستجابه نه ده.

پوه سه: چې په حديث شريف کې ولد ذکر سوی دی چې نر او ښځې دواړو ته شامل دی، او د يدعوا له قيد ددې لپاره راوړه سو چې زوی باعثه کوي پر دعا و پلار او مور ته ورنه پلار او مور په صالح عمل کې د اولاد شريکان دي بيله دعا کولو د اولاد.

مسئله: که يو سړی د مور او يا د پلار عاق وي او په هغه عقوق کې والدين ځني مړه سي، زوی دي دا کوشش کوي چې همېشه دي دعا ورته کوي او قبر ته دي ورځي دهر شايد په دې کردار سره د زوی به عقوق دفعه سي، په يو حديث کې راغلي دي چې يو پلار چې زوی يې عاق ؤ او پر هغه عقوق مړ سو او زوی هم وروسته تر مړينې د پلار هغه کردار چې مور آنفاً ذکر کړی نه وکړي په حديث کې وايي چې ورځ چې د قيامت سي زوی خو په سبب د عقوق د پلار دوزخ ته ملکي بيا يي او دوزخ ته تر رسېدلو دمخه د هغه پلار يې بيا خپله شخصي ګناه ملکو د دوزخ پر خوا راروان کړی وي تر دوزخ دمخه پلار او زوی سره ووينې، زوی يې وخداى ﷻ ته وايي چې د پلار عذاب پر ما واچوه او دی جنت ته واستوه، د خداى ﷻ له خوا څخه نداً وکړل سي چې اې عاقه زويه څرنګه دي په قيامت کې د پلار حق ورپر ځای کړی او ځان دي بار وګرځاوه، ځې دواړه ولاړ سئ جنت ته.

دروښ وايي: چې دا د هغې فارسي مقولې يوه نمونه ده: به بهانه نمي بخشد به بهانه مي بخشد.

دروښ وايي: چې ټوله احاديث چې په مدح کې د طالبانو يا د استاذانو تاسي واورېدل، دا ټوله مشروط په احسان او اخلاص سره دی چې عجب يعني خود بيني، کبر او رياً او حسد او سمعه يعني آوازه او حب الدنيا او کسل يعني سستي په عباداتو کې د خداى ﷻ به نه ورسره ملګري، قال رسول الله ﷺ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لا يقبل من العمل الا ماكان خالصاً وابتغى به وجهه تعالى رواه النسائي عن ابي امامة ﷺ وقال رسول الله ﷺ ان الله لا ينظر الى صوركم واموالكم ولكن ينظر الى قلوبكم، رواه مسلم عن ابي هريرة ﷺ.

دروپش مبگوید مثال ریا کاران وخود پسندان حباب است، بر سر آب ودریا میباشند ومثال خدا شناسان بقدرت وجلال وجمال ونفس ناکاره خود را بعیب وگمراهي واماره بالسوء بودن دیده گان مثال درلا لا است که درقعر دریا خفته اند نه بینی که مجدد الف ثاني حضرت شیخ احمد السرهندي قدس سره به پیر بزرگوار خود چون مینویسد، که مصداق من عرف نفسه فقد عرف ربه میباشد، عرضداشت مدبر سیاه، ومقصر بد خو معزور وقت وحال مفتون وصل وکمال کارش همه وهمه نافرمانبرداري مولی است، وعملش همه بترک غزیمت و اولی است، نظرگاه خلق را آراسته ومنظر حق تعالی وتقدس خراب ساخته، همتش همه مقصور بر ظاهر آرایي است وباطنش ازین رهگذر هموار برسوایی است، قال او منافی حال است وحال او مبنی بر خیال او ازین خواب وخیال چه آید وازین قال وحال چه کشاید ادبار وخسارت نقد وقت است، عبادت وضلالت برکف دست، لعب وفساد وشرارت است، منشأ ظلم ومعصیت وباجمله عیوب مجسمه است وذنوب مجتمعه خیرات او لائق لعن ورد، وحسنات او شایان لعن وطرد قال ﷺ رب قارئ القرآن والقرآن یلعنه درحق گواه عدل است، وکم من صائم لیس له من صیامه الا الظمأ والجوع درشان او شاهد صدق است، فویل لمن کان هذا حاله ومنزلته وکماله درجته، استغفار ذنب کسائر الذنوب بل اشد وتوبته معصیة کسائر المعاصی بل اقبح کل ما یفعله القبیح قبیح مصداق این سخن است، مصرع: وگندم زجوز جو گندم نیاید، مرض اوذاتی است، علاج نمی پزیرد، ودای او اصلی است قبول دوا نمی کند، گفته اند ما بالذات لا ینفک عن الذات، مصرع: سیاهی از حبشی کی رود که خود رنگ است، چه توان کرد، وما ظلمهم الله ولکن کانوا انفسهم یظلمون، الی اخیر المکتوب والی ههنا کان مقصود العبد الضعیف محمد عبیدالله غفرله المولی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قَاتِلُوا الَّذِيْنَ يَلُوْنَكُمْ مِّنَ الْكُفَّارِ

اې هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی، تاسي جهاد کوئ د هغو کسانو سره چې تاسي ته نژدې وي له کفارو څخه یعني الاقرب فالاقرب في الجوار والنسب، ولي چې جهاد د کفارو سره د شفقت او اصلاح له لاري څخه دی نه د عناد شخصي او د حسد له لاري څخه، نو اقرب خو احق بالشفقة والاصلاح دی وهذا هو سر قوله تعالى لرسوله ﷺ "وانذر عشيرتک الاقربين" او علیه الصلوٰة والسلام هم داغسي وکړه چې د صفا پر غره ودرېدی او ناره یې کړه یا بني عبد المطلب آه او بیا چې علیه الصلوٰة والسلام ومدیني ته هجرت وکړی بیا ورته نژدې بني نضیر او بیا قریضه د هغو په قتال خدای ﷻ امر کړی وروسته د خیبر په جهاد مأمور سو ثم وثم او چې علیه الصلوٰة والسلام د عربو له جهاد څخه فارغ سو بفتح مکة بیا مأمور سو په قتال د روم چې د تبوک غزا وه، ولي چې رومیان په شام کې وه او شام مدیني منورې ته نژدې ډېر عراق چې تفصیل د تبوک د غزا وراندې تېر سو.

دروښ وایي: چې د اقرب په جهاد دا وجه هم ده که چېرې مسلمانان تر اقرب دمخه یعني چې اقرب په جوار کې وي د ابعد سره جهاد شروع کړی، نو قریب کافران سمدلاسه پر ضعفا ؤ او پر بښځو او پر ولدانو د مسلمانانو حمله کوي، او بله دا وجه هم ده چې اقرب فالاقرب خو نهایت لري او معلومېږي او ابعد خو پای نه لري بل یمتد الی انقطاع الارض المسکونة.

پوښتنه: په اول کې د سورة خدای پاک داسي وویل "قاتلوا المشرکین حیث وجدتموهم" او دلته یې اقرب ذکر کړی فما وجه التوفیق؟

ځواب: دا معلومه او اظهر من الشمس خبره ده چې د دنیا د تولنو کفارو سره جنګ په یوه زمانه کې خو له امکان څخه لېرې خبره ده، نو خو له بعضو کفارو سره به جنګ کوئ وهو المراد في الآية المذكورة چې جنګ د بعض کفارو مراد وي، نو اقرب اولی بالقتال دی للوجوه التي ذكرناها، او بعض مفسران وایي چې مراد په دې آیت کې دادی "قاتلوا المشرکین الاقرب فالاقرب الی ان تصلون الی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الابعد فالابعد وهو المراد من قتال المشركين كافة" او د حسن بصري رحمه الله څخه چا نقل کړی دی چې دا آیت یعني "قاتلوا الذين يلونكم الآية" منسوخ دی په هغه آیت سره چې قاتلوا المشركين كافة. روح المعاني دا خبره په سختي سره رد کړې ده دی وایي چې د اقرب فالاقرب څخه اخیر وار وه ابعد فالابعد ته رسېږي وهو المراد بقوله تعالى قاتلوا المشركين حيث وجدتموهم، قاتلوا المشركين كافة فافهم.

وَلْيَجِدُوا فِيكُمْ غِلْظَةً

او کفار دي وويني په تاسي کې اې مسلمانانو غلظة ددوی سره، نو دا امر دی مسلمانانو ته چې تاسي ددوی سره نهایت غلظة کوي حتی چې کفار ستاسي غلظه محسوس کړي.

وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ ۝

او په دې پوه سئ اې مؤمنانو چې خدای ﷻ په عون او نصرت سره ملګري دي د متقینو چې تاسي یاست نه ده کفار، نو ددوی په قتال باک مه کوئ. في المثنوي:

هر پیمبر سخت روبد درجهان ..... یکسواره گفت برجیش شهان
رونگردانید از ترس و غمی ..... یک تن تنها بزد بر عالمی

سکندر ته چا وویل چې د دارا چې د سکند ورسره نیت د جنګ ولس لکه فوج ورسره دی، سکندر ورته وویل چې قصاب له دې ډېر والي څخه د پسونه ښه ښکاري، د عربو دا مقوله ده الشجاعة وقاية، والجبن مقتلة، بیت:

زهره مردان نه داری چون زنان درخانه باش
ور بمیدان میروی از تیر باران بر مگرد

سعدي رحمه الله مېګوید:

آنکه جنگ آرد بخون خویش بازی میکند
روز میدان وانکه بگریزد بخون لشکری

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِذَا مَآ أُنزِلَتْ سُورَةٌ فَمِنْهُم مَّن يَقُولُ أَيُّكُمْ زَادَتْهُ هَٰذِهِۦٓ إِيمَٰنًا

او هغه وخت چې نازل به کړه سو یو سورت یعني له جانبه څخه د خدای ﷻ پر رسول الله ﷺ باندې، نو بعضو د منافقانو به ویل وخپلو هم جنسانو ته یعني د استهزاً پر ډول، چاته ستاسي زیات کړی دی سورت ایمان؟ یعني تصدیق پر نبوت د علیه الصلوٰة والسلام او پر حقیقت د قرآن.

فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ فَزَادَتْهُمْ إِيمَٰنًا

کلمة الفاً لتفصیل حال السامعین للسورة، پس هغه کسان چې ایمان یې له پخوا راوړی ؤ هغو ته دي سورت زیات کړي ایمان په سبب د زیادت د علم چې ودوی ته به حاصل سو ددې سورت په معاني او احکامو او یا قصص او امثالو کې له فکر وهلو څخه. نو دا لوی ایمان پر دې سورت به زیات سو پر پخواني ایمان ددوی پر نورو سورتونو.

وَهُمْ يَسْتَبْشِرُونَ ﴿١٢٤﴾

او مسلمانان په خوشاله وه په نزول ددې سورت لزیادة علمهم وکمالهم وارتفاع درجات قربهم الی الله ﷻ.

پوښتنه: په نېز د معظم د اهل السنة والجماعة ایمان زیادت او نقصان نه قبلوي ولې چې مؤمن به د تولو د مسلمانانو سره یو دی، البته قوت او ضعف په مشاهده سره د احوال نزول کما في الصحابة ﷺ او یا په کثرت او قلت د دلائلو عقلیه او نقلیه ؤ الی غیر ذالک قبلوي فما معنی قوله تعالی زادتهم ایماناً؟

ځواب: امام مظهري رحمه الله په مسئله کې د قبول د ایمان زیادت او نقصان هیڅ نه دی ویلی، لکن آلوسي رحمه الله صاحب د روح المعاني وایي پر خلاف د لوبي ډلې د اهل السنة والجماعة داسي ویلي دي په صفحه پینځوسمه (۵۰) کې تفسیر الجزء (۱۱) وقبول التصدیق نفسه الزیادة والنقص الشدة والضعف مما قال به جمع من المحققین وبه اقول لظواهر الآیات انتهی.

دروېش وایي: چې علامة تفتازاني رحمه الله په شرح العقائد کې وایي چې قبول د زیادت او نقصان د ایمان لکه چې په دې آیت کې راغلي مخصوص دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په زمانه پوري د عليه الصلوٰة والسلام په اعتبار د زيادت او نقصان د مؤمن به لان القرآن كمل نزوله في (٢٣) سنين نبوته ﷺ وكلما نزل سورة او آية آمن بها اصحاب رسول الله ﷺ فزادت تلك السورة او الآية لهم ايماناً مع ايمانهم ولله درصاحب روح البيان حيث قال في ص (٥٤٠) في تفسير الجزء (١١) مانصه هذا مخصوص بزمان النبي ﷺ يعني باعتبار المتعلق، واما الآن فالمذهب على ان الايمان لايزيد ولاينقص وانما تفاوت درجاته قوة وضعفاً فانه ليس من يعرف الشئ اجمالاً كمن يعرفه تفصيلاً يعني ان الثاني قوي من الاول كما ان من يرى الشيئ من بعيد ليس كمن يراه من قريب فصورة الايمان هو التصديق اجمالاً او تفصيلاً. انتهى بقليل تقديم وتأخير وزيادة.

دروښ وايي: چي بعض اهل الزواهر والمعتزلة وايي چي اعمال په ايمان کي داخل دي نو ددوی په ټټر قبول د زيادت او نقص په ايمان کي ظاهر دی لان ايمان من يقيم الصلوات ويؤتى الزكوٰة ويصوم رمضان ويحج البيت كالاغنيا ازيد بكثير ممن يصلى ويصوم كالفقرا وموضع تحقيق هذه المسئلة كتب علم العقائد فليراجع اليها.

وَاَمَّا الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ فَزَادَتْهُمْ رِجْسًا اِلٰى رِجْسِهِمْ وَمَاتُوْا وَهُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿١٢٥﴾

او هغه کسان چي په زړو کي مرض وي "اې شک ونفاق وسوء العقيدة" هغو ته زياتوي سورت نازله نجاست د کفر نوين چي په سورت نازله سره وکړی مضموماً وهغه نجاست سابقه ته ددوی يعني كفرهم ونفاقهم السابق بالآيات والنذر، او دا کفر او نفاق پاته ؤ بلکې روز افزون مخ پر ازدياد ؤ تر څو چي دوی مړه سوه او حال دا چي دوی کافران وه.

دروښ وايي: چي مظهري رحمه الله تعالى په اخير کي د مجاهد رحمه الله تعالى قول راوړی دی وهو هذا وفي هذه الآية دلالة على ان الايمان يزيد وينقص آه، نور يې نو اظهار د خپلي عقيدې نه دی کړی، نو داسې فمفهومي چي مظهري هم د ايمان په زيادت او نقص قائل دی، ورنه د مجاهد رحمه الله تعالى قول څو قابل د توجيه دی يعني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

في زمان النبي ﷺ لان الآية نزلت في اصحاب النبي ﷺ واهل الشك والنفاق.

پوه سه: چې مظهري رحمه الله وروسته يو بل حديث په روايت د علي ﷺ راوړی دی چې دی تائيد د خپل مذهب په کوي چې ايمان زيادت او نقص قبلوي، علي ﷺ وايي چې ايمان ابتداءً يو سپين تکی پيدا کوي په زړه کې د کلما ازداد الايمان عظماً ازداد ذالک البياض.

دروېش وايي: چې مظهري رحمه الله دغه عبارت تائيد د خپل مذهب بولي وکلما ازداد الايمان عظماً آه او دا عبارت پر ازدياد ايمان مطلقاً دلالت نه کوي بلکې دا ايمان خو په زمانه کې د عليه الصلوٰة والسلام چې نزول د آياتو او سورتو به جاري ؤ ونحن نقول بذالک کمامر. حضرت علي ﷺ وايي چې يبيض القلب کله او نفاق اول لکه يو تور تکی په زړه کې پيدا کېږي فکلما ازداد النفاق ازداد ذالک السواد حتى يسود القلب کله. او علي ﷺ وايي چې قسم په خدای دی که تاسې ځيګر د مؤمن ور ځيرې کړئ چې زړه يې معلوم سي لوجد تموه ابيض ولو شققتم عن قلب منافق لوجد تموه اسود، انتهى الحديث مع ترجمة بعض العبارات الخفية، والله الموفق واعلم بمراده في كتابه.

أَوَلَا يَرَوْنَ أَنَّهُمْ يُفْتَنُونَ فِي كُلِّ عَامٍ مَّرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ لَا يَتُوبُونَ

پوه سه: چې بعض له قرأ سبعه وو ځخه "يرون" بالتأ للخطاب وايي چې مخاطب يې مؤمنان دي، او بعض قرأ يې په يا د غيب وايي چې مراد ځنې منافقان دي، ژباړه: دوی نه وينې يا تاسې نه وينئ چې دغه منافقان اخته کېږي په اقسامو سره د بلا وو چې امراض او شدائد دي، قتاده رحمه الله وايي چې په امر د غزا مع رسول الله ﷺ نو دوی وينې خپل نفاق او تاسې هم وينئ ددوی نفاق چې د کاذبو بهانو او ناحقه قسمو تخلف کوي لکه چې په تفصيل کې د غزوة التبوک تېره سوه "مرة آه" يو وار يا دوه واره او بيا هم دوی توبه نه کاږي د نقض العهد او د نورو ګناهو او له نفاق ځخه چې دوی نه يې دغه بلاوي او رسوايانې ور په برخه کړې.

پوه سه: چې له "مرةً او مرتين" ځخه عدد مذکور معين نه دی مراد بلکې مراد ځنې مطلق تکثير دی د بلاؤ پر دوی باندې، او "ثم لايتوبون" عطف دی پر "لايرون" او داخل دی تحت الانکار والتوبيخ چې په همزه کې د "اولا يرون" ؤ او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

واو په ولا یرون کي معطوف دی پر مقدر بعد الهمزة چي دلته یې تقدیر داسي دی "ایفعلون المنافقون مافعلوا ولا یرون".

دروښ وایي: چي دا عطف پر مقدر قانون کلي نحوي دی چي هر ځای په قرآن مبارک کي چي تر همزه د استفهام حرف عطف راسي یعني واو یا فا یا ثم هغه معطوف پر مقدر دی وقد انعقد علی هذا اجماع المفسرین.

وَلَا هُمْ يَذَّكَّرُونَ ﴿١٢٦﴾

او نه دوی پند اخلي ددغو بلا یا وو ځخه چي هر کال مسلط کیږي. یعني باید ایمان یې په صدق او صمیم القلب سره راوړی وای او نفاق یې ترک کړی وای.

پوه سه: چي اصل د "یذکرون" یتذکرون" ؤ تا یې په ذال کي مدغمه کړه. نو ددې آیت چي "انک لاتسمع الموتی" او ددې آیت "لتنذر من کان حیاً" هم دغه منافقین او نور مشرکین مکه دي مصرین پر شرک وه لکه ابو جهل بن هشام وغیره، کذا قال نجم الدین في التاویلات النجمیة، قال جلال الدین الرومي قدس سره السامي في المثنوي المعنوي:

ورنگویی عیب خود باری خمش ..... از نمایش واز دغل خود را به کش
گر تو نقدی یا فتی مکشادمان ..... هست د ره سگنهای امتحان
گفت یزدان از ولادت تابحین ..... یفتنون کل عام مرتین
امتحان بر امتحان است ای پسر ..... هین به کمتر امتحان خود را امحز
ماهیان را بحر نگدازد برون ..... خاکیان را بحر نگذارد درون

وَإِذَا مَا أُنزِلَتْ سُورَةٌ نَّظَرَ بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ ۖ

چي نازل به کړل سو یو سورت چي په هغه کي بیان احوال المنافقین وي او علیه الصلوٰة والسلام به هغه سورت قرائت کړي په یو محفل کي چي منافقان هم پکښي حاضر وي "نظر بعضهم آه" جواب د "اذا" دی وګوري بعض د منافقانو ونورو ته د دوی.

پوسه: چي مراد د نظر ځخه نظر مخصوص دی چي دلالت پر طعن په سورة کي او استهزا په هغه سورة کوي او د ستر ګو اشارې سره کوي انکار الها

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وسخرية بها" او دوی د جهت د کراهته د سورة او د خپلو عيبو د اوربدو څخه تنګ سي نو اراده د وتلو لري، نو يو وبل ته پټ ووايي.

هَلْ يَرٰىكُمْ مِّنْ اَحَدٍ ثُمَّ انْصَرَفُوْا ؕ

يعني چي تاسي وينې يو څوک د مسلمانانو څخه چي ددې مجلسه مونږ ولاړ سو، نو که چانه ليدل نو د مسجد نبوي ﷺ څخه ووزي او چي وبه وتل دباندې بې خندل د پسخند پر ډول په سورة نازله سره او که چا به لېدل نو به ناست وه او دغم په زانګو کي به زنګېدله "ثم انصرفوا" بيا به ولاړ سوه د مجلس د رسول الله ﷺ لثقل سماع السورة التي فيها بيان المنافقين عليهم او څوک وايي چي منصرف به سوه د ايمان څخه د هغه سورة.

صَرَفَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُوْنَ ۝

خدای ﷻ مصروف کړي دي زړونه د دوی د ايمان څخه مجازا تا بفعلهم، په سبب د دې چي دوی يو داسي قوم دی چي په حق نه پوهېږي او فکر په آياتو کي د قرآن نه وهي.

درويش وايي: چي د ابي بکر الوراق رحمه الله څخه روايت دی چي زړه شپږ حاله لري (۱) حيوة (۲) وموت (۳) صحة (۴) وسقم (۵) ويقظة (٦) ونوم، نو ژوند يې هدايت دی، او مرګ يې ضلالة دی، او صحت يې صفايې ده، او ناجوړي يې علاقي دي د خلګو سره، او وېښ والی يې ذکر دی، او نوم يې غفلت دی، قال المولوي المعنوي جلال الدين الرومي قدس سره في المثنوي.

هر صبا حي چون سليمان آمدي ..... خاشع اندر مسجد اقصیٰ شدي
نو گيا هي رسته دېدي اند رو ..... پس به گفت نام و نفع خود بگو
تو چه داروئي وچه نامت چه ا ست ..... تو زيا ن که و نفعت برکه هست
پس بگفتي هر گيو هي فعل ونام ..... که من آنرا جانم و اين را حمام
پس سليما ن د يد ا ندر گوشه ..... نو گيا هي رسته همچون خوشه
گفت نامت چيست بر گوبی د هان ..... گفت خروبست ای شاه جهان
گفت اندر تو چي خا صيت بو د ..... گفت من رستم مکان ويران شود

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بس سليمان آن زمان دانست زود ..... كه اجل آمد سفر خواهم نمود
گفت تا من هستم اين مسجد يقين ..... در خلل ناید ز آفات زمين
پس خراب مسجد ما بيگمان ..... بنود الا بعد مرگ ما بدان

درويش ميگويد " اللهم اجعلنا من المتدبرين والمتذكرين والمعتبرين "
سعدي شيرازي چه خوش ميگويد.

پند گير از مصائب ديگران ..... تا نگيرند ديگران ز تو پند
نرود مرغ سوی دانه فراز ..... چو ديگر مرغ بيند اندر بند

لكن بعض انسانان تر مرغانو ناپوه دي،

لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ

كلمه د لام مؤطئه د قسم ده په تحقيق تاسي ته راغلی دی رسول چي مراد څندي محمد ﷺ دی ستاسو له جنس څخه.

پوه سه: چي ظاهره معنی دا ده چي مخاطب په انفسكم عرب دي فالمعنی قسم په خدای دی چي تاسي ته راغلی دی ای عربو رسول چي هغه لكه تاسي عرب دی د اولاد د اسمٰعيل عليه السلام چي تاسي په نسب هم پيژني او په ژبه يې هم پوهيږئ وهذه نعمة عليكم او تاسي په اسانی سره استفاده څندي كولای سئ ابن عباس وايي چي په عربو كي هيڅ قبيله نسته چي عليه الصلوة والسلام چي وزيږيدی مگر ده لره په دوی نسب سته يا د پلار د خوا يا دنيكه د خوا يا د مور د خوا الی غير ذلك، روح البيان اول ترجمه داسي كړې ده چي مخاطب جنس بشر دی، ای آدمي مثلكم لا من الملائكة ولا من الجن ، ولي بيا به ستاسي نفرت څندي كيدای او په سبب د نه جنسيت به مو دده متابعت نه كولای ويؤيده قوله تعالی.

قل انما انا بشر مثلكم " وقوله لقد من الله على المؤمنين اذ بعث فيهم رسولا من انفسهم " ولي مؤمنين خو عام دي عربو عجمو دواړو ته شامل دي او عليه الصلوة والسلام د تولو سره شريك په شريعت كي دی، روح المعاني اول احتمال دا راوړی دی چي مخاطب عرب دي او احتمال د دې چي مخاطب نفس بشر دی په قيل سره راوړي دي، او مظهري يوازي احتمال ده خطاب د عربو راوړی دی او تفسير قرطبي هم دواړه احتماله راوړي دي وكذا الامام الرازي رحمه الله في تفسيره الكبير.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې ابن عباس ﷺ او زهري او ابن محيصن دا لفظ په فتحه د فا وايې يعنې پر هغه قرائت د اسم تفضيل چې مشتق د نفاست څخه دی وهو الشرافت او عليه الصلوة والسلام د اشرف قوم څخه د عربو دی.

په حديث شريف کې چې روايت يې بغوي رحمه الله و ابن عباس ﷺ ته رسولی دی، دی ﷺ وايې چې رسول الله ﷺ وويل ما ولدني من سفاح الجاهلية شئ ما ولدني الا نكاح كنكاح الاسلام وفي رواية من آدم عليه الصلوة والسلام.

ژباړه: زه نه يم زېږېدلی له زنا څخه د وخت جاهليت، هېڅ شي زه نه يم زېږولی مګر نکاح لکه نکاح د اسلام د زمانې څخه د آدم عليه السلام.

دروښ وايې: وهذا من نفاسة وشرافة نسبه ﷺ الى آدم عليه السلام.

پوه سه: چې محمد رسول الله ﷺ ابن عبد الله ابن عبد المطلب بن هاشم بن عبد مناف، بن قصی بن کلاب، او په کلاب کې سره جمع کېږي نسب د ده ﷺ او نسب د مور يې، ولې چې مور د ده آمنه بنت وهب بن عبد مناف بن زهره بن کلاب او بنو هاشم افضل د قبائلو دي تر اسمٰعيل عليه السلام پورې په سبب د خصالو حمېده وو د دوی، وکلاب بن مرة بن کعب بن لوئ بن غالب بن فهر او علماً د انسابو بيانونکي په اتفاق دا وايې چې قريش له فهر څخه راجلا سوي دي، نو فهر جمع کونکی دی د قريشو او فهر ته قريش په دې سبب وايې لانه كان يقرش اى يفتش عن حاجة المحتاج فيسدها بماله، او د فهر زامنو تلاش کاوه د حوائج د اهل موسم الحج، نو د هغو سره يې مالي مرسته کوله او حاجيانو ته يې په موسم کې د حج ډوډۍ ورکوله چې دې ته په عربي رِفادة ويل کېدله او تر هغو به دا رفادة جاري وه چې حاجيان به سره متفرق کېدله، ولې چې قريشو به په زمانه کې د قصی بعض خپل اموال سره جمع کوله، نو قصی له هغو اموالو څخه ډوډۍ د حاجيانو برابروله او هغو حاجيانو ته يې دا ډوډۍ ورکوله چې د هغو سره به زاد سفر الحج نه وۀ، وروسته تر قصی دا وظيفه بيا عبد مناف پر غاړه واخستله. وروسته تر عبد مناف دده زوی هاشم پر غاړه واخستله، او وروسته تر هاشم بيا دده زوی عبد المطلب دا وظيفه پر غاړه واخستله، وروسته تر عبد المطلب بيا دده زوی ابو طالب او بعض وايې عباس ﷺ پر غاړه واخستله ثم وثم الى زمنه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

علیه الصلوة والسلام وزمن خلفاً الراشدین ﷺ. وعن انس ﷺ حب قریش ایمان وبغضهم کفر.

دروښ وایي: چي محبت د قریشو په هقیقت کي محبت دی د نسب د علیه الصلوٰة والسلام فهو ایمان وکذا بغضهم بتلک الهیئة بغض لنسب علیه الصلوٰة والسلام فهو کفر.

عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ

مظهري رحمه الله وایي نقلاً چي کلمه د ما زائده ده. وروسته یې ترجمه داسي کړې ده ای عنتکم یعني ترجمه یې په مصدر کړې ده، نو تعجب دادی چي ما زائده سي نو "عنتم" چي فعل دۍ په څه شي مصدر سو؟! والصواب ماقال صاحب روح البیان کلمة ما مصدریة آه. وایضاً قال القتیبي رحمه الله ما اعنتکم وضرکم یعني ان کلمة ما موصولة فهو صحیح ایضاً.

بوه سه: چي "عنت" وقوع ده په امر شاق کي واشق الامور دخول النار. او "ماعنتم" مبتدأ ده او "عزیز علیه" یې خبر مقدم دی او جمله صفت د "رسول" دی والمعنی شاق علیه عنتکم او ما عنتکم ای لحوقکم الشدة. او ما یلحقکم من الشدة والا لم یترک الایمان. نو دی ﷺ پر تاسي ببرېدي د سوء العاقبة والوقوع في العذاب.

دروښ وایي: چي دا د غایت شفقت د علیه الصلوٰة والسلام نتیجه ده پر خپل قوم باندي او دا نتیجه بیا نتیجه د مجانست في العربیة ده.

دروښ وایي: چي حسین کاشفي رحمه الله په تفسیر حسیني کي وایي که بعض قاریان بر عزیز وقف کرده اند وآنرا صفت رسول الله ﷺ دانند (یعنی صاحب العزة والجاه عند الله) ومعنی علیه ما عنتم. فرود آرند که برویست آنچه بکنید ازگناه (یعني اې مؤمنانو ولي چي د کافر شفاعت خو نسته بالاجماع) یعني اعتذار آن برویست درروز قیامت بشفاعت تدارک آن خواهد کرد وبرین معنی گفته اند:

نماند بعصیان کسي درگرو ..... که دارد چنین سیدی پیش رو
اگر دفترت از گناه پاک نیست ..... چو او عذر خواهت بود باک نیست

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروبش وايي: چي دا قرائت روح المعاني هم راوړی دی. دی وايي چي ماعنتكم ابتدأ كلام ای يهمه ويشق عليه عنتكم. دا ترجمه بنأ پر دې ده چي كلمه د على لپاره د ضرر ده يعني ضرر رسوي او تكليف ورکوي ستاسي عنت.

دروبش وايي: چي وګورئ څوندي تفاوت دی په منځ کي د ترجمې د حسين كاشفي رحمه الله او د ترجمې د روح المعاني پر دغه قرائت:

ع.... ببين تفاوت راه است از كجا بكجا.

حَرِيْصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿

او حرص لري دغه رسول ﷺ، صفت بعد صفت دی د رسول الله ﷺ پر ايمان ستاسي او پر اصلاح د شان ستاسي، موږ ولي مضاف مقدر کړی ای لفظ الايمان والاصلاح لان الحرص انما يتعلق بالافعال لا بالذوات كما لا يخفى "بالمؤمنين آه" او پر مؤمنانو كه ستاسي عربو څخه وي او كه له بل قوم څخه وي شديد الرافة دی او مهربانه دی.

سوال: رؤف څو ابلغ دی تر رحيم كما علمت نو ترقي څو د ادنى څخه و اعلى ته. نو د څه حكمت د رؤف دمخه کړی؟

ځواب: لپاره د موافقت د آياتو اواخرو كما هو الاليق بشان القرآن العظيم الجليل.

فائده: بالمؤمنين چي متعلق په رؤف رحيم پورې دی دمخه يې کړی لپاره د حصر او اختصاص يعني لا ترأفة ولا رحمة الا بالمؤمنين واما الكفار فلا رأفة ولا رحمة لهم.

فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ حَسْبِيَ اللّٰهُ ﴿

كه دوی اعراض وکړي له ايمان څخه او لاړ د جنګ خپله کړي. نو ته ورته ووايه چي كافي دی ما لره خدای ﷻ يعني زما سره كومک وکړي په جنګ کي ستاسي سره، او خدای ﷻ دا وعده پوره کړه كما في بدر. وفتح المكة بل في جميع المحاربات الواقعة بين رسول الله ﷺ وبين جماعات الكفار.

لَآ إِلٰهَ إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ ﴿

نشته معبود بالحق پرته ده، ومن شان المولى ان يعين عبده فهو كالدليل لما قبله "عليه توكلت" پوه سه! چي تقديم د جار او مجرور لپاره د حصر دی ای

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لا ارجوا ولا اخاف الا منه، او دی خالق دی د عرش عظیم.

پوه سه: چې تخصیص د عرش چې یې په ذکر سره وکړی لانه اعظم المخلوقات، که څه هم خدای ﷻ خالق د ټولو ممکناتو دی ولکل ذرة من ذرات العالم.

دروښ وایي: چې له ابی بن کعب ﷺ څخه روایت دی وایي چې اخیر د ما نزل من القرآن هاتان الآیاتان یعني لقد جائکم رسول من انفسکم الی اخیر السورة هذا ماقاله المظهري رحمه الله، لکن صاحب د روح المعاني وایي چې بخاري او مسلم له براٴ بن عازب ﷺ څخه روایت کړی دی، دی وایي چې اخیر آیت چې نازل سوی دی دغه آیت دی "یستفتونک قل الله یفتیکم في الکلالة الآیة" او اخیر سورت چې نازل سوی دی سورة برائة دی. او له ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چې اخیري آیت چې نازل سوی دی دا دی "واتقوا یوماً ترجعون فیه الی الله" او بعض راویان وایي چې ددې آیت د نزول او د وفات د علیه الصلوٰة والسلام تر منځ اتیا (۸۰) ورځې وې، او بعض وایي نیوي (۹۰) ورځې وې، روح المعاني د دغو روایاتو تر منځ د تطبیق کوشش کړی دی لکن د کدورته خالي نه دی، روح المعاني د بن کعب ﷺ حدیث تر تنقید لاندې نیولی دی، دی وایي وبعد ماروی عن ابی بن کعب ﷺ چې ابن مردویه رحمه الله له سعد بن ابی وقاص ﷺ څخه روایت کړی دی چې رسول کریم ﷺ چې مدینې ته راغلی، نو د جهینه قبیله ورته راغله او علیه الصلوٰة والسلام ته یې وویل چې ته زموږ وطن ته راغلې موږ ته یوه وثیقه راکړه فاٴمنک وتاٴمنا چې موږ به تاته امن درکوو او ته به موږ ته امن راکوې، علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل لم سالتم هذا قالوا نطلب الامن (یعني من الجانبین) فانزل الله تعالی هذه الآیة یعني لقد جائکم الآیة والله اعلم بحقیقة الحال.

فوائد شتی: (۱) ابی داوٗد روایت کوي چې علیه الصلوٰة والسلام وویل من قال حین یصبح وحین یمسی (یعني سهار او مانښام لا اله الا هو علیه توکلت وهو رب العرش العظیم اووه واره کفاه الله ما اهمه من امر الدنیا والآخرة واخرج ابن النجار في تاریخه عن الحسین ﷺ، قال من قال حین یصبح سبع مرات حسبی الله لا اله الا هو آه سبع مرات لم یصبه ذالک الیوم وتلک اللیلة کرب (غم)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ولا غرق، او ابو الشيخ د محمد کعب څخه روایت کړی دی چې کوچنی لښکر د مسلمانانو د روم وخواته روان ؤ چې یو سړی نابیره له آس څخه راولوېدی او ورون یې مات سو، نو ملګرو دی په شان نه سوای ورلای او نه پر آس، نو آس یې والته ورته وتاړه او یو څه دوډی او اوبه یې ورته کښېښولې او دوی څنی ولاړه، یو سړی ورته راغلی ورته وه یې ویل چې ته دلته څه کوې؟ ده ورته وویل چې زما ورون مات سو دلته ملګرو ؤ په پرېښولم دوی ولاړه، هغه سړي راته وویل چې کښېږده لاس دې پر هغه ځای چې درد کوي او وه وایه "فان تولوا فقل الآیة" ما چې پر هغه ځای لاس کښېښوی او مذکور آیت مې ووایه ورون مې جوړ سو پر آس سپور سوم او په ملګرو پسې ور ورسېدلم.

(۲) فائدة: في وصف رؤف رحيم" علماً وایي چې دا دوه وصفه په مخلوق کې غیر له رسول الله ﷺ په هیڅ چا کې من العالم العلوی والسفلي نه دي جمع سوي، توجیهات الرواة، بعض روات وایي رؤف بالمطیعین من المؤمنین، رحیم بالمذنبین منهم، وقیل رؤف باقربائه رحیم باولیائه، وقیل رؤف بمن راه ﷺ رحیم بمن لم یره، ولیس في الاحادیث سند لهذه الاقوال والله اعلم.

(۳) فائدة: في وصف العرش بالعظیم.

پوه سه: چې عرش ته په لسانه د اهل الارصاد فلک الافلاک او محدد الجهات وایي او په مقدار د عظمت د عرش بېله خدایه هیڅ څوک نه دی خبر په حدیث شریف کې راغلي دي چې کره د مځکې نسبت وه اول اسمان ته لکه یوه حلقه په بیابان کې او دغه رنګه نسبت دی د اول اسمان وه دوهم اسمان ته او دغه نسبت دی د اوو اسمانو د کښښته وه لوړ ته او د اووه سره اسمانو نسبت وکرسي ته کحلقة في فلاة او د کرسي نسبت وعرش ته هم نسبت د حلقه وفلات ته، او اهل ارصاد د حکماً وایي چې دلاندې سطح د عرش ده لېرې والي مقدار د مرکز عالم څخه چې په منځ کې د مځکې دی ثلاثة وثلاثون الف الف وخمس مائة واربعة وعشرون الفاً وستمائة وتسع فراسخ، او د لوړې سطح مقدار یې ودې اندازې ته رسېدلی دی چې بېله خدایه الذي لایغیب عن علمه ذرة من ذرات العالم هیڅ څوک علم نه پر لري کذا في روح المعاني وشرح الچیغني،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(۴) بعض صالح بنده ګانو ته تنګي د رزق د عيال حاصله سوه نو توصل بذاته الشريفة وخداى ﷻ ته وکړي في سعة الرزق. نو ماښام يې عليه الصلوٰة والسلام په خوب ولېدى عليه الصلوٰة والسلام وه هغه ته وويل لاتحزن يا فلان چې صبا ورځ سي ورسه وه علي بن عيسى ته چې وزير الملک و او زما سلام ورته ووايه او دا ننبائي ورته ووايه چې تا زما له قبر سره پر ما څلور زره واره درود ويلى دى، تاته به سل ديناره درکړي، چې سهار سو هغه صالح سړى علي بن عيسى الوزير ته ورغلى او د خوب قصه يې ورته وکړه، نو د علي بن عيسى سترګي د اوښکو ډکې سوې نو دا يې وويل صدق الله تعالى ورسوله وصدقت انت يا رجل. دا څلور زره واره درود زما ويل په ټټز د قبر انور نبوي ﷺ بېله خدايه او عليه الصلوٰة والسلام هيڅ څوک نه دى په خبر. نو پر مريي يې ړغ وکړى چې هغه همياني راواخله. مريي همياني ورته راوړه. نو علي بن عيسى درې سوه ديناره خني راوکښل. سل ديناره يې ورکړه او ورته ويې ويل چې درواخله دا خو د عليه الصلوٰة والسلام پر ما باندې حواله ده او بل سل ديناره يې ورکړه او ورته ويې ويل چې دا ستا زېرى دى د قبول د درود زما في حضرت النبي ﷺ او دا سل ديناره زما هديه ده وتاته. نو صالح سړي د درې سوه ديناره سره د علي بن عيسى له کوره څخه راووتى او غم د مسکنت او د فاقې يې دفع سو. او خداى ﷻ د علي بن عيسى الوزير سره په مقابل کې د احسان دده د عبد صالح سره دا احسان وکړى چې د وزارت د چوکۍ څخه يې استعفا ورکړه او د تجرد لاره يې خپله کړه او هجرت يې مکې مکرمې او مدينې منورې ته وکړى.

دروښ وايي: چې ددې حکايت څخه دا معلومه سوه چې رسول الله ﷺ حياً وميتاً بالمؤمنين رؤف رحيم او دا هم واضح سوه چې عليه الصلوٰة والسلام د حاضرينو د قبر انور صلوٰة او سلام د مؤمنانو اوري لانه قد ثبت بالاحاديث الصحيحة واقوال الائمة رحمهم الله انه عليه الصلوٰة والسلام حي في قبره وان الله حرم على الارض ان تاكل اجساد الانبياً ﷺ او هغه مؤمنان چې له روضه مطهره څخه غائب وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فقد ورد في الحديث الصحيح چي خداى ﷻ يو جماعت د ملكو پيدا كړى دى چي يبلغوني من امتي السلام وكذا الصلوة. او د علي بن عيسى الوزير د حال څخه د هغه حديث معنى ښكاره سوه چي حديث قدسي دى من تقرب الي شبراً تقربت اليه زراعاً الى اخير الحديث.

(۵) فائده: د لقد جائكم رسول تر اخيره د سورت په فضيلت كي او د درود په فضيلت كي.

پوه سه: چي ابوبكر بن مجاهد رحمه الله چي د تعليم د قرآنت لوى استاذ ؤ يوه ورځ وده ته راغلى ابوبكر شبلي قدس سره، نو چي شبلي رحمه الله و مسجد ته د معلم القرآن ورتنوتى، نو معلم القرآن ورته ولاړ سو، نو ورسته چي شبلي رحمه الله ملاقات وكړى ولاړى شاگردانو د مقري ابوبكر بن مجاهد رحمه الله ده ته وويل چي تاته چي به على بن عيسى الوزير راغلى ته به نه ورته ولاړېدې، دې شبلي ته چي په لباس كي د يو ملنگ ؤ ولي ولاړ سوې، نو معلم القرآن وشاگردانو ته وويل چي زه ولي ولاړ نه سم وه هغه چا ته چي عليه الصلوٰة والسلام يې د تعظيم سفارش كړى دى، ما عليه الصلوٰة والسلام په خوب وليدى او ماته يې وويل يا ابابكر سبا به درسي وه تاته يو سړى له اهل جنت څخه يعني په نامه د شبلي، نو د هغه تعظيم او اكرام وكړه، ابوبكر المقري وايي چي دوې شپې وروسته ما عليه الصلوٰة والسلام په خوب وليدى فقال اكرمك الله يا ابابكر كما اكرمت رجلاً من اهل الجنة، نو ما ورته وويل يا رسول الله ﷺ په څه شي پيدا كړه شبلي دا درجه د قرب وتاته؟ عليه الصلوٰة والسلام راته وويل چي شبلي يو سړى چي تر پينځو لمونځو وروسته ما يادوي يعني درود راباندي وايي او وروسته بيا وايي "لقد جائكم رسول من انفسكم" تر اخيره پوري د سورت، د اتيا كالو رايسته افلا اكرم من فعل هذا. كذا في عقد الدرر.

پوه سه: چي دا حديث چي صاحب كشاف ذكر كړى دى او هم قاضي بيضاوي او هم مولى ابو السعود رحمهم الله من اجلة المفسرين په دې كي علماً ؤ دهر بحث كړى دى، بعض علماً يې ثابت بولي او بعض يې نفي كوي لكه امام صفائي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وغيره، او نورو علماؤ صفاني رحمهم الله ته جوابونه ورکړي دي.

دروښ وايي: چي چونکه دا بحث د نفي او اثبات ډېر طويل ؤ نو ځکه لد راوړلو څخه يې دروښ معذرت غواړي.

دروښ وايي: چي سورة التوبة په ورځ د يکشنبې پر نهه بجې د سهار ورځ سه شنبه د عيد الضحى پای ته ورسېدی ولله الحمد اوس شروع د سورت يونس کېږي.

التجاء: خدايه ته توفيق راکړې چي ددې سورت تفسير هم په خير او عافيت وپای ته ورسېږي والله الموفق.

لا إله إلا الله محمد رسول الله



تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سکين او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

احمد حمداً يليق بشانه وجليل نعوته وجميل صفاته والصلوة والسلام على سيد البرية خير الخليقة وآله وصحبه الكملة الجليلة واطلب من الله عزوجل التوفيق والرحمة.

سورة يونس مأة وتسع آية مكية الا ثلث آيات فان كنت في شک فمدنية.

سُوْرَةُ يُوْنُسَ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ مِائَةٌ وَتِسْعُ اٰيَاتٍ وَاَحَدَ عَشَرَ رُكُوْعًا

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الٓرٰ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْحَكِيْمِ ۝١

ددې متشابهاتو چې په اوائلو کې د بعضې سورتو راغلي دي تحقيق او اختلاف د ائمه رحمهم الله په دې آيتو د سورة البقرة په تفسير کې تېر سو، فلا نعيده الى اخير تفسير الفقير ان شاء الله تعالى.

"تلک" اشاره ده وهغو آيتو ته چې ددې سورت په ضمن کې به راسي، يا اشاره ده وهغو آيتو ته چې په قرآن کريم دي، او بعض مفسرين رحمهم الله وايي چې اشاره وهغو آيتو ته ده چې په نورو سورتو کې تر دې سورت دمخه نازل سوي دي.

پوه سه: چې "تلک" مبتدأ ده او "آيات الكتاب" يې خبر دی، نو "تلک" که څه هم مبني دی لکن محلاً مرفوع دی، او اضافت د "آيات" و "كتاب" ته په معنی د من ده، او "حكيم" د كتاب صفت دی، توصيف په حكيم سره يې له دې سببه دی چې مشتمل پر حكم دی، او يا له دې جهته دی چې كلام د حكيم رب دی، او که "تلک" اشاره سي الى مافي ضمن هذه السورة چې محكم دی لم ينسخ منها شئ او محكم عن الكذب، او حسن بصري رحمه الله وايي چې په دې سورت کې حكم سوی دی بالعدل والاحسان وايیتاء ذی القربى والانتهاء عن الفحشاء والمنكر والبغي، وحكم فيها بالجنة لمن اطاعه وبالنار لمن عصاه.

دروښ وايي: چې پر هر تقدير د حسن رحمه الله پر ترجمه حكم پر كتاب باندې په حكيم سره په اعتبار سره د بعض آيتو ددې سورت لان ما ذكره الحسن رحمه الله بعض احكام وآيات لهذه السورة.

حكايت: امام محمد بن الحسن الشيباني رحمه الله يو وخت د مفلسی له كبله نان واى ته ورغلی چې ماته دري ډوډۍ راكړه زه به تاته د فقهي شريفي دري

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئلې دروښییم چې تاته به په آئینده کې په ښه درسي! هغه ورته وویل چې زه دوډی په روپو خرڅوم په مسئلو یې نه خرڅوم..... بیت:

قیمت دُر گران مایه چه دانند عوام..... حافظا دُر یکدانه مده جز بخواص

خیر یو وخت نان وای لور ودول، د یو چا سره یې د لور د کور او د نورو اسبابو په باره کې خبرې کولې، نان وای وویل که ما ټوله مافي الدنیا له اسبابو څخه د حاجت ولور ته ورنه کړل پر مادي په درې طلاقه سره ماینه طلاقه وي، نو یوار یې فکر سو چې جمیع مافي الدنیا خو ستا له طاقته پوره نه دي، نو پر ملا یانو ګرځېدی، ټولو ملا یانو ورته وویل چې پر تا باندي ماینه حتماً طلاقه ده، اخیر نان وای امام محمد الشیباني رحمه الله ته رغلی واقعه یې ورته بیان کړه، امام محمد رحمه الله ورته وویل چې هغه ورځ چې ما ستا څخه درې دوډی په تعلیم د درو مسئلو غوښتلې یوه مسئله دغه ستا د پوښتنې ځواب ؤ او دوې نورې وې، لکن چې تا په هغه ورځ اهانت امېزه ځواب راکړی، نو زه خپل د مسائلو د تعظیم لپاره ستا څخه ددغې مسئلې پر ځواب باني زر دیناره غواړم، نان وای مجبور ؤ زر دیناره یې ورکړل، اما محمد رحمه الله ورته وویل چې مصحف شریف دي په کور کې لور ته ورکړه، نو که نور شی ورکوې او که یې نه ورکوې له طلاقه څخه خلاص یې، د امام محمد رحمه الله معاصرو علماؤ له ده څخه پوښتنه وکړه چې داسړی ولي د مصحف په ورکولو سره له طلاقه خلاس سو؟ ده ځواب ورکړی چې خدای پاک ویلي دي "ولا رطب ولا یابس الا في کتاب مبین" نو قرآن مجید قائمقام د ټوله مافي الدنیا دی، نو علماؤ دده ځواب قبول کړی،

علم دریست نیک باقیمت..... جهل دردیست سخت بې درمان

پوه سه: چې ابن جریر رحمه الله بالواسطه له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت کړی دی چې خدای پاک محمد ﷺ رسول راواستاوه، د مکې عربو دده له رسالت څخه انکار وکړی، او دوی ویل چې خدای جل جلاله اعلی دی له دې څخه چې بشر دي رسول وټاکي، فنزلت هذه الآیة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا أَنْ أَوْحَيْنَا

آيا خلګو ته عجيب ايسي (استفهام لپاره د تعجب دی او "عجباً" د کان خبر دی، او د "کان" اسم "اوحينا" دی) دا چي موږ وحي وکړې، يعني بايد دوی دا تعجب نه وای کړی، ابو اليقاً رحمه الله وايي چي لام په للناس کي متعلق دی په محذوف پوري چي حال دی له "عجباً" څخه والتقدير اكان عجباً واقعاً للناس.

پوه سه: چي دليل د انکار د تعجب ددوی دادی چي عادت د خدای ﷻ جاري دی د آدم عليه السلام له وخته څخه چي رسولان به د بشر له جنس څخه وي قال الله تعالى "وما ارسلنا من قبلک الا رجالاً" او د ملکو قديماً او حديثاً دا عادت دی چي کتاب او خطاب ددوی په ژبه دي مخاطبين وي، او رسول ددوی به له جنس څخه د من ارسل اليهم وي تا چي د مناسبت نسبي په سببه ددوی تر منځ افاده او استفاده امکان ولري يدل عليه قوله تعالى "قل لو كان في الارض ملائكة تمشون مطمئنين لنزلنا عليهم ملكاً رسولاً صدق الله العظيم.

إِلَىٰ رَجُلٍ مِّنْهُمْ

ويوه سړي ته له رجال څخه ددوی.

فائده: د "رجل" له لفظ څخه دا معلومه سوه چي بنځي نبي نه سي کېدای لان وظيفة الرسول تبليغ الرسالة في مجامع الناس ومبني حال النسا على التستر والشهوة بين الرجال والنسا مانعة لكونهن رسولاً اليهم كما لا يخفى، د تعجب خبره داده چي کفار د مکې جمادات يعني بتان د زرو يا د اوسپني يا د لرګي په الوهيت او معبوديت منله، او رسالت ته د بشر يې تعجب کاوه"... ع:. بدين عقل ودانش بايد گريست"" او دوی به دا هم ويله چي که وحي راتلای، نو خو يو عظيم الشان او سرمايه داره ته به د مکې راغلي وای يا د طائف "لو لا نزل هذا القرآن على رجل من القريتين عظيم" نو پر يتيم د ابو طالب ولي وحي راغلې، او دوی الوهيت او معبوديت په جماداتو کي څرنګه منی چي هغه جمادات بتان خو هم من القريتين عظيم نه وه، بلکې يتيم د ابو طالب اعلى درجةً من الجمادات وُ او رسالت تر الوهيت ډېره کمه درجه ده.

پوه سه: چي ددوی مراد له رجل عظيم څخه وليد بن مغيره وُ په مکه کي چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لـوی سـرمایه دار ؤ، او بـل مـسـعود بـن عمـرو الثقفـي ؤ پـه طـائف کـي او دوی جاهلان نـه پوهیدلـه چـي رسالت خـو د خدای پـاک رحمت دی، او د خدای ﷻ رحمت په سرداری یا پـه سرمایه داری پـوري څـه اړه نـه لـري، نـو بـل ځای خدای پاک پر دوی باندي رد کړی دی "اهم یقسمون رحمة ربک الآیة"

اَنْ اَنْذِرِ النَّاسَ وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا

پـوه سـه: چـي کلمـه د "ان" ومـدخولها مفسـره د مفعـول مقدر دي ای اوحینا الیـه شیئاً هو ان انذر الناس، نو مقدر چـي شیئاً دی د اوحینا مفعـول دی، چـي وبیـروه خلـګ یعنـي تولـه خلګ لان الانذار یعم جمیع الناس المؤمن والکافر، ولـي انذار د مؤمن د تقصیر فـي العمـل څخـه دی، او انذار د کافر لـه کفر څخـه دی یعنـي کافر وبیروه لـه عذاب همیشـه پـه اور کـي، او مؤمن وبیروه لـه دې څخـه چـي درجـه بـه دي پـه جنت کـي کښتـه وي، او زیری وکړه هغو کسانو تـه چـي ایمان یـې راوړی وي پـه دار النعیم جنت سره، بشارت یې خاص کړی په مؤمنانو سره لان الکافر لیس باهل البشارة؟

فائده: انـذار یـې مقدم کړی امـا لعمـوم متلقـة کمـامر آنفـاً وامـا لان التخلیـة بالخـاً المعجمـة متقـدمة علـی التحلیـة بالحـاً المهملـة، ولـي مسـګر چـي دېـګ سپینوي لومړی چـي یې لـه خیرو څخـه پـاک نـه کړي کلابیـن نـه پـوري مـوړي، او خونـه چـي لـه خاور او خاشاک څخـه پاکـه نـه کړي قالیـن نـه پکښـي اواروي، او نـور مثالونـه هم ډېر سـته.

اَنَّ لَهُمْ قَدَمَ صِدْقٍ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ

بتقدیر البأ ای بان لهم، نو دا بـه معفول ثانـي د بشر سي.

پـوه سـه: چـي مراد لـه قدم صدق څخـه رتبـه رفیعـه ده، یسبقون الیهـا ویقیمـون فیهـا، والمراد بهـا الجنـة پـه نېـز د رب ددوی، تعبیر یې پـه قدم سـره چـي وکړی لـه دې کبلـه چـي وړانـدي والـی وه شـي تـه پـه پښـو کېږي، او اضافـت یـې وصدق تـه وکړی لـه دې سببـه چـي دا وعـده رشتیـا ده، او لپـاره د تنبیـه پر دوی چـي دوی چـي دا رتبـه رفیعـه پیدا کـړه پـه صدق القول او نیت سـره، او بعـض مفسـرین وایـي چـي مـراد لـه قـدم څخـه تقـدم ددوی دی پـه دخـول سـره د جنـت لقولـه علیـه الصـلوة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والسلام نحن الآخرون السابقون (يعني موږ اخير يو په دنيا کي او دمخه يو په دخول کي د جنت) ولقوله عليه الصلوة والسلام ان الجنة محرمة على الانبيا حتى ادخلها انا، ومحرمة على الامم حتى تدخلها امتي (جنت حرام دی حرام دی پر انبيا عليهم السلام تر هغه وخته پورې چې داخل نه سم جنت ته زه، او حرام دی جنت پر نورو امتو چې داخل نه سي وجنت ته زما امت) ابو عبيده رحمه الله وايي چې هر دمخه کار که خير وي او که شر هغه ته عرب قدم وايي يقال الفلان قدم في الاسلام ای سابقة في الاسلام ولفلان عندي قدم صدق او سوء.

قَالَ الْكٰفِرُوْنَ اِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ مُّبِيْنٌ ۝

کفارو وويل چې په تحقيق دغه سړی سحر گر دی ښکاره، له هذا څخه ددوی مراد عليه الصلوة والسلام دی، نو دا نوم ولي دوی پر کښيښو؟ له دې سببه چې دوی وليدلې معجزې د عليه الصلوة والسلام چې خارق العادة وې، او قرآن معجز يې واورېدی چې دوی په مثل د اقصر سورت راتگ نه سوای گولای، نو تعنتاً او عناداً يې د ساحر نوم پر کښيښو، ددوی مراد دا وُ چې موږ چې اتيان بالمثل نسو گولای پر موږ يې سحر وکړی، او بعض له قرأ سبعه وو څخه "لساحر" ببله الفه وايي، نو پر دې تقدير هذا اشاره وقرآن ته ده، يعنون چې دا قرآن په خپله سحر دی چې موږ يې معارضه او اتيان بالمثل نسو گولای، دا يې د ځان لپاره يو عذر باطل وايه او له ځان څخه يې دفع د خجالت گوله.

اِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ

په تحقيق ستاسي تربيه کونکی الله جل جلاله دی هغه چې پيدا کړي يې دي اسمانونه يعني اووه، او مځکه په شپږو ورځي کي وروسته غالب سو پر عرش چې لويه بنا ده يعني هغه يې هم پيدا کړه.

پوه سه: چې اهل السنة والجماعة اجماع کړې ده که متقدمين دي او که متأخرين دي پر دې باندې چې خدای جل جلاله منزه دی له صفاتو څخه د اجسامو او له صفاتو څخه د حدوث، په دې کي مجسمه مخالف دي، هغه وای چې خدای جسم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی او اعضا لري من الوجه واليدين والقدم، نو دوی آيات وارده په دې باره کې او يا احاديث موجوده په دې باب کې محمول پر ظاهر بولي او تأويل روا نه بولي او نه تفويض د ورته آياتو او احاديثو وخدای او رسول ته کوي.

او اهل سنت په دې باب کې دوې فرقې دي، يو اهل التأويل دي چې د ورته متشابهاتو تأويل کوي بما يناسب بکبريائه ﷻ لکه دلته چې تأويل د استوا په استيلاء او غلبه سره کوي، نو خدای پاک چې پر خلق د اعظم المخلوقات استيلاء وکړه او خلق يې کړی، نو پر ټولو اشياؤ قادر دی وهذا رأی المتأخرين من اهل السنة والجماعة. ومنهم المجدد رحمه الله وهذا الرأی ادفع لشغف الجاهلين، ولي چې دوی په تفويض کې د علم د ورته متشابهاتو وايي، نو فائده د نزول د متشابهاتو څه ده؟

او سلف او متقدمين صالحين رحمهم الله له هر قسم تأويل څخه ډډه کوي او تفويض د علم د ورته متشابهاتو وخدای ﷻ ته کوي يعني وايي الله اعلم بمراده به ونحن نؤمن بما اراد الله ﷻ وهذا المذهب خال عن الخطأ في التأويل.

محمد بن الحسن الشيباني رحمه الله وايي چې فقهاء ټوله له شرق څخه تر غرب پوري متفق دي چې ايمان بالقرآن والاحاديث التي جائت فيها تلك المتشابهات عن رسول الله ﷺ في صفات الرب جل مجده فرض دی من غير تفسير ولا وصف ولاتشبه فمن فسر شيئاً من ذالک فقد خرج مماکان عليه النبي ﷺ وفارق الجماعة فقيه ابو جعفر الطحاوي رحمه الله وايي العرش الکرسي کما بين الله في کتابه وهو تعالى مستغن عن العرش وما دونه محيط بکل شيئ يعني علماً وفوقه يعني قدرة.

دروښ وايي: چې منشأ د اختلاف د سلف صالحينو رحمهم الله چې تفويض: علم د ورته متشابهاتو وخدای پاک ته کوي او د تأيل کونکو چې مثلاً د استوا على العرش په استيلاء او غلبه سره کوي هغه آيت دی چې د متشابهاتو په باره کې خدای پاک وايي (مايعلم تأويله الا الله، والراسخون في العلم يقولون الاية) نو سلف الصالحين پر الا الله باندې وقف لازم بولي، او "الراسخون" مبتدأ بولي "يقولون" يې خبر بولي، او تأويل و الا الله، والراسخون عطف بولي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پر لفظ الله باندي، والتقدير عندهم لا يعلم تأويله الا الله والراسخون في العلم او يقولون حال له راسخون څخه بولي، والله اعلم بالصواب وعنده ام الكتاب.

دروېش وايي: چې مظهري رحمه الله ضد او نقيض قولونه رانقل کړي دي، دده له کلام څخه واضح معلومېږي چې دی له اهل تأويل څخه نه دی، او نه د سلف صالحين پر رقم لکه ده چې يې مذهب هم رانقل کړی دی کما يظهر من مطالعة تفسيره في هذا المقام.

دروېش وايي: ويرحم الله السيد محمود الآلوسي البغدادي رحمه الله حيث قال في تفسيره روح المعاني في تفسير قوله تعالى "ثم استوى على العرش" على المعنى الذي اراده سبحانه آه" وهذا مذهب السلف الصالحين كمامر، بيا يې ويلي دي وقيل الاستوٰى على العرش مجاز عن الملك والسلطن آه، وقيل الاستواْ بمعنى الاستيلاْ وارجعوه الى صفة القدرة آه، او وروسته يې ويلي دي وانت تعلم ان هذا وامثاله من المتشابه وللناس فيه مذاهب وما اشرنا اليه (يعني قوله على المعنى اراده سبحانه) هو الذي عليه اكثر السلف من الامة رضي الله عنهم (چې دروېش هم دغه مذهب د سلف صالحينو بيان کړی) ثم قال واختار كثير من الخلف ان المراد بذالک الملک والسلطان (يعني الاستيلاْ والغلبة) وروسته يې ويلي دي وذكره لبيان جلالة ملكه وسلطانه سبحانه الخ.

دروېش وايي: چې بغوي رحمه الله چې دا معنی مذهب د معتزله وو بللی دی لا معنی له، ابن الشيخ وايي ومعنى الاستواْ على العرش الاستيلاْ عليه بالقهر (اى الغلبة) ونفاذ التصرف فيه وخص العرش بالاستواْ عليه لكونه اعظم المخلوقات فيفيد انه استولى على مادونه.

فائده: آلوسي رحمه الله وايي چې مراد له "ستة ايام" څخه مقدار د شپږو ورځو دی چې له ايام څخه د دنيا دي، او خدای پاک ته يې مقدار په علم ازلي کې معلوم ؤ، ولايمكن آه ان يراد باليوم اليوم المعروف، ولي چې يوم معروف خو عبارت دی له دې څخه چې لمر فوق الارض وي وهو مما لايتصور تحققه حين لا ارض ولا سماْ واليوم بهذا المعنى (چې لمر فوق الارض وي) النهار المفرد، وقال

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ويطلق اليوم ايضاً على مجموع ذالک النهار وليلية (چې په پښتو يې شوارز بولي) وارادة هذا المعنى ايضاً ممكن ههنا انتهى قول الآلوسي رحمه الله مع زيادة.

پوښتنه: خداى پاک په بل ځاى کې د قرآن مبارک فرمايلي دي (اذا اراد امراً فانما يقول له كن فيكون) نو په خلق کې د اسمانو او مځکې د شپږو ورځو د تدريج څه حكمت دى؟

ځواب: هو! خداى جل جلاله قادر ؤ چې په يوه لمحه کې يې دا خلق کړي واى لكن لپاره د تعليم د تدريج وبندګانو ته يعني چې دوى دي هم په يو کار کې له تلوار څخه کار نه اخلي كه قول وي كه عمل بلكې په عواقبو کې د کار دي فكر وهي، علماً رحمهم الله وايي چې په ټولو کې يعني عدم العجلة لازم دى مګر نه په توبه کې له ګناه څخه او په ور کړه کې د پور چې پر سړي باندي وي حتى الوسع دي کوشش کوي چې ژر يې ورکړي، او د مېلمه په ډوډۍ ورکولو کې مثلاً كه چا ډوډۍ د مانښام پر دوولس بجې خوړله چې مېلمانه راغله وختې ډوډۍ ورکړه، ولې چې شايد دوى به ډېر وړې وي، او بل په ورکړه کې د ميت د غسل او په دفن کې د هغه تلوار په کار دى، داسې به نه کوي چې فلانى نه دى راغلى او دفن ورته وځنډوي، او بل په نكاح کې ځنډ نه دى په کار د باکره لور وغيره دي تلوار کوي لخوف الفتنة اى الزنا وغيره، والغسل من الجنابة الا بعذر مثلاً البرد او العود الى الوطي، جلال الدين الرومي په مثنوي کې وايي:

مكر شيطانست تعجيل وشتاب ..... خوى رحمانست صبر واحتساب
(يعني تلوار نه كول) كما في خلق السمٰوات والارض.
باتانى گشتِ موجود از خدا ..... تابشش روز اين زمين وچرخها
ورنه قادر بود كزكن فيكون ..... صد زمين وچرخ آوردى برون
اين تانى از پى تعليم تست ..... طلب آهسته بايد بى شكست

مقوله: اذا تجاوز السر من اثنين لا يمكن كتمانه. چې تېر سې پټ حال تر دوو بيا يې پټوالى ممكن نه دى، ددې مقولې په معنى بعض خلګ نه پوهېږي دوى دا خيال کوي چې پټه خبره كه دي يوه يا دوو ته وكړه خو د پټوالي امكان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يې سته، او که دي دريېم ته وکړه بيا نو نه پتهږي. لکن دا مراد نه دی بلکې مراد له اثنينو څخه دوه شوندان دي چې معنی يې داده چې تر دوو شوندانو خبره رايستل بيا نه پتهږي. نو بايد په خبرو کولو کې هم انسان تاني کوي او فکر دي پکښې وهي چې دا خبره د کولو ده او که نه.

يُدَبِّرُ الْأَمْرَ

خدای ﷻ تدبير کوي د امورو د مخلوقاتو، والتدبير النظر في عاقبة الامر حتى يحصل محمودة العاقبة، والحاصل خدای پاک امر د کائناتو څېړي حسب مايقتضيه الحكمة. له عمر بن مرة څخه روايت دی چې تدبير د دنيا د امورو په امر د خدای ﷻ د څلورو ملکو په واک کې دی (١) جبرئيل ﷺ پر بادو او جنګو مسلط دی وله اتباع كثيرة من الملائكة (٢) ميکائيل ﷺ پر بارانو او نباتاتو څېړندوی دی، وله اعوان ايضاً (٣) عزرائيل ﷺ چې د ارواحو پر وړلو مقرر دی وله انصار كثيرة (٤) اسرافيل ﷺ هغه فوق الذكر ملکو ته راوړي هغه کارونه چې اول دري ملکې په امر سوي وې من عند الله العزيز الجبار.

مَا مِنْ شَفِيعٍ إِلَّا مِنْ بَعْدِ إِذْنِهِ

نسته شفاعت کونکی د هيڅ چا في وقت من الاوقات، مګر نه په وخت کې د اجازې د شفاعت تر لاسه کولو د خدای ﷻ څخه، له دې څخه دا معلومه او متيقنه سوه چې شفاعت بعد الاذن سته كما يدل قوله تعالى ايضاً في آية الكرسي (من ذا الذي يشفع عنده الا باذنه) والاحاديث في الباب الشفاعة للمؤمنين العاصين وان ماتوا بلا توبة كثيرة شهيرة متواترة المعنى قال رسول الله ﷺ شفاعتي لاهل الكبائر من امتي، وفي هذه الآية رد القول النضر بن الحارث اذا كان يوم القيامة يشفعني اللات والعزى يعني كه قيامت راسي، نو زما شفاعت به لات او عزى وکړي وانما قلنا ذالک لانهم ينكرون القيامة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ

"ذالک" مبتدأ ده او لفظ الله يې خبر دی يعني دغه موصوف بالصفات المذكورة في الآيات السابقة الله ﷻ دی يعني مستحق د الوهيت او عبادت "ربكم" خبر ثاني لذالكم يعني ستاسي تربيه كونكی د مور له رحم څخه نيولې بيا تر حلولـه د اجل معلوم مقدر، نو چونكه تربيه كونكی بل نسته، نو يې دا پر بنا كړه.

فَاعْبُدُوهُ ۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٣﴾

نو تاسي يوازي او يوازي عبادت د خدای ﷻ كوئ لا غيره، من انسان او ملک او شمس او كوكب او اللات والعزى وغيرهما من الجمادات والاصنام، آيا تاسي مشركان پند نه اخلئ، د "تذكرون" اصل تتذكرون ؤ يوه تا يې حُنې حذف كړې ده، يعني انسان كه لږ فكر په انفس او آفاتو كي وكړي دا به ورته معلومه سي چې مستحق د عبادت خدای ﷻ دی دون غيره.

إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا ۖ

خاص وخدای ﷻ ته ده رجوع ستاسي د ټولو (نو مرجع مصدر ميمي دی) يا ځای د رجوع دی، نو ظرف دی يا په مرگ سره يا په قبر كي او يا په ورځ د قيامت وفي الحديث الصحيح القبر روضة من رياض الجنة او حفرة من حفرات النيران او كما قال عليه السلام، نو ددې مرجع لپاره يو تياري وكړئ بالايمان وبعده بالاعمال الصالحة والكف عن المعاصي.

پوه سه: چې "جميعاً" منصوب دی على الحالية من الضمير المجرور في مرجعكم، ولي دغه ضمير مجرور فاعل په معنى كي فلا يرد ما يتوهم اى اليه رجوعكم مجتمعين.

وَعْدَ اللَّهِ حَقًّا ۚ

اى وعد الله البعث بعد الموت وعداً "حقاً" اى كائناً لاشک فيه،

پوه سه: چې په اصطلاح د نحاتو وعد الله مؤكد لنفسه دی، ولي چې دا قول د خدای پاک "اليه مرجعكم" وعده بالبعث بعد الموت بل احتمال نه لري، او "حقاً" مصدر مؤكد لغيره بولي يعني مادل عليه وعد الله وهو مامر من وعد الله البعث

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بعد الموت، ولي چي دې جملې لره نظر ونفس مفهوم ته دی مع قطع النظر عن الواقع احتمال د غیر الحقیة هم سته لانها حکایة والحکایة یحتمل الصدق والکذب بالنظر الی نفس المفهوم کقولنا الاربعة زوج فافهم.

إِنَّهُۥ يَبْدَؤُا۟ ٱلْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ لِيَجْزِىَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ بِٱلْقِسْطِ ۚ

خدای ﷻ ابتدأ ده، ده خلق د مکلفینو کړی دی بالحیوة في الدنیا، نو دا جمله مستأنفه ده "ثم یعیده" یعني بعد الموت بالحیوة الاخروي وهي في یوم القیامة تاچي جزأ ورکړي وهغو کسانو ته چې ایمان یې راوړی وي او عمل یې کړی وي د نیو کارو من الفرائض والواجبات وغیرها په قسط یعني په عدل سره، یا معنا داده چې خدای پاک ثواب بالعدل ورکوي لانه لاظلم الیوم، یا معنا داده چې په مقابل کې د عدالت ددوی په امورو کې خپل چې پر صراط مستقیم باندې قائم ده.

وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِيمٍ وَعَذَابٌ أَلِيمٌۢ بِمَا كَانُوا۟ يَكْفُرُونَ ①

او هغه کسان چې کفر یې کړی وي په دنیا کې دوی لره د غایت تندي په مقابل کې اوبه دي چې په نهایت حرارت کې به وي او نور عذاب مولم هم سته په سبب ددې چې دوی په دنیا کې کفر کاوه.

پوښتنه: خدای ﷻ د بدأ الخلق او د اعادې په ورځ د قیامت لپاره یې لیجزي الله آه چې لام د غایت او د حکمت یې پر داخل کړی او د کافرانو لپاره یې عنوان بدل کړی یعني داسې یې وویل "والذین کفروا آه" یعني داسې یې نه وویل لیجزی الله للکافرین بشراب من حمیم؟

ځواب: په دې تغیر کې د عنوان تنبیه پر دې ده چې اصل مقصود د اعادة بعد الموت څخه ثواب ورکول دي او عقاب د کافرانو مقصود بالعرض دی چې د سبب څخه د سوء اختیار ددوی کفر لره په دنیا کې منځ ته راغلی.

هُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ ٱلشَّمْسَ ضِيَآءً وَٱلْقَمَرَ نُورًا وَقَدَّرَهُۥ مَنَازِلَ

خدای ﷻ هغه ذات مقتدر دی چې ګرځولی یې دی لمر ضیا او سپوږمۍ نور.

پوهه سه: چې حمل د ضیا او نور پر لمر او پر سپوږمۍ مبالغة لانهما

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مصدران کړيد عدل او يا مجاز دی په حذف د مضاف ای ذات ضياً وذات نور او يا ضياً په معنی د مضئ ده او نور په معنی د منور دی، اول ته مجاز في النسبة وايي او دويم ته مجاز بالحذف وايي او دريم ته مجاز في اللغة وايي.

فائده: د ضوء او نور تر منځ په نسبت کي قديماً او حديثاً اختلاف دی بعض وايي چي هغه رڼا چي بالذات وي هغه ضياً بولي لکه د لمر رڼا، او چي بالعرض وي هغه ته نور وايي لکه د سپوږمۍ رڼا لان نور القمر مستفاد من نور الشمس فالنسبة بينهما التباين، او بعض علماً وايي چي نور اقوی دی تر ضوء لقوله تعالى الله نور السموات والارض، فهو غلط فحش لان معنى النور في الآية المذكورة منور السموات والارض في النهار بالشمس وفي الليل بالقمر.

فائده: د "ضياً اصل ضواً دی، لانه مشتق من الضوء وهو اجوف واوي، نو واو يې په ياً بدل کړی لکسرة ماقبلها.

فائده: في اشرح التقويم ان لفظ الشمس ماخوذ من شمسة القلادة چي هغه لوی غمی او بېش قيمته غمي ته وايي په غاړګی کي چي په منځ کي د غاړګی وي، نو لمر چونکه په منځ کي د اوو ستورو دی ولي چي لمر په څلورم اسمان کي دی درې ستوري سياري يې لوړي دي او درې يې کښته دي، له دې سببه يې شمس بولي.

دروېش وايي: چي دا پر اصطلاح د فلاسفه مبني دی، روح المعاني وايي وهذا امر ظني لاشاهد له من الاثار النبوية ﷺ.

بوه سه: چي مفسرين رحمهم الله توله وايي چي ضمير د "قدره" يا راجع دی ولمر او سپوږمۍ ته په تأويل د کل واحد منهما والمعنى قدر الله کل واحد منهما منازل او قدر کل واحد منهما ذا منازل او يا ضمير راجع دی وقمر ته يوازي، وجه التخصيص چي احکام تشريعيه من الصوم والزکوة والحج توله مربوط دي په سير پوري د قمر ځکه خدای پاک وايي "لتعلموا عدد السنين" يعني چي دوولس مياشتي قمري تېري سي، نو يو کال پوره سو لکه هم دا وس سنه هجري نبوي ﷺ له مکې مکرمې څخه ومدينې منورې ته سنه (١٤٢٩ هـ)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ده بالسنين القمرية وبالاشهر والسنين الشمسية اقل من ذالک بکثير في الحال الحاضر. او تفاوت په منځ کي د قمري کال او د شمسي کال لس ورځي او يوولس ساعته او يوه دقيقه دی. ولي چې قمري کال درې سوه او څلور پينځوس ورځي او اته ساعته او اته څلويښت دقيقې دی. او شمسي کال درې سوه او پينځه شپيته ورځي او پينځه ساعته او نهه څلويښت دقيقې دی لکن معتبره په تاريخ الاسلامي کي عربي سنه قمريه ده.

دروبش وايي: چې زما عمر تقريباً نوي (۹۰) کاله دی، زما د ځوانۍ په وخت کي په افغانستان کي شمسي مياشت يا شمسي کال هيڅ چا له عوامو څخه نه پېژندل حتی چې امير امان الله خان چې د افغانستان بادشاه سو شمسي مياشتي او کلونه يې په افغانستان کي رواج کړل، عوام خلګ په فرق نه پوهېدل لکن امان الله خان د ټولې افغانستان د لسو ورځو تنخا تخميناً چې پر قمري مياشتو به ورکول کېدل د ملازمانو او د افسرانو، وزيرانو وغيرهم يې ودولت ته ګټه ورسول چې په مرور د زمانو او کلو دا ګټه ودولت ته په ملياردو ډالرو ځني چورېږي. خير په افغانستان کي قمري او شمسي مياشتي او کلونه خلګ پېژني او په پاکستان کي مشهور شمسيه او قمريه کلونه هيڅ څوک نه پېژني البته د امور شرعيه لپاره لکه د روژې او حج لپاره قمري مياشتي بعض د هغو خلګو پېژني، او پر حکومتي سطح په پاکستان کي نه شهور قمريه پېژني او نه هم شهور شمسيه پېژني، چې د هجرت سني دي، بلکې دوی د انګرېزانو په متابعت سره مياشتي او کلونه يې انګرېزي دي او سنه هم له مېلاد څخه د عيسى عليه السلام ده او عربي ممالک صرف شهور قمريه او قمري کلونه او سنه د هجرت نبوي ﷺ هم پر قمري حساب پېژني الا الخواص من علمائهم چې هغوی شمسي حساب هم پېژني لکن رواج يې قمري مياشتي او کلونه دي، او شمسي پر منازلو د شمس بنا دي چې دې ته دوولس برجه وايي چې ابتداً د کال له حمل څخه کوي چې اول درې برجه ربيعي بولي، حمل، ثور او جوزا شروع يې د اعتدال ربيعي څخه کوي چې دا بروج شمالي دي، او درې برجه يعني سرطان، اسد او سنبله چې شروع يې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

له انقلاب صيفي څخه کېږي او دا درې هم شمالي بروج دي، او درې برجه خريفي بولي يعني مېزان، عقرب او قوس چې شروع يې له اعتدال خريفي څخه کېږي او دا درې برجه جنوبي دي، او درې بيا شتوي دي چې جدي، دلو او حوت دي او ابتدأ ددې درو برجو له انقلاب شتوي څخه کېږي او دا بروج هم جنوبي دي ددې بروجو په تېرېدلو سره يو کال شمسي پوره کېږي.

په نصاب الصبيان کې يې دا دوه بيتونه راوړي دي

بر جها دائم که از براو زند سر
جمله درتسبيح و در تهليل حي لايموت
چون حمل چون ثور جوزا وسرطان واسد
سنبله مېزان وعقرب سی بيست ونه
قوس و جدی بی کمی و بيش

وايضاً في نصاب الصبيان امده است، خور بجوز است سی ودو ويکست حمل وثور وشير (يعني اسد) باپس وپيش، دلو ومېزان وحوت وعقرب سی بيست ونه، قوس وجدی بی کم وبيش.

پوښتنه: عبيد الله تا خو له تفسير څخه رياضي جوړه کړه؟

ځواب: ما صرف د شهور قمري او د قمري کال او د شهور شمسي او د شمسي کال په ويار مختصر بيان وکړی، ته ورسه روح البيان او روح المعاني او تفسير کبير مطالعه کړه د دروېش د اختصار درک به درمعلوم سي هغو په اوراقو بيانونه په دې باره کې کړي دي.

لِتَعْلَمُوا عَدَدَ السِّنِيْنَ وَالْحِسَابَ ؕ

چې تاسي پوه سئ د کلو په عدد چې دوولس مياشتي قمري تېري سي نو يو کال قمري تېر سو وهکذا بل کال بل کال او يا چې دوولس برجه لمر قطع کړه يو کال شمسي پوره سو بيا بل بيا ب ل او چې تاسي پوه سئ په حساب د اوقاتو ياد ورځي د مياشتي ستاسي په معاملاتو کې د تجارت يا زراعت مثلاً.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مَا خَلَقَ اللّٰهُ ذٰلِكَ اِلَّا بِالْحَقِّ يُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ۝

نه دی کړی خدای پاک دا خلق مذکور مګر نه چې متلبس دی په حق سره یعني لاظهار صنعته الکاملة وقدرته العظیمة مراعیاً فیه مقتضی الحکمة البالغة خدای ﷻ تفصیل د آیاتو قرآنیه وو کوي چې مشتمل پر دلائلو د وحدانیت او د قدرت فائقه او د علم شامل د خدای ﷻ دی د هغه قوم لپاره چې هغه فکر په دغو آیتو کي وکړی.

فوائد شتی: (۱) پوه سه! چې دنیا مزرعة الآخرة ده یعني د کښت کولو ځای او ځدای پاک بیا خلګ ژوندي کوي بعد الموت تا چې حاصلات د دنیا د کښتو تر لاسه کړي، نو که چا کښت د خیر د کار وکړی، نو حاصل به یې سلامت وي من عذاب الآخرة او که چا کښت د شر من الکفر والمعاصي کړی ؤ حاصل به یې ندامت او پښیماني وي ..... سعدي رحمه الله.

جمله میدانند اګر تو نه گروی ..... هرچه میکاریش روزی بدروی

فائده: (۲) په بعضې روایاتو کي راغلي دي چې خدای پاک عیسی علیه السلام ته وحي وکړې کن للناس في الحلم کالارض تحتهم وفي الرحمة کالشمس والقمر فانهما یطلعان علی البر والفاجر، قال الحافظ الشیرازي رحمه الله.

نظر کرد به دروېشان منافی بزرگی نیست
سلیمان باچنین حشمت نظرها بود بامورش

فائده: (۳) پوه سه! چې بعض علماً سپوږمی افضله بولي تر لمر، ولي چې لفظ د قمر مذکر دی او لفظ د شمس مؤنث سماعي دی، والتذکیر اصل والتانیث فرع فالفضل للاصل علی الفرع قال وهو الاصح الاشهر.

سوال: په آیت کي خو یې لفظ د شمس دمخه راوړی دی، نو دا د د افضلیت دلیل نه دی؟

خواب: لا! تقدیم في اللفظ دلیل د فضیلت نه دی ولي چې په قرآن مجید کي ځای ځای اشرف وروسته سوی وي کما في قوله تعالی "فمنکم کافر ومنکم مؤمن" وقوله تعالی "وجعل الظلمات والنور" هذا ما في اسئلة الحکم. بعض

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مفسرينو دا خبره رد کړې ده ولي چې اصالت او فرعيت او افضليت او مقبوليت په تذکير او تانيث حقيقي کې دی دون اللفظي او قمر چې مذکر لفظاً دی فضل ددې نه ثابتوي پر مؤنث لفظاً چې شمس دی، ولي چې لفظ د طلحة د نر نوم دی او نر خو تر نسځې افضل دی مع ان طلحة مؤنث لفظي، ولنعم ماقيل:

ولا التانيث عار لاسم شمس ..... ولا التذکير فخر للهلال.

إِنَّ فِي اخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَمَا خَلَقَ اللَّهُ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَّقُونَ ۝٦

په تحقيق سره په اختلاف د شپې او ورځې طولاً وقصراً ومساواتاً په اعتبار د سير د شمس في بروجها وظلمة ونوراً وحرارةً وبرودةً، او په هغو شيانو چې خداى پاک پيدا کړې دي په اسمانو کې من الشمس والقمر وسائر الکواکب المختلفة النور وغيرها التي لايعلمها الا الله او په محکمه کې من الحيوانات والکنوز والنباتات والاشجار وغيرها من الکائنات، هر آئينه دلائل دي د وحدانيت د خداى ﷻ "لوکان فيهما الهة الا الله لفسدتا" او پر قدرت باهره د خداى پاک او پر علم شامل د خداى پاک وغيرها من الصفات الجمالية والجلالية د خداى ﷻ.

برگ درختان سبز درنظر هوشيار ..... هر ورقی دفتريست معرفت کردگار

دا آيات هغه قوم لره دی چې له خداى ﷻ څخه ببرېږي، د تخصيص وجه يې داده چې هغه قوم په دې آيتو کې فکر ووهي.

إِنَّ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا وَرَضُوا بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَاطْمَأَنُّوا بِهَا

او هغه کسان چې اميد نه لري زمونږ د ثوابو په ورځ کې د قيامت خداى ﷻ اعلى د ثوابو ذکر کړی چې ملاقات د خداى ﷻ دی يعني رؤية تعالى بلا کيف او دوی راضي وې ددې دنيا په ژوند او پر آخرت يې خوښ کړی وي، او دوی مطمئن وي وحيوة الدنيا ته او لذائذ او شهوات د دنيا پر مخ بيايي او هغه شيان چې د اخرت په ورځ فائده لري پرېښي يې وي، نو مراد والله اعلم له دې کسانو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څخه اهل کتاب دي من الکفار چي دوی صانع هم مني او بعث یوم القیامة هم مني ومع ذالک اختاروا الدنیا علی الآخرة واقتصروا علی لذائذ الدنیا حتی غیروا التوراة والانجیل لاجل تلک الشهوات کمامر مراراً.

وَالَّذِينَ هُمْ عَنْ اٰيٰتِنَا غٰفِلُونَ ۝

او هغه کسان چي زمونږ د آیات چي دلالت کوي پر وجود د صانع او پر وحدانیت د هغه او پر بعث بعد الموت باندي غافل وي چي مراد څني مشرکان او دهریان دي.

اُولٰٓئِكَ مَاْوٰىهُمُ النَّارُ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ۝

دغه کسان یعني دوارې ډلي څای د ورتلو ددوی اور دی یعني دوزخ په سبب ددې چي دوی یې کسب کاوه په دنیا کي من الکفر والشرک والمعاصي.

اعراب: "اولئک" مبتدأ ده او "ماهم" مبتدأ ثاني ده او "نار" یې خبر دی والجملة خبر د "اولئک" ده او دا جمله ټوله خبر د "ان" ده.

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ يَهْدِيْهِمْ رَبُّهُمْ بِاِيْمَانِهِمْ

په تحقیق هغه کسان چي ایمان یې راوړی وي یعني پر وحدانیت د خدای ﷻ او پر رسالت د علیه الصلوة والسلام او پر بعث بعد الموت وغیر ذالک مما یجب الایمان به او عملونه کوي صالح من الصلوات وغیر ذالک.

دروښ وایي: چي په اعمال صالحه وکي ترک د منهیاتو هم مندرج دی. قال الله ﷻ "ان الصلوة تنهی عن الفحشاء والمنکر" خدای ﷻ دوی ته هدایت کوي په سبب د ایمان ددوی یعني وداسي لاري ته چي سالک وجنت ته رسوي.

سوال: خدای ﷻ جنت صراحةً نه کړی ذکر وجه یې څه ده؟

ځواب: وجه یې داده چي په مقابله دله کي چي کافران دي خدای ﷻ وویل مأوائهم النار، نو د مؤمنانو حال له هغه څخه وفهمیدی چي مأوائهم الجنة وایضاً ان المقام محفوف بالقرائن الدالة علی ان المراد الهدایة الی الجنة.

بوه سه: چي قاضي بیضاوي رحمه الله علیه وایي چي مفهوم د ترتیب د هدایت وجنت ته پر ایمان او عمل صالح که څه هم دلالت کوي پر دې چي سبب د هدایت وجنت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ته ایمان او عمل صالح دواړه دی لکن منطوق ددې آیت یهدي ربهم بایمانهم پر دې دلالت کوي چې ایمان مستقل دی په سببیت کې د دخول د جنت، انتهی بالترجمة او د مظهري رحمه الله مختاره هم داغه ده.

پوښتنه: د بیضاوي رحمه الله له قول څخه خو دا معلومېږي چې مطلق ایمان سبب مستقل د د خول د جنت وي وان لم یعمل من العمل الصالح بشئ ولم ینتهی عن المنهیات مع انه تعالی قال ومن قتل مؤمناً متعمداً فجزائه جهنم الآیة؟

ځواب: بعض مفسران وایي چې مراد د سببیت د ایمان لدخول الجنة دادی چې ولو بعد حین یعني بعد دخول النار.

دروښ وایي: چې دا ځواب صحیح نه دی ولې چې په دې کې تقیید د آیت مطلقه دی بلکې صحیح داده چې دا آیت خو دلالت کوي پر سبب د دخول د جنت. لکه بیضاوي چې وویل او تعذیب د مؤمن بالنار د نورو آیاتو او احادیثو څخه فهمېږي یعني که مؤمن عاصي الذي مات بلا توبة ته رحمت عامه د خدای ﷻ په ورځ د قیامت تدارک ونه کړي او شفاعت د سید البشر ﷺ یې هم یاري ونه کړي یدخل النار موقتاً.

پوه سه: چې علامه بغداد السید محمود الآلوسي رحمه الله په روح المعاني کې وایي ص (۷۴) والمراد بهذه الایمان الذي جعل سبباً هو الایمان الخاص المشفوع بالاعمال الصالحة لا المجرد عنها ولا الاعم آه.

دروښ وایي: چې آلوسي رحمه الله دې ټول طویل الذیل دلائل پر دې راوړي دي لکن ده متابعت کړی دی د زمخشري په کشاف کې چې صاحب کشاف معتزلي المذهب دی، او د معتزله وو مذهب دادی ي د ایمان سره چې اعمال صالحه نه وي یعني مسلمان مرتکب د کبائرو ګنهو وي او بې توبې مړ سي ځای یې د همېشه لپاره دوزخ دی او مجرد ایمان یې سبب د دخول د جنت نسي کېدای، لکه چې په شرح العقائد او شرح المقاصد کې دواړه تصنیف د علامه ثاني سعد الدین التفتازاني رحمه الله دي مذهب د معتزله وو یې هم لکه چې موږ وویل بیان کړی دی، وهکذا بین مذهبهم القاضي عضد الملة والدین في المواقف وشارحه السید السند الجرجاني وصاحب کتاب الملل والنحل عبد الکریم الشهرستاني،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: صاحب د روح المعاني ستا په عقيده معتزلي دی او که څرنګه؟

ځواب: حاشاً لله من ان اقول انه معتزلي بل هو سني من اعاظم اهل السنة والجماعة، او آلوسي رحمه الله په خپله په روح المعاني کي ددې خبرې مفصل ځواب ورکړی ان شئت فارجع الى روح المعاني.

تَجْرِي مِنْ تَحْتِهِمُ الْأَنْهٰرُ فِي جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ۝

چې بهېږي به لاندي تر قصرو ددوی بحذف المضاف، څلور ولې شراب، عسل، شیدې او اوبه په جنتو کي د نعمتو، اللهم اجعلنا منهم بمحض فضلک ورحمتک.

پوه سه: چې روح المعاني وايي چې دا بل خبر دی د "ان" اول خبر يې "يهديهم" ؤ آه، يا بل حال دی له مفعول څخه د "يهديهم" او اول حال يې "تجري" ؤ، او يا متعلق دی په "يهدي" او يا په "تجري" پورې، انتهى مع زيادة وقريب من ذالک قال البيضاوي رحمه الله.

دَعْوٰىهُمْ فِيْهَا سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ

يعنې دعاً ددوی او ذکر ددوی په جنتو کي دادی موږ تنزيه ستا وايو له هر عيب څخه وما لا يليق بذاتک الاقدس.

پوه سه: چې "دعائهم" مبتدأ ده او "فيها" يې متعلق دی او خبر يې سبحانک اللهم دی.

سوال: سبحانک اللهم خو تنزيه او ذکر دی، خواست څرنګه دی؟

ځواب: ابن الاثير په خپل تفسير کي وايي، انما سمي التهليل لا اله الا الله، والتحميد اى الحمد لله، والتسبيح اى سبحان الله، والتحميد اى الله اكبر او الله اعظم دعاً لانها بمنزلة الدعاً في استيجاب ثواب الله وجزاًه.

او بغوي رحمه الله وايي چې دا لفظ يعنې سبحانک اللهم يو اشاره ده په منځ کي د جنتيانو او د خادمانو ددوی چې دوی سبحانک اللهم وايي خادمان حاضر سي هر طعام چې يې غوښتی هغه حاضر کړي الى اخيره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَتَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلٰمٌ

پښ کش ددوی په جنت کي یو د بل سره سلام ای سلام لک من مکروه، نو اضافت د تحیة اضافت دی ومصدر فاعل ته او دا هم احتمال لري چي اضافت دي د مصدر ومفعول ته وي یعني تحیة الملائکة ایاهم قال الله تعالی والملائکة یدخلون علیهم من کل باب سلام علیکم بما صبرتم او ملائکة د خدای ﷻ له خوا هم سلامونه ورته راوړي، او بالذات هم خدای ﷻ ودوی ته سلام علیکم وایي قال الله تعالی سلام قولاً من رب رحیم ..... بیت:

سلام دوست شنیدن سعادتست وسلامت
بوصل یار رسیدن فضلیت است وکرامت

فائده: په جنت کي مکلفیت په عبادت نسته لان الجنة منزل ثواب العبادات لا موضع التکالیف الشرعیة لکن دوی چي دا تسبیح او تهلیل او تحمید وایي د خپل شوقه څخه کما قیل.

زوق نامش عاشق مشتا ق را .... از بهشت جودانی خوشتر است
گرچه در فردوس نعمتها بسی است .... وصل او از هر چه دانی خوشترست

وَاٰخِرُ دَعْوٰىهُمْ اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝

او اخیره دعا ددوی یعني ذکر ددوی دغه دی چي تولـه ثنا وصفت خدای ﷻ لره دی چي تربیه کونکی د تولو عالمیانو دی،

پوه سه: چي جنتیان چي دا دومره نعمتونه په جنت کي ووینـي او کرامت د خدای ﷻ او بیا سلام د ملائکه کرامو واوري او سلام د رب العزت واوري، نو ځکه دوی ثنا او صفت د خدای ﷻ په الحمد لله رب العالمین سره وایي.

وَلَوْ يُعَجِّلُ اللّٰهُ لِلنَّاسِ الشَّرَّ اسْتِعْجَالَهُمْ بِالْخَيْرِ

که چېري چابک ورکولای خدای ﷻ وخلګو ته شر یعني عذاب، لکه چابک چي ورکوي دوی ته خیر یعني صحت او رزق وغیرهما چي دوی یې وغواړي له خدای ﷻ څخه، بعض مفسرین رحمهم الله وایي چي دا آیت په شان کي د نضر بن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الحارث نازل سوی دی چې ده وويل "ان كان هذا هو الحق من عندك" كه چېرې وي دين د اسلام او قرآن او رسول ﷺ حق ستا له جانبه څخه، غرض دا وُ چې موږ خو يې نه منو يو له دغو درو څخه، فامطر علينا حجارة من السماء" نو پر موږ دي واوروي ډبري د اسمان له خوا څخه، پوه سه! چې دا خبره يوه نفر ددې لپاره وکړه چې زموږ يقين دی چې دا دين حق نه دی.

پوه سه: چې استعجال مصدر مضاف دی ومفعول ته يعني استعجال د خدای پاک ودوی ته د خير چې دوی خير غواړي، نو استعجال په معنی د تعجيل دی، او له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې دا آيت په دې باره کې دی چې سړي ته چې ډېر درد ورسي، نو ګاهې زوی ته ووايي چې په ستر ګو روند سې، او ګاهې ماينې ته ووايي چې کور دې خراب سه، او دا تفسير د قتاده رحمه الله دی، نو معنا د آيت داده که چېرې خدای ﷻ خلګو ته ورکړي شر يعني هغه چې دوی په وخت کې د غضب وويل او طلب يې په عجولانه ډول وکړی لکه چې خدای پاک دوی ته ورکوي خير چې دوی يې وغواړي ژر دی، ولي خدای پاک کريم دی د بنده د خير دعا ژر قبلوي.

لَقُضِيَ إِلَيْهِمْ أَجَلُهُمْ

راواستول سوی په وای ودوی ته اجل ددوی يعني دوی به هلاک کړي وای.

پوه سه: چې قرائت د ابن عامر او يعقوب بفتح القاف والضاد دی يعني پر صيغه د معلومې چې ضمير د فاعل يې خدای ﷻ ته راجع دی او نور قاريان يې په صيغه د مجهول وايي، نو پر صيغه د معلوم اجل په نصب سره مفعول دی او پر صيغه د مجهول اجلهم په رفع سره دی يعني مفعول مالم يسم فاعله دی.

فَنَذَرُ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿١١﴾

نو موږ پرېږدو هغه کسان چې نه مني ملاقات زموږ يعني نه ببرېږي د بعث بعد الموت له عذاب څخه، والمعنى لا نهلكهم ولا نقضي اجلهم لكه دوی چې غواړي بلكې امهالاً او استدراجاً عذاب يا مرګ نه پر نازلوي، نو ددوی دغه پاته والی امهال دی اهمال نه دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي حدادي رحمه الله وايي چي دا آيت عام دی هغه کسان هم پکښي داخل دي چي استعجال د عذاب غواړي چي په سبب د معصيت ددوی لکه يو سړی چي شراب څيښي او وايي چي پر ما دي خدای ﷻ د شرابو عذاب نازل کړي. او هغه کسان هم پکښي داخل دي چي خپل ځان يا اولاد ته بښړاوي کوي کمامر مثاله. او په صحيح حديث کي راغلي دي دعاً المرء على محبوبه غير مقبول لانه غير راض بقبوله قوله في طغيانهم يعني د سرکښی په سبب د عدم ايمان بالعبث والجزأ نو جار او مجرور متعلق په فنذر پوري دی او يعمهون حال دی له ضمير څخه د هم ای متحيرين مترددين.

دروښ وايي: چي مفسرين رحمهم الله وايي لا صلاح ولا حکمة في اماتتهم عاجلاً ولي چي عين ممکنه ده چي دغه وروسته سړی به ايمان راوړي، او بيا وروسته ددوی له اصلابو څخه مؤمن پيدا سي.

پوښتنه: دمخه په صحيح حديث کي تير سو دعاً المرء على محبوبه غير مقبول. او په بل صحيح حديث کي راغلي دي دعاً الوالد على ولده لا يرد. بښړا د پلار وزوی ته نه ردېږي، فکيف التوفيق بين الحديثين؟

ځواب: په مقاصد حسنه کي راغلي دي چي حديث اول محمول دی پر دې چي پلار په حال کي د غضب بښړا وکړي زوی ته لکن په زړه کي په راضي نه وي صرف غضب يې بښړا تر خوله وباسي. او حديث ثاني محمول پر دې دی چي زوی د پلار عاق وي او پلار د زړه له کومي بښړا ورته وکړي فهو لا يرد والله اعلم.

وَإِذَا مَسَّ الْإِنسَانَ الضُّرُّ دَعَانَا لِجَنبِهِ أَوْ قَاعِدًا أَوْ قَائِمًا

او هغه وخت چي انسان ته ورسېږي يو ضرر يا په جسد کي او يا په مال کي ومثل ذالک، نو دی مورِ ته خواست کوي په دفعه کي د هغه ضرر يعني په اخلاص او عاجزی سره پر بغل باندي يعني څنګ يې وهلی وي او يا چي ناست وي او يا ولاړ وي. ددې تردید فائده داده چي فوراً دي په دفع کي د ضرر مانه خواست کوي په ټولو احوالو کي چي ذکر سوله. او صاحب د روح البيان وايي چي فائده د تردید مذکوره داده چي ګاهي پر انسان باندي دومره لويه ناجوړي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسلطه سي چې صاحب فراش يې وگرځوي ببله اضطجاع پر بل شي قدرت نه لري. او گاهي څه سپکه ناجوړي وي چې پر ناسته هم قدرت لري. او گاهي ډېره سپکه ناجوړي وي چې پر ولاړه هم قدرت لري لکن تگ نه سي کولای.

فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُ ضُرَّهُ مَرَّ كَأَنْ لَّمْ يَدْعُنَآ إِلَىٰ ضُرٍّ مَّسَّهُ

نو هغه وخت چې لهري کړو مور هغه ضرر چې دی په مبتلا ؤ او ماته يې د کشف خواست کړی ؤ، نو دی روان وي پر خپل مخه يعني همېشه توب پر خپل کفر په مخه واخلي او شکر ونه وايي. لکه ده چې ماته خواست نه وي کړی.

دروېش وايي: چې له دې آيت څخه دا معلومه سوه چې مراد له انسان څخه کافر دی. او پر دې قياس دي هغه مسلمانان چې مثلاً لمونځ يې نه کاوه نايبره لوی تبې ونيوی. نو دی خدای ﷻ ته خواست کوي چې ما له دې رنځ څخه خلاص کړې، او نيت يې دا وي که زه خدای ﷻ له دې رنځه څخه خلاص کړم. نو پينځه وخته لمونځ په جماعت کوم. نو چې خدای ﷻ يې جوړ او روغ رمټ کړي دی پر خپله لار روان سي يعني بيرته خپلي بې لمانځی. ته دوام ورکړي الی غير ذالک.

پوه سه: چې "کان مخفف د مثقل دی اصل يې کانه ؤ، نو ضمير شان يې څنې حذف کړی يعني څان يې داسي واچوی لکه دی چې يو وخت په بلا نه ؤ مبتلا او ماته يې خواست نه وي کړی د يو ضرر لپاره چې ده ته رسېدلی ؤ.

كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلْمُسْرِفِينَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٢﴾

"کذالک" لکه ددغه مبتلا په زړه کې چې ناشکري ښائسته وه. ښائسته کړه سوې ده (والمزين هو الشيطان) وه مشرکينو ته (اسراف ای تجاوز عن الحد الشرعي) يعني کافرانو ته هغه چې دوی يې عمل کاوه.

دروېش وايي: چې مراد له مسرفينو څخه فرد کامل دی چې مشرکان دي چې تجاوز يې وکړی تر عبادت الله وحده څخه وعبادة الاصنام ته. شاعر مشهور صائب وايي

ازين چه سود که در گلستان وطن دارم .. مرا که عمر چو نرگس بخواب ميگذرد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا الْقُرُونَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَمَّا ظَلَمُوا

او موږ هلاک کړي دي ډېر قرنونه مثل قوم نوح ومثل عاد وثمود الی غیر ذالک. تر تاسي دمخه هغه چې دوی پر خپلو ځانو ظلم کاوه بالکفر والمعاصي واتباع الشهوات الباطلة. وفیه تنبیه لاهل مکه ان حالهم ایضاً یکون مثل حال الامم الماضیة ان لم یؤمنوا بتوحید الله ﷻ وحقیقة القرآن ورسالة النبي ﷺ.

پوه سه: چې مخاطب اهل مکه دي.

وَجَاءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ

عطف دی پر ظلموا او یا حال دی د فاعل څخه د ظلموا په تقدیر د قد کما هو القانون النحوي في حالیة الفعل الماضي. او راتګ کړی ؤ دوی ته رسولانو ددوی په معجزاتو ظاهراتو سره، ددې جملې فائده داده چې قانون الهي دادی چې پر کافر چې حجت تام نه سي خدای پاک یې نه هلاکوي، کما قال الله تعالی في موضع آخر "وما کنا معذبین حتی نبعث رسولاً" ولي چې کافر ته ځای د عذر پاته نه سي، یعني هل لا ارسلت الینا رسولاً.

وَمَا كَانُوا لِيُؤْمِنُوا

او نه وه دوی یعني اهل قرون الماضیة الظالمة چې دوی دي ایمان راوړي، کلمه د لام لپاره د تاکید د نفي ده. ولي چې دوی فاسد کړي وه خپل استعدادات فطریه قال رسول الله ﷺ کل مولود یولد علی فطرة الاسلام الی آخر الحدیث النبوي ﷺ.

كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْقَوْمَ الْمُجْرِمِينَ

یعني لکه کفارو ته د امم ماضیه موږ جزاً د اهلاک ورکړه وروسته تر ارسال الرسل بالبینات موږ جزاً ورکوو په آئینده کې وه هغه قوم ته چې مجرمان وي لکه مجرمان د امم ماضیه ؤ.

ثُمَّ جَعَلْنَاكُمْ خَلَائِفَ فِي الْأَرْضِ مِنْ بَعْدِهِمْ

وروسته تر امم ماضیه وو موږ وګرځولاست تاسي یا کفار مکه خلیفه ګان په سرزمین کې د مکې وروسته تر کفار ماضیه وو الهلکة وو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: وروسته والى د اهل مكه خو له ثم څخه فهمېدى نو من بعد هم ته څه ضرورت وؤ؟

ځواب: لپاره د تاكيد د معنى حرفي ضمني په صريح بعديت سره او ددې شعر د سعدي رحمه الله به مصداق وگرځي.

پند گير از مصائب ديگران ..... تا نه گيرند ديگران زتو پند
نرود مرغ سوى دانه فراز ..... چو بيند مرغ ديگر اندر بند

لِنَنظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ ﴿١٤﴾

چې موږ وگرو چې تاسي څه عمل كوئ د خير عمل كوئ او كه د شر، نو تاسي معامله پر موافق د اعمالو ستاسي وكړه سي، او يا تاسي عبرت له دوى څخه اخلئ چې نو تصديق د رسولانو وكړئ او كه نه.

پوه سه: چې خداى پاك خو ازلاً پر دوى علم لري، نو مراد له "لننظر" څخه علم بعد وجو المعلوم دى چې منطقيان يې علم تفصيلي بولي، ولي چې مناط د ثواب او عقاب هم دغه علم تفصيلي دى د ابي سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت دى چې عليه الصلوة والسلام وويل ان الدنيا حلوة (دنيا شرينه ده) خضرة (سرسبزه ده) وان الله مستخلفكم مناظر كيف تعملون (خداى جل جلاله تاسي د نورو مخني خلگو خليفه گان گرځوي، نو خداى جل جلاله گوري چې تاسي څرنگه عمل كوئ)

اعراب: "كيف" منصوب دى په "تعملون" سره نه په "لننظر" سره، ولي "كيف" چې معنى د استفهام ورسره ده د خپلې جملې صدارت غواړي، حافظ شيرازي:

خوش عرورست جهان از ره صورت لكن
هر كه بدو پيوست عمر خودش كابين داد

كابين مهر ته وايي يعني كابين ولور بولي، مفسرين رحمهم الله وايي چې په دې آيت كې تهديد او گوابن دى اهل مكه وو ته پر جرم ددوى بتكذيب رسول الله ﷺ تا چې له دې انكار څخه وډه وكړي، د بېرې ددې چې پر دوى به هم عذاب استيصال نازل سي لكه نازل سوى چې ډ پر دوى دمخه كافرانو چې تكذيب د رسول به يې كاوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ

چې تلاوت وکړل سي پر اهل مکه باندې يعني د عليه الصلوٰة والسلام له خوا زمونږ د آيتو.

دروښ وايي: چې که څه هم ټوله مشرکانو د مکې دا راتلونکې وينا په کوله لکن په قول د قتاده رحمه الله دغه کسان ډېر سر سخته وه په دې دنيا کې (۱) عبدالله بن ابي المخزومي (۲) وليد بن المغيرة (۳) مکرز بن حفص (۴) عمر بن عبدالله (۵) عاص بن عامر بن هشام.

بينات" چې واضح الدلالة وه پر دې چې دا آيات من عند الله دي خو بيا هم.

قَالَ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا ائْتِ بِقُرْآنٍ غَيْرِ هَٰذَا أَوْ بَدِّلْهُ

ويل به هغو کسانو چې عقيده به يې نه درلوده پر ملاقات زمونږ مراد ځنې يوم القيامه ده او بعث بعد الموت، نو معنا يې داده چې له ملاقات څخه د عذاب زمونږ نه بېړ بدل چې هغه په ورځ د قيامت نازلېږي پر کافرانو، ته مونږ ته راتګ وکړه په قرآن غير د موجوده قرآن څخه يعني چې په هغه کې زمونږ د خدايانو عيب بيانول او سپکاور نه وي، او يا دا چې د ثواب او عقاب تر عقل لوړې خبرې نه وي پکښې، يا داغه قرآن رد او بدل کړه يعني پر ځای د آيت عقاب آيت د ثواب کښېږده، او بل ځای د ذم زمونږ د خدايانو چې لات، عزى وغيره دي آيت د مدح ددوى ولګوه، او د بعض حرام پر ځای حلال کښېږده وبالعکس.

قُلْ مَا يَكُونُ لِي أَنْ أُبَدِّلَهُ مِنْ تِلْقَاءِ نَفْسِي

ته ورته وواية اې محمد ﷺ يعني نه ده صحيح او نه بنايي مالره چې زه دې قرآن منزل من عند الله بدل کړم يعني من قبل نفسي له طرف څخه د خپل ځان.

پوښتنه: کافرانو د مکې د يوه يا د دوو شيانو مطالبه کړې وه چې يا نزول د قرآن آخر ؤ غير له موجوده قرآن څخه او يا رد وبدل ؤ د موجوده قرآن کمامر، خدای ﷻ وه عليه الصلوٰة والسلام ته د يوازې رد وبدل جواب تعليم وکړی حکمت يې څه دی؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خواب: چونکه ردوبدل په قرآن موجود کي د آسان کارو تر نزول د قرآن آخر، نو چي تبديل له طرف څخه د عليه الصلوٰة والسلام ممتنع دی نو نزول د قرآن نوين په طريق اولی ممتنع دی.

اِنْ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا يُوْحٰٓى اِلَيَّ

زه متابعت نه کوم مگر نه د هغه شي چي ماته وحي سوي وي.

پوه سه: چي دا دليل دی لقوله مايکون لي آه. حاصل د دليل دادی چي هغه څوک چي تابع د بل چا وي هغه نه سي کولای چي بېله امره د متبوع دي استقلالاً دي تصرف په يو شي کي وکړي.

فائده: له دې آيت څخه جواب د نسخ د بعض آيتو د قرآن په نورو آيتو سره هم وفهمېدی، ولي نسخ مذکوره خو هم د متبوع چي خدای ﷻ دی تر سره کېږي او دا توهم د کفارو هم دفعه سو چي قرآن اختراع د عليه الصلوٰة والسلام له خوا څخه ده ځکه يې تبديل په دې سره مقيد کړی من تلقائي نفسي.

اِنِّيْٓ اَخَافُ اِنْ عَصَيْتُ رَبِّيْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ

په تحقيق زه ېېرېږم که زه عصيان او نافرماني د خپل رب وکرم يعني بالتبديل بېله امره د مولی ﷻ له عذاب څخه د ورځي د قيامت نو ددې تبديل په طلب تاسي گناه کار ياست.

قُلْ لَّوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا تَلَوْتُهٗ عَلَيْكُمْ وَلَآ اَدْرٰىكُمْ بِهٖ

ته ووايه که د خدای ﷻ اراده وای يعني د عدم نزول د قرآن پر ما باندي او يا عدم تلاوت پر تاسي، ما به تلاوت د قرآن نه کولای پر تاسي ولي چي زه امي يم او د امي له شانه څخه نه ده چي ددې قرآن تلاوت دي وکړي چي د طوق د بشر خارج وي قال الله تعالى "وان كنتم في ريب مما نزلنا على عبدنا فأتوا بسورة من مثله الآية" او نه به مي خبرولای تاسي په قرآن سره.

حکايت: يو شيخ او ولي الله ؤ په قوم کردي ؤ چي عربي ژبه يې هيڅ نه وه زده، يو منکر وده ته د تعصب او د عناد د لاري وويل چي ته خو يو څه نصيحت او وعظ په عربي ژبه موږ ته وکړه، د معاند دا خيال ؤ چي دی به رسوا کړم، ولي چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی امي دی وعظ او تبليغ يې نه دی زده، شيخ وايي چې زه د شپې په ډېر غم کې ډوب بيده سوم، نو ما عليه الصلوٰة والسلام په خوب وليدی ده مبارک راته وويل چې صبا په عربي ژبه نصيحت ورته وکړه، نو سهار شيخ مذکور د وعظ لپاره پر منبر کښېنستی او په عربي ژبه يې د قرآن تفسير او تأويل بيان کړی چې خلګ او معاند د تعجب په درياب کې ډوب سوله، نو شيخ دا خبره وکړه امسيت کرديا واصحبت عربياً وذالک من فضل الله والله علی کل شيئ قدير.

حافظ شيرازي رحمه الله وايي:

فيض روح القدس ارباز مدد فرمايد .... ديگران هم بکنند آنچه مسيحا ميکرد

يعني عيسی عليه السلام.

فَقَدْ لَبِثْتُ فِيكُمْ عُمُرًا مِّن قَبْلِهِ

ما په تاسي کې ژوند تېر کړی دی يعني څلوېښت کاله د مخه د قرآن تر نازلېدلو او تاسي ته مي شی نه ووايه تر هغو چې ماته وحي نه وې راغلې او ما نه په يوه مدرسه کې سبق ويل ؤ او نه مي يو عالم ليدلی ؤ او نه مي يو شعر ويلی ؤ او نه مي خطبه او نصيحت کړی ؤ، وروسته خدای عزوجل داسي قرآن راکړی چې فصاحت او بلاغت ته يې د دنيا ټوله ژبيارن او فصحا د عدنان او بلغا د قحطان حيران دي او ټوله له اتيان څخه د مثل د يوه سورت عاجزه سوه حتی چې لپاره د دفع د خجالت يې دا وويل "انهم سحروا تسحيراً" يعني چې محمد ﷺ په موږ سحر وکړی چې له اتيان څخه د مثل يې عاجزه سولو، نو له دې څخه دا معلومه سوه چې قرآن معجزه د خارق للعادة او قول البشر نه دی بلکې نازل دی له جانبه څخه د خالق مقتدر.

فائده: عليه الصلوٰة والسلام قبل الوحي څلوېښت کاله په مکه کې تېر کړه او بيا وحي ورته راغلې، وروسته تر وحي ديارلس کاله په مکه مکرمه کې ؤ او بيا يې هجرت مدينې منورې ته وکړې او په مدينه کې يې لس کاله ژوند ؤ چې دين اسلام شائع سو او فتح د مکې مکرمې هم وسوه او عربو په ډلېزه توګه اسلام قبول کړی، آية کريمه "ورئيت الناس يدخلون في دين الله افواجاً" او بيا په دغه سورت کې خدای پاک اشاره دده مبارک رحلت ده وکړه، کريمه "فسبح بحمد ربک واستغفره انه کان تواباً" نو عليه الصلوٰة والسلام د دروشېښته (۶۳) کلو په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عمر کي رحلت د دنيا فاني څخه وداروجاودانې ته وکړی، او د رفيق اعلی په ويلو سره رخصت سو صلی الله تعالی عليه وعلی آله وصحبه اجمعين وارزقنا اتباعه علی وجه الاحسان واليقين آمين.

أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿١٦﴾

آيا تاسي کفار عقل نه لرئ چي ددې بيان سوي حالاتو څخه د نبي ﷺ پند واخلئ او ايمان راوړئ.

فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا

الاستفهام للانکار ای لا احد اظلم تر هغه چا چي درواغ وايي پر خدای ﷻ يعني چي خدای ﷻ لره شريک سته لکه مشرکين د مکې، يا خدای ﷻ لره ولد سته لکه بعض مشرکين د مکې چي ويل به يې چي ملائکه بنات الله دي، او يا يهود چي عزير ابن الله يې باله، يا لکه نصاری چي عيسی ابن الله بولي.

أَوْ كَذَّبَ بِآيَاتِهِ ۚ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْمُجْرِمُونَ ﴿١٧﴾

يا درواغ بولي آيات د خدای ﷻ يعني قرآن کريم لکه طوائف ثلثة مذکوره، شان دادی چي فلاح او خلاصون له عذاب الهي څخه نه سي پيدا کولای مجرمين يعني کفار مکه.

وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ

او عبادت کوي کفار د مکې دداسي شيانو چي ددوی بتان او اصنام دي ماسوی د خدای ﷻ چي د هغو خدايانو ضرر نه رسېږي ودوی ته چي عبادت يې نه وکړي او نه يې نفع رسېږي ودوی ته که يې عبادت وکړي لانها جمادات لايقدرون عن نفع ولاضرر، او معبود بايد مالک د دفع د ضرر او د نفع وي د خپل عابد سره.

وَيَقُولُونَ هَٰؤُلَاءِ شُفَعَاؤُنَا عِندَ اللَّهِ

او دوی وايي دا بتان زمونږ شفاعت کونکي دي په نېږ د خدای ﷻ په امور دنيويه کي او په اخرويه کي که چېري اخيرت ؤ ولي دوی خو منکر دي له بعث بعد الموت څخه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قُلْ أَتُنَبِّئُونَ اللَّهَ بِمَا لَا يَعْلَمُ

ته ورته ووايه دوی ته آيا تاسي خبروئ خدای پاک په داسي شي سره "يعني چي خدای پاک لره شريک سته" چي خدای ﷻ نه دی په خبر يعني په خپل شريک او تاسي وه خدای ﷻ ته وربنيايست چي تالره شريک سته؟.

پوه سه: چي استفهام لپاره د انکار دی يعني تاسي وه خدای پاک ته داسي وربنوولای چي خدای ﷻ علم نه پر لري چي شريک دی، ولي چي علم د خدای پاک پر ممکناتو سته شريک د خدای ﷻ خو ممتنع دی، پر ممتنع باندي خدای پاک علم نه لري لکه اجتماع النقيضين وارتفاعهما وشريک الباري وامثال ذالک.

فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ

نه يې په اسمانو کي يعني چي ملائکه دي او نه په مځکه کي چي ستاسي بتان دي، ولي چي دا تولې حوادث او ممکن شيان دي او خدای ﷻ قديم واجب الوجود دی.

سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ۝

منزه او پاک دی خدای ﷻ له شرک څخه ددوی يعني المشرکين، که کلمه د "ما" په عما کي مصدريه سي او يا د هغو شيانو چي مشرکان يې د خدای ﷻ شريک بولي چي بتان دي پر تقدير ددې که کلمه د ما موصوله وي.

فوائد شتى فيما يتعلق بالآيات السابقة (۱) فائده: په حديث شريف کي راغلي دي چي لوی درواغ درې دي، يو دا چي پر خپلو سترګو درواغ ووايي چي ما داسي شی وليدی يعني په خوب کي او نه يې وي ليدلی، دوهم دا چي پر مور او پلار درواغ ووايي يعني يا مور بدله کړي او يا پلار بدل کړي.

دروېش وايي: چي دا تبديلي نن صبا په مهاجرينو کي د افغانستان چي پاکستان ته مهاجر سوي دي د روسانو له ظلمه څخه يعني د سنه (۱۴۰۰) هـ رايسته، يعني بعض خلګ ما پېژندل چي په افغانستان کي جتان وه او پارسي بانان وه په پاکستان کي يې يا په سيدانو پوري يا په محمدزيانو پوري يا په نور عزت والا قومو پوري ځان پيوند کړی، يعني د قوم بدلول د پلار او نيکه بدلول دي په درواغو، او يا درواغ وايي پر مايقول سمعت رسول الله ﷺ ولم يسمع مني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یعني ولو بالواسطة، لکه بعض جاهلان د مسجدو امامان او د جامع مسجدو خطیبان. نو دوی په خپلو تبلیغاتو او مواعظو کي وایي چي په حدیث شریف کي داسي راغلي دي او هغه درواغ وي یعني موضوع حدیث وي، په حدیث شریف کي چي بعض محدثین یې متواتر حدیث بولي راغلي دي "من کذب علي متعمداً فلیتبوأ مقعده من النار" (که یو چا درواغ وویله پر ما باندي په قصد سره، نو ځان ته دي جوړ کړي د اوسېدلو ځای په دوزخ کي)

پوه سه: چي ظاهر ددغه حدیث امر دی لکن په معنا د اخبار دی یعني ځای یې په دوزخ کي جوړ کړی.

پوه سه: چي درواغ ویل د یوه فرد د امت د علیه الصلوٰة والسلام پر علیه الصلوٰة والسلام باندي فوق الذکر یې جزاً ده، نو څرنګه به رسول الله ﷺ ته دا روا وي چي پر خدای ﷻ دي درواغ ووایي لکه کفارو د مکې چي به ویل "افتری علی الله ام به جنة" او سره ددې چي انبیاً علیهم السلام امینان د خدای ﷻ پر ما اوحي الیهم لایزیدون فیه ولا ینقصون ولا یبدلون لکه مشرکانو د مکې چي به علیه الصلوٰة والسلام ته ویل "اوبدله" بلکې اولیاً الله الکرام هم ورته کارونه نه کوي، وفي الحدیث الصحیح قال عمر بن الخطاب ﷺ یا نبي الله مالک افصحنا قال علیه الصلوٰة والسلام جائني جبرئیل فلقنني لغة ابی اسمٰعیل وان الله ادبني فاحسن تأدیبي وامرني بمکارم الاخلاق فقال خذ العفو وامر بالعرف.

فائده: پوه سه! چي تاریخ وایي چي اوله بت پرستي له قوم څخه د نوح علیه السلام منځ ته راغلې ده، او هغه داسي چي د آدم علیه السلام پینځه زامن وه صالحان ود، سواع، یغوث، یعوق او نسر، نو ود چي وفات سو خلګ ډېر په غمجن سوه فاجتمعوا حول قبره وذالک بارض بابل، نو ابلیس چي محبت او اجتماع دوی پر قبرو ولیدل، نو پر صورت د یو انسان ورته راغلی چي زه به د ود صورت درجوړ کړم هر وخت چي تاسي دې صورت ته وګورئ دی به درپیاد ېږي، خلګو ورته وویل نعم، نو ابلیس صورت د ود ورجوړ کړی، وروسته چي به هر یو مړ سو دوی به خپله د هغه صورت جوړ کړی او د هغه نوم به یې پر کښېښو، تر تمام د پینځو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کلو، دا کار خو دوی د عبرت لپاره کاوه او د محبت د مړه ورور، نو د زمانو په تېرېدلو سره شیطان وه اخیري نسل ته دا وسوسه ورواچول چې ستاسي آبا او اجداد ددغه صورتو عبادت کاوه نو خلګو شروع په عبادت د هغو پیل کړه. نو خدای پاک نوح علیه السلام په نبوت ودوی ته راواستوی او دوی یې له عبادت څخه د هغو بتانو منع کوله او دوی یې په خوله نه کوله حتی چې ده نه نیم سوه (۹۵۰) کاله تبلیغ ورته وکړی، دل خواه فائده یې نه وکړه حتی چې نوح علیه السلام بېرا ورته وکړه "رب لاتذر على الارض من الكافرين ديارا" فانزل الله الطوفان ففرقوا كلهم الا من في سفينة نوح، وهذا مما نزل به القرآن.

پوه سه: چې د آدم علیه السلام او د نوح علیه السلام تر منځ لس قرنه وه چې ټوله پر حق شریعت وه.

فائده: دغه بتان ټوله په طوفان نوح کې د دریاب پر غاړه په جده کې تر خټو لاندې وه، نو دغه بتان ابلیس لعین له خټو څخه د جدې وچې مخکې ته راوه ایستل او د عربو په لاس ورغله او د هغو عبادت یې شروع کړی.

(۴) اول سړی چې په مکه مکرمه کې یې بت نصب کړی عمرو بن لحي د خزاعه د قبیلې وُ په دې ترتیب چې دغه ناموړی سړی له مکې څخه وشام ته تللی وُ د تجارت وغیره لپاره هورې د بلقا په ښار کې عمالیق قبیله ولیدله چې د عمالق بن لاوُد بن سام بن نوح اولاد وه او هغو ټولو د بتانو عبادت کاوه، نو ده پوښتنه ځنې وکړه چې دا څه شیان دي چې تاسي یې عبادت کوئ هغو ورته وویل چې دا خدایان دي چې پر موږ د باران قحط سي ددوی څخه موږ طلب د باران کوو دوی باران راباندې اوروي، که موږ کومک ځنې وغواړو په یو مهم کې دوی کومک راسره کوي، عمرو بن لحي ورته وویل چې ماته به یو بت نه کړې راځه به یې مکې ته یوسم او هورې به یې موږ عبادت کوو، نو هغو یو بت ورکړی د هبل په نامه چې له عقیق څخه جوړ وُ پر صورت د انسان، نو ناموړي هغه هبل راوړی د کعبې شریفې په خونه کې یې ودراوه او خلګ یې امر کړه په عبادت د هغه او په تعظیم د هغه، نو یو سړی چې به له سفره راغلی نو اول به یې طواف وکړی بیا به یې د هبل عبادت وکړی بیا به کورته تلی، بیا به یې سر وخرایه کذا في انسان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

العیون، او اهل طائف په نامه د لات بت عبادت کاوه. او اهل مکه نور بتان هم درلوده چي عزاً او منات او د اساف په نامه یادیدل.

دروښ وایي: چي د داسي قوم د هدایت لپاره خدای ﷻ سید الانبیاً محمد المصطفی ﷺ دیارلس کاله مبارزه وکړه او ددغه قوم څخه د دیارلسو کلو په دوران کي پر علیه الصلوٰة والسلام سخت سخت کړاوونه تېر سول حتی چي اخیر وه هجرت ته مجبور سو او مدیني منورې ته یې هجرت وکړی او په مدینه منوره کي د لسو کلو په تېرېدلو سره خدای ﷻ ټوله مشکلات حل کړه او مکه مکرمه فتح سوه، کریمة "اذا جاء نصر الله والفتح ورئیت الناس یدخلون في دین الله افواجاً الی اخیر السورة"

(۵) فائده: حسین کاشفي په تفسیر حسیني کي وایي انتفاً علم بجهت معلوم است یعني شما میگویند که خدایرا شریک است وتکیه بشفاعت بتان میکنید وخداوند که عالمست بجمیع معلومات این رانمی داند پس معلوم شد که شریک اورا نیست وشفاعت بتان نخواهد بود انتهی، قال ابن الشیخ فان من ذالک (ای من الشریک وشفاعت الاصنام) نو کان موجوداً لعلمه الله تعالی ومالا یعلمه الله استحال وجوده انتهی نو معلومه سوه چي شریک او شفاعت د بتانو محال دی.

وَمَا كَانَ النَّاسُ إِلَّا أُمَّةً وَاحِدَةً فَاخْتَلَفُوا

نه وه خلګ مګر نه یو امت یعني پر توحید فطري باندي، او یا متفقه پر دین اسلام چي مشترک دی په منځ کي د ټولو انبیاً علیهم السلام یعني په اصولو او عقائدو کي له زماني څخه د آدم علیه السلام تر لږ دمخه تر نوح علیه السلام او یا وروسته تر طوفان او یا له زماني څخه د ابراهیم علیه السلام تر زماني پورې د عمرو بن لحي کمامر قصته، نو دوی یو له بله سره اختلاف شروع کړی وروسته تر دې چي دوی انبیاً علیهم السلام خدای ﷻ را استول نو بعضو ایمان راوړی او بعض یې پر کفر باندي پاته سوه نو اختلاف د کفر او اسلام په دوی کي پیدا سو.

وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَبِّكَ

که نه وای یوه خبره چي دوړاندي یعني په ازل کي خدای ﷻ کړې ده چي هغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خبره داده چي هر امت لره خپل اجل معلوم سته. او کلبي رحمه الله وايي چي امهال د هغه امت او عذاب د دنيا يې نه اخته کوي يعني عذاب چي په اخيرت کي يې دوی مستحق دي.

لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ فِيمَا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿١٩﴾

نو به فيصله کړل سوې واى په منځ کي ددوى بنزول العذاب الموعود في الدنيا وتعجيل العقوبة للمكذبين لكن الامهال فضل، چي دوى په هغه کي اختلاف درلوداى يعني الكفر والاسلام.

پوه سه: چي مراد له کلمة څخه قضاً الهي ده او مراد له قضاً بينهم څخه دادى چي مؤمن به يې وجنت ته داخل کړى واى او کافر به يې ودوزخ ته په دې دنيا کي حكمت الهي په دې کي دادى چي که خداى جل جلاله داغسي کړي واى چي عذاب الآخرة يې ودنيا ته رانقل کړى واى نو ايمان ضروري گرځېدى او اختياري ايمان بالغيب له منځه تلى، ولهذا قيل لايدخل النار للتابيد الا مؤمن يعني نه داخلېږي ودوزخ ته د خلود لپاره مگر نه مؤمن يعني مؤمن د ورځي د قيامت ولي كافران چي دوزخ وينې او بعث بعد الموت يې په مشاهده ووينې، نو خو گرده ايمان راوړي اضطراراً وهذا الايمان لا اعتبار له بل المعتبر عند الله هو الايمان الاختياري في الدنيا بالغيب.

پوه سه: چي بعضو مفسرينو رحمهم الله په آيت مبارک مذکور کي دا احتمال هم بيان کړى دى چي انسانان توله په اصل خلقت کي خداى جل جلاله پر يوه ملت پيدا کړي دي چي استعداد د قبول د حق دى وروسته بيا دا ملت سره مختلف سوه په تربيت د مور او پلار کما قال رسول الله ﷺ كل مولود يولد على فطرة الاسلام فابواه يهودانه وينصرانه ويمجسانه. وهذا الحديث في غاية الحصحة كما لا يخفى.

فائده: دا اختلاف لكه په امم ماضيه وو کي وو زمونږ په امت کي هم سته، بعض كافران دي لكه يهود او نصارى او مشركين او بعض مؤمنان دي او بعض مبتدعان دي لكه معتزله او روافض وغيرهم.

پوه سه: چي مراد د دروښ زمونږ له امت څخه نفس امت دعوت دى فافهم او په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صحیح حدیث کي راغلي دي اوصیکم بتقوی الله (زه تاسي ته وصیت کوم په
بېره د خدای ﷻ څخه) الی ان قال في اخیر الحدیث وانه من یعش منکم فسیری
اختلافاً کثیراً فعلیکم بسنتي وسنة الخلفاً الراشدین المهدین عضوا علیها
بنواجذ (او شان دادی که څوک ژوندی پاته سي له تاسي څخه ژر دی چي ډېر
اختلاف به وویني، نو پر تاسي لازمه ده اقتداً او پیروي زما د سنت او طریقې او
د سنت د خلفاً الراشدینو یعني چې پر هدایت دي او مراد له خلفاً راشدین څخه
ابوبکر، عمر، عثمان او علي ﷺ دي) عضوا علیها بالنواجز (تینګ کړئ تاسي
دا سنت د زامي په غاښو کي وهذا کنایة عن کمال الاتباع السنة المذکورة.

دروېش وایي: چې اختلاف په امت مرحومه کي له قدیمه څخه واقع دی
کالمعتزلة والروافض والشیعة وغیرها لاهل السنة والجماعة او وروسته به هم
واقع کېږي تر هغو پورې چې مهدي ﷺ پیدا کېږي او عیسی ﷺ له اسمانو
څخه راکښته کېږي، قال الحافظ الشیرازي قدس سره.

تو عمر خواه وصبوری که چرخ شعبده باز
هزار بازی ازین طرفه تر بر انگیزد
روزی اگر غمی رسدت تنگ دل مباش
رو شکر کن مباد که از بد بدتر شود

وفي روح البیان بعض علماً وایي چې په دې امت محمدیه کي یوه ډله پیدا
کېږي چې د علماً سره د دین محمدي ﷺ به بغض لري او د فقهاؤ سره د دین
اسلامي به لوی عداوت لري چې دا فرقه په نورو امتو کي نه وه، او داغه رنګه له
مجتهدینو څخه د امت مرحومه او د حامیانو څخه د څلور طریقو د تصوف به
سخت نفرت لري، حتی چې د سید طائفة المجتهدین الامام الاعظم ابو حنیفة
النعمان رحمه الله هم لوی انکار کوي او د سپکاوي په نظر ورته ګوري،

دروېش وایي: چې دا ډلې په مختلفو نومانو څان یادوي (۱) اصحاب ظواهر
الحدیث" چې دوی بې قرآن او حدیثه بل هیڅ مذهب نه منې (۲) وهابیه" چې اتباع د
محمد بن عبد الوهاب النجدي دي چې خپل مقتدا مجدد الدین بولي چې په دې کي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دوه احتماله سته فافهم، ددوی د مقتدا په عقیده امت مسلمه تر سنه شپږ سوه کاله (٦٠٠) وروسته توله مشرکان دي چې ددې دلي حال دروښ په حواله د تاریخو په یوه رساله کي چې نوم یې "البیانات الصادقة في احوال الفرقة الوهابیة" چې طبع سوې ده پوره بیان کړی دی، په حدیث صحیح کي راغلي دي چې علیه الصلوٰة والسلام وویل اللهم بارک في شامنا اللهم بارک في یمننا، خلګو ورته وویل وفي نجدنا؟ علیه الصلوٰة والسلام دریې واره خپل خبره تکرار کړه او خلګو وفي نجدنا ورسره تکرار کړه، اخیر علیه الصلوٰة والسلام دا خبره وکړه هنالک یطلع قرن الشیطان "په نجد کي یو محمد بن عبد الوهاب النجدي پیدا سوی دی (٣) سلفیه" چې ددې دلي پوره حالات دروښ په لویه رساله کي چې نوم یې سیف الکندهاري علی عنق السلفي دی چې هغه هم دا اوس چاپ سوې ده او د خواهشمندانو په وراندې ده (٤) پنج پیریه" دا یوه مرکبه دله ده له وهابیه او سلفیه وو څخه.

وَيَقُولُونَ لَوْلَآ أُنزِلَ عَلَيْهِ ءَايَةٌ مِّن رَّبِّهِۦ

او وایي کفار د مکې ولي نه نازل کړل کبرې پر محمد ﷺ) یو دلیل له جانبه څخه د خدای (ﷻ) دده.

پوه سه: چې له نزول څخه مراد دا نه دی لکه نزول القرآن بلکې مراد وجود د دلیل د نبوت دده دی او مراد ددوی هغه دلیل دی چې دوی به غوښتی لکه چې بعضو به ویل چې د مکې محکه ټوله غرو نیولې ده جاري اوبه هم نه لري، نو ته ستا خدای ته ووایه چې دا غرونه ایسته کړي او لویه واله دي د اوبو په مکه کي تېره کړي چې موږ پر دواړو غاړو د ولې باغونه جوړ کړو، او بعضو به ویل چې د صفا غر دي د سرو زرو سي چې پر دښمنانو به هغه سره غالب وګرځوو.

فَقُلْ إِنَّمَا ٱلْغَيْبُ لِلَّهِ فَٱنتَظِرُوٓا۟ إِنِّى مَعَكُم مِّنَ ٱلْمُنتَظِرِينَ ﴿٢٠﴾

ته ورته ووایه چې د غیبو شانو علم خاص په خدای ﷻ پورې دی، یعنې مقترحه غوښتنې علم یې د خدای ﷻ سره دی، نو خدای ﷻ د حکمت له لارې هغه مقترحه شیان نه نازلوي "فانتظروا" نو تاسي انتظار کوئ و آیاتو مقترحه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وته او يا انتظا كوي، چي خداى ﷻ به محق او مبطل سره جلا كړي. ژه ستاسي په انتظار كي يم وقضاء الهي ته په احقاق كي د حق او په ابطال كي د باطل، يعني خداى ﷻ حق چي اسلام دى او باطل سره جلا كړى چي حق يې پر باطل غالب كړى وكذالك فعل الله ﷻ.

وَإِذَآ أَذَقْنَا ٱلنَّاسَ رَحْمَةً مِّنۢ بَعْدِ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُمْ

چي مونږ وځكه وو يعني ورسوو خلگو ته يعني اهل مكه ته وهم المشركون رحمة يعني فراخي د رزق او صحت او عافيت من بعد ضراً "مستهم" وروسته تر ضرر چي دوى ته رسېدلى ؤ، يعني قحط د رزق او يا مرض په بدن كي الى غير ذالك من الاهل والعيال.

إِذَا لَهُم مَّكْرٌ فِىٓ ءَايَاتِنَا

ناگاه دوى چم كوي په آياتو زمونږ، مجاهد رحمه الله وايي چي مراد له مكر څخه تكذيب د آياتو او استهزأ په آياتو سره ده، چي په ظاهره خو دوى تكذيب د رسول ﷺ او اراده د شر وه عليه الصلوٰة والسلام ته ښكاره كوي دون تكذيب آيات الله سبحانه وتعالى لكن الشر والتكذيب في الحقيقة راجع الى الله تعالى لان الآيات القرآنية كلام الله تعالى، او مقاتل بن حيان رحمه الله وايي چي مكر ددوى داؤ چي وروسته تر قحط به خداى ﷻ ښه بارانونه وكړل او قحط به لېرې سو، دوى به دا نه ويل چي هذا ما رزقنا الله بل يقولون مطرنا بنوأ كذا، پر مونږ باران وسو د فلاني ستوري له كبله لكه ثوريا مثلاً په راختلو سره چي پښتانه يې تاپې بولي.

سوال: مكه مكرمه خو غرنى ځاى ؤ، نو دوى ته باران څه نفع كول چي نه دوى كښت درلودى نه كرونده؟

خواب: په مكه مكرمه كي چي باران پر وخت نه وه اورې، نو مكه چي ډېره گرمه ده نو گرمي يې نوره پسې زياتېږي، او د سختي گرمۍ په اثر قسم قسم مرضونه پيدا كېږي كالطاعون والحمى المطبقة وغيرهما، او بل ځواب داهم دى چي اهل مكه ته غزايي مواد له خارجه راتلل، نو چي بارانونه به نه وه لاري به قطع سوې لعدم المأفي الصحارى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې بخاري روايت کړی دی چې علیه الصلوٰة والسلام چې ولیدی د اهل مکه ادبار یعني شاګرځول او نه قبلول د قرآن، نو علیه الصلوٰة والسلام وه اهل مکه ته داسي بښېرا وکړه اللهم اعني علیهم بسبع کسبع یوسف (ماته کومک راکړې پر دوی په اووه کاله کاختی، لکه اووه کاله کاختي چې د یوسف علیه السلام په وخت کي پېښه سوې وه، نو داسي کاختي پر دوی راغله چې مواشي یې توله هلاک سول، او پوستکي به یې خوړل او مردار او بد بویه شیان به یې خوړل، نو ابو سفیان وه علیه الصلوٰة والسلام ته راغلی او ورته وه یې ویل یا محمد ته موږ امر کوې په طاعت د خدای او په وسیله رحمي سره وان قومک قد هلکوا او ستا قوم هلاک سو یعني د قحط له سببه نژدې وهلاک ته دی، نو ته خواست وکړه وه خدای ته ددې لپاره چې دا قحط دفع کړي، او په یوه حدیث کي داسي هم راغلي دي چې کفارو د مکې په حضور کي د علیه الصلوٰة والسلام وویل "قالوا ربنا اکشف عنا العذاب انا مؤمنون" کریمه في موضوع آخر، نو علیه الصلوٰة والسلام د کشف العذاب خواست ددوی په باره کي خدای پاک ته وکړی، نو عذاب دفع سو او قحط ولاړی، نو بیرته هغه دوی وه هغه شرک ډ. نو خدای ﷻ مکافات له دوی څخه په ورځ د بدر واخستی کمامر.

قُلِ اللّٰهُ اَسْرَعُ مَكْرًا

ته ورته ووایه ای محمده (ﷺ) چې خدای ﷻ ژر عقوبت رسولای سي تر هغه چې تاسي په دفع کي د حق مکر کوئ کمایدل علیه اذ الهم مکر آه.

پوه سه: چې عقوبت او عذاب ته د خدای ﷻ مکر ولي وایي لوقوعها في مقابلة مکرهم کما في قوله تعالی "صبغة الله ومن احسن من الله صبغة" لوقوعها في مقابلة صبغة النصاری اولادهم في الماء المعمودیة الاصفر لونها ویقولون الآن صار نصرانیاً حقاً فتدبر، او یا له باب څخه د مشاکله، ولي په ذکر کي تر مکر ددوی وروسته دی، او بعض مفسرین وایي چې له مکر څخه د خدای ﷻ استدارج مراد دی لکه په حدیث مروي کي د حضرت علي ﷺ من وسع الله علیه الدنیا او دی په دې نه پوهېدی چې دا به د خدای ﷻ له خوا استدارج وي یعني چې شکر یې هم وایه فهو مخدوع عن عقله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ رُسُلَنَا يَكْتُبُونَ مَا تَمْكُرُونَ ﴿٢١﴾

په تحقيق زمونږ حفظه يعني کراماً کاتبين نوشته کوي ستاسي مکر ددې معنا داده چې ستاسي مکر له کراماً کاتبينو څخه نه دی پټ، نو څرنګه به د خالق العالمين څخه پټ وي او تاسي ته به جزاً د مکر څر درنه کړي ولي چې خدای پاک قادر مطلق دی لامعقب لحکمه او تاسي بې قدرته ياست، نو تاسي چې ابطال الحق په باره کې د مکر سنجولی تر هغه دمخه خدای ﷻ تاسي ته عذاب د مکر ستاسي په بدر کې درکړی او حق چې دين اسلام دی پر ځای پاته دی او روز افزون پر ترقي روان دی، کريمه "يريدون ليطفؤا نور الله فافواههم والله متم نوره ولو کره الکافرون".

پوښتنه: له دې آيت څخه خو دا معلومه سوه چې د کفارو سره هم حفظه ستنه، نو ما علی اليمين ملکه چې د حسناتو نوشته پر غاړه لري، نو د کافر کومه حسنه نوشته کوي لعدم الحسنة لهم لان الحسنة مشروط بالايمان؟

ځواب: ما علی الشمال په اذن د ما علی اليمين ملکي سيئه د کافرانو نوشته کوي او ما علی اليمين ملکه په ورځ د قيامت پر ما کتب د شمال شاهدي اداً کوي وان لم يکتب ما علی اليمين الکافر شيئا (بستان العارفين)

فائده: په عدد کې د کراماً کاتبين اختلاف دی، عبدالله بن المبارک وايي چې پينځه دي دوې د ورځې او دوې د شپې او يوه ورسره ملګري ده ليلاً ونهاراً، او بعض علماً يې څلور بولي وهو المشهور، سعدي شيرازي قدس سره وايي:

تو پيش از عقوبت درعفو کوب ..... که سودی ندارد فغان زير چوب
کنون کرد بايد عمل راحساب ..... نه روزی که منشور گردد کتاب

هُوَ الَّذِي يُسَيِّرُكُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ

خدای ﷻ هغه خدای ﷻ دی چې تاسي يې روان کړي ياست يعني قدرت يې درکړی دی پر تګ په بيابانو يعني پر مځکه يا پر پښو يا پر اسانو يا پر اوښانو او غيرها، او قدرت د سفر يې درکړی دی په درياب کې يعني په ذريعه د کښتيو.

دروښ وايي: چې مقصود په دې آيت کې بيان د نعمت دی پر انسانانو تاچې ددې نعمت شکر په ايمان راوړو پر توحيد د خدای ﷻ ادا کړي او د بتانو عبادت پريږدي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حَتّٰٓى اِذَا كُنْتُمْ فِى الْفُلْكِ ۚ

حتی چې تاسي یاست په کښتیو کې.

پوه سه: چې لفظ د فلک مشترک دی په منځ کې د مفرد او جمع فرق یې تقدیري دی یعني که لفظ د فلک مفرد وي، نو پښې د فاْ یې لکه پښې د قُفل دی چې مفرد دی او که جمع وي ضمه د فاْ یې لکه ضمه د اُسد ده چې جمع د اسد ده.

پوښتنه: مورږ د مفرد او جمع فرق په څه شي کوو په قرآن مبارک کې؟

ځواب: فرق یې یا په صفت سره کېږي او یا په ضمیر راجع سره یعني که یې صفت مذکر ؤ او یا یې ضمیر راجع مذکر ؤ، نو فلک مفرد دی، او که یې صفت او یا ضمیر راجع مؤنث ؤ نو فلک په تاْویل د جماعت جمع ده، د مثال په توګه په قرآن مبارک کې راغلي دي "في الفلک المشحون" نو چونکه مشحون چې صفت دی د فلک په هغه ځای کې مذکر او مفرد دی، نو په هغه آیت کې فلک مفرد دی، او په دې آیت کې د فلک لفظ جمع دی، ولې چې ضمیر د جمع یې ورته راجع کړی دی یعني وجرین بهم آه "حتی اذا کنتم في الفلک" حتی چې تاسي یعني په وخت کې د سفر په کښتیو کې، نو دا لفظ د فلک جمع دی داسي تفسیر یې په پښتو نه دی روا په کښتۍ کې بلکې داسي په وایو په کښتیو کې چې د پښتو لفظ د جمع دی، بخلاف لفظ کښتۍ فانه مفرد په پښتو کې.

وَجَرَيْنَ بِهِمْ

او تګ کوي کښتیانې په دوی سره یعني بمن فیها، لفظ د جرین قرینه د جمع دی.

سوال: په "کنتم" کې خطاب ؤ، نو په بهم کې یې ولې ضمیر غائب راوړی ما فائدته؟

ځواب: مظهري رحمه الله وایي عدل عن الخطاب الی الغیبة مبالغة فانه تذکرة لغیرهم لیتعجب من حالهم وینکر علیهم.

بِرِيْحٍ طَيِّبَةٍ وَّفَرِحُوْا بِهَا

په نرم باد سره چې د کښتۍ د حال سره لائق وي او د چپه کېدلو بېره نه وي، او سپاره خلګ په دې باد خوشاله وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي لفظ د "ريح" مؤنث سماعي دی.

جَآءَتْهَا رِيْحٌ عَاصِفٌ

پوه سه: چي "جائتها" جواب د "اذا" دی او ضمير مؤنث راجع وه "فلک" ته دی، راسئ ودې کښتيو ته چي خلګ پکښې سپاره دي تند باد چي د کښتيو د دوبېدلو غالب احتمال دی.

وَجَآءَهُمُ الْمَوْجُ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ

او راسئ وسپرو خلګو ته د کښتيو څېې د درياب چي د تند باد له کبله پيدا کېږي له هر طرفت څخه.

پوښتنه: جائتها چي ضمير راجع و "فلک" ته واى نه ووايه بلکې ضمير د هم يې ذکر کړى چي راجع وه سواريو ته دی؟

ځواب: درياب خو کښتيو ته تاوان نه رسوي لکونها جمادات بلکې سپرو خلګو ته چي د مرګ بهره ورسره ده.

وَظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ اُحِيْطَ بِهِمْ

او ددوى ګمان سي يې پر دوى احاطه وکړل سوه يعني څېو احاطه باندې وکړه او د هلاک اسباب موجود سوه.

پوه سه: چي "ايقنوا" يې ولي نه ووايه سبب دادی چي د مستقبل شی يقين خو په نفس قرائنو سره پيدا کېږي وغاية امر القرائن افادة الظن في الامر المستقبل كما لا يخفٰى.

دَعَوُا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ

دوى خداى ﷻ ته خواست کوي په داسي حال کي چي دوى مخلص وي په دې کي الى الله يعني وه هيڅ چا ته بېله خدايه خواست نه کوي نه وه بتانو ته چي دوى به شريکان د خداى ﷻ بلل په عبادت کي.

لَئِنْ اَنْجَيْتَنَا مِنْ هٰذِهٖ لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الشّٰكِرِيْنَ

که موږ ته نجات راکړى له دې تند باد څخه چي هلاک ورسره مظنون دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې "لئن انجينا" مقوله د قول محذوف دی، والتقدير يقولون لئن اه. مورِ هر آئينه ستا شاکر بندګان ګرځو لا لغيرک.

فائده: د مکې د مشرکانو عادت وُ چې په کښتی کښې به سپر بدله يو بت به يې له ځان سره اخستی لکن باد به تند سو او د درياب څپې به پيدا سوې او بهره د هلاک به هم دامنګير سوه هغه بت به يې درياب ته وه غورځاوه وعوا الله مخلصين الآية.

فَلَمَّآ أَنجَىٰهُمْ إِذَا هُمْ يَبْغُونَ فِى ٱلْأَرْضِ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ

نو هغه وخت چې خداى ﷻ به نجات ورکړی ودوی ته په قبلونه د دعا ددوی نابيره او په تلوار سره به دوی بغي او ظلم پر حقوق د خلګو شروع کړی او حدود شرعيه او شکر د خداى ﷻ لکه دوی چې وعده کړې وه پرېښو او دا ظلم ددوی په محکه کې بېله حق وُ او بغير الحق تاکيد دی د "يبغون" ولې چې بغي خو وې ناحقه البتة.

پوه سه: چې د "بغير الحق" د قيد فائده داده چې مسلمانانو خو هم د کفارو سره په جنګ کې دوی وژنې او کورونه يې نړوي او باغونه يې ورسوځي يا يې رېبي، نو دا که څه هم تجاوز دی پر کافران باندې لکن دا چونکه په امر د خداى ﷻ دی نو دا بغي بالحق ده فافهم.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّمَا بَغْيُكُمْ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُم مَّتَٰعَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا

اې خلګو نه ده بغي او ظلم ستاسې مګر پر خپلو ځانو ولې چې وبال د بغي وه تاسې ته راجع کېږي په اخرت کې.

دروښ وايي: چې ترمذي او ابن ماجه له حضرت عائشې ﵂ څخه روايت کړی دی چې رسول الله ﷺ وويل اسرع الخير ثوابا البر وصلة الرحم، واسرع الشر عقوبة البغي وقطيعة الرحم.

پوه سه: چې "متاع آه" منصوب دی په عامل مقدر سره ای تمتعون متاع الحيوة الدنيا.

فائده: متاع په نصب سره قرائت دی د حفص رحمه الله، او نور قاريان يې تولې په رفع سره وايي چې خبر بعد الخبر يې د بغيكم بولي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ثُمَّ إِلَيْنَا مَرْجِعُكُمْ فَنُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٢٣﴾

وروسته يعني په ورځ د قيامت رجوع ستاسي ده، نو "رجع" مصدر ميمي دی وموږ ته، نو موږ به خبر کړو تاسي په هغه شي چې تاسي يې عمل کاوه په دنيا کې نو پر دې ترجمه کلمه د ما په بما کې موصوله ده او عائد يې محذوف دی اې تعملونه. او "بعملكم" نو ما مصدريه دی، يعني بالجزاً على البغي والفساد. په دې آيت کريمه کې فوائد (١) ودې ته اشاره ده چې فلک نعمت دی د خدای ﷻ ولي چې خلګ محتاجه کېږي وفلک ته د درياب په سفر کې في الامور الدينية كالحج والعمرة والغزوة في سبيل الله او ګاهي په امور دنياويه کې لکه تجارت لپاره د ضرورت د نفقې د عيال، په انوار المشارق کې وايي چې سفر د کښتۍ ونړو او بنځو دواړو ته روا دی كما هو مذهب الجماهير. لكن بنځو ته سفر مكروه دی. ولي چې ستر په کښتۍ کې غالباً ممکن نه دی خصوصاً په کوچنۍ کښتيو کې لضيق المحل، او بل دا چې بنځو ته ضرورت د قضاً الحاجة پيدا کېږي په حضور کې د نړو، نو غالباً به عورت غليظه ددوی په مخ کې بنکاره سي انتهى.

دروښ وايي: چې دا حکم د پخوانيو کښتيو دی چې آب بازانو به خپله چلولې او په اوسنۍ زمانه کې هغه کښتۍ چې په نامه د آب ګوټ يادېږي دا بهره نسته ولي چې په آب ګوټ کې د نړو ځای جلا دی او د بنځو دا جلا دی او د قضاً حاجت لپاره محفوظ ځايونه سته وكذا اللوضو والغسل فليس فيه انكشاف العورة اصلاً (٢) له عبد الله بن عمر ﷺ څخه روايت دی چې مرفوع الى النبي ﷺ دی لا يركب البحر الا حاجاً او معتمراً او غازياً في سبيل الله الى اخير الحديث.

مسئله: ددې حدِيث په رڼا کې دا واضح سوه که پر چا حج فرض وي او يا جهاد ته ځي في سبيل الله، نو پر هغه باندې رکوب د بحر واجب ده که بله لار نه وه، او داغه رنګه د علوم شرعيه وو د طلب لپاره، او که د کښتۍ راکب ته په دغه مذکوره امورو کې د درياب په سفر کې دوران الرأس يعني سر څرخي ورپېښه سوه او عثيان المعدة يعني خواګرځي ورپېښ سو فله اجر شهيد، او که يې تجارت کاوه او بېله د درياب له لارې بله لار نه وه او تجارت يې هم لپاره د قوة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

العيال ؤ لا لجمع المال هغه هم په ذکر سوي ثواب کي داخل دی، او که يو مسلمان په کښتۍ کي سپور ؤ او کښتۍ غرقه سوه دی پکښې مړ سو د دوو شهيدانو د وچي محکمي ثواب خدای ﷻ پاک ورکوي، يو خو نفس غريق شهيد دی کما ورد في الحديث النبوي الصحيح، او بل له دې سببه چې دی په طاعت پسې د خدای پاک روان ؤ کالحج والعمرة والغزوة وورد في الحديث الطويل چې د هغه حديث په يوه برخه کي راغلي دي غزوة في البحر خير من عشرة غزوات في البر، ومن فاته الغزو معي فليغز في البحر، که د چا څخه پاته سوه غزا زما په ملګرتيا کي يعني له وروسته امتيانو څخه ؤ، نو هغه دي غزا ته په درياب کي ولاړ سي يعني ثواب يې دومره دی لکه زما سره چې ملګری وي (۳) يو سړی ته چې د درياب سفر يې کړی ؤ چا ورته وويل چې په درياب کي دي څه عجائبي وليدلې؟ هغه ورته وويل چې دا عجبه مي وليدل چې زه سالم ځنې راووتلم، بو قائل ډېره په زړه پوري خبره کړې ده، بيت

بدريا درمنافع بی شمار است ..... اگر خواهی سلامت درکنار است

او سعدي شيرازي رحمه الله بيا وايي:

سود در يا نيک بودی گر نبودی بيم موج
صحبت گل خوش بدی گرنيتی تشويش خار

شهانه لطيفه: حکايت دی چې يو نحوي عالم په کښتۍ کي سپور سو، نو ملاح يعني چلونکي ته د کښتۍ يې وويل په علم نحو خبر يې؟ ملاح ورته وويل يا، نحوي ورته وويل چې ستا نيم عمر عبث دی، اخير کښتۍ په درياب کي تر څپو لاندې راغله، ملاح نحوي ته وويل چې آب بازي دي زده ده؟ نحوي ورته وويل يا ملاح ورته وويل ستا يوله عمر عبث تبر سو (۴) له آيت مبارک څخ معلومه سوه چې بغي او فساد او تعصب وعناد او کفران د نعمت د رب العباد له هېرې څخه د عهد د خدای پاک پېښېږي او له همېشه توب څخه پر ګنهو، ددې نتيجه مواخذه او انتقام دی اما في الآخرة فقط واما في الدنيا والآخرة کما في غزوة بدر لکفار مکه چې اوويا کسه يې مردار سوه او اوويا کسه يې بنديان سوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّمَا مَثَلُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

يعني حال عجيبه د ژوند د دنيا چې حال يې دادی چې ډېر ژر زائلېږي او خلګ په خطاوتلي دي چې زه به ژونی يم تر ډيره پوي.

بوه سه: چې مراد له ژر زائلېدلو څخه نسبت وه ژوند ته د آخرت چې هغه زوال ناپذير دی فلا يرد السؤال باعمار الامم الماضية چې په سوو کلونه بې عمرونه وه کعمر نوح عليه السلام وعمر فرعون ونمرود وغيرهم.

كَمَآءٍ أَنزَلْنَٰهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَٱخْتَلَطَ بِهِۦ نَبَاتُ ٱلْأَرْضِ مِمَّا يَأْكُلُ ٱلنَّاسُ وَٱلْأَنْعَٰمُ

لکه اوبه چې نازلي يې کړو موږ له اسمان څخه او يا له وريځي څخه فان کل ما علاک سماً ، نو سره ګډوډ په هغو اوبه شنه کېدونکي شيان د مځکې يعني د ډېروالي څخه يو په بل کې جاروځي، له هغو نباتاتو څخه چې خلګ يې خوري يعني مېوه او حاصل د هغو لکه غنم، جوار، اوربشي، مېوه داري درختي، سبزي جات لکه سبزي، رومیان، انګور، انځير، پټاټې الی غير ذالک او يا چارپايان يې خوري لکه اوښ مرغی، ځوزان وغيره.

حَتَّىٰٓ إِذَآ أَخَذَتِ ٱلْأَرْضُ زُخْرُفَهَا وَٱزَّيَّنَتْ

تر هغه وخته پورې چې واخلي مځکه خپل حسن او سرسبزي او شادابي په رنګارنګ نباتاتو سره او ګلانو سره حتی دښتونه او مځکه ډېره ښائسته سي ولې چې د مځکې ښائست او سرخي وسپېدي هم دغه قسم قسم نباتات او ګلان دي.

وَظَنَّ أَهْلُهَآ أَنَّهُمْ قَٰدِرُونَ عَلَيْهَآ

او د مالکانو دِ مځکې دا غالب ګمان سي چې موږ قادر يو پر دې مځکه يعني پر غلې او حاصلاتو د مځکې يعني موږ به حاصلات د درختو تولې وَ په شکولو سره او د مځکې د غنمو په لو او غوبل کولو سره او پر دغو حاصلاتو به نفع اخلو او د عيال نفقه ېې کوو.

أَتَىٰهَآ أَمْرُنَا لَيْلًا أَوْ نَهَارًا فَجَعَلْنَٰهَا حَصِيدًا

نو پر دغه مځکه زموږ قضاً راسي چې کښت د کښتو مرض متوجه سي يا ژلی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پر اوري او يا د درختو بعض آفات پر نازل سي، يا د شپې يا د ورځې نو وګرځو مورِ دغه کښتونه حصيداً يعني متشابها په رېبل سوي کښت سره.

كَأَن لَّمْ تَغْنَ بِالْأَمْسِ ۚ

لکه چې دې محکي يعني کښت د محکي بحذف المضاف درنګ او بقايه نه وه پروند، ای قبيل ذالک الزمان ای القريب الماضي وهو الامس.

پوه سه: چې دا تشبيه المرکب بالمرکب ده، نو مشبهه يې حيوة الدنيا، د سړي د سره د غفلت او طول دده او نابيره مرګ راتګ دی پر ده په حال کې د غفلت او مشبه يې مضمون د حکايت دی يعني محکه سرسبزه او کښتونه پر حاصلاتو راغله او د صاحب د کښت دا ظن غالب وُ چې حاصلات د محکي جمع کولای سم نابيره آفتونه پر نازل سوه او کښت له منځه ولاړی، نو دا توهم دې څوک نه کوي چې حرف تشبيه خو ماء داخل دی، نو بايد مشبه به ماء سي، ولې چې دلته خو تشبيه د مفرد بالمفرد نه ده بلکې تشبيه د مضمون بالمضمون ده فافهم.

كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٢٤﴾

لکه مامر مورِ تفصيل د آياتو قرآنيه وو کوو چې مشتمل پر مواعظو او پر اوامرو او منهياتو او پر تمثيلاتو وي د تفهيم لپاره کوو د هغه قوم لپاره چې دوی تفکر په آياتو قرآنيه وو کې کوي يعني په عقل سليم د عناد او حسد څخه خلاص وي و انما خصهم بالذکر لانهم هم المنتفعون بالآيات القرآنية لا اهل الحسد والعناد والشرک.

دروښ وايي: چې وجه د تشبيه په دې آيت کې داده چې باران چې اوري په قدر د حاجت الناس والزرع فائده کوي او که تر حد د اعتدال بالا سوه ضرر رسوي هم کوروته د خلګو او هم کښتونه، دغه رنګه مال که په قدر ماينددفع به ضرورة الاهل والعيال ويحصل به المقاصد الدينية کالحج والانفاق في سبيل الله وغير ذالک والدنيوية کالانفاق على الاهل والعيال کان نافعاً، او که مال زائد وي تر قدر د حاجت وکان موجبا لارتکاب المعاصي کشرب الخمر والزنا وغير ذالک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او دغه رنګه مال کثیر سبب د تفاخر او کبر او ظلم ګرځي کما قال الله ﷻ ان الانسان لیطغی ان رآه استغنی، کما قال الشاعر:

توانګری کشدت سوی عجب ونخوت وناز
خوشست فقر که دارد هزار سوز ونیاز

او بعض مفسرین رحمهم الله وایي چې څه وخت چې باران اوري یو ځای قرار نه نسي بلکې پر اطرافو بهیږي دغه رنګه مال د دنیا یو ځای قرار نه لري یعنې د یوه مالک په لاس کې بلکه هر روز دردست دیګری باشد وهرشب بایکی عقد مواصلت بندد، نه عهد او را وفایی ونه وفایی بقایی، قال الشاعر:

گنج امان نیست درین خاکدان ..... مغز وفانیست درین استخوان
کهنه سرا یست بصد جاګرو ..... کهنه واندر گرو نو بنو
مکن عشق باهمچنین دلبری ..... که هر بامدادش بود شوهری

وَاللّٰهُ يَدْعُوٓا اِلٰى دَارِ السَّلٰمِ

او خدای پاک دعوت ورکوي تولو خلګو ته. فالمفعول محذوف ای الناس لعمومه او دا دعوت پر لسان د علیه الصلوٰة والسلام دی او د تابعانو دده په علم او عمل کې الی یوم نفخ الصور وه دار السلام ته.

پوه سه: چې سلام یا مصدر دی یعنې دار السلامة من جمیع الآفات والامراض والبلیات والفتن وهو الجنة، او یا سلام صفت مشبه دی او نوم د خدای پاک دی، نو اضافت د دار وخدای ﷻ ته تشریف المضاف د چې دار دی وهي ایضاً الجنة فالاضافة من قبیل بیت الله للکعبة المبارکة، او بعض مفسرین رحمهم الله وایي چې مراد له سلام څخه التیحة دی. نو جنت ته چې دار التحیة وایي له دې سببه چې جنتیان یو ویل ته په وخت کې د ملاقات وایي سلام علیک او ملائکه هم ودوی ته سلام وایي قال الله تعالی "والملائکة یدخلون علیهم من کل باب یعنې وتقول سلام علیکم بما صبرتم فنعم عقبی الدار" او په اخیر کې سلام قولاً من رب رحیم په حدیث صحیح کې چې روایت یې جابر رضی الله عنه کړی دی چې علیه الصلوٰة والسلام ته ملکې راغلې او دی مبارک بیده وه، نو ملکو سره وویل ان لصاحبکم هذا مثلاً

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فاضربوا له (دې صاحب لره ستاسي يعني عليه الصلوٰة والسلام لپاره يو مثال سته ورته بيان يې کړی بعضو ملکو وويل چې دی خو بيده دی يعني نو د مثال ويلو څخه څه فائده ده، او بعضو ملکو وويل چې سترګي يې بيدې دي او زړه يې وينې دی يعني قابل د فهم خو زړه دی هغه زړه دده وينې دی، نو دوی وويل چې مثال دده لکه مثال د هغه سړی دی چې سرای جوړ کړي يعني ډېر زيبا او ښکلی، او په هغه کې لويه مېلمستيا جوړه کړي يعني اطعمه لذيذه من کل نوع، او دغه سرای والا يو سړی واستوي چې تولي محلې والو ته دي عمومي اعلان وکړي چې رائځ فلاني خان عمومي ډوډۍ کړې ده، نو د اعلان کونکي دعوت که څوک ومني نو به سرای ته ورسي او ورځي وغوښې مثلاً به وخوري او سرای جوړونکی به هم ځني راضي سي چې زما مېلمستيا ته راغلې، او که څوک د داعي ست ونه مني (يعني تکبراً) نو به نه سرای ته داخل سي او نه به د مېلمستيا ډوډۍ وخوري، بيا ملکو سره وويل چې تاسي ددې مثال ترجمه او تاويل دته بيان کړې چې يعني چې عليه الصلوٰة والسلام په وه پوهېږي، بيا بعضو ملکو وويل چې دی خو بيده دی څرنګه به وپوهېږي، نورو ملکو وويل چې سترګي يې بيدې دي زړه يې وينې دی يعني په تاويل د مثال پوهېږي ولې فهم خو د زړه کار دی، نو ملکو ورته وويل ي دار جنت دی (يعني خدای ﷻ ډېر زيبا جوړ کړی دی چې په جنت کې هغه شيان سته چې نه سترګو ليدلي دي او نه چا تفصيلاً اوريدلي دي او نه د چا په زړه کې ورګرځيدلي دي کما جاء في حديث آخر) او داعي الى الجنة ته محمد ﷺ دی فمن اطاع محمداً فقد اطاع الله ومن عصى محمداً فقد عصى الله ومحمد فرق بين الناس (يعني بين المؤمن والكافر) رواه البخاري.

وَيَهْدِي مَنْ يَشَاءُ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ ﴿٢٥﴾

او هدايت کوي خدای ﷻ يعني دلالت موصله الى المطلوب کوي له خلګو څخه وه هغه چاته چې د خدای ﷻ اراده ورته وسي (يعني چې څوک طالب د هدايت سي) وهغه لاري ته چې سمه لاروي وهو الاسلام ودين محمد ﷺ او لار د وصل کېدو ده و خدای ﷻ ته.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حکایت: بمناسبة الآیت، تاریخ اسلامي وایي چي یو باچا وو په پښتو امتو کي چي کافر هم ډیو ښار ګوتی یې جوړ کړی ډېر ښائسته او ډېره جانفشاني یې وکړه په ښائست کي د ښار، وروسته یې عمومي مهماني وکړه خلګ فوج درفوج مهماني او د ښار سهل ته راروان وه په دروازه کي د ښار یې یو نوکر درولی څ چي هر سړي چي د ښار ګوتي ډوډۍ یې خوړلې وي پر دروازې تېرېږي تاسي پوښتنه ځني وکړئ چي په ښار ګوتي کي کوم عیب خو تاسي ونه لیدی، نو خلګو به پهره دار ته ویل چي هیڅ عیب نه وه پکښې، وروسته یو څو کسه په لباس کي د ملنګیانو چي شړۍ یې پر اوږو وې راغله چي ډوډۍ یې وخوړله پهره دارانو پوښتنه ځني وکړه چي په ښار کي خو مو عیب ونه لیدی؟ هغو ورته وویل چي دوه عیبه پکښې وه، دربان باچا ته دا خبر ورکړی ددې خلګو د وینا، باچا وویل چي زه په یوه عیب نه وم راضي دوی دوه عیبه پکښې ولیدل، حکم یې وکړی چي دا خلګ راولئ، خلګ چي یې وروستل باچا پوښتنه ځني وکړه چي دوه عیبه څه شي وه چي تاسي دعوه کړې وه؟ هغو خلګو ورته وویل چي یو عیب یې دادی چي اخیر الامر به دا ښار خرابېږي، او بل عیب یې دادی چي مالک د ښار به یو وخت مري، باچا وویل چي تاسي ته داسي ښار درمعلوم دی چي خرابېږي به نه او نه به یې مالک مړ کېږي؟ هغو ورته وویل هو! نو هغه سرای چي نه خرابېږي جنت دی او د جنت د نعمتو بیان یې ورته وکړی او بادشاه ته یې دعوت د جنت ورکړی، او ورته وه یې ویل چي مالک د جنت خدای پاک دی چي حي لا یموت دی او واحد لاشریک دی، او بادشاه ته یې وویل چي په مقابل کي د جنت بیا مالک د جنت دوزخ پیدا کړی دی چي ځای او بندي خانه د مشرکانو دی، نو دې نصیحت لوی تاثیر په باچا کي وکړی، نو ایمان یې راوړی وخرج من ملکه هارباً تائباً.

لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا الْحُسْنَىٰ وَزِيَادَةٌ

ژوه سه: چي "الحسنی" مبتدأ ده او زیادت پر عطف دی، او "للذین" خبر مقدم دی، والمعنی د هغه کسانو لپاره چي عمل په اخلاص کوي په دنیا کي ښه دار سته په اخرت کي چي جنت دی، او زیاتوب هم سته چي دیدار د رب العزت دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې احسان په عمل کې هغه دی چې په حدیث طویل کې چې روایت یې بخاري او مسلم کړی دی له عمر ﷺ څخه چې جبرائیل ﷺ چې وه علیه الصلوٰة والسلام ته راغلی په حضور کې د اصحابو ﷺ د علیه الصلوٰة والسلام څخه یې پښتنې کولې ماالاسلام، او علیه الصلوٰة والسلام جوابونه ورکوله په اخیر کې د حدیث یې ورته وویل ماالاحسان؟ علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل ان تعبدالله کانک تراه فان لم تکن تراه فانه یراک.

فائده: د الحسنی تانیث په اعتبار د موصوف دی ای المثوبة الحسنی چې هغه جنت دی.

دروېش وایي: چې په رؤیت کې د خدای ﷻ اختلاف دی، معتزله له دې څخه منکر دي، او طوسي په خپل کتاب تجرید کې وایي "ورؤیة الله تعالی کمایزعمونه اهل السنة والجماعة باطل" وروسته یې دلائل عقلیه د هر راوړي دي چې په راوړلو کې یې فائده نسته بېله تشویشه د عمومي افکارو، امام قرطبي چې تفسیر قرطبي دده شاندار تفسیر دی په کتاب الرؤیة کې وایي هذا تفسیر قد استفاض واشتهر فیما بین الصحابة ﷺ والتابعین ﷺ ومثله لا یقال الا بتوقیف انتهی، ترجمه: تفسیر د زیادت په رؤیت د خدای ﷻ داسي تفسیر دی چې مستفیض او مشهور دی په منځ کې صحابه کرامو ﷺ او د تابعینو او داسي خبره یعني د عقل لار ورته نه وي څوک یې نه وایي بېله علم ورکولو د شارع الشریعة ﷺ له خوا، او په حدیث صحیح کې چې روایت یې مسلم او ابن ماجه کړی دی له صهیب ﷺ عن النبي ﷺ، قال اذا دخل اهل الجنة الجنة یقول الله تریدون شیئاً ازیدکم (چې داخل سي اهل د جنت وجنت ته، نو الله تبارک وتعالی ووایي تاسي اراده لرئ د یو شي چې درزیات یې کړم) فیقولون الم تبیض وجوهنا الم تدخلنا الجنة وتنجینا من النار (جنتیان ورته ووایي آیا تا خدایه زمونږ مخان نه دي سپین کړي یعني په نور سره یعني سپین کړي دي دي، آیا مونږ دي نه یو داخل کړي وجنت ته یعني داخل کړي دي یو، آیا مونږ ته دي نجات نه دی راکړی له اور څخه بلکې راکړی دي دی، ددوی غرض داوي چې تر دې شیانو به نور زائد څه شی وي) فیکشف الحجاب فما اعطوا شیئا احب الیهم من النظر الی ربهم (نو خدای ﷻ حجاب د کبریا د خپل ذات جلیله څخه ایسته کړي، نو دوی ته نه وي ورکړل سوی یو شی چې محبوب وي دوی ته تر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دیدار د خدای ﷻ) ثم تلا هذه الآية يعني "للذين احسنوا الحسنى وزيادة (بيا عليه الصلوٰة والسلام په تفسير د زيادت برؤية الله تعالى دا آيت ووايي).

دروښ وايي: چي امام مظهري رحمه الله په خپل تفسير کي په ډېرو سندو سره تفسير د زيادت په رؤيت سره راوړی دی.

دروښ وايي: چي دلائل عقليه د طوسي پوچ او بې بنياد دی. مولنا روح رحمه الله په مثنوي کي وايي:

پای استدلال پاچوبین بود ..... پای چوبین سست وبی تمکین بود
جمال یار ندارد نقاب پرده وبی ..... غبار ره نیشان تا نظر توانی کرد (حافظ)

وَلَا يَرْهَقُ وُجُوهَهُمْ قَتَرٌ وَلَا ذِلَّةٌ

نه به وي پټ کړي مخان ددوی گرز چي په هغه کي تور والی وي او نه ذليل والی لکه دوږ خيان.

أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ

دغه موصوف بالاوصاف المذکور کسان دي اصحاب د جنت او دوی په جنت کي همېشه وي، لايخرجون منها ولا يموتون ولا يمرضون بخلاف الحيوٰة الدنيا.

وَالَّذِينَ كَسَبُوا السَّيِّئَاتِ جَزَاءُ سَيِّئَةٍ بِمِثْلِهَا

دا موصول عطف دی پر "للذين احسنوا آه" پر مذهب د هغه چا چي عطف د معمولي وده عاملينو پر معمولي د عاملين مختلفينو چي مجرور په معطوف او په معطوف عليه مقدم وي روا بولي كما في الدار زيد والحجرة عمرو، كما في الكافية وشرحها لعبد الرحمن الجامي قدس سره.

پوه سه: چي "والذين" مبتدأ ده خبر يې "جزاء سيئة" دی. والتقدير جزاء الذين كسبوا السيئات جزاء سيئة بمثلها، يعني موږ جزاء ورکوو د هغه چا چي سيئه يې په مقدار د مثل د هغې سيئه لايزاد فيها.

وَتَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ مَا لَهُمْ مِنَ اللَّهِ مِنْ عَاصِمٍ

او مخان ددوی به په ذلت ککړ وي، نسته دوی لره د عذاب څخه د خدای ﷻ ساتونکي يعني نه د دنيا له عذاب څخه او نه د آخرت.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي کلمه د "من" زائده ده استغراق د نفي کما لايخفٰى.

كَأَنَّمَآ أُغْشِيَتْ وُجُوهُهُمْ قِطَعًا مِّنَ ٱلَّيْلِ مُظْلِمًا ۚ

گويا پټ مخان د دوی توتو د شپې چي تاريکه وي. قطعاً جمع د قطعة ده مفعول ثان ده اغشيت دی او من الليل صفت د قطعاً دی او مظلماً حال دی د ليل څخه. او مفعول اول د اغشيت وجوههم دی چي په ځای کي د فاعل د اغشيت چي فعل مجهول ودرېدی او مرفوع سو.

أُولَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٢٧﴾

او دغه کسان دي اوسېدونکي د اور چي دوی به په دغه اور کي همېشه وي لايخرجون ولا يموتون.

دروېش وايي: چي علامة بغدادي السيد محمود الآلوسي رحمه الله عليه په تفسير کي د جزء (۱۱) ص (۱۰۶) کي وايي چي وعيديه چي په بل نامه يې معتزله بولي په دغه آيت سره دليل وايي پر خپل مذهب فاسد چي ګناه کبائر والا چي بې توبې مړ سي ځای يې ابدي دوزخ دی؟

خواب: سيئات خو کفر ته هم شامل دي او دغه رنګه کبائر او صغائر ته هم، نو که آيت پر خپل عموم پاته سي نو بايد ګناه صغائر والا هم خالدين في النار وي ولم يقل به احد، نو موږ ته دلائل صحيحه پر دې قائم دی چي اهل معاصي وو ته خلود في النار نسته، فيجب تخصيص الآية بمن عداهم وهم الكفار. او بل ځواب دادی چي اهل کبائر د مؤمنانو داخل په الذين احسنوا کي دي بناً على ما اخرج ابن جرير وابن المنذر وابو الشيخ وغيرهما رحمهم الله عليهم عن ابن عباس رضي الله عنهما چي د "الذين يحسنون" څخه مراد قائلون د لا اله الا الله دي اى المؤمنون مطلقاً که کبائر والا وي او که نه فلا يدخل عصاة المؤمنين في القسم الآخر يعني والذين كسبوا السيئات آه، ولي چي ددې دوو دلو حکمونه سره منافي دي يعني لايرهق وجوههم الآية، وترهقهم ذلة كانما الآية. او بل ځواب دادی چي الف ولام په الذين كسبوا السيئات آه کي لپاره د استغراق دی يعني من الصغائر والكبائر والكفر او د داسي چا خلود في النار خو مجمع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

علیه لجمیع الامة، او امام مظهري په جواب کي د سوال اود دلیل ددوی داسي ویلي دي چي په دمخه آیت کي خدای پاک وویل "جزاٰ سیئة بمثلها، فیقضی الآیة المذکورة ان جزاٰ اصحاب الکبائر من المؤمنین دون الکفر وفوق الصغائر لایصح الحکم علی العموم بالخلود في النار" نو مشار الیه د "اولئک اصحاب النار الآیة" تولـه من کسب السیئات نه دي بلکې کافران دي، هذا تحقیق هذا المقام ومن الله التوفیق وبه الاعتصام.

وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ نَقُولُ لِلَّذِينَ أَشْرَكُوا مَكَانَكُمْ أَنْتُمْ وَشُرَكَاؤُكُمْ

هغه ورځ چي مونږ حشر او ژوندي کوو دواړې ډلې، حال کونهم جمیعاً، بیا مونږ ووایو وه هغو کسانو ته چي شریک یې وایه خدای ﷻ ته "مکانکم" منصوب دی په فعل مقدر سره ای الزموا امکانکم تاسي پر خپلو ځایو ودریږئ، او "انتم" تاکید دی د ضمیر د الزموا المحذوف، او شرکائکم عطف دی پر انتم.

فَزَيَّلْنَا بَيْنَهُمْ

او مونږ قطع کړو هغه پیوند چي د عبدة الاصنام او ددوی د معبودینو تر منځ ؤ یعني هر معبود چي بتان دي له خپلو عابدینو څخه وبالعکس، او یا معنی د زیلنا بینهم داده چي جلا کړو مونږ مؤمنان او کافران کما في قوله تعالی "وامتازوا ایها المجرمون".

وَقَالَ شُرَكَاؤُهُمْ

یعني بتان چي دوی شرکاٰ د خدای ﷻ گرځولي وه.

سوال: بتان خو جمادات وه نو څرنګه دوی خبري کوي؟

ځواب: هذا من قبیل قوله تعالی انطقنا الله الذي انطق کل شیئ، یعني هغه وخت چي اعضاٰ د ګناه کونکي پر ده شاهدي ادا کړي.

مَا كُنْتُمْ إِيَّانَا تَعْبُدُونَ ﴿٢٨﴾

تاسي نه واست اې عابدینو چي زمونږ عبادت موکاوه یعن چي مونږ له تاسي ځخه طلب د عبادت کاوه، د کافرانو مشرکانو د ډېري ناامیدی ځای دی چي دوی به علیه الصلوٰة والسلام ته ویل هؤلاٰ شفعائنا عند الله، یا به یې ویل مانعبدهم الا لیقربنا الی الله زلفی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ اِنْ كُنَّا عَنْ عِبَادَتِكُمْ لَغٰفِلِيْنَ ۝

کافي دی خدای ﷻ "الباء زائدة في الفاعل" شاهد زمونږ او ستاسي تر منځ مونږ وو يعني بتان وايي د عبادت څخه ستاسي مونږ غافل وُ. يعني په حقيقت کي تاسي د خپلو اهواؤ زائغه وو او د شياطين عبادت کاوه چي تاسي امر کولاست زمونږ په عبادت سره.

فائده: ان يا مخفف د مثقل دی يعني انا کنا او کلمه د لام په لغافلين کي فرق ده په منځ کي د ان شرطيه او مخفف د مثقل، او يا کلمه د ان نافيه ده او کلمه د لام په لغافلين کي په معنی د الا ده، ای ماکنا الا غافلين عن عبادتکم، ولي چي مونږ نه عقل درلودی او نه سمع او بصر، نو مونږ څرنګه ستاسي په عبادت پوهيدلو.

هُنَالِكَ تَبْلُوْا كُلُّ نَفْسٍ مَّآ اَسْلَفَتْ

پوه سه: چي "هنالک" ظرف مکان دی ای في ذالک المقام الدهش يعني چي ډېر د خوف او دهشت ځای دی او يا په دغه وخت وخت کي د دهشت او حيرت باستعارة ظرف المکان لظرف الزمان "تبلو" من البلوی والاختبار چي په فارسي يې معنا ده بيازمودن او په پښتو يې معنا ده ازمايښت مکان يا زمان امتحان کېږي "کل نفس" د هر نفس که مؤمن وي او يا کافر او که مطيع وي او که عاصي او خبر يې به "ماسلفت" يعني په هغه عمل چي ده په دنيا کي کړی وي او نفع يا ضرر بې ووينې، او بعض مفسرين رحمهم الله وايي چي تبلو په معنی ده تتبع دی والمعنی چي متابعت به کوي هر نفس د خپل عمل به يې بيايي وجنت او يا دوزخ ته.

وَرُدُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ مَوْلٰىهُمُ الْحَقِّ

او دوی به رد کړه سي خدای ﷻ ته ای الی جزائه ايا هم په هغو عملو چي دوی په دنيا کي کړي وه "مولی هم الحق" چي رب د دوی دی په حق سره لا ماتخذوه اولياً من الاصنام.

سوال: په بل ځای کي خدای ﷻ وايي" وان الکافرين لا مولی لهم.

جواب: مولی په هغه ايات کي په معنی ده ناصر دی او په دې آيت کي په معنی د رب او مالک دی فلا منافات بين النفي والاثبات.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿

او زائل باطل سي هغه سي چي مشرکانو يې دعوه کوله د بتانو په باره کي چي دا شرکاء الله دي. او يا يې ويلې چي زمونږ خدايان يعني بتان زمونږ شفاعت کونکي دي زمونږ دپاره يعني دغه دوې دعوې چي دوی کولې په هغه ورځ د قيامت يې د د ماغو څخه ووزي، بعض سادات کرام رحمهم الله وايي د غره کينل په نوکانو اسان دي تر زوال د هوا نفسانې چي په چا کي ټينګ سي کما في المشرکين من اتباع الهوى في عبادة الاصنام.

پوه سه: ده خدای ﷻ نه دي خوښ هغه عمل چي په هغه کي التفات وغير الله نه وي که نفس وي او که غير د نفس څخه وي، او دغه رنګه د خدای ﷻ نه دی خوښ هغه زړه چي مشترک په محبت اختياري د غير الله من شهوات النفس وغيرها وي، محمد بن حسان رحمه الله وايي چي زه د لبنان په غره کي گرځېدم چي يو سړی د يو غاره څخه را ووتی چي گرمي ده غره يې لکه مخ چي ورسوی وي چي زه يې ولېدم راسه ميدان يې کړه ما پسي ميدان کړه او ورناري مي کړه چي ماته يو نصيحت وکړه، په يوه کلمه سره چي زما ډيره فائده په کښې وي ده په ځغاسته کي راته وويل چي د خدايه څخه بېرېږې ولي خدای غيور دی نه خوښه وي په زړه کي د بنده ما سوی د خپل ځان.

قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ

ته ووايه يا محمد ﷺ ودوی ته يعني مشرکانو ته څوک دی چي تاسي ته رزق درکوي د آسمان څخه يعني په بارانو يا واوره سره په اورېدو او د ځمکي څخه يعني دنباتاتو چي ستاسي غذاوي يا ستاسي د حيواناتو رزق وي يعني دا کارونه خدای واحد لاشريک کوي او که يې ستاسي خدايان بتان کوي.

أَمَّن يَمْلِكُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ

او څوک دی مالک د اورېدو د غوږونو، او د ليدلو د سترګو يعني د خلګو" پوه سه سمع يې مفرد راوړه او ابصار يې جمع نکته يې داده چي سمع مصدر دی په استعمال کي مفرد او جمع سره برابر دی، او استعمال يې په قوت سامعه کي نادر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی، او بصر که څه هم مصدر دی لکن استعمال یې په عضو مخصوص کې دی، او یا معنی داده چې څوک دی چې په غوښو او رګو او پلو سره دي اوربدل او لیدل وکړي. او یا معنی داده چې څوک دی چې ساتنه د دغو دوو وختو کوي مدةً مدیدةً ای مدة العمر او سره ددې چې دغه دوه ظاهر هم دي او دهر ضعیف هم دي.

وَمَنْ يُّخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ

او څوک دی چې راباسي ژوندی حیوان له مړي څخه چې نطفه د هګۍ ده او یا راباسي مړ شی د ژوندي څخه یعنې نطفه یا اګۍ ده د ژوندي حیوان څخه.

دروښ وایي: چې ظاهره معنی د آیت خو داغه ده او بعض مفسران وایي چې مراد د حی څخه مؤمن دی کابراهیم علیه السلام او مراد د میت څخه کافر دی لکه ازر چې پلار د ابراهیم وو، او میت من الحی لکه کنعان زوی د نوح علیه السلام وو د نوح علیه السلام او بعض مفسران وایي چې مراد د حی من المیت څخه ولادت د عالم د جاهل پلار څخه او میت من الحی لکه جاهل زوی د عالم پلار څخه وهذا کثیر جدا.

وَمَنْ يُّدَبِّرُ الْاَمْرَ ؕ

څوک تدبیر او کار سازې او عواقب ته کتل کوي او عالم دی د سمواتو وما فیها او د مځکې وما علیها په احوالو.

فَسَيَقُوْلُوْنَ اللّٰهُ ۚ

پوه سه: چې لفظ د الله دا خبر د مبتدأ محذوفي دی یعنې ژر دی چې دوی به ووایي چې هو الله ولي چې د دې کار نسبت دوی وخپلو خدایانو ته نسي کولای لانه خلاف البداهة الاولیة مثل ان یقول احد ان الثلاثة زوج یعنې درې جوت دي.

فَقُلْ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ۝

آیا تاسي د داسي مقتدر خدای جل جلاله د عذابه نه ډیریږئ چې بتان مو ورسره شریکان کړي دي.

فَذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمُ الْحَقُّ ۚ

دغه څوک چې دغه کارونه یې کړي دي او کوي یې او تاسي هم اقرار په وکړی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کما مر قریبا "الله" ای المستحق للعبادة، چي ستاسي تربیه کونکی دی ولي هم يې تاسي پیدا کړي یاست او تاسي ته رزق درکوي نو وجدان او برهان پر دې شاهد دی چي معبود بالحق هم داغه ذات دی وحده بلا شریک "الحق" چي وجود يې ثابت دی په اولوهیت کي هیڅ شبه نسته.

فَمَاذَا بَعْدَ الْحَقِّ إِلَّا الضَّلَالُ ۖ فَأَنَّىٰ تُصْرَفُونَ ﴿٣٢﴾

پوه سه: چي دا استفهام انکاري دی ای لیس شئ بعد الحق الا الضلال ای الکفر والشرک، چیري تاسي مصروف سواست د حقه وباطل او ضلال ته.

سعدي شهرازي رحمه الله:

ترسم نرسي بکعبه ای اعرابی ... کین ره که تو میروی بترکستان است

واقف نمي شوند که گم کرده اند راه ... تا راه روان براه نمایي نمیرسند

كَذَٰلِكَ حَقَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى الَّذِينَ فَسَقُوا أَنَّهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٣﴾

داغه رنګه حق سوې ده خبره د خدای ﷻ، پر هغو کسانو چي سرکښي په کفر کي کوله او قابل د طلب د صلاح نه دي، چي دوی ایمان نه راوړي.

پوه سه: چي ذالک اشاره ده ومصدر مفهوم ته د حق یعني لکه چي ثابت سو حق والی ده ربوبیت د خدای او دا چي لیس بعد الحق الا الضلال.

پوه سه: چي مراد د کلمة ربک څخه حکم ازلي د خدای ﷻ یعني لاملئن جهنم من الجنة والناس.

قُلْ هَلْ مِن شُرَكَائِكُم مَّن يَبْدَأُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ ۚ

ته ورته ووایه یا محمد ﷺ یعني مشرکینو ته د مکې چي ایا سته د شرکا څخه ستاسي یعني تاسي یې د خدای ﷻ شریکان بولې د خدای سره په عبادت کي چي اصنام او بتان دي داسي څوک چي ابتداً د خلق د مخلوقاتو دي کړې وي" بیا وروسته دي ژوندي کوي.

سوال: مشرکین خو د اعادة بعد الموت څخه منکر وه که څه هم ابتداً د خلق ده د خدایه څخه بلله نو څه رنګه په اعادة بعد الموت دوی ته الزام او قناعت ورکړه سو.

جواب: بدء الخلق د خدای د خوا خو دوی مانه نو اعادة بعد الموت خو اسانه ده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

في الظاهر تر بدء الخلق وان كان بالنسبة الى قدرته تعالى سواً نو الزاما بايد دوی په اعادة بعد الموت هم قانع وي نو ځکه خدای ﷻ ودوی ته په جواب کې خدای ﷻ امر کړی علیه الصلاوة والسلام په جواب ورکولو سره.

قُلِ اللّٰهُ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ ﴿٣٤﴾

ته ورته ووایه دوی ته چې الله ﷻ ابتداً د خلق د اشیاً کړې ده او بیا یې بېرته بعد الموت ژوند ته راګرځوي، نو څه رنګه تاسي صرف نظر ګرځوې د عبادت څخه د خدای ﷻ و عبادت ته د بتانو، چې هغه په بدء الخلق کې هېڅ برخه نه لري او تاسي هم په هغه اقرار کوئ.

قُلْ هَلْ مِن شُرَكَائِكُم مَّن يَهْدِي إِلَى الْحَقِّ ۚ

ته ورته ووایه یعني یا محمد ﷺ ودوی ته یعني مشرکانو ته ایا سته د شرکا څخه چې تاسي یې شریکان د خدای بولئ داسي څوک چې هدایت وکړي د خلګو و حق ته چې دلائل ووایې او رسولان را واسته وي او توفیق د نظر صحیح وخلګو ته ورکړي الاستفهام للانکار یعني نسته ولي ستاسي شریکان جمادات لا یقدرون علی شئ.

قُلِ اللّٰهُ يَهْدِي لِلْحَقِّ ۗ أَفَمَن يَهْدِي إِلَى الْحَقِّ أَحَقُّ أَن يُتَّبَعَ أَمَّن لَّا يَهِدِّي

ته ورته ووایه چې خدای ﷻ هدایت ورکونکی دی حق ته یعني بارسال الرسل ونصب الدلائل واعطاً المعجزات لا غیره، آیا هغه څوک چې هدایت وحق ته کوي چې خدای دی حق دار د دې دی چې نور خلګ یې متابعت وکړي او یا هغه څوک چې هدایت نسي کولای چې بتان او جمادات دي تاسي فیصله وکړئ.

إِلَّا أَن يُهْدَىٰ ۖ

مګر نه چې هدایت ونه کړل سي" پوه سه! چې استثناً مفرغ ده یعني مستثنی منه یې محذوف دی او دا استثناً منصوب محلا ده پر ظرفیت والتقدیر لا یهدي في شئ من الاوقات الا قت هدایته تعالیٰ ایاه، نو باره دی پخپله هم پر هدایت ګرځي او بل ته هم هدایت کولای سي.

پوښتنه: خبره خو په بتانو کې وه نو هغه څه رنګه پر هدایت کیدای سي او بل ته هم څه رنګه هدایت کولای سي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جواب: دا حال د اشرف د معبوداتو د دوی دی چې ملائکه دي چې مشرکانو به بنات الله بوللې او د دوی عبادت به يې کاوه. او بعض مفسران وايې چې مراد د هدايت څخه نقل دی من مکان الی مکان، نو بتان خو هم مشرکانو د يوه ځای څخه بل ځای ته نقل کول ففيه اشارة الی عجز الاصنام چې دوی نقل مکان هم نسي کولای چې تاسي يې نقل نه کړئ فهم اعجز منکم ولي چې تاسي نقل مکان پخپله کولای سئ.

فَمَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ ۝

نو پس څه حال دی ستاسي ای مشرکانو چې دغه حکم باطل بالبداهة کوئ چې دابتان شرکاً د خدای دي او سره د دې چې تاسي اعلی حالا ياست تر دوی.

وَمَا يَتَّبِعُ أَكْثَرُهُمْ إِلَّا ظَنًّا

او متابعت نه کوي اکثره د مشرکانو په دې باره کې چې بتان خدايان دي مګر نه د ګمان بېله تحقيق او يقين څخه بلکه صرف په تقليد د پلرو او نېکه ګانو.

پوه سه: چې اکثره د قيد فائده دا ده چې د بعض د دوی پر دې يقين وو چې توحيد حق دی لکن مکابرة او عنادا يې انکار کاوه.

إِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِي مِنَ الْحَقِّ شَيْئًا

په تحقيق چې ګمان تقليدي سړي ته فائده نه ورسوي د حق او يقين په ځای کې چې توحيد دی وبالفارسية كما في تفسير الحسيني" بې نياز نه ګرداند کسي از علم واعتقاد درست، يعني ظن وتخمين لکه مشرکانو چې به تقليد د آباؤ درلودی بجای حق ويقين نخواهد رسيد آه.

پوه سه: چې د شيئا معنی دا ده ای شئ من الاغنا نو مفعول مطلق دی، او بعض مفسران رحمهم الله وايې چې ظن د دوی چې اصنام زمورږ شفاعت کونکي دي باطل محض چې مبني پر خيال فاسده د دوی دی" اين خيال است ومحالست وجنون.

إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِمَا يَفْعَلُونَ ۝

خدای ﷻ خبر دی په هغه شي چې دوی يې فعل کوي" من اتباعهم الظن الفاسد واعراضهم عن البرهان المفيد للقين.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: په اصولو کي د دين علم يقين چي د مشکوة سه د قرآن عظيم الشان ماخوذ وي او يا د سنتو نبويه ﷺ مشهوره اخستل سوي وي ضروري دی البته په فروع کي د دين ظن کافي دی والتفصيل فی العقائد والاصول.

وَمَا كَانَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ اَنْ يُّفْتَرٰى مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

نه دی دا قرآن يعني المعجز للبلغاً باتيان مثل سورة منه درواغ يعني د خدای ﷻ ما سوی ځخه لکه مشرکانو د مکې چي به ويل چي محمد ﷺ دا قرآن د ځانه ځخه جوړه وي او افتراً يې وخدای ته نسبت کوي" يعني دا قرآن من عند الله دی والا لما عجزوا عن الاتيان بمثله والحال انکم بلغاً ومحمد ﷺ امي.

پوه سه: چي ان يفتری په دخول د ان مصدريه مصدر وگرځېدی او په معنی د مفعول دی ای مفتری خبر د کان دی.

پوه سه: چي من دون په تقدير د صادرا من دون الله خبر آخر دی د کان.

وَلٰكِنْ تَصْدِيْقَ الَّذِيْ بَيْنَ يَدَيْهِ

لکن دا قرآن مصدق دی د هغو کتابو چي د ده د مخه نازل سوي دي کالتوراة والانجيل وغيرهما من الکتب الالهية يعني مضامين د قرآن موافق دي د مضامينو سره د کتب سابقه وو په اصول او عقائدو کي او په قصصو کي د امم سابقه وو او دا قرآن بنکاره سو پر لاس د دسي چا چي محمد عليه الصلوة والسلام دی چي هيڅ شيئ د علومو ودته حاصل نه وو او نه دی د علماوو سره د کتب سابقه وو يې تماس درلو دی فعلم من کل ذالک ان هذه القرآن من عند الله العزيز العلام ومبلغه رسوله عليه الصلوة والسلام.

وَتَفْصِيْلَ الْكِتٰبِ لَا رَيْبَ فِيْهِ مِنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝

او بيان دی د ما فی اللوح المحفوظ من الحلال والحرام وشرائع الاحکام، هيڅ شک نسته په قرآن کي چي من عند الله دی "من رب العالمين" خبر آخر داخل في حکم الاستدراک ای کائنا من رب العالمين يعني قرآن وحي نازل دي د جانب ځخه د رب العالمين.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې تفصيل عطف دی پر تصديق تر لکن استدراکي لاندې دی او خبر دی د کان مقدر هنالک لان التقدير هنالک ولکن کان تصديق الخ او بعض مفسرين وايې چې کتاب د کتب څخه ماخوذ دی په معنی د فرض وحکم وقدر دی يعني تفصيل ما حقق واثبت من الحقائق والشرائع والاحکام والمآل واحد.

پوه سه: چې کلمه ده "لا" دپاره د نفي جنس ده اوريب يې اسم دی او فيه يې خبر دی.

فائده: دا جمله خبر ثالث د کان داخل تحت الاستدراک ده، يعني صلاحيت د ريب په قرآن کي نسته لکونه معجزا مطابقا للکتب المتقدمة.

سوال: منکران د قرآن ډير دي فضلاً عن الريب؟

جواب: خدای وايې چې قرآن ځای د شک نه دی کما مر لا انه تاب فيه احد" فالريب والانکار راجع الی المرتابين والمنکرين، گفته اند الشمس شمس وان لم يراها الضرير" والعسل عسل وان لم يجد طعمه فاه المرير.

اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ۭ قُلْ فَاْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِّثْلِهٖ

آيا دوی به ويل چې قرآن کريم په درواغو سره عليه الصلوة والسلام د ځانه ځخه اختراع کړې ده، ته ورته ووايه په رد کي قول د دوی چې که ستاسي خبره رشتيا وي نو تاسي هم راتگ وکړئ په يو سورة سره که طويل او که قصير وي، چې مثل د قرآن وي په بلاغت کي او حسن النظم کي ولي چې تاسي خو زما غوندي عرب ياست بلکه تر ما ډير په نظم او نثر کي اموخته ياست.

پوه سه: چې کلمه د ام منقطعه ده په معنی د بل آه ده بل يې دپاره د انتقال دی د ماقبله ځخه او همزه يې دپاره د انکار دی د واقع ځخه"يعني دا خبره دوی بايد نه وای کړی، ولي چې عاقل ادني عقل بايد داسي خبره ونه کړي چې د بداهة ځخه خلاف دی لکه دوی چې خبره افتراه کوله.

پوښته: دوی يعني قريشو او عربو به يو ځه کشنی سورة جوړ کړی وای او عليه الصلوة والسلام ته بې ويلي وای چې دغه دی د قرآن د سورة مثل"

جواب: چې دوی د قرآن کريم په اعلی بلاغت پوهيدله او کې صرف يو شی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جوړ کړی وای د نورو بلیغانو څخه شرمېدله چې اعتراض به را باندې وکړي.

سوال: چې د ځان عجز یې ومانه نو دا خو به اقرار په کون د قرآن کلام الله نه وي؟

جواب: دوی عجز نه مانه بل قالوا انهم سحروا تسحیرا" یعني موږ خو قادر پر اتیان د مثل د قرآن یو لکن محمد ﷺ په موږ سحر وکړی چې زموږ عقول یې د اتیان بالمثل څخه مصروف کړه.

فائده: دوی ظالمانو د علیه الصلوة والسلام په شان کې د هېڅ بد نامۍ څخه ډډه نه کوله. مثلا شاعر" ساحر" مجنون" مفتر" یعلمه بشر، د لاهور پاکستان په ښار کې د تابعانو د غلام محمد قادیاني یو سړی وو هغه وویل چې د قرآن د یو سورة جوړول خو اسانه خبره ده نو ده د القارعة ماالقارعة پر ډول الخ داسې مثل یې جوړ کړی وو، الفیل ما الفیل وما ادراک ما الفیل له ذنب قصیر وخرطوم طویل الی آخره لعنه الله تعالی.

وَادْعُوا مَنِ اسْتَطَعْتُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿٣٨﴾

او سره د خپل کوششه تاسې را وبولي یعني د قرآن کریم د یوه سورة د جوړېدو دپاره هغه څوک چې تاسې په طاقت پوره وي یعني من البلغاً ماسوی د خدای څخه ولي پر دې مثل خو خدای ﷻ قدرت لري لا غیره تعالی که چیرې تاسې صادق یاست" په دې دعوه کې چې محمد ﷺ دا قرآن د ځانه څخه جوړه وي.

پوه سه: چې ان حرف شرط دی او د جزاً څخه مستغني په ماقبل سره یعني فأتو "لکن دوی پر دې نه سوه قادر.

بَلْ كَذَّبُوا بِمَا لَمْ يُحِيطُوا بِعِلْمِهِ

پوه سه: چې کلمة د بل د پاره د اضراب ده ددوی مناظره سه وتشنیع او ذم ته د حال د دوی، یعني چې تکذیب د دوی او انکار کون القرآن کلام الله ﷻ لا کلام البشر په هغه شي چې عبارة د قرآن څخه دی چې دوی یې احاطه نه وکړې پر علم د هغه یعني تکذیب د دوی مبنی پر تحقیق او تدبر نه دی په لطائفو کې د قرآن او په غایت بلاغت کې او په اخبار بالغیب کې د قرآن من القصص الماضیة والمستقبلة" بل په اول وهلت کې د اورېدو د قرآن ژبې درازې کړې په انکار د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قرآن، والعاقل ينبغي له ان يتدبر في الشئ ثم يقبله او يرده، والتعجيل من الشيطان حين امر الله بالسجود لادم عليه السلام فابى في اول الوهلة من غير تدبر.

وَلَمَّا يَأْتِهِمْ تَأْوِيلُهُ

يعني دوی ته نه وو راغلی علم پر معانې وو د قرآن من الوعد والوعيد" والاخبار بالغيوب من المبدء" نو ده تاويل معنى ما يؤل اليه حال القرآن" او دوی ته علم پر حقيت د قرآن که يې تلوار بالتكذيب نه وای کړی ممکن وو، چې ملا يانو ته د کتب متقدمه يې رجوع کړې وای او خپل حال يې ورته بيان کړی وای او ورته ويلي وای چې په موږ کې يو سړی دعوی د نبوت وکړه او داسې يو کتاب يې مابين ته راوړی چې موږ توله يې د اتيان څخه د مثل د يوه سورت عاجزه کړو او سره د دې چې دا شخص په موږ کې امي هم وو، نو هغو علماؤ به حتما ورته ويلي وای چې دا شخص په خپل اخبار کې صادق دی خصوصا که دوی يعني مشرکانو د مکې قبل هجرته الى المدينة و علماؤ ته د يهودو رجوع کړې وای فافهم ولا تعجل.

كَذَٰلِكَ كَذَّبَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الظَّالِمِينَ ﴿٣٩﴾

پوه سه: چې په دې آيت کې تسلي ده وعليه الصلوة والسلام ته" والمعنى دغه دول لکه کفار د مکې چې ستاسې تکذيب وکړی هم داغسې تکذيب کړی دی کافرانو د امم ماضيه وو من زمن نوح عليه السلام ته وګوره چې څه رنګه سوی دی حال د ظالمانو د امم ماضيه چې خدای عزوجل په انواعو سره عذاب د هلاک مبتلی کړه اين کفار قوم نوح عليه السلام اهلكهم الله بالطوفان" اين فرعون واتباعه ممن انكرو من نبوت موسى عليه السلام اهلكهم الله بالغرق في اليم.

دروښ وايي: چې په دې آيت کې علاوه پر تسلي اشاره ودې ته ده چې ستاد منکرانو به ورته حال وي. او دا اشاره ته يې وعده خدای عزوجل پر ځای کړه په بدر کې کمامر، او په فتح کې د مکې، نو د وعيد دی د کفارو د مکې.

وَمِنْهُم مَّن يُؤْمِنُ بِهِ وَمِنْهُم مَّن لَّا يُؤْمِنُ بِهِ ۚ وَرَبُّكَ أَعْلَمُ بِالْمُفْسِدِينَ ﴿٤٠﴾

يعني بعض له منكر انو څخه ايمان لري پر قرآن لكنه ينكره عناداً وتعنتاً او يا معنا داده چې بعض له منكرانو څخه في الحال به په استقبال ايمان راوړي بعد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

التفكر في معاني القرآن او يا وروسته تر رؤيت د معجزاتو ډېرو. له سببه د ډېر عبادت او د فكر نه وهلو په حقائقو كي د قرآن. او يا يې په ليدلو سره د ډېرو غريبو معجزو كابى جهل والمغيرة وامثالها. او خداى ﷻ ستا خبر دى په مفسدينو سره او يا په معانيد ينو سره.

پوه سه: چي اعلم پر تفضيلي معنى نه دى بلكې په معنى د عالم دى ولي چې غير د خداى ﷻ څخه په مفسدينو سره هيڅ څوك نه دى خبر.

وَإِنْ كَذَّبُوكَ فَقُلْ لِّي عَمَلِي وَلَكُمْ عَمَلُكُمْ أَنتُمْ بَرِيئُونَ مِمَّا أَعْمَلُ

كه دوى ستا پر تكذيب اصرار وكړي بعد الزامهم بالحجة المذكورة ورته ووايه دوى ته چې مالره خپل عمل دى اى جزائه او نور بحث مه ورسره كوه، او تاسي لره ده جزاً د خپلو عملو ده. تاسي بېزاره ياست زما له عمل څخه چې توحيد او اسلام دى يعني زما عمل وتاسي ته نه تاوان رسوي او نه فائده، بل لكل عامل جزاً عمله ان كان خيرا فخير وان كان شراً فشر، لكن ازار مه رارسوئ.

وَأَنَا بَرِيءٌ مِّمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٤١﴾

او زه بېزاره يم ستاسي له عملو څخه يعني خداى ﷻ ما ستاسي په عملو چې كفر او عصيان نه نسي، ولي چې زما وظيفه د رسالت انداز او تبشير د هغه ما پاى ته ورسول "انما على رسولنا البلاغ المبين الآية"

پوه سه: چې كلبي او مقاتل وايي چې دا آيت منسوخ دى په آيت سره د قتال.

وَمِنْهُم مَّن يَسْتَمِعُونَ إِلَيْكَ

او بعض د مشركانو هغه كسان دي چې غوږ يې نيولى وي وتاته يعني ته قرآن وايي او شرائع د اسلام بيانوې لكن ظاهري غوږونه يې نيولي وي او د زړه غوږونه يې په عناد او تكبر او شهواتو فاسده وو كاڼه وي لكه كوڼ چې په ظاهري غوږو نه اوري.

أَفَأَنتَ تُسْمِعُ الصُّمَّ وَلَوْ كَانُوا لَا يَعْقِلُونَ ﴿٤٢﴾

آيا ته قدرت پر سماع د "صم" قلبي لري والاستفهام للانكار يعني قدرت نه پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لري، كه څه هم دوی سره د کونبو الي عقل هم نه لري. او ظاهري کون خو په اشاراتو مطلب فهمولای سي.

وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّنْظُرُ اِلَيْكَ ؕ اَفَاَنْتَ تَهْدِى الْعُمْىَ وَلَوْ كَانُوْا لَا يُبْصِرُوْنَ ﴿۴۳﴾

او بعض د منکرانو تاته په ظاهري سترګو ګوري او دلائل د نبوت او معجزاتو هم وینې لکه ابوجهل لکن تصدیق ستا د نبوت نه کوي لعدم البصيرة في قلوبهم. آیا ته لاربنوونه کولای سې وه هغه چاته چې ړوند وي که څه هم دده ظاهري سترګو وه ړوند تیا ته د باطني سترګو ړوند تیا هم ورجوت سي، نو داسي شخص چې په ظاهري او باطني سترګو ړوند وي ددې هدایت ډېر بعید دی.

فائده: په دې آیت کي تسلي وه نبي ﷺ ته ده، ګویا خدای پاک ورته وایي لاتقدر ان تسمع من سلبت عنه السمع، ولاتهدي من سلبت عنه البصر ولا ان توفق الایمان من حکمت انه لایؤمن، نو هم ددې سببه ته ما امر کړې په تبري ددو څخه بقوله تعالی قل لي عملي ولکم عملکم الآية.

اِنَّ اللّٰهَ لَا يَظْلِمُ النَّاسَ شَيْـًٔا وَّلٰكِنَّ النَّاسَ اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۴۴﴾

په تحقیق خدای ﷻ ظلم نه کوي پر خلګو شيئاً من الظلم، نو شيئاً مفعول مطلق دی یا په یو شي د عذاب نو شيئاً مفعول به دی، والحاصل چې خدای ﷻ بېله کفره او عصیان څوک دوزخ ته نه اچوې لانه ظلم والله تعالی بريئ من الظلم ولي خدای ﷻ انسانان له ظلمه څخه منعه کوي فکيف يظلم هو، بلکې علاوه پر استعداد فطري رسولان عليهم السلام را استولي دي، کريمه: وما کنا معذبين حتى نبعث رسولاً ومع ذالک انزل عليهم الکتاب وايديهم بالمعجزات الباهرات.

دروښ وايي: چې چونکه ضرر د کفر او عصیان وه خلګو ته راجع ؤنو څکه خدای ﷻ وويل ولکن الناس آه.

فائده: له دې آیت څخه صراحةً دا معلومه سول چې بنده که څه هم خالق د خپلو افعالو نه دی لکن مسلوب الاختيار بالکلية هم نه دی بلکې کاسب دی، کما تقرر في کتب العقائد کشرح العقائد للعلامة التفتازاني رحمه الله والمواقف للقاضي عضد الدين رحمه الله وشرحه للسيد الجرجاني وکتاب مسلم الثبوت الفرق بين الخلق

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والكسب، هو جبريه ظالمان وايي چي بنده گان مسلوب الاختياره دي كسباً وخلقاً.

دروبش وايي: چي ه مفاسد د مذهب د جبريه وو بيخي ډبر دي (۱) ارسال الرسل لغوه گرځي (۲) انزال الكتب السماوية هم لغوه گرځي (۳) اتصاف الباري ﷻ بذميمة الظلم حين يدخل يوم القيامة بعض الناس الى النار، وقد قال الله تعالى ان الله لايظلم الناس آه (۴) لايصح نسبة الظلم الى الناس لانهم مسلوب الاختيار عندهم مع انه قال ولكن الناس آه، الى غير د ذالک من المفاسد والحق انه لاحظ لهذه الطائفة في الاسلام، او ددوی له مذهب څخه دا لازميږي چي هر څو واره چي په قرآن كي راغلي دي جزاً بما كانوا يعملون جزاً بما كانوا يكسبون نو له ددوی مذهب ردوي فافهم قال الشاهر المحقق رحمة الله عليه:

چشم از برای دیدن آیات قدرتست ... گوش ازپی شنیدن اخبار حضرتست
هرگه که حق نبیند وحق نشود کسی ... کورو کرست بلکه ازان هم بتربسی

وفي الحديث النبوي المتفق عليه للبخاري ومسلم بروايت ابو موسى الاشعري ﷺ، قال رسول الله ﷺ مثل مابعثني الله به من العلم (عليه الصلوٰة والسلام وويل مثال د هغه شي چي زه خدای ﷻ په راستولی يم د هدايت او علم څخه) كمثل الغيث الكثير اصاب ارضا فكانت طائفة منها طيبة قبلت الماً وانبتت الكلاً والعشب (لكه مثال د ډېر باران چي پر مځكه وه اوري، نو يوه حصه د مځكي پسته او خوږه مځكه وي چي اوبه جذب كړي، نو راشنه كړي دغه خوږه مځكه كلاً يعني تخمنو چي خلگو پكښي پاشلي وي او عشب چي خدايي تخمونه چي په مځكه كي وي راشنه سي، او بالعكس "وكانت منها اجادب امسكت الماً فنفع الله به الناس فشربوا وسقوا وزرعوا" (او بعض توته د مځكي ډب ځای وي او كلكه ډبرينه وي اوبه د باران خوندي كړي يعني جذب يې نه كړي بلكې حوض مانند ه پكښي ولاړي وي، نو خلگ يې هم څښي او خپل حيوانان هم پر اوبه وي او شاوخوا كښت هم ورته كوي) وكانت طائفة منها اخرى انما هي قيعان لا يمسك الماً ولاتنبت الكلاً (او بله طائفه د مځكي ښويي ډبري وي چي نه اوبه جذب كوي يعني لكه اوله مځكه او نه اوبه خوندي كوي نه وانبه راشنه كوي يعني لكه دوهمه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

محُكه) فذالک مثل من فقه في دين الله ونفعه ما بعثني الله به فعلم وعلم ومثل من لم يرفع بذالک رأساً ولم يقبل هدى الله الذي ارسلت به (نو دغه مثال دی د هغه چا چي فقاهت او دانشمندي حاصله کړي په دين کي د خدای ﷻ او ده ته خدای ﷻ نفع په ورکړی په ما بعثنی الله به چي دين او هدیٰ د خدای ﷻ دی، يعني نفع يې داده چي په علم سره عمل وکړي، نو دين زده کړي او بل ته يې هم وروښيي.

دروښ وايي: چي دا د محُکي طيبه مثال دی چي په خپله هم سرسبزه او شادابه سول، او بل چا هم نفع پر واخستله، او مثل د هغه چا چي نه کړی پورته سر وهدی الله ته کنايه ده د عدم التفاوت، او نه يې کړی قبول هدايت د خدای ﷻ چي زه را استول سوی يم په هغه سره.

دروښ وايي: چي دا مثال دی د قيعان محُکي کمامر او د دوهمي محُکي چي اجادبه وه متروک دی، او هغه هغه عالم متبحر دی چي علم وبل ته ورښيي او په خپله يې نفع نه وي پر اخستې يعني عمل يې نه وي په کړی.

دروښ وايي: چي دا قسم علماً په حاضر کي بهخي دهر دي بخلاف عصر الصحابة ﷺ والتابعين وتبع التابعين رحمهم الله فانهم كانوا من القسم الاول للارض ثم بعد خير القرون ايضاً امثلة كثيرة لهذا القسم كما لايخفٰى، او د قيعان محُکي مثالونه په هر عصر کي بهخي دهر او ترحد تهر دي من الكفرة الفجرة وهذا تحقيق هذا الحديث مطابقاً لما في شروح البخاري ومسلم وفقنا الله واياكم الى خيرات الدارين..... بيت:

واعظان کين جلوه درمنبر ومحراب ميکنند
چون به خلوت ميروند کاری ديگران ميکنند

وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ كَأَن لَّمْ يَلْبَثُوٓا۟ إِلَّا سَاعَةً مِّنَ ٱلنَّهَارِ يَتَعَارَفُونَ بَيْنَهُمْ

او هغه ورځ چي دوی يعني الكفار يعني له قبرو څخه راووځي.

پوه سه: چي "كان" مخفف د مثقل دی اسم يې محذف دی ای كانهم، او خبر يې "لم يلبثوا" دی يعني گويا دوی درنگ نه دی کړی، ابن عباس ﷺ وايي په قبرو کي او ضحاک رحمه الله وايي په دنيا کي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: عمرونه ددوی که په دینا کي وه او که په قبرو کي ؤ داخو طویل عمرونه وه، نو دوی ولي ساعة من النهار ووایه؟

ځواب: باعث ددوی لیدل د هول او سختی د ورځي د قیامت وه.

فائده: عامل د نصب د "یوم" اذکر مقدر دی، جمله تشبیه د "کان آه" په ځای کي د حال ده له ضمیر منصوب څخه د "یحشرهم" والتقدیر یحشرهم مشبهین بمن لم یلبث الا ساعة "یتعارفون بینهم" او دوی دبله سره پېژني لکه په دنیا کي دوی ته داسي معلومېږي چي مور لږ زمانه سره جلا سوي یو.

پوه سه: چي دا جمله (یتعارفون آه) بیان د "کان لم یلبثوا" ده، په تفسیر زاهدي کي وایي چي معتزله په دغه آیت سره یعني "کان لم یلبثوا آه" سره دلیل وایي چي عذاب القبر نسته، ولي که کفار په قبرو کي معذب وایي، نو دا دومره دروازې د عذاب القبر ودوی ته یو ساعت نه معلومېده، بیا زاهدي رحمه الله ځواب ورکړی دی که څه هم کفار دېره زمانه په قبرو کي معذب هم وه لکن نسبت ولوی عذاب ته د لوی ورځي د قیامت کانه ساعة من النهار فافهم.

قَدْ خَسِرَ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِلِقَاءِ اللَّهِ وَمَا كَانُوا مُهْتَدِينَ ﴿٤٥﴾

پوه سه: چي دا شاهدي د خدای ﷻ پر خسران د کافرانو، یعني تاوان کړی دی هغه کسانو چي کذب یې باله ملاقات د خدای ﷻ یعني حساب او جزا د خدای او دوی نه وه پوهېدلي د تجارت په لارو یعني په دنیا کي، ولي خرڅ کړی ایمان په کفر سره او تصدیق په تکذیب سره او رایې نیوی دوزخ په جنت سره.

پوه سه: چي ما د تجارت لفظ ووایه، ولي خسران په تجارت پوري اړه لري.

چه خوش گفت باکودک آموزگار ..... که کاری نه کردیم وشد روزگار

ژباړه: څه ښه وویل وه یوه کوچني ته استاذ دده چي کار د اخیرت مو نه وکړی او تېر سو ژوند یعني په لهو ولعب کي.

وَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِي نَعِدُهُمْ

یا به مور په تا ووینو بعض هغه عذاب چي مور یې د کفارو سره وعده کړې ده لکه په بدر کي چي اوویا رئیسان د کافرانو په شمول د ابوجهل ووژل سول، او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اوويا كسه ستاسي په لاس كي بنديان سول.

پوه سه: چي اصل د "اما" انما دى، "ان" شرطيه دى او ما زائده، جواب د شرط محذوف دى نحو فذاک المطلوب او انا عليه مقتدرون.

أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ ثُمَّ اللَّهُ شَهِيدٌ عَلَىٰ مَا يَفْعَلُونَ ﴿٤٦﴾

يا به تا وفات كړو يعني دمخه تر رويت د عذاب ددوى، نو بيا د كفارو رجوع وموږ ته ده يعني په ورځ د قيامت، نو هوري به په تا عذاب ددوى وه وينم، وانا منهم منتقمون، بيا خداى ﷻ شاهد دى پر هغو كارو چي دوى په دنيا كي كوله من الكفر والمعاصي والاستهزاء بک وبالقرآن العظيم، وانكار رسالتک.

پوه سه: چي مراد له شهادت څخه نتيجه د شهادت ده وهي الجزاء على افعالهم السيئة ولهذا اورد لفظ د "ثم" الدال على التراخي، ولي كه مراد له شهادت څخه نفس شهادت واى بيا يې عطف په "ثم" نه صحيح كيدى لان الله شهيد حال الرجوع وقبله على ماكانوا يفعلون من التكذيب والمحاربة معک، او په تفسير كواشي كي وايي چي لفظ د "ثم" په معنى د واو دى لان حروف العطف يجيئ كل واحد بمعنى الآخر، او يا "ثم" لپاره د تراخي في الاخبار دى لا في وجود الشهادت نحو زيد قائم ثم هو كريم اى ثم نخبرک بانه كريم.

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ رَسُولٌ

هر امت لره د امم ماضيه ؤ رسول ؤ چي خداى ﷻ د خلگو د دعوت لپاره راستولى ؤ توحيد ته والايمان بالبعث بعد الموت وامثال ذالک.

فَإِذَا جَاءَ رَسُولُهُمْ قُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٤٧﴾

چي رابه غلى رسول ددوى او بينات او معجزات به هم ورسره وه، وههنا محذوف يعني فكذبوه كما يدل عليه مابعده، نو فيصله وكړل سوه په منځ كي د هغه امت مكذبه يعني وبين الرسول په عدل سره يعني هلاک به كړل سوه مكذبين او پاته به سوه رسول والمؤمنون، و پر دوى ظلم نه دى كړل سوى يعني خداى پاک وايي چي په نزول د عذاب موږ پر دوى ظلم نه دى كړى بلكې دوى مستحق ددغه عذاب وه، او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مجاهد او مقاتل وايي چي هر امت لره رسول ؤ چي دوی ته راستول کړل سوی ؤ، نو چي ورځ د قیامت سي، نو رسول ددوی راسي پر بعض شاهدي د ایمان ادا کړي او پر بعضو د کفر، نو قضاً الهي جاري سي په منځ کي د امتیانو په عدالت سره بادخال المؤمنین الجنة وتعذیب الکافرین بالنار، دا آیت د هغه آیت سره برابر دی فکیف اذا جئنا من کل امة بشهید (ای رسولهم) وجئنابک علی هؤلاً شهیداً.

پوه سه: چي بعض راویان وایي چي څرنګه چي هغه مخنی آیت نازل سو اعني فامانرینک آه، کفارو د مکي استهزاء او استبعاداً لنزول العذاب، نو د علیه الصلوٰة والسلام څخه یي وغوښتل چي هغه عذاب موعود چي ته موږ په بهروي ژر دی چي نازل سي فانزل هذه الآیة.

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٤٨﴾

او وایي کفار د مکي کله دی دغه وعده د عذاب که چېري ته او ستا امتیان رشتیا وایاست چي عذاب راتلونکی دی.

پوه سه: چي جزاً د شرط محذوفه ده یعني "فاتوا به" یعني ته او امتیان ستا دي هغه عذاب پر موږ نازل کړئ، په دې کي ددوی مطلب انکار ؤ له نزول څخه د عذاب او استهزاً وه.

قُل لَّا أَمْلِكُ لِنَفْسِي ضَرًّا وَلَا نَفْعًا إِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ

ته ورته ووایه یا محمد ﷺ چي زه مالک نه یم د خپل ځان لپاره د دفع د یو ضرر څخه او نه مالک یم چي ځان ته دي یوه نفع راجلب کړم، مګر نه که د خدای ﷻ اراده سي چي له ما څخه دي یو ضرر دفع کړي، او یا دي نفع راورسوي فضلاً چي پر تاسي دي عذاب نازل کړم.

دروښ وایي: چي پر مذکور ترجمه استثناً متصله ده کما لا یخفی، او بعض مفسران وایي چي استثناً منقطع ده والمعنی لکن ماشاءالله کائن فهو القادر للضر والنفع وهو تعالی لم یبین لذالک زماناً معیناً.

لِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ ۚ إِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ فَلَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴿٤٩﴾

هر امت لره د عذاب یو وخت معلوم ستة یعني په علم ازلي کي د خدای ﷻ، چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راورسېږي اجل موعود د هغو، نو نه ځنډول کېږي يو لږ ګړی، او نه دمخه کېدای سي.

پوښتنه: ظاهراً ځو داسي ښکارېږي چې "ولا يستقدمون" دي عطف وي پر "لايستأخرون" باندي، نو تقدير د کلام داسي کېږي "اذا جاء اجلهم آه" او دا ځو محاله ده عقلاً ونقلاً چې تر اجل موعود او معلوم دی دمخه معذب کړل سي؟

ځواب: لا يستقدمون پر جزاً عطف نه دی بلکې پر مجموع جمله شرطيه عطف دی يعني اذا جاء اجلهم، نو معنا يې داده چې تر اجل نه سي دمخه کېدای، ولي دا ځو د علم ازلي الهي څخه خلاف ده.

قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَتَىٰكُمْ عَذَابُهُۥ بَيَٰتًا أَوْ نَهَارًا مَّاذَا يَسْتَعْجِلُ مِنْهُ ٱلْمُجْرِمُونَ ﴿٥٠﴾

يعني تاسي کفار مکه خبر راکړئ، که تاسي ته راسي عذاب د خدای ﷻ يعني هغه عذاب چې تاسي يې ژر غوښتونکي ياست "بياتا" يعني د شپې چې تاسي په خوارۍ خوب بيده ياست "او نهاراً" او يا د ورځې چې تاسي په دکانداری يا تجارت او يا نور د ژوند انه په کاروبار بخت ياست.

پوه سه: چې جواب د "ان" شرطيه محذوف دی لظهوره ای لندمتم، تاسي به پښېمانه ياست، او ځپله خطاً به په استعجال درته ښکاره سي.

پوه سه: چې کلمه د "ما" په "ماذا يستعجل آه" کې استفهاميه ده او استفهام لپاره د تعجب دی، او کلمه د "ذا" په معنی د الذي ده، والمعنى: څه شی دی چې ژر غواړي هغه شی کافران چې دوی به ويل چې هغه شی چې محمد ﷺ يې دعوه کوي من الرسالة والتوحيد والبعث بعد الموت، او خدای دی ستاله خوا داخبري کوي، نو مونږ خو يې نه منو فامطر علينا حجارة من السماً او ائتنا بعذاب اليم مضمون الآية الكريمة في موضع آخر، وجه د تعجب داده چې د عذاب او مکروه ژر غوښتل د عاقل سړي کار نه دی، بلکې عاقل بايد همېشه له خدای ﷻ د عافيت غوښتونکی وي.

أَثُمَّ إِذَا مَا وَقَعَ ءَامَنتُم بِهِۦٓ ءَآلْـَٰٔنَ

آيا هلته چې عذاب چې تاسي يې استعجال کوئ واقع سي، نو تاسي ايمان او تصديق يې کوئ، همزه لپاره د انکار دی، يعني هغه وخت خو ايمان فائده نه کوي، سعيد شيرازي قدس سره وايي:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تو پښې ازعقوبت دری عفوه کوب ..... که سودی ندارد فغان زیر چوب

فائده: پوه سه! چې دا جمله معطوف پر جزأ مقدره د "ان" شرطیه ده، والتقدیر ان آتاکم عذابه ندمتم ثم آمنتم به ای بالعذاب.

فائده: دخول د حرف استفهام پر "ثم" لپاره د انکار د تاخیر دی او کلمه د "ما" مزیده ده، والمعنی قل لهم ابعد ما وقع العذاب وحل بکم حقیة، تاسي ایمان پر راوړئ چې دغه ایمان فائده نه لري.

آلْـٰٔنَ وَقَدْ كُنتُم بِهِۦ تَسْتَعْجِلُونَ ﴿٥١﴾

آیا اوس تاسي ایمان راوړئ پر عذاب او تاسي واست چې استعجال د عذاب مو کاوه.

پوه سه: چې اصل د "الأن" االآن ؤ، نو همزه ثاني یې په الف بدله کړی مع المد اللازم، نو همزه اولی استفهامي دی او الأن منصوب دی په فعل مقدر ای آمنتم دون آمنتم المذکور لان القانون النحوي ان لایعمل ماقبل الاستفهام وهو آمنتم المذکور، په وروسته کې د استفهام چې الآن دی کالعکس فافهم.

فائده: دا جمله استفهامیه جمله مستأنفه ده له جانبه څخه د خدای ﷻ او تر قل مذکور لاندې نه ده، والتقدیر قیل لهم بعد ایمانهم بالعذاب بعد الوقوع الآن آمنتم به انکار آلتاخیر الایمان الی وقت الوقوع.

دروښ وایي: چې امام مظهري رحمه الله وایي چې له عذاب سابق څخه یعني ان اتاکم عذابه آه عذاب د دنیا مراد دی. او په دې آیت اثم اذا ماوقع آه عذاب د اخیرت مراد دی والمعنی ارئیتم ان اتاکم عذاب الله في الدنیا لیلاً او نهاراً، تندموا حینئذ ثم اذا وقع عذاب الآخرة هل تؤمنون به حین لاینفعکم الایمان، ولي مو هغه وخت ایمان نه راوړی چې اوس یې نفع درته کړې وای یعني په دنیا کې لانه الایمان النافع في الآخرة.

دروښ وایي: چې یو کتاب پر طریقه د رمز ماولیدی "لایدخل النار الا مؤمن انتهی" وروسته تر تأمل او غور په دې قول کې دا په زړه کې راغله چې مراد له قأمل مذکور له مؤمن څخه مؤمن الآخرة دی فقط، الکافرون کلهم یؤمنون بالبعث بعد الموت وعذاب النار اذا عاینوها فتفکر هداک الله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ثُمَّ قِيلَ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا ذُوقُوا عَذَابَ الْخُلْدِ هَلْ تُجْزَوْنَ إِلَّا بِمَا كُنْتُمْ تَكْسِبُونَ ﴿

وروسته وويل سي وه هغه كسانو ته چې ظلم يې كړى دى يعني پر خپلو ځانو په شرک سره چې اوس نو وړئ (وليس المراد ذوق الفم) عذاب د همېشه والي يعني په دوزخ كي جزاً نه در كول كېږي (نو كلمه د هل استفهام انكاري ده) مګر نه په هغه شي سره چې تاسي يې كسب كاوه په دنيا كي من الكفر والمعاصي (نو ما يا موصوله دى او عائد يې محذوف دى اى تكسبونه. او يا كلمه د ما مصدريه ده اى بكسبكم) "ثم قيل" عطف دى پر قيل مقدر من قبل كما علمت.

وَيَسْتَنْبِئُونَكَ أَحَقٌّ هُوَ

يعني مشركان ستا څخه خبر غواړي يعني ته راته ووايه يا محمد ﷺ آيا حق دى دغه شى چې ته موږ وربولې يعني التوحيد والنبوة والقرآن وقيام الساعة والعذاب والثواب او كه باطل ته مسخري كوي.

پوښتنه: مشركان خو د مذكوره امورو څخه منكر وه، نو طلب د خبر يې د عليه الصلوٰة والسلام څخه څرنګه كاوه چې دا امور مذكوره حق دي او كه څه رنګه؟

ځواب: دوى دا سوال استهزاءً كاوه.

قُلْ إِي وَرَبِّي إِنَّهُ لَحَقٌّ

ته ورته ووايه هو زما دي په خداى ﷻ قسم وي.

پوه سه: چې كلمه د "اى" حرف ايجاب دى په معنى د نعم دى او د قسم خاصه ده كما ان هل په معنى د قد دى په استفهام كې نحو هل اتى على الانسان آه" "انه آه" ضمير راجع دى وه عذاب موعود ته او يا امور مذكوره وو ته په سوال په تاويل د كل واحد لحق اى ثابت حتماً.

سوال: د موجوده زمانې عرب په جواب كې د يو چا وايي "اى وا" نو كلمه د اى ذكر سوه او قسم نسته؟

ځواب: دا د عربو تخفيفات دي، اصل يې داسي ؤ "اى والله" نو قسم موجود دى لكن دا ددوى تخفيف دى چې "اى وا" او عرب ورته تخفيفات لري لكه دوى چې په ځاى كې د "اى شيئ هذا" وايي ايش هذا، او چې يو چا ته مفت شى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورکوي يعني يو دکان دار، نو په ځای کي د "بلا شيئ" وايي بلاش. وامثال ذالک کثيرة وهذا القليل انموذج للکثير. په فارسي کي وايي مشت نمونه خروار. او په پښتو کي وايي د مرچو له کراره يې وه اتکلوه.

فائده: عليه الصلوٰة والسلام ددوی په استهزائي سوال پوه سو. لکن د اسلوب حکيم له لاري يې جواب ورکړی ای وربي فتدبر.

وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ۝

تاسي خدای ﷻ نه سئ عاجزه کولای په ماشا کي من العذاب ونحوه.

وَلَوْ اَنَّ لِكُلِّ نَفْسٍ ظَلَمَتْ

که چېري هر نفس لره چې ظلم يې کړی وي د خدای ﷻ په عبادت کي يعني شريک ورته گرځولی.

دروېش وايي: چې دا ترجمه چې ما وکړه اولی ده تر هغه ترجمې چې امام مظهري رحمه الله کړې ده حيث قال ظلمت علی الله بالشرک که څه هم مآل زماد ترجمې او د مظهري د ترجمې يو دی لکن من حيث التعبير بينهما فرق فتامل، او يا يې ظلم کړی وي پر يو چا پر آبروی چې تهمت يې پر ويلی وي، او يا په مال کي بالغصب والسرقة وغير ذالک.

فائده: چونکه کلمه د "لو" فعل غواړي نو ځکه يې مفسرين داسي تفسير کوي ولو ثبت ان لکل نفس آه.

مَا فِي الْاَرْضِ لَافْتَدَتْ بِهٖ ؕ وَاَسَرُّوا النَّدَامَةَ لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ ۚ

هغه شيان چې په مځکه کي وي من خزائنها وما يحبه کل نفس من الذهب والفضة وغيرهما، دی به يې په فديه د عذاب الهي هغه وزکړي او ځان به په خلاص کړي لکه په دنيا کي چې سړی له يو عذابه څخه په فديه ځان له عذابه خلاصولای سي، لکن د اخرت د اور له عذابه څخه په دومره فرضي لويه فديه هم نه خلاصېږي.

پوه سه: چې د "واسروا الندامة آه" په تفسير کي اختلاف دی، په تفسير کواشي کي وايي ای اظهروا الندامة يعني ښکاره کړي پښېماني ولي چې دا عذاب خو يوه ورځ نه دی چې دوی صبر پر وکړي، په تفسير تبيان کي وايي چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اسرار د اضداد و څخه دی کالبیع والشرا کما قال الفقهاء رحمهم الله والی هذا ذهب ابو عبیدة رحمه الله، او بعض مفسران رحمهم الله وایي چي د "اسروا" معنی پټ والی دی، او دا پټ والی د دوی اضطراري دی، ولي دوی چي دا عذاب الهي وویني له حیرته یې هیڅ خبره پر ژبه نه راځي لکه په دې دنیا کي چي بعض اشخاص دار ته ورولي په داروي یې باره په ژبه ګونګی سي، او بعض مفسرین رحمهم الله وایي چي اسرار په معنی د ندامت دی رئیسان د کفر چي په دنیا کي خلګ یعني ضعیفان پر کفر مجبوره کول د ضعیفاً د پاره له سببه ندامت خپل پټ ساتي.

سوال: نفس څو مفرد راغلی ؤ، نو ضمیر د جمع په اسروا کي څرنګه ورته راجع کړی؟

ځواب: جمعیت د ضمیر په اعتبار د کل نفس دی چي دال پر کثرت د نفوسو دی.

سوال: نفس څو مؤنث سماعي ؤ، نو جمع مذکر یې ولي راوړه؟

ځواب: نفس یې په تاویل د شخص کړی دی نو یې جمع مذکر راوړه، او یا یې تغلیب د نرانو کړی دی پر ښځو. فتدبر.

وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ۝

او حکم او فیصله به وکړل سي یعني د خدای ﷻ له خوا په منځ کي ظالمانو او مظلومانو چي د لفظ د ظلم په دمخه آیت کي وفهمېدل، هذا ماقاله المظهري، او ظاهره داده چي له "هم" څخه مراد ظالمان د شرک دي او نور له اقسامو څخه د اهل ظلم په دې معنا به قضاً وکړل سي چي حق به ظاهر سي، که له حقوق څخه د خدای ﷻ او که له حقوقو څخه د عبادو، او باطل چي ظلم دی ښکاره به سي او هر یوه ته به جزاً بما یلیق ورکړل سي اما الجنة واما النار "بالقسط" په عدالت سره، او پر دوی به ظلم نه کړل کېږي چي عذاب دي بې ګناه ورکړي. قاضي بیضاوي وایي هذا لیس تکریراً لان الاول قضاً بین الانبیاً ومکذبیهم والثاني مجازات للمشرکین علی الشرک انتهی وتبعه المظهري رحمه الله.

أَلَا إِنَّ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۗ

آګاه اوسئ چي تولد مافي السموات والارض ملکاً وخلقاً د خدای ﷻ دي.

پوه شه: چي امام فخر الدین الرازي رحمه الله په تفسیر کبیر کي وایي چي کلمه د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"الا" په قرآن کي ذکر کړي لپاره د تنبیه د غافلانو له خوب څخه د غفلت. ولي چي عالمیان مشغول دي په نظر واسباب ظاهره وته نو نسبت د شیانو وه ظاهري او مجازي مالکانو ته کوي، نو دوی وایي "الدار لزید، والغلام لعمرو، والسلطنة للخلیفة والتصرف للوزیر وامثال ذالک" نو دوی په دې سبب په خوب کې د غفلت دي له مالک حقیقي څخه چي خدای ﷻ دی، نو ددوی د غفلت د لیرې کېدلو څخه خدای پاک وایي "لله مافي السموات والارض"

دروښ وایي: چي په روح البیان او روح المعاني کي وایي چي کلمه د "ما" چي لپاره د غیر ذوی العقول ده په سبب د تغلیب د غیر ذوی العقول پر ذوی العقول راوړل سوه، او بعض محققین د نحاتو وایي چي کلمه د "من" خاصه په ذوی العقول پورې ده او کلمه د "ما" عامه ده فلاحاجة الی التغلیب ویؤید قولهم قوله تعالی والسماً ومابناها آه" لان المراد بکلمة ما هو الله تعالی وهو من ذوی العلم، والمراد بذوي العقول هو ذوی العلم فلا یرد مایتوهم والتحقیق في شرح الرضي علی الکافیة وشرح الجامي علی الکافیة.

فائده: تقدیم د خبر چي "لله" دی لپاره د افادې د حصر دی باجماع المفسیرین.

پوه سه: چي په دې آیت کي اشاره ودې ته هم ده چي خدای ﷻ قادر پر اثابت او تعذیب في الدنیا والآخرة دی.

أَلَآ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٥٥﴾

آګاه اوسه چي وعده د خدای ﷻ په ثواب سره د مؤمنانو او په تعذیب د کافرانو حق او ثابت خبره ده د خلاف ځای پکښې نسته. لکن ډېر خلګ علم نه لري پر دغه باندې، ولي چي ددوی عقلونه کوتاه دي او یوازي د دنیا ژوند مني او بس، ولنعم ماقیل:

مانده درتنګنای این مجلس ..... غیر دنیا ندیده دیده احس
چشم دل کو که پر دها بدرد ..... جانب ملک اخیرت نګردد
مرغ او درقفس زبون باشد ..... چه شناسد که باغ چون باشد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هُوَ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ۝

يوازي او يوازي خداى ﷻ دى چې ژوند ورکوي وه ذى روح حيواناتو ته د مور په رحم يا په هګۍ کې، او بيا عند حلول الاجل وژني دواړه په دې دنيا کې او خاص و خداى ﷻ ته رجوع ستاسي کول کېږي، يعني فى الاخرة والبعث والنشور په دې اشاره ودې ته ده رجوع وخداى ﷻ ته ضروري ده ولو کان اضطرارياً. مثنوي:

بس رجال از نقل عالم شادمان ..... واز بقايش شادمان اين کودکان

وقت کې د نزع وايي

پيش ترا پيش ترا جان من ..... پيک در حضرت سلطان من

دروېش وايي: چې علماً وايي چې اجل الموت چې راسي علم که څه هم دې ورې وسړي ته فائده نه کوي لکه د آدم ﷺ چې د ده په حق کې قرآن ناطق دى ﴿وعلم آدم الاسماء کلها آه﴾ او نه خلة فائده ورته کوي لکه ابراهيم ﷺ ته ﴿واتخذ الله ابراهيم خليلا﴾ او نه قربت فائده ورته کوي لکه وموسى ﷺ ته ﴿وقرباه نجيا آه﴾ او نه فراخه سلطنت فائده ورته کوي لکه داوٗد ﷺ او سليمان ﷺ او ذوالقرنين ته کما حکى الله تعالى وسعة ملک هولاء في مواضع شتى من القرآن، ولا المحبة کما لم تنفع لمحمد ﷺ ﴿قل ان کنتم تحبون الله فاتبعوني يحببکم الله﴾ ولا المال الکثير لکه وقارون ته چې فائده ونه کړه کما حکى الله تعالى منه في القرآن، او نه دې ورې جنود لکه د نمرود، او نه جمال فائق کما لم ينفع ليوسف ﷺ الى غير ذلک.

يَاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَتْكُمْ مَّوْعِظَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ

اى خلګو په تحقيق راغلى تاسي ته نصيحت د جانبه څخه د رب ستاسي.

پوه سه: چې هراد د دې موعظت څخه قرآن کريم دى پر لسان د محمد ﷺ ولي چې په قرآن دعوت ورکوي هر مرغوب فعل ته او منع کوي د هر بد کار څخه په مرغوب سره امر کوي او د بد کار څخه نهي کوي، نو چونکه خداى ﷻ حکيم دى عليم جواد دى نو حتما مامور به د خداى حسن دى او منهي عنه د خداى ﷻ قبيح دى والحسن والقبيح لايدرکان بالعقل الصرف فى الافعال فيجب على الناس ان يرجعوا الى القرآن، نو هغه فعل چې قرآن حسن بللى وي على مراتب الحسن من

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الافتراض والوجوب وغيرهما هغه كار وكړي او چې به يې ګنړلی وي على مراتب القبح من التحريم والكراهة د هغه پرهېز وكړي ولنعم ما نسب الى الامام الاعظم ابي حنيفة رحمه الله "جميع العلم فى القرآن لكن، تقاصرت عنه افهام الرجال.

پوښتنه: دې ټول كارونه سته چې په قرآن كې يې ذكر نسته بلكه په احاديثو نبويه ﷺ سره ثابت وي؟

جواب: هغه هم راجع وقرآن ته دي ﴿ وما اتاكم الرسول فخذوه وما نهاكم عنه فانتهوا﴾ يعني هغه كارونه چې راتګ وكړي وتاسي ته رسول ﷺ تاسي هغه واخلئ يعني تاسي عمل په وكړئ ، والمراد به الاوامر او هغه كار چې رسول تاسي ځنې نهي كړي يعني من المعاصي تاسي ځانونه ځندي وساتئ. ﴿ وما ينطق عن الهوى ان هو الا وحي يوحى﴾.

وَشِفَآءٌ لِّمَا فِي الصُّدُوْرِ

يعني دوا جوړونكی د د هغو مرضونو چې په سينو يعني زړو كې ستة يعني الشرك والكفر والعقائد الفاسدة او تعلق د زړه په ماسوى د خداى من الامور الدنيوية الكاسدة الفانية.

فائده: اهل تجربه علماء وايي چې په قرآن عزيز كې په شپږو اياتو كې د شفاء الامراض الظاهرة والباطنه لفظ سته، نو كه څوك هغه نوشته كړي او د هغو اوبو چې دا آيتونه په كښې وي څو ورځې وچښي خداى جلت قدرته به يې هغه مرض دفعه كړي وقد جربها الفقير ﴿ وننزل من القرآن ماهو شفاء للناس﴾ ﴿ شفاء لما في الصدور﴾ ﴿ ويشفي صدور قوم مؤمنين﴾ ﴿ واذا مرضت فهو يشفين﴾ ﴿ قل هو للذين آمنوا هدى وشفاء﴾ ﴿ شفاء ورحمة للمؤمنين﴾.

وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ

او دا قرآن لاربنوونه ده او رحمة د خداى دى د مؤمنانو د پاره ولې چې د قرآن په هدايت او بركت خلګ د ضلال او كفر څخه خلاص سوه، او په اسلام مشرف سول.

دروښ وايي: چې په دې آيت كې كه موعظة ده او كه شفاء ده، او كه هدى او رحمت دى ټوله مصدرونه دي نو صفت د قرآن مبالغة په وسو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قُلْ بِفَضْلِ اللّٰهِ وَبِرَحْمَتِهٖ فَبِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا

ته ووایه یا محمد ﷺ په جواب کې منت او احسان د خدای چې یه دې آیت کې ذکر سو، چې دا ټوله موعظة" شفاً" هدی" رحمة" دا ټوله موږ ته په فضل د خدای او د رحمت د خدای راکړه سوه بدون استحقاق منا علیه سبحانه "فبذالک آه" او په دغه فضل او رحمة او نزول القرآن سره خوشاله اوسئ.

بوه سه: چې مظهري رحمه الله وایي تقدیره فبذالک لیفرحوا فلیفرحوا والتکریر للتاکید انتهی، وروسته یې ویلي دي" فحذف احد الفعلین (یعني لیفرحوا) لدلالة المذکور علیه (یعني فلیفرحوا علیه).

دروښ وایي: چې صواب هغه ترجمه چې روح المعاني او روح البیان کړې ده دوی داسي وایي قل یا محمد ﷺ للناس لیفرحوا بفضل الله وبرحمته، نو حرف جر متعلق په لیفرحوا پورې دی، او دوی وایي چې فبذالک فلیفرحوا، تاکید او تقریر د اول لیفرحوا دی ثم حذف الاول لدلالة الثاني علیه او دوی وای چې فا اولی یعني په فبذالک جزائیة ده او شرط یې مقدر دی ای ان یفرحوا بشئ فبذالک ای الفضل والرحمة من عند الله او فا ثانیة یعني فلیفرحوا د پاره د سببیت ده واصل التقدیر هکذا ان یفرحوا بشئ فبذالک لیفرحوا الا بشئ آخر من الامور الدنیویة القلیلة الفانیة.

دروښ وایي: چې د دې اعراب او محذوف فعل ډېر ګران دی باید په ماقلنا کې سړی ډېر غور وکړي.

هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ

بوه سه: چې ضمیر د هو راجع دی وذالک یعني دا فضل او رحمت د خدای ﷻ او نزول د قرآن خیر دی تر هغو شیانو چې خلګ یې جمع کوي من حطام الدنیا لانها فانیة وما اعطاکم الله باقیة.

قُلْ اَرَءَيْتُمْ مَّآ اَنْزَلَ اللّٰهُ لَكُمْ مِّنْ رِّزْقٍ فَجَعَلْتُمْ مِّنْهُ حَرَامًا وَّحَلٰلًا

ووایه یا محمد ﷺ ومشرکانو ته د مکې چې تاسي خبر راکړئ د هغه شي چې خدای نازل کړی ستاسي لپاره یو رزق چې کښت دی یا مواشي مېرۍ اوښان وغیره دي، پس تاسي وګرځاوه بعض د هغه رزق حرام ای حکمتم بانه حرام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"وحلالاً" او بعض مو حلال وگرځاه ای حکمتم بانه حلال حیث قالوا هذه انعام وحرث حجر وقالوا ما في بطون هذه الانعام خالصة لذكورنا ومحرمة على ازواجنا والمعنى رزق خدای درکړی دی او تحریم او تحلیل یې تاسي کوئ.

سوال: زرع او ضرع خو د اسمان څخه نه دي نازل سوي؟

جواب: سبب دنما د زرع او ضرع چي اوبه دي د اسمانه خدای ﷻ نازله وي نو نازلې ده د ابو چي سبب د زرع او ضرع دی چي هغه ستاسي رزق دی تعبیر یې مجازا په انزال د رزق وکړی تعبیرا عن المسبب بالسبب.

قُلْ آٰللّٰهُ أَذِنَ لَكُمْ أَمْ عَلَى اللّٰهِ تَفْتَرُونَ ﴿٥٩﴾

ته دوی ته ووایه چي آیا په دې تحلیل او تحریم کي خدای تاسي ته اجازه درکړې ده" اصل آللّٰه وو یو همزه په الف واړوه، نو مد یې لازم دی، او که پر خدای ﷻ قصدا درواغ وایاست" یعني نسبت د دې تحلیل او تحریم په درواغو و خدای ته کوئ.

فائده: په تفسیر کواشي کي وایې چي دا آیت لوی زاجر دی د فتوی ورکولو څخه بېله علم او په حکم او فتوی کي باید سړی د ډېره احتیاط څخه کار واخلي تا چي پر خدای باندې درواغ ونه وایې" د حضرت علی کرم الله وجهه څخه روایت دی (من افتى الناس بغير علم لعنه السماً والارض).

وَمَا ظَنُّ الَّذِينَ يَفْتَرُونَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

پوه سه: چي ما" استفهامیه مرفوع محلا مبتدأ د، وظن الذين خبره.

سوال: افتراً خو قصداً ودرواغو ته وایې نو د کذب لفظ ته څه ضرورت وُ؟

جواب: لپاره د ډېر قبح د فعل د دوی" ای څه شي دی ګمان د هغو کسانو چي پر خدای ﷻ په قصد درواغ په تحلیل او تحریم کي د شیانو "يوم القيامة" یعني په ورځ د قیامت.

پوه سه: چي یوم لفظ منصوب دی په ظن سره" یعني ایا د دوی ګمان دی چي موږ ته به جزاً او عقاب رانه کړه سي، لا بل الجزاً كائن لا محالة.

پوه سه: چي د جزاً نوع بیان نه کړه د پاره د غایت تهدید.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ اللَّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَشْكُرُونَ ﴿٦٠﴾

په تحقيق خداى ﷻ د كوي فضل څښتن دى پر خلگو چې اول عقلونه ورکړه او بيا يې رسولان ورته را واستول او پر هغو يې كتابونه نازل كړه، لكن د هر خلگ د خداى د دې لوى نعمت شكر نه وايي ولي كه دوى شكر ويلاى نو پر توحيد د خداى چې عقل او نقل دواړه دليل دى ايمان راوړي او پر خداى بې درواغ نه ويلاى.

وَمَا تَكُونُ فِي شَأْنٍ وَمَا تَتْلُوا مِنْهُ مِنْ قُرْآنٍ

ته نه يې يا محمد، كلمة د "ما" نافيه ده په يو شان كې.

پوه سه: چې شان مصدر دى په معنى د مفعول دى كما في البيضاوي جمع يې شئون ده كما في روح البيان وتفسير الرازي، لكن په نېز د محققينو د شان استعمال په لوى حال او امر كې كېږي كما في المظهري، كما في قوله تعالى كل يوم هو في شان هره ورځ خداى ﷻ يې لوى حال او تدبير كې د خپل مخلوقاتو دى، دروښ.

پوه سه: چې ضمير د "منه" راجع دى وه "شان" ته، ولي چې اعظم د شئون د عليه الصلوٰة والسلام تلاوت د قرآن ؤ كذا في روح المعاني وروح البيان والمظهري والتفسير الكبير، والمعنى ته نه تلاوت كوې پر خلگو له شان څخه ستا "من" بيان دى د "شان".

دروښ وايي: چې روح المعاني دا احتمال هم راوړى دى چې ضمير د "منه دي راجع و خداى ﷻ ته وي نو كلمه د "من" ابتدائيه ده چې داخل پر منشى گرځي.

وَلَا تَعْمَلُونَ مِنْ عَمَلٍ إِلَّا كُنَّا عَلَيْكُمْ شُهُودًا إِذْ تُفِيضُونَ فِيهِ

او تاسي اې خلگو نه كوئ يو عمل كه د خير وي او كه د شر من الكفر وغيره.

پوه سه: چې دا تعميم بعد التخصيص دى، ولي چې اول دا آيت مخصوص په عليه الصلوٰة والسلام پورې ؤ او دا عام دى.

پوه سه: "الا كنا به آه" استثنا مفرغ ده من اعم الاحوال او متعلق ده په ماقبل پورې اى ماتكون يا محمد في حال من الاحوال وماتتلوا منه في حال من الاحوال ولا تعملون ايها الناس في حال من الاحوال مگر نه چې يو موږ (يعني خداى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پاک وايي) پر هغه باندي شاهدان علم درلودونکي او رقباً يعني د هغه سائله کوو چي په اردو (ديکهبال) ورته وايي او په پښتو څارونکی ورته وايي.

پوه سه: چي د نحو په قانون کلمه د "اذ" مضارع ماضي گرځوي او چي مصدر دی د تفيضون دخول ته په يو عمل کي وايي وقيل الافاضة الدخول بكثرة.

وَمَا يَعْزُبُ عَنْ رَّبِّكَ مِنْ مِّثْقَالِ ذَرَّةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَآءِ

پوه سه: چي کسائي له قراً سبعه وو څخه "يعزب" په کسره د زاً وايي. او نور قراً يي په پښې وايي او د دواړو معنی يوه ده يعني لايغيب.

پوه سه: چي مثقال مصدر ميمي دی په معنی د ثقل دی او کلمه د من زائده ده لپاره د استغراق نفي ده كما تقرر في كتب النحو. او "ذرة" هغه تر تولو کوچني مهرۍ ته وايي او يا د گرځ کوچني اجزاؤ ته وايي.

ترجمه: نه غائبيږي له علم شامل څخه د خدای ﷻ ستا يا محمد ﷺ يو شی چي ثقل يې د کوچني مهرۍ وي يعني په اعمالو کي د بندگانو من خير او شر، په فراخه مځکه کي ظاهرها وباطنها او نه په سبع سموات کي.

پوه سه: چي مځکه يې تر اسمان دمخه کړه لان کلامه تعالى ههنا مع اهل الارض من شراره وخياره.

وَلَآ أَصْغَرَ مِنْ ذٰلِكَ وَلَآ أَكْبَرَ إِلَّا فِي كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ۝

او نه کوچنی سته تر ذره او نه لوی سته تر ذره مگر نه چي په کتاب مبين يعني لوح محفوظ کي مثبت دي، نو هر شی چي په لوح محفوظ کي مثبت وي، نو څرنگه به يو شی له اعمالو څخه د بندگانو غائب وي، کريمه: وعنده ام الكتاب"

پوه سه: چي روح المعاني او مظهري وايي چي دا کلام مستقل دی مقرر د ماقبل دی.

فائده: کلمه د "لا" لپاره د نفي جنس ده او "اصغرو اکبر" يې اسم دی او "في کتاب" يې خبر دی.

دروښ وايي: چي په اعراب کي ددې آيت روح المعاني ډير طويل بحث کړی دی لاينفع به الا المتبحر في علم النحو، نو ځکه فقير صرف نظر کړی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: "ذرة" خو مؤنث دی. نو څرنګه په "ذالک" سره اشاره ورته وسوه؟

خواب: "ذرة" مؤنث لفظي دی ويجوز الى المؤنث الكذائي الاشارة بالمذكر وكذا ارجاع ضمير المذكر اليه كما تقرر في النحو.

اَلَآ اِنَّ اَوْلِيَآءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ۝

آګاه وه اوسئ چې په تحقيق سره دوستان د خدای ﷻ نه پر دوی خوف سته يعني نه په ورځ د قيامت کې چې خلګ ببرېږي او نه هم دوی غمجن کېږي.

پوه سه: چې خوف د مستقبل له خوا څخه وي او حزن د تېر سوي کار له کبله وي. لکه د يو سړي چې زوی مثلاً ناجوړ وي ببرېږي چې مړ نه سي، دا خوف دی، او يا يې زوی وفات سي سړی غمجن سي دا حزن دی. وامثال ذالک. د عمر النبائي رحمه الله روايت دی چې ما يو راهب په مقبره کې وليدی چې په يوه لاس کې يې سپينې شيګي وې او په بل لاس کې يې نوري سنګرېږې وې. ما ورته چې اې راهبه ته دلته په هديره کې څه کوې؟ ده راته وويل چې زړه مې پر غلطه لار روان سي، نو مقبرې ته راسم او د مړو له حالته عبرت واخلم او ورک زړه پيدا کړم. ما ورته وويل چې د سپين او توري شيګي څه په کوې؟ ده راته وويل چې يو نېک عمل ظاهري يا باطني وکړم نو سپينه شګه په تورو کې واچوم او که مې بد عمل وکړی توره شګه په سپينو شګو کې واچوم مابنام چې کور ته ځم سپينې او توري شګې سره حساب کړم که سپينې پر ډېرې وې نو خوشاله سم چې څه ننه ورځ مې حسنات تر سيئاتو ډېر دي. نو روژه ماته کړم او د شپې ورد چې لرم هغه ووايم او که توري شيګي ډېرې وي، نو پوه سم چې ننه دي سيئات ډېر دي. او نه په هغه شپه نه ډوډۍ خورم او نه اوبه څښم. وهذا حالي والسلام عليک.

اندرين راه ميتراش ومېخراش ..... تا دم اخير دم فارغ مباش

اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ۝

هغه کسان دي اولياء الله چې ايمان يې پر خدای ﷻ راوړی وي يعني په توحيد سره او په اتصاف په تولو صفاتو د جلال او جمال او قلباً او لساناً، لا كالمنافق يؤمن باللسان فقط، او وي دوی چې له خداي ﷻ څخه ببرېږي يعني اوامر د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای ﷻ ټوله پر ځای کوي او له منهیاتو څخه یکلخته ځان ساتي، په حدیث شریف کې راغلي دي چې روایت یې ابو داوٗد کړی دی له عمر بن الخطاب ﷺ څخه، قال قال رسول الله ﷺ ان من عباد الله لا ناساً ماهم بانبیاً ولاشهداً یغبطهم الانبیاً والشهداً یوم القیامة بمکانهم من الله (په تحقیق له بندګانو څخه د خدای ﷻ یعني د مؤمنانو څخه داسي خلګ ستة چې نه انبیاً دي او نه شهیدان دي ومع هذا کست په کښې چې غبطه یې بولي چې تمنی د حال مغبوط ده نه حسد.

سوال: د انبیاً علیهم السلام خو تر ټولو لوړه رتبه ده او د شهداً وروسته تر انبیاً کما نطق به القرآن في موضع آخر، نو ددوی څرنګه کست کښې په حال د غیر ددوی؟

ځواب: د کست معنی داده چې سره د مرتبې د نبوت او د شهادت داغه رتبه هم مورِ ته حاصله وای فافهم، په ورځ د قیامت په سبب د قرب ددوی د خدای ﷻ سره "قالوا یا رسول الله تخبرنا من هم، قال هم قوم تحابون بروح الله علی غیر ارحام بینهم ولا اموال یتعاطونها (ته مورِ ته خبر راکړه چې څوک دي دغه کسان؟ علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل چې دوی یو قوم دی چې یو له بل سره محبت کوي په محبت د خدای ﷻ ببله دې چې قرابت نسبي سره لري او نه د مالو بیع او شرا سره لري) فوالله ان وجوههم لنور وهم علی نور لایخافون حین یخافون الناس ولایحزنون اذا حزن الناس وقرأ الا ان اولیاً الله لاخوف علیهم ولا هم یحزنون (قسم په خدای ﷻ دی چې مخان ددوی نوراني دي او دوی پر نور دي، دوی نه ببرېږي هغه وخت چې خلګ ببرېږي او دوی به غمجن نه وي چې خلګ لوی غم کوي بیا علیه الصلوٰة والسلام دا آیت تلاوت کړی) یو محقق وایي:

هرکس که ترا شناخت جان چه کند ..... فرزند وعیال وخانه مان چه کند
دیوانه کنی هردو جهانش بخشی ..... دیوانه تو هر دو جهان را چه کند

په تفسیر کواشي کې وایي چې عدم خوف او حزن د اولیاً الله په قیامت کې دی والا فهم اشد حزناً واشد خوفاً في الدنیا ومن اجل ذالک حصل لهم عدم الخوف والحزن في الآخرة فافهم.

دروېش وایي: چې نبوت کسبي شی نه دی بلکې موهبي مرتبه ده، او ولایت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کسبي دی يتعلق بامتثال الاوامر الالیهة والاجتناب عن المنهیات مع توفیق الباري ﷻ، او د نبي په خپل نبوت خبر تیا لاذمه ده، او د ولي الله په خپل ولایت خبر تیا لاذمه نه ده بلکې علی العموم والاغلب عدم علمهم بولایتهم، ولهذا یخافون في الدنیا ویحزنون،،، بیت:

بر فلک بر تر بود اسرار او ..... شیئاً لله شیئاً لله کار او

علما رحمهم الله وایي چي د خدای ﷻ تر پېژندلو د ولي الله پېژندل ګران دی، ولي چي خدی پاک له صفاتو او اخلاقو څخه د مخلوق لکه رنګ اکل او شرب تمکن في المکان وعدم الولد والوالد وغیر ذالک مبرا او پاک دی، او په ولي الله کي دا ټوله شیان سته لکه نور خلګ، خو بیا هم ملاقات د ولي الله په بعضو احادیثو کي راغلي دي، له سعد بن جبیر رضي الله عنه څخه روایت دی چي له علیه الصلوٰة والسلام څخه چا پوښتنه وکړه "من اولیاء الله؟ قال ﷺ هم الذین یذکر الله برؤیتهم" یعني چي خدای پاک د سړي پیاد هڅي ددوی په لیدلو سره، یعني ددوی په اخلاقو او تواضع او سکون قلبي سره د سړي خدای ﷻ ورپیاد هڅي، سعدي شیرازي قدس سره وایي:

اسیرش نخواهد رهایی زنبد ..... شکارش نخواهد خلاص ازکمند

دلارام در بر د لا رام جوی ..... لب از تشنګي خشک بر طرف جوی

فائده: علامه د اولیاء دانه ده لکه د عوامو چي خیال دی چي خارق العادة شی به ددوی پر لاس بنکاره کېږي، یا به پر غیبو شیانو علم لري، ولي چي دا دوه شیان په ډېرو مجمع علیهم اولیاء کي نسته، او ګاهي په غیر کي د ولي بلکې د ساحر پر لاس بنکاره کېږي استدراجاً، او دا چي په بعض اولیاء کي بنکاره کېږي دا دلیل ددې نه دی چي دا نو علامه د ولایت ده، او سره ددې چي خدای پاک وه علیه الصلوٰة والسلام ته وایي قل انما انا بشر مثلکم یوحی الي" یعني زه ستاسي غوندي بشر یم، لکن بعض د مغیباتو خبر چي تاسي ته درکوم هغه ماته وحي وکړل سي د خدای ﷻ له خوا، کریمه: قل لو کنت اعلم الغیب لاستکثرت من الخیر وما مسني السوء کریمه: وقل انما الآیات عند الله بلکې صوفیه کرام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وايي چي کرامت لکه د نورو حيض دی پټ والی يې اولی دی، بعض اولیاً کرام چې ظهور د خوارقو ددوی پر لاس وهر کهدی اخیر پښېمانه سو، ولي سبب د وسوسې د شیطان او سړی په ذمیمه د کبر او خودبیني مبتلا کوي.

فائده: "الذين آمنوا" محلاً منصوب دی علی المدح، او یا صفت دی د اولیاً یا محلاً مرفوع دی خبر د مبتدأ محذوفي دی ای هم الذين كذا في المظهري.

لَهُمُ الْبُشْرٰى فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي الْاٰخِرَةِ

ددوی لپاره زېری دی په حیوة حاضر کي او په اخرت کي.

پوه سه: چې ددې دنیا زېری د اولیاً الله لپاره په زمانه کي د علیه الصلوٰة والسلام د ژوند، چې عشره مبشره وو ته يې عموماً وکړی چې ترمذي د عبدالرحمن بن عوف ﷺ او ابن ماجه د سعید بن زید څخه رایت کړی دی حیث قال ﷺ (۱) ابوبکر في الجنة (۲) عمر في الجنة (۳) عثمان في الجنة (۴) وعلي في الجنة (۵) وطلحة في الجنة (٦) وزبير في الجنة (۷) وعبدالرحمن بن عوف في الجنة (۸) وسعد بن ابي وقاص في الجنة (۹) وسعيد بن زيد في الجنة (۱۰) وابو عبيده بن الجراح في الجنة، دغه لس کسه صحابه کرام ﷺ وه چې پر يوه ځای علیه الصلوٰة والسلام د جنت زېری ورکړی، او خصوصي او انفرادي زېری ورکړل سوی هغه صحابه کرام ﷺ دادي. ابو داؤد وايي چې علیه الصلوٰة والسلام وويل، اما انت يا ابابكر اول من يدخل الجنة من امتي، او ترمذي له ابو هريره ﷺ څخه روایت کړی دی چې علیه الصلوٰة والسلام وويل انا اول من تنشق منه الارض ثم ابوبكر ثم عمر.

دروښ وايي: چې دا حدیث د علیه الصلوٰة والسلام معجزه باهره ده، ولي د علیه الصلوٰة والسلام د دفن ځای او بیا د ابوبکر ﷺ ځای او بیا د عمر ﷺ د دفن ځای و علیه الصلوٰة والسلام ته بېله وحي څرنګه معلوم سوه، او په حجره کي د عائشې ﷺ هم اول علیه الصلوٰة والسلام دفن کړل سو، او بیا ابوبکر او عمر ﷺ دفن کړل سوه، او د يوه قبر ځای پکښې پاته دی چې په هغه کي به عیسی ﷺ دفن کېږي كما جاً في الحديث المتفق عليه چې زه او عیسی ﷺ له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يوه قبره يعني تقريباً راپورته كېږو، وبين ابى بكر وعمر ﷺ، او ترمذي له طلحة بن عبيد الله ﷺ څخه روايت كړى دى لكل نبي رفيق في الجنة ورفيقي في الجنة عثمان، وفي البخاري ومسلم عن سعد بن ابي وقاص ﷺ قال عليه الصلوٰة والسلام لعلي ﷺ انت مني بمنزلة هارون من موسى الا انه لانبي بعدي احمد او ترمذي له زيد بن ارقم ﷺ څخه روايت كړى دى من كنت مولاه فعلي مولاه، او د مسور بن مخرمة ﷺ روايت دى چې بخاري او مسلم دواړو راوړى دى چې عليه الصلوٰة والسلام وويل چې فاطمة بضعة مني (يوه توته ده زما) فمن اغضبها اغضبني، وعن ابي سعيد ﷺ قال عليه الصلوٰة والسلام خير نسائها (اى الامم المتقدمة) مريم بنت عمران وخير نسائها خديجة بن خويلد (اى نساء هذه الامة) وقال فضل عائشة على النساء كفضل الثريد (ښوروا) على الطعام، وقال ﷺ ان عبد الله يعني ابن عمر رجل صالح (په دوه حديثه متفق عليه كي راغلي دي) وروى الترمذي عن مسور بن مخرمة الحسن والحسين ﷺ سيدا شباب اهل الجنة (ولي چې دوى دوه په ځوانۍ كي شهيدان سوي دي) او د عبد الله بن سلام ﷺ په باره كي عليه الصلوٰة والسلام ويلي دي انه من اهل الجنة متفق عليه، وعن ابي سعيد الخدري ﷺ رواه البخاري ومسلم، لاتسبوا اصحابي (تاسي زما وه اصحابو ته بنكنځل مه كوئ يعني لا اجتماعاً ولا انفراداً) فلو ان احدكم انفق مثل احد ذهباً مابلغ مد احدهم ولا نصيفه.

دروښ وايي: چې بې بختان شيعه گان وه ابوبكر ﷺ وعمر ﷺ او عائشې ﷺ ته سخت پوچ بنكنځل كوي په ځپلو محافلو كي، وقال عليه الصلوٰة والسلام الانصار لايحبهم الا مؤمن ولا يبغضهم الا منافق فمن احبهم احبه الله ومن ابغضهم بغضه الله، وورد ايضاً نعم الرجل السعيد بن الحضير ﷺ نعم الرجل ثابت بن قيس نعم الرجل معاذ بن جبل ﷺ ونعم الرجل معاذ بن عمر بن الجموع ﷺ.

دروښ وايي: چې د نورو صحابه كرامو ﷺ په باب كي مفصل حديثونه موجود دي او ټولو صحابه كرامو ته خداى پاك داسي زېرى كړى دى "وكلاً وعد الله الحسنى" وقال رسول الله ﷺ اصحابي كالنجوم بايهم اقتديتم اهتديتم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په دې کې شک نسته چې اصحاب ﷺ د رسول الله ﷺ تولـه علی تفاوت درجاتهم اولیاً الله وه، نو ددې آیت مصداق یقیناً دي الا ان اولیاً الله لاخوف علیهم ولاهم یحزنون، او دا آیت مبارکه، نور مصداقونه هم لري الی یوم القیامة لکن ورځ په ورځ لږ ږي، ولهذا قال علیه الصلوٰة والسلام خیر امتي قرني، ثم الذین یلونهم ثم الذین یلونهم، عن عمران بن حصین بخاري، مسلم.

فائده: د دنیا د زهرو په باره کې نور هم په قرآن عظیم الشان کې او په احادیثو کې زیږي موجود دي د متقینو دپاره او د اولیاً الله دپاره او فتح او نصر او غنیمتونه هم د دنیا د زهرو څخه دي لکن دا معدودة زهری خو په زمانه کې د حیوة با برکاة د علیه الصلوة والسلام او وروسته تر وفات د علیه الصلوة والسلام دنیایې زهری په حدیث شریف چې روایت یې بخاري د ابو هریرة ﷺ څخه کړی دی قال رسول الله ﷺ لم یبق من النبوة الا المبشرات قال الرؤیا الصالحة بغوي وایې چې عبادة ﷺ بن الصامت وایې چې ما د علیه الصلوة والسلام څخه پوښتنه وکړه د دې آیت د معنی (لهم البشری فی الحیوة الدنیا) علیه الصلوة والسلام وویل هی الرؤیا الصالحة یری ها المرٔ (چې سړی په خپله وینې) او تړی له (یا د ده دپاره ولېدل سي یعني بل څوک یې د دپاره وینې.

فائده: مراد د رؤیا صالحې څخه رؤیا د صالحانو کسانو او د تقوی دارو کسانو لا الرؤیا للعوام والفساق.

سوال: خوب خو یقین نه فائده کوي نو څه رنګه بشری بوللی کېږي؟

جواب: یقین که نه فائده کوي غلبة الظن خو فائده کوي وهذا کاف فی البشارة وفی الحدیث الذي رواه عن ابي سعید الخدري ﷺ وروی عنه البخاري الرؤیا الصالحة جزٔ من ستة واربعین جزٔ من النبوة.

دروښ وایي: چې ددې وجه داده چې علیه الصلوة والسلام قبل النبوة شپږ میاشتې داسي صادق خوبونه لیدل کفلق الصبح او (۲۳) کاله د ده دنوبت دوره وه نو (۲۳) پر مابین هر کال نمې کې (۴۶) څنډي جوړ ږي.

فائده: د خوب ترجمه کول ډېره ګرانه ده ځکه ویل سوي دي چې خوب مه وایه مګر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نه وحبیب یعني دوست ته او لبیب ته یعني هوښیار سړي ته چې په تعبیر رؤیا کې مهارت لري د خوبو د ترجمانۍ "کتاب د ابن سیرین رحمه الله چې رئیس المعتبرین للرؤیا دی" او بل د عبد الغني نابلسي کتاب او بل د ابن شاهین کتاب دی چې دا درې واړه مجموع په یوه جلد کې چهاپ سوي دي هر څوک ترجمه د خوبو نه سي کولای" گفته اند که انجیر خوردن نه کار هر مرغیست" ونیز گفته اند نه هر که سر بتراشد قلندري داند "د مشت نمونه خوار په ډول به زه یو څو مثاله درته ووایم "یو سړي خوب لیدلی وو چې ما پر قرآن شریف بولې وکړې چې را وښې سو ډېر وار خطا وو علامه ابن سیرین رحمه الله ته ورغلی او دا خوب یې ورته ووایه هغه ورته وویل چې ډېر بهترین خوب دي لیدلی دی تاته به خدای زوی درکړي زوی به دي حافظ القرآن سي.

دروښ وایي: چې که یې دا خوب ما وارو مولا یانو ته ویلی وای ترجمه به مو ډېره غلطه ورته کړې وای، او دغه رنګه یو سړي خوب لیدلی وو چې ماته په خوب کې یو چا سره زر را کړه نو خوب په ظاهره ښه خوب دی یعني چې دولت مند به سې لکن معبرین وایې چې په مقدار د قلت او کثرت د سرو زرو به ده ته غمونه پېښ سي وعلی هذا فقس نو ځکه خوب دي سړی وهر چاته نه وایې.

او بعض مفسرین رحمهم الله وایې چې بشرىٰ د دنیا ثنا احسن ده د خلګو د خوا، بغوي په خپل سند د عبد الله بن رضي الله عنه څخه روایت کړی دی قال قال ابو ذر رضي الله عنه یا رسول الله الرجل یعمل لنفسه ویحمده الناس (سړی د خپل ځان لپاره عبادات کوي او خلګ یې صفت کوي) قال صلى الله عليه وسلم تلک عاجل بشری المؤمن (دا هم د خلګو د ددنیا د زېرې د مؤمن یوه حصه ده) او زهري رحمه الله او قتاده رحمه الله وایې چې زېرې د دنیا چې ملګي په وخت کې د زکندن ورته راسي زېرې پر وکي د طرف څخه د خدای جل جلاله قال الله تعالی تتنزل علیهم الملائکة الا تخافوا ولا تحزنوا وابشروا بالجنة کذا قال عطاً عن ابن عباس رضي الله عنهما.

دروښ وایي: چې دا ټولې خبرې چې تاسي د زېرې د دنیا په باب کې واورېدې، ټوله صحیح دي او منافات نه سره لري" نو د چا د پاره د اولیاؤ څخه د خدای جل جلاله یو بشارت د چا د پاره بل بشارت علی تفاوت درجات اولیاً الله الکرام کما لایخفی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: روح المعاني په تفسير کي د بشارت الآخرة داسي وايي "فتلقي الملائكة اياهم مسلمين مبشرين بالفوز والكرامة ومايرون من بياض وجوههم (چي علامه د جنتي ده) او عمل نامې په راسته لاس ورکول وغير ذلک من البشارت بانهم من اهل الجنة ورضوان الله تعالى عنهم انتهى بزيادة" او روح البيان هم ورته معنٰى د بشارة الاخرة کړې ده او تفسير قرطبي رحمه الله هم دغه غوره کړې ده او امام رازي رحمه الله هم د دې معنٰى پخلى کړى دى، او امام مظهري رحمه الله وايي" وفى الاخرة يعني وقت خروج نفس المؤمن يعرج بها الى الله ويبشر برضوان الله عند الخروج من القبر يوم القيامة.

دروښې وايي: چې وروسته مظهري يو داسي حديث راوړى دى چې د ټولو مؤمنانو مؤمناتو د خوشحالى وړ دى که څه هم ايت قرآني خو په اولياء الله کې وو او مظهري هم د اولياء الله تر نفس مؤمن خاصه ترجمه کړې وه، په روايت د ابن عمر رضی الله عنهما وايي قال رسول الله ﷺ ليس على اهل لآاله الا الله، وحشة فى الموت ولا فى القبور. ولا فى النشور كاني انظر اليهم حين الصيحة (يعني د اسرافيل د وهم وار پوکل د صور) ينفضون رؤوسهم من التراب، يقولون الحمد لله الذي اذهب عنا الحزن.

دروښې وايي: چې د خصوص او د عموم په باره کې ډېر غور کول پکار دى والله اعلم بالصواب.

لَا تَبْدِيلَ لِكَلِمٰتِ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝

بدلېدونکى نسته د خبرو د خداى نو مراد د دې ځخه وعدې د خداى دي د خپلو دوستانو سره او متقينو سره او د اولياء الله سره او دغه بشارة په دنيا او آخرت کې لويه کاميابي او برى دى.

فائده: مؤمن لره اولاً په کار ده چې د اولياء الله پر لار روان سي او د هغو کمالات وځان ته حاصل کړي، او که يې د هغه توان نه درلودى اقلاً دوني خو دي وکړي چې د اولياء الله محبت دي په زړه کې ساتي لانه قد ورد ان المرء مع من احب" اميد ستة چې د محبت د سببه به يې خداى ﷻ د دوى په ډله کې وپاڅه وي، وهابي هم مګر څه" سلفى هم مګر څه" پنج پيرى هم مګر څه" او نوري ډلې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي اولیاء الله نه مني او بد بد نومان پر ابردي عصمنا الله من خرافاتهم في حق الائمة المجتهدين رحمهم الله واولیاء الله الكاملين قدس الله اسرارهم.

وَلَا يَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ

تا دي ای محمد ﷺ غمناکه نه کړي خبري د مشرکانو چي ستا د توحید لاره غلطه بولي او ستا تکذیب کوي او علاوه تاته تهدید د قتل درکوي.

پوه سه: چي لا تحزنک په فتحه د یاء او په ضمه د زا چي د بابه د مجرد سي، اوپه ضمه د یاء او په کسره د زا چي د بابه د افعال سي دواړه روا دي او معنٰی د دواړو یوه ده او دواړه قراأت متواتر دي.

إِنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا ۚ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿٦٥﴾

جمله مستأنفه ده په معنٰی کي تعلیل ده قبل ده" والمعنٰی لا تحزن، غم مکوه ولا تبال بهم په دوی باک مه کوه او د دوی د پېشرو پروا مه کوه ولي چي غلبه خدای لره ده او خدای خپل رسول ساتي او تاته به غلبه در کړي پر دوی کما في بدر وفتح مکه وغیرهما من المغازي، خدای اورېدونکی دی د اقوالو د دوی ستا په شان کي او پوره علم لري د دوی پر نیتو" فیجازیهم علیها وقد اوفی الله تعالی بوعده فی الدنیا وسیعذبهم فی الاخرة.

أَلَا إِنَّ لِلَّهِ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ ۗ

آگاه اوسه چي خدای لره دي یعني خلقا وملکا وعبیدا، هغه ذوي العقول چي په اسمانو کي دي من الملائکة او هغه ذوی العقول چي په مځکه کي دي من الانس والجن دلیل د ذوی العقول لفظ د من دی چي اغلب استعمال یې په ذوی العقول کي دی او څوک چي وایي مراد ټوله ممکنات دي که ذوی العقول او که غیر او استعمال د من تغلیبا دی لذوي العقول مناسبة د دې ځایه سره نه ده.

پوه سه: چي تخصیص د ذوی العقول چي خدای ﷻ وکړی دپاره د دې چي د غیر ذوی العقول وذکر ته ضرورت نسته، ولي چي ذوی العقول سره د شراقت د دوی چي عبید او بندګان د خدای سره فما عداهم من الموجودات عبید له تعالی بالطریق الاولی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي دا جمله سره د تاکيده په حرف تنبيه او په ان سره تاکيد د ماسبق من اختصاص العزة به تعالى چي په دې سره به تسلي د عليه الصلوة والسلام وسي، او په خبرو د مشرکينو به باک نه کوي، او دغه رنګه وروستنۍ جملې ته تمهيد دی.

پوه سه: چي د تمهيد لفظ ما متابعة د روح المعاني ووايه او مظهري رحمه الله چي وايي هذه الجملة كالدليل لما بعده خلاف الظاهر خبره ده كما لا يخفى.

وَمَا يَتَّبِعُ الَّذِينَ يَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ شُرَكَاءَ ۚ

پوه سه: چي کلمه د ما نافيه ده او لفظ د شرکاً مفعول د پتبع دی او مفعول د يدعون محذوف دی لظهوره والتقدير نه دي هغه شيان يعني بتان چي کفار مکه يې خدايان بولي شريکان په حقيقت کي د خدای که يې څه هم دوی شرکاً بولي لان شركة الله في الربوبية محال عقلا ونقلا ﴿قل لو كان فيهما اى الارض والسماً الهة من دون الله لفسدتا﴾.

دروښ وايي: چي وهذا برهان التمانع وتفصيله مشهور وفي كتب العقائد مذكور.

إِنْ يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُونَ ﴿٦٦﴾

كلمه د ان نافيه ده دوی متابعت نه کوي هولاً الاصنام الجمادات شرکاً الله في العبادة مګر د ګمان يعني په تقليد د آبا واجدادو، نه دي دوی مګر درواغ وايي فيما ينسوبونه اليه تعالى من الشرکاً عرب وايي خرص يخرض خرصا اى كذب من باب نصر، والخراص الكذاب، په وروسته آيت کي خدای تنبيه کوي چي خدای ﷻ متفرد دي په قدرت کامله سره او په نعمة شاملة سره لجميع الناس چي کفار مکة وو ته دلالت او بنوونه وکړي پر واحدانيت د ده په استحقاق سره د عبادت فقال.

هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ لِتَسْكُنُوا فِيهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا ۚ

خدای هغه واحد لاشريک ذات دی چي تاسي ته يې ګرځولې ده شپه د دې دپاره چي تاسي آرام په کښې وکړئ او استراحت په کښې وکړئ د سر ګردانيو څخه د ورځې او د ستړيا د ورځې او ګرځولې يې ده ورځ روښانه او سبب د لېدلو د شيانو تا چي تاسي مزدوري، تجارت، دکانداري وغيرها پکښې وکړئ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَسْمَعُونَ ﴿٦٧﴾

په تحقيق په خلق کي د دغو لويو لويو شيانو موافق د حکمت سره او موجب د فوائدو دلائل دي د هغه قوم لپاره چي اوري کلام په غور سره، ، سعدي:

برگ درختان سبز درنظر هوشيار ..... هر ورقی دفتريست معرفت کردگار

قَالُوا اتَّخَذَ اللَّهُ وَلَدًا سُبْحَانَهُ ۖ

او وايي مشرکان د مکې چي خدای ځان لره اولاد لري چي دوی وايي ملکي د خدای لونې دي، او خدای ﷻ د رئيسانو د جنياتو نجونې په نکاح کړي دي او ملائکه ځنې پيدا سوي دي "سبحٰنه" پاک دی خدای ﷻ له ولاد څخه مطلقاً که نر اوي او که ښځي او "سبحنه" د تعجب لپاره هم دی يعنې تاسي د دوی و خبرو ته تعجب وکړئ چي څرنګه په امر مستحيل سره حکم کوي.

هُوَ الْغَنِيُّ ۖ

خدای ﷻ احتياج نه لري په هيڅ شي له اشياؤ څخه هيڅ چا ته او ماسوٰی ده ټوله ممکنات دي په وجود کي، په بقا کي او په تربيه کي بلکې په هر صفت کي خدای ﷻ ته محتاجه دي، نو څه مناسبت دی تر منځ د واجب الوجود او د ممکن ولابد من المناسبة بين الوالد والمولود، وايضاً ولد زهېړول يا د شهوت له غلبې څخه پيدا کېږي، يا د ولد سبب دادی چي صعيف پلار ځان په قوي کوي او يا فقير د زوی په ګټه ځان غني کوي، او يا بې کسه وي او يا مالداره وي ځان ته وارث پيدا کوي وروسته تر مرګ وکل ذالک محال علی الله الواجب الوجود عقلاً، او بيا دې خرګړئ ته وګورئ چي د مشرکانو له لونو څخه داسي بد راتله چي بعضو به عند الولادة ژوندۍ په خاورو کي ښخولې بلکې نر عيال د دوی خوښ ؤ او خدای ﷻ ته لوني وای، کريمه: الکم الذکر وله الانثی تلک اذا قسمة ضيزی".

فائده: د ولاد په موضوع کي يهود او نصاری هم د مشرکانو سره همنوا دي يهودان عزير ابن الله بولي، او نصاری عيسی ابن الله بولي.

فائده: ملائکه بنات الله د ټولو مشرکانو عقيده نه وه بلکې د نبو مدلج په نامه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د يوې قبيلې عقيده وه، كما في روح البيان، لكن روح المعاني وايي چې د قريشو ټولو دغه عقيده وه.

لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ

خداى ﷻ لره دي هغه شيان چې په اسمانو كي دي او هغه شيان چې په مځكه كي دي يعني د خداى ﷻ مخلوق، او مملوك او عبيد دي، نو څرنګه د اسمانو يو شى چې ملكي دي په قول د قريشو ولد كېداى سي، ولي چې خالق څرنګه د مخلوق پلار كېداى سي؟.

اِنْ عِنْدَكُمْ مِّنْ سُلْطٰنٍ بِهٰذَا ؕ

كلمه د "ان" نافيه ده، او كلمه د "من" زائده ده لپاره د تاكيد د نفي ده، او "سلطان" محلاً مرفوع مبتدأ ده او "عندكم" يې خبر دى او "بهذا" متعلق په سلطان پورې دى، والمعنى نسته ستاسي سره يو دليل قاطع پر دغه قول باطل كذاب چې ملكي د خداى ﷻ لونې دي.

اَتَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ۝

پوه سه: چې په "اتقولون آه" كي همزه لپاره د انكار دى او لپاره د توبيخ دى پر جهل ددوى او تنبيه پر دې چې په عقائدو كي برهان قاطع په كار دى او په عقائدو كي تقليد نه دى روا.

پوښتنه: عوام څو ټوله تقليدي ايمان لري؟

ځواب: په ايمان كي پر وجود د خالق العالم ايمان برهاني دى (د صحرائي عامي بحث څخه چا پوښتنه وكړه چې ته څه دليل لرې پر وجود د خالق العالم، صحرائي ورته وويل البعرة تدل على البعير والاقدام على المسير فكيف لا يدل هذا العالم الكبير على العالم الخبير، والى هذا اشار السعدي الشيرازي:

برگ درختان درنظر هوشيار ..... هر ورقى دفتريست معرفت كردگار

البته ايمان تفصيلي به نه لري، وفي تحفة النصائح:

گر انبيأ هم نامدى نى شروع بودى درجهان
واجب شدى برمؤمنان ايمان بخالق مقتدر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: په فروعو د دين تقليد روا دی اجماعاً.

قُلْ إِنَّ الَّذِينَ يَفْتَرُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ لَا يُفْلِحُونَ ﴿٦٩﴾

ته ورته ووايه اې محمد ﷺ يعني كفارو ته د مكې چې په تحقيق هغه كسان چې قصداً درواغ وايي پر خداى ﷻ لكه خداى پاك ته شريك ويل. يا خداى پاك ته ولد ويل، الكذب د تاكيد د "يفترون" لپاره دى فلاح او خلاصون نه سي پيدا كولاى له عذاب څخه د خداى ﷻ بالنار ولا يفوزون بالجنة دار الابرار.

مَتَاعٌ فِي الدُّنْيَا ثُمَّ إِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ ثُمَّ نُذِيقُهُمُ الْعَذَابَ الشَّدِيدَ بِمَا كَانُوا يَكْفُرُونَ ﴿٧٠﴾

خبر د محذوفي مبتدأ دى يعني دا افتراء ددوى سبب تمتع دى په دنيا كې چې دوى په دې افتراء سره ساتي خپل رياست في الكفر كې وروسته ددوى رجوع موږ ته ده يعني في يوم القيامة (مرجع مصدر ميمي دى) بيا به موږ په دوى وځكو يعني ورسوو عذاب سخت چې عذاب د جهنم دى په سبب د كولو ددوى كفر.

پوه سه: چې "كان" چې پر مضارع داخل سي د استمرار فائده كوي، او كلمه د ما مصدريه ده فافهم، ولنعم ماقيل:

مردمان غافلند از عقبى ..... همه گويى بخفته گان مانند
ضرر وغفلتى كه ميورزند ..... چون بميرند آنگهى دانند

وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ نُوحٍ

او ته يا محمد ﷺ تلاوت وكړه كفارو ته د مكې اخبار د نوح سره "قومه" تا چې ستا قوم ددې خبر په اورېدلو سره به عبرت واخلي له كفر او عناد څخه، په بستان العارفين كې وايي چې اصلي نوم د حضرت نوح ﷺ شاكر وؤ، نوح يې لقب دى لكثرة نوحه وبكائه من خوف الله تعالى.

فائده: نوح ﷺ اول نبي دى چې بعض احكام شرعي قبلي يې منسوخ كړل مثلاً نكاح د خور دده تر زماني پورې رواه وه، ده منسوخه وگرځول وبقى حرمة نكاح الاخت الى يوم القيامة في سائر الاديان، بعض مفسران ﷺ وايي چې نوح ﷺ پر څلور سوه اتيا (٤٨٠) كاله عمر باندې نبي سو.

بوه سه: چې بغوي او اجهوري وايي چې د نوح ﷺ قوم له اولاد څخه د قابيل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بن آدم وه، لكن مظهري رحمه الله په دې سره سختو الفاظو سره دا خبره رد کړې ده حيث قال وهذا لايتصور، ولي چې نوح عليه السلام له اولاد څخه د شيث عليه السلام لا من ولد قابيل فاضافة القوم اليه يعني في قوله عزوجل.

إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦ يَٰقَوْمِ إِن كَانَ كَبُرَ عَلَيْكُم مَّقَامِى وَتَذْكِيرِى بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَعَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلْتُ

"اذ قال لقومه" يدل على كون القوم من اولاد شيث عليه السلام، اې قومه يعني زما کې پر تاسي سخته پرېوځي اوسيده زما (نو مقام مصدر ميمي دی) يعني ستاسي په مابين مدت مديده او زما نصيحت کول وه تاسي ته په آياتو د خدای جل جلاله او يا په دلائلو د خدای جل جلاله يعني نو قصد د ضرر ماته لرئ، نو خاص پر خدای جل جلاله توکل دی (نو تقديم د جار ومجرور لپاره د حصر دی).

فَأَجْمِعُوٓا۟ أَمْرَكُمْ وَشُرَكَآءَكُمْ

دروښ وايي: چې په محاوره کې د عربو وايي اجمع فلان امره چې ده به يو کار ته ټينګ قصد وکړی اوسره جمع کړي شرکا ستاسي (نو واو په معنی د مع دی او "شرکائکم" مفعول معه دی) او بعض قرا "شرکائکم" په رفع سره وايي، عطف يې پر ضمير د "اجمعوا" بولي.

سوال: عطف پر ضمير متصل مرفوع خو تاکيد په ضمير منفصل غواړي؟

ځواب: که فصل په منځ کې د معطوف او معطوف عليه وُ بيا تاکيد نه غواړي کما تقرر في علم النحو والفصل هٰ امرکم دی، نو پر دې قرائت يې معنی داده چې تاسي او شرکا ستاسي دي زما د قتل عزم وکړي او يا د يو مکروه د رسېدلو وه ماته يعني زه باک نه په کوم لاني على الله توکلت کمامر.

ثُمَّ لَا يَكُنْ أَمْرُكُمْ عَلَيْكُمْ غُمَّةً ثُمَّ ٱقْضُوٓا۟ إِلَىَّ وَلَا تُنظِرُونِ ﴿٧١﴾

او بيا دي نه وي هغه شی چې تاسي يې ماته اراده لرئ من اهلاکي وغير ذالک عليکم يعني پر تاسي پټ يعني هغه کار پټ مه ساتئ بلکې ظاهر او مکشوف يې ماته واياست، ولي له چا څخه چې اراده د مکروه و ده ته رسول پټ ساتي ددې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لپاره چې دی نباید وه نه تښتي، او زه خو تښتم نه، بیا ورسوي هغه کار چې تاسي یې اراده لرئ ماته او هیڅ مهلت ماته مه راکوئ.

پوه سه: چې دا خبري د نوح علیه السلام وه قوم ته اخبار دی د خدای ﷻ د نوح علیه السلام له حال څخه چې دی دومره معتمد د خدای ﷻ پر نصرت ؤ او له ضرر او کید څخه د قوم او ددوی د خدایانو څخه نه بېرېدی، ولې چې دده یقین ؤ چې قوم او ددوی خدایان نه مالکان د نفع او نه د ضرر دي الا ماشاء الله.

فَإِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَمَا سَأَلْتُكُمْ مِنْ أَجْرٍ ۖ

که تاسي اعراض او روی ګرداني وکړئ زما له قول او نصیحت څخه، یعني دروسته تر دې چې زما د قول او نصیحت صدق تاسي ته په معجزاتو ثابت سو.

پوه سه: چې جزاً د شرط محذوفه ده "ای یعذبکم الله" او دلیل د جزاً په ځای کې د جزاً راوړی دی وهو فما سئلتکم من اجر، یعني که ما ستاسي څخه پر تبلیغ د امر الله مزدوري او تنخواه غوښتای، نو ستاسي انکار حق په جانب ؤ چې ستا مزدوري پر موږ درنه ده، نو چې اجر هم په منځ کې نسته نو ستاسي انکار او نه منل زما تذکیر بلا مانع دی نو تاسي ته به خدای ﷻ ددې سببه عذاب درکوي.

دروښ وایي: چې واعظ او امام المسجد دي پر مقتدیانو اجر معلوم نه شرطوي، ولې دا اجر که څه هم په فتوی د متأخرینو روا دی، لکن پر مقتدیانو تاثیر نه کوي، ولې د مزدور خبره پر سړي تاثیر نه لري.

إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى اللَّهِ وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ ﴿٧٢﴾

نه ده زما مزدوري یعني ثواب د تبلیغ مګر پر خدای ﷻ ده، نو خدای پاک ماته ثواب د تبلیغ راکوي که تاسي ایمان راوړئ او که نه، وما علینا الا البلاغ، او زه امر سوی یم یعني د خدای ﷻ له خوا چې زه به فرمان برداره د حکم د خدای یم په ایمان کې او په اعمالو کې او په دعوت کې د خلګو وه خدای ﷻ ته هغه وظیفه ما حتی الوسع وه پای ته ورسول، شیخ سعدي قدس سره د اخذ الاجر پر تبلیغ وایي:

زیان میکند مرد تفسیر دان ..... که علم وادب میفروشد بنان
بدین ای فرومایه دنیا مخر ..... چو خر بابخیل عیسی مخر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَكَذَّبُوهُ فَنَجَّيْنَاهُ وَمَنْ مَّعَهُ فِي الْفُلْكِ

یعني دوی پر هغه تکذیب د نوح علیه السلام ثابت وه، وروسته چي حق ورته ښکاره سو بمعجزات نوح علیه السلام تکبراً وعناداً.

دروښ وایي: چي ما تفسیر په "ثبات" پر تکذیب وکړی ولي چي نفس تکذیب خو د ابتداً د دعوې د نوح للنبوة دوی کړې وه، نو موږ نجات ورکړی ونوح ته او هغه کسانو ته چي دده سره پر ایمان وه چي په روایت د مفسرینو اتیا نفره وه څلوېښت نر او څلوېښت ښځي "في الفلک" په کښتی کي چي تر طوفان دمخه په امر د خدای ﷻ او په ښوونه د جبرئیل ده جوړه کړې وه.

وَجَعَلْنٰهُمْ خَلٰٓئِفَ وَاَغْرَقْنَا الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ۚ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنْذَرِيْنَ ﴿۷۳﴾

موږ وګرځول اهل د کښتی خلیفه ګان د مځکي د مغرقینو په عوض کي او غرق کړل موږ هغه کسان چي تکذیب د آیاتو د خدای ﷻ یې کاوه، نو ته وګوره یعني فکر ووهه اې محمد ﷺ او یا اې صاحب النظر والفکر چي څرنګه سو آخر کار د هغه کسانو چي دوی وبهرول سول له عذاب څخه د خدای ﷻ پر لسان د نوح علیه السلام.

پوه سه: چي په دې قصه کي بهرول د کفارو د قریشو دي چي دوی تکذیب د رسول کریم ﷺ کاوه یعني تاسي ته هم ورته یو عذاب درکړل سي په دنیا کي.

فائده: په بستان العارفین کي وایي چي څه وخت چي اتیا کسه نر او ښځي له کښتی څخه پر مځکه پیاده سول په مرور د زمان هغه بیګانه خلګ تولې مړه سول اولاد د نوح علیه السلام سام، حام او یافث پاته سوه کما قال الله تعالی "وجعلنا ذریته" (ای نوح) هم الباقین" نو دا ټوله انسانان چي تر غرق وروسته پر مځکه وه یادي، نو دا ټوله اولادونه د دغو دروزامنو د نوح علیه السلام دي، نو له دې کبله نوح ته آدم ثاني ویل کیږي والله اعلم.

د نجات نوح په مناسبت دا بیت د سعدي رحمه الله علیه ډېر په زړه پوري دی:

محال است چون دوست دارد ترا ..... که دردست دشمن گذارد ترا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْ بَعْدِهٖ رُسُلًا اِلٰى قَوْمِهِمْ

وروسته بيا موږ راواستول تر نوح عليه السلام وروسته، رسولان وه خپلو قومو ته يعني هر رسول وخپل قوم ته لكه هود عليه السلام وه عاد قوم ته، او صالح عليه السلام وثمود يانو ته، او ابراهيم عليه السلام د بابل قوم ته چې مشر او شاه يې نمرود ؤ، او شعيب عليه السلام و اهل مدين ته وغير ذالک ممن قصهم الله اولم يقص.

فَجَآءُوْهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَمَا كَانُوْا لِيُؤْمِنُوْا بِمَا كَذَّبُوْا بِهٖ مِنْ قَبْلُ ؕ

نو راغله هر رسول وخپل قوم مخصوص ته په معجزاتو ظاهراتو سره، نو نه وه دغه اقوام د رسولانو په هيڅ ډول چې ايمان دي راوړي، پر هغه دين چې تكذيب كړى ؤ په هغه دين سره قوم نوح عليه السلام دمخه تر راتګ ددوى د رسولانو ودوى ته.

سوال: قوم د نوح خو تكذيب د نوح كړى ؤ په راوړي دين كې، نورو رسولانو وخپلو اقوامو ته خو جلا جلا اديان راوړي، نو وجه د اشتراک د نورو قومو د نورو رسولانو د قوم سره څه شى ده؟

خواب: تولو رسولانو په اولين حالت كې خداى عليه السلام د شرک په مقابل كې را استولى دى، نو قوم نوح او نور اقوام په شرک كې متساوي الاقدام دي، بلكې په اصولو كې د دين اى المعتقدات تولو اديانو او رسولانو سره همنوا او شريكان دي، نو انكار د هر قوم د خپل نبي له دين څخه انكار عن جميع الاديان فافهم.

كَذٰلِكَ نَطْبَعُ عَلٰى قُلُوْبِ الْمُعْتَدِيْنَ ۝

دغسې لكه پر قوم نوح پر زړونو او د اقوامو د نورو رسولانو پر زړونو چې مهر د ضلال په سبب د كبر او عناد د رسولانو خداى عليه السلام لګولى ؤ دغه رنګه خداى پاک مهر لګولى پر زړونو د ظالمانو او تجاوز كاران او د حسد كارانو ستا د امت يا محمد صلى الله عليه وسلم وفيه تسلية للنبي صلى الله عليه وسلم ولې چې د عالمه سره غم نه غم دى كما قيل.

ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْ بَعْدِهِمْ مُّوْسٰى وَهٰرُوْنَ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ

وروسته موږ راواستاوه يعني په رسالت سره، وروسته تر ذكر سوو رسولانو موسى يعني ابن عمران او هارون چې د موسى مشر ورور ؤ، وه فرعون ته او اشراف د قوم دده، دا فرعون وليد بن مصعب ؤ على المشهور.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یوه سه: چي ملاً چي یې ذکر کړه لپاره د تمهید وه ذکر ته د استکبارهم "بایاتنا" سره د معجزاتو متفرقه وو د فرعون تر غرق پورې، (۱) ای العصی (۲) والید البیضا (۳) والطوفان، ای المطر الکثیر حتی دخل الماً في بیوتهم الی حلوق الجالسین (۴) والجراد، ملخ چي ددوی کښتونه او د درختو بلګونه یې تولد وخوړل (۵) والقمل، او شپوږي چي ددوی په غنمو کي به پیدا سوې او د غنمو مغز به یې توله وخوړل خالي خوروکي به یې پاته سوه (۶) والضفادع، او چونګوبنې چي ددوی په اوبو او په تولو خوراکي شیانو کي به ناستي وې، او د اوبو دمخه به چونګوبنه په خوله ورننوتل، که څه به هم د اوبو د لوبنې سر پټ وای (۷) والدم، وینې چي اوبه او نور خوراکي شیان بې سرې وینې وې (۸) والطمس، چي پر مالو یې هلاک خدای ﷻ مسلط کړی (۹) وفلق البحر، اخیره معجزه یې دا وه چي دریاب ودوی ته توته سو او کوڅې کوڅې سو لیدخلوا فیه فیغرقوا اجمعین.

بِاٰيٰتِنَا فَاسْتَكْبَرُوْا وَكَانُوْا قَوْمًا مُّجْرِمِيْنَ ۝

نو فرعون او اشرافو د قوم دده کبر وکړی له متابعت څخه د موسی او هارون علیهما السلام او وه دوی یو قوم مجرم یعني جرم او کبر ددوی پېشه وه، ځکه یې د رسالت د خدای ﷻ تهاون او سپکاوی وکړی او هغه یې رد کړی.

فَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ مِنْ عِنْدِنَا قَالُوْٓا اِنَّ هٰذَا لَسِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۝

نو چي ودوی ته راغلی دین حق زمونږ له خوا څخه چي د خدای ﷻ وجود او توحید وا او ددوی دا حق وزړو ته تېر هم سو له لیدلو د معجزاتو باهراتو کثیراتو، نو دوی وویل په باره کي د معجزاتو چي دا سحر دی بنکاره.

قَالَ مُوْسٰٓى اَتَقُوْلُوْنَ لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَكُمْ ۭ اَسِحْرٌ هٰذَا ۭ وَلَا يُفْلِحُ السّٰحِرُوْنَ ۝

دا جمله استیناف بیاني دی، جواب دی د ماقبل چي نو موسی علیه السلام به څه ورته وویل چي دوی پر معجزاتو د سحر نوم کښېښو "اتقولون آه" د استفهام لپاره د تعجب او انکار دی، آیا تاسي وایاست وه حق ته وامر ثابت محقق ته من عندالله چي تاسي ته راغلی "اسحر هذا" آیا سحر دی دا "ولا یفلح الساحرون" یعني بری

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او کامیابي نسي پیدا کولای ساحران، دا جمله له تمامه څخه د قول د موسی ده للدلالة علی انه لیس بسحر.

دروښ وایي: چي مقوله د قول محذوفه ده (ای انه سحر) او حال دادی چي سحر خو صرف تمویه د حقیقت نه لري، نو مقوله د قول یې حذف کړه لدلالة ماقبله علیه.

بوه سه: چي دا جمله مستأنفه ده لپاره د انکار د ماقالوا او مقوله د قول نه ده، ولي ددې د استفهام خو ضرورت نسته، ولي خو دوی اول وویل ان هذا لسحر مبین.

قَالُوٓا۟ أَجِئْتَنَا لِتَلْفِتَنَا عَمَّا وَجَدْنَا عَلَيْهِ ءَابَآءَنَا وَتَكُونَ لَكُمَا ٱلْكِبْرِيَآءُ فِى ٱلْأَرْضِ ۖ وَمَا نَحْنُ لَكُمَا بِمُؤْمِنِينَ ﴿٧٨﴾

وویل فرعون او قوم دده وه موسی علیه السلام ته چي ته راغلې مونږ ته چي ته مونږ ته واړوې له هغه دین څخه یعني الشرک چي مونږ پیدا کړي دي پر هغه دین پلرونه زمونږ، او تا او هارون لره پر مونږ سلطنت او حکومت سي په مځکه کي د مصر، که مونږ چېري ستاسي د دوو تصدیق وکړو په هغه خبره کي چي تاسي راتګ په کړی دی یعني توحید د خدای جل جلاله او چي مونږ د خدای جل جلاله له جانبه څخه رسولان یو.

بوه سه: چي جمله د "قالوا" استیناف بیاني ده د هغه پوښتنې په ځواب کي چي موسی علیه السلام چي هغه دمخه خبرې ودوی ته وکړې، نو دوی په جواب کي څه ورته وویل، یعني دوی قالوا الخ ورته ووایه.

وَقَالَ فِرْعَوْنُ ٱئْتُونِى بِكُلِّ سَٰحِرٍ عَلِيمٍ ﴿٧٩﴾

(وفي قرائة بکل سحار په صیغه د مبالغې) فرعون ووېل وقوم ته چي تاسي راولی ماته هر سِحر ګر چي په سجر کي ښه معلومات لري یعني تا چي مقابله د سحر د موسٰی خپل په ساحرانو سره وکړو.

فائده مهمة" د خدای عادت په جاري دی چي هر قوم ته چي رسول را استوي داسي یې را استوي چي په هغه قوم کي چي هر شی د هر رواج او هغه قوم په کښي مهارت درلودی د هغه د جنس څخه فی الظاهر معجزه ورکوي مثلا په قوم کي د فرعون سحر او جادو د هر مروج یعني چي یو شی بې مخالف د خپل حقیقت څخه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د خلګو په نظر کي ښکاره کړي. نو موسیٰ علیه السلام معجزه فی الظاهر د هغه د قسم ورکړه لکه لکړه بې مار وګرځیدله او یدبیضا چې اولې دوې معجزې د موسیٰ وې او د عیسیٰ علیه السلام په عصر کي طبابت او ډاکټري ډېره پر مخ تللې وه چې د قسم قسم ناجوړ ېو علاجونه بې کول، نو عیسیٰ علیه السلام ته معجزه احیاً الموتیٰ، ابراً الاکمه" او د فس د علاج معجزې ورکړې" نو موسیٰ علیه السلام په پېښ رفته کار کي د قوم فرعون چې سحر وو پر ساحرانو ده فرعون غالب وګرځاوه کما سیأتي، او عیسیٰ علیه السلام په طبابت کي دوی ویارړ په کاوه غالب وګرځاوه چې احیاً الموتیٰ او ابراً الاکمه والابرص وه چې د عیسیٰ د قوم د طبابت د کاره څخه خارج کار وو، او د علیه الصلوة والسلام په قوم عربو کي د فصاحت او بلاغت لویه چرچه وه کما یدل علیه هغه اوه قصیدې چې نام ورو شاعرانو په خپل نوبت سره د مکې مکرمې پر دیوال ځړولې وې د مقابلې دپاره چې هغه اووه (۷) مقالې او قصیدې اوس په شکل د کتاب چې معلقات سبع یې نوم دی موجود او بعض نام داره علماً یې درسولای سي، نه هر که سر بتراشد قلندري داند "گفته اند انجیر خوردن نه کار هر مرغیست" نو علیه الصلوة والسلام ته خدای ﷻ قرآن معجز لبلغاً عدنان وفصحاً قحطان ورکړه، او اعلان یې وکړی ﴿ان کنتم في ریب مما نزلنا علی عبدنا فأتو بسورة من مثله آه﴾ او دوی ټوله ورته عاجزه سوه.

دروښ وایي: چې دا څو خبري په طور د جمل معترضه په مابین کي ما راوړي اوس بېرته د تفسیر پر لور.

فَلَمَّا جَآءَ السَّحَرَةُ قَالَ لَهُمْ مُّوْسٰٓى اَلْقُوْا مَآ اَنْتُمْ مُّلْقُوْنَ ۝

هغه وخت چې د فرعون جمع کړه سوي ساحران "چې تعداد یې اویا زره ته بالغ وو" راغله وویل موسیٰ ودوی ته چې ښکاره کړي هغه څه چې تاسي ښکاره کوئ په میدان کي د مقابلې وخلګو ته.

سوال: موسیٰ علیه السلام ته خو معلومه وه چې دوی سحر کوي او سحر خو حرام دی، نو څه رنګه موسیٰ علیه السلام دوی ته امر د القو ورکړی؟

جواب: ساحرانو د فرعون د موسیٰ سره مشوره وکړه چې ته د مخه خپل کار

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بنکاره کوي که يې موږ بنکاره کړو نو موسی علیه السلام ورته وويل القوا. نو دا امر د تقديم دی امر د سحر کولو نه دی.

فَلَمَّآ أَلْقَوْا۟ قَالَ مُوسَىٰ مَا جِئْتُم بِهِ ٱلسِّحْرُ ۖ

چې سحر ګرانو خپلې لکړې او رسۍ پر ميدان وغورځولې او ټولې د خلګو په سترګو کې ماران ورغله ﴿ واسترهبوهم وجاؤا بسحر عظيم﴾ او خلګ يې وبېرول او راتګ يې وکړی په يوی لوی سحر سره، موسی علیه السلام ورته وويل چې دغه تاسي چې راتګ په وکړی دغه سحر دی لا ما سماء فرعون سحرا من المعجزات من عند الله.

إِنَّ ٱللَّهَ سَيُبْطِلُهُۥٓ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُصْلِحُ عَمَلَ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٨١﴾

خدای ﷻ ژر دی چې دا ستاسي سحر به باطل او محوه کړي چنانچه موسی علیه السلام چې لکړه وغورځول هغه، مار سول او د دوی لکړې او رسۍ او د جادو ماران يې تولې وخوړل، خدای ﷻ نه اصلاح کوي يعني نه کاميابه کوي عمل د مفسدانو چې سحر ګران دي.

وَيُحِقُّ ٱللَّهُ ٱلْحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْمُجْرِمُونَ ﴿٨٢﴾

او خدای حق ګرځوي يعني ثابت ګرځوي او قوة ورکوي د حق ته په خپلو ايياتو سره يعني په معجزاتو سره که څه هم مجرمان يې مکروه بولي" حافظ شيرازي رحمه الله عليه وايي.

اسم اعظم بکند کار خود ای دل خوش باش ..... که بتلبیس وحیل دیو سلیمان نه شود

حکایت" تاريخ وايي چې شيخ جنيد عجمي څلويښت کاله کوشش وکړی چې سلطنت لاسته ورولي لکن نه سو کاميابه وروسته په اولاد کې د ده بادشاهان پيدا سوه چې تولې رافضي المذهب وه لکه "شاه اسماعيل" شاه عباس" شاه طهماس" لکن مللوک عثمانيه وو دا فتنه د رافضيت يک لخته ختم کړه فحق القول" لکل فرعون موسی" وذالک في کل عصر الی ان ينزل عيسی ويقتل الدجال، تاريخ اسلامي خبر کوي، وايي حضرت امير المؤمنين عمر رضي الله عنه ته خبر ورسېدی چې عراقيانو پر دوی حاکم چې د عمر رضي الله عنه له خوا پر دوی مقرر سوی ډېره ډېرو سنګسار کړی، نو عمر رضي الله عنه په ډېر غضب د مدينې څخه حرکت وکړی، په لار کې په يوه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لمانځه کې سهوه ورپېښه، وله د غم او فکر څخه تر لمانځه وروسته يې داسې ښيرا وکړه چې عراقيانو پر ما لمونځ ګډ ودې کړی ته د دوی کارونه ورګډ ودې کړې او غلام ثقفي پر دوی حاکم کړې چې د جاهليت پر طريقه حکم راني پر وکړي بان لا يقبل من محسنهم ولا يتجاوز عن مسيئهم، وذالک قبل ان يولد الحجاج بن يوسف اظلم الناس هغه ؤ خدای وروسته تر دې پرې زماني د ښيرا د عمر ﷺ حجاج بن يوسف پر مسلط کړی وظلم الحجاج مشهور وفي کتب التواريخ مسطور.

دروښ وايي: چې د غلام ثقفي خبره چې عمر ﷺ وکړه د مشکوة د نبوت د انحضرت ﷺ ور رسېدلې وه فافهم.

فَمَآ اٰمَنَ لِمُوْسٰٓى اِلَّا ذُرِّيَّةٌ مِّنْ قَوْمِهٖ

نو ايمان يې نه راوړي او تصديق يې نه وکړی د موسی يعني وروسته تر دې چې د موسی ﷺ معجزې يې هم ولېدلې چې ساحران د فرعون نا کامه سوه، مګر يو لږ کسان د قوم څخه د ده چې هغه عبارت دی د هغو مؤمنانو څخه د بني اسرائيلو چې په مصر کې وه او د موسی ﷺ سره د مصره ووتل.

دروښ وايي: چې دا ترجمه پر دې تقدير ده چې ضمير د قومه وموسی ته راجع سي او بعض مفسران وايي چې د قوم د فرعون چې قبط وه دوی ضمير د قومه وفرعون ته راجع بولي" د ابن عباس ﷺ څخه په يوه روايت کې راغلي دي چې دا قبطيان" (۷۰) اويا کسان وه چې آبا يې قبطيان وه او مندي يې د بني اسرائيلو د قوم څخه وې، نو هر قبطي په مور او ماماګانو پسې روان وو يعني يعني د هغو په دين به وه چې د موسی ﷺ دين ووپه دې مؤمنانو کې د قبط د فرعون ماينه" او ماشته" اوخزانه دار د فرعون" او د هغه ماينه" او مؤمن آل فرعون هم داخل دی

پوښتنه: ساحران چې فرعون جمع کړي وه وروسته تر معجزې ده لکړي خو تولو ايمان را وړی کما في موضع آخر من القرآن" کريمه" ﴿انه لکبيرکم الذي علمکم السحر﴾ ﴿ولاصلبنکم في جزوع النخل﴾ چې فرعون و ساحرانو ته چې ايمان يې راوړی دا دوې خبرې يې وکړې، نو څرنګه حصر مذکور دی يعني په روايت کې د ابن عباس ﷺ چې (۷۰) اويا کسان وه؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جواب: ضمير د قومه خو يا موسیٰ ته راجع دی يا و فرعون ته" ساحران خو نه د قوم د موسیٰ عليه السلام او نه د فرعون فافهم فانه سانح عزيز.

عَلٰى خَوْفٍ مِّنْ فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهِمْ اَنْ يَّفْتِنَهُمْ ؕ

سره دبهري د فرعون او د قوم څخه د ده يعني اشراف د قوم كما هو معنى الملأ، چي دوی دي په فتنه او عذاب كي واقع نه كړي په سبب د ايمان.

پوه سه: چي ضمير مستتر د فاعل په يفتنهم كي راجع وفرعون ته دی.

سوال: وړاندي يې وويل من فرعون وملأهم" او دلته يې ضمير يوازي وفرعون ته راجع كړی؟

جواب: خوف د ملأ څخه خو په سبب د فرعون وو.

وَاِنَّ فِرْعَوْنَ لَعَالٍ فِى الْاَرْضِ ۚ وَاِنَّهٗ لَمِنَ الْمُسْرِفِيْنَ ۝

په تحقيق فرعون لوی متكبر وو په مځكه كي د مصر او دی تجاوز كونكی وو تر خپل حد ولي چي سره د عبوديت يې دعوه د ربوبيت او خدايي كړې وه.

وَقَالَ مُوْسٰى يٰقَوْمِ اِنْ كُنْتُمْ اٰمَنْتُمْ بِاللّٰهِ فَعَلَيْهِ تَوَكَّلُوْٓا اِنْ كُنْتُمْ مُّسْلِمِيْنَ ۝

يعني څه وخت چي بني اسرائيلو د مؤمنانو خوف د عذاب د فرعون موسى وليدی، نو يې داسي ورته وويل، ای قومه زما كه تاسي چيري ايمان پر خداى عزوجل راوړی وي، نو پر خداى عزوجل تكيه او اعتماد وكړئ چي زمونږ ناصر دی او له فرعون څخه او له ملأ څخه دده مه بېرېږئ كه تاسي مسلمين او وخداى عزوجل ته ظاهراً او باطناً تسليم ياست، ددې شرط جزاً محذوفه ده چي سياق د كلام دلالت پر كوي، يعني توكلتم عليه.

دروښ وايي: چي په دې آيت كي دا توهم كېږي چي يو توكل على الله مشروط په دوه شرطه سره دی يعني الايمان والاسلام، نو سوال دادی چي يو شرط به په توكل كي كافي نه واى؟

ځواب: ددې سوال جواب پر تمهيد د يوې مقدمې موقوف دی هغه دا چي د عقائدو په كتابو كي وايي چي ايمان او اسلام خو په حقيقت كي يو دي لكن اغلب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

استعمال د ايمان په معتقداتو کي دی او دهر استعمال د اسلام په عملياتو کي دی کما يدل عليه الحديث الطويل المتفق عليه المروي عن عمر ﷺ چي جبرئيل ﷺ په صورت کي د انسان په مجلس کي د صحابه کرامو ﷺ له عليه الصلوة والسلام څخه يې پوښتنه وکړه ما الايمان؟ قال ﷺ الايمان ان تؤمن بالله وملئكة الى اخيره، فقال الرجل ما الاسلام قال ﷺ ان تشهد ان لا اله الا الله وتقيم الصلوة الى اخيره، وبعد التمهيد حاصل د جواب فيما نحن فيه دادی چي په دې آيت کي تعليق د يوه حکم په دوه شرطه نه دی بلکي تعليق د دوو شيانو دی په دوه شرطه سره، ولي چي اعتقاد د وجوب توکل يې معلق کړی دی په ايمان سره کما هو المفهوم من الامر وتقديم المتعلق يعني عليه پر توکلوا باندې او وجود د توکل د عمل په ميدان کي يې په اسلام او اخلاص پورې مربوط کړی ددې مثال داسي دی ان دعاک زيد فاجبه ان قدرت عليه که زيد دعوت درکړي يعني د مهمانۍ نو قبلوئه يې وکړه که چېرې قادر وې فافهم المثال تفهم الآية.

دروښ وايي: چي دې خواب ته په مختصره توګه مظهري رحمه الله اشاره کړې ده او روح المعاني په مفصله توګه لږ، او روح البيان بين بين بيان کړی دی لکن دومره تفصيل لکه فقير چي وکړی هيڅ چانه دی کړی ولا فخر، واما بنعمة ربک فحدث کريمه.

فَقَالُوا عَلَى اللَّهِ تَوَكَّلْنَا رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴿٨٥﴾

دوی وويل چي خاص زمونږ پر خدای ﷻ توکل او اعتماد دی، ولي چي دوی مخلص د اصحابو د موسی وه علی نبينا وعليه الصلوة والسلام، بيا دوی وه خدای ﷻ ته په دې الفاظو خواست وکړی، اې زمونږ ربه ته مه ګرځوې مونږ فتنه يعني ځای د عذاب د هغه قوم چي ظالمان دي يعني فرعون او اتباع ددې، يعني دوی مه مسط کوې پر مونږ چي ددوی له لاسه مونږ په فتنه يعني عذاب کي واقع سو، او بعض مفسرين رحمهم الله ترجمه داسي کوي ته مه ګرځوه مونږ سبباً لپاره د فتنې د فرعونيانو او د زيادت د کفر او طغيان ددوی چي يا ستا له خوا پر مونږ مسلط سي او يا د فرعونيانو له خوا، نو دوی به وايي چي که موسی او مؤمنان پر حق وای ما عذبوا فيزيد فتنهم وطغيانهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَنَجِّنَا بِرَحْمَتِكَ مِنَ الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ۝

او موږ ته نجات راکړې د هغه قوم څخه چې کافران دي يعني ددوی د کړاو او ځپلو څخه.

پوه سه: چې توکل يې تر دعا دمخه راوړی تنبيه پر دې ده چې دعا کونکی اولاً بايد توکل پر خدای ﷻ وکړي او بيا دعا وکړي تا چې دعا يې قبوله سي.

پوه سه: چې توکل حقيقي دادی چې بهره او اميد چې خوف او رجا ده ماسوی له خدايه له زړه څخه و باسي. محي السنة بغوي رحمه الله وايي چې بني اسرائيلو چې به لمونځ کاوه په ځپلو عمومي عبادت خانو کې به يې کاوه چې بيع او کنائس يې بولي چې جمع د بيعة او کنيسة ده چې دا عبادت خانې د مصر په عمومي بازارو کې ښکاره وې چې موسی عليه السلام په نبوت سره فرعون ته خدای ﷻ راواستاوه، فرعون امر وکړی چې د بني اسرائيلو عمومي عبادت ګاهوي ورنړوي او د ښکاره لمانځه او عبادت څخه يې بني اسرائيل منع کړه.

دروښ وايي: لکه څرنګه چې په ابتدا کې د اسلام چې قريشو عليه الصلوٰة والسلام او اصحاب رضي الله عنهم دده په حرم شريف کې نه پرېښول چې علانيه لمونځ وکړي، نو ځکه دوی په سرای کې د زيد بن الارقم رضي الله عنه لمونځونه په پټه کول، نو خدای ﷻ بني اسرائيل امر کړه چې په ځپلو کورونو کې مسجدونه جوړ کړئ يعني يوه يوه خونه د لمانځه او عبادت لپاره وټاکئ خوفاً من فرعون وذالک معنی قوله تعالی.

وَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰى وَاَخِيْهِ اَنْ تَبَوَّاٰ

موږ وحي وکړې وه موسی عليه السلام ته او ورور ته ده يعني هارون عليه السلام چې تاسي مباشة جوړ کړئ يې ځای د رجوع.

پوه سه: چې بوء رجوع ته وايي مراد ځای د رجوع دی لپاره د سکنی او عبادت.

لِقَوْمِكُمَا بِمِصْرَ بُيُوْتًا وَّاجْعَلُوْا بُيُوْتَكُمْ قِبْلَةً

لپاره د ځپل قوم په مصر کې خونې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي خطاب د "اجعلوا" په صیغه د جمع موسی او هارون علیهما السلام او قوم نه دی فلا یرد چي مخاطب په لقومکما خو موسی او هارون علیهما السلام وه، والمعنی نو اجعلوا په صیغه د جمع ولي راغلې ده، تاسي وګرځوئ هغه خونې تا او هارون علیهما السلام ددوی لپاره مباءة یعني قبله یعني ځای د لمانځه، لکن مفسرین وایي چي بني اسرائیلو په امر د موسی او هارون علیهما السلام اولاً لمونځ وکعبې شریفي ته کاوه.

وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٨٧﴾

او تاسي لمونځونه کوئ په هغو خونو کي او د فرعون څخه به په امن کي یاست، او زیری وکړه یا موسی و مؤمنانو ته په دې سره چي دښمن ستاسي یعني فرعون وقومه به خدای ﷻ هلاک کړي او خلافت د ارض مصر وما حولها به وتاسي ته وسپاري، او خدای پاک دا وعده پوره کړه بغرق فرعون وقومه في البحر ونجاة بني اسرائیل، دا زېری خو دده په دنیا کي ؤ او په اخیرت کي به فوز بالجنة درکړي.

وَقَالَ مُوسَىٰ رَبَّنَا إِنَّكَ آتَيْتَ فِرْعَوْنَ وَمَلَأَهُ زِينَةً

وویل موسی "ربنا" یعني یا ربنا بحذف النداء په تحقیق تا ورکړی دی وفرعون ته او دده اشرافو ته د قوم "زینة" مصدر دی په معنی د مایتزین به من اللباس والحلي (زېورات) والفرش الفاخرة واثاث البیوت او د سپرتیا شیان او خادمان نوکران او دبدبه الی غیر ذالک من انواع النعم.

وَأَمْوَالًا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا رَبَّنَا لِيُضِلُّوا عَن سَبِيلِكَ

او مالونه دي ورکړي دي په دې دنیا کي یاربنا ددې لپاره چي ګمراهي او انکار مختاره کړي ستا له لاري څخه یعني الاسلام.

پوه سه: چي لام د "لیضلوا" لپاره د عاقبت دی متعلق په "اتیت" پورې دی یعني حتی صار عاقبة امرهم الضلال والطغیان کما في قوله تعالی "فالتقطه (ای موسی حین کان رضیعاً) آل فرعون لیکون لهم عدواً وحزناً (یعني موسی په عاقبة الامر چي لوی سي او بیا نبي سي د آل فرعون دښمن او غم به سي وکما في قول من قال لدوا للموت وابنوا للحرب، او بعض مفسرین رحمهم الله وایي چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لام په معنی د کی دی، والمعنی اتیتهم کذا وکذا استدراجاً لیثبتوا علی الضلال، او قاضي بیضاوي رحمه الله وایي چي "لیضلوا" ښېرا ده ودوی ته په لفظ د امر، والله تعالی اعلم بمراده في کتابه.

رَبَّنَا اطْمِسْ عَلَىٰ أَمْوَالِهِمْ

ته هلاک مسلط کړې پر اموالو ددوی کذا قال المجاهد. او اکثر مفسرین یې دا معنی کوي چي مسخ کړې ددوی مالونه او له خپل هیئته یې واړوې، او قتاده وایي چي ددوی سره زر، سپین زر او جواهرات تولـه منقوشه ډبري سي.

دروښ وایي: چي دنیا په خپل ذات کي بدي نه لري لکن تر حاجاتو ډېره په دې زمانه کي سبب د ضلال گرځي. کریمه: ان الانسان لیطغی ان راه استغنی" دا هغه انسانان دي چي حب د دنیا یې وه اعمالو ته د زړه رسېدلی وي لکه کوزه چي په اوبو کي ډوبه کړې د اوبو ډکه سي او غرقه سي، عبدالرحمن شاعر وایي:

ښه ده ښه ده دا دنیا ..... چي تو ښه ده د عقبیٰ
که فقیر ته یې ته ور کړې ..... فقیر درومي په خندا

دا هغه دنیا ده چي په لاره کي د خدای ﷻ مصرف کېږي، کریمه: وَيُطْعِمُونَ ٱلطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا ﴿٨﴾ إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ ٱللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنكُمْ جَزَآءً وَلَا شُكُورًا ﴿٩﴾ (سورة الدهر)

وَاشْدُدْ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ

او قسوت او غلظت پیدا کړي پر زړونو ددوی حتی چي ایمان ته نرم نه سي.

سوال: موسی علیه السلام خو رسول ؤ د خلگو د دعوت لپاره خدای پاک راستولی ؤ نو څرنگه ده ته دا ښېرا جواز لري چي زړونه سخت کړي چي ایمان ته نرم نه سي؟

ځواب: دا ښېرا ده هلته وکړه چي خدای ﷻ په وحي موسی علیه السلام خبر کړی چي فرعونیان ایمان نه راوړي.

پوښتنه: ددې ښېرا فائده څه ده؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: فائده يې اظهار د بغض ده "عداً لله" لله لان الحب في الله والبغض في الله من مقتضى الايمان كما ورد مضمونه في الحديث النبوي ﷺ مثلاً ټوله مسلمانان وايي لعن الله ابليس مع انه معلوم انه ملعون، دا ددې آيت امتثال مونږ کوو ان الشيطان عدولكم فاتخذوه عدواً، نو مونږ په لعن الله ابليس کې اظهار د خپل عداوت کوو.

فَلَا يُؤْمِنُوا حَتَّىٰ يَرَوُا الْعَذَابَ الْأَلِيمَ ﴿٨٨﴾

تا چې ايمان نه راوړي تر هغه وخته پورې چې عذاب دردناکه ويني بعد الموت او في الدنيا بالغرق.

قَالَ قَدْ أُجِيبَت دَّعْوَتُكُمَا

خدای ﷻ وويل دوی ته يعني موسى او هارون عليهما السلام ته چې قبول کړه خواست ستاسي.

سوال: دعا کونکی خو يوازې و کما يدل عليه قوله وقال موسى آه، او دلته ضمير د ثنيه راوړل سو؟

ځواب: موسى عليه السلام خواست کاوه او هارون عليه السلام امين کاوه، او تأمين هم دعا ده ولې چې معنى د امين داده اللهم افعل كما قال الداعي، په بعضې نادرو قصو کې راغلي دي چې د موسى عليه السلام د دعا او د اجابت تر منځ څلوېښت کاله تېر سوه.

فَاسْتَقِيمَا وَلَا تَتَّبِعَانِّ سَبِيلَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٨٩﴾

نو تاسي خپل دعوت الى الله او رسالت ته دوام ورکړئ تر هغو چې پر فرعونيانو عذاب نازلېږي، او تاسي هرګز متابعت مه کوئ، د لاري د هغو کسانو چې نه پوهېږي.

پوه سه: چې "ولاتتبعان" صيغه د نهي ده مؤکد په نون ثقيله.

فائده: پوه سه! چې يو مسلمان ته چې کوم ضرورت پېښ سي که ناجوړي وي او که فقر او مسکنت يا د دښمن بېره وي الى غير ذالک من الحاجات تر ټوله وسائلو دمخه بايد لاسونه د دعا په دربار کې د قاضي الحاجات رب البريات القادر على الاطلاق الرحمن على المخلوقات پورته کړي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې دعاً کول وه خدای ﷻ ته د ټولو انبیاً علیهم السلام له وخت ځخه د آدم ابو البشر الی اخیر المرسلین محمد ﷺ پورې سنت قدیمه دی کما حکی الله ﷻ في مواضع من القرآن العزیز بتلک ادعیة الانبیاً علیهم السلام، وفي الحدیث الصحیح ما من داع (نسته یو دعاً کونکی) یدعوا الا استجاب الله دعوته (چې ځواست وکړي یعني خدای ﷻ ته مګر خواست یې خدای پاک قبلوي دعاً دده یعني هغه مطلوب دده ورکوي) او صرف عنه مثلها سوء (او یا به خدای پاک دفع کوي په قدر دده دعاً یو ضرر چې د متوجه وي) او حط من ذنوبه بقدرها (او یا به بخښي له ګنهو ځخه د دعاً کونکي په قدر د دعاً دده) مالم یدع باثم او قطیعة رحم (تر هغه پورې چې ځواست د ګناه ونه کړي مثلاً د شرابو یا هرویښو پیسې راکړې یا د قطع د وصیله رحمي ځواست ونه کړي مثلاً زما ورور مړ کړې چې ماینه یې ماته را پاته سي) کذا في شرح العقائد لرمضان.

فائده: یو له شرطو ځخه د دعاً ذلت دی ولې چې اجابت مرتب پر ذلت دی قال الله تعالی "ولقد نصرکم الله ببدر وانتم اذلة" قال الحافظ الشیرازي رحمه الله:

فقیر وخسته بدرګاهت آمدم رحمی ... که جز دعایی توام نیست هیچ دست آویز

وَجَاوَزْنَا بِبَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ الْبَحْرَ

مونږ تېر کړه بني اسرائیل تر دریاب چې دا دریاب بني اسرائیلو او موسی علیه السلام ته دوولس کوڅې سوې په عدد د اسباطو د بني اسرائیلو او دوی د رود هغه بلي غاړې ته ورسېدل.

پوه سه: چې "جاوز" باب د مفاعلې دی لکن دلته په معنی د مجرد دی نحو عاقب الامیر اللص، وقد صرح به ابن الحاجب في خواص الابواب في الشافیة.

فَأَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ وَجُنُودُهُۥ

وروسته تر عبور د بني اسرائیلو فرعون او دده لښکر یعني په ډېر لوی عدد پسې وروړسېدله.

پوه سه: چې "اتبع" دلته په معنی د مجرد دی ای تبع.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بَغْيًا وَّعَدْوًا

په بغي او ظلم سره، نو "بغيا" يا حال دی له فرعون وجنوده څخه، والمعنى باغين وعادين، او يا مفعول له دی ای للبغي والعدوان على بني اسرائيل.

په صحيح حديث کي راغلي دي چي فرعون او جنود دده چي درياب ته ورسېدله او درياب يې کوڅې کوڅې وليدی فرعون وبېرېدی او دا يې يقين سو چي د هلاک دام درته ولاړ دی، نو يې د آس کيزه تينګه کړه او پر لښکر يې امر وکړی چي ورسئ دا زمونږ مريان راواپس کړئ، نو جبرئيل عليه السلام پر بنځه مادیان سپور ؤ د فرعون تر نر آس يې دمخه کړه د فرعون آس بلا اختياره د فرعون پسې ګډ سو يعني په يوه کوڅه کي او د شا له خوا ميکائيل عليه السلام د فرعون جنود هڅول چي ټوله درياب په کوڅو ورګډ کړه، او د فرعون آس هغې بلې غاړې ته د درياب چي ورسېدی موسى عليه السلام په امر د خدای پاک درياب ته د جريان حکم ورکړی.

حَتّٰۤى اِذَاۤ اَدْرَكَهُ الْغَرَقُ

هغه ؤ چي وئيوی فرعون غرقيدلو يعني يو وار په اوبو کي ډوب سو چي راپوته سو داسي يې وويل.

قَالَ اٰمَنْتُ اَنَّهٗ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا الَّذِيْۤ اٰمَنَتْ بِهٖ بَنُوْۤا اِسْرَآءِيْلَ وَاَنَا مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ۝

فرعون وويل چي ايمان ما راوړی دی چي شان دادی چي نسته معبود مګر هغه ذات چي ايمان پر راوړی دی بني اسرائيلو او زه د مسلمانانو له ډله څخه يم. يعني خپل د خدايي تر دعوه تېر سو، نو جبرئيل عليه السلام يې په خوله د درياب څخې او لوشي ورتخته کړل، نو مړ سو دمخه د توبې تر قبول، لکن دا توبه د اضطرار د حالت خدای پاک نه قبلوي کما قال.

آٰلْـٰٔنَ وَقَدْ عَصَيْتَ قَبْلُ وَكُنْتَ مِنَ الْمُفْسِدِيْنَ ۝

آيا اوس ته ايمان راوړې چي له ژوندە نا اميده سوې او اختيار دي سلب سو او د اضطرار په دام کښېوتې، او په تحقيق تا عصيان کاوه "طول عمرک" او ته وې د مفسدانو له ډلې څخه يعني ګمراه وې، او نور خلګ دي چي ستا جند او اتباع وه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هم په ګمراهي او کفر اخته کړي وه حتی چي ځان دي رب او معبود باله، سعدي شيرازي قدس سره وايي:

تو پيش ازعقوبت دری عفو کوب ..... که سودی ندارد فغان زير چوب

پوه سه: چي اصل د "آلئن" االئن ؤ په دوه همزه يو د استفهام ؤ او بل د نفس کلمه، نو دوهم همزه يې په الف بدل کړی.

د تعجب ور فائده: پوه سه! چي جلال الدين الدواني په شرح العقائد الجلالي کي ويلي دي چي فرعون مات مسلماً لانه بکلمة التوحيد حال حياته انتهى.

دروښ وايي: چي دا خبره د صحيح احاديثو او اجماع ځخه د امت مخالفه ده، دوانې په دې سره دليل وايي چي په قرآن کي هر ځو واړه چي وعيد بالنار راغلی دی په حق کي د آل فرعون راغلی دی د فرعون په باره کي نه دی راغلی، قال الله تعالى "ادخلوا آل فرعون اشد العذاب" وقال الله ﷻ وحاق بآل فرعون سوء العذاب، دی وايي چي فرعون ته عذاب د قبر نسته فانه قد آمن بل على عصيانه وظلمه في حق العباد فان حقوق العباد لا يغفرها الله انتهى.

دروښ وايي: چي دلائل د دوانې پوچ دي اما اولاً فلان ايمان فرعون کان حين الغرق ايمان اضطراري کما يؤمن کل کافر يوم القيامة حين رؤية العذاب ولا اعتداً بايمان فرعون حين رؤية الغرق اضطراراً کما لا اعتداد برؤية سائر الکفرة يوم القيامة وقدمر بنذ من ذالک قريباً، واما ثانياً خدای ﷻ وايي فحشر (ای جمع الناس فرعون) فنادی فقال انا ربکم الاعلى فاخذه الله نکال الآخرة والاولى (په دې آيت کي ضمير د اخذ راجع دی وفرعون ته د آل ذکر هيڅ نسته ددې آيت ځرخه صراحةً دا معلومه سوه چي فرعون معذب دی په اخرت کي په سبب د کفر او دنيا کي يعني الغرق هم په سبب د کفر دده دی) واما ثالثاً په هغو آيتو کي چي ذکر د آل فرعون راغلي دي هغه هم پر عذاب د فرعون دلالت کوي، ولي چي آل د فرعون په سبب د متابعت د فرعون مستحق د عذاب الآخرة وګرځېدله، نو فرعون خو په طريق اولى معذب بالنار يوم القيامة کما لا يخفى على من له ادنى عقل. واما رابعاً فقد قال الله تعالى حکاية عن قول موسى ﷺ ربنا انک اتيت فرعون وملأه زينة الى قوله ربنا اطمس على اموالهم واشدد على قلوبهم فلا يؤمنوا الى ان قال الله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تعالى قد اجيبت دعوتكما وقد مر هذه الآيات من قبل وهي صريحة في ان موسى دعا على فرعون ان يموت على الكفر او خداى ﷻ دا دعا د موسى ﷺ مجابه وبلل، فانكار موته على الكفر انكار من هذه الآية، دا وُرد د قول د دواني.

پوښتنه: مثل د قول د جلال الدين الدواني خو د شيخ محي الدين ابن العربي څخه راغلې ده حيث قال مات فرعون ظاهراً ددې به څه جواب وي؟

ځواب: د شيخ محي الدين ابن العربي اكثره خبري په حال كي د سكر واقع سوي دي چې د شرعي شريفي سره مطابقت نه لري فلا اعتداد بها ايضاً. وحكم بهذا المظهري رحمه الله عليه في تفسيره في هذا المقام، والله اعلم بالصواب بمراد العباد.

فَالْيَوْمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ

نو ننه ورځ چې ته مړ او غرق سوې پر نجوة يعني پر لوړ ځای به دي راوغورځه وو، او يا معنى داده چې تا به له قوم څخه لېرې كو چې هغه به په قعر كي د بحر پاته وي او ته د ابو پر سر يې چې طافي يې په عربي بولي "ببدنک" ستا بدن خالي له روح څخه او يا معنى داده چې ستا بدن به پوره وي شى به يې كم نه وي، او يا معنى دا چې بدن به دي سره زغري وي، او د فرعون يوه زغره وه د سرو زرو چې قيمتي قيمتي غميان يې پكښې نصب كړي وه، بغوي رحمه الله عليه وايي چې موسى ﷺ چې بني اسرائيلو ته خبر ورکړى چې فرعون غرق او مړ سو بني اسرائيلو ورته وويل چې فرعون مړ نه دى، نو باره درياب په څپه سره پر غاړه را وغورځاوه.

فائده: فرعون په رنګ سور وُ او په قامت ببخي لنډى وُ لكن د خلګو لپاره لنډى وه چې يو زهري وژونكى مار دى.

لِتَكُونَ لِمَنْ خَلْفَكَ اٰيَةً ؕ

او چې ته سې د وروستو خلګو دپاره عبرة.

پوه سه: چې مراد د من خلفک بني اسرائيل دي، او يا وروسته خلګو دا علامه د عجز د بشر سي او دليل د قدرت د مقتدر سي يعنس بشر كه هر ځای ته ځان ورسوي حتى چې لكه نمرود او فرعون د خدايي په دعوه كي هم كامياب او ومنل سي په خلګو كي لاهم د قدرت څخه د خداى ﷻ بما اراد به به ځان نه سي خلاصولاى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نادره خبره: دروېش وايي: چې ما په يوه حاشيه کې د جلالين دا خبره ولېدل چې د فرعون قد اووه (٧) لوېشتي وو او ږېره يې اته (٨) لوېشتي وه، نن په روح البيان کې مې ورته عبارت ولېدی لکن په روايت مجهول سره عبارته هذا" ويروی ان قامته فرعون سبعة اشبار ولحيته ثمانية اشبار آه لکن د د عقيدې او منلو وړ خبره نه ده والله اعلم.

وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ عَنْ آيَاتِنَا لَغَافِلُونَ ﴿٩٢﴾

او په تحقيق ډېر انسان يعني کافران زمونږ د آياتو څخه د قدرت غافل دي، مراد د آياتو څخه دلائل د قدرت د خدای عز وجل دی...سعدي رحمه الله

پند گير از مصائب ديگران ..... تا نگيرند ديگران زتو پند
نرود مرغ سوي دانه فراز ..... چو ديگر مرغ بېند اندر بند

وَلَقَدْ بَوَّأْنَا بَنِي إِسْرَائِيلَ مُبَوَّأَ صِدْقٍ

مونږ نازل کړه، بني اسرائيل په ځای کې د صدق يعني چې صالح د دوی د عيش او ژوندانه د چارو وو" بعض مفسرين وايي چې مراد ځندي مصر دی او بعض وايي چې اردن او فلسطين دی او بعض وايي چې بيت المقدس دی التي کتب الله ميراثا لابراهيم وذريته، نو وروسته عمالقه او فراعنه وو بني اسرائيل د دې ځايو مملکت په واک کې واخستی.

فائده: فرعون د موسی عليه السلام خو په حال کې د اضطرار امنت بالله ويل که څه هم قبوله نه سوه لکن فرعون د دې امت يعني ابو جهل چې په بدر کې سخت تېې وو دا بني عفراً د خوا او رمق د زکندن په کښې وو هم يې کلمه او آمنت نه ووايه بلکه دا يې وويل فلو غير اکار قتلني که غير د کښته گروزه وژلی وای نښه به وای. مراد د ابو جهل ابني عفراً وه چې د مدينې منورې وه او د مدينې خلگ قريشو کښته گر بلل مطلب دده دا ؤچې د مکې قريشو مسلمانانو وژلي وای نښه به وای.

وَرَزَقْنَاهُم مِّنَ الطَّيِّبَاتِ

او مونږ دوی ته په رزق ورکړي د حلالو او لذيذ شيانو څخه من الماکولات والمشروبات.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَمَا اخْتَلَفُوا حَتَّىٰ جَاءَهُمُ الْعِلْمُ

نو اختلاف نه درلودی هغه بني اسرائيلو چي په زمانه کي د عليه الصلوة والسلام وه دمخه تر نبوت او تر راتګ د ده ﷺ بلکه ټوله متفق پر دې وه چې په نامه د محمد ﷺ يو نبي منعوت في التوراة رسول خدای ﷻ عمومي انسانانو ته را استوي او يو وبل ته بې زېري کول چي زمانه د نبي موعود نژدې ده او د مشرکينو سره بې جنګ سو د عليه الصلوة والسلام په برکت بې فتح پر هغو غوښتنه کريمه﴿ وكانوا يستفتحون على الذين كفروا﴾ "حتي جاءهم العلم" تر هغو چي دوی ته راغلی علم.

پوه سه: چي علم دلته په معنی د معلوم دی والمراد به محمد ﷺ کا الخلق بمعنی المخلوق في قوله تعالى ﴿هذا خلق الله﴾ او هغه نعوت چي په تورات کي وه د دې معلومه سره برابر وه، نو بعض يهوادانو ايمان پر راوړی لکه عبد الله بن سلام رضي الله عنه او د ده دا کا زامن او بعض انکار د ايمان راوړو څخه وکړي عنادا او حسدا ولبقاء رياستهم على العوام کريمه﴿ فلما جائهم ما عرفوا كفروا به﴾.

إِنَّ رَبَّكَ يَقْضِي بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿٩٣﴾

په تحقيق رب ستا به حکم وکړي په مابين کي د دوی په ورځ د قيامت په هغه شي کي چي د دوی په کښې اختلاف ايمانا وکفرا" يعني بادخال المؤمن الجنة وادخال الكافر دار البوار جهنم دار الكفار.

فَإِن كُنتَ فِي شَكٍّ مِّمَّا أَنزَلْنَا إِلَيْكَ فَسْأَلِ الَّذِينَ يَقْرَءُونَ الْكِتَابَ مِن قَبْلِكَ

که ته يې ای انسان فالخطاب عام، په شک د هغه قرآن او هدايت چي پر ژبه د رسول زمونږ چي محمد ﷺ دی، نو ته پوښتنه وکړه په دې باره د هغو کسانو څخه چي وايې کتاب يعني التورات والانجيل تر تا د مخه.

پوه سه: چي ابن عباس او مجاهد او ضحاک وايې چي مراد د الذين يقرؤن څخه هغه کسان د اهل کتاب چي ايمان يې راوړی وي لکه عبد الله بن سلام او د ده اصحاب، نو هغه به شاهدي ادا کړي چي دغه قرآن نازل پر محمد عليه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الصلوة والسلام موعود دی په توراة او انجیل او موافق دی د کتب متقدمه سره په قصو کي او په عقائدو کي حاصل دا چي خطاب واهل شک ته دی من الناس ولي خلګ په زمانه کي د علیه الصلوة والسلام مصدقان یعني مومنان وه او بعض یې مکذبان یعني منکران وه، او بعض شک والا وه نه مؤمن او نه منکر بلکه ګاهي به په زړه کي تصدیق وروګرځېدی او ګاهي تکذیب.

فائده: په دې آیت کي تنبیه ده پر دې که د یو مؤمن په زړه کي شک په یو شي د احکامو د قرآن او د اسلام پیدا سو فورا به رجوع کوي وجید او صالح عالم ته تا چي خپل د شک ازاله ورته حاصل او شک ته دي دوام نه ورکوي چي نباید شک په انکار بدل نه سي، او بعض مفسرین وایې چي مخاطب په دې خطاب سره علیه الصلوة والسلام دی لکن پر طریقه د فرض او تقدیر او یا لپاره د زیادت د یقین وانما قلنا علی طریق الفرض لان رسول الله ﷺ لم یکن شاکا فیما انزل الیه بل کان في غایة التصدیق والایقان بما انزل الیه کما لایخفی.

والدلیل علیه: هغه حدیث دی د عبد الرزاق او د ابن جریر عن قتادة ده وویل چي علیه الصلوة والسلام چي دا آیت نازل سو وي ویل لا اشک ولا اسئل، او بعض مفسرین وایې چي خطاب خو ونبي علیه الصلوة والسلام ته دی لکن مراد نور شک کونکي دي علی عادة العرب پې خطاب د یوه سره او مراد یې غیر وي لکه چي په قرآن مبارک د دې مثال قال الله تعالی ﴿ یا ایها النبي اتق الله﴾ چي خطاب یې نبي ﷺ ته وکړی او مراد ځندي امت دی، بدلیل قوله تعالی في اخیر الآیة "ان الله کان بما تعملون خبیراً" حیث لم یقل بما تعمل بصیغة خطاب المفرد، وبدلیل قوله تعالی ﴿یا ایها النبي اذا طلقتم النسا﴾ مخاطب یې علیه الصلوة والسلام وګرځاوه دروسته لفظ د طلقتم جمع راوړی، او فرا رحمه الله وایې چي خدای ﷻ خو په دې خبر وو چي علیه الصلوة والسلام شاک نه دی لکن بنا پر عادت د عربو یې وویل وان کنت" چنانچه عرب وخپل مربي ته وایې ان کنت عبدي فاطعني یا زوی ته پلار وایې ان کنت ابني فصل الصلوات بالجماعة او سره د دې چي بادار په مریتوب کي مربي شک نه لري او نه پلار په زوی والي کي د زوی شک لري.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښې وايي: چې دا جوابونه او تفسيرونه مظهري رحمه الله او روح البيان او روح المعاني په ګډه راوړي دي. او دا تفسير هم ډير په زړه پوري دی چې کلمه د ان شرطيه د پاره د مجرد احتمال ده حتی چې په محال شيانو کې هم مستعمليږي "نحو ان کان زيد حمارا کان ناهقا وامثال ذالک فافهم هداک الله.

لَقَدْ جَآءَكَ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ فَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِيْنَ ﴿۹۴﴾

په تحقيق وتاته راغلی يعني نازل سو يعني قرآن مبارک چې امر ثابت دی د جانبه څخه د رب ستا او تاته په دلائلو قاطعه وو سره دا ثابت سوه چې دا کتاب من عند الله دی او ځای د شک او شبهې نه دی نو ته مه ګرځه د شاکينو د ډلې څخه.

وَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَتَكُوْنَ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۹۵﴾

او ته مه ګرځه د هغه خلګو څخه چې تکذيب کوي د اياتو د خدای ، نو به وګرځې د تاوانيانو د ډلې څخه.

پوه سه: دا خطاب هم پر منوال او طريقه د ماسبق يا خطاب دی و شک کونکو خلګو ته، او يا خطاب دی وعليه الصلوة والسلام ته مراد ځندي نور کسان دي يا وعليه الصلوة والسلام ته دی بناً پر فرض او تقدير" وقد مر تفصيل جميع هذه الاحتمالات فيما مر عنقريب فتذکر.

اِنَّ الَّذِيْنَ حَقَّتْ عَلَيْهِمْ كَلِمَتُ رَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۹۶﴾

په تحقيق هغه کسان چې پر دوی واجبه سوې ده خبره د رب ستا يا محمد ﷺ هغه ايمان نه راوړي ولي چې قضاً د خدای ﷻ نه بدليږي.

دروښې وايي: چې روح المعاني د کلمة ربک په حکم او قضاً الهي سره تفسير کړی دی او د زياته کړې ده چې د قضاً آلهي تفسير اشاعرة وو يعني اهل سنت که حنفيان دي او که شافعيان په اراده ازلي سره د خدای ﷻ کړې ده چې تعلق لري په تولو شيانو پورې خصوصا په انسانانو پورې پر هغه ډول چې په مستقبل کې به په خپل اختيار سره به ايمان راوړي او پر ايمان به مړه کيږي او اهل ده جنت به وي او يا به په خپل اختيار کفر مختاره کوي او پر هغه کفر به مري او اهل النار به وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي دا تر جمه ددې آيت ډېره په زړه پوري ده او پر دې ترجمه هېڅ سوال د جبر نه پيدا کېږي فتامل، او مظهري د دې آيت تفسير په صحيح حديث سره کړی دی په روايت د ترمذي ابو داؤد د مسلم بن يسار چي هغه روايت د عمر بن الخطاب ﷺ کړی دی لکن د حديث مبارک عبارت د متشابهاتو څخه دی چي تر فهم د متعلمانو د دې تفسير ډير لوړ دی نو درويش په دې سبب هغه را نه وړی، او دا عمل زما په نيت پوري اړه لري، نبوي حديث (انما الاعمال بالنيات) رواه البخاري، او روح البيان يې هم تفسير په حکم او قضاً آلهي سره کړی دی او قرطبي هم ورته تفسير کړی دی.

وَلَوْ جَآءَتْهُمْ كُلُّ اٰيَةٍ حَتّٰى يَرَوُا الْعَذَابَ الْاَلِيْمَ ۝

که څه هم ودوی ته راسي هره معجزه او دليل پر صدق د نبوة ستا تر هغه پوري چي وينې دوی عذاب درد ورکونکی يا په قبر کي يا په اور کي د دوزخ او يا د غرغرې د روح يعني د زکندن په وخت کي لکه فرعون چي په وخت کي د غرق وويل آمنت بما آمنت به بنوا اسرائيل، ولا ينفع الايمان لهم في الحالات المذكورة.

فائده: جمله د "ولو جائتهم" سره د معطوف مقدر عليها په محل کي د حال ده له فاعل څخه د "لايؤمنون" تقدير د کلام داسي دی لايؤمنون لولم يجئهم (وهذا هو المعطوف عليه المقدر) ولو جائتهم كل آية يعني لايؤمنون في حال في الاحوال حتى يروا العذاب آه پر جمله مقدره دليل جمله مذکوره ده.

فَلَوْلَا كَانَتْ قَرْيَةٌ اٰمَنَتْ فَنَفَعَهَآ اِيْمَانُهَآ اِلَّا قَوْمَ يُوْنُسَ ؕ

"فلولا" حرف تخصيص دی په معنی د هلا، نحات وايي چي حرف تخصيص چي پر ماضي داخل سي لپاره د توبيخ او سرزنش وي پر ترک د فعل ماضي نحو هلا اکرمت زيداً "کانت" تامه دی په معنی د وجدت "قرية" يوه قريه له قری مهلکه وو څخه مراد له قريه څخه اهل د قريه دي "آمنت" چي دې قريې په معنی د اهل دې ايمان راوړی وي دمخه تر رؤيت د عذاب، يعني ايمان يې نه وي ځنډولی تر وخته د رؤيت د عذاب لکه فرعون، او چي ايمان يې وځنډاوه تر وخته پوري د رؤيت د عذاب الغرق "فنضعها ايمانها" نو دي فائده کړې وي دوی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ته ایمان ددوی یعني ایمان قبل رؤیت العذاب دي ودوی ته فائده کړې وي یعني عذاب موعود دي ځني پورته سوی وي "الا قوم یونس" لکن قوم ته د یونس علیه السلام یې فائده وکړه چي عذاب ځني پورته سو، نو استثناً منقطع ده.

پوه سه: چي یونس غیر منصرف دی په سبب د علمیت او عجمه. او "متی" په تشدید د تا د یونس علیه السلام د پلار نوم دی، او بعض اهل تاریخ وایي چي د مور نوم یې دی وعلی التقدیر الثاني د مور په نامه نه دی مشهور مګر یونس بن متی او عیسی بن مریم علیهما السلام.

دروښ وایي: چي مستثناً منقطع یې وبلل متابعةً لروح المعاني چي هغه د زجاج، سیبویه او کسائي رحمهم الله څخه نقل کړی دی چي دغو درو امامانو د نحاتو دا استثناً منقطع ګڼلې ده، او امام مظهري رحمه الله په ډیر تکلیف سره د استثنا د اتصال توجیه کړې ده فارجع الی تفسیره.

دروښ وایي: چي کانت یې تامه وبلل، لکن روح المعاني د بعض محققینو څخه نقل کړی دی چي کانت ناقصه دی او قریه یې اسم دی او امنت یې خبر دی.

لَمَّآ اٰمَنُوْا كَشَفْنَا عَنْهُمْ عَذَابَ الْخِزْيِ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَمَتَّعْنٰهُمْ اِلٰى حِيْنٍ ۝

چي دوی ایمان راوړی په خپل اختیار سره چي صرف علامات د حلول د عذاب الهي چي یونس علیه السلام ورته بیان کړي وه یې لیدل او ایمان یې تر وقوع د عذاب پورې نه وه ځکه اوه لکه فرعون چي ایمان یې تر وقوع د عذاب پورې ځکه ولې ؤ چي عذاب د غرق واقع سو، نو ده ایمان راوړی، نو چي دوی ایمان راوړی دمخه تر وقوع د عذاب، نو مونږ کشف لېرې کړی یعني دفع مو کړی له دوی څخه عذاب د رسوایي چي عذاب د استیصال ؤ په ژوند کي د دنیا.

پوه سه: چي د حیوٰة الدنیا معنی دا نه ده چي په قیامت کي به دوی ته عذاب ورکړل سي، بلکې مقصود بیان د حال ددوی دی، نو په اخیرت کي هم دوی لره عذاب نسته لانهم آمنوا باختیارهم قبل وقوع العذاب ومثل هذا الایمان مقبول عندالله في الدنیا والآخرة بالاجماع. او مونږ دوی ته نفع ورکړه د ژوند په چارو کي تر یو وخته پورې، یعني تر اجل معلومه پورې الذي قال الله تعالی فیه "اذا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جا اجلهم لا يستأخرون ساعة ولا يستقدمون"

دروښ وايي: چې د يونس عليه السلام او دده د قوم قصه په تفسير حسيني او روح البيان کې ډېره اوږده بيان سوې ده، لکن محي السنة بغوي رحمه الله له ابن مسعود، سعيد بن جبير او د وهب بن منبه رحمه الله داسې روايت کړی دی چې د يونس عليه السلام قوم په نينوي کې وه چې د ارض موصل يوه برخه ده (د وطن ټوم دی چې پر غاړه د دجله د بحر پروت دی) نو خدای جل جلاله يونس عليه السلام ورته راواستاوه او ده د ايمان دعوت ورکړی هغو له ايمان څخه انکار وکړی او پر کفر يې اصرار وکړی (نو د يونس عليه السلام سينه او زړه تنګ سو او داسې يې وويل اللهم ان القوم کذبوني فانزل عليهم نقمتک يا الله زما قوم زما تکذيب وکړی ته نازل کړې پر دوی ستا عذاب) نو د خدای جل جلاله له خوا يونس عليه السلام ته وويل سوه چې دوی خبر کړه چې تر درو ورځو پورې پر دوی عذاب راتلونکی دی، نو ده هم دو ی خبر کړه، وفي رواية الى اربعين ليلة اى من اول ذى الحجة الى عشرة محرم" نو د يونس عليه السلام قوم يو له بله سره وويل چې تر اوسه يونس موږ ته درواغ نه دي ويلي، نو تاسې انتظار وکړئ که يونس درې يمه شپه پر کور ؤ، نو شی نسته يعني عذاب نسته او که درې يمه شپه نه ؤ په وطن کې خو پوه سئ چې عذاب سهار راتلونکی دی، او يونس عليه السلام درې يمه شپه پر نيمايي شپه له کوره وتلی ؤ او د يوه غره په غار کې يې ځان پټ کړی ؤ، درې يمه ورځ چې سوه د عذاب الهي علامې معلومې سوې يعني پر اسمان توره وريځ پيدا سوه چې ډېره خوفناکه وه او سخت دود پکښې ؤ، نو دا وريځ راکښته سوه او ددوی ښار يې په منځ کې راغلی، نو ددوی يقين سو چې عذاب د خدای جل جلاله راغلی، نو دوی په يونس عليه السلام پسې وګرځېدله خو هغه يې پيدا نه کړی، وفي رواية چې دوی ورغله ځپل باچاه ته چې يوه لار پيدا کړه چې له عذاب الهي څخه خلاص سو او د ټولو په زړونو کې توبه عن الکفر پيدا سوه، ملک يو هوشيار سړی ؤ خلګو ته يې وويل چې يونس عليه السلام که نسته نو د يونس عليه السلام رب چې ده موږ ته د هغه دعوت راکوی هغو سته، باچاه وويل چې اوس بېله توبې پر کفر او بېله عجز او زاريو او ژړا په دربار کې د خدای

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بله چاره نسته، نو ملک امر وکړی چې تولو صحراً ته درووځئ. ښځې سره د رضیع عیال او غواوي سره د خپلو ګیلګیانو وهکذا مېږي او وریان او هره مور له خپل عیال څخه جلا کړئ، که انسانان وي او که حیوانان وي، تاچې زمونږ د ژړا او ددې حیواناتو د نارو آواز تر اسمانه پورې ورسېږي او په صدق او اخلاص سره ایمان راوړئ عین ممکنه ده چې دا عذاب به ارحم الراحمین دفع کړي.

تا نه گرید آبر کی خندد چمن ..... تا نگرید طفل کی جوشد لبن
هر کجا آبر روان سبزه شود ..... هر کجا اشک روان رحمت شود

راوي وایي چې دوی تولو ځیږه کالي اغوستي وه واظهروا الایمان والتوبة واخلصوا النیة، او دوی تولو وویل آمنا بما جاً به یونس فرحمهم ربهم واستجاب دعائهم وکشف عنهم العذاب، وکان یوم عاشوراً، وجمعه ایضاً. په تفسیر کواشي کي وایي چې دوی داسي دعاً کوله اللهم ان ذنوبنا قد عظمت وجلت وانت اعظم منها واجل..... ابیات

چاره ما ساز که بی یا وریم ..... گر تو برانی به که رو آوریم
بی طریم از همه سازنده ..... جز تو ندا ریم نوازنده
پیش تو گربی سرو پا آمدیم ..... هم با مید تو خدا آمدیم

دروېش وایي: چې دا خو د قوم حال ؤ، راسئ چې اوس د یونس علیه السلام حال وڅېړو راوي وایي چې وروسته تر درو ورځو یا تر څلوېښتو ورځو په یوه روایت سره، یونس علیه السلام له غاړه راووتی غوښتل یې چې د قوم حال معلوم کړي، د یو چا څخه چې یې پوښتنه وکړه هغه ورته وویل چې خیریت دی هیڅ عذاب نه دی راغلی بلکې عذاب په رحمت بدل سو، نور صورت حال یې پوره نه ورته ووایه، نو یونس علیه السلام ډېر پرېشان سو او د ځان سره یې وویل چې ما خو دوی له عذابه بهرول عذاب په رحمت بدل سو، اوس که زه دې بنار ته ورسم، نو دوی به نور او بنه زما تکذیب وکړي، یعني دوی به وایي چې بنه تا خویل چې درې ورځې وروسته یا څلوېښت ورځې وروسته پر تاسي عذاب نازلېږي کوم دی چې عذاب نازل سو، نو پر خپل سر روان سو مغاضباً لقومه، نو دریاب ته ورغلی خلګ په کښتی کي سپاره وه، نو کښتی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والا وپېژندی چې یونس ﷺ دی نو یې بې اجرته او مزدورۍ په کښتۍ کې سپور کړی، نو کښتۍ چې د دریاب منځ ته ورسېدله او د دریاب په څپو داخله سوه کښتۍ ودرېدله نه پر مخ تله نه پر شا، نو کښتۍ والا وویل چې زمونږ کښتۍ ته یو شان او حال پېښ سو، یونس ﷺ ورته وویل چې په شان پوه سوم "رکبها رجل ذو خطیئة عظیمة، قالوا ومن هو! قال انا" نو تاسي ما دریاب ته وه غورځوئ چې تاسي به سالم پاته سئ او کښتۍ به روانه سي، کښتۍ والو ورته وویل چې مونږ تا دریاب ته نه غورځوو تر څو چې مونږ ته حال معلوم نه سي ستا په شان کې، نو باره یې قرعه اندازي وکړه دریې واره، نو دریې سره واره قرعه د یونس ﷺ وختله او یو ډېر لوی ماهی د کښتۍ پای ته ولاړ ؤ خوله یې واړه نیولې وه د خدای ﷻ وه امر ته منتظر ؤ، یونس ﷺ وه دوی ته وویل چې قسم په خدای ﷻ دی چې یا به تاسي ټوله هلاک کړئ یا به ما دریاب ته غورځوئ، نو مجبوراً کښتۍ والو یونس ﷺ ودریاب ته وغورځاوه او دوی ولاړل، نو ماهي سره د کالو یونس ﷺ تېر کړی کښتۍ ولاړه، او د ابن عباس ﷺ په رایت کې داسي راغلي دي چې دا کښتۍ په بحر روم کې وه، یونس ﷺ چې پکښې سپور سو او کښتۍ د دریاب منځ ته ورسېدله ودرېدله کښتۍ والو وویل چې زمونږ د کښتۍ دا عادت دی چې عبد آبق عن المولی پکښې سپور وي دا رفتار نه کوي، نو زمونږ قانون دا دی چې په قرعه اندازۍ هغه سړی معلومه وو او دریاب ته یې غورځوو، ولې تر دې چې ټوله کښتۍ والا غرقېږي د یوه نفر غورځول وه دریاب ته اولی او بهتر دی، نو دریې واره یې قرعه اندازي وکړه، دریې سره واره قرعه د یونس ﷺ وختله، نو یونس ولاړ سو او وه یې ویل انا العبد الآبق من المولی، یعني بېله امره د خدای ﷻ زه له قوم څخه فرار سوم، نو په خپله یې ځان ودریاب ته وغورځاوه او ماهي ته خدای ﷻ الهام وکړی چې دا سړی یعني یونس ﷺ ستا غړا نه ده بلکې ستا نس دده لپاره بندي خانه ده.

دروښ وایي: چې په دې کې اختلاف دی چې څو ورځې یونس ﷺ د ماهي په نس کې ؤ، مشهوره خو داده چې څلوېښت ورځې په نس کې د ماهي ؤ لکن شعبي رحمه الله وایي چې د څانښت په وخت کې د ورځې د عاشورا چې د جمعې ورځ هم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وه ماهي تېر کړی او هم په دغه ورځ د مازدیګر په وخت کي ماهي پر وچه مځکه قی کړی، په هر صورت د یونس ﷺ ذکر د ماهي په نس کي دا وُ "لا اله الا انت سبحانک اني کنت من الظالمین" کما سیجئ في موضع آخر من هذا التفسیر ان شاء الله تعالی.

دروبش وایي: چي یونس ﷺ چي ماهي پر مځکه قی کړی بدن یې داسي نازک سوی وُ لکه د چرګي د چیچي چي له بنکو څخه خالي وي، له دې څخه داسي معلومېږي چي یونس ﷺ د ماهي په نس کي څلوېښت ورځي تېري کړي دي کما ذهب الیه ابن مسعود رضي الله عنه فما قال الشعبي رحمه الله ضعیف، نوره قصه په تفسیر کي ددې آیت "فانبتنا علیه شجرة من یقطین" به راسي ان شاء الله تعالی.

فضائل یوم عاشوراً: (۱) خدای ﷻ د یونس ﷺ له قومه څخه د عاشوراً په ورځ عذاب پورته کړی (۲) یونس ﷺ چي ماهي قی کړی د عاشوراً ورځ وه (۳) په روضة الفائق کي وایي چي د عاشوراً په ورځ د زمزم د څاه اوبه خدای ﷻ په خپلو تولو اوبو ګډوي، نو که څوک په ورځ د عاشوراً غسل وکړي په توله کال کي به خوفناکه مرض نه سي ورپېښ (۴) په عقد الدرر کي وایي چي د عاشوراً په ورځ د هر خیر د کار ثواب ډېر دی تر نورو ورځو من الصدقة والصلوة وذکر الله الی غیر ذالک. او د عاشوراً ورځ چي لسم د محرم د میاشتي ده د ماتم ورځ دي نه ځني جوړوي لکه شیعه ګان چي ځیګرونه ټکوي او بغاري وهي بلکي ځانونه په چړو وهي! او نه دي د عاشوراً ورځ د اختر ورځ ګرځوي لکه روافض چي خوشالي پکښي کوي، چي دا توله بدعت سیئه دي.

وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ

او که اراده وکړي خدای ﷻ ستا یا محمد ﷺ یعني ددې چي توله من في الارض کافران دي مسلمانان سي.

پوه سه: چي دا مفعول محذوف د شاء وُ ودل علیه جواب "لو" وهو "لآمن آه"

لَآمَنَ مَنْ فِي الْأَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِيعًا

هر آئینه به ایمان راوړی وای تولو چي یو فرد به نه وای پاته سوی جمیعا تاکید ده کلهم دی من قبیل قوله تعالی ﴿فسجد الملائکة کلهم اجمعون﴾.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې علامه بغدادي" السيد محمود الآويسي رحمه الله په تفسير روح المعاني کې وايې ص ۱۹۳ في تفسير هذه الاية" والجمهور على انه سبحانه تعالى لايشأ ايمان الكل لكونه مخالفا للحكمة چې پر هغه باندې اساس د شرع بنا دی" او ده ويلي دی چې دا آيت حجت دی پر معتزله وو چې دوی وايې چې خدای ﷻ مشيت او اراده د ايمان د ټولو څخه لري لکن ايمان نه دی راوړی مګر بعض کسانو او دوی وايې چې مشيت آلهي دوه قسمه دی يو تفويضي يعنې چې تفويض وبندګانو ته کوي يعنې که په خپل اختيار ايمان راوړي او که نه د دې مشيت څخه تخلف روا دی او بل قسري يعنې جبراً بلااختيار من العبد او د دې مشيت څخه تخلف نه دی روا او دوی دا آيت پر مشيت قسری حمل کړی دی او داسې يې ترجمه کوي که د خدای اراده سې وايمان قسراً او الجاءً د انس او جن لآمنوا کلهم لکنه سبحانه لم يشأ ذالک بل امرهم بالايمان وخلق فيهم اختيارا للايمان وضده ای الكفر وفوض اليهم ﴿فمن شأ فليؤمن ومن شأ فليكفر﴾ انتهى مع الترجمه او روح البيان په ص ۸۹ په تفسير کې د دې آيت هم ورته بيان کړی دی او تفسير مظهري په ص ۵۹ کې هم موافق بيان کړی دی.

سوال: ستا خو صفحه واړه حوالې نه وي عادت په دې آيت کې دي ولې صفحه واړه حوالې وکړې؟

جواب: هو صحيح ده ستا خبره لکن ما د ډېرو ملايانو څخه اورېدلي دي او يا د هغو شاګردانو ماته ويلي دي چې دوی د دې آيت ترجمه داسې کوي چې که خدای ﷻ په زوره مسلمانانه ولای خلګ نو به ټولو ايمان راوړی وای. ولې چې د خدای د مشيت څوک مانع نه سي کېدای" انتهى قول هولاء المفسرين للقرآن العظيم في شهر او شهرين" واربعين يوماً".

دروښ وايي: چې داسې ترجمه څو عين مذهب د معتزله وو دی كما مر آنفا" مقوله" نه هر که سر بتراشد قلندري داند" انجير خوردن نه کار هر مرغيست.

أَفَأَنْتَ تُكْرِهُ النَّاسَ حَتَّىٰ يَكُونُوا مُؤْمِنِينَ ﴿٩٩﴾

آيا ته يا محمد ﷺ مجبوره کوې کافران حتى چې دوی ايمان راوړي يعنې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خداى ﷻ مشيت د ايمان د دوى نه دى كړى "همزه لپاره د انكار دى" پر دغسي كار، ولي چې د خداى ﷻ اراده نه وي د هغه وجود محال دى فضل تر دې چې نه دي باعثه كوې هغه كافران چې خداى ﷻ اراده د ايمان د هغو نه لري.

پوه سه: چې عليه الصلوة والسلام دهر حريص وو پر ايمان د ټولو كافرانو، نو خداى ﷻ عليه الصلوة والسلام په دې آيت كې دى ﷺ خبر كړى چې ايمان نه راوړي مگر هغه كسان چې په علم ازلي كې د خداى ﷻ دوى ته سعادت نوشته وي نه هغه كسان چې په علم ازلي كې دوى اشقيا وي، نو د هغو په شان كې ځگړ خونه مه گرځه ﴿ما شاء الله كان وما لم يشأ لم يكن﴾ نو په دې آيت كې يو قسم تسلي د عليه الصلوة والسلام ته وركوي.

دروښ وايي: چې سيد شريف رحمه الله په شرح كې د مفتاح وايي چې مقصود د دې قوله د خداى ﷻ ﴿افانت تكره الناس﴾ دا دي انكار دى د صدور څخه د دغه فعل چې اكراه ده د مخاطب څخه چې عليه الصلوة والسلام دى" لا انكار كونه اى الرسول ﷺ هو الفاعل مع تقرر اصل الفعل چې اكراه ده.

پوه سه: چې حسين كاشفي رحمه الله په تفسير حسيني كې وايي" اين آيت منسوخ است بآيت قتال انتهى لكن په تفسير تبيان كې وايي چې صحيح داده چې منسوخ نه دى ولي چې اكراه پر ايمان خو نه ده ممكنه لان الايمان عمل القلب دون اللسان حتى يصح الاكراه عليه.

وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ اَنْ تُؤْمِنَ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ

نه ده ثابت او مستقيم هيڅ نفس لره (يعني چې نكره په سياق كې د نفي راغلې ده چې ايمان د راوړي په هيڅ حال كې د احوالو) نو استثنا مفرغه ده) مگر په حال كې د اذن الله (يعني ارادته تعالى ومشيته) يعني نو ته يا رسول الله ډير اهتمام په شان كې د ايمان د ټولو كافرانو مه كوه" حافظ شيرازي رحمه الله چه خوش فرموده درين مضمون:

رضا بداده بده وزجبين گره بكشاى ..... كه برمن وتو دراختيار نه كشاده است

يعني اختيار دردست خدا است ماوشما را اختيار آنچه ميخواهم نه كشاده است

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَيَجْعَلُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِيْنَ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿١٠٠﴾

او خدای ﷻ گرځوي يعني مسلطوي كفر.

بوه سه: چې رجس مرداری، ته وايي نو چونکه كفر لويه مرداري قلبي وه، نو يې تعبير په رجس ځندي وكړی) پر هغه كسانو چې پوهنه نه لري چې حق او باطل سره جلا كړي او نظر فكر په آياتو كې د خدای او معجزاتو كې نه وهي تا چې هدايت دي پيدا كړي نو زړونه يې تر طبع او رين لاندي راغلي دي" كريمه ﴿طبع الله على قلوبهم﴾ كريمه ﴿كلا بل ران على قلوبهم﴾.

قُلِ انْظُرُوْا مَاذَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ

ته ورته ووايه يا محمد ﷺ كفارو ته وگورئ په نظر د عبرت اودقت سره چې څه عجائب مخلوقات خدای پيدا كړي دي په اسمانو كې يعني لمر، سپوږمۍ، ستوري او حركات د دوی او په مځكه كې من الجبال والبحار والاشجار والنباتات والمعادن والحيوانات الناطقه وغيرها على صور مختلفة وخواص علحدة، والعيون والزلازل الدالة على وجود الخالق لها متوحد بجلال ذاته وكمال صفاته.

قال السيد شيرازي قدس سره

برگ درختان سبز در نظر هوشيار .....هر وقت دفتريست معرفت كردگار

وَمَا تُغْنِي الْاٰيٰتُ وَالنُّذُرُ عَنْ قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ﴿١٠١﴾

او فائده نه كوي آيات يعني آيات القرآن يا معجزات" او رسولان جمع د نذير ده چې دوی د عذاب څخه د خدای بېره وي هغه قوم ته چې دوی ايمان نه راوړي په علم كې د خدای ﷻ، نو پر دې تقدير كلمه د ما نافيه ده او بعض مفسرين وايي چې كلمه د ما د پاره د استفهام انكاري ده والمآل واحد كما لا يخفى.

فَهَلْ يَنْتَظِرُوْنَ اِلَّا مِثْلَ اَيَّامِ الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ

نو انتظار نه لري كفار د مكې چې ايمان نه راوړي، مگر نه د مثل د واقعاتو يعني د عذابو (نو ايام په معنى د وقائعو دی) د هغو كسانو د مصرين پر كفر چې تېر سوي تر دوی د مخه يعني كفار د امم ماضيه وو" لكه فرعون" نمرود" وغيرهما.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قُلْ فَانْتَظِرُوْٓا اِنِّیْ مَعَكُمْ مِّنَ الْمُنْتَظِرِیْنَ۝

تاسي انتظار وکړئ یا کفار مکه، زه هم ستاسي سره د انتظار کونکي څخه یم ستاسي د عذاب " وقد وقع العذاب علیهم في بدر" والعاقبة للمتقین کما هو العادة الالٰهیة في اعلاء الدین" في کل وقت وزمان وحین" والحمد لله رب العالمین.

ثُمَّ نُنَجِّیْ رُسُلَنَا وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا كَذٰلِكَ ۚ

پوه سه: چي ننجي آه حکایت د حال ماضیه دی والمعنی نجینا، او ثم عطف دی پر محذوف چي مثل ایام الاولین دلالت پر کوي" کانه قیل نهلک الامم ثم ننجي رسلنا آه "کذالک" ای مثل ذالک الانجاء.

فائده: معطوف علیه محذوف هم حکایت د حال ماضیه دی والمراد اهلکنا ومعنی الایة وروسته تر هلاک د امم ماضیه وو مونږ نجات ورکوو یعني عند نزول العذاب ورسلانو زمونږ او هغه کسانو ته چي ایمان یې راوړی وي.

حَقًّا عَلَیْنَا نُنْجِ الْمُؤْمِنِیْنَ۝

حق دی پر مونږ باندي چي نجاة به ورکوو مؤمنانو ته.

پوه سه: چي رسل یې دلته نه کړه ذکر لعدم الحاجة الیه لان نجاة الرسل معلوم من انجاء المؤمنین بالطریق الاولی.

فائده: حقا منصوب دی په فعل مقدر سره ای حق حقا اوداجمله معترضه ده په مابین کي د فعل چي ننجي دی او د معمول د هغه چي کذالک دی یعني مفعول مطلق دی.

قُلْ یٰٓاَیُّهَا النَّاسُ اِنْ كُنْتُمْ فِیْ شَكٍّ مِّنْ دِیْنِیْ

ته وایه ای خلګو یعني اهل مکه من المشرکین. که په شک کي زما د دین څخه یاست چي دا دین به صحیح وي او که نه یعني توحید ولي دوی توحید او نبوة د انسان بعید باله او منکره وه لکن چي معجزات باهرات د اشرف البریات ﷺ به یې ولیدي حیران به سوه او په زړو کي انکار په شک بدل سو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَلَآ أَعْبُدُ الَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ

زه خو عبادت نه کوم د هغو شیانو چې تاسي یې عبادت کوئ ماسوی د خدای ﷻ څخه چې عبارت د بتانو څخه دي چې دوی به په خپلو لاسو تراشل او جوړول به یې او وروسته به یې سجدې ورته کولې او حاجات به یې څخه غوښتل: ع" بدین عقل ودانش بباید گریست.

وَلَٰكِنْ أَعْبُدُ اللَّهَ الَّذِي يَتَوَفَّاكُمْ ۖ وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٠٤﴾

لکن زه عبادت کوم د هغه خدای ﷻ چې تاسي به وژني یعني بیا به مو ژوندي کوي او جزاً د کفر به درکوي.

سوال: وفات یې ذکر کړی او ورسته یې حیوة ذکر کړی لان التوفی متیقن عندهم واما الحیوة بعد الموت فهم منکرون له وکذا ما یترتب علی الحیوة بعد البعث من العذاب فی النار" او زه امر کړه سوې یم یعني د جانب د خدای ﷻ چې زه وګرځم د مؤمنینو څخه بتوحید الله وبالبعث بعد الموت" چې عقل هم دلالت پر کوي او په نقل د ټولو کتب سماویه وو هم ثابت دي.

فائده: جزاً د ان کنتم آه محذوفه او فلا اعبد آه په ځای کې د جزاً راوړی دی والتقدیر" ان کنتم فی شک فازیلو ذالک الشک بالتفکر فی دینی وهو هذا لا اعبد الحجارة المخلوقة لانها لا تنفع ولا تضر واعبد الله الخالق القادر النافع الضار.

وَأَنْ أَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا ۖ

دا جمله عطف ده پر "ان اکون" وترجمة الآیة: زه امر سوی یم چې زه پر ایمان یم او پر استقامت پر دین اسلام او اداً د فرائض دینیه به کوم او د ګنهو څخه به ځان ساتم" او حنیفا حال دی د دینه څخه ومعنی الحنیف المائل من الادیان الباطلة کالشرک الی الدین الحق وهو الاسلام.

وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿١٠٥﴾

عطف دی پر اقم من عطف الانشاً بالنهي علی الانشاً بالامر والمعنی زه امر سوی یم په دې سره چې د مشرکین د ډلې څخه به نه ګرځم" کذا قال البیضاوي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رحمه الله وتبعه المظهري رحمه الله، او ابن الشيخ رحمه الله وايي چي "ان اقم وجهك" کنايه ده د توجه څخه د نفس بالكلية الى عبادة الله تعالى والاعراض عما سواه ولي يو څوک چي ويو شي ته ګوري چي ښي ووينم نو دي خپل مخ مقابل وهغه ته وګرځوي او يمينا او شمالا دي نه ګوري" انتهى او په تفسير کواشي کي وايي والمعنى كن مؤمنا واخلص عملك لله آه " بيت : عبادت باخلاص نيت نكوست وګر نه چه آيد زبي مغز پوست.

وَلَا تَدْعُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ ۚ

او ته عبادت مه کوه د هغو شيانو چي بتان دي ماسوى د خداى جل جلاله څخه چي نه يې نفع دررسېږي که يې ته عبادت وکړې او نه يې ضرر دررسېږي که يې ته عبادت نه وکړې" لانها جمادات لا قدرت لها على شئ من النفع والضرر لاحد.

پوه سه: چي دا جمله عطف تفسير د لقوله ولا تكونن آه.

فَاِنْ فَعَلْتَ فَاِنَّكَ اِذًا مِّنَ الظّٰلِمِيْنَ ۝

او که ته بالفرض والتقدير داغسي وکړې يعني عبادت د ما لاينفعك ولا يضرك وکړې، نو ته په دغه وقت د ظالمانو د ډلې څخه يې، ولي چي ظلم وضع د شي ده لكه عبادت بېله خپله خايه چي خداى جل جلاله وو.

پوه سه: چي انک اذا آه جواب او جزا د شرط دى يعني ان فعلت آه.

فائده: ان شرطيه په محالاتو شيانو کي هم استعمال روا دى نحو ان كان زيد حمارا فهو ناهق" فلا تعجب لاستعماله فى الممكنات البعيدة غاية البعد القريب الى الاستحالة فافهم" والفائدة في خطابه ﷺ بذالك تحذير الناس عن الشرك" اعلم ان الرياء اخت الشرك الجلي وللاخت نصف نصيب الاخ فللاخ وهو الشرك الجلي حرمان الثواب والتابيد فى النار وللاخت وهى الرياء الحرمات من الثواب في افعال الخير فتدبر.

وَاِنْ يَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهٗۤ اِلَّا هُوَ ۚ وَاِنْ يُّرِدْكَ بِخَيْرٍ فَلَا رَآدَّ لِفَضْلِهٖ ۚ

كه تاته ورسوي خداى جل جلاله يو ضرر لكه مرض او فقر او يا بلا نو منع او دفع كونكى نسته د هغه خبر بېله خدايه، او كه تاته اراده وکړي خداى جل جلاله د خير من

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خيرات الدنيا والآخرة. نو ردونکی د خير د فضل د خدای ﷻ هيڅ څوک نـــي کيدای فضلا عن الاصنام التي يحذرونک المشرکون بها.

پوه سه: چي د خير سره يې لفظ فضل ووايه اشارة ودې ته ده چي د خير رسول د خدای ﷻ تفضل او احسان دی هيڅ څوک پر خدای ﷻ د هيڅ شي حق نه لري.

فائده: د ضر سره يې لفظ د مس ووايه چي ادنی اصابت ته وايي او د خير سره يې يردک ووايه د پاره د دې چي اصابة الضر قليل بالنسبة الى الخير.

يُصِيبُ بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۚ وَهُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٠٧﴾

رسول کوي خدای ﷻ په هر واحد د شر او خير (يعني ضمير د به راجع دی وشر او خير ته په تاويل د کل واحد ولهذا افرد الضمير في به) وهغه چاته چي د خدای ﷻ اراده ورته وسي د بندګانو څخه د خدای ﷻ او خدای بخښونکی د ګنهو دی يعني و ګناه ګارانو ته د بندګانو او مهربانه دی چي فورا يې په ګناه نه نسي بلکه مهلت د توبې ورکوي او پې توبې هم من يشأ بخښي.

پوه سه: چي بايد بندګان اسباب د رحمت د خدای ﷻ په ځان کي پيدا کړي وهي الطاعات" او په سبب د عصيان نا اميده د مغفرت څخه د خدای ﷻ نـــي لکن د عذاب څخه دي بېرېږي وهو المعنی" بقوله الايمان بين الخوف والرجا" ابو نعيم د علی ﷺ څخه داسي روايت کړی دی، چي خدای ﷻ وحي وکړې ويو نبي ته د انبياؤ د بني اسرائيلو چي ته ووايه واهل طاعت ته ستا د امت چي تاسي په خپل عبادت مه غره کېږي او تکيه پر خپلو طاعاتو مه کوئ زه نه دروم يو بنده و حساب نه ده ورځي د قيامت چي زما اراده و عذاب ورته وي مګر نه زه يې په عذابوم. او وه وايه وه اهل معصيت ته ستا د امت چي تاسي مه ناميده کېږئ په سبب د معصيت زما د رحمت څخه فاني اغفر الذنوب العظيمة ولا ابالي يعني ان شئت، نو ددې آيت نتيجه داده چي خدای ﷻ قطع کړه لار د رغبت او رهبت الا اليه.

قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ ۖ

ته ووايه ای محمد ﷺ ای اهل مکة ته، په تحقيق تاسي ته راغلی علم حق چي د واقع سره برابر دی يعني چي علم په توحيد د خدای ﷻ دی او پر صفاتو د علم او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قدرت او خلق او اراده وغیر ذالک دی او علم پر احوال د مبدأ او معاد دي په قرآن کي چي پر ژبه د محمد ﷺ دی "من ربکم" له جانبه د تربیه کونکي ستاسي چي الله ﷻ دی، نو تاسي لره په ورځ د قیامت عذر د جهل نه سي ویلای او نه سئ ویلای هلا ارسلت الینا رسولاً آه، او حقیقت د قرآن په اعجازو د قرآن ثابت دی. کریمه: ان کنتم في ریب مما نزلنا علی عبدنا فأتوا بسورة من مثله الی اخیر الآیة"

فَمَنِ اهْتَدٰى فَاِنَّمَا يَهْتَدِيْ لِنَفْسِهٖ ۚ

که څوک لار پیدا کړي یعني قرآن کریم نازل من عند الله وبولي او رسول کریم ﷺ په رسالت ومني نو د هغه سړي نفع او هدایت في الدنیا والآخرة وده ته راجع ده په دنیا معصوم الدم والمال وي او په اخرت کي به محفوظ من النار وي.

وَمَنْ ضَلَّ فَاِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ۭ وَمَآ اَنَا عَلَيْكُمْ بِوَكِيْلٍ ۝

او که څوک ګمراه سي او د قرآن او د علیه الصلوٰة والسلام له رسالت څخه انکار وکړي عناداً نو د ضلال ضرر وده ته راجع دی په دنیا او اخرت کي او نه یم زه پر تاسي وکیل د خدای ﷻ له خوا څخه یعني ستاسي د عذاب وغیره کار ماته خدای ﷻ نه دی سپارلی.

وَاتَّبِعْ مَا يُوْحٰٓى اِلَيْكَ وَاصْبِرْ حَتّٰى يَحْكُمَ اللّٰهُ ۚ وَهُوَ خَيْرُ الْحٰكِمِيْنَ ۝

او ته متابعت کوه یا محمد د هغه قرآن چي تا ته وحي کړی سوی دی یعني من عند الله یعني امتثال د اوامرو د قرآن کوه او له منهیاتو څخه یې ځان ساته او صبر کوه پر ازار د مشرکانو د مکې قولاً وفعلاً تر هغو چي حکم کوي خدای ﷻ تا ته د قتال د کفارو او له بعضو کافرانو څخه جزیه اخستل او خدای ﷻ خیر د حاکمانو دی اذ لا خطافي حکمه ولي چي خدای ﷻ خبر دی په پټو کارو د بندګانو لکه په لڅو کارو ددوی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُوْرَةُ هُوْدٍ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ مِائَةٌ وَثَلٰثٌ وَعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَعَشَرُ رُكُوْعَاتٍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورت هود يو سل درويشت آيته دى. او په مكه كي نازل سوى دى الا قوله اقم الصلوة طرفى النهار الآية چي دا په مدينه كي نازل سوى دى.

الٓرٰ كِتٰبٌ اُحْكِمَتْ اٰيٰتُهٗ

پوه سه: چي "الٓرٰ" لكه نور مقطعات قرآنيه "الٓمٓ، الٓمٓصٓ طٰهٰ وغيرها دى يعني له متشابهاتو قرآنيه څخه دى التي لا يعلم تأويلها الا الله كما هو مذهب السلف مورٍ به وايو والله اعلم بمراده بذالك. نو پر دې تقدير كتاب خبر دى د مبتدأ محذوفي اى هذا كتاب او هذا اشاره وقرآن ته ده وان لم ينته الى اتمام بعد لان لفظ القرآن يطلق على الكل والبعض كلفظ دى "الكتاب" او خليل او سيبويه او بعض نور علماً رحمهم الله وايي چي "الٓمٓ" ددغه سورت نوم دى، او سدي او كلبي وايي چي نوم د قرآن دى، نو پر دې تقدير "الٓرٰ" مرفوع محلاً مبتدأ ده كتاب يې خبر دى، او لفظ د كتاب مصدر دى په معنى د مفعول اى مكتوب اى ما من شانه ان يكتب في المصاحف او مكتوب في اللوح المحفوظ "احكمت آياته" صفت د كتاب دى والمعنى قرآن محكم كړه سوى دى نه په لفظ نه په معنى كي نقصان سته او يا په حجج او دلائلو سره د اعجاز محكم كړه سوى دى او كه "الٓرٰ" نوم د سورت سي نو يې معنى داده چي دا سورت له نسخ څخه محفوظ دى ولي چي مفسرين رحمهم الله وايي چي په سورت هود كي هيڅ حكم منسوخ نسته.

ثُمَّ فُصِّلَتْ مِنْ لَّدُنْ حَكِيْمٍ خَبِيْرٍ ۙ

يعني آيات يې بيان كړه سوى دى په عقائدو او په احكامو او په مواعظو او اخبارو، او روح البيان او مظهري او روح المعاني وايي زينت آياته بالفوائد كما تزين القلائد (غارګي) بالفرائد (په دريكدانه سره جمع د فريدة ده لانفرادها في الصدف او في ظرف الجوهري) له جانبه څخه د هغه خداى جل جلاله دى چي په هر شي حكمت او په هر شي خبر او علم لري.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې "من لدن آه" صفت ده کتاب دی یا خبر بعد الخبر د هذا محذوف دی او یا متعلق په احکمت یا په فصلت پورې دی.

أَلَّا تَعْبُدُوٓا۟ إِلَّا ٱللَّهَ ۚ

په تقدیر د لام ای لئلا تعبدوا چې تاسي عبادت ونه کړئ د غیر د خدای او یا په تقدیر د باً ای بان لاتعبدوا. والمعنی حاکم بان لاتعبدوا الا الله او یا په تقدیر د في ظرفیه ای في ذالک الکتاب ان لا تعبدوا الا الله. او بعض مفسران وایي چې ان تعبدوا منصوب دی محلاً علی الاغراً یعني باعثه کول پر یو کار. یعني الزموا ان لاتعبدوا الا الله فتامل والکل صحیح والمآل الکل واحد کما لا یخفی علی اولی النهی.

إِنَّنِى لَكُم مِّنْهُ نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ ۝

په تحقیق زه تاسي لره د خدای ﷻ له خوا څخه ډیرونکي یم په عذاب سره پر شرک او عصیان، او زیږی کونکی یم په ثواب او جنت سره وه اهل ایمان او توحید او طاعت ته.

پوه سه: چې نذیر یې تر بشیر دمخه کړی لکثرة اهل الانذار من اهل البشارة في اکثر الازمنة، او لان التخلیة بالخاً المعجمة مقدمة من التحلیة بالحاً المهملة کما هو القانون.

وَأَنِ ٱسْتَغْفِرُوا۟ رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوٓا۟ إِلَيْهِ

پوه سه: چې دا جمله عطف ده پر "الا تعبدوا" باندې یعني طلب د بخښني وکړئ له خدای ﷻ څخه د کړیو ګنهو څخه، بیا رجوع وکړئ په عبادت سره وخدای ﷻ ته، او فراً نحوي وایي چې ثم په معنی د واو دی او توبه او استغفار سره لازم او ملزوم دی، او حدادي په خپل تفسیر کي وایي چې استغفار توبه نه ده باجماع اهل الملة مالم یقل معه تبت واسئل ولا اعود الیه ابداً فاغفرلي یارب.

يُمَتِّعْكُم مَّتَٰعًا حَسَنًا إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى

پوه سه: چې "متاعاً" مفعول مطلق دی د "یمتعکم" زوائد حروف یې ځني حذف کړي دي لان یمتعکم من باب التفعیل کما في قوله انبته نباتاً حسناً والمعنی که

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تاسي دغسي وکړئ يعني استغفروا الخ توبه خدای ﷻ ته وکاږئ تاسي ته به عيش مرضي درکړي چي ستاسي څخه به هيڅ د خوشالی شی وه نه سپموي. او د کدوراتو څخه د دنيا به شی پر تاسي را نه ولي تر اجل مسمی پوري د مرګ.

دروبش وايي: چي دلته دوه سواله دي. اول دا چي په حديث شريف کي راغلي دي "الدنيا سجن المؤمن وجنة الكافر" وقوله عليه الصلوٰة والسلام اشد الناس بلاً الانبياً ثم الاولياً ثم الامثل فالامثل ونحوهما يدل على ان نصيب العبد المطيع عدم الراحة في الدنيا فكيف يكون في امن وسعة الى وقت الموت؟

والجواب: هغه څوک چي زړه يې مربوط په خدای ﷻ پوري وي او په قضاً د خدای ﷻ په حق کي ددې راضي وي د هغه زړه به په راحت کي وي که څه هم بعض شدائد فقر او مسکنت او مرض وغير ذالک ورته متوجه وي لان ضرب الحبيب زبيب مقوله مسلمة عند اهل العقل. او د هر چا زړه چي په اسبابو پوري د دنيا اخته وي هغه همېشه بېرېږي چي محبوبه دنيا راڅخه ولاړه نه سي او مضطرب وي، او بل ځواب دادی چي دنيا چي سجن المؤمن ګڼل سوې ده نظر وهغو نعمتو ته ده چي خدای پاک يې په اخرت کي مؤمن ته ورکوي من الجنة ونعيمها والغلمان وحورها.

دروبش وايي: چي مؤمن چي حال د عيش دنيوي د آنحضرت ﷺ په غور مطالعه کړي نو په دې جوابو به ښه پوه سي، والثاني چي اجل چي خدای ﷻ مقيد په مسمی سره کړی ددې څخه داسي فهمېږي چي بل نابيره هم سته لکه کعبي چي وايي چي مقتول لره دوه اجله وي يو اجل د قتل دی او بل اجل د موت دی او کعبي وايي چي مقتول که چا نه وای وژلی تر اجل الموت پوري به څو کاله نور ژوندی وای، نو دا قول د کعبي رحمه الله صحيح دی او که څرنګه؟

الجواب: اجل يو دی په نېز د اهل السنة والجماعة او مقتول مات باجله المسمی وتحقيق الجواب چي ارزاق او اعمار که څه هم متعلق په اعمالو او طاعاتو سره دی کالاستغفار والتوبة في هذه الآية، وكصلة الرحم في قوله ﷺ الرحم تزيد في العمر" لكنها مسماة ومعلومة بالاضافة الى كل احد بناء على علمه تعالى في

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الازل باشتغال العبد بما يزيد في العمر من القرب والطاعات والاستغفار وصلة الرحم فلا يثبت تعدد الاجل كذا قال غير واحد من المفسرين المحققين.

وَيُؤْتِ كُلَّ ذِي فَضْلٍ فَضْلَهٗ ؕ

او ورکوي خدای پاک هر خاوند ته فضل په عبادت کي تر بل چا ثواب د فضل دده په دنیا کي مزید توفیق ورکوي او آرام د زړه او په ذکر کي د خدای ﷻ او په طاعت کي لذت او خوشالي وینې کما هو مجرب عند اولیاء الله الکرام رحمهم الله

بر فلک برتر بود اسرار او ..... شیئا لله شیئا لله کار او

او په اخرت کي بکثرة الثواب مدارج القرب الی الله سبحانه وتعالی.

وَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ كَبِيْرٍ ۝

پوه سه: چي اصل د "تولوا" تتولوا ؤ، یوه تا یې ځني حذف کړه. والمعنی که تاسي اعراض وکړئ د توحید او د عبادت د خدای ﷻ نو زه ډیر ډیر پر تاسي باندې له عذاب څخه د لوی ورځي یعني یوم القیامة الذي طولها خمسون الف سنة کما ورد في الآحادیث الصحیحة.

اِلَى اللّٰهِ مَرْجِعُكُمْ ۚ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝

خدای ﷻ ته ده خاصه (نو تقدیم د جار او مجرور لپاره د حصر دی) رجوع ستاسي په تولو کارو د دنیا او د آخرت (نو مرجع مصدر میمي دی) او خدای پاک پر هر شي قادر دی من امور الدنیا والآخرة من الثواب والعذاب.

اَلَآ اِنَّهُمْ يَثْنُوْنَ صُدُوْرَهُمْ لِيَسْتَخْفُوْا مِنْهُ ؕ

آګاه اوسه چي مؤمنان پېچي خپل ځیګر چي ځان پټ کړي له خدای ﷻ څخه.

پوه سه: چي دا تفسیر بناء دی علی ماروا البخاري رحمه الله عن ابن عباس رضي الله عنهما چي بعض خلګ د مسلمانانو څخه به شرمېدله چي اودس مات کړي او دبره یې د اسمان وخوا ته لګه وي، او داغه رنګه به دوی شرمېدله چي د مامینو سره جماع کوي شا یې لګه وي د اسمان وخوا ته، نو به یې ځانونه حتی الممکن سره پېچله فنزل هذه الآیة فیهم، او له دې ډیرو محدثینو څخه دا روایت راغلی دی لکه ابن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جرير ابن المنذر ابن ابي حاتم وابو الشيخ وابن مردوية او بغوي وايي چي عبد الله بن شداد رضي الله عنه وايي چي دا آيت په بعض منافقانو کې نازل سوی دی، چې دوی به د علیه الصلوٰة والسلام په حضور کې تېرېدله ځیګر او شا به یې کښته کړه او سر به یې کښته وځړاوه او پر سر او مخ به یې څادر وغیره واچاوه چې علیه الصلوٰة والسلام مو وه نه وینې، لکن پر دې شان نزول دا سوال وارد ېږي چې دا آیت څو مکي دی او انفاق خو په مدینه کې پیدا سوی دی، او بل پر دې شان نزول خو ضمیر وه نبي علیه السلام ته راجع کېږي او سیاق د آیت پر دې دلالت کوي چې ضمیر د منه راجع وه خدای جل جلاله ته دی کما لا یخفی.

أَلَا حِينَ يَسْتَغْشُونَ ثِيَابَهُمْ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ۝

آګاه او خبر اوسئ چې دوی هغه وخت چې راپېچې خپلې جامې (یعنې پر خپلو ځانو باندې) خدای جل جلاله خبر دی په هغه څه چې دوی یې پټوي او هغه شی چې دوی یې ښکاره کوي، په تحقیق خدای جل جلاله خبر دی په هغه چې ددوی په زړو کې دي اذ لا یخفی منه خافیة، او روح البیان یې داسې ترجمه کړې ده، خبر اوسئ اې مؤمنانو په کفارو د مکې (یعنې ضمیر د انهم راجع وکفارو ته د مکې دی) او د "یثنون آه" ترجمه یې داسې کړې ده چې دوی خپلې سینې او زړونه راپېچې پر خپل ځانو او اعراض له حق څخه او پر عداوت د نبي علیه السلام یعنې دغه مذکوره شیان ددوی په زړو او په سینو کې پټ پراته دي، د "یستخفوا منه" ترجمه یې داسې کړې ده چې دوی خپل ما في الصدور د خدای جل جلاله څخه پټ کړي ولې چې دوی جاهلان دي په ما لا یجوز علی الله من عدم العلم بما في الصدور.

دروېش وایي: چې پر ترجمه د روح البیان تطبیق د ټولې آیت ډېر مشکل دی کما لا یخفی فتدبر هداک الله، خو په هر صورت هغه تفسیر چې په روایت د بخاري رحمه الله ثابت دی لکه دروېش چې اولاً ذکر کړی ډېر په زړه پورې او له هر اشکاله خالي دی، والله اعلم بمراده في کتابه.

دروېش وایي: چې تفسیر د یوولسم جزء د قرآن کریم په توفیق د رب رحیم پر دوولس بجې د ورځې تقریباً د پنجشنبې په ورځ، اوله د میاشتې د صفر یا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اخیره د میاشتي د محرم په سنه ۱۴۲۹ هـ ق پای ته ورسېدله.

الحمد لله على توفيقه وانعامه على هذا العبد الضعيف والصلوة والسلام على خير خليقته محمد وعلى آله وصحبه اخيار امته، اللهم وفقني لتفسير القرآن العزيز الى اخيره بالخير والصحة والعافية واجعله لي خيراً باقياً الى يوم القيامة بجاه نبيک المصطفى وحبيبک المجتبى.

غرض نقشيست كزما ياد ماند ..... كه هستى رانمى بينم بقائى
مگر صاحبدلى روزى زرحمت ..... كند درحق اين مسكين دعائى

ع ..... ما نيز حاضر ميشوم تفسير قرآن دربغل.

اظهار الحال في ضمن المقال:

لقد لسعت حية الهوى كبدى ..... فلا طبيب لها ولا راقى
الا الحبيب الذي شغفت به ..... فعنده رقيتي وترياقي

"لسع" د مار خوړلو ته وايي او اضافت د حية الهوى اضافت د مشبه به دى ومشبه ته، يعني هغه عشق محمدي يا الهي چي لكه مار دى چي سړى وچيچي ناقراره يې كړي، نو نه طبيب سته دغه لسع لره د عشق او نه راقي يعني دم كونكى، مگر نه هغه دوست حقيقي محمد ﷺ او يا رب العزت ﷻ، ولي په نېز د هغه حبيب حقيقي هم زما د درد د لسع دم سته او هم تریاق (بكسر التا چي يو معجون دى چي د زهرو دوا ده) والمراد به الوصال.

اللهم ارزقني حبک وحب حبيبک وحب من يحبک وحب عمل يقربني اليک آمين


افاقها گرديده ام مهرتبان (اى المحبوبان) ورزيده ام
بسيار خوبان ديده ام اما تو چيزى ديگرى

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا
سكين او pdf سو. د دعا محتاج احمدي!
واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الجزء الثاني عشر

وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ



حضرت مولانا محمد عبد الله الايوبي

الكندهاري الحنفي النقشبندي

مكتبة القرآن والتجويد

كاسي روڈ كوئٹه بلوچستان

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

ژه تفسير ته ددوولسم جزء اماده سوم.. د توفيق د خداى په طمع استاده سوم د مياشتين درې بجې د شنبې د ورځې د صفر الخير اوله نېټه سنه ١٤٢٩ هـ اللهم تممه بالخير والعافية والصحة والسلامة.

وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللهِ رِزْقُهَا

نسته يوه دابه (ځناروى) په مځكه كې، مگر پر خداى ﷻ د هغو رزق دى. كريمه: هو الرزاق ذو القوة آه" له رزق څخه مراد غذا مايكفي د هر حيوان ده.

پوه سه: چې كلمه د "ما" نافيه ده او كلمه د "من" لپاره د استغراق د نفي دى، او لفظ د "دابة" عام دى هر حيوان لره چې محتاج وه رزق ته وي كه لوى حيوان وي لكه فيل، او كه كوچنې وي لكه سور كى مېږى، او كه ذكر وي او كه انثى، او كه سالم وي او كه معيوب، كه مرغه وي كه بل حيوان.

سوال: مرغان خو په هوا كې گرځي، نو په مافي الارض كې ولې داخل سوه؟

ځواب: مرغان هم په بعضي حالاتو كې پر مځكه گرځي كما لا يخفى.

پوښتنه: كلمه د "على" خو لپاره د وجوب ده ولا وجوب عليه تعالى؟

ځواب: په تفسير تبيان كې وايي هو ايجاب كرم لا وجوب حق انتهى لانه لا حق للمخلوق على الخالق روح البيان، امام فخر الدين الرازي رحمه الله په تفسير كبير كې وايي چې رزق واجب دى په اعتبار د فضل او احسان، په دې معنا چې خداى پاك پر خپل او احسان باقي دى لكن چونكه خداى ﷻ وعده كړې ده او خداى پاك له خپلې وعدې څخه مخالفت نه كوي ځكه يې په صورت د وجوب راوړه، فائده دې تعبير داده چې هر بنده مطمئن سي پر وصول د رزق او بندگان باعشه كوي پر توكل باندې انتهى.

پوه سه: چې توكل منافي د مباشرت سره د اسبابو نه دى:

ع ..... كسب كن پس تكيه بر جبار كن.

په صحيح حديث كې راغلي دي چې يو سړى له لهري ځاى څخه عليه الصلوٰة والسلام ته راغلى، نو عليه الصلوٰة والسلام پوښتنه ځني وكړه چې پر څه شي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راغلي؟ هغه ورته وويل پر اوښ، عليه الصلوٰة والسلام ورته وويل چې اوښ دي ځه کړي هغه ورته وويل چې پر توکل د خدای ﷻ مي خوشي کړي، عليه الصلوٰة والسلام ورته وويل "اعقل وتوكل" ځنګنونه يې وترە او توکل وکړه.

پوښتنه: ځينې حيوانات له لوړې مړه سي؟

ځواب: خدای ﷻ يې رزق تر دغه وخته پوري تاکلی وي. په حديث نبوي کې راغلي دي چې روايت يې روح المعاني راوړی دی داسې راغلي دي "لن تموت نفس حتى تستكمل رزقها واجلها الحديث" او په تفسير بحر العلوم کې وايي چې "د رجوب له دې سببه استعمال سو چې تفضل د خدای ﷻ په قرار د وعدې د خدای ﷻ له تفضل څخه وه وجوب ته ورسېدی كنذور العباد انتهى.

په مناسبت د تفسير د دوولسم جزء دروښ وايي:

که څه هم اجل زما رانژدې کېږي ... خو تفسير په فضل د خدای پای ته رسېږي
عبد ار مرګه نه بېر ېږي ... چې تفسير پای ته ورسېږي

من نېز حاضر ميشوم تفسير قرآن دربغل

وَيَعْلَمُ مُسْتَقَرَّهَا وَمُسْتَوْدَعَهَا

پوه سه: چې ددې دوو لفظو ضمير مؤنث راجع دی وه "دابة" ته، لكن بغوي په نقل د ابن عباس ﷺ وايي چې د مستقر معنى ځای د قرار دی چې هره دابه وه هغه ته رجوع کوي او په ځای کې قرار نسي ليلاً ونهاراً او مستودع هغه ځای دی چې دی پکښې دفن کېږي.

دروښ وايي: چې پر دې تفسير مستقر او مستودع په انسان پورې خاص دی که څه هم لفظ د "دابة" عام دی، او ابن مسعود ﷺ وايي چې مستقر رحمونه د مندو دي او مستودع ملاوي د پلرو دي.

دروښ وايي: چې دا تفسير تر اول تفسير عام دی لكن په هغو دوابو پورې خاص دی چې نطفه يې د مور په رحم کې وي، يعني که له هګۍ څخه زېږېدی هغه ته نه دی شامل، او په بل روايت کې د ابن عباس ﷺ راغلي دي چې مستقر يې جنت يا دوزخ دی او مستودع يې قبر دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې دا هم په انسانانو پورې خاص دی. او روح المعاني او روح البيان هم ورته تفسيرونه کړي دي، لکن روح المعاني وايي چې هغه تفسير چې د مستودع معنا يې په ځای د دفن سره کړې ده الا علی الله رزقها سره مناسبت نه لري، ولي چې دفن سي نو رزق يې ختم سو؟ ددې ځواب دادی چې په صحيح حديث کې راغلي دي "القبر روضة من رياض الجنة او حفرة من حفران نيران" فتدبر غاية الدبر.

كُلٌّ فِي كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ۝

هر يو له دوابو څخه او د احوالو څخه ددوی او له ارزاقو څخه ددوی په کتاب بنکاره کې دي يعني اللوح المحفوظ.

دروښ وايي: چې دا خبره چې مظهري ژباته کړې ده او في کتب الحفظة د ماقبل عموم سره مناسبه نه ده لان الحفظة يعني الكرام الكاتبين خو په انسانانو پورې خاص دي ليس الا او په اول کې مظهري رحمه الله دواب پر عموم حمل کړې دي، او روح المعاني تفسير د کتاب مبين په لوح محفوظ سره کړی دی، او روح البيان هم تفسير په لوح محفوظ سره کړی دی الا ان يقال چې مراد د مظهري د کتب الحفظة څخه کرام کاتبين نه دي بلکې هغه ملکي دي چې د لوح محفوظ هر وخت مطالعه کوي او د هغه سره موافق رفتار کوي.

دروښ وايي: چې ددې عبارت څخه د روح المعاني لمن ينظر فيه ای اللوح المحفوظ من الملائكة عليهم السلام څخه دا توجيه د قول د مظهري ما وفهمول، والله اعلم بالصواب ومراد العباد.

وَهُوَ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ وَّكَانَ عَرْشُهٗ عَلَى الْمَآءِ

او خدای جل جلاله هغه ذات مقتدر دی چې اسمانونه او مځکه يې پيدا کړي دي په شپږو ورځو کې، او وو عرش د خدای جل جلاله پر اوبو

پوه سه: چې مراد له سمٰوات او ارض څخه تولې اسمانونه او مافيها دي کالشمس والقمر والكواكب او توله مځکه سره د مافيها من الكنوز وما عليها من الحيوانات والنباتات.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: هر ځای په قرآن کریم کي سموات په صیغه د جمع راغلی دی، او ارض مفرد او سره ددې چي په صحیح حدیث کي راغلي دي چي مځکه هم اووه طبقې ده حکمت یې څه دی؟

ځواب: حقائق د اسمانو په شریعت او حکمت سره مختلف دي او حقائق د طبقاتو د مځکي یو دی وهي حقیقة الترابیة والاختلاف بالعوارض.

پوښتنه: هغه وخت چي نه لمر وو او نه اسمانونه او نه مځکه، نو ورځي چیري وې؟

ځواب: مراد د ایامو څخه متعارفې ورځي نه دي بلکه نفس اوقات دي او بعض مفسرین وایي چي مراد د شپږو ورځو څخه هغه شپږ ورځي دي چي په علم ازلي کي د خدای وې چي وروسته تر خلق د اسمانو او مځکي او لمر عالم وجود ته راځي.

سوال: حکمت الٰهي څه دی چي اسمانونه او مځکي په شپږ ورځي کي پیدا کړي ولو شأ لخلقها في لمحة" انما امره اذا اراد شیئا ان یقول له کن فیکون؟

ځواب: ابن عباس رضي الله عنهما وایي چي حکمت یې تعلیم د تأني یعني عدم العجلة فی الافعال والاقوال للناس" ولهذا قیل التأني صفة الرحمٰن" والتعجیل فعل الشیطان حتی قال حین امر بالسجود لادم فوراً بدون التأمل انا خیر منه.

پوه سه: چي دا جمله "وکان عرشه علی الماء" معطوفه ده پر جمله د خلق سره د ضمیر مستتره، او یا حال ده د ضمیر مستتر څخه لکن په تقدیر د قد لما تقرر فی النحو چي ماضي جمله حال نه سي کېدای پېله لفظ د قد یا ظاهرا او یا مضمر" ومعنی الایة عرشه سبحانه وتعالی پر اوبو د مخه تر خلق د اسمانو او مځکي وهو الذي یقتضیه کلام المجاهد رحمه الله وبه صرح القاضي البیضاوي رحمه الله وروسته قاضي ویلي دي چي د دې آیت معنی دا ده چي په مابین کي د عرش او اوبو حائل محسوس نه وُ لا ان العرش موضوع علی متن الماء.

درویش وایي: چي ما قید د محسوس ور زیات کړی لان بعض المفسرین یقول ان العرش موضوع علی متن الهواء والهواء علی الماء لکن الهواء لیس بمحسوس بالبصر او علامه ابو سعود رحمه الله مفتي الدیار الرومیة وایي چي معنی د آیت دا ده چي په مابین کي د عرش او د ابو شي نسته که هوا وي او که

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بل جسم، نو كه په مابين كي عرش او د اوبو فرجه وي يعني خلا چي حكما يې ممتنع بولي لازمېږي او كه عرش د اوبو پر شا پروت وي، نو فرجه او خلا نسته.

دروېش وايي: چي علامه بغداد السيد الوسي رحمه الله عليه په دې كي دېر اوږد بيان كړى دى چي (۴) لوى مخان دي د كتاب د ده، ولا فائدة في ايراد التحقيق المذكور لمتعلمي هذا التفسير بل لكثير من العما.

او بغوي رحمه الله عليه دا رايه مختاره كړې ده چي عرش د ابو سره متصل وو او اوبه د باد پر شا وې "روح البيان وايي چي عرش په لغت كي تخت ته د باچا وايي او هغه عرش چي مضاف و خداى ته دى د هغه معنى دا ده چي عرش يو لوى اعظم د مخلوقاتو د خداى عزوجل دى لكن دا يې معنى نه ده چي د خداى عزوجل عرش اوطاق او ځاى دى كما ذهب اليه المجسمة يعني چي خداى عزوجل جسم بولي" او مخ او لاسونه او پښې ورته وايي يعني دوى تولـه آيتونه د قرآن او احاديث مبارکه پر معاني ظاهره وو حمل كوي، او اهل السنة والجماعت رحمهم الله عليهم يې د متشابهاتو څخه بولي چي لا يعلم تأويله الا الله او يا تأويل مناسب ورته كوي او په اجماع د اهل السنة والجماعة مذهب د مجسمه وو باطل دى والدلائل النقلية والعقلية في كتب علم الكلام للمتأخرين، نو د عرش اضافت و خداى عزوجل ته كول د پاره د تعظيم او تشريف د مضاف ده لكه كعبه مباركه چي بيت الله بولي.

پوښتنه: چي خداى عزوجل لره عرش مكان نه دى كما مر، نو د دوني لويې بنا څه حكمت دى؟

ځواب: (۱) حكمت يې دا دى چي د بعض ملكو چي كروبيين يې بولي عليهم السلام د عبادت ځاى سي كريمه" وترى الملئكة حافين حول العرش" (۲) د پاره د اظهار د عظمت د قدرت خپل لكه مقاتل رحمه الله عليه چي وايي مقدار د اسمانو او مځكي و كرسي ته لكه د يوې حلقې ولوى بيابان ته "او نسبت د عظم د كرسي سره د اسمانو او مځكي ولوى والي ته عرش لكه يوه حلقه په بيابان كي "او د دې تولـو نسبت و عظمت ته د قدرت د خداى عزوجل لكه يوه ذره ودنيا ته (۳) عرش مركز دى د عمل نامو د ابرارو" كريمه" ان كتاب الابرار لفي عليين" وفيه تعظيم للابرار ولكتبهم" الى غيرها من الحكم التي ذكرها المفسرون رحمهم الله عليهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا

تاچي خدای ﷻ ستاسي امتحان وکړي چي کوم يو ستاسي ښه دی از روی عمل.

سوال: خدای پاک خو په احسن د دوی عملا ازلا خبر وو، نو د امتحان ته ضرورت څه دی؟

ځواب: هر ځای په قرآن کريم کي د ابتلاء د خدای لفظ راسي مراد ځندي حقيقة ابتلاء نه ده لانه عليم بالظواهر والخواطر بلکه معامله د مختبر او امتحان اخستونکي ده، ولي چي مناط د ثواب او د عقاب علم ظهور دی د اعمالو د ثواب من الايمان والاعمال الصالحة او د عقاب من الکفر والمعاصي دا په ابتلاء سره ښکاره کيږي" کريمه" لئلا يکون للناس حجة بعد الرسل" ای عذر الجهل که رسولان او کتب آلهيه نه وي اذ يقولون عند عدم ذالک" کريمه" هلا ارسلت الينا رسلا نتبعهم.

پوه سه: چي ليبلوکم متعلق په خلق السموات آه پوري او د خلق السموات آه بيان د حکمت آلهي په خلق کي د دوی والمعنی ان خلق السموات والارض مقصود لذاته نه دی بلکه د دې پاره دی چي خلگ دا علويات او سفليات دلائل وگرځوي پر وجود د صانع جل سلطانه او پر توحيد د صانع "کريمه" لو کان فيهما الهة لفسدتا" او تا چي معلوم سي په علم ظهور سره مؤمن بلکه ايکم احسن عملا.

پوه سه: چي احسن عملا په دوران کي د قرآن محمد ﷺ دی و اتباعه حق المتابعة الی يوم القيام.

فائده: مراد له عمل څخه عام دی که اعمال قلبية وي او که اعمال د جوارح وي او که اعمال مالية.

فائده: تفسير کړی دی رسول الله ﷺ د دې آيت په دغو کلماتو سره" ايکم احسن عقلا و اورع عن محارم الله واسرع في طاعة الله.

وَلَئِنْ قُلْتَ إِنَّكُمْ مَبْعُوثُونَ مِنْ بَعْدِ الْمَوْتِ لَيَقُولَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ هَٰذَا إِلَّا سِحْرٌ مُبِينٌ ۝

که ته ورته ووايي کفارو ته د مکي چي تاسي حشر کيږئ يعني ژوندي کيږئ وروسته تر مرگ چي مشرکان ټوله د دې حشر څخه منکر دي، هر آئينه وبه وايي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هغه کسان چې کفر کوي يعني المشرکين نه دي هذا ای القول بالبعث بعد الموت سره يا قرآن چې ناطق بالبعث بعد الموت سره مګر سحر دی" يعني لکه سحر چې باطل شی دی او صرف د خلګو خطايستل دي" وفي قرائة حمزة والکسائي" ان هذا الا ساحر مبين" يعني نه دي قائل د بعث بعد الموت مګر ساحر" يعني د ساحر خبره خو محض کاذب دی، نو د دې خبره هم دانسي ده.

فائده: لام د لئن" موطئه د قسم دی.

فائده: لقولن آه جواب د قسم محذوف په لئن کې دی او جواب د شرط محذوف دی لدلالة جواب القسم عليه.

پوه سه: چې په حديث د ابن ابي حاتم د قتادة څخه راغلي دي چې دا آيت چې نازل سو" اقترب للناس حسابهم" بعض خلګو د مشرکانو وويل چې بايد يو څو ورځې صبر وکړو چې د دې خبرې صدق او کذب معلوم ښې، نو يو څه زمانه دوی د شرکه ځان ليرې وساتی" آخير خو قيامت نه سو بهرته يې خپل شرک يې په مخه واخستی بيا چې دا آيت نازل سو" اتی امر الله فلا تستعجلوه" بيا خلګو وويل چې امر د خدای راغلی يعني قيامت بيا يو څو ورځې په بهره او په انتظار کې وه خو قيامت نه راغلی، بهرته يې خپل انکار عن القيامة ته دوام ورکړی، نو خدای ﷻ دا آيت نازل کړی.

وَلَئِنْ أَخَّرْنَا عَنْهُمُ الْعَذَابَ إِلَىٰ أُمَّةٍ مَّعْدُودَةٍ لَّيَقُولُنَّ مَا يَحْبِسُهُ

که موږ وځنډه وو د دوی څخه عذاب موعود في يوم القيامه تر يو وخته پورې چې په حساب دی يعني لږ وخت، وايي کفار د مکې استهزاءً وانکاراً څه شي بند کړی دی دا عذاب چې نه راځي.

پوه سه: چې په قاموس کې وايي چې معنی د" امت" حين ده" او بغوي رحمه الله وايي الی اجل معدود" او بيضاوي وايي الی جماعة من الاوقات معدودة" ای قليلة".

دروښ وايي: چې دا معنی دهره مناسبه ده د معنی لغوي سره د "امة" لان الامة هو الجماعة کامته محمد ﷺ وامة موسی وعيسی عليهما السلام.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَلَا يَوْمَ يَأْتِيهِمْ لَيْسَ مَصْرُوفًا عَنْهُمْ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِءُونَ ۝

آگاه اوسه چې هغه چې عذاب الهي راسي لکه په بدر کې بيا له دوی څخه نه سي دفع کيدای، او احاطه به وکړي پر دوی هغه عذاب الهي چې دوی به پسخند په واهه. پوه سه! چې يوم" منصوب دی په مصروفاً سره.

پوښتنه: تو له مفسرين رحمهم الله وايي چې مراد له "يوم يأتيهم" څخه عذاب د قتل او حبس او شکست دی د ورځې د بدر، او هغه هنوز نه دی راغلی، نو هغه تر اوسه نه دی راغلی، نو تعبير يې په ماضي صيغه د "حاق" څه معنی؟

ځواب: راتګ د عذاب مذکوره چونکه متحقق په علم کې د خدای ﷻ دی فهو کالامر الماضي في التحقق.

فائده: د عذاب سبب موجب استهزاً ده او د استهزاً سبب انکار د وقوع دی.

پوه سه: چې بعض انسانان له ځان څخه عذاب دفع کوي په ايمان او اعمال صالحه سره لکه مؤمنان د هر وخت، او بعض خلګ خپل ځان په هلاک او عذاب الهي کې اچوي په سبب د کفر او عصيان نو اوله ډله له خدای ﷻ څخه بيربيږي او دوهمه ډله نه بيربيږي، وفي الحديث القدسي "وعزتي لا اجمع على عبدي خوفين ولا امنين. فاذا خافني في الدنيا آمنته يوم القيامة واذا آمنني في الدنيا اخفته يوم القيامة" ترجمه: زما دي په خپل عزت سره قسم وي چې زه نه جمع کوم پر خپل بنده دوه خوفه او نه دوه واره امن. نو که په دنيا کې زما څخه بيرېدی نو زه يې په امن کې کوم په ورځ د قيامت او که يې زما څخه په امن کې ژوند د دنيا کاوه نو زه يې بيروم په ورځ د قيامت انتهى.

دروښ وايي: چې بيره له خدايه او نه بيره د خولې شی نه ده بلکې د زړه حال دی، نو ځکه په حديث شريف کې راغلي دي چې ځوک چې د يوې ګناه استغفار غواړي له خدای ﷻ څخه او پر هغه ګناه قائم وي داسې دی لکه په خدای ﷻ چې پسخند وهي.

دروښ وايي: چې حقيقتاً استهزاً په خدای ﷻ سره خو کفر دی نو ځکه په حديث کې لفظ "کالمستهزء" راغلی دی فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: په یوه نبي له نبیانو علیهم السلام څخه استهزا کول کفر دی، او په صالح خلګو پسخند وهل ګناه کبیره ده یجب علی المرتکب تجدید الایمان او التوبة.

واقعه: ابو جهل یوه ورځ په علیه الصلوٰة والسلام پسي روان ؤ او د پرزي سونهاری او د خولې کشول یې استهزاءً بالنبي ﷺ کوله، نو د علیه الصلوٰة والسلام ورته فکر سو، نو یې ورته وویل "کن کذالک" نو تر مرګه یې داغه پېښې کولې، او په صحیح حدیث ثابته ده چې یوه ورځ عتبه بن ابي محیط د علیه الصلوٰة والسلام پر مبارک مخ ناړې تو کلې هغه ناړې راوګرځېدې د عتبه پر مخ ومښتلې او هغه تر مرګه پورې د هغه پر مخ د پیس داغ سو، فیجب غایة الاحتیاط مع احبا الله تعالی، شیخ سعدي قدس سره وایي:

بګوی آنچه دانی سخن سودمند ..... وګر هیچ کس را نیاید پسند
که فردا پشیمان بر آرد خروش ..... که اوخ چرا احق نه کردم بګوش

مولانا ومولی الروم رحمه الله په مثنوي کې وایي:

منقبض ګردند بعض زین قصص ..... زانکه هرمرغی جدا دارد قفص
کودکان ګرچه بیک مکتب دراند ..... درسبق هر یک ز یک بالاتر اند
مرګ پیش از مرګ اینست ای فتی ..... این چنین فرموده مارا مصطفی
ګفت موتوا کلکم من قبل ان ..... یأتي الموت تموتوا بالفتن

وَلَئِنْ أَذَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنَّا رَحْمَةً ثُمَّ نَزَعْنَاهَا مِنْهُ إِنَّهُ لَيَئُوسٌ كَفُورٌ ۝

که چېرې وځکو موږ په انسان یعني ورکړو ده ته رحمةً یعني صحت او عافیت او غنی او امن وروسته تر هغه نعمت او رحمت ځني سلب کړو له ده څخه یعني د رحمت مذکوره ضد پر واقع کړو، په تحقیق دغه انسان ډېر ناامیده سي له عود څخه د مثل د هغه نعمت.

پوه سه: چې لام موطئه د قسم دی او "انه آه" جواب د قسم دی واستغنی به عن جواب ان الشرطیة، یعني قطع سي امید دده د فراخ فضل څخه د خدای ﷻ ولي چې د انسان صبر لږ دی او وه قضا تنه د خدای ﷻ یې هم تسلیم لږ دی او کفور دی یعني ډېر ناشکر دی د دمخه نعمتو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې ما ترجمه د "يؤس" په ډېر نا اميده سره وکړه او ترجمه د "کفور" مې په ډېر ناشکره سره وکړه، ولې دا دواړې صيغې د مبالغې دي فافهم.

شیخ سعدي رحمه الله مېګويد:

سګی را لقمه گردادی فراموش ..... نګردد گرزنی ضد نوبتش سنګ

وګر عمری نوازی سفله را ..... بکمتر تندی آید با تو درجنګ

فائده: له انسان څخه مراد په دې آیت کې جنس انسان دی فیصح الاستثناء منه في مابعده من الآية فتدبر.

وَلَئِنْ أَذَقْنَٰهُ نَعْمَآءَ بَعْدَ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُ لَيَقُولَنَّ ذَهَبَ ٱلسَّيِّـَٔاتُ عَنِّىٓ ۚ إِنَّهُۥ لَفَرِحٌ فَخُورٌ ۝

او قسم دی که چېرې زه (نو لام موطئه د قسم دی او کلمه د ان شرطیه ده) وځکو یعني ورکړو وه انسان ته نعمتونه (لکه صحت بعد المرض او غنی بعد الفقر) وروسته تر ضرر چې وده ته رسېدلی وٌ (لکه ناروغي او فقر) هر آئینه دغه انسان وایي چې سیئات یعني مصائب د مرض او فقر ومثل ذالک تېر سوه زما څخه، یعني نسبت یې وه خدای ﷻ نه کوي چې د خدای ﷻ شکر ووایي پر تلو د شدائدو د مرض او فقر مثلاً.

پوه سه: چې "ليقولن" جواب د قسم دی او قائم مقام د جواب د شرط دی، او دی خوشاله وي په خوشالي د کبر نه د شکر د خدای ﷻ او په دې خپلو نعمتو پر خلګو فخر کوي یعني چې زه مستحق ددغو نعمتو وم معرضاً عن شکر الله ﷻ.

إِلَّا ٱلَّذِينَ صَبَرُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ ۙ

مګر نه هغه کسان چې صبر کوي پر سلب د نعمت ددوی څخه او په نېز د سلب دي لیؤس او کفور نه ګرځي بلکې د خدای ﷻ وفضل ته یې امید وي چې بېرته پر موږ نعما مسلوبه غناً راوګرځي بلکې هنوز هم شکر د نعماً سابقه وایي بلکې نظر ددوی پر نورو نعمتو وي چې وه دوی ته پاته دي او پر هغو شکر د خدای ﷻ وایي، او چې نعماً بعد الضراً خدای ﷻ ورکړي خوشاله خو وي لکن نه خوشالي د کبر او نه د فخر پر خلګو باندې بلکې پر نعماً بعد الضراً باندې شکر د خدای وایي قلباً ولساناً وعملاً.

بوه سه: چې په ځای کې د "الا المؤمنين" داسې "الا الذين صبروا الخ" اشاره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ودې ته ده چې د مؤمن شان دادی چې صبر به کوي په "ضراً" کې او شکر به وايي په "سراً"، په روايت د صهيب ﷺ داسې راغلي دي قال قال رسول الله ﷺ عجباً لامر المؤمن ان امره کله خير، وليس ذالک لاحد الا المؤمن (تعجب دی وه حال ته د مؤمن چې هر حال دده لپاره خير دی، او دا حال نسته مګر مؤمن لره سته) ان اصابته سراً شکر فکان خيراً له، وان اصابته ضراً صبر فکان خيراً له (که د خوشالۍ اسباب ورته پيدا سي شکر د خدای ﷻ وايي، نو دا شکر دده لپاره خير دی، او که مؤمن ته ورسېږي ضراً لکه مرض او فقر وغيره ذالک، نو صبر پر وکړي نو هغه صبر دده لپاره خير دی. ددې حديث روايت مسلم کړی دی.

أُولَٰئِكَ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ ﴿١١﴾

دغه کسان چې صابران وي په ضراً کې او شاکران وي په سراً کې دوی لره بخښنه د ګناهو او ثواب دی ډېر چې بهترين اجر يې رضوان الله دی او وروسته جنت دی چې په جنت کې ما لا عين رئت ولا اذن سمعت يعني بالتفصيل ولا خطر على قلب بشر كما جاء في الحديث الصحيح.

فَلَعَلَّكَ تَارِكٌ بَعْضَ مَا يُوحَىٰ إِلَيْكَ

او شايد ته به پرېښوونکی يې بعض د هغو آيتونو چې تاته يې وحي کړل سوي وي، يعني هغه آيتونه چې په هغو کې سب د الهه ؤ د مشرکانو دی، لکه مشرکانو د مکې به د عليه الصلوٰة والسلام څخه مطالبه کوله "ايت بقرآن غير هذا ليس فيه سب آلهتنا"

پوه سه: چې بيضاوي رحمه الله وايي چې لايلزم من توقع لوجود مايدعوا اليه وجوده ووقوعه لجواز ان يكون ههنا مايصرف عنه وهو عصمت الرسول عن الخيانة في الوحي والتقية في التبليغ.

تفريع: قول د هغه چا چې وايي چې لعل په قرآن کې واجب الوقوع دی غلط دی

وَضَائِقٌ بِهِ صَدْرُكَ أَن يَقُولُوا لَوْلَا أُنزِلَ عَلَيْهِ كَنزٌ أَوْ جَاءَ مَعَهُ مَلَكٌ

او تنګېږي په دغه خبره ستا سينه چې دوی وايي: ولې نه ټازلول کېږي پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

محمد خزانه، یعني ورلي نه ورکول کېږي د خدای ﷻ له خوا چي دی د خدای رسول ځان بولي.

پوه سه: چي مراد له خزائن څخه سره او سپین زر دي تا چي دی یې نفقه کوي پر خلګو او خپل تابعان په ډېروي کملوک الدنیا، او یا ولي نه رائحي دده سره ملکي یعني په صورت ملکي چي مورږ ته شاهدي ادا کړي دده په نبوت سره.

پوه سه: چي ضمیر د "به" مبهم دی او "ان یقولوا" یې تفسیر دی یعني قولهم والقائل لهذا القول هو عبدالله بن امیة المخزومي.

إِنَّمَآ أَنتَ نَذِيرٌ ۚ

ته نه یې مګر ډېروونکی د خلګو د خدای ﷻ له عذابه پر کفر پر هغه دول چي خدای ﷻ تا ته وحي کړي دي، نو سینه مه تنګه وه چي دوی ناوړه او ناحقه غوښتني درڅخه کوي نحو ایت بقرآن غیر هذا، او یا وایي لولا انزل الآیة نو ته خپل تبلیغ ته دوام ورکړه.

وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ ﴿١٢﴾

یعني خدای ﷻ پر هر شي وکیل دی یعني محافظ ددوی د عملو دی فیجازیهم علیها.

أَمْ يَقُولُونَ ٱفْتَرَىٰهُ ۖ

آیا دوی وایي چي محمد په درواغو دا قرآن له ځانه جوړ کړی دی، نو ضمیر د "افتراه" راجع وه "مایوحی" ته دی، او کلمه د "ام" منقطعه ده په معنی د "بل" او همزه د "بل" لپاره د انتقال دی من مضمون الی مضمون آخر والهمزة للتوبیخ والانکار علی قولهم والتعجب لقولهم ذالک.

قُلْ فَأْتُوا۟ بِعَشْرِ سُوَرٍ مِّثْلِهِۦ مُفْتَرَيَٰتٍ

ته ورته ووایه یا محمد چي تاسي نو راتګ په لس سورته چي مثل د قرآن وي وکړئ.

دروښ وایي: چي یو دقیق سوال ټولو مفسرینو رحمهم الله راوړی دی چي په سورت یونس کي داسي راغلي دي "فأتوا بسورة مثله" او دوی ځني عاجزه سوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو بیا څرنګه دوی ته ویل کېږي "فأتوا بعشر سور"، ددې داسې مثال دی لکه یو سړی چې وېل ته ووایي ماته یو درهم راکړه! هغه ځنې عاجزه سي بیا هغه ورته ووایي چې نو لس روپۍ راکړه؟

ځواب: سورت هود یعني چې لس پکښې راغلي دي، تر سورت یونس چې فأتوا بسورة پکښې راغلي دي مقدم دی، والحاصل چې دوی اولاً په لس سورته په مثل د قرآن مأمور سوه لکه په دې سورت هود کې چې دوی د لسو څخه عاجزه سوه، نو یې تاکید ددوی د عجز په سورت یونس کې ورته وویل فأتوا بسورة مثله، لکن مبرد رحمه الله ددې جواب د صحت څخه منکر دی لان سورة یونس التي فيها التحدی بسورة مقدم دی په نزول کې تر سورت هود چې په هغه کې تحدی په لس سره راغلې ده، نو سوال مذکور پر ځای دی، نو مبرد داسې ځواب ورکړی دی چې په سورت یونس کې چې "فأتوا بسورة مثله" راغلی دی مراد ځنې دادی چې مثل د قرآن دوی په اخبار بالغیب کې او په احکامو کې او په وعد او وعید کې علی طبق الکتب المنزلة المتقدمة، نو دوی له داسې مثله څخه عاجزه سوه وروسته یې په سورت هود کې ورته وویل "فأتوا بعشر سور مثله" یعني په نفس بلاغه وحسن النظم که څه اخبار بالغیب وغیره نه وي پکښې، ولې تاسې خو هم عرب یاست او د بلاغت او فصاحت تناونه مو په لاس کې دي، او په خطب او په نظم او نثر کې لوی مهارت لرئ او آنحضرت ﷺ نبي امي ؤ، نه یې مهارت درلودی لکه تاسې، نو چې تاسې عاجزه سولاست، نو معلومه سوه چې قرآن من عند الله دی د علیه الصلوٰة والسلام له ځانه جوړ کړی کتاب نه دی، دا ؤ حاصل د جواب د مبرد رحمه الله.

پوښتنه: مثله خو صفت د سور دی نو ولې مفرد راوړه سو؟

ځواب: افراد یې په اعتبار د کل واحد من عشر سور، ولې چې مقصود خو مماثلت د هر واحد دی لا مماثلة المجموع، او بعضې مفسرینو دا جواب ورکړی دی چې مثل په اصل کې مصدر دی، نو مطابقت او عدم مطابقت دواړه پکښې روا دي فیوصف به الواحد وغیره لکه په دې آیت کې چې مطابقت نسته (المؤمن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لبشرين مثلنا" چې مراد ځني موسی او هارون عليهما السلام دي يعني مثلينا نه وايي، او ګاهي مطابقت وي کما في قوله تعالى "ثم لايکونوا امثالکم" او بعض مفسرين وايي چې مثله د عشر سور صفت نه دی بلکې موصوف يې مقدر دی ای قدر عشر سور مثله.

پوه سه: چې کلمه د فأتوا په "فأتوا" کې بنا پر هغه قول د ام يقولون افتراه، والمعنى ان صح ماقلتم فأتوا بعشر سور آه ""مفتريات" چې هغه لس سورته هم تاسي د ځان په درواغو جوړ کړي دي، ولي تاسي هم عرب ياست، نو که دا خبره ستاسي رشتيا وي چې محمد ﷺ قرآن له ځانه جوړوي.

پوه سه: چې امام همام فخر الدين الرازي رحمه الله په تفسير کبير کې وايي چې له دې آيت څخه دا ښکاره سوه چې اعجاز د قرآن کريم يعني چې عرب يې له مثل راوړلو څخه عاجزه کړه په سبب د فصاحت او بلاغت چې له توان څخه د عربو دومره فصيح او بليغ کلام ويل خارج ؤ، په دې سبب نه دی چې په قرآن کې اخبار بالمغيبات او قصص د امم ماضيه پکښې دي چې پر هغه عرب علم نه لري.

دروېش وايي: چې مراد د امام مذکور دادی چې فقط اخبرا عن المغيبات آه سبب د اعجاز نه دی که څه هم اخبار عن المغيبات خو هم سبب دی امام مذکور وايي چې فصاحت او بلاغت په درواغو او په رشتيا پوري اړه نه لري ولې چې فصاحت او بلاغت که رشتيا او که درواغ خبري وي پکښې معلومېږي، نو د مفتريات د قيد فائده ښکاره کېږي آه والله اعلم بالصواب.

وَادْعُوا مَنِ اسْتَطَعْتُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ۝

او بلنه ورکړې وه هغه چاته يعني د بلغاوو چې ستاسي په طاقت پوره وي ببله خدای چې هغه کسان ستاسي کومک وکړي په اتيان د مثل د قرآن که تاسي رشتيا وياست چې قرآن مفترى د محمد دی.

فَإِلَّمْ يَسْتَجِيبُوا لَكُمْ

که دوی قبلوونه ونه کړي ستاسي د دغه دعوت چې د مثل د لس سورة د قرآن دي.

پوښتنه: مخاطب خو يوازې عليه الصلوة والسلام دی، نو د جمعيت د ضمير د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لکم څه وجه ده؟

ځواب: جمعیت د ضمیر یا د پاره د تعظیم د علیه الصلوة والسلام یا د دې سببه چې مؤمنان ځو هم په دې تحدی کې ورسره شریکان وه.

او بل ځواب دا دی چې هر امر د خدای ﷻ چې وعلیه الصلوة والسلام ته وسي هغه شامل مؤمنانو ته هم دی ماسوی د خواصو ذده ﷺ. نو معنی د آیت دا ده که قبلونه ونه کړي دغه مشرکان چې پر تا الزام د افترا کوي ستاسي یا محمد ویا اصحاب محمد ﷺ د دې مطالبې ستاسي چې جوړه د لس سورة مثله د قرآن او کومک د نورو مشرکانو ځخه هم وغواړئ من دون الله، نو د دې سببه په دې آیت کې:

فَاعْلَمُوٓا أَنَّمَآ أُنزِلَ بِعِلْمِ ٱللَّهِ وَأَن لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ فَهَلْ أَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴿١٤﴾

صیغه د جمع پر ماقبل تفریع یعني د شرط د فان لم آه جزا وګرځول، نو په دې پوه سئ چې قرآن نازل سوی دی متلبس په علم د خدای یعني چې بېله خدایه هېڅ څوک قدرت نه پر لري.

فائده: کلمه د ما په انما کې کافة ده او ضمیر د انزل راجع دی وما یوحی ته او بعلم الله حال دی ای متلبسا بما لا یعلمه الا الله من المزایا والفوائد والحکم المشتمل علیها القرآن.

پوه سه: چې "وان لا اله الا هو" عطف دی پر انما انزل آه یعني په دې هم پوه سئ چې نسته معبود بالحق بېله خدایه" ولې چې مشرکان عاجزه سوه د اتیان ځخه د مثل د قرآن سره د دې چې دوی به وخپلو بتانو او خدایانو ته زاری کړي وي او د هغو ځخه به یې کومک هم غوښتی وي، نو هغو قدرت نه درلودی، نو ثابته سوه چې بتان معبود بالباطل دي او معبود بالحق نسته بېله خدای ﷻ.

پوه سه: چې مخاطب په "انتم" سره مؤمنان دي کما في الآیات السابقه ومعنی الآیة ایا نه یاست تاسي ایها المؤمنون ثابتون علی الاسلام راسخون مخلصون لانه ظهر لکم اعجاز القرآن من کل الوجوه" اعلم چې سید محمود الآلوسي البغدادي په روح المعاني کې وایې چې توله ځایونه خطاب ومشرکانو ته دی" او ضمیر په لم یستجیبوا کې راجع دی ومن استطعتم" ته ومعنی الآیة که قبلونه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ونه کړي د کومک ستاسي ايها المشرکون هغه څوک چې تاسي کومک ځندي وغوښتی من البلغاً والاصنام په سبب د عجز د دوی او تاسي ته خپل عجز هم ښکاره سو، نو په دې پوه سئ چې قرآن داسي يو نظم دی چې لا يعلمه الا الله وانه منزل من عنده دی" او توحيد د خدای حق دی، نو ايا تاسي نه داخليږئ په اسلام کي بعد قيام الحجة القاطعة لکم والمقصود من الاستفهام الامر بالاسلام ای اسلموا ووحدو الله واترکوا الشرک.

مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيْهِمْ أَعْمَالَهُمْ فِيهَا وَهُمْ فِيهَا لَا يُبْخَسُونَ ﴿١٥﴾

که څوک وي چې اراده په عمل او احسان سره د هر ژوند په دار دنيا کي سره د صحته او ښائست د دنيا په اموال" اولاد" او خادمان" او درجاتو وغير ذالک سره، نو موږ به پوره اعمال يعني جزاً د اعمالو د دوی" چې حسنات د دوی په دنيا کي ورکړو او دوی ته به په دنيا يو شی د جزاً د دوی کم نسي.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ لَيْسَ لَهُمْ فِي الْآخِرَةِ إِلَّا النَّارُ ۖ

دغه مذکور کسان هغه کسان دي چې نسته دوی لره په ورځ کي د آخرت ېپله اور" ولي چې دوی جزاً د خپلو حسناتو په دنيا کي پوره يووړه او دوی ته په آخرت کي ېپله جزاً د اعمال سيئه وو بل شی نه دی پاته وجزائها ليس الا النار.

وَحَبِطَ مَا صَنَعُوا فِيهَا وَبَاطِلٌ مَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٦﴾

او لغوه سوه هغه حسنات چې دوی کړي وه په دنيا کي" ولي چې دوی خو اعمال حسنه د باره د رضاً د خدای ﷻ نه وه کړي چې خدای ﷻ ودوی ته اجر او ثواب په جنت سره ورکړي ولا واسطة بين الجنة والنار فاذا لم يكن لهم الجنة لعدم سببها فيهم فلهم النار لبقاً سببها وهو الاعمال السيئة لهم في الدنيا، او باطل دي هغه څه چې دوی عمل کړی وو يعني په دنيا کي من الحسنات.

پوه سه: چې دا آيت په باره کي د کفارو دی" ولي چې بخاري د عمر بن الخطاب ﷺ څخه روايت کړی دی په دې اوږد حديث کي چې په يوه برخه کي د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هغه حديث داسي راغلي دي عمر ﷺ وايي چي عليه الصلوة والسلام په يوه غرفه كي يعني بالا خانه كي پروت وو پر صرف بوريا باندي چي د بوريا لښتو د عليه الصلوة والسلام په غوښه مبارکه كي تغمي كړي وي او تر سر يې بالښت لاندي ډير څرمني" عمر ﷺ وايي ما چي ستر كي ولغړولې په غرفه كي" چي ستر كي دې پر منبلي صرف دري پوستوكي ځړېدلې" او په يو كنج كي څه بارک پراته وه. نو ما ورته وويل يا رسول الله ادع فليوسع على امتک چي فارسيان او روميان پر دوی فراخي د رزق او دنيا ډېره ورکړه سوې ده وهم لا يعبدون الله" عمر ﷺ وايي چي عليه الصلوة والسلام تكيه كړې وه، نو را كښېنستې، نو يې ماته وويل او في هذا انت يا ابن الخطاب" ته په دې باره كي راغلی يې ای ابن الخطاب ان اولئک يعني فارس او روم هغه قوم دی چي دوی ته طيبات يعني دنيا او نعمتونه په دې دنيا ورکړه سوي دي، واما المؤمن فيريد الدنيا والآخرة او اراده د آخرت يې غالبه ده. نو من د حسناتو عوض په دنيا كي هم ورکړه كېږي او په آخرت كي هم خداى ﷻ ثواب وركوي" او مسلم د انس ﷺ څخه روايت كړی دی چي عليه الصلوة والسلام وويل چي خداى ﷻ پر مؤمن ظلم په باره كي د حسنه د ده نه كوي بلكه يعطي عليه في الدنيا ويثاب عليه فی الآخرة يعني چي مؤمن دواړې دنيا وي په نظر كي لري" واما الكافر فيطعم بحسناته فی الدنيا فاذا افضى الى الآخرة لم يكن له حسنة يعطي بها خيرا" مفسرين وايي چي ددې آيت دغه عبارة ليس لهم فی الآخرة الا النار قرينه پر دې ده چي دا آيت په حق كي د كافرانو دی" للاجماع على ان المؤمن يثاب بالجنة البتة" بعض مفسرين رحمهم الله وايي چي دا آيت په باره كي د ريا كارانو دی يعني عمل د خير د پاره د لېدلو د خلګو كوي" والدليل عليه ما روى عن ابي سعيد الخدري ﷺ عن رسول الله ﷺ قال اذا جمع الله الناس يوم القيامة ليوم لا ريب فيه نادى مناد من اشرک في عمل عمله الله احدا فليطلب ثوابه من عند غير الله فان الله اغنى الشركاء عن الشرک رواه احمد وعن انس ﷺ مثل ذالک.

سوال: اهل ريا څو مؤمنان هم كېداى سي، نو د دې آيت معنى به څه وي ليس لهم فی الاخرة الا النار؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خواب: مظهري وايي چي معنا يې دا ده چې د اعمال ربائيه په باره کې جزا نسته الا النار" واما الاعمال التي ليس فيها رياً فله فيها ثواب" او په روح البيان کې داسې وايي "ليس يليق لهم الا النار ولا يستحقون بالاعمال الربائية الا النار وليس في الاية دلالة على خلود اهل الرياً من اهل القبلة في النار البتة كما يقول المعتزله" وورد في الحديث الصحيح ان اخوف ما اخاف عليكم الشرک الاصغر قالوا وما الشرک الاصغر قال الرياً الى آخر الحديث" بيت

مرائی هر کسی معبود سازد ..... مرائی را ازان گفتند مشرک

فائده: پوه سه! چې حسنات د کافرانو مثل البر يعني احسان" او صلة الرحم او خيراتونه او جوړول د پولانو پر ولو يا رودو" او څرکان جوړول او لوی ولې ودانول ونحو ذالک.

لکه خيراتي مؤسسه د امريکايانو او انګريزانو" روسانو او جرمنيانو الى غير ذالک مقبولة عند الله يعني خداى ﷻ ثواب ورکوي که دوی وروسته ايمان راوړي او نه يې ضائع کوي که څه يې په حال کې د کفر يې کړی وي او قبل الاسلام اجماع د امت پر دې ده انهم لا يثابون على اعمالهم بنعيم ولا تخفيف عذاب كذا في شرح المشارق لابن الملک رحمه الله.

دروښ وايي: چې په شرح کې د طريقه محمديه وايي چې د شيطان د چمو څخه يو چم دا دی چې يو سړی عادت لري چې د څانښت لمونځ کوي او يا د تهجد لمونځ يا نور اذکار يا تلاوت د قرآن عظيم الشان ورد لري، نو دی د دالسې قوم سره ملګری سي چې هغه د دغو شيانو عادت نه لري، نو شيطان وده ته وسوسه پيدا کړي چې دا کارونه پرېږده داخو رياً ده، نو يې پرېږدي په دې دی خطا دی ولې چې دغه کارونه چې ده دمخه کول دليل د اخلاص دی، نو فکر د رياً خو د ده په زړه کې بې اختياره پيدا سو فلا يضر الا خلاص بلکه هغه اوراد پرېښول موافقه د شيطان سره دی، او د ده غرض پر څای کېږي هو دا ضروري ده چې تر عادت به بالابود نه کوي لان الزيادة على المعتاد رياً بلا ريبة" او ګاهي يو عمل معتاد يو څوک پرېږدي د دې بهري څخه به ده ته نسبت د رياً وکړي چې دا سړی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ریا کاره دی، وهذا عین الریا" لانه ترکه خوفا من سقوط منزلة عند الناس" او بل په دې کې بدګماني ده پر مسلمانانو.

اَفَمَنْ كَانَ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ

آیا هغه څوک چې پر حجت او برهان وي د طرفه څخه د رب د ده چې هغه دلیل او حجت دلالت کوي پر حق او صواب باندې نو هغه بنده مختار کړی وي عبادت د الله ﷻ پر عبادت د بتانو، او مختاره کړي یې وي نعیم د دار الآخرة الباقیة پر نعمتو د دنیا فانیة ولذاتها.

پوه سه: چې کلمه د "من" مبتدأ ده خبر یې محذوف ی د او همزه لپاره د انکار دی پر مشابهت د من کان هذا شانه بهولاً یعني دغه کسان چې همت ددوی او افکار ددوی فقر پر دنیا او پر لذاتو د دنیا وي، بعد العلم بان المقصرین لیس لهم في الآخرة الا النار، وتقدیر الکلام افمن کان علی بینة من ربه کمن کان یرید الحیوٰة الدنیا وهذا هو الجز المحذوف یعني هر ګز نسي سره یو شی کبدای وهذا هو معنی الهمزة الانکاریة.

پوه سه: چې مراد په موصول سره رسول الله ﷺ سره د اتباعو دده وهم المؤمنون المخلصون، والقرینة علی العموم جمعیة اسم الاشارة في قوله تعالی "الآتي اولئک یؤمنون به والمراد بالبینة القرآن الکریم.

وَيَتْلُوْهُ شَاهِدٌ مِّنْهُ

او قرائت کوي د بینة، سبب د تذکیر د ضمیر دادی چې مراد له بینة څخه قرآن دی، د "منه" ضمیر خدای ﷻ ته راجع دی او له شاهد څخه مراد جبرئیل علیه السلام دی په قول د مظهري رحمه الله چې پر دې اراده ده هغه حدیث د ابن عباس رضي الله عنهما راوړی دی چې ابن عباس رضي الله عنهما چې دا آیت روایه "ویتلوه شاهد منه" ده وویل هو جبرئیل فهو شاهد من الله یتلو من کتاب الله الذي انزل علی محمد ﷺ، او روح المعاني د یتلوه ترجمه په یتبعه کړې ده او ضمیر یې راجع وه بینة ته په تاویل د قرآن ګرځولی دی او د شاهد تنکیر یې پر تعظیم حمل کړی دی حیث قال شاهد عظیم پر دې باندې چې قرآن من عند الله دی او روح د شاهد څخه اعجاز القرآن في نظمه مراد ګرځولی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: د متابعت د اعجاز قرآن لره څخه معنی ده؟

ځواب: روح المعاني وایي کونه (ای الاعجاز) تابعاً له (ای للقرآن) کونه ای الاعجاز وصفا له ای للقرآن لاینفک عنه حتی یرث الله تعالی الارض ومن علیها فلا یستطیع احد معارضة ولو کان بعضهم لبعض ظهیراً، او لفظ د منه متعلق په محذوف پورې ګړځولی دی ای کائناً منه او صفت د شاهد یې بولي وقال ومعنی کونه منه انه غیر خارج عنه یعني اعجاز د قرآن خارج شی نه دی.

دروبش وایي: چې ثم وثم روح المعاني نور احتمالات هم راوړي دي، او روح البیان د "بینة" څخه برهان عقلي چې پر توحید د خدای ﷻ دلالت کوي مراد ګړځولی دی او د یتلوه ترجمه یې په متابعت کړې ده، ضمیر مذکر یې راجع وبینة ته په تاویل د برهان ګړځولې ده "منه" ضمیر یې راجع وه خدای ﷻ ته ګړځولی دی، او مراد له شاهد څخه یې قرآن عظیم ګړځولی دی چې شاهد د صحت د برهان عقلي دی.

دروبش وایي: چې دا ټولې او نورې هم توجیهات د قرآن ددې آیت وې اصلي خبره خو داده چې الله اعلم بمراده في کتابه، لکن مفسرین شکر الله سعیهم خپل تر وسع مبذول کړې ده او خپل کوشش یې کړی دی، لکن د دروبش په عقیده تفسیر د مظهري اسانه او د تکلف څخه خالي دی، او دقت او متانت او تحقیق په تفسیر کي د روح المعاني دی، او تفسیر د روح البیان له تکلفه خالي نه دی والله اعلم بالصواب.

وَمِنْ قَبْلِهٖ كِتٰبُ مُوْسٰٓى اِمَامًا وَّرَحْمَةً ؕ

او دمخه تر نزول د قرآن کتاب د موسی ﷺ یعني تورات شاهد دی د خدای ﷻ له خوا څخه پر صدق د قرآن وکونه من عندالله علی رسوله محمد ﷺ حیث بین کتاب موسی ﷺ صدق القرآن في کونه من عندالله وصدق محمد ﷺ في دعوة الرسالة وان کتم ذالک بعض العلماً من الهیود المعاصرین لرسول الله ﷺ حفظاً لریاستهم علی عوامهم واخذ الاموال منهم کمابین في سورة البقرة وغیرها.

یوه سه: چې "اماماً ورحمة" دواړه حال دي له کتاب موسی څخه یعني کتاب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

موسی مقتدی به وٌ د بني اسرائیلو او رحمت د خدای ﷻ له خوا پر منزل علیهم باندي چي بني اسرائیل وه په وخت کي د موسی او وروسته تر موسی د نورو انبیاوٌ د بني اسرائیلو من قبل ان یقع التحریف في التورات من قبل بعض العلما المعاصرین للنبي ﷺ کمامر آنفاً.

أُولَٰئِكَ يُؤْمِنُونَ بِهِ ۖ وَمَن يَكْفُرْ بِهِ مِنَ الْأَحْزَابِ فَالنَّارُ مَوْعِدُهُ ۚ

"اولئک" اشارةً الی من کان علی بینة، ولي مراد د هغه څخه جماعت د مؤمنانو دی، دوی حقیقت ایمان درلودی پر قرآن او پر علیه الصلوٰة والسلام باندي، او څوک چي کفر وکړي په علیه الصلوٰة والسلام یا په قرآن سره.

دروښ وایي: چي کفر په علیه الصلوٰة والسلام یا په قرآن سره یو له بل سره لازم او ملزوم دي کما لایخفی لکن ما چي تردید وکړی له جهته د افراد د ضمیر د "به" (من الاحزاب) یعني د ملتو والا که یهود او که نصاری او که مجوس وي الی غیرهم "فالنار موعده" نو اور د دوی ځای د وعدې دی، د ابو هریره ﷺ روایت دی چي علیه الصلوٰة والسلام وویل "والذي نفس محمد بیده لا یسمع بي احد من هذه الامة ولا یهودي ولا نصراني ومات ولم یؤمن بالذي ارسلت به الا کان من اصحاب النار" قسم په هغه خدای ﷻ چي نفس محمد د هغه په قدرت کي دی چي نه به اوري زما رسالت یو څوک د دې جماعت یعني جماعة الکفرة من اهل الارض او نه یهودي او نه نصراني او مړسي او ایمان رانه وړي پر هغه دین چي را استولی سوی یم زه په هغه دین سره مګر هغه سړی به وي له خاوندانو څخه د اور جهنم. (روایت د مسلم)

فَلَا تَكُ فِي مِرْيَةٍ مِّنْهُ ۖ إِنَّهُ الْحَقُّ مِن رَّبِّكَ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٧﴾

نو ته مه ګرځه یا محمد (ﷺ) په شک کي له قرآن څخه او یا له وعدې څخه د نار د کفارو سره ظاهراً انهي و علیه الصلوٰة والسلام ته متوجه دی لکن مراد امت دی، ولي چي په علیه الصلوٰة والسلام کي ځای د شک نه وٌ، په تحقیق قرآن حق دی یا موعد الکفار حق له جانبه څخه د خدای ﷻ ستا لکن د هر خلګ پر حقیقت د قرآن ایمان نه راوړي لقصور عقولهم عن درک حقیة القرآن ومواعیده، او یا له جهته د تکبر او عناد ایمان نه راوړي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا

او څوک دی لوی ظالم (يعني نسته لوی ظالم. فالاستفهام للانکار) تر هغه چا چې په قصد وايي پر خدای ﷻ درواغ يعني وايي چې خدای ﷻ لره شريک ته په عبادت کې لکه مشرکانو د مکې به خپل بتان د خدای ﷻ شريکان بلل، او يا خدای پاک لره ولد ته لکه يهودان چې وايي عزير ابن الله دی او يا نصاری وايي چې عيسی ابن الله دی، او يا به بعض مشرکانو د مکې ويل چې ملائکه د خدای پاک لونې دي، کريمه "الکم الذکر وله الانثی تلک اذاً قسمة ضيزی" يا لکه يهودانو چې به نسبت وه خدای ﷻ ته د هغه شي چې خدای پاک به نه وه نازل کړي بلکې دوی به له ځانه څخه ويل کقولهم "نحن ابنٰؤ الله واحبائه، يا "لن تمسنا النار الا ايّاماً معدودة" او چې خدای پاک به نازل کړي وه په تورات کې د بعض د هغو به يې نفي کوله لکه آيت الرجم او نعوت د عليه الصلوٰة والسلام الی غير ذالک من التحريفات في التورات.

أُولَٰئِكَ يُعْرَضُونَ عَلَىٰ رَبِّهِمْ وَيَقُولُ الْأَشْهَادُ

دغه کسان به پېښ کړل کېږي ورب ته ددوی يعني يوم القيامة او وايي به شاهدان يعني هغه ملکي چې ددوی اعمال يې ثبت کړي وه دا قول د مجاهد رحمه الله دی، او ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې مراد انبياً او رسولان عليهم السلام دي چې هر يوه به د خپل امت په کفر سره شاهدي اداً کوي، ويؤيده قوله تعالی "فکيف اذا جئنا من کل امة بشهيد وجئنابک علی هؤلاً شهيداً"

فائده: اشهاد يا جمع د شاهد ده لکه اصحاب چې جمع د صاحب ده او يا جمع د شهيد ده لکه اشراف چې جمع د شريف ده او شاهد او شهيد هم معنا دي.

هَٰؤُلَاءِ الَّذِينَ كَذَبُوا عَلَىٰ رَبِّهِمْ ۚ أَلَا لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الظَّالِمِينَ ﴿١٨﴾

شاهدان به دا وايي چې دا هغه کسان دي چې پر ربهم ددوی به يې درواغ ويله آګاه اوسه چې لعنت د خدای ﷻ دي وي پر ظالمانو.

سوال: داسې يې ولې نه وويل سول "عليهم" مع ان سوق الکلام فيهم؟

خواب: تا چې نورو ظالمانو ته پر ته له مکذبين علی الله ته هم شامل سي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي په دې آیت کي لوی تهدید دی ددغو کسانو چي خدای ﷻ پد خپله ځپل لعنت پر دوی ووایه، مفسرین رحمهم الله وایي چي اشهاد په کرام کاتبین او انبیاً والمرسلین پوري خاص نه دی بلکې اعضاً د مکلف هم له شاهدانو څخه دي، کریمه "الیوم نختم علی افواههم وتکلمنا ایدیهم وارجلهم" کریمه "قالوا لجلودهم لم شهدتم علینا الآیة" کریمه "یوم تشهد علیهم السنتهم وایدیهم وارجلهم الخ" کریمه "وکفی بنفسک الیوم علیک حسیباً" او له شاهدانو څخه دي ځایونه چي بندګان د خیر او د شر عمل په وکړي، في سورة العادیات. کریمه "یوم تحدث (ای الارض) اخبارها" قال علیه الصلوٰة والسلام اخبار د مځکي دادی چي مځکه به شاهدي ادا کړي پر هر نر او ښځي په هغه عمل سره چي د مځکي پر شا باندي چا کړی وي یعني من الرجل والمرئة.

دروښ وایي: چي نور شهود هم په احادیث شریفه وو کي راغلي دي چنانچه بخاري د ابو سعید الخدري رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چي علیه الصلوٰة والسلام وویل "لا یسمع مدی صوت المؤذن جن ولا انس الا شهد له یوم القیامة" او له ابو خزیمه رضي الله عنه څخه دا حدیث په دې الفاظو راغلی دی "لا یسمع صوته (ای المؤذن) حجر ولامدر ولا شجر ولا انس ولا جن الا شهدله"

دروښ وایي: چي ددې حدیث مبارک څخه ثابتېږي سماع صوت المؤذن للجمادات من الحجر والمدر والشجر، او شهادت ددوی مؤذن په ورځ کي د قیامت وما ذالک علی الله بعزیز. او په حدیث مرفوع کي د ابو هریره رضي الله عنه چي ابو داوٗد او ابن خزیمه راوړی دی داسي راغلي دي للمؤذن یغفر مدي صوته وشهد له کل رطب ویابس" او عبدالله بن المبارک رحمه الله له حضرت عمر رضي الله عنه روایت کړی دی که چا المونځ وکړی په یو ځای کي شجر و حجر شهد له یوم القیامة.

دروښ وایي: چي احادیث مبارکه مقبول او پر حقیقت محمول دي عند من یؤمن بالله ورسوله که څه هم اهل عقل صرف وه ورته حدیثو ته حیران پاته وي لان سماع الصوت عند اهل العقل الصرف انما یکون في ذوی العقول واما نحن نؤمن بها حملاً علی الظاهر لانه تعالی علی کل شئ قادر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او ابو نعيم رحمه الله له معقل بن يسار رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چې هغه وايي چې نبي عليه الصلوٰة والسلام وويل "ليس من يوم يأتي على ابن آدم الا ينادي يا ابن آدم انا خلق جديد وانا فيما تعمل في خيرا عليک شهيد لک غداً فاعمل في خيراً اشهد لک به غداً فاني لو مضيت لم ترني ابداً. ويقول الليل مثل ذالک.

دروښ وايي: چې مذکوره احاديث امام مظهري ذکر کړي دي.

دروښ وايي: چې د يقول الاشهاد الآية تفسير پای ته ورسېدی بما لا مزيد عليه ان شاء الله تعالى.

پوه سه: چې د قيامت د ورځې حساب دوه قسمه دی يو حساب د مناقشې بولي چې په حديث شريف کې راغلي دي "من حسب عذب (د چا سره حساب وکړل سو هغه به په عذابېږي) عليه الصلوٰة والسلام چې دا وويل ام المؤمنين سيدتنا عائشة رضي الله عنها ورته وويل چې خداى ﷻ نه وايي چې "فسوف يحاسب حساباً يسراً" عليه الصلوٰة والسلام ورته وويل ذالک يا موفقة العرض ولكن من نقش يعني په حساب کې عُذب، يعنې په حساب کې تنګې ورسره وسوه يعنې ګناه کبائر او صغائر يې ټوله ورته بيان سوه او بيا سبب ددغو ګنهو ځنې وپوښتې. نو هغه په عذابېږي، يعنې مستحق د عذاب خو دی ان شاء الله عذبه وان شاء غفرله برحمته العامة او بشفاعة شافع.

دروښ وايي: چې د حساب يسير معنى هغه ده چې بخاري او مسلم او ګڼ شمير محدثانو يې روايت کړی دی كما في تفسير روح المعاني له ابن عمر رضي الله عنهما څخه قال سمعت رسول الله ﷺ يقول ان الله يدني المؤمن (خداى ﷻ وه ځان ته نژدې کړي مؤمن قرباً بلا كيف حتى يضع عليه كنفه (حتى چې خداى ﷻ کنېږدي پر هغه خپل بغل)

دروښ وايي: چې دا عبارت د متشابهاتو څخه ددې حديث دی "ويستره عن الناس ويقرره بذنوبه ويقول له اتعرف ذنب كذا فيقول رب اعرفه حتى اذا قرره بذنوبه ورئ في نفسه انه قد هلک قال سترتها عليک في الدنيا واما اغفرها لک اليوم ثم يعطى كتاب حسناته الى اخير الحديث.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ترجمه: او له خلگو څخه يې پټ کړي، او خدای ﷻ دغه بنده اقرار کړي په خپلو گنهو سره او خدای ﷻ ورته ووايي آيا ته خبر يې ستا په فلانی گناه سره (دروښ وايي چې دا تفصيل دی د اقرار په گنهو سره) بنده ورته ووايي يا رب په خبر يم، حتی چې د تولو گنهو اقرار په وکړي او د بنده دا خيال وي په زړه کې چې هلاک سوې، يعني ستا گنهونه خدای پاک درته بيان کړل او تا هم ومنل نو به اخيراً حکم د دوزخ درباندې وکړي، نو خدای پاک ارحم الراحمين ورته ووايي چې دغه گنهونه ما پر تا پټ کړي وه يعني خلگ مې نه وه درخبر کړي په دنيا کې او زه دغه تولې گنهونه دربخښم وتاته ننه ورځ، وروسته يې کتاب د نيکيو ده ته ورکړل سي يعني چې ده په دنيا کې کړي وي په لاس يې ورکړي.

دروښ وايي: چې اللهم حاسبنا حساباً يسيراً بفضلک وکرمک ورحمتک يا ارحم الراحمين وبجاه نبيک سيد المرسلين ﷺ آمين يا رب العالمين.

الَّذِينَ يَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا

"الذين آه" صفت دی د ظالمين، يعني هغه ظالمان چې منع کوي خلگ له لارې څخه د خدای ﷻ يعني عن دين الاسلام.

پوه سه: چې ضمير مؤنث راجع دی وه "سبيل الله" ته چې د سبيل لفظ مؤنث سماعي دی، او دوی بيانوي سبيل الله وه خلگو ته چې دا لار د حق او صواب څخه منصرف او کړه لاره ده، په ارشاد کې وايي چې دا حکم ددوی شامل وه تکذيب ته د قرآن هم دی وقولهم انه ليس من عند الله بل هو مخترع لمحمد صلى الله عليه وعلى آله وصحبه وسلم.

وَهُمْ بِالْآخِرَةِ هُمْ كَافِرُونَ

الواو حالية، يعني حال دادی چې دوی کافران دي په اخرت سره يعن بعث بعد الموت هم نه مني وكذا ما يترتب على البعث بعد الموت من الجنة والنار وغيرهما من امور الآخرة هم نه مني.

پوه سه: چې تکرار د "هم" د ضمير لپاره د تاکيد د کفر ددوی دی، او لپاره د اختصاص د کفر په دوی پورې کان کفر غيرهم ليس بشئ بمقابلة كفرهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أُولَٰئِكَ لَمْ يَكُونُوا مُعْجِزِينَ فِي الْأَرْضِ وَمَا كَانَ لَهُم مِّن دُونِ اللَّهِ مِنْ أَوْلِيَاءَ

او دوی نه دي عاجزه کونکي يعني د خدای ﷻ په محکه کي يعني چي دوی ته دي عذاب في الدنيا ورکړي کما عذب کفار مکة في بدر، او نسته دوی لره بهله خدايه کومک کونکی چي د خدای ﷻ له عذابه يې خلاص کړي ان شاء.

پوه سه: چي اولياء چي يې جمع راوړې په اعتبار د تعدد د افرادو د کفارو کانه قيل ليس لاحد من الكفرة واحد من ولي وهذا كما قالوا مقابلة الجمع بالجمع يفيد توضيع الاحاد على الاحاد كما في لبسوا ثيابهم وركبوا دوابهم، والحاصل چي بعض کفره وو ته چي په دې دنيا عذاب نه ورکوي دا امهال دی اهمال نه دی تا چي تيوله عذاب ددوی وه اخرت ته پاته سي كما قال:

يُضَاعَفُ لَهُمُ الْعَذَابُ ۚ مَا كَانُوا يَسْتَطِيعُونَ السَّمْعَ وَمَا كَانُوا يُبْصِرُونَ ﴿٢٠﴾

مضاعف او دوه چنده به سي دوی لره عذاب په اخرت کي يو ضلال خپل بل د اضلال د نورو اتباعو ددوی، دوی طاقت نه درلودی د اورېدلو په سمع د قبول وان كانوا يسمعون ظاهراً، او نه وه دوی چي حق دي وويني په ليدلو د بصيرت او د عقل ولعل المراد بالحق معجزاته ﷺ وان كانوا يبصرونها برؤية البصر فهم صم عمى.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ خَسِرُوا أَنفُسَهُمْ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿٢١﴾

دوی هغه کسان دي چي په تاوان کي يې واقع کړه خپل ځانونه، ولي دوی رانيوی عبادت د بتانو په عبادت د خدای ﷻ او را يې نيوی دوزخ په جنت سره او دا شراً له عقل سليم څخه ډېره لېرې شراً ده. او ورکه به سي د دوی څخه شی چي دوی يې افتراً کوله، يعني درواغ يې وله چي دوی به ويل هؤلاء يعني الاصنام شفعائنا عند الله.

لَا جَرَمَ أَنَّهُمْ فِي الْآخِرَةِ هُمُ الْأَخْسَرُونَ ﴿٢٢﴾

خواه مخواه (هرو مرو) دوی په اخرت کي لوی تاوان کونکي دي.

پوه سه: چي سيبويه وايي "ان" کلمه د "لا" لپاره د نفي د ماسبق دی او "جرم" فعل ماضي ده په معنی د حق او انهم الی اخيره فاعل د حرم دی، والتقدير لاينفعهم ذالک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الفعل وحق انهم آه، او بعض نحات وايي چي كلمه د "لا" لپاره د نفي ده. او "جرم" په معنى د كسب دى، او "انهم" آه يې مفعول دى او فاعل يې مادل عليه الكلام اى كسب ذالك خسرانهم وحاصل المعنى ما حصل من ذالك الا ظهور خسرانهم.

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَأَخْبَتُوا إِلَىٰ رَبِّهِمْ

په تحقيق هغه كسان چي ايمان يې راوړى وي يعني پر خداى ﷻ په وحدانيت سره او پر عليه الصلوٰة والسلام په رسالت سره او د قرآن په حقيقت سره الى غير ذالك او عملونه كوي صالح يعني اوامر د خداى ﷻ پر ځاى كوي او عاجزي يې مختاره كړې وي وخداى ﷻ ته. في القاموس خبت خشع وتواضع والخبت الشئ الحقير انتهى، ابن عباس رضي الله عنهما وايي "خافوا" او قتاده رحمه الله وايي "انابوا" او مجاهد رحمه الله وايي "اطمئنانوا"

دروښ وايي: چي دا معاني په حاصل كي اختلاف نه سره لري بلكې يو له بله سره لازم او ملزوم دي فتأمل.

أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٢٣﴾

دغه كسان خاوندان د جنت دي چي دوى به همېشه په جنت كي وي يعني نه مرګ لري نه درد، او نه ضعف لري كر الازمان ومر الدهور اللهم اجعلنا منهم آمين.

مَثَلُ الْفَرِيقَيْنِ كَالْأَعْمَىٰ وَالْأَصَمِّ وَالْبَصِيرِ وَالسَّمِيعِ

او مثال يعني حال ددې دوو ډلو چي مؤمنان او كافران دي لكه حال د راننده او كاڼه دا حال او مثال د كافرانو دى، ولي چي كافرانو معجزات د قرآن او د عليه الصلوٰة والسلام په ستر ګو د عبرت او قبول نه ليدلې، او نه يې مواعظ د قرآن او نصاح د عليه الصلوٰة والسلام په سمع د قبول اورېدل، او بصير او سميع دا مثال او حال د مؤمنانو دى.

هَلْ يَسْتَوِيَانِ مَثَلًا ۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٢٤﴾

آيا برابري دي دغه دوې ډلې (استفهام انكاري دى يعني نه دي سره برابري) از روى تمثيل او صفت او حال.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې "مثلاً" تمیز دی له فاعل څخه د "یستویان" او منقول له فاعلیت څخه، پوه سه! چې د "تذکرون" اصل تتذکرون و ادغمت التا في الدال.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِ إِنِّي لَكُمْ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٢٥﴾

(لام موطئه للقسم) په تحقیق مونږ استولی و نوح علیه السلام وخپل قوم ته په دې سره چې زه تاسي لره بهرووونکی یم بنکاره.

دروښ وایي: چې بشیر یې نه کړی ورضم لان الکفار یسوا من اهل البشارة کما لا یخفی.

دروښ وایي: چې الواو ابتدائیه، تاریخ خبري کوي، نوح بن ملک بن متوشلخ بن ادریس علیه السلام، تر ادریس علیه السلام وروسته نوح علیه السلام اول نبي دی. قال ابن عباس رضي الله عنهما چې نوح علیه السلام د عمر پر څلوېښت کاله نبي سو، او نهه نیم سوه (۹۵۰) کاله د قوم په تبلیغ سرګرم بخت و، او وروسته تر طوفان شپېته (۶۰) کاله ژوندی و او دده عمر یو زر او پینځوس (۱۰۵۰) کاله و. وقیل غیر ذالک، او د نوح علیه السلام ولادت تر آدم علیه السلام وروسته تر هبوط مځکي ته (۶۴۲) او په دمشق کي دده کور و او ځای د دفن یې کوفه ده وقال بعضهم في مغارة ابراهیم في بیت المقدس، او دده اصل نوم شاکر و، او د نوح نوم یې په سبب د ډېري ژړا دی مشهور سو. دروښ وایي چې تاریخ د نوح علیه السلام دېر اورد دی وفیما ذکرناه کفایة

أَنْ لَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ ۖ

تاسي عبادت مه کوئ پرته الله جل جلاله.

پوه سه: چې کلمه د با مقدرة ای بان لاتعبدوا، او کلمه د با متعلق په ارسلنا پوري ده، او کلمه د لا نافیه ده ای ارسلناه متلبساً بینهم من الشرک.

إِنَّنِي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ أَلِيمٍ ﴿٢٦﴾

زه بېرېږم پر تاسي یعني که شرک ته دوام ورکړي له عذاب څخه د ورځي الیم، چې مراد څنې یوم القیامة ده یا یوم الطوفان ده.

پوه سه: چې روح البیان او مظهري دوارې وایي چې "الیم" په معنی د مؤلم دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پر صيغه د اسم مفعول او صفت د يوم دی او اسناد د الم وه ورځي ته مجاز دی وظرف ته نحو نهاره صائم، او روح البيان دا هم ويلي دي چي اليم دي صفت د عذاب وي، او اسناد و عذاب ته هم مجاز نحو جدجده.

سوال: عذاب خو منصوب دی، نو اليم ولي مجرور دی؟

ځواب: روح البيان وايي چي دا جر د جوار له سببه دی.

دروښ وايي: چي ددې جر مثال هغه دی چي په آية الوضوء کي وارجلكم راغلی په يوه قرائت کي چي د شيعه ګانو دا مذهب دی چي وظيفه د پښو مسح ده، ولي چي ارجلكم په جر سره عطف پر رؤسكم دی چي د سر وظيفه خو مسح ده لقوله تعلی وامسحوا برؤسكم. نو د پښو وظيفه په اوداسه کي هم مسح ده. او شيعه ګان مسح پر موزو روا نه بولي. نو چي دوی په يو سفر کي د موزو وه اغوستلو ته مجبوره سي موزې دومره فراخه جوړوي چي لاس ورننباسي او پر پښو مسح وکړي حتی چي ددوی موزه ضرب المثل ګرځېدلی ده، چي يو شی مثلاً خولی چي د سړي پر سر لو وې بل سړی ورته ووايي چي څومره فراخه خولی دي ده لکه د شيعه موزه، او زمونږ د اهل سنت په نهز جر د ارجلكم يا جر جوار دی يعني چي ارجلكم بالجر په جوار کي د رؤسكم راغلی دی چي هغه مجرور دی، او يا قرائت د نصب د ارجلكم چي قرائت متواتره دی محمول پر حال د عدم التخفف دی يعني عطف دی ايديكم چي عضو مغسول ده بالاجماع، او قرائت د جر محمول پر حال د تخفف يعني موزه يې په پښو وي نو دي مسح پر موزه کوي درې ورځي که مسافر ؤ، او يوه ورځ که مقيم ؤ. وقد روی عن امام اعظم ابی حنيفة رحمه الله اخاف الكفر على من انكر المسح على الخفين لان الاحاديث الواردة فيه متواترة المعنى.

دروښ وايي: چي بيضاوي دا احتمال هم بيان کړی دی چي اليم دي په معنی د مولم وي پر صيغه د اسم فاعل چي صفت د عذاب حقيقةً. او بيضاوي د فعيل چي په معنی د مفعل وي پر صيغه د اسم فاعل دا قول د يو شاعر فصيح ګرځولی دی، شعر:

امن ريحانة الداعي السميع ..... يورقني واصحابي هجوع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په دغه شعر کي سميع په معنی د مسمع پر صيغه د اسم فاعل وقصة هذا الشعر طويلة.

دروښ وايي: چي فعيل په معنا د مفعل على صيغة الفاعل شاذ بلا ريبة. هذا تحقيق عذاب اليم في جميع القرآن العظيم فتفكر هداك الله لدرک الدقائق.

فَقَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن قَوْمِهِ مَا نَرَىٰكَ إِلَّا بَشَرًا مِّثْلَنَا

وويل (پوه سه! چي "ملأ" اشراف ته د هر قوم وايي چي ددوی په وجود سره په مجلس کي زړونه د خلګو له هيبته څخه ډکيږي) هغه کسان چي شرک يې کاوه له قوم څخه د نوح عليه السلام مورږ نه وينو تا مګر يو انسان زمورږ غوندي.

تنبيه على جهالة المشركين: الوهيت او معبوديت چي ډېره لوړه رتبه ده پر بتانو جماداتو يې روا وبلل، او رسالت چي کښته مرتبه ده تر معبوديت پر انسان يې روا نه وبلل او سره ددې چي انسان خو تر جماد ډېر بالا دی.

وَمَا نَرَاكَ اتَّبَعَكَ إِلَّا الَّذِينَ هُمْ أَرَاذِلُنَا بَادِيَ الرَّأْيِ ۖ

او نه وينو مورږ تا چي ستا متابعت دي کړی وي يعني ستا په دين مګر هغه کسانو چي هغوی رزيل او بېکاره خلګ دي زمورږ.

پوه سه: چي جمع د رزيل ارزل ده او جمع الجمع يې ارازل ده مثل کلب جمع يې اکلب ده او جمع الجمع يې اکالب ده.

سوال: کلب خو اسم دی او رزيل خو صفت دی. نو څرنګه قياس صحيح دی؟

جواب: نعم رزيل خو صفت دی لکن په غلبة الاستعمال لکه اسم ګرځېدلی دی "بادي الرأی" په ظاهر نظر چي ستا په حق يې د تعمق النظر څخه کار نه دی اخستی چي هغه کسان اصحاب د صنائع خسيسه وه لکه دوبيان" موچنړ دوزان" وغيرهم، نو که ته نبي وای، نو ستا متابعت به پوهانو او اشرافو خلګو کړی وای.

دروښ وايي: چي دوی په دې نه پوهېدل چي اغلب تابعان د انبيأ عليهم السلام هم دغه خلګ دي چي د خلګو په نظر ارازل ګڼل کېږي او اشراف په سبب د تکبر سر د متابعت وچاته اولا نه کښته کوي" ولهذا كان اكثر التابعين لرسول الله ﷺ الفقرأ والمساكين كبلال الحبشي رضي الله عنه وصهيب الرومي رضي الله عنه وابن مسعود رضي الله عنه وغيرهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَا نَرٰى لَكُمْ عَلَيْنَا مِنْ فَضْلٍ

او موږ نه وينو تاسي لره يعني يا نوح ومن اتبعک پر موږ باندي بالابود په مال او جاه وجلال کي حتى موږ ستاسي متابعت وکړو يعني د دوی خيال دا وو چي متابعت چي څوک کوي د مالدار سړي او د جاه وجلال والا سړي به کوي نه د فقير او د غريب سړي.

بَلْ نَظُنُّكُمْ كٰذِبِيْنَ ﴿۲۷﴾

بلکه موږ گمان کوو پر تا يا نوح او ستا پر تابعانو چي درواغ وياست.

قَالَ يٰقَوْمِ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كُنْتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ وَاٰتٰىنِيْ رَحْمَةً مِّنْ عِنْدِهٖ

نوح وويل ای قوم زما (فکسرة القوم عوض عن الیاء) تاسي خبر راکړئ که چيري وم زه (کلمة الشک مبنية علی حال المخاطبين) پر حجة واضحه چي زما د صدق په دعوی کي د نبوت دليل دی د طرف څخه د خدای زما والمراد بالحجة الواضحة معجزاته" او ماته يې راکړی يعني خدای رحمت د خپل جانبه څخه، مراد له رحمت څخه هدايت او نبوت دی.

فَعُمِّيَتْ عَلَيْكُمْ اَنُلْزِمُكُمُوْهَا وَاَنْتُمْ لَهَا كٰرِهُوْنَ ﴿۲۸﴾

او هغه رحمت او نبوت يعني زما پر تاسي پوشيده سو چي انکار ځندي کوئ، آيا زه په مجبور کوم تاسي پر قبول د هدايت او نبوت خپل الهمزة للانکار يعني زما په طاقت کي اجبار ستاسي نسته لاني نذير فقط او حال دا دی چي تاسي د هدايت څخه بد وړئ يعني نه يې قبله وئ" قال قتادة رحمه الله لو قدر الانبياء عليهم السلام ان يلزموا قومهم الايمان لالزموا لکن لايقدرون.

دروښ وايي: چي تبليغ د انبياء کرامو عليهم السلام په مثال د باران دی، باران چي پر سر کشاده مځکه اوري او په هغې مځکي کي نباتات شنه کوي او چي پر بوه مځکه سر پوښ پروت وي هغې ته فائده نه رسوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَيٰقَوْمِ لَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مَالًا ۖ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى اللَّهِ

او اې قومه زما زه سوال نه کوم د تاسي څخه پر تبليغ باندې د مال.

پوه سه: چې تبليغ که څه هم نه دی ذکر سوی لکن د مقام څخه مفهوم دی "فلا يرد ما يرد" نه دی زما اجر يعني الثواب مګر نه پر خدای ﷻ.

سوال: علی خو کلمه د الزام ده او پر خدای خو لزوم د شي نسته؟

ځواب: کلمه د علی مبني پر وعد او تفضل د خدای ﷻ ده.

وَمَآ أَنَا۠ بِطَارِدِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟

او نه هم زه شړونکی د هغو کسانو چې ایمان يې را وړی وي.

پوه سه: چې اشرافو او سردارانو د قوم نوح د ده څخه دا مطالبه کړې وه چې دا ستا اتباع چې اکثر يې فقراً او مساکين وه د مجلس څخه وشړه، نو به مونږ ستا سره نشست او برخواست کوو، نو نوح ﷺ په جواب کې دا ورته وويل وما انا آه.

دروبش وايي: چې ورته سوال رئيسانو د قرېشو هم د عليه الصلوة والسلام څخه کړی وو مګر عليه الصلوة والسلام هم د دوی په خوله ونه کړه.

إِنَّهُم مُّلَٰقُوا۟ رَبِّهِمْ وَلَٰكِنِّىٓ أَرَىٰكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُونَ ﴿٢٩﴾

ولې چې دا کسان د خدای ﷻ سره ملاقي کېږي، نو يا ددې خبرې مقصد دادی چې دوی به د طارد شکايت و خدای ﷻ ته وکړي او يا مقصود دادی چې دوی په په ورځ د قيامت د خدای ﷻ سره ملاقي کېږي او د خدای پاک سره به قرب منزله لري فهم اولياً الله فكيف اطرد اولياً الله ﷻ، لکن زه بولم تاسي يو قوم ياست چې په قرب د اولياً الله ناخبره ياست، او يا په طلب کې د طرد ددوی له جهل څخه کار اخلئ او يا چې تاسي دوی ارازل بولئ دا د جهل خبره کوئ.

وَيٰقَوْمِ مَن يَنصُرُنِى مِنَ ٱللَّهِ إِن طَرَدتُّهُمْ ۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٣٠﴾

نوح ورته وويل اې قومه څوک به کومک وکړي زما سره من الله ای من غضب الله ويمنعني انتقامه که زه دوی وشړم سره ددې چې دوی د خدای ﷻ سره قرب او دوستي لري آيا تاسي نصيحت او پند نه اخلئ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بوه سه: چي په قرار د قانون نحوي لکه چي دروښ څو واره په دې تفسیر کې ذکر کړي هم دي چي همزه د استفهام چي پر حروف عاطفه وو داخل سي معطوف علیه یې تر همزه دمخه کېدای نه سي لفوات صدارتها بلکې وروسته تر همزه به معطوف علیه مناسب د مقام سره مقدر وي، والتقدیر ههنا اتستمرون علی ما انتم علیه من الجهل المذکور فلا تذکرون، په حدیث صحیح نبوي کې راغلي دي "حب الفقراً والمساکین من اخلاق الانبیاً والمرسلین، وبغض مجالستهم من اخلاق المنافقین" یو شاعر د فقراؤ په باره کې داسي وایي:

برفلک برتر بود اسرار او ..... شیئاً لله شیئاً لله کار او

وقیل من دق باب الکریم انفتح. څوک چي دروازه د کریم یعني د خدای پاک ورتکوي یعني طلب د قرب الهي وکړي، هغه کریم دروازه ورخلاصوي یعني خپل قریب یې ګرځوي.

وَلَآ اَقُوْلُ لَكُمْ عِنْدِيْ خَزَآئِنُ اللّٰهِ

او ما تاسي ته نه دي ویلي (نو مضارع په معنی د ماضي ده) چي ما دعوی د نبوت کوله چي زما په تصرف کې دي خزانې د رزق د خدای ﷻ او اموال د خدای پاک، حتی چي تاسي دلیل ووایاست پر کذب زما په دعوی کې د نبوت په عدم د اموالو زما سره، کما قلتم وما نری لکم علینا من فضل بل نظنکم کاذبین، کمامر شرح ذالک، ولي چي نبوت په اسبابو د دنیا نه دی مربوط.

وَلَآ اَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلَآ اَقُوْلُ اِنِّيْ مَلَكٌ وَّلَآ اَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ تَزْدَرِيْٓ اَعْيُنُكُمْ

او نه زه دا وایم چي زه په غیب شیانو خبریم وکانهم سالوه عن بعض المغیبات او نه دا وایم وتاسي ته چي زه ملک یم حتی تنکرونه و تقولون ما انت الا بشر مثلنا، او زه نه وایم په شان کي د هغو کسانو چي ستاسي په سترګو کي حقیر او ذلیل راتله حیث قلتم فیهم هم ارازلنا آه.

لَنْ يُّؤْتِيَهُمُ اللّٰهُ خَيْرًا

چي دوی ته به خدای ﷻ خیر بلکې خدای ﷻ په دې دنیا کي خیر د ایمان او هدایت ورکړی دی او په اخیرت کي جنت او درجات د قرب وخدای ﷻ ته ورکوي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او دا شيان ددوی ډېر خير دی تر هغو امو الو چې تاسي ته يې په دنيا کې درکړی دي لان هذا فانية وتلک باقية الى ابد الآباد.

اَللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا فِیْۤ اَنْفُسِهِمْ ۚ اِنِّیْۤ اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِیْنَ ﴿۳۵﴾

خدای ﷻ ښه خبر دی يعني تر ما او تاسي په هغه چې ددوی په زړو کې سته من محبة الله والعقائد الصحيحة والاخلاق الحسنة، په تحقيق سره په دغه وخت کې دوی وشرم د خپل مجلس څخه او يادا ووايم چې لن يؤتيهم الله خيرا الکه تاسي چې وايست د ظالمين د ډلې څخه يم.

دروښ وايي: چې په حديث صحيح نبوي ﷺ کې چې روايت يې ابو هريرة ﷺ کړی دی راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام وويل "المسلم اخو المسلم" يو مسلمان د بل مسلمان ورور دی يعني په اخوة اسلامي سره "لا يظلمه چې يو پر بل به ظلم نه کوي چې خپل حق نه ورکوي يا غصب د مال څندي کوي وغير ذالک من المظالم" ولا يخذله" او نه به يې نا ميده کوي چې هغه کومک څندي وغواړي په دفع د ظالم بلکه کومک به ورسره کوي او د ظالمه بې خلاصه وي" ولا يحقره" او د حقارت په ستر گو به نه ورته گوري يعني تکبر به نه پر کوي بيا عليه الصلوة والسلام زياته کړه" التقوى ههنا التقوى ههنا" ويشير الى صدره" ببره د خدای دلته ده ببره د خدای دلته ده او اشاره به يې وسينې مبارکې ته وکړه يعني په زړه کې ده چې رئيس د ټولو اعضاؤ د بدن دی.

قَالُوْا یٰنُوْحُ قَدْ جٰدَلْتَنَا فَاَكْثَرْتَ جِدَالَنَا فَاْتِنَا بِمَا تَعِدُنَاۤ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِیْنَ ﴿۳۲﴾

قوم د نوح ﷺ ده ته وويل يا نوح زمونږ سره دي ناحق بحثونه شروع کړي دي (کما هو معنی د مجادلته ده) او ډېر دي ناحقي بحثونه دي را سره کړي دي "مراد د دوی په ناحقي بحث سره وعظ او تبليغ د نوح وو، ته راتگ وکړه په هغه شي سره چې زمونږ سره وعده کوې يعني من العذاب که ته د رشتيا ويونکو څخه يې، په دعوې کې د نبوت او په دې کې چې مونږ که ايمان نه راوړو مونږ ته به خدای ﷻ عذاب را کوي.

قَالَ اِنَّمَا یَاْتِیْكُمْ بِهِ اللّٰهُ اِنْ شَآءَ وَمَاۤ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِیْنَ ﴿۳۳﴾

نوح ﷺ ورته وويل چې راتگ په عذاب سره خاص خدای کوي که يې اراده وسي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يعني زما طاقت كي نه اتيان سته او نه تعجيل، او تاسي نه ياست عاجزه كونكي د خداى ﷻ د عذاب نه د دنيا څخه او نه د آخرت، او نه څندي تبنتهد اى سئ.

وَ لَا يَنْفَعُكُمْ نُصْحِيْٓ اِنْ اَرَدْتُّ اَنْ اَنْصَحَ لَكُمْ اِنْ كَانَ اللّٰهُ يُرِيْدُ اَنْ يُّغْوِيَكُمْ ؕ

او فائده نه كوي وتاسي ته زما نصيحت كه زه اراده وكړم چي زه نصيحت وكړم وتاسي ته كه خداى اراده كړي وي د گمراهي ستاسي.

پوه سه: چي د دې آيت څخه دا معلومه سوه چي اراده د خداى په اغوا پورې يې هم تعلق صحيح دى كما يدل عليه في آمنت بالله" دا قول والقدر خيره وشره من الله" يو شاعر وايي:

مؤمنان تولة خير وشر بولي د خداى څخه
كله پېښېږي نيك او بد د خپلي رايې څخه

او پر دې يې هم دلالت وكړى چي خلاف د مراد څخه د خداى محال دى خلافاً للمعتزلة دوى وايې چي اراده د خداى ﷻ وكافر ته د ايمانه ده لكن شيطان يې وايمان ته نه پرېږدي.

حكايت: يو معتزلي عالم يو كافر ته نصيحت كاوه چي ايمان راوړه، كافر ورته وويل چي د خداى پاك اراده سوه زه به ايمان راوړم، معتزلي ملا ورته وويل چي د خداى خو ستا د ايمان اراده سته لكن شيطان تا وايمان ته نه پرېږدي، نو كافر ملا معتزلي ته وويل" فاكون مع الشريك الاغلب" يعني شيطان چي پر خداى ﷻ غالبه دى په اراده كي، نو زه د شيطان ملگرى كېږم، نو معتزلي وجواب ته حيران سو كذا في شرح العقائد.

دروښ وايي: چي مسئله د قدر ډيره مهمه ده د دې مسئلې تحقيق په دلائلو نقليه او عقليه وو سره موافق د مذهب سره د اهل السنت والجماعة په كتابو كي د متاخرينو د علم كلام مطالعه كړه لكه شرح العقائد او شرح المقاصد د علامه تفتازاني رحمه الله او يا مواقف كي د قاضي عضد الدين رحمه الله او د هغه په شرح كي چي د سيد جرجاني رحمه الله ده او په كتاب د عبد الكريم الشهرستاني رحمه الله او نور وگوره.

فائده: في اعراب الآية" په روح المعاني كي وايې چي ان اردت آه شرط دى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جواب يې محذوف دی لدلالة ما سبق عليه يعني لا ينفعكم" او هغه يې جواب نه دی لامتناع تقدم الجواب على الشرط على الاصح الذي ذهب اليه البصرية يعني ان اردت ان انصح لكم لا ينفعكم نصحي" والجملة كلها دليل قوله تعالى ان كان الله يريد ان يغويكم" والتقدير ان كان الله يريد ان يغويكم فان اردت ان انصح لكم لا ينفعكم نصحي انتهى.

دروښ وايي: چې چې کلام د روح المعاني اشاره مظهري او روح البيان هم کړې ده لکن بنهاية الاجمال حتى کاد ان لا يفهم المرام کل طالب فضلا عن معلمي هذا التفسير وبکلام روح المعاني يفهم المرام بادنى تامل.

هُوَ رَبُّكُمْ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٣٤﴾

خدای ﷻ ستاسي رب او متصرف دی او خاص وخدای ته ستاسي رجوع ده يعني خدای ﷻ به تاسي ته جزاً د اعمالو درکړي په ورځ د قيامت، **تنبيه:** پر خصوصيت باندې تقديم د جار او مجرور دلالت کوي په اليه تحشرون کې.

أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ

پوه سه: چې ام منقطعه په معنى د بل او بل دپاره د انتقال دی د ماقبله څخه او همزه دپاره د انکار دی په دې معنا چې دوی بايد داسي قول نه وای کړی" والمعنى دوی وايي چې نوح پر خدای ﷻ درواغ وايي چې زه يې نبي يم.

قُلْ إِنِ افْتَرَيْتُهُ فَعَلَيَّ إِجْرَامِي وَأَنَا بَرِيءٌ مِّمَّا تُجْرِمُونَ ﴿٣٥﴾

ته ورته ووايه چې که ما پر خدای ﷻ درواغ ويلي وه نو د افتراً ګناه خو زما په غاړه ده تاسي په دې مابين کې ولې مداخله کوئ، او زه بېزاره يم ستاسي څخه يعني تاسي نسبت د افتراً وماته کوئ.

پوه سه: چې کلمه د ما په لفظ کې د مما مصدريه ده.

پوه سه: چې بغوي رحمه الله وايي چې ضحاک د ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت کړی دی" چې قوم د نوح عليه السلام به دی په لرګو وغيره دومره ووا هه چې بېهوش به سو، نو په کراسة کې بې وپېچی او په يو خونه کې يې وغورځاوه چې مړ به سي دويمه ورځ چې پر هوش راغلی بيا يې دعوت الى الله شروع کړی حتى چې يو سپين

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پرې د ده د قوم څخه چې لکړه ورسره او زوی د ده ورسره ملګری وو پلار وزوی ته وویل لا یغرنک هذ الشیخ المجنون یعني نوح علیه السلام زوی ورته وویل چې پلار ته دا لکړه راکړه هغه چې لکړه ورکړه زوی یې نوح علیه السلام پر سر وواهه چې سخت تپې سو، نو خدای جل جلاله ونوح علیه السلام ته وویل یعني په وحي د جبرئیل علیه السلام.

وَأُوحِيَ إِلَىٰ نُوحٍ أَنَّهُ لَن يُؤْمِنَ مِن قَوْمِكَ إِلَّا مَن قَدْ آمَنَ فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوا يَفْعَلُونَ ﴿٣٦﴾

او وحي وکړل سوې ونوح علیه السلام ته چې په تحقیق شان دادی چې هرګز ایمان نه راوړي ستا د قوم څخه مګر هغه کسان چې د مخه یې ایمان راوړی دی، نو ته حزن او غم مه کوه په هغو شیانو چې دوی یې فعل کوي یعني مامر من افعالهم عن قریب" نو خدای جل جلاله دی یک لخته نا امیده کړی د ایمان څخه د دوی یعني بالا ځان مه ستړی کوه په تبلیغ کې د دوی او خدای جل جلاله وعده ورسره وکړه چې زه دوی هلاکوم او تاته نجات درکوم، نو نوح علیه السلام داسي ښرا وکړه کما في موضع آخر من القرآن" رب لا تذر علی الارض من الکافرین دیارا.

وَاصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا

او جوړه که کښتی متلبسا بحفظنا" پوه سه" چې تعبیر د حفظ یې په عین سره وکړی مبالغة ولي چې غالبا حفظ د شي په ستر کو سره کېږي، روح البیان وایې چې "باعیننا" حال دی د ضمیر څخه د "واصنع" ومعناه محفوظا یعني چې هېڅ د دښمنانو څخه ستا به د دغه عمل څخه منع نه وکړي او ته بې په عمل کې خطانه وژې "ووحینا" او په وحي سره زموږ چې طریقه د جوړېدو به یې په ذریعه د جبرئیل در وښیو.

پوه سه: چې لفظ د فلک مفرد هم دی او جمع هم فرق یې تقدیري دی که مفرد وي ضمه یې لکه د قفل ده او که جمع وي ضمه یې لکه اسد جمع د اسد ده په دې مقام کې مفرد دی او په هغه آیت کې جمع دی" والفلک التي تجري فی البحر بقرینة تانیث الصفة وعلی هذا فقس ما في القرآن" د ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې نوح علیه السلام نه پوهېدی چې کښتی څرنګه جوړه کړي فاوحی الله الیه ان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ضعه مثل جوّ جوّ الطائر" لکه سینه د مرغه" نوح ﷺ که څه هم د بخاري کار نه وو کړی لکن په تیشه چې به یې هر ځای د لرګي وواهه خطا کېدی نه.

دروښ وایي: چې اهل تاریخ بعض وایې چې طول د کښتۍ (۳۰۰) ګزه یعنې تر اوږو پورې ذراع او عرض یې (۵۰) ذراع وو او لوړ والی په هوا کې (۳۰) ګزه وو او بعض وایې چې طول یې (۱۲۰۰) ګزه وو" او عرض یې (۶۰۰) ګزه وو او دروازه پر هر تقدیر په عرض کې وه" ومن الغرائب ما فی حیوة الحیوان" چې اول سړی چې سپی یې د حراست دپاره خوندي کړی دی نوح ﷺ دی" هغه داسې چې نوح ﷺ وخدای ﷻ ته وویل یا رب زه تا امر کړم د کښتۍ په جوړېدو سره او زه چې د ورځې کار پرې وکړم" د شپې چې زه په خوارۍ خوب ببیده یم کافران د قوم راسې د شپې تولې تختېیې سره وکاږي، نو څرنګه او کله په دا کښتۍ پایه نکمیل ورسېږي خدای ﷻ امر ورکړی چې سپی د نګهبانۍ د پاره وساته، نو وروسته چې به نوح ﷺ بیده سو، نو سپي به نګهبانې کوله چې کفار به د شپې راغله سپي به غفا ورته کول نوح ﷺ بې را وېښ کړی نوح ﷺ به تبر پسې واخستی او سپي به هم خپلې هلې ځلې کولې او هغه څو نفر چې د تخریب د کښتۍ دپاره راغلي وه په ځغاسته به ځندي ولاړل د سپي شپه رونړل تر اوسه عادت دی چې سپیدې را وچوي دی بیدېږي.

فائده: سپی په وفاداری کې ضرب مثل دی.

حکایت: چشم دید یو سړی وو په کندهار کې یو سپی یې درلودی" هغه سړی وفات سو هدیره یې د کندهار دباندې د دوراهې سره جنازه چې خلګو را واخسته سپی هم پسې را رهي سو خیر مړی چې یې بنخ کړی خلګ ځندي ولاړه سپی ورباته سو هر څو چې قربیانو د مړي په وکړه سپی د مالک د قبره نه تلی ماښام یې غوښې او دوډی او په یوه کاشین کې اوبه ورته راوړې سپي هغه وخوړله لکن د قبر څخه په هیڅ توګه نه تلی قریبانو د مړي به په زور بوتلی لکن چې ایله به یې کی بېرته به د مالک قبر ته راتلی آخیر قربیانو د مړي مجبور سول د قبر سره یې خونګي ورجوړه کړه دې خبرې شهرت پیدا کړی نر او ښځې به سره د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مطعوماتو د سپي ملاقات ته راتله خير يو کال سپی يا شپږ مياشتي سپی ژوندی او بيا مړ سو خلګو د مالک د څنګه دفن کړی، بيت....:

سګ اصحاب کهف روزي چند ..... پی مردان گرفت مردم شد
پسر نوح با بدان بنشست ..... خانه نبو تش گم شد

مسئله: اقتنا الکلب لحفظ الدار عن السراق "او لحفظ الزرع" او للمواشي" وامثالها من الضروريات جائز شرعا او د جنګولو دپاره که پر طرز د ساتېرې وي او که د قمار دپاره وي حرام دی شرعا والمعتاد لاهل الفسق هو النوع الثاني خصوصا في کندهار.

وَلَا تُخَاطِبْنِي فِي الَّذِينَ ظَلَمُوا إِنَّهُم مُّغْرَقُونَ ﴿٣٧﴾

او ته به يا نوح ماته خواست په نجات کي د ظالمانو نه کوې چي دوی محکوم بالاغراق دي په ازل کي، نو عذاب د دوی څخه نه دفع کېږي.

پوه سه: چي د محکوم بالاغراق فائده دا ده چي فی الحال خو دوی نه دي غرق سوي بل فی الاستقبال البعيد.

فائده: روح البيان وايي چي مراد د الذين ظلموا څخه کنعان د نوح ﷺ زوی او واعله د نوح ﷺ زوجه او د کنعان مور ده" او روح المعاني وايي چي مراد د الذين ظلموا مطلق هغه کسان مراد دی چي ايمان يې نه وي را وړی او بيا په قيل سره کنعان او واعله را وړي دي وقال ليس بشئ والله اعلم.

وَيَصْنَعُ الْفُلْكَ

سوال: يصنع الفلک خو مضارع ده او د قرآن د نزول په وخت کي خو صنع الفلک ماضي بعيد وه باولوف سنة.

ځواب: دې ته يعني چي د ماضي څخه تعبير په مضارع سره وکړی حکاية د حالت ماضيه وايي په امر غريب کي نحاة دا تعبير روا بولي بلکه بليغ

اختلاف الروايات" مجاهد وايي چي په درې کاله کي کښتی تکميل سوه" او کعب الاحبار وايي چي په څلوېښت کاله کي تکميل سوه وقيل په شپيته کاله کي تکميل سوه" او بعض وايي په سپ (١٠٠) کاله کي" او بعض وايي په څلور

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سره، کاله کي په ځای کي د جوړېدو يې هم اختلاف دی، قيل في الكوفة" وقيل في الهند" وقيل في ارض الجزيرة" وقيل في ارض الشام" او د کوم لرګي څخه وه، په دې کي هم اختلاف دی عمر بن الحارث وايي د جبل لبنان د درختي د شمشاد او بعض وايي چې په تورات کي راغلي چې د صنوبر د درختي لرګی وو.

دروېش وايي: چې په هر صورت د الرګی چا ورته راوړه دا خو بدهي خبره ده چې نوح ﷺ پخپله خو نه پسې تلی البته ملکو به ورته راوړه.

پوښتنه: نوح ﷺ دا دونه کار د کشتی يوازي کاوه لکه ظاهره د قرآن چې دلالت پر کوي واصنع الفلک؟.

ځواب: په بعض روایاتو کي راغلي دي چې سام" او حام" او یافث" د نوح زامن هم ورسره بخت وه په کار کي د کښتی او په بعض روایاتو کي راغلي دي چې د نوح ﷺ سره ډېر مزدوران ورسره وه والله اعلم.

لکن په صحیح خبر کي راغلي دي چې په طول او زمانه کي د کښتی جوړولو لکه چې ذکر سوه د نوح د قوم ټولې ښځي عقیم او وچي کړی تا چې عذاب آلهي صرف مکلفین کافرانو ته نازل سي، والله اعلم بحقيقة الحال.

دروېش وايي: چې علامه بغدادي السيد محمود الآلوسي رحمه الله په روح المعاني کي دا مذکوره اختلافات په ډېر بليغ عبارت تر تنقيد لاندي را وستلی دی "عبارت يې دا دی" والسفينة في تحقيق الحال فيما ارى لا تصلح للركوب فيها اذ هي عبر سالمة من عيب فالحرى بحال من لا يميل الى الفضول ان يؤمن بان نوح ﷺ صنع الفلک حسبما قص الله تعالى في كتابه العزيز" ولا يخوض في مقدار طولها وعرضها وارتفاعها او من اى خشب صنعها وبكم مدة اتم عملها الى غير ذالک مما لم يشرحه كتاب الله ولم تبينه السنة الصحيحة هذا تم كلامه.

دروېش وايي: چې والمختار عندي ذالک لان هذه الاختلافات مما لا يعود الى طائل والجمع بينها خارج عن حدود الامكان ويشوش اذهان الطالبين.

دروېش وايي: چې هر وخت چې به قوم د ده تېريدله او دی به پخپله کښتی بخت وو، نو لکه خدای ﷻ چې بيان کړل داسې کارونه بې کوله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَكُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ مَلَأٌ مِّنْ قَوْمِهِ سَخِرُوا مِنْهُ

هر وخت چي به تير ېده پر نوح يو جماعت د قوم څخه د ده مسخري بې پر کولې پر ده او پسخند بې پر واهه بعضو به ورته وويل چي ته داڅه شی جوړه وې ده به ورته ويل چي خونه جوړوم چي پر اوبو به رفتار کوي دوی به شنلد وخندا ولاړه او ورته ويل بې چي ته خو دا خونه په دښت کي جوړه وې دلته خو نژدې هم اوبه نسته، او بعضو به ورته ويل "صرت نجارا بعد ما كنت نبيا" د پسخند د لاري، بعضو به ورته ويل چي د نبوت جنون يې د دماغه ووتی اوس يې د نجاری کار پسې را واخستی وامثال ذالک من الخرافات.

قَالَ إِن تَسْخَرُوا مِنَّا فَإِنَّا نَسْخَرُ مِنكُمْ كَمَا تَسْخَرُونَ ﴿٣٨﴾

نوح عليه السلام به دوی ته ووېل کا تاسي مسخري کوئ پر موږ، نو موږ به بيا مسخري وکړو پر تاسي يعني په هغه وخت کي چي تاسي عذاب د خدای بالغرق په دنيا کي وويني او په آخرة کي بالحرق في النار "كما تسخرون" يعني سخرية مثل سخرتكم عند رؤية العذاب.

سوال: پسخند او مسخري د نبوت د منصب څخه ليري کار دی؟

خواب: مراد د نوح عليه السلام خو خوشحالي په غرق د دوی ده لکن تعبير يې په نسخر منكم وکړی مشاكلة "لكه جزاً سيئة سيئة بمثلها" او بعض مفسرين وايي چي تاسي پر موږ د جاهلانو حکم کوئ موږ به پر تاسي د جاهلانو حکم وکړو چي عذاب د غرق نازل سي، او بعض مفسرين وايي چي كه تاسي په موږ پسخند وهې تاسي به ووينئ عاقبت د خپل پسخند.

فائده: لفظ د انا متكلم مع الغير او صيغه د نسخر دلالت کوي چي د نوح سره په جوړولو کي د کښتی نور ملګري هم وه" يعني حام او سام ويافث او نور مؤدوران وهو الظاهر كما مر.

فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ مَن يَأْتِيهِ عَذَابٌ يُخْزِيهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُّقِيمٌ ﴿٣٩﴾

ژر دی چي پوه به سئ تاسي چي چاته رائي يو عذاب چي دی رسوا کړي يعني په دنيا کي وهو عذاب الغرق او حلول يعني واقع کېږي عذاب يعني عذاب في

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

البرزخ المتصل بعذاب النار الدائم وبئس المصير هو.

پوه سه: چې مظهري رحمه الله په نقل د بغوي څخه ګډوډ او د عقل څخه لیرې روایات راوړي دي چې مطالعه کونکی په حیرت کې اچوي وقد مر من کلام روح المعاني ما یرد امثال تلک الروایات الضعیفة والاکتفا بما فی القرآن والسنة الصحیحة.... بیت:

ومن مذهبي حب الدیار لاهلها ..... وللناس فیما یعشقون مذاهب.

پوه سه: چې کښتی د نوح علیه السلام په اتفاق د راویانو درې منزله وه، لکن په راکښینو کې ده درې منزله اختلاف دی بعض وایي چې ابن جریر یې د ابن عباس رضي الله عنهما څخه هم روایت کړی دی چې په لاندې طبقه کې حیوانات یعني دواب او وحشي حیوانات وه او په دوهمه طبقه کې انواع د مرغانو وه، او په اعلی درجه کې انسانان وه، او په شرح کې د خلاصة السیر وایي چې په کښته طبقه کې حیوانات اهلي او وحشي او مرغان په ګډه وه او په وسطي طبقه کې خوراکي شیان او کالي د اغوستلو او خوړې اوبه وغیرها من الضروریات او په اعلی طبقه کې انسانان وه وهو الاوجه، والاول هو المشهور.

حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَمۡرُنَا وَفَارَ ٱلتَّنُّورُ

"حتی" غایة د یصنع وما بینهما جمل معترضه دی" والمعنی یصنع نوح السفینة حتی وقت الطوفان یعني تر وخته پورې چې زموږ امر د غرق او طوفان ورسېدی او اوبه پیدا سوې او جوش یې وکړی په تناره کې چې یوه علامه وه د نوح علیه السلام لپاره د سپرتیا کما سیأتي.

دروښ وایي: چې په اتفاق د مفسرینو رحمهم الله تنور عجمي لفظ دی لکن عربو وخپل ژبې ته رانقل کړی دی، الاختلاف في التنور: (۱) له تنور څخه مراد هغه متعارف تنور د ډوډی د پخېدلو دی په نېز د جمهورو، له مجاهد او حسن بصریین رحمهما الله څخه روایت دی چې دا تنور د بي بي حوا رضي الله عنها زوجة آدم علیه السلام وو چې دې په ډوډی پکښې پخوله او دا تنور د ډبرو وو او بیا نوح علیه السلام ته ورسېدی (۲) مراد له تنور څخه معین تنور نه دی بلکې جنس تنور مراد دی، والمراد فار الماء في التنانیر، او دا د قدرت الهي یوه لویه برخه ده (۳) له ابن عباس رضي الله عنهما او عکرمه او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

زهري رحمهما الله څخه روایت دی چې مراد له تنور څخه متعارف تنور نه دی بلکې مخ د مځکې مراد دی یعنې تر مځکې اوبه راووتې کما في قوله تعالى "وفجرنا الارض عيوناً" پوه سه! چې مځکې ته یې تنور ووایه لان التنانير مبنية عليها (۴) دا تنور په کوفه کې وُ د اوسنې مسجد پر ځای په کوفه کې (۵) دا یو تنور وُ په هند کې (۶) په مځکه کې د جزیره یو تنور یعنې په عین الورة کې (۷) په شام کې یو تنور وُ (۸) له تنور څخه مراد لوړه حصه د مځکې ده (۹) له تنور څخه مراد هغه تنور دی چې د نوح ﷺ کور والا به ډوډۍ پرې پخوله.

دروښ وایي: چې وهو الاقرب الى الصواب او دا رایه هم صحیح ده چې دا تنور په کوفه کې وُ او کښتۍ هم په کوفه کې جوړه سوې ده، ولې چې دا رایه او دمخه رایې چې مورِ اقرب الى الصواب وبللې یو له بله سمون سره لري، والله اعلم بالصواب.

قُلْنَا احْمِلْ فِيهَا مِنْ كُلٍّ زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ

درسره سپاره کړه په فلک کې، تانیث د ضمیر باعتبار الفلک بمعنى السفينة.

پوه سه: چې دا جمله یا مستأنفه ده او یا جواب د "اذا" "من کل" ای من کل نوع من الحيوانات چې نفع پر انځلي هغه کسان چې په کښتۍ نجات پیدا کړي او ددوی اولادونه وروسته تر دوی او عادت د خدای ﷻ دادی ببله ذکره او انثی په خلق سره د هغو نفع نه اخستل کېږي.

پوه سه! چې جار او مجرور یعنې "من کل" متعلق په "احمل" پورې دی.

پوه سه: چې زوجین تثنیه د زوج ده چې مقابل یې فرد دی، دوه حیوانان چې یو جنس وي هر یو د هغه بل زوج دی فالذكر زوج للانثى والانثى زوج للذكر لان بانضمام ایهما الى الآخر یحصل الزوج یعنې جوت مقابل الفرد کزوج الخف، او بعض خلګ چې ګمان کوي چې زوج ونر ته وایي او وښځې ته زوجة وایي هغه غلطه ده او مخالفت دی له دې موجوده آیت څخه.

سوال: په دې موجوده آیت کې تغلیب دی د ذکر پر انثى کالابوین والقمرین وغیر ذالک؟

خواب: په هغه آیت کې به څه وایي "یا آدم اسکن انت وزوجک الجنة الآية"

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اعراب: پوه سه! چي زوجين مفعول د احمل دی او اثنين يې تاکيد دی. بغوي وايي چي په قصه کي د کښتۍ د نوح عليه السلام راغلي دي چي زه څرنګه له هر نوع څخه دوه نر او ښځي سره جمع کړم او په کښتۍ کي يې سپاره کړم؟ نو خدای ﷻ ورته حيوانان حتی درندګان او وحوش او طيورو وه ده ته جمع کړه چي راسته لاس به يې هر نوع ته وغځاوه پر نر به واقع سو او چپه لاس به يې پر ښځه واقع سو فحملهما في السفينة وحرم الباقي من ذالک النوع.

فائده: حسن بصري رحمه الله وايي چي په کښتۍ کي نوح عليه السلام نه دي سپاره کړي هغه چي له خاورو او يا د عفوفاتو څخه پيدا کيږي لکه حشرات الارض يا کيکي او غوماشي بلکي هغه حيوانات چي له نطفې يا له هګۍ څخه پيدا کيږي. شيخ سمرقندي رحمه الله په بحر الکلام کي وايي چي اول په کښتۍ کي نوح عليه السلام د ميږيانو له نوع څخه نر او ښځه واخستل او اخير يې خر او خره. او په تفسير تبيان کي وايي چي خر چي يې په کښتۍ کي سپاروه ابليس يې لکي. ځينګه کړه خره به د مخ طرف کښتۍ ته دننه کړي او د لکي. خوا يې نه پورته کهده. نو د نوح عليه السلام درد ورته راغلی او داسي يې وويل يا ملعون پورته سه خر پورته سو، نوح عليه السلام د سپرو د کتلو لپاره په کښتۍ ورننوتی ابليس سره د زوج ناست وُ، نوح عليه السلام ورته وويل چي ولي زما بې اجازې راغلي ياست؟ ابليس ورته وويل چي تا اجازه راکړه هغه ورته وويل چي کله ما اجازه درکړه؟ ابليس ورته وويل چي تا خر سپاره وه تا ورته وويل ادخل يا ملعون، ملعون خو خر نه وُ بلکي زه وم. نو نوح عليه السلام په کښتۍ کي پرېښو. او په صحيح حديث کي راغلي دي "اذا سمعتم نهاق الحمير فتعوذوا بالله من الشيطان فانها رئت شيطاناً واذا سمعتم صوت الديكة فاسئلوا الله من فضيلة فانها رئت ملكاً او كما قال صلعم.

وَأَهْلَكَ إِلَّا مَنْ سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ وَمَنْ آمَنَ ۚ وَمَا آمَنَ مَعَهُ إِلَّا قَلِيلٌ ﴿٤٠﴾

او سپاره که په کښتۍ کي ستا اهل چي مراد ماينه د نوح عليه السلام او دري زامن دده دي، يعني حام، سام او يافث او ددوی مايني مګر مه داخلوه هغه اهل ستا چي د خدای ﷻ د هلاک ددوی قول دمخه سوی دی چي کافره ماينه دده وه چي نوم يې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

واعله وه او د هغې زوی کنعان چې هغه هم کافر وٴ، پوه سه! چې "واهلک" عطف دی پر مفعول د "احمل" اعنی زوجین، او داغه رنګه داخل کړه کښتی ته هغه کسان چې ایمان یې راوړی وي، او نه وٴ ایمان راوړی دده سره مګر لږو کسانو.

پوه سه: چې په عدد کې د "من آمن" اختلاف دی، قتاده، ابن جریج او محمد بن کعب رحمهم الله وایي چې په کښتی کې اته نفره وه، نوح وزوجته او درې زامن او درې نښځې او ماینې دده د زامنو، پوه سه! چې دا قول صریح مخالف د قرآن ځخه دی، ولې چې من آمن عطف پر اهلک دی والعطف یقتضی المغایرة، او مقاتل وایي چې من آمن معه دو اوویا (۷۲) نفره وه نر او نښځې او درې د نوح زامن او درې د هغو ماینې چې ګرده اته اوویا نر او نښځې وې، او له ابن عباس رضي الله عنهما ځخه روایت دی چې ټوله د کښتی د نوح علیه السلام اتیا کسه نران وه او د نښځو تعداد یې نه دی بیان کړی.

دروبش وایي: چې مار او لړم هم نوح علیه السلام ته راغله چې موږ سپاره کړه. نوح ورته وویل چې تاسي ځو سبب د ضرر او بلا یاست تاسي نه سپروم، دوی ورته وویل چې موږ سپاره کړه موږ ضمانت درکوو چې ستا نوم ځوک واخلي موږ ضرر نه ورورسوو، نو که ځوک له ضرر ځخه د مار یا لړم ببر ببرې دا آیت دي وایي سلام علی نوح في العالمین نو ددوی له ضرر ځخه به په امن کې وي.

وَقَالَ ارْكَبُوا فِيهَا

او نوح علیه السلام وویل ومن معه من رجال المؤمنین بعد ادخال من امره بحمله من النسوة چې سپاره سئ په کښتی کې، په یوه روایت کې راغلي دي چې نوح د آدم علیه السلام تابوت هم ورسره اخستی وٴ او هغه تابوت یې د نرو او نښځو په منځ کې ایښی وٴ.

سوال: رکوب ځو مفعول ته متعدي دی نحو رکبت الدابة، او ګاهې چې متعدي کېږي هم په علی سره متعدي کېږي نحو رکبت علی الفرس، نو په دې آیت کې کلمه د في ولې متعدي سوې ده؟

ځواب: دلته یې ارکبوا متضمن معنی لره د ادخلوا ګرځولی دی نحو دخلت في الدار.

پوښتنه: دخول ته د کښتی یې رکوب ولې وویل؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خواب: کښتی په اوبو کي لکه مرکوب په وچه محکمه کي ده. هذا ماقاله صاحب روح المعاني والمظهري ناقلين من القاضي البيضاوي، او بعض مفسرين رحمهم الله د اول سوال په خواب کي داسي وايي چي تقدير د آيت داسي دی ارکبوا المآ فيها، نو ارکبوا وه مفعول ته متعدي بنفسه دی يعني المآ، او بعض مفسرين وايي چي کلمه د في زائده ده لپاره د فاصل الکلام ارکبوها.

دروېش وايي: چي اول خواب اولی واحری بالقبول دی لان التضمين شائع في کلام العرب حتی صار کانه حقيقة بخلاف تقدير اللفظ او زيادة الکلمة. ولي چي زيادت ته لفظ يا تقدير ته لفظ په قرآن پاک کي هلته تګ کېږي چي بله لار نه وي يعني عند الضرورة مراعاة للقرآن الکريم وحفظاً له من التوجهات العندية، حسين کاشفي رحمه الله په تفسير حسيني کي وايي: نوح عليه السلام ايشانرا بنزديک کشتی آورده وسرپوشی که ترتيب داده بود بلای کشتی پوشيده واز زمين آب عذاب جوشيدن گرفت واز آسمان آب بلا فرود آغاز کرد انتهی.

بِسْمِ اللّٰهِ مَجْرٖىهَا وَمُرْسٰىهَا

پوه سه: چي دا جمله حال ده له ضمير مرفوع څخه د "ارکبوا" والمعنی سپاره سئ په کښتی کي حال کون ستاسي چي د خدای عليه السلام نوم واياست يا بسم الله واياست په وخت کي د تللو د کښتی او په وخت کي د درېدلو د کښتی او يا په ځای کي د اجراً او ارساً.

بوه سه: چي "مجری" او "مرسی" صيغه د ظرف زمان او مکان او مصدر ميمي ټولو احتمال لري، لکن د مصدريت پر تقدير مضاف محذوف دی ای وقت اجراٰها وارساٰها نحو قول القائل آتيک خفوق النجم ای وقت خفوقها.

اِنَّ رَبِّيْ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۴۱﴾

په تحقيق ستا خدای بخښونکی او مهربان دی يعني که د خدای عليه السلام مغفرت د سيئاتو ستاسي نه وای او رحمت يې نه وای تاسي ته به يې نجات نه وای درکړی، بغوي له ضحاک رحمه الله څخه روايت کړی دی چي څه وخت چي به نوح عليه السلام د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کښتی روانېدل غوښتل نو به يې داسي ويل بسم الله جرت، او چې د کښتی توقف به يې غوښتی داسي به يې ويل بسم الله رست، نو به کښتی هغه سي کښدل، په "غفور رحيم" کي اشاره ودې ته ده چې ستاسي نجات پر خدای پاک لازم او واجب نه دی بلکې په سبب د محض فضل او مغفرت او رحمت دی کما هو مذهب اهل السنة والجماعة خلافاً للمعتزلة، دوی وايي چې اصلح د بنده پر خدای واجب دی چې کوي به يې، والتفصيل والدلائل في كتب العقائد.

د خدای پاک عجيب قدرت: تاريخ وايي چې څه وخت چې نوح عليه السلام کښتی جوړوله يوه سپين سرې ښځه چې مؤمنه وه راغله نوح عليه السلام ته يې وويل چې دا ته څه شی جوړوې؟ نوح عليه السلام ورته وويل چې دا د مؤمنانو د نجات شی دی چې طوفان نازلېږي او کفار غرقېږي! سپين سرې ورته وويل چې بيا ما خبره کړه او په کښتی کي مي درسره بوزه، نوح عليه السلام ورته وويل ښه دی، نو هغه ؤ چې نوح عليه السلام د حيواناتو د سپرېدلو په کشمکش اخته ؤ بوډی يې گرسره له خياله وورته، خير طوفان چې نازل سو او کافران غرق سوه، په دې وخت کي د نوح عليه السلام سپين سرې ورپياد سوه د هر يې زړه له غمه ډک سو چې هغه خوارکی به د کفارو په جمله کي غرقه سوې وي، نو څرنگه چې کښتی محکي ته راکښته سوه او مؤمنان ټوله روغ رمټ صحيح سالم له کښتی څخه راکښته سوه، نوح عليه السلام د سپين سرې کور ته ورغلی، سپين سرې په خپل کور کي په يو کار بخته وه، نوح چې يې وليدی ورته وه يې ويل چې د طوفان نهټه او د کافرانو د غرقېدلو نهټه لا نه ده رارسېدلې، نوح عليه السلام ورته وويل چې هغه خو تېره سوه، او نوح عليه السلام د سپين سرې په حال کي په تعجب کي غرق سو چې انها قد انجاها الله جلت قدرته في بيتها من غير ركوب في السفينة ولم ترى الطوفان.

دروښ وايي: چې د دنيا اسباب ټوله اسباب عاديه دي او پټ قدرت الهي کار فرما دی في كل شيئ.....ع

دا باران چې پر همه وو محکو اوري ..... مشرف کړی ذات د کيميا ولي

بقدر الكد تكتسب المعالی ..... ومن طلب العلی سهر اللياتی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَهِيَ تَجْرِي بِهِمْ فِي مَوْجٍ كَالْجِبَالِ

پوه سه: چي دا جمله په ارکبوا فیها الخ پوري تعلق لري یعني فرکبوا فیها بسم الله مجریها ومرساها ویونکي او کښتی روانه سوه او دوی پکښې ناست وه په څپو کي یعني طوفان د اوبو چي هره څپه به لکه غرونه یعني په بلند کی کي.

پوه سه: چي "موج" جمع د موجدة ده لکه تمر جمع د تمرة علی مذهب، د باد تندوالی پر دهرو اوبو لکه د دریاب سبب د څپو ګرځي.

وَنَادَىٰ نُوحٌ ابْنَهُ وَكَانَ فِي مَعْزِلٍ يَا بُنَيَّ ارْكَب مَّعَنَا وَلَا تَكُن مَّعَ الْكَافِرِينَ

او ناري کړې نوح علیه السلام وخپل زوی ته، چي نوم یې کنعان ؤ او کافر ؤ، چي زویه زمونږ سره سپور سه په کښتی کي او مه ملګری کپره د کافرانو، او کنعان ګوښه ولاړ ؤ.

فائده: بني تصغیر دی لپاره د شفقت لکه په پښتو کي زوی ته وایي زویکه.

پوه سه: چي چي معنا د "ارکب" داده چي ایمان راوړه او زمونږ سره سپور سه کما یدل علیه قوله تعالی.

قَالَ سَآوِي إِلَىٰ جَبَلٍ يَعْصِمُنِي مِنَ الْمَاءِ

کنعان ورته وویل، زه به پناه له غرق څخه ورورم وه یوه غره ته چي ما له غرق څخه د اوبو وساتي، دده غرض دا ؤ چي نه ایمان راوړم او نه ستاسي په کښتی کي سپر ورم د ساتنې ځایونه له اوبو څخه نور هم دپر دي لکه غرونه.

قَالَ لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ مِنْ أَمْرِ اللَّهِ إِلَّا مَن رَّحِمَ

نوح علیه السلام زوی ته وویل چي ساتونکی نسته نن ورځ له عذابه څخه د خدای جل جلاله چي غرق دی مګر نه هغه څوک چي رحم پر وکړي یعني ارحم الراحمین الله جل جلاله کذا في روح المعاني وروح البیان والقرطبي والمظهري وغیرها.

پوه سه: چي تعبیر په من ابهامي سره کول او بیا په رحم سره تفصیل کول لپاره د تعظیم د رب جلیل دی کما لایخفی، او بعض مفسرین رحمهم الله وایي چي عاصم په معنی د معصوم دی لکه من ماء دافق ای مدفوق او یا کعیشة راضیة ای مرضیة علی توجیه فالمعنی لامعصوم من عذاب الله الا من رحمه الله.

دروښ وایي: چي پر مذکوره تفسیرو استثنا متصله ده، او بعض مفسرین

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وایي چي په آیت کي استثنا منقطع ده والمعنی لکن من رحمه الله هو المعصوم لا الاوی الی الجبل.

وَحَالَ بَيْنَهُمَا الْمَوْجُ فَكَانَ مِنَ الْمُغْرَقِينَ ﴿٤٣﴾

او حائل سوه په منځ کي د نوح ﷺ او د زوی دده کنعان څپه د اوبو. نو وګرځېدی زوی یې له غرق شده ګانو څخه. نو "کان" په معنی د صار دی او یا کان پر خپل ظاهر دی ای فکان في علم الله من المغرقین علی محاذات قوله تعالی في حق ابلیس وکان من الکافرین في التوجیهین المذکورین.

اختلاف: بعض راویان وایي چي اوبه د غرو پر سر و څلوېښت ګزه لوړي سوې او بعض وایي چي پینځلس ګزه لوړي سوې او بعض وایي چي دپرش ګزه لوړي سوې.

دروښ وایي: چي دا اندازې چي راویانو بیان کړي دي د هر غره نه دي ولي چي د بعضې غرونو قد کوچنی وي چي پر هغو غرو مذکوره اندازې اوبه لوړي سي تر هغه بلند غر خو تهوله په اوبو کي نه پټېږي، نو له دې سببه روح البیان داسي عبارت ویلی دی "فارتفع الماء علی اطول جبل في الارض آه"

فائده: اطول د غرو په مځکه کي جبل نهاوند دی په منځ کي د رَيَ او طبرستان، والتفصیل في شرح الچغمیني في بیان بحث سبع شعیره.

ابن عباس رضي الله عنهما وایي چي څلوېښت ورځي او شپې باران وه اوربدی او د مځکي اوبه هم څلوېښت ورځي را ووتلې قال الله تعالی "ففتحنا ابواب السماء بماء منهمر وفجرنا الارض عیوناً فالتقی الماء علی امر قد قدر" او په تفاسیرو کي راغلي دي چي د نوح ﷺ کښتی پینځه میاشتي پر اوبو ولاړه وه، او بعض اهل الله وایي چي تاثیر د طوفان نوح په هر دېرش کاله کي ښکاره کېږي لکن سپک چي بعض کوروڼه یا قریې په سبلو غرق ګرځي.

وَقِيلَ يَا أَرْضُ ابْلَعِي مَاءَكِ وَيَا سَمَاءُ

"قیل" صیغه مجهول ده، فاعل یې په حقیقت کي لفظ الله دی او وویل سوه له طرفه څخه د خدای پاک چي امر د طوفان پای ته ورسېدی، اې مځکي نوش کړه خپلي اوبه او وه ځېښنه ستا اوبه یعني چي له تا څخه راوتلي دي یعني نه هغه اوبه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې له اسمانه نازل سوې دي ولې چې د اسمان اوبه رودونه او دریابونه سوې او د ځمکې اوبه چینې او ځاهان او کاږهزونه سوې، او اې اسمانه باران اوربدل بند کړه.

اَقْلِعِیْ وَغِیْضَ الْمَآءُ وَقُضِیَ الْاَمْرُ وَاسْتَوَتْ عَلَی الْجُوْدِیِّ

او اوبه مخ پر کمبدلو سوې یعنې خدای پاک کمې کړې، او پای ته ورسېدل سو کار د اهلاک د قوم نوح چې خدای ﷻ یې وعده کړې وه، او کښتۍ قرار ونیوی پر غره د جودي چې په جزیره کې یو غر دی، او بعض وایي چې په شام کې دی والاول هو الاشهر عند اهل التاریخ. له حضرت علي ﷺ څخه روایت دی چې سخت د مخلوق غرونه دي او تر غرو سخت وسپنه ده، ولې د غرو دبرې د وسپنې په آلاتو ماتېږي او اوور پر وسپنه غالب دی، ولې چې وسپنه په اوور ولېږي، او پر اوور اوبه غالبې دي ولې چې اوور په اوبو مري، او پر اوبو وریځ غالبه ده چې د اوبو حامله ده او باد بیا وریځ راولي، او انسانان پر باد غالب دي په سبب د آبادۍ او خونړو او قصرو، او خوب پر انسان غالب دی والموت یغلب الکل.

فائده: د حکماً په نهږ په اووه اقلیمه کې د مځکې یو سل اته اوویا (۱۷۸) غرونه دي او په زهرة الریاض کې وایي شپږ زره شپږ سوه درو اوویا (۶۶۷۳) غرونه دي، داسې غرونه سته چې طول یې شل فرسخه بیا تر زر فرسخه پورې وي، او په دې کې اختلاف دی چې افضل د غرو کوم غر دی، بعض وایي چې تر ټولو افضل جبل ابي قبیس دی په مکه کې، ولې چې دا اول غر دی د مځکې، او بعض وایي عرفات دی، بعض وایي طور دی چې موسی ﷺ د خدای ﷻ سره خبرې پر کړې دي، او جلال الدین سیوطي ﷺ وایي چې افضل د غرو جبل احد دی کما ورد في الحدیث الصحیح احد یحبنا ونحن نحبه، او د احد د غره زیارت خلګ کوي خصوصاً حجاج، ولې چې سید الشهداً حمزة ﷺ دده په لمن کې مدفون دی.

وَقِیْلَ بُعْدًا لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِیْنَ ﴿۴۴﴾

او وویل سوه له جانبه څخه د خدای پاک چې لېرې والی دي وي له رحمت څخه د خدای ﷻ هغه قوم لره چې ظالمین دي، او یا هلاک دي وي هغه قوم لره چې ظالمان دي چې دلته مراد قوم نوح دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: "بعداً" مفعول مطلق د فعل محذوف دی ای بعد القوم الظالمون بعداً.

فائده: محي السنة بغوي رحمه الله وايي چي د نوح عليه السلام کښتی چي پر جودي لښکر واچاوه يو څو زمانه کښتی ولاړه وه نوح عليه السلام او مؤمنان پکښې ناست وه، بيا د خدای جل جلاله له طرفه اجازه د کښته کېدلو له کښتی څخه ورکړه سوه، نو پر غره پياده سوه، نو نوح عليه السلام اولاد کارګه راوغوښتی چي د محکي حالات راوړه کارګه پر مردار لاښ د کفارو پښې سو، نو خبر يې نه راوړی، وروسته يې کوتره واستول کوتري د زېتون د درختي شين بلګ په موښو که کي راخستی وا او پښې يې په ختيو لرلي وي، نو نوح عليه السلام په دې وه پوهېدی چي اوبه ختمي سوي دي، نو بعض راويان وايي چي نوح عليه السلام کارګه ته د خوف دعا وکړه يعني بښېرا دا سبب دی چي کارګه په بيره کي اول نمره د مرغانو دی، بعض خلګ مبالغةً د کارګه د بېري داسي بيان کوي چي کارګه خپل بچي ته نصيحت کاوه چي که دي انسان وليدی چي محکي ته چوغ يعني کښته سو، نو پوه سه چي ډبره را اخلي او تا په ولي، بچي يې ورته وويل نو که يې ډبره دمخه ورځخه وه، نو دا به ښه وي چي سړی مي صرف وليدی زه به الوځم کارګه شادباش ورته ووايه چي همدغسي کوه، او کوتري ته يې شنه ليکه په غاړه کي ورکړه او د امن دعا يې ورته وکړه ځکه کوتري د انسانانو په کور کي ګذاره کوي.

فائده: روح البيان وايي چي په کافرانو کي يو عوج بن عنق ژوندی پاته سو چي اوبه يې د پرتو ګانښ ترځای (سروځني) پوري وې او دده جګوالی روح البيان وايي چي درې زره درې سوه درو ډېرش (۳۳۳۳) ګزه وه، دی وايي چي سبب د نجات د عوج دا وو چي ده د کښتی لرګي له شام څخه ونوح عليه السلام ته راچلول. لکن مظهري رحمه الله دا خبره رد کړې ده دی وايي چي دا خبره له ظاهره څخه د نص خلاف ده قال الله تعالى "قال نوح رب لاتذر على الارض من الكافرين ديارا" وقال قيل بعداً للقوم الظالمين، وقال لا عاصم اليوم من امر الله الا من رحم.

وَنَادَىٰ نُوحٌ رَّبَّهُ فَقَالَ رَبِّ إِنَّ ابْنِي مِنْ أَهْلِي وَإِنَّ وَعْدَكَ الْحَقُّ وَأَنتَ أَحْكَمُ الْحَاكِمِينَ ﴿٤٥﴾

او ناړې کړې نوح عليه السلام ورب ته خپل "فقال الفا لتفسير النداء" او وه يې ويل اې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

زما ربه په تحقیق زما زوی زما له اهل څخه دی او په تحقیق ستا وعده حق ده خلف نسته پکښې یعني چې تا وعده کړې وه چې تا او ستا اهل ته به له غرق څخه نجات ورکوم، غرض د نوح علیه السلام دا وو چې څه حکمت کار فرما وو چې دی له غرق څخه نه سو خلاص، دا ترجمه پر هغه تقدیر ده چې کنعان په غرق شده ګانو کې ولاړ وی، او بعض مفسرین وایي چې قبل الغرق دا نداً نوح علیه السلام وکړه، نو غرض یې دا وو چې دده زوی له غرق څخه نجات پیدا کړی او ته اې خدایه عدل د حاکمانو یې ستا په حکم کې خلف نسته، ولي چې حکم پر بل چا فرع د علم دی او ته اعلم یې په مصالح د عبادو نو ستا حکم هیڅ بې حکمته نه دی.

دروښ وایي: چې په اوسنۍ زمانه کې یو جاهل په دین ظالم رشوت خوره پر منصب د قضا ناست دی حتی چې قاضي القضات چې د ټولو قاضیانو رئیس وي هم جاهل او ظالم وي، په صحیح حدیث کې راغلي دي "القضات ثلثة واحد في الجنة واثنان في النار" (قاضیان درې قسمه دي یو په جنت کې دوه په اور کې) جنت والا هغه قاضي دی چې په حق خبر وي یعني پر احکامو د شرعي علم لري او حکم هم په عدل سره وکړي او هغه دوه قاضیان چې په اور کې دي هغه یو هغه قاضي دی چې په حق او شریعت خبر وي لکن د رشوت وغیره له لاري حکم بالجور وکړي، او بل هغه قاضي دی چې په شریعت ناخبره او جاهل پر منصب د قضا ناست وي او د شریعت خلاف حکمونه کوي، ومن بلاغات ومبالغات الزمخشري.

قضات زماننا صاروا لصوصاً ..... عموماً في القضایا لا خصوصاً
خشینا منهموا لو صافحونا ..... للصوا من خواتمنا فصوصاً

قَالَ يٰنُوحُ اِنَّهٗ لَيْسَ مِنْ اَهْلِكَ ۚ اِنَّهٗ عَمَلٌ غَيْرُ صَالِحٍ ۖ

خدای جل جلاله ورته وویل چې اې نوح کنعان ستا له اهل څخه نه دی لقطع الولایة بین المؤمن والکافر په تحقیق ستاسي زوی عمل غیر صالح دی.

پوه سه: چې "انه" تعلیل دی چې له اهل څخه نه دی او عمل مصدر دی حمل یې مبالغةً دی کړید عدل، او یا یې حمل په حذف د مضاف دی ای ذو عمل غیر صالح مضاف چې حذف سو عمل یې پر مضاف الیه جاري سو چې "عمل" دی او خبر د "ان" دی.

فائده: کسائي او یعقوب "عمل" په کسره د میم والي یعني صیغه د فعل ماضي او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غیر په نصب سره مفعول د عمل بولی، والمعنی انه عمل عمل الشرک والتکذیب.

فَلَا تَسْـَٔلْنِ مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ

نو ته زما څخه سوال مه کوه د هغه شي چې نسته تا لره په هغه سره علم.

پوه سه: چې کسره د نون دلالت پر یاء محذوفه کوي اصله لاتسئلني ؤ د مالیس لک به علم هغه ندا د نوح علیه السلام ده ونادی نوح ربه آه چې په دې نه پوهېږي چې دا سوال زما خطا دی که صواب چې نجات د زوی کنعان کافر ؤ چې تا وویل رب ان ابني آه مقصود زجر د نوح علیه السلام دی له داسی دعا څخه اخیر زجر پسې زیات.

اِنِّيْٓ اَعِظُكَ اَنْ تَكُوْنَ مِنَ الْجٰهِلِيْنَ

زه تاته نصیحت کوم چې ته به د جاهلانو له ډلې څخه نه ګرځې چې یو وار سوال کوي د هلاک د ټولو کافرانو، رب لاتذر علی الارض من الکافرین دیاراً، او بیا د کافر زوی کنعان شفاعت راته کوې.

دروېش وایي: چې ددې آیت په تفسیر کې ډېر لوړ کسان خطاوتلي دي، لکه بغوي رحمه الله چې دا اختلاف راوړی دی، قال مجاهد والحسن البصري چې کنعان ولد الزنی ؤ من غیر نوح او نوح علیه السلام نه ؤ په خبر ولذالک قال رب ان ابني من اهلي وقال الله تعالی انه لیس من اهلک یعني انه ولد الزنی وقال مالیس لک به علم یعني ته نه یې خبر چې کنعان ولد الزنی دی، او ابو جعفر الباقر رحمه الله وایي چې کنعان خو یې د ماینې زوی ؤ لکن دده څخه نه ؤ بلکې د بل مېړه څخه یې ؤ. ولذالک قال من اهلي ولم یقل مني، او ابن عباس او عکرمه او سعید بن جبیر رضي الله عنهم او ضحاک او اکثره محدثین رحمهم الله وایي چې کنعان له نطفې څخه د نوح علیه السلام ؤ ولد الزنی نه ؤ. ولي چې د هیڅ نبي ماینې زنی نه ده کړې ومعنی قوله تعالی انه لیس من اهلک انه لیس من اهل دینک لانه کان کافراً، ومعنی قوله تعالی کمامر اني اعظک ان تکون آه داده چې یو وار خواست د هلاک د ټولو کفارو کوې او بیا نجات د کافر زوی غواړې.

قَالَ رَبِّ اِنِّيْٓ اَعُوْذُ بِكَ اَنْ اَسْـَٔلَكَ مَا لَيْسَ لِيْ بِهٖ عِلْمٌ ۭ وَاِلَّا تَغْفِرْ لِيْ وَتَرْحَمْنِيْٓ اَكُنْ مِّنَ الْخٰسِرِيْنَ

نوح علیه السلام وویل ای زما ربه زه پناه غواړم له تا څخه چې زه به سوال کوم له تا څخه یعني په آئنده کې د هغه شي چې نه وي ما لره په هغه علم لکه ددې واري

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې مې وکړی، او که مانه بخښنه ونه کړې یعنې د موجوده سوال او رحم ونه کړې پر ما باندې زه به وګرځم له تاوانیانو د جملې څخه.

قِيلَ يٰنُوحُ اهْبِطْ بِسَلٰمٍ مِّنَّا وَبَرَكٰتٍ عَلَيْكَ وَعَلٰٓى أُمَمٍ مِّمَّنْ مَّعَكَ ۭ

"قیل" ای القائل هو الله ﷻ. اې نوح کښته سه یعنې له کښتۍ څخه وغړه ته چې کښتۍ یوه میاشت پر ولاړه وه، او یا کښته سه له جودي غره څخه وسمې مخکې ته "بسلام" یعنې بسلامة من المکاره چې زمونږ له خوا څخه دی، نو سلام په معنی د سلامتیا دی من الغرق "وبرکات" او په برکتو سره په نسل کې ستا او د رزق فراخه من انواع الارزاق، پر تا باندې او پر هغو امتو چې پیدا کېږي د من معک څخه، والمراد الامم المؤمنة الی یوم القیامة، نو ذکر عام دی مراد څنې خاص دي ای المؤمنین.

یوه سه: چې دا ترجمه پر هغه تقدیر ده چې د نوح ﷺ سره ده اولاد او نور مؤمنان هم وه، لکن په عدد کې یې نور اختلاف دی چې څو کسه وه، نو هغه نور کسان چې له کښتۍ څخه کښته سوه څو زمانه تر اجل پورې ژوندي وه لکن نسل یې نه سو پاته او پر هغه روایت چې په کښتۍ کې صرف نوح ﷺ او دده زوجه او دده درې زامن او د هغو مایټې وې چې مجموع اته نفره وه، نو دې خبرې ته ضرورت نسته چې نور نسل نه سو پاته، په هر صورت نوح ﷺ ابو الخلق کلهم دی وروسته تر ده ولهذا سمي آدم ثاني وا آدم اصغر، ولې چې ټوله نر او ښځې، انبیا او صالحین او کافران وروسته تر ده دده له نسل څخه دي دا قدرت د رب العزت دی چې په مرور د زمانو له لږ څخه ډېر پیدا کوي.

تاریخ خبر کوي: چې نوح ﷺ سره د من معه في السفینة راکښته سو په ورځ د عاشورا یعنې د محرم د میاشتې پر لسم تاریخ، نو ده روژه ونیول او من معه یې هم په روژه نیولو سره امر کړه شکراً لله تعالی في نجاتهم من الغرق، او ددوی د کښتۍ خوراکي مواد ختم سوي وه، نو بعض من معه یوه لپه تندس راوړه او بل یوه لپه نخود راوړه چې اووه قسمه خوراکي دانې پوره سوې، نو ټولې یې ګډې سره پخې کړې نو یې روژه په ماته کړه او ټوله په ماړه سوه په برکت د نوح ﷺ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: که چا فراخي جوړه کړه په شپه د عاشورا پر عیال باندي د نفقې خدای پاک به فراخي جوړه کړي پر عیال دده تولـه آئینده کال، ابن سرین رحمه الله علیه وایي چې قد جربناه فکان کذالک.

وَأُمَمٌ سَنُمَتِّعُهُمْ ثُمَّ يَمَسُّهُم مِّنَّا عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿۴۸﴾

ژر ذی چې موږ به تمتع ورکړو دوی ته یعني په رزق د دنیا وروسته به دوی مسه کړي یعني وه به رسېږي دوی ته عذاب دردناک په اخیرت کي خو تولـو ته رسېږي لکفرهم، او بعضو ته په دنیا کي هم لکه قوم هود، قوم صالح، قوم لوط او قوم شعیب.

پوه سه: چې "وامم" مبتدأ ده خبر یې محذوف دی یعني وممن معک امم لا برکة فیهم لکفرهم.

تِلْكَ مِنْ أَنبَاءِ الْغَيْبِ نُوحِيهَا إِلَيْكَ مَا كُنتَ تَعْلَمُهَا أَنتَ وَلَا قَوْمُكَ مِن قَبْلِ هَٰذَا ۖ

دغه قصه د نوح (علیه السلام) او د قوم او د کښتی او د طوفان الی غیر ذالک مماامر بعض د خبرو څخه د غیب دي یعني ستا څخه غائب وه تا مشاهدةً نه دي لیدلي، نو کلمه "من" لپاره د تبعیض ده، ولي خبرونه د غیب ډېر په قرآن کي وه علیه الصلوٰة والسلام ته کړي کقصة فرعون و ثمود وقوم لوط وغیرها. موږ یې تاته په قرآن کي وحي کړي دي چې نه وې ته په خبر یعني په دغو قصو او نه ستا قوم تر دې دمخه یعني تر نزول د قرآن دمخه.

پوه سه: چې "تلک" مبتدأ ده او من انبأ الغیب یې خبر دی او "نوحیها" یې خبر بعد الخبر دی، او پوه سه! چې "انت" تاکید دی په منفصل سره او یا سره د فصل په منځ کي د معطوف او معطوف علیه، معطوف دلته ولا قومک دی.

فائده: لا نافیه په معطوف کي تاکید د ما نافیه دی.

فائده: په دې آیت کي دلیل دی پر دې چې دا قصې معجزې د علیه الصلوٰة والسلام دي یعني دی ﷺ نبي دی حقاً، ولي چې علیه الصلوٰة والسلام د نبوت تر زمانې پورې په خپل قوم کي وۀ، او قوم دده سره د کثرته ددوی چې نه دی په خبر نو یو سړی چې آنحضرت ﷺ دی څرنګه په خبر سو فعلم انها مما علمه الله بالوحي فهو نبي بالحق خصوصاً اذا کانت تلک القصص مطابقةً للکتب المنزلة من قبل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَاصْبِرْ ۚ إِنَّ الْعَاقِبَةَ لِلْمُتَّقِينَ ﴿٤٩﴾

نو صبر وکړه پر ازار او تکذیب د قوم لکه نوح ﷺ چې صبر کړی ؤ او اخیري فتح او بری په دنیا او اخرت کې د متقینو په برخه ده کما کان العاقبة للنوح ومن معه في الفلک.

بوه سه: چې په دې آیت کې تسلي وه علیه الصلوٰة والسلام ته ورکوي بیان العاقبة لک وللمؤمنین، حافظ شیرازي چه خوش گفته

سروش عالم غیبم بشارتی خوش داد .. که کس همیشه گرفتار غم نخواهد بود

کریمه: ان مع العسر یسراً ان مع العسر یسراً حسین کاشفي په خپل تفسیر کې داسې ویلي دي: پیر طریقت فرمود که صبر کلید همه بستگیها است.. وشکیبایی علاج همه خشکیها است.. نتیجه ناشکیبائی ظفر است.. وکار بی صبر از هر روز بدتر است انتهی عبارته البلیغة.

وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمْ هُودًا ۚ قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ۖ إِنْ أَنْتُمْ إِلَّا مُفْتَرُونَ ﴿٥٠﴾

بوه سه: چې دا عطف دی پر الی قومه باندې "ارسلنا نوحاً الی قومه وارسلنا عاد الآیة" ترجمه: موږ واستاوه یعني په رسالت سره د عاد وقبیلې ته ددوی د قوم سړی "هود" عطف بیان دی د "اخاهم" نو هود ﷺ دوی ته وویل اې قومه زما ټاسې توحید د خدای ﷻ عقیده وگرځوئ، قوم یې مشرکان اوبت پرستان وه، ټسته ټاسې لره یو معبود بالحق ماسوی د الله ﷻ څخه (نو کلمه د من لپاره د استغراق د نفي ده) نه یاست ټاسې مگر درواغجنان چې ټاسې بتان شریکان د خدای پاک بولئ په عبادت او شفعائنا عند الله یې بولئ.

يَا قَوْمِ لَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا ۖ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى الَّذِي فَطَرَنِي ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٥١﴾

اې قومه زما نه کوم زه سوال له ټاسې څخه پر تبلیغ د رسالت د مزدوری چې پر ټاسې دا مزدوري درنه وي، نه ده مزدوري زما یعني ثواب مگر هر هغه چاچې زه یې پیدا کړی یم یعني الله ﷻ آیا ټاسې له عقل څخه کار نه اخلئ چې دداسې سړي متابعت باید وکړل سي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروبش وايي: چي طمع چي ټوله حروف يې مهمله دي په تبليغ کې د دين وخلګو ته کول تبليغ مهمل ګرځوي يعني خلګ د مبلغ طامع خبري نه قبلوي هم داسبب دی چي هر نبي تر ټولو دمخه مرانده د طمع غوښه کړې ده، بيت.....

طمع بندد دفتر زحکمت بشوی ..... طمع بګسل وهرچه خواهی بګوی

مکن سعديا ديده بردست کس ..... که بخښنده پروردګار است وبس

طمع آبروی موقر بريخت ..... برای دو جود امن دُربريخت

مثل: فلانی سړی اجهل دی من داعي ثمانين من الضان، ددې مورد د داسي تاريخ بيان کړی دی چي يو سړي د عليه الصلوٰة والسلام يو کار ور اجرا کړی، نو عليه الصلوٰة والسلام ورته وويل چي ته مدينې ته بيا راسه يعني زه ستا ددغه خدمت عوض درکوم، خير هغه سړی مدينې ته ورغلی، نو عليه الصلوٰة والسلام ورته وويل چي اتيا (۸۰) مېږي غواړې او که زه خدای ﷻ ته خواست چي تا خدای پاک زما ملګری وګرځوي په جنت کي، هغه سړي ورته وويل چي اتيا مېږي غواړم، عليه الصلوٰة والسلام صحابه کرامو ﷺ ته وويل چي اتيا مېږي ورکړئ، داخو يې مورد ؤ اخير ضرب مثل سو، د هغه چا لپاره چي دېر اعلی شی په عوض په ادنی شي سره قناعت وکړي کالمبلغ الطامع للدنيا عوض ثواب الله في العقبی، سعدي شيرازي رحمه الله ميګويد. بيت:

زيان ميکند مرد تفسير دان ..... که علم وادب ميفروشد بنان

وَيٰقَوْمِ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ

اې قومه زما طلب د مغفرت وکړئ له رب ځخه ستاسي يعني د هغه شرک چي تاسي دمخه کاوه او دا طلب د مغفرت له شرک ځخه په اسلام سره کېږي. فان الاسلام يهدم ماکان قبله لکه چي روايت يې کړی دی ددغه حديث عمر بن العاص ﷺ د عليه الصلوٰة والسلام ځخه.

ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ يُرْسِلِ السَّمَآءَ عَلَيْكُمْ مِّدْرَارًا

وروسته تر اسلام رجوع وکړئ وه طاعت ته د خدای پاک بهله شريکه، خدای پاک به راواستوي اسمان پر تاسي دېر اورونکی د باران، او ولې به مو جاري سي دا يې له دې سببه ورته وويل چي پر دوی درې کاله باران بند و تعذيباً لهم على الشرک.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې مدرار آ صيغه د مبالغې ده نو ځکه يې مفسرين ترجمه په کثر الدور سره کوي.

وَّيَزِدْكُمْ قُوَّةً إِلَىٰ قُوَّتِكُمْ وَلَا تَتَوَلَّوْا مُجْرِمِينَ ﴿٥٢﴾

او خدای ﷻ به زيات کړي قوت ستاسي منضماً الی قوتکم. حسين کاشفي په تفسير حسيني کې وايي: آورده اند که عاديان دعوت هود ﷺ قبول نکردند حق سبحانه وتعالی بشآمت آن سه سال باران از ايشان بازگرفت وزنان ايشان را عاقره وعقيمه ساخت وچون اصحاب زروع بودند او دشمنان نيز داشتند برای زراعت به باران وبرای دفع دشمنان باولاد محتاج بودند. هود ﷺ فرمود که (يا قوم استغفروا الخ) فيکون معنی قوله (ويزدکم قوة الی قوتکم) قوة با قوة شما يعنې فرزندان دهد شما را تا بمدد ايشان بردفع دشمنان قادر شويد انتهی.

دروبش وايي: چې هغه تفسير کامل دده مقام دغه د حسين کاشفي دی.

دروبش وايي: چې د حسن بن علي ﷺ څخه روايت دی چې دی د معاوية ﷺ ملاقات ته ورغلی وچې دی د معاويه ﷺ له دربار څخه راووتی، ځينې پهره دارانو د معاويه ﷺ ورته ودريدل چې زه خاوند د دې هر مال يم لکن عيال خصوصاً زوی نه لرم ته ماته يو شی راوښيه شايد خدای پاک به ماته عيال راکړي، حسن بن علي ﷺ ورته وويل چې استغفار دې هر وايه! هغه سړي هم استغفار ته زور ورکړی حتی چې په يوه ورځ کې به يې اووه سوه واره استغفار وايه، نو خدای پاک پرله پسې لس زامن ورکړه، معاويه ﷺ په دې موضوع خبر سو، نو هغه ځپل پهره دار ته يې وويل چې تا پوښتنه نه ځنې وکړه چې دا خبره ده له څه رويه ده وکړه، هغه ورته وويل يا!، خير بل وخت بيا حسن بن علي ﷺ ملاقات ته د معاويه ﷺ راغلی، نو هغه پهره دار د معاويه ﷺ پوښتنه ځنې وکړه، ده ورته وويل چې تا قول د هود ﷺ نه دی اورېدلی چې قوم ته يې وکړی (ويزد قوةً الی قوتکم) يعنې مراد له قوت څخه زامن وه، او دا قول د نوح ﷺ تلسي نه دی اورېدلی (ويمددکم باموال وبنين)

دروبش وايي: چې دا مجربه نسخه د وچ سړي لپاره د تفسير ايوبي هديه ده ضرور داده چې عقيده ټينګه سړی پر ولري.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي "ولاتتولوا مجرمين" عطف دی پر استغفروا. والمعنی تاسي زما د دعوت څخه اعراض مه کوئ په داسي حال کي چي تاسي پر خپلو جرائمو همېشه توب کوئ يعني الشرک وعدم قبول الدعوة.

قَالُوا يٰهُوْدُ مَا جِئْتَنَا بِبَيِّنَةٍ

وويل د هود عليه السلام قوم وه ده ته چي تا موږ ته راتګ نه دی کړی په يو حجت سره چي ستا د دعوی د نبوت پر صحت دي دلالت کوي، دا خبره دوی د ډېر عناد او تکبر وهود عليه السلام ته وکړه سره ددې چي هود عليه السلام دوی ته معجزات باهرات راوړي دي.

وَمَا نَحْنُ بِتَارِكِيْٓ اٰلِهَتِنَا عَنْ قَوْلِكَ وَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِيْنَ ۝

او موږ نه يو پرېښوونکي د عبادت د خپلو خدايانو يعني بتانو ستا په قول، نه يو موږ تالره ايمان راوړونکي يعني ستا پر خبره تصديق نه کوو يعني لا اله الا الله، نو هود عليه السلام دوی نا اميده کړی له خپل ايمان څخه.

پوه سه: چي "عن قولک" متعلق دی په "تارکي" پورې.

دروېش وايي: چي ورته خبري به قريشو وه عليه الصلوٰة والسلام ته هم کولې بلکې عادت د هر نبي د قوم د مشرکانو له خوا دغه قسم خبري کېدلې.

اِنْ نَّقُوْلُ اِلَّا اعْتَرٰىكَ بَعْضُ اٰلِهَتِنَا بِسُوْٓءٍ

او موږ نه وايو تاته يوه خبره مګر دا خبره چي تاته مصيبت يعني جنون درپېښ کړي، بعض خدايانو زموږ په يو بد سره چي خرافات وايه، ولي ته ددوی بد وايه او خلګ ددوی له عبادت څخه منع کوې. نو بعض خدايانو زموږ هم درد ورغلی او ته يې په مرض د جنون مبتلا کړې.

دروېش وايي: چي فکر وکړئ چي بت پرستان څومره له انسانيت څخه لېرې خبري کوي چي جمادات بتانو ته دومره قدرت ثابته وي چي د سړي دماغ دي ورخراب کړي او لېونی دي کړي.

قَالَ اِنِّيْٓ اُشْهِدُ اللّٰهَ وَاشْهَدُوْٓا اَنِّيْ بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ ۝

هود عليه السلام وويل چي زه خداى جل جلاله شاهدوم پر ځان او تاسي هم شاهدان اوسئ پر ما چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په تحقیق زه بېزاره یم د هغو بتانو څخه چې تاسي یې د خدای پاک شریکان بولئ.

مِنْ دُوْنِهٖ فَكِيْدُوْنِيْ جَمِيْعًا ثُمَّ لَا تُنْظِرُوْنِ ۝

ماسوا له خدای ﷻ څخه یعنې نه یې عبادت کوم او نه څنې ببرېږم، نو تاسي او ستاسي خدایان حیله وکړئ زما په ضرر او اهلاک کې په ګډه یعنې تاسي او ستاسي خدایان اتفاق سره وکړئ زما په ضرر رسولو یعنې ستاسي پر زعم چې زمونږ خدایانو ته څوک نېکنځل کوي زمونږ خدایان وه هغه ته ضرر رسولای سي کما یدل علیه قولکم الا اعتراک آه "ثم لاتنظرون" بیا مهلت مه راکوئ ماته.

بوه سه: چې کسره د نون دال پر یاء محذوفه ده والاصل لاتنظرونني.

بوه سه: چې په دې قول د هود ﷺ سپکاوی د قوم دی او اظهار د اعتماد پر خدای دی او اعلان د عجز ددوی د خدایانو دی لانها احجار جمادات لاتنفع ولاتضر.

فائده: په دې قول کې : هود ﷺ معجزه ده، ولې چې وروسته د دې قول د هود چې اجتماع پېښ رویه ودوی ته ورکړي او دوی جبابره هم وه او وه وینو ته د هود ﷺ ترې هم وه لکن نه یې ضرر ورورساوه او نه یې هلاک کړی.

اِنِّيْ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللّٰهِ رَبِّيْ وَرَبِّكُمْ مَا مِنْ دَآبَّةٍ اِلَّا هُوَ اٰخِذٌ بِنَاصِيَتِهَا ؕ

زما تکیه او اعتماد پر الله ﷻ دی چې رب زما او ستاسي دی، نسته یوه دابة (دابة مایدب ای یتحرک علی الارض فیعم الانسان وغیره) مګر نه خدای ﷻ نیونکی دی د نزلې د وېښتانو د هغې دابې.

بوه سه: چې ناصیه ځای ته د شنه کېدلو د وېښتانو وایي چې په مقدمه حصه کې د سر دي چې په پښتو کې یې نزله بولي، او هغه وېښتانو ته هم وایي چې د هغه حصه شنه وي.

فائده: سر څلور حصې دی (۱) ناصیه چې ذکر سوله (۲) مقابل د ناصیه قفا بولي یعنې څټ (۳) او مابین د ناصیة (۴) او څټ د یوه غوږه او د بل غوږ پر برابر قرنان بولي دوه بنکرونه" اصطلاح د عربو" عرب چې یو سړی په ذلت او مقهوریت وبل سړي ته بیانه وي، نو وایي ناصیة فلان بید فلان ای هو ذلیل ومقهور له" والمراد باخذ الله بناصیة کل دابة" نفاذ قدرته تعالی فیهم" والمعنی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الا هو مالک لها قادر عليها يصرفها على ما يريد بها.

مقصود د دې بيان څخه اظهار د عظيم قدرت د خدای دی او غالب سلطنة د خدای دی اوداچې پر مخلوق که څه هم د هر جليل دی په قوت او په جثه کې فهو صغير ذليل بالنسبة الى قدرته تعالى. نو بعض مفسرين وايې چې دا عبارت قرآني كناية ده، او بعض مفسرين وايې استعارة تمثيليه ده كما قولهم للمتحير في امر ما" رئيتک تقدم رجلا وتؤخر اخرى والتفصيل في علم البيان" علماً په پوهېږي که څه هم عوام نه په پوهېږي.

سوال: تا خو ويلي وه چې زما تفسير د عوامو دپاره دی او دلته وايې که څه هم عوام نه په پوهېږي؟

ځواب: ما داسې نه دي ويلي چې د عوامو دپاره دی بلکه ما صرف داسې ويلي دی چې زما تفسير په پښتو ژبه دی په دې وينا کې عوام او خواص دواړه داخل دي.

سوال: عينا دا سوال او جواب تا بل ځای په دې تفسير کې هم راوړی دی، نو د تکرار يې څه فائده؟

ځواب: غرض مخ نيوی د حاسدانو د خبرو دی چې هغه پر هر ځای تنقيد کوي

چشم بد انديش كه بر كنده باد ..... عيب نمايد هنرش در نظر

ته که د حاسدانو د حالاتو تفصيل غواړې د درمختار مقدمه ملاحظه کړه.

إِنَّ رَبِّي عَلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ

په تحقيق زما خدای پر لاره سمه دی" يعني على الحق والعدل، نو محسن ته ثواب ورکوي پر احسان د هغه فضلا منه او بد کاره ته د بد کار جزا ورکوي عدلا منه او هغه څوک چې خدای ﷻ سره اعتصام وکړي هغه خدای ﷻ نه ضائع کوي.

فَإِن تَوَلَّوْا فَقَدْ أَبْلَغْتُكُم مَّا أُرْسِلْتُ بِهِ إِلَيْكُمْ

اصل يې "تتولوا" وو يوه تايې حذف" يعني که تاسي اعراض وکړئ د هغه څه څخه چې ما تاسي ته دعوت در کړي دي يعني من التوحيد، په تحقيق ما تاسي ته ورساوه هغه دين چې زه د تبليغ د هغه خدای را استولی وم وتاسي ته.

پوه سه: چې اصل جزا ده ان محذوف ده مذکور آيت دليل د جزا محذوفي دی والتقدير فان تولوا فلا تفريط ولا تقصير بي اذ قد ابلغتكم آه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَيَسْتَخْلِفْ رَبِّي قَوْمًا غَيْرَكُمْ

او خدای ﷻ به خلف ستاسي پيدا کړي يو قوم غير د تاسي څخه يعني تاسي به هلاک کړي او ستاسي عوض به هغه قوم وګرځوي چې تر تاسي فرمان برداره وي او د خدای عبادت کوي په توحيد سره ولي ستاسي عذر نه سو پاته چې ما تبليغ د ما ارسلت به درته وکړي او خپله وظيفه مي اجرا کړه.

وَلَا تَضُرُّونَهُ شَيْئًا ۚ إِنَّ رَبِّي عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ حَفِيظٌ ﴿٥٧﴾

او ضرر نسي رسولای وخدای ﷻ شيئا من الضرر (فشيئا مفعول مطلق) بلکه ضرر د شرک ستاسي وتاسي ته راجع دی او يا معنی دا ده چې ستاسي په هلاک کې تاسي د خدای ﷻ وخدايي ته نقصان نه سئ رسولای (فشيئا مفعول به دی) په تحقيق زما رب پر هر شي رقيب دی يعني خبر دی ستاسي په عملو او قادر دی ستاسي پر مجازات او غافل نه دی ستاسي د عملو څخه، نو بايد مؤمن همېشه طاعت د خدای ﷻ ته.

وَلَمَّا جَاءَ أَمْرُنَا نَجَّيْنَا هُودًا وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا

هغه وخت چې ورسېدی امر زمونږ يعني د عذاب د هود مونږ نجات ورکړی د هود او و هغو کسانو ته چې ايمان يې راوړی وو د هود سره په رحمت سره زمونږ يعني په فضل زمونږ نه په عمل د دوی.

پوه سه: چې مؤمنان د قوم هود (۴۰۰۰) څلور زره کسان وه.

وَنَجَّيْنَاهُم مِّنْ عَذَابٍ غَلِيظٍ ﴿٥٨﴾

او نجات ورکړی مونږ ودوی ته د عذاب سخت څخه.

پوه سه: چې تکرار د "نجيناهم" لپاره د تاکيد دی او لپاره د تعظيم د قوم هود دی او لپاره د تهويل د عذاب دی.

فائده: عذاب د قوم هود ډېر سخت باد او نهايت گرم ؤ چې ددوی يعني د کفارو په پوزه ننوتی تر دېره به يې راووتی او عضواً عضواً به يې سره جلا کړه.

دروښ وايي: چې د عاديانو مفصله قصه په تفسير کې د سورة الاعراف تېره سوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: هود علیه السلام او مؤمنان چي قوم يې هلاک سو د مکې مکرمې پر لور روان او هورې يې د خدای ﷻ عبادت کاوه تر مرګ پورې.

فائده: په انسان العیون کي وايي چي د هر نبي قوم چي هلاک سوی دی ماسوی د موسی علیه السلام هغه نبي مکې ته راغلی دی او هورې يې د خدای ﷻ عبادت کاوه تر مرګه پورې.

وَتِلْكَ عَادٌ جَحَدُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ وَعَصَوْا رُسُلَهُ

پوه سه: چي تلک اشارة ده وقوم ته د هود چي قوم عاد وه او سبب د تانیث يې تاويل دی په قبیله سره او بعض مفسرین مضاف محذوف بولي يعني تلک اثار عاد يعني تاسي سفر وکړئ په مځکه کي او اثار د قوم عاد وګورئ لاجل العبرة.

بیت.. پند گیر از مصائب دیگران..... تا نگیرند دیگران ز تو پند

ترجمه: دغه ده قبیله د عاد. يا دغه دي آثار د عاد چي دوی تکذیب او انکار کړی وو په آياتو د خدای ﷻ، او دوی عصیان کړی وو د رسولانو د خدای ﷻ.

پوښتنه: رسول د عاديانو خو يو وو، نو جمع يې د کوم حکمت دپاره راوړه؟

ځواب: په جمع کي تنبیه پر دې ده چي انکار د يوه رسول انکار د ټولو رسولانو دی ولي چي رسولان ټوله دعوت وتوحید ته کوي او يو د بل تصدیق کوي بلکه په اصول او عقائدو کي د دین ټوله سره شریکان دي البته په فروع کي د دین اختلاف سره لري، نو انبیاء علیهم الصلوة والسلام لکه د يوه پلار زامن چي مندي يې سره جلا وي" وقد جاء معناه فی الحدیث النبوي الصحیح.

وَاتَّبَعُوا أَمْرَ كُلِّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ ﴿٥٩﴾

او دوی متابعت کاوه په شرک کي د امر د هر نوي ظالم چي د توحید سره يې ضدیت درلودی والمعنی چي دوی د خپلو رئیسانو متابعت کاوه او د هغه چا چي دوی ته به يې د توحید تبلیغ کاوه د هغه ځخه به يې انکار کاوه" په تبیان کي وايي چي جبار المتعظم في نفسه (چي په نفس کي ځان لوی پر هر چا په خیال ورځي المتکبر علی العباد) او چي کبر کوي پر خلګو" والعنید" الذي لا یقول بالحق ولا یقبله او د عنود او د معاند هم داغه معنا ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَأُتْبِعُوا فِي هٰذِهِ الدُّنْيَا لَعْنَةً وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ

او په دوی پسې کړه سوی دی لعنت من الناس والملائکة او په آخرة کې هم لعنة دی یعني د خدای د جانب څخه.

پوه سه: چې د اتبعوا ضمیر د رؤساو او تابیعنو ته د دوی راجع دی.

فائده: اثر د لعنت د ورځې د قیامت التابید فی النار دار الاشرار والکفار والفجار والهلاک فی الدنیا" عصمنا الله تعالی منها بفضله وکرمه.

اَلَآ اِنَّ عَادًا كَفَرُوا رَبَّهُمْ ۭ اَلَا بُعْدًا لِّعَادٍ قَوْمِ هُوْدٍ ۝

خبر اوسئ چې د عاد قوم کفر وکړی د خدای ﷻ یعنې انکار د توحید د خدای ﷻ یې وکړی "او یا کفران د نعمتو د خدای ﷻ یې وکړی، خبر اوسئ چې لیرې والی دی وي د رحمت څخه او یا معنی هلاک دي وي.

پوه سه: چې دا جمله د ښرا د لعنت یا د هلاک و عاد یانو ته ده او تنبیه پر دې ده چې دوی مستحق د ما نزل علیهم وه بسبب ما حکی الله عنهم.

فائده: ذکر د الا دوه ځایه او ذکر د نامه د عاد دپاره د عبرت د نورو نسلو دی په حال سره د دوی او رسوایې د دوی ده او قوم هود عطف بیان د عاد دی او اشاره واختلاف ته د قوم او د هود ده" قال المولوي المعنوي رحمه الله في مثنویه في بیان العبرت.

پس سپاس اورا که مارا در جهان ..... کرده پیدا از پس پیشنا ن
تا شنیدیم آن سیاتهای حق ..... بر قرون ماضیه اندر سبق
استخوان وپشم آن کرگان عیان ..... بنگیرید وپند گرید ای جهان

مسئله: په کفایه شرح الهدایه کې راغلي دي چې لعن پر دوه قسمه دی (۱) بعد دی د رحمت څخه د خدای ﷻ او دا لعن بې کافره بل چاته نسته (۲) او لیرې والی دی د درجې د ابرارو او صالحانو والثاني هو المراد بقوله علیه الصلوة والسلام المحتکر ملعون" لان الاحتکار (یعنې خوراکي مواد د ګرانۍ دپاره رانیول او ساتل یې) کبیره" ګناه ده او مذهب د اهل السنة والجماعة دا دی چې په ارتکاب د ګناه کبیرې سړی کافر نه ګرځي چې مستحق د لعن اول دی وګرځي. خلافا للمعتزلة والخوارج.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: لعن عام روادی" کما جاً فی الحدیث لعن الله الراشي والمرتشي والرائش یعني ورکوونکی د رشوت او اخستونکی د رشوت او چې په مابین کې د دوی واوسطه وي" وکذا جاً فی الحدیث لعن الله اکل الربوا و موکله وکاتبه وشاهده الی آخیر الحدیث.

دروښ وایي: چې نور ګنړ شمېر حدېثونه په لعن عام کې راغلي دي.

فائده: لعنت پر شخصي سړي ببله کافره پر چا نه دی روا.

پوه سه: چې ابن الصلاح په خپله فتاوی کې وایې چې قاتل د حسین رضی الله عنه یعني الامر بقتله وهو یزید لا یکفر بذالک بلکه مرتکب د کبیره ګناه دی وانما یکفر القاتل بقتل نبي من الانبیاً علیهم السلام ابن صلاح وروسته زیاته کړې ده چې د یزید په باره کې درې فرقې دي (۱) دوستي او محبت ورسره کوي او وایې چې ښه کار یې وکړی (۲) فرقه ښکنځل ورته کوي او لعنت پر وایې (۳) فرقه نه دوستي ورسره کوي او نه لعنت پر وایې بلکه مرتکب د ګناه کبیره یې بولي" ابن الصلاح دا دریم مذهب مختاره کړی دی" لکن العلامة سعد الدین التفتازاني رحمه الله علیه وایي "ونحن لا نوقف في شانه بل في ایمانه لعنة الله علیه واعوانه والله اعلم بالصواب.

نه مجتهد یم نه قاضي او نه مفتي ..... بلکه خوار عبید الله یمه عاصي.

(یعني زه ناقل یم د علماؤ رحمهم الله د اقوالو.)

وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَٰلِحًا

ای وارسلنا الی ثمود" قبیله من العرب په نامه د لوړ نیکه مسمی ده" یعني ثمود بن عاد بن ارم بن سام بن نوح علیه السلام په تفسیر کې د ابي اللیث السمرقندي رحمه الله وایې چې ثمود ګاهي غیر منصرف راځي للتانیث بتاویل القبیلة والعلمیة" او ګاهي منصرف هم راغلی دی للتاویل بالقوم "اخاهم" یعني شریک د دوی په نسب کې "صالحاً" عطف بیان دی لاخاهم وهو صالح بن عبید بن آسف بن ماسخ بن عبید بن خاور بن ثمود.

قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥ

جمله مستانفه جواب د سوال دی ګویا چا پوښتنه وکړه چې صالح چې ثمود ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

واستول سو، نو يې څه وويل دوی ته، ای قوم زما (بتقدير الياء وتعويض الكسرة منها) عبادت کوئ د خدای ﷻ، نسته تاسي لره معبود بالحق غيره الله دا جمله تعليل د ماقبل جملې يعني اعبدوا الله.

پوه سه: چې عبادت کول د خدای ﷻ چې مشرک ته وويل سي معنا يې توحيد ده ای وحدوا الله.

هُوَ أَنشَأَكُم مِّنَ الْأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا فَاسْتَغْفِرُوهُ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ ۚ إِنَّ رَبِّي قَرِيبٌ مُّجِيبٌ ﴿٦١﴾

تاسي خدای ﷻ پيدا کړي ياست د مځکې څخه يعني بخلق ابيكم آدم منها، او تاسي يې آباد کړي ياست په مځکه کې او ضحاک رحمه الله يې ترجمه داسي کړې ده چې طويل عمرونه يې درکړي دي تاسي ته حتى چې ددوی د يوه سړي عمر به له درې سوه کاله څخه نيولې بيا تر زر کالو پورې وۀ، طلب د مغفرت له خدای پاک څخه وکړئ بالايمان، کاشفي رحمه الله وايي ايمان آرید تا شمارا بيا مرزد، بيا توبه وکاږئ خدای پاک ته من عبادة غيره لان التوبة لاتصح الا بعد الايمان كما لايخفى، په تحقيق زما خدای قريب دی په رحمت سره، کريمه: ان رحمة الله قريب من المحسنين" او قبلونکی د دعا دی، شهرازي قدس سره وايي:

محالست اگر سربرين درنهی ..... که باز آيدت دست حاجت تهی

کريمه: ادعوني استجب لكم.

قَالُوا يَا صَالِحُ قَدْ كُنتَ فِينَا مَرْجُوًّا قَبْلَ هَٰذَا أَتَنْهَانَا أَن نَّعْبُدَ مَا يَعْبُدُ آبَاؤُنَا

قوم ورته وويل ای صالح ته وې په موږ کې د اميد سړی يعني زموږ خيال وو چې ته به زموږ سردار وګرځې د مخه تر دې دعوت چې ته موږ امر کوې چې عبادت د خپلو خدايانو پرېږدئ اوس مو نو اميد در څخه قطع سو، آيا ته موږ منع کوې چې موږ عبادت کوو د هغو خدايانو يعني الاوثان چې عبادت يې کاوه زموږ نيکه ګانو، نو لفظ "يعبد" حکايت د حال ماضيه دی.

وَإِنَّنَا لَفِي شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُونَنَا إِلَيْهِ مُرِيبٍ ﴿٦٢﴾

او په تحقيق موږ په شک کې د هغه شي څخه چې ته موږ وربولې يعني توحيد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

المعبود وترک عبادة الاصنام چي موږ په شک کي اچولي يو.

قَالَ يٰقَوْمِ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كُنْتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ

صالح عليه السلام قوم ته وويل اى زما قومه تاسي ماته خبر راکړئ که زه وم پر بيان حق د جانب څخه د رب زما.

پوښتنه: صالح عليه السلام خو متيقن وو چي زه پر بيان حق يم د خداى عزوجل د خوا څخه. نو کلمه د شک چي ان ده ولي وويل؟

ځواب: صالح عليه السلام کلمه د شک په اعتبار د مخاطبينو وويل چي هغه د ده د نبوت څخه منکر وه، نو گويا د داسي ورته وويل چي تاسي فرض کړي که زه وم آه.

وَّاٰتٰنِيْ مِنْهُ رَحْمَةً فَمَنْ يَّنْصُرُنِيْ مِنَ اللّٰهِ اِنْ عَصَيْتُهٗ فَمَا تَزِيْدُوْنَنِيْ غَيْرَ تَخْسِيْرٍ ۝

او راکړه سوې وو ماته رحمت يعني نبوت او علم دين، نو به څوک زما سره کومک وکړي يعني خلاص به کړي ما د عذاب څخه د خداى عزوجل (بحذف المضاف وتضمين النصر لمعنى المنع) که زه عصيان وکړم د خداى عزوجل څخه يعني په تبليغ کي د رسالت او په منع کي شرک به تعالى، نو تاسي نه زياته وئ ماته چي بهرته مو ودين د آباو بولي سوى د دې څخه چي ماته خسران ورسوئ.

سوال: صالح عليه السلام خو په خسران کي نه وو، نو څه معنى د "ماتزيدونني غير تخسير"؟

ځواب: روح المعاني او روح البيان" او مظهري" او قرطبي بلکه ټولو مفسرينو رحمهم الله تخمينا په گډه دوه جوابه د سوال مذکور ورکړي. اول چي تاسي زما متابعت وکړئ او رئيس د قوم وگرځوئ لکه چي دا قول د دوى دلالت پر کاوه" قد كنت فينا مرجوا" ماته نه فائده کوي غير د تخسير څخه. نو تزيدونني په معنى د تفيدونني اذلم يكن فيه تخسير اصلا حتى يقبل الزيادة" يعني زما عمولته را باطله وي او د عذاب سره د خداى عزوجل مي مخامخ کوئ "دوهم دا چي په خواصو د ابواب کي د شافيي د ابن حاجب رحمه الله راغلي دي چي باب د تفعيل گاهي د پاره د نسبت راځي "نحو فسقته اى نسبته الى الفسق" وفجرته اى نسبته الى الفجور" فكذا التخسيره بمعنى النسبة الى الخسران" يعني زه به نسبت ستاسي وخسران ته کوم" واقول انكم لخاسرون".

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي دا دوهم جواب حسين بن الفضل ورکړی دی" والفرق بين الجوابين ان الفاعل على الاول" القوم وصالح مفعوله وعلى الثاني بالعكس انتهى مافي التفاسير مع زيادة التوضيح من العبد العاصي.

درويش وايي: چي علامه بغدادي رحمه الله په روح المعاني کي نور جوابونه هم راوړي دي ونقل كلها يفضي الى الاطناب وفيما نقلنا كفاية.

درويش وايي: چي قوم د صالح عليه السلام يوه ورځ د عيد درلوده چي ټوله به دښت ته ولاړه. نو صالح عليه السلام په اجتماعي ورځ کي د دوی ودوی ته دعوت د توحيد ورکړی "وترک الشرک" نو دوی ورته وويل چي ته هوډ ته يوه معجزه ښکاره کړه چي دليل ستا د نبوت وي صالح عليه السلام ورته وويل "اية آية تريدون" نو رئيس د دوی جندع بن عمرو ويوې لوی څنډي د غره ته اشاره وکړه چي د دغه غره څخه به يوه اوښه راوزي چي لوی نس يې وي" يعني لکه د غره دغه حصه او په وړيو به پته وي او د لسو (۱۰) میاشتو بر البه به وي (چي د اوښې ولادت او نتاج پر لس میاشتي کېږي) او هغه اوښه به لنګېږي جونګی پې دونه وي لکه مور.

درويش وايي: چي د دوی په خيال دا د عقله ليرې کار وو" د صالح په قدرت به داونسي او دوی غافله وه چي په قدرت د رب د صالح خو پوره ده "کريمه" اذا اراد شيئا ان يقول له كن فيكون" او قوم د صالح د ده سره تينګي وعدې وکړې که تا دغسي وکړه مورږ پر تا ايمان راوړو يعني تا په نبوت منو "نو صالح عليه السلام دوه رکعته لمونځ وکړی او خدای ته خواست وکړی، نو د غره څخه داسي اواز پيدا سو لکه اوښه چي لنګېږي غر سره وچاودی لويه اوښه څنډي را ووتل" او هغې ته سمدلاسه حالت د لنګول پېښ سو او د مور په شان غټ جونګی يې وزېږاوه، بعض مفسرين رحمهم الله وايي چي دا اوښه دومره غټه وه چي ميل په ميل کي پرېوتله يعني چوکېدله راوي وايي چي د دې معجزې په لېدو سره څلور زره (۴۰۰۰) کسانو سره د جندع ايمان راوړی" فقال صالح عليه السلام.

وَيٰقَوْمِ هٰذِهٖ نَاقَةُ اللّٰهِ لَكُمْ اٰيَةً

دا اوښه د خدای ده (نسبت وخدای ته يې په دې سبب وکړی چي دا اوښه په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

محض قدرة د خداى ﷻ پيدا سوه بېله سبب عادي).

پوه سه: چې هذه مبتدأ ده او ناقة الله يې خبر دى او لكم خبر مقدم دى پر مبتدأ چې آية دى لكون المبتدأ نكرة محضة كما هو القانون النحوي.

فَذَرُوهَا تَأْكُلْ فِي أَرْضِ اللَّهِ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوءٍ فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابٌ قَرِيبٌ ﴿٦٤﴾

تاسي يې پرېږدئ دا بـه خوراک كـوي يعنـي د نباتـاتو او د بلگـو د درختـو (وتشربو ماؤها يې پرېښو لدلالة الاكل عليه) والمقصود منه دا دى چې نفقه يې پر تاسي نه ده لازمه، او مه مسه كوئ په بدو سره، يعني كه يې تاسي مسه كړئ په سوء سره، نو تاسي ته به ورسېږي عذاب نژدې يعني په درو ورځو كي.

پوه سه: چې دا اوښې به په دوبې د شيلې د وښو پر غاړه خوراک كاوه د خلگو چارپايان د اوښې د بېړي نه ورتله، او ژمي كي بې د شيلې د نس وانښه خوړله او د خلگو چارپايانو د دې د بېړي د شيلې لوړ وانښه خوړل دا پر وطن والو ډېره درنه پرېوتـه ولي چې هغـه ښـه وانښـه د دوبي او د ژمـي بـه اوښې خوړلـه وفي روايـة چارپايـان د خلگـو د بېړي د اوښې شـيلې تـه د وښـو هرگز نـه ورتلـه" دا شكايت خلگو و صالح ﷺ تـه وكړى" بيـا د صالح او د دوى مشـوره پـر نوبـت وكـړه سـوه" يعنـي پـه ورځ د اوښـې بـه ستاسـي چارپايـان پـه كـور كـي وي، او يـوه ورځ دې ستاسي د چارپايانو وي، اوښه به نه ورځي" نو دا نوبت دوى ته اشق تر اول سو.

فَعَقَرُوهَا فَقَالَ تَمَتَّعُوا فِي دَارِكُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ ۖ

دوى مړه كړه ناقة الله، پس وويل (صالح ﷺ) تاسي ژوند كوئ په خپلو كورو كي درې ورځي.

پوه سه: چې عاقر كه څه هم قدار بن سالف و لكن چونكه دا كار قدار په مشوره د دوى وكړى، نو د دې سببه يې نسبت د هلاک يې وتولو ته وكړى اوښه چې مړه سوه غوښې يې پر تولـه اهل قريه ووېشلې.

دروښ وايې: چې تفصيل د دې په تفسير كي د سورة الاعراف مطالعه كړه.

پوه سه: چې د دار څخه يا دنيا مراد ده او يا بلد د دوى درې ورځي" يعني (۴) شنبې (۵) شنبې او جمعه چې اوله ورځ به د تولو مخان ژړ وي، او دوهمه ورځ به سره وي" او دريمه ورځ به تور وي او د شنبې په ورځ عذاب پر تاسي نازلېږي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذٰلِكَ وَعْدٌ غَيْرُ مَكْذُوبٍ ﴿۱۰۴﴾

دغه د درو ورځو وعده درواغ نه ده" بعض مفسرین وایي چي مکذوب مصدر میمي دی کالمجلود" والمفتون" او بعض مفسران وایي چي اصل یې مکذوب فیه وو حرف جر حذف سو ضمیر یې و مکذوب ته نقل سو.

فَلَمَّا جَآءَ أَمْرُنَا نَجَّيْنَا صٰلِحًا وَّالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَمِنْ خِزْيِ يَوْمِئِذٍ ؕ

نو هغه وخت چي امر د عذاب زمونږ ورسېدی، نو نجات ورکړی مونږ و صالح ته او هغو کسانو ته چي ایمان یې راوړی وو سره د ده په رحمت عظیم سره زمونږ د خوا او دغه رنګه مو نجات ورکړی د رسوایي د دغې ورځې یعني هلاک مو نه کړه لکه کفار.

اِنَّ رَبَّكَ هُوَ الْقَوِيُّ الْعَزِيْزُ ﴿۱۰۵﴾

په تحقیق ستا خدای قادر پر هر شي او غالب دی.

وَاَخَذَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ فَاَصْبَحُوْا فِيْ دِيَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ﴿۱۰۶﴾

او و نیول هغه کسان چي ظلم یعني کفر یې کاوه یوې ناري د جبرئیل (د یوې نعرې تفسیر یې په سبب د دې وسو چي صیحة فعلة دی فعلة بفتح الفا وقال اهل الصرف ان وزن فعلة للمرة) او بعض مفسرین وایي چي د آسمان دخوا یو داسي چغه وسوه چي د هرې تکي آواز په کښې وو. نو د دوی زړونه په سینو کي وچاودل والاول هو الاشهر، نو وګرځېده دوی په خپلو کورو کي هلاک پر زنګنو ناست.

كَاَنْ لَّمْ يَغْنَوْا فِيْهَا ؕ اَلَآ اِنَّ ثَمُوْدَا كَفَرُوْا رَبَّهُمْ ؕ اَلَا بُعْدًا لِّثَمُوْدَ ﴿۱۰۷﴾

ګویا دوی نه دي اوسېدلي په خپلو کورو کي یعني موت په اجل واحد مړه سوه، اګاه اوسه چي قوم ثمود کفر او انکار وکړی د توحید څخه د خدای ﷻ اګاه سوه، اګاه اوسه چي قوم ثمود د رحمت څخه د خدای قوم لرې د ثمود.
اوسه چي بعد دي وي دوي لرې د رحمت څخه د خدای قوم لرې د ثمود.

فائده: ثمود په تاویل د قبیلة مؤنث دی، نو غیر منصرف دی او په تاویل د قوم مذکر دی" په دې آیت کي پر قرائت مشهوره اول ثمود منصرف دی یعني منون دی او تنوین یې په الف بدل کړی دی او دوهم ثمود غیر منصرف دی سره د دخول لام جاره په فتحه ویل کېږي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَقَدْ جَآءَتْ رُسُلُنَآ إِبْرٰهِيمَ بِالْبُشْرٰى قَالُوا سَلٰمًا

او په تحقيق راغله رسولان زمونږ يعني الملائكة، و ابراهيم ته په زېري سره د اسحاق او د يعقوب چې د اسحاق زوی دی او د ابراهيم لمسی دی "وقيل" باهلاک قوم لوط.

پوه سه: چې "سلاماً" مفعول مطلق د فعل محذوف دی ای نسلم عليک سلاماً.

پوه سه: چې ابن عباس رضي الله عنه او عطا رحمه الله وايي چې دا ملکي درې وې جبرئيل او ميکائيل او اسرافيل" او محمد بن کعب وايي چې جبرئيل وو او (۷) ملکي نوري ورسره وې" او ضحاک وايي (۹) ملکي نوري ورسره وې او مقاتل وايي (۱۲) ملکي نوري ورسره وې او سدي وايي (۱۱) ملکي وې پر رنګ د بنائسته غلمانو.

دروښ وايي: لا يمكن الجمع بين هذه الروايات او تعيين د عدد امر عقلي هم نه دی بلکه سمع ته ضرورت لري او روح المعاني نور اقوال او روايات پر زيات کړي دي ولله در روح البيان حيث قال جا جبرئيل وجمع من الملائكة معه ولي چې روح البيان اذهان د سامعينو د اضطراب او تشويشه وساتل والله اعلم بالصواب.

پوه سه: چې لام د لقد موطئة د قسم محذوف دی ای بالله قد جا آه.

فائده: تحية د ملکو ابراهيم ته په جمله فعليه سره وه.

قَالَ سَلٰمٌ

پوه سه: چې جواب د ابراهيم په جمله اسميه سره دی او سلام مرفوع دی په حذف د مبتدا ای جوابي سلام يا په حذف د خبر مقدم ای عليکم سلام" په هر صورت جواب د ابراهيم احسن دی تر تحية د ملکو لان الجملة الاسمية تدل على الاستمرار بقرينة المقام بخلاف الفعلية كذا قال النحاة "كريمه" واذا حييتم بتحية فاحيوا باحسن منها او رودوها.

پوه سه: چې ملکي چونکه په رنګ د بنائسته خوش رنګه هلکانو وي، نو ابراهيم نه وپېژندلې چې ملکي دي بلکه د مهمانانو شک يې پر راغلی، نو يې په مهمان خانه کې کښېنولې او د دوديې بندوبست يې ورته وکړی "وذالک قوله تعالى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَمَا لَبِثَ أَنْ جَاءَ بِعِجْلٍ حَنِيذٍ ﴿٦٩﴾

بتقدير في الجارة مع ان ای في ان، نو درنگ او معطلي ونه کړه په دې کي چي رايه وړي، تر آنکه آورد گوساله بريان کړده سنگ گرم، نو "حينئذ" فعيل په معنی د مفعول دی روح البيان وايي چي "حينئذ" هغه غوښي بولي چي پر گرمو ډبرو پخه سي بېله تنور او بېله اوره لکه د صحرا د خلگو چي دا عادت دی چي غوښي پر تودو ډبرو پخوي لکه کباب بېله کتوي. په تفسير کواشي کي وايي چي "حينئذ" هغه غوښي دي چي په يو غار ځای کي پر تودو ډبرو پخې کړي چي غوړي تر ځاځي.

بوه سه: چي عام مال د ابراهيم غواوي او غوايي او گلگيان (او سخندران) وه

فائده: دا ټوله تلوار د ابراهيم د مهمان نوازی نتيجه وه.

فَلَمَّا رَأَىٰ أَيْدِيَهُمْ لَا تَصِلُ إِلَيْهِ نَكِرَهُمْ وَأَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيفَةً

ابراهيم چي وليده چي لاسونه د ميلمنو نه سوه اوږده وعجل حينئذ ته يعني خوراک يې نه کړی شروع، نابلده يې په خيال ورغله بيضاوي وايي چي نکر "انکر" استنکر په يوه معنا دي يعني ابراهيم په دې نه سو پوه چي سبب د نه خوښولو د مهانی څه شی دی، او پټ په زړه کي ورو گرځېدل د مهانانو څخه بېره ولي د قديم څخه تر اوسه پوري دا عادت دی چي مېلمه چي وويی د کور نه خوري هغه مېلمه د شر وي لکن ظاهره داده چي ابراهيم په پوه سو چي ملکي خو دي لکن د دې څخه وبېرېدی چي په ما کي يو فعل منکر په نېز د خدای ﷻ نه وي پيدا سوی او يا د قوم د هلاک دپاره نه وي راغلی "ملکو چي د ابراهيم خوف احساس کړی، نو يې ورته وويل.

قَالُوا لَا تَخَفْ إِنَّا أُرْسِلْنَا إِلَىٰ قَوْمِ لُوطٍ ﴿٧٠﴾

بېرېږه مه موږ را استول سوي يو د پاره د اهلاک د قوم لوط.

وَامْرَأَتُهُ قَائِمَةٌ فَضَحِكَتْ

مايته د ابراهيم سارة بن هاران بن ناخور وهي ابنة عم ابراهيم ولاړه وه دپاره د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدمت د مېلمنو او ابراهيم عليه السلام د مېلمنو سره لكه د صحرا دخلگو چې تر اوسه دا عادت دی چې بنځې يې د مېلمنو خدمت كوي او ستر نه كوي او شايد د ابراهيم عليه السلام په دين كې ستر نه وو لكه په ابتدا كې د اسلام چې ستر نه وو.

پوه سه: چې اكثر مفسرين پر دې روش دي چې مراد د ضحكت څخه ضحك متعارف مراد دی يعني خندا دون القهقه وفوق التبسم لكن په سبب كې د خندا د دې اختلاف دی" بعض وايي چې د دې خوشحالی په اثر يې وخندل چې خوف د ابراهيم او د دې زائل سو، چې ملكو ورته وويل لا تخف او قتادة وايي چې د تعجب د لاري وخندل چې قوم لوط ته عذاب نژدې دی او دوی هنوز په غفلت كې د كفر او د عصيان د فعل خبيث د لواطت پوب دي، او سدي رحمه الله وايي چې ابراهيم چې ډوډۍ يعني عجل حنيذ ودوی ته راوړی او دوی نه خوړله ډاخاف ابراهيم وظنهم لصوصاً چې غله دي، ولې چې د پخوا د زمانې د غلو دا قانون و چې د يو چا و كور ته به يې اراده د غلا وه د هغه كور ډوډۍ يې نه خوړله چې دا احسان د كور والا به موږ سُرموي، په خلاف د غلو زمونږ د زمانې د چا په كور كې چې مهماني وخوري او په مهمان خانه كې بيده سي مانښام كور ته ورسي مال ځني يوسي، او كه كور والا مزاحمت ورسره وكړي اخير دی مړ كړي او مال ځني يوسي حتی په كور كې د بنځو د لاسو د زرو بنگړي ځني وكاږي.

پوه سه: چې د لفظ د ولې د دروېش تبصره وه، اوس بيرته د سدي رحمه الله عليه د روايت پر لور، فلما رئ ابراهيم وسارة ايديهم لاتصل اليه، ساره وخندل او وه يې ويل تعجب دی زمونږ وه همانا تو ته چې مونږ يې خدمت په خپله كوو لپاره د اكرام ددوی او دوی زمونږ ډوډۍ نه خوري انتهى رواية سدي باختصار.

دروېش وايي: چې من عجائب تفاسير ضحكت مانقل من مجاهد وعكرمة من غير سند كماذكر المظهري "حاضت في الوقت" دې ته حيض ورغلی دستي، د تعجب ځای دادی چې د حيض سبب نو څه وُ، او دا د امرأته قائمة سره څه تعلق لري، مظهري رحمه الله عليه يوه محاوره د عربو له قاموس څخه نقل كړې ده ضحكت الارنب اي حاضت، مظهري د خلگو په خيال دا ورگوي چې قاموس د آيت د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ضحكت ترجمه په حاضت سره کړې ده کلا وهاشا، قاموس خو د لغتو يو معتبر کتاب دی د قرآن تفسير خو نه دی صرف معاني لغويه د لسان العرب بيانوي. او بعض وايي چې ساره له خوشاليه وخندل چې ملکو وويل "انا ارسلنا الى قوم لوط" خوشالي په دې وه چې اهل فساد له منځه ولاړ سي. او له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چې ساره پر دې وخندل چې ابراهيم عليه السلام سره د خادمانو او مريانو له دې درو کسو څخه دومره دير ببر پرې کذا في روح المعاني.

درويش وايي: قيل في سبب الضحک غير ماذکرناه والله اعلم.

فَبَشَّرْنٰهَا بِاِسْحٰقَ وَمِنْ وَّرَآءِ اِسْحٰقَ يَعْقُوْبَ ﴿٧١﴾

مونږ زروسته تر خوشالي د ساره رضي الله عنها امرئة ابراهيم عليه السلام کمادل عليه قوله تعالى فضحکت" بل لوی زېرې د خوشالي په واسطه د ملکي پر دې وکړې.

پوښتنه: نسبت د زېرې سې ولې ودې ته وکړې او سره ددې چې نسبت خو د نر دی. نو پر ابراهيم عليه السلام به سې زېرې کړې واى؟

خواب: سبب د بشارت ودې ته دادی چې ساره عقيم يعني وچه وه او بل دا چې ددې بني هاجرې زوی درلودی يعني اسماعيل عليه السلام.

بوه سه: "باسحق" په څه کې د جر په فتحه سره دی سبب سې ووېل سو چې غير منصرف دی للعجمة والعلمية.

بوه سه: چې ورآء ظرف مکان په معنی د قدام او خلف دواړو راغلی دی چې له ضداد څخه سې او ګاهې مجازاً ظرف زمان هم مستعملېږي "اسحٰق يعقوب" يعني وهبناها وروسته تر اسحٰق يعقوب چې ددې لمسی سې، د يعقوب د بشارت سبب دادی چې زېرې ورکړل سې چې ته به ژوندی يې لمسی يعقوب ابن اسحٰق به هم وويني.

درويش وايي: چې ساره ته دا زېرې د اسحٰق او د يعقوب وسره دې ټنډی په چپلاخه وواهه کما جا في موضع آخر من القرآن فصکت وجهها داد ښځو عادت دی چې پرده ډېره د تعجب خبره واورې ددې په شان کې دوی ټنډی په چپلاخه ووهي. دلته دا زېرې هم د تعجب خبره وه ولې چې دا عمر رسيده وچه وه. لهذا قالت "يويلتى"

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالَتْ يٰوَيْلَتٰٓى ءَاَلِدُ وَاَنَا عَجُوْزٌ وَّهٰذَا بَعْلِىْ شَيْخًا ۭ اِنَّ هٰذَا لَشَيْءٌ عَجِيْبٌ ۝

ای تعجب مالره. استفهام لپاره د تعجب دی لا للانکار، والمعنی آیا زه به لنګهږم او حال دادی چې سپین سرې سال خورده یم چې په قول د ابن اسحق د نیوې کالو وه او په قول د مجاهد رحمه الله د نهه نیوې کالو وه. او دا زما میړه دی یعنې ابراهیم علیه السلام چې سپین ږیری دی چې د یو سل او شلو (۱۲۰) کالو دی. په تحقیق دا ولادت د دوو سال خورده وو تر منځ یو شی دی د تعجب وړ.

پوه سه: چې دا کلمه اصلاً په شر کې مستعملېږي، نو په امر فظیع پورې خاصه ده او د تعجب په وخت کې هم ویل کېږي په دې ځای کې لپاره د تعجب ده ومبشر به من ولد وولد ولد، او الف د ویلتٰی بدل له یا ځخه د اضافت دی کما في قرائة الحسن رحمه الله یاویلتي بالیاً.

فائده: شیخاً حال دی له بعل ځخه عامل یې معنی د اشیر ده چې په هذا کې ستره کما في کتب النحو.

پوه سه: چې مفسرین رحمهم الله وایي چې په منځ کې د بشارت او ولادت، یو کال تېر سو.

قَالُوْٓا اَتَعْجَبِيْنَ مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ

ملکو ورته وویل لپاره د انکار پر تعجب ددې کما یدل علیه قوله تعالی ان هذا لشئ عجیب" فالمراد نزة للانکار. آیا ته تعجب کوې وه امر ته د خدای جل جلاله یعنې قضائه وقدرته، ولې چې خدای پاک اراده د یو شي وکړي هغه به حتماً کېږي. سعدي مفتي رحمه الله وایي چې جبرئیل علیه السلام یو وخ لرګی له مخکې ځخه راپورته کړی او د ګوتو په منځ کې یې سره ومښی هغه لرګی شین سو دستي. نو دا پوه سوه چې دا امر د خدای پاک دی.

پوه سه: چې د خدای عزوجل د قدرت عجائب بېخي ډېر دي فلا ینبغي التعجب مثلاً امرئة عمران چې حنه یې نوم ؤ عقیم یعنې وچه وه تر سپین سر توبه پورې ثم حملت بمریم رضي الله عنها لکه په آل عمران کې چې تېره سوه. نو چې حمل په قدرت د خدای جل جلاله دی نو حیض ته ضرورت نه لري یعنې چې کلان سالي بنځې ته خو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حيض نه ورځي نو حمل به څرنګه واخلي. او دا هم له قدرت څخه د خدای پاک لپاره کار نه دی چې عمر رسیده ښځي ته دي حیض پیدا سي، په تاریخ اسلامي کي راغلي دي چې حجاج بن یوسف چې اظلم د انسانانو وڅه وخت چې یې پر عبدالله بن الزبیر رضي الله عنه حمله په مکه مکرمه کي وکړه دی یې ګرفتار کړی امر یې وکړی چې د ذم ذم پر غاړه دي ذبح سي. اسماً بنت ابی بکر صدیق رضي الله عنه چې د سیدتنا عائشة رضي الله عنها خور وه او د سلو کالو وه وره راغله لکړه ورڅخه وه څه وخت چې د عبدالله بن الزبیر رضي الله عنه پر غاړه چاړه کش سوه او وینه یې مور ولیدل دستي حیض هم ورغلی او تر تیو یې شیدې راغلې، نو دې وویل چې زویه هغه رحم چې ته پکښې ژوندی سوی وې هغه درپسې وژړل او تې چې تا شیدې څنې رودلې هغو هم درپسې وژړل. نو زه نه درپسې ژاړم وقالت انا لله وانا الیه راجعون" څنې راهي سوله.

سوال: د تعجب معنی خو داده چې یو سړی امر خارق للعادة وویني ورته حیران سي، نو دلته د ابراهیم علیه السلام د کور والا خو دا شان عجب او خارق للعادة ؤ چې د دوو عمر رسیده نر او ښځي څخه عیال پیدا کهږي، او دا چې دا کار خو مقدور د خدای جل جلاله منافي د استعجاب سره نه دی. ولي چې هر شی خو مقدور د خدای دی که څه هم مخالف د عادت وي. نو پر دې ښځه ولي ملکو انکار د تعجب وکړی؟

ځواب: روح المعاني ا۔ مظهري وایي چې ساره رضي الله عنها په مهبط د وحي او لیدلو سره د خارق العادة او معجزاتو په کور کي وه یعني د ابراهیم علیه السلام کور والا وه نو دې ولي تعجب کاوه وه ولادت ته له دې څخه چې عجوز عقیم وه او ددې له خاوند څخه چې شیخ ؤ، نو ځکه ملکو انکار پر وکړی "اتعجبین آه"

رَحْمَتُ اللّٰهِ وَ بَرَكٰتُهٗ عَلَيْكُمْ اَهْلَ الْبَيْتِ ؕ

بعض مفسرین رحمهم الله وایي چې دا دعا د ملکو له خوا څخه وه. او بعض وایي اخبار دی د ملکو له خوا څخه، نو که دا جمله اخبار سي د ملکو له خوا څخه، نو دا جمله مستأنفه ده علت د انکار د ملکو ده، نو ګویا ساره رضي الله عنها ته وویل سوه چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ته څرنګه تعجب کوې ولي چې امثال ددې رحمت الولاد او برکت خو ستاسې پر کور د پر نازل سوی دی.

پوه سه: چې د پر مفسرین رحمهم الله وایي چې مراد له رحمت څخه نبوت دی یعنې د ابراهیم علیه السلام او له برکاتو څخه مراد اسباط د بنې اسرائیلو دي، ولې چې انبیاً د بنې اسرائیلو ټوله له دغو اسباطو څخه وه او ټوله اولاد د ساره رضي الله عنها وه.

نکته: پر دې تقدیر یې ځکه رحمت په لفظ مفرد راوړی او برکات یې په صیغه د جمع راوړه فافهم، او بعض تفاسیر وایي چې د رحمت معنی نعمت ده او یا قرب الهي دی او د برکت نما او زیادت دی په هر شي کې.

پوه سه: چې "اهل البیت" منداً دد په حذف د حرف ندا یعني یا اهل البیت او یا منصوب علی المدح ده بحذف اعنی.

دروښ وایي: چې منصوب علی المدح یا مرفوع علی المدح مثال یې دادی بسم الله الرحمن الرحیم بالنصب او الرفع، نو نصب یې په حذف د اعني دی او رفع یې په حذف د مبتدأ ده ای هو، مع ان المقام مقام الجر لکونها صفتان للفظ الله المجرور بالاضافة، وعلی هذا فقس المنصوب علی الذم او المرفوع علی الذم مثل اعوذ بالله من الشیطان الرجیم بنصب الرجیم او برفع الرجیم مع کونه صفت للمجرور وهو لفظ الشیطان، وهکذا المنصوب علی الترحم والمرفوع علیه نحو مررت بعبدک المسکین او المسکین برفع المسکین او بنصبه مع انه صفت لعبدک المجرور.

فائده: دا تفصیل ما ددې لپاره وکړی چې مظهري فقط ویلي وه چې اهل البیت منصوب علی المدح دی انتهی.

إِنَّهُۥ حَمِيدٌ مَّجِيدٌ ۝

په تحقیق خدای جل جلاله فاعل د هغو کارو دی چې دی مستحق د حمد ګرځوي خصوصاً په حق کې د ساره رضي الله عنها او کثیر الخیر والاحسان دی خپلو بندګانو ته من العوام والخواص نو حمید فعیل په معنی د مفعول دی، کذا قال صاحب روح المعاني، او مجید فعیل په معنی د فاعل دی کما لا یخفی فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَلَمَّا ذَهَبَ عَنْ إِبْرٰهِيمَ الرَّوْعُ وَجَآءَتْهُ الْبُشْرٰى يُجَادِلُنَا فِي قَوْمِ لُوطٍ ﴿٧٤﴾

پس هغه وخت چې ولاړه يعني زائله سوه له ابراهيم عليه السلام څخه ببره (لکه چې په هغه آيت کې ذکر سوه چې دی له راغليو مهمانانو څخه وببرېدی فاحس منه خيفة) او راغلی وده ته زېری د زوی اسحٰق او د لمسي يعقوب "يجادلنا" دا جواب د "لما" دی.

سوال: يجادل خو مضارع ده او دا مجادله خو د قرآن تر حکايت دمخه وه نو حق د عبارت به داسي نه و جادلنا؟

ځواب: دې ته په نحو کې حکايت د حال ماضيه وايي. نو عرب په حال ماضيه کې چې عجيب او غريب حال وي لفظ د مضارع په معنی د حال استعمالوي تاچې هغه حالت ماضيه وه اورېدونکو ته حاضر کړي ددوی تاچې دوی تعجب ورته وکړي وهذا قانون کلي في لسان العرب الذي ورد عليه القرآن. او بل ځواب دادی چې مضارع په سياق کې د "لما" په معنی د ماضي ده کجواب لو.

پوښتنه: مجادله او بحث د خدای پاک خو نه دی روا؟

ځواب: يجادلنا دلته په معنی د يكلمنا دی او سئالنا سوال المتضرع. او اکثره مفسرين وايي چې په عبارت کې مضاف محذوف دی يعني يجادل رسلنا وهم الملائكة "في قوم لوط" او معنا د مجادلة الرسل داسي وه چې ابراهيم عليه السلام وملکو ته وويل چې په ښارو او وطنو کې د قوم لوط که پينځوس کسه د مؤمنانو وي تاسي دا ځايونه هلاکوئ؟ ملکو ورته وويل لا! بيا ابراهيم عليه السلام ورته وويل که څلوېښت کسه وي؟ ملکو ورته وويل لا! نه يې هلاکوو. بيا ابراهيم ورته وويل که دېرش کسه وي؟ ملکو ورته وويل لا. حتى ابراهيم عليه السلام تر پينځو پورې ورته وويل ملکو ورته وويل لا. بيا ابراهيم عليه السلام ورته وويل که يو مسلمان پکښې وي اتهلکونها؟ ملکو ورته وويل يا. نو ابراهيم عليه السلام ورته وويل ان فيها لوط. ملکو ورته وويل نحن اعلم بمن فيها. مورې ښه خبر يو بمن فيها چې لوط دی لننجينه الا امرئته كانت من الغابرين يعني من الباقيين في العذاب والهلاک لانها كانت كافرة منافقة كما حكى الله ذالک في موضع آخر من القرآن.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: د ابراهیم علیه السلام دا گمان وُ چې قری لوط د لوط سره هلاکیږي، نو څکه یې سوال تر لوط علیه السلام پورې راورساوه او له دې سببه ملکو ورته وویل نحن اعلم بمن فیها الخ. یعنې ملکو ابراهیم علیه السلام ته د نوح علیه السلام د نجات زېری ورکړی.

إِنَّ إِبْرَٰهِيمَ لَحَلِيمٌ أَوَّٰهٌ مُّنِيبٌ ﴿٧٥﴾

په تحقیق ابراهیم حلیم وُ چې تلوار یې په انتقام د مسیئ نه کاوه، د هر اُوه اُود بې کاوه پر ګنهو که څه هم معصوم وُ او یا کثیر التاوه پر خلګو چې ایمان یې نه راوړی، راجع الی الله و.

پوه سه: چې مقصود په ذکر کولو د صفاتو د ابراهیم علیه السلام بیان دی د سبب د مجادله د ابراهیم په شان کې د لوط علیه السلام یعنې دده زړه نرم وُ او ترحم یې د هر وُ، نو ملکو په وخت کې د بحث د ابراهیم علیه السلام ده ته داسې وویل.

يَٰٓإِبْرَٰهِيمُ أَعْرِضْ عَنْ هَٰذَآ إِنَّهُۥ قَدْ جَآءَ أَمْرُ رَبِّكَ ۖ وَإِنَّهُمْ ءَاتِيهِمْ عَذَابٌ غَيْرُ مَرْدُودٍ ﴿٧٦﴾

اې ابراهیمه ددې جدال څخه لاس واخله، په تحقیق سره رسېدلې ده قضا الهي په اهلاک سره د قوم لوط بحیث لا مردله، نو ددوی په باره کې سوال او خواست فائده نه کوي، او په تحقیق قوم لوط ته راتلونکی دی عذاب چې هیڅ نه ردېږي نه ستا په جدال او شفاعت سره او نه په بل سبب سره.

فائده: لوط علیه السلام د ابراهیم علیه السلام وراره وُ یعنې لوط ابن آذور ابن آذر. او بعض اهل تاریخ وایي چې د اکا زوی یې وُ او ساره امرئة ابراهیم د لوط علیه السلام خور وه. نو دې چې واورېدی هلاک د قوم لوط نو ډېره غمجنه سوه، نو ابراهیم علیه السلام جدال شروع کړی، نو که د خدای پاک سره وي کما هو ظاهر القرآن، نو دا جدال دی د ضعیف د قوي سره لا بالعکس او جدال دی د محتاج فقیر سره د غني کریم، او جدال دی د رحمت او طلب دی د نجات د قوم کافرین څرنګه ابراهیم علیه السلام کاوه مع انهم اعداء الله؟

خواب: مقصود د ابراهیم علیه السلام رفع د عذاب مع الکفر نه وه بلکې غرض دده امهال وُ د نزول د عذاب لعلهم یتوبون ویؤمنون کما یدل علیه قوله تعالی ان ابراهیم لحلیم کمامر من تفسیر الحلیم.

پوه سه: چې راویان د قصې وایي چې ملائکه چې د ابراهیم علیه السلام له مجادله څخه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فارغه سوه، نو د هغې لوی قریې له قری څخه د قوم لوط چې سدوم یې بلله راهي سوې په صورت د بنائسته هلکانو د انسانانو، نو تقریباً د ابراهیم علیه السلام د قریې او د لوط علیه السلام د قریې تر منځ څلور فرسخه مسافت وُ هوریې په نیمایي کي د ورځي ورسېدل، نو پر یو څاه یا یو لښتي بنځي سره جمع وې چې اوبه یې وړلې او په هغو بنځو کي د لوط علیه السلام لور هم وه، نو د لوط علیه السلام لور پوښتنه څنې وکړه چې تاسي د کومه ځایه راروان یاست او چېرې ځئ؟ دوی ورته وویل چې د فلاني ځای څخه راروان یو او دې سدوم قریې ته مو نیت د ورتګ دی، نو د لوط علیه السلام لور دوی خبر کړه د خباثت د عمل د اهل سدوم یعني اللواطة مع حسان الوجوه ددې مراد دا وُ چې تاسي خو هم حسان الوجوه یاست، ملکو ظاهراً پر ځانو حالت د غم او خوا شني بنکاره کړی، نو ملکو د لوط علیه السلام لور ته وویل چې په دې قریه کي څوک صالح سړی نسته چې موږ مېلمانه کړي؟ دې ورته وویل چې هیڅ صالح سړی نسته بېله هغه شیخ (خپل پلار ته یې اشاره وکړه چې هغه د کور په دروازه کي ولاړ وُ) ملکي په هغه انسي صورت کي ده ته ورغلې وهو قوله تعالی.

وَلَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَا لُوطًا سِيٓءَ بِهِمْ

نو چې ورغله رُسل زموږ لوط علیه السلام ته، نو دی غمجن سو په ورتګ ددوی، غم دده ددې جهته نه وُ چې دا خلګ خو مسافر دي دوی او مهماني غواړي فحاشا بیت النبوة عن ذالک، بلکې په دې سبب محزون او غمجن سو چې د لوط علیه السلام خو دا یقین وُ چې دا خو انسانان دي او دهر بنائسته هلکان دي او وه ده ته د خپل قوم خباثت او فعل د لواطت معلوم وُ او ده په ځان کي طاقت د مقاومت او مدافعت نه لیدی، نو ځکه خو ابدی سو ددوی په ورتلو سره.

وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا وَقَالَ هٰذَا يَوْمٌ عَصِيبٌ ﴿٧٧﴾

او تنګ سو لوط علیه السلام په سبب د ملکو، او وویل لوط علیه السلام چې دا ورځ ده ډېره سخته یعني پرما باندي.

بوه سه: چې ذرعاً تمیز دی له نسبت څخه د "ضاق" و لوط علیه السلام ته او دا تمیز محول له فاعل څخه دی یعني ضاق ذرعه، بغوي رحمه الله وایي چې مراد له ذرع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څخه قلب دی. او بیضاوي وایي چې صدره. او مظهري وایي چې ذرغ په اصل لغت کې لاس ته وایي تر څنګلي پورې. او قوت ته هم وایي لکه ید چې قوت نه وایي. نو معنی د آیت داده چې ضعیف سو قوت او طاقت د لوط علیه السلام په سبب د ملکو چې په صورت کې د ښائسته هلکانو وې او د فحاشی څخه د قوم ددوی سره یې چاره نه لیدله. او هیڅ حیله یې په دماغ کې نه ورتله.

فائده: خدای پاک ملکو ته ویلي وه چې تر هغو دا قوم مه هلاکوئ چې لوط پر دوی څلور واره شاهدي ادا کوي چې زما قوم دې بد قوم دی. نو ملکو ته لوط وویل چې تاسي ته څه خبر دررسېدلی دی زما د قوم په حال کې. ملکو ورته وویل چې څه حال دی ستا د قوم، لوط علیه السلام ورته وویل اشهد بالله چې دا قریه شر د قری از روی عمل (یعني اهل ددې قریې بد د خلګو دي از روی عمل یعني اللواطة) څلور واره یې دا شاهدت مکرر ووایه. نو قوم لوط چې د لوط علیه السلام سره دې هر زیبا او ښائسته هلکانو ولیدل نو.

وَجَآءَهٗ قَوْمُهٗ يُهْرَعُوْنَ اِلَيْهِ ؕ

راغله لوط ته قوم ددې په دې هر سرعت او تلوار: ابن عباس رضي الله عنه او قتاده رحمه الله د یهرعون معنی یسرعون کړې ده، او حسن بصري رحمه الله وایي چې اهراع تګ دی دعادي تګ او خفاستي تر منځ چې په پښتو یې دېلک تګ بولي. او بعض اهل تاریخ وایي چې قوم د لوط علیه السلام خو ملکي حسان الوجوه مېلمانه د لوط نه وو لیدلي لکن لوط چې مېلمانه کور ته راوستل ماینې ته یې وویل چې ته چې ولاړ نه شه دوډی او کتنې پوخ کړه د مېلمنو لپاره. ماینه یې له کوره په بیره بهانه ووتل او د نژدې کورو خلګو ته یې وویل چې زموږ په کور کې داسي ښائسته هلکان دي پاک او خوشبویه کالي یې اغوستي دي د لوط مېلمانه دي فعند ذالک وجائه قومه الآیة.

وَمِنْ قَبْلُ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ السَّيِّاٰتِ ؕ

او دمخه تر دې ورځې دوی عمل د سیئاتو کاوه یعني لواطة.

سوال: لواطت خو یوه سیئه ده نو د جمعیت سبب یې څه دی؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: جمعیت یې په سبب د دې والي د فاعلانو دی.

قَالَ يٰقَوْمِ هٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِيْ

وویل لوط چې قوم قصد د لواطت د ملکو وکړی په ګمان د غلمانو. دادې زما لونې تاسي ته به یې په نکاح درکړم او تاسي ځپل قضا شهوت پر وکړئ.

فائده: قوم دده لونې په نکاح ځني غوښتلې ده نه ورکولې په سبب د خباثت ددوی او ددې چې د لوط کفو نه وه.

پوه سه: چې بعض خلګ وایي چې په دې سبب ده نه ورکولې چې دده لونې مؤمناتي وې او دوی کافران وه او نکاح د مؤمنه خو د کافر سره نه ده روا. لکن دا خبره غلطه ده ولي چې دا حرمت خو شرع جدیده یعني زمونږ په شریعت کې نه ده روا حتی چې علیه الصلوة والسلام چې نبي نه وُ ځپل یوه لور یې چې رقیه یې نوم وه وعتبه بن ابي لهب ته ورکړې وه. او بله لور یې چې زینب نومیدله ابی العاص بن الربیع ته په نکاح ورکړې وه وهما کافران مشرکان. او حسین بن الفضل وایي عرض علیهم بناته بشرط الاسلام.

دروښ وایي: چې وهذا لیس بشیئ لان هذا لا یفهم من عبارة القرآن ولا جاء في حدیث حسن ولا صحیح.

دروښ وایي: چې زه په دې موضع کې دېر فکر جن او حیران وم، چې د لوط خو دوې یا درې لونې وې، نو څرنګه لوط ودوی ته پیش نهاد د لونو د نکاح وکړی او سره ددې چې دوی خو دېر راغلي وه. حتی چې په روح المعاني کې مې داسي ولیدل چې د لوط دوې لونې وې چې یوه زعورا نومیدله او بله زیتاه نومیدله، او دده د قوم دوه سرداران وه چې ټوله قوم ددغو دوو سردارانو اطاعت کاوه. نو د لوط علیه السلام مراد دا وُ چې زه به دغه دوې لونې ودغو سردارانو ته ورکړم او دا دوه سرداران به خلګ زما د مېلمنو د لواطت څخه منع کړي، دا د لوط علیه السلام لویه مهمان نوازي وه چې خپلې لونې د دفع د ضرر د مېلمنو څخه پیش کړې، ددې خبرې تائید دا کوي چې د دوو لنو د لوط په یوه وار نکاح د جماعت کثیره سره هیڅ صورت په هیڅ ملت کې نه لري، روح المعاني وایي چې ابو الشیخ له ابن عباس رضي الله عنه او ابن ابي حاتم له ابن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جرير څخه، او ابن ابی الدنیا او ابن عساکر د سدي رحمه الله څخه داسي روایت کړی دی چې مراد د لوط علیه السلام ښځي د امت دده وې،

سوال: ښځي د امت دده خو حاضري نه وې، نو په هؤلاء سره اشاره څرنګه ورته روا ده؟

ځواب: روح المعاني داسي ځواب ورکړی دی لتنزيلهن منزلة الحاضر عنده.

پوښتنه: لوط علیه السلام یې اضافت وځان ته څرنګه وکړی في قوله بناتي، روح المعاني جواب داسي ورکړی دی لان کل نبي اب لامته (ای اب معنوی لهم لتربیته اياهم تربیة روحانیة) کما في قرائة ابن مسعود رضي الله عنه النبي اولی بالمؤمنین من انفسهم وهو اب لهم وازواجه امهاتهم، وقرء ابي رضي الله عنه مثل ذالک لکن قدم وازواجه امهاتهم علی وهو اب لهم، والمراد بالنبي في هذه الآية هو رسول الله صلی الله علیه وسلم.

دروښ وايي: چې په مشهور قرائت کې علی ما في المصاحف المطبوعة عبارة د وهو اب لهم نسته، ددې سببه نسبت د هغه قرائت چې وهو اب لهم په کښې دی وه ابن مسعود او ابی رضي الله عنهما ته مي وکړه.

هُنَّ اَطْهَرُ لَكُمْ

دوی ښه پاکي دي تاسي لره تر لواطت د غلمانو ولي دوی خو په نکاح صحیح تاسي وطي ورسره کوي او فرج د ښځي د قاذوراتو د دبري پاک دی.

پوه سه: چې "هن" مبتدأ ده او "اطهر" یې خبر دی.

سوال: اطهر خو اسم تفضیل دی چې وجود د اصل فعل په مفضل علیه کې غواړي، نو باید اصل طهارت په لواطت کې هم وي ولیس کذالک؟

ځواب: د اسم تفضیل هر ځای دا مقتضی نه ده لان العرب یقولون النکاح اطهر من الزنی، دا قول خو پر دې دلالت نه کوي چې په زنی کې هم طهارت سته لانه خبث من کل الوجوه، او دوهم دادی چې قوم د لوط پر زعم فاسد باطل ویل چې په لواطت کې هم طهر سته یعني روا دی، نو لوط علیه السلام ددوی پر زعم باطل ورته وویل "هن اطهر لکم" درېیم ځواب دادی چې په ورځ د احد چې اوویا مومنانو جام د شهادت نوش کړی او ابو سفیان جنګ متوقف کړی او د احد غره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پر خانګه يې نعره وکړه پر عليه الصلوة والسلام او پر مؤمنانو باندې چې د عليه الصلوة والسلام سره د غره په لمن کې جمع وه، داسې يې وويل اعل هبل چې ددوی د يوه بت او معبود نوم دی، نو عليه الصلوة والسلام وخلګو ته وويل الا تجيبوه؟ مسلمانانو ورته وويل چې څرنګه جواب ورکړو، عليه الصلوة والسلام ورته زياته کړه قولوا الله اعلى واجل، دا خو هم دواړې صيغې د اسم تفضيل دي او ددې تقاضی نه کوي چې په هبل بت کې علو او جلالت سته وامثال ذالک کثيرة وفي ما ذکرناه کفاية.

فَاتَّقُوا اللَّهَ وَلَا تُخْزُونِ فِي ضَيْفِي ۖ أَلَيْسَ مِنكُمْ رَجُلٌ رَّشِيدٌ ﴿٧٨﴾

او تاسې ما مه رسوا کوئ او مه مې شرمنده کوئ د مېلمنو په باره کې يعنې چې تاسې لواطت ورسره وکړي، آيا نسته له تاسې څخه يو سړی چې قوم ته حقه لار بيان کړي او امر بالمعروف او نهي عن المنکر ورته وکړي.

قَالُوا لَقَدْ عَلِمْتَ مَا لَنَا فِي بَنَاتِكَ مِنْ حَقٍّ وَإِنَّكَ لَتَعْلَمُ مَا نُرِيدُ ﴿٧٩﴾

دوی وويل چې ته پوهېږې يا لوط چې موږ لره نسته ستا په لونو کې هيڅ حق يعنې هيڅ حاجت نه ورته لرو ولې چې موږ د فرج شوقيان نه يو، او ته اې لوطه نه پوهېږې په هغه شي چې موږ اراده ورته لرو يعنې اتيان ادبار الرجال الذکران.

قَالَ لَوْ أَنَّ لِي بِكُمْ قُوَّةً أَوْ آوِي إِلَىٰ رُكْنٍ شَدِيدٍ ﴿٨٠﴾

بوه سه: چې کلمه د "لو" لپاره د تمنی ده نو جواب نه غواړي، وويل لوط وه دوی ته کاشکې مالره قوت په بدن کې وای چې ستاسې دفع مې په کړې وای لکن زه يو يم تاسې ډېر ياست، نو زه تاسې نسم دفع کولای په يوازې بدن، او بعض مفسرين رحمهم الله وايي چې کلمه د "لو" شرطي ده جواب يې محذوف دی وتقديره لو قيت بنفسي، او يا زه ورضم سوی وای و قبيله قوي ته چې ستاسې له شر څخه مې ځان ساتلی وای، د "لو" جواب محذوف دی په معطوف کې کما في المعطوف عليه والتقدير لا متنعت به عنکم.

بوه سه: چې په قاموس کې وايي الرکن بالضم الجانب الاقوی من الجبل وغيره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وماتقوی به من ملک وجند وغیره، نو په دې آیت کې لوط ﷺ قوم او قبیله د جانبه سره د غره په قوت کې.

پوه سه: چې "او آوی الی رکن شدید" معطوف پر لو ان لی بکم قوة.

سوال: او آوی آه خو جمله فعلیه ده او ان لي بکم قوة خو جمله اسمیه دد فکیف یصح العطف؟

ځواب: ان في المعطوف علیه فعل مقدر والتقدیر لو ثبت ان لي آه.

پوه سه: چې بغوي رحمه الله له ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې لوط ﷺ د سرای دروازه د دننه له خوا څخه بنده کړه او مهلمانه یعني ملکې په سرای کې وې. او لوط ﷺ د قوم لواطت غوښتونکو سره من وراء الباب زاری کولې لکه دمخه چې تېره سوه او لواطت کارانو کوښش کاوه چې د سرای پر دېوالې وروالوځي. نو ملکې چې دا حال د عجز او زاریو د لوط ﷺ ولیدی نو.

قَالُوا يَا لُوطُ إِنَّا رُسُلُ رَبِّكَ لَنْ يَصِلُوا إِلَيْكَ

نو ملکو وویل چې موږ رسولان د خدای ﷻ یو یعني چې لپاره د اهلاک د قوم لوط را استول سوي یو او ستاسي لپاره رکن شدید یو، هرګز دوی تاته هیڅ ضرر نه سي رسولای یعني دروازه ورخلاصه کړه او موږ او دوی سره پرېږده. لوط ﷺ چې دروازه خلاصه کړه او دوی ورننوتل. نو جبرئیل ﷺ په اجازه د خدای پاک په خپل صورت ملکي کې ځان وربښکاره کړی او په وزر یې دوی پر مخ ووهله سترګې یې پوچې او په سترګو راننده سوه او میدان یې کړه لاړه د نجات نه ورمعلومېدله. نو یې سره نعرې کړې النجاة النجاة چې په وه سرای ته د لوط لوی ساحران د دنیا راغلي دي چې پر موږ یې سحر وکړی او په عین حال کې یې لوط ﷺ ته دا پېښ رو هم واهه چې ته په سرای کې اوسه سبا به یې موږ او ته سره ګورو چې موږ په تا څه کوو او خپل مکافات سبا له تا څخه اخلو.

فائده: په صحیح حدیث کې راغلي دي "قال رسول الله ﷺ رحم الله اخي لوط فقد یاوی الی رکن شدید یعني نصر الله ومعونته" ابن شیخ وایي چې د حدیث په دې عبارت کې لقد رحم الله آه اشاره ودې ته ده چې دا قول دده اویاوی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الی رکن شدید د نبوت د منصب سره نه ښایدله ولې چې ددې عبارت څخه کلي نا امیدي ده ښکارېږي د ناصره څخه چې ده سره دي کومک وکړي. او سره ددې نصرت او معونت د خدای ﷻ رکن شدید ؤ ده لپاره. الیس الله بکاف عبده.

فائده: ابن عباس رضی الله عنهما وایي "مابعث الله نبیاً بعد لوط الا في عز قومه کما کان رسول الله ﷺ یحمیه قبیلته بني هاشم خصوصاً عمه ابو طالب چې هغه د قوم یو برجسته مشر ؤ او د علیه الصلوة والسلام په کلکه حامي ؤ او علیه الصلوة والسلام چې هجرت ته مجبور سو وروسته تر وفات د ابو طالب مجبور سو.

فائده: لوط علیه السلام وملکو ته وویل چې زمانه د هلاک ددې ګمراهانو کله ده؟ ملکو ورته وویل چې صبحدم ده. لوط علیه السلام ورته وویل اریدا اسرع من ذالک زما خوښه داده چې دستي یې هلاک کړئ ملکو ورته وویل "اَلَیسَ الصُبح بِقَرِیب"

فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ

ته بوزه یا لوط خپل اهل یعني عیال.

فائده: د حرمینو شریفینو قاریان "فاسر" په وصل سره د الف وایي هر ځای چې د لفظ واقع سي د باب د مجرد یعني سری یسري، نو کلمه د باً لپاره د تعدیت ده. ولې چې مجرد لازمي دی، او نور قاریان ټوله "فاسر" په قطع د الف وایي له باب څخه د افعال یعني اسری یسري کما في المصاحف المطبوعة، نو پر دې تقدیر باً زائده ده لان باب الافعال متعدي بنفسه ومعناه السیر باللیل.

بِقِطْعٍ مِّنَ الَّيْلِ وَلَا يَلْتَفِتْ مِنكُمْ أَحَدٌ

ابن عباس رضی الله عنهما یې تفسیر کوي بطائفة من اللیل. او ضحاک رحمه الله وایي بقیة من اللیل. او قتاده رحمه الله بعد ما مضی اوله. دروېش وایي والمآل واحد. او تر شا کېږي دي نه یو له تاسي څخه په تګ کې چې ستاسي څخه تر شا پاته سي او بعض مفسرین وایي چې تر شا دي نه ګوري فالامر بالاسراً متوجه الی لوط والنهي عن الانصراف علی التفسیر الاول او یا نظر الی الوراً متوجه الی من تبعه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِلَّا امْرَأَتَكَ

مگر نه ستا ماينه چې کافره وه. تحقيق الاستثنا.

پوه سه: چې بعض قرأ امرئتک په رفع سره وايي او بدل يې بولي د احد د لفظ څخه بغوي وايي چې معنى د آيت پر دې تقدير داده لا يلتفت احد الا امرئتک نو لوط دا هم وسره ببولې وه او ټوله ملګري يې په دې امر کړې وه چې ترشا به نه ګوري لهول العذاب الواقع على البقية في القرية. نو امرئة لوط چې دربى د عذاب واورېدى ترشا يې وکتله او داسي يې وويل واقوماه فادرکها حجر فقتلها او اکثره قرأ يې په نصب د امرئته کما في المصاحب المطبوعة وايي، بغوي و روح البيان وايي چې دا استثناً له اسرار څخه دي. نو معنى د آيت داده فاسر باهلک الا امرئتک فلا تسربها. ولي چې ددې محبت له قوم سره دى، نو د قوم سره يې پرېږده چې ددوى سره يو ځاى هلاکه سي. حاصل الکلام دادى چې مبنى د قرائت د رفع او نصب پر دې ده چې ددې امرئة لوط په ماينه کي دوه روايته دي يو دا چې په قوم کي يې پرېږده مه يې درسره بيايه، او بل دا چې درسره وه يې باسه چې ترشا وګوري نو به هلاکه سي قاله صاحب المدارک..... بيت:

بابدان يار شد همسر لوط ..... خانه نبوتش گم شد

دروښ وايي: چې روح البيان نور هيڅ نقض او ابرام نه دى راوړى مګر مظهري يو سوال وارد کړى دى او دفع يې په قول د بيضاوي کړې ده. او صاحب د روح المعاني ډېر طويل بحث کړى دى چې دا سوالونه او جوابونه تر فهم د متعلمانو د تفسير ايوبي لوړ دي نو ځکه ما صرف نظر کړه.

إِنَّهُ مُصِيبُهَا مَا أَصَابَهُمْ

په تحقيق دې ته يعني امرئة لوط ته رسېږي هغه چې قوم ته دي ورسېږي من العذاب يعني امت دعوت ته د لوط.

فائده: انه مصيبها آه علت دى د استثنا د امرئة لوط پر تقدير د نصب او پر تقدير د بدليت له احد څخه که مرفوع سي فتأمل فيه هداک الله ﷻ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ مَوْعِدَهُمُ الصُّبْحُ ۚ أَلَيْسَ الصُّبْحُ بِقَرِيبٍ ﴿٨١﴾

په تحقیق وخت د نزول د عذاب پر دوی وخت د سپېدو دی.

پوه سه: چې دا سبب دی د وتلو د لوط او د اهل دده په شپه کې. لوط ﷺ ملکو ته وویل چې زه تر سپېدو دمخه نزول د عذاب پر دوی غواړم. ملکو ورته وویل آیا نه دي سپېدې نژدې بلکې نژدې دي.

فَلَمَّا جَاءَ أَمْرُنَا جَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا

پس هغه چې راغلی امر زموږ یعني عذاب زموږ او یا امر په عذاب ورکولو ملکو ته موږ وګرځول لوړه حصه د قرې لوط کښته یعني مځکه مو چپه پر راواړول.

سوال: ددې کار کونکي خو ملکي وې، نو حق د عبارت داسې نه ؤ فجعلوا عليها سافلها؟

ځواب: هو! لکن خدای ﷻ نسبت وځان ته وکړی لانه تعالی هو السبب الآمر بذالک القلب تعظیماً وتهویلاً لشان ذالک. بغوي رحمه الله وایي چې جبرئیل ﷺ خپل وزر تر ټولو قرې لوط لاندې کړی چې په ځای کې د قرآن تعبیر په مؤتفکات سره ځني سوی دی چې هغه ټولې پینځه قریې وې اعظم یې سدوم وه چې په دې قریو کې پینځه لکه انسانان وه. او دا ټولې قریې یې پورته کړې حتی چې اسمان والا ملکو اذانونه د چرګانو او د سپو غپا ددوی واورېده نه یو بیده په دوی کې راویښ سو او نه یو لوښی چې اوبه وغیره پکښې وې چپه سو، وروسته یې مځکه چپه کړه وهذا روایة ابن جریر وابن المنذر وابن ابي حاتم رحمهم الله عن سعید بن جبیر رضي الله عنه.

وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهَا حِجَارَةً مِّن سِجِّيلٍ مَّنضُودٍ ﴿٨٢﴾

او وروسته تر قلب موږ وروليې پر قرې لوط ډبرې چې د سجیل په نامه یادېږي. په تفسیر زاهدي کې وایي چې لویه ډبره یې لکه خوم او کوچنۍ ډبره یې لکه منګی دومره وه. تاریخ وایي چې دغه ډبرې پر هغو کسانو هم وه اوربدلې چې د قرې لوط څخه خارج د تجارت وغیره لپاره تللي وه حتی چې یو سړی د ډبرې له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بهري په حرم مکي ننوتی ډبره څلويښت ورځي په هوا ولاړه وه حتی چې دی له حرمه راووتی پر راشوه سوه.

پوښتنه: وروسته تر قلب د مځکي د ډبرو د باران څه فائده لانهم ماتوا بقلب الارض؟

ځواب: يوه فائده خو يې داده چې ددغو ډبرو په ذريعه دباندې تر قرى لوط ځلګ د قوم لوط مړه کړي کمامر عنقريب، او بل ځواب اظهار د شديد غضب الهي دی پر دوی لکه پر قوم د صالح عليه السلام وروسته په صيحه د جبرئيل تولـه مړه سوه وروسته يې زلزله پر مسلطه کړه.

فائده: سجيل معرب دی د سنګ ګله څخه يعني هغه ډبري چې له خټو څخه جوړې وي او په اور پخې سوي وي. او قتاده او عکرمه رضي الله عنهما وايي چې سجيل خټو ته وايي يعني د خټو مرغټانې، استدلالاً بقوله تعالى في موضع آخر لنرسل عليهم حجارةً من طين، او ضحاک رحمه الله وايي چې پخې خښتي وي وهذا يناسب ماقيل كمامر انه معرب سنګ ګل "منضود" ابن عباس رضي الله عنهما متتابع يعني پرله پسې صيغه د اسم مفعول ده، روح البيان وايي كقطار الامطار لکه پرله پسې څاڅکي د باران، او پاني پټي او روح البيان په يوه خوله وايي والنضد هو وضع الشئ بعضه فوق بعض.

مُسَوَّمَةً عِندَ رَبِّكَ ۖ وَمَا هِيَ مِنَ الظَّالِمِينَ بِبَعِيدٍ ﴿٨٣﴾

"مسومة" صفت دی د حجارة يعني علامه داره چې د دنيا له ډبرو څخه جلا وي. قتاده او عکرمه رضي الله عنهما وايي چې پر هره ډبره سره خطونه وه لکه ټپونه د انسانانو، او حسن بصري او سدي رحمهما الله وايي چې پر هره ډبره لکه مهر داسي شی وُ چې په هغه مهر کي د نوم نوشته وُ د هغه سري چې په دې ډبره به ويشتل کېدی "عند ربک" متعلق دی په مسومة پورې په دې وصف کي اشاره وده چې ده چې دا تسويم د هري ډبري په قدرت د خدای جل جلاله وُ والله على كل شئ قدير فلا استبعاد في ذالک التسويم "وما هي من الظالمين" نه دي دغه ډبري له ظالمانو څخه والمراد بالظالمين مشرکي مکة، او بغوي له قتاده او عکرمه رحمهما الله څخه روايت کړی دی من ظالمي هذه الامة حيث كانوا ومن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کانوا "ببعيد" لهري، ولي دا ظالمان په سبب د ظلم او شرک ددوی مستحق د ورته باران د ډبرو دي.

دروښ وايي: چې په درمنثور کې وايي اخرج ابن ابي حاتم وابو الشيخ عن الربيع په تفسير کې ددې آيت چې هر ظالم چې موږ اوربدلی دی خدای پاک د هغه لپاره يوه ډبره تاکلې ده چې انتظار ددې کېږي چې کله به پر نازله سي.

بوه سه: چې "تذکير" د بعيد په تاويل د حجر دی فافهم.

دروښ وايي: چې ډبر په زړه پوري تفسير دادی چې ضمير د هي راجع وه قری لوط ته وي، او له ظالمين څخه مراد اهل مکه دي، والمعنی نه دی قری د لوط چې سرنګون سوې ده له مشرکانو څخه د مکې لهري بلکې دوی په اسفاور کې وشام ته پر دغه مځکه تېرېږي يعني بايد عبرت واخلي او شرک پرېږدي ..... بيت:

پند گير از مصائب ديگران ..... تا نگيرند ديگران زتو پند

سوال: دا قريې خو عاليها سافلها سوې، نو دوی کفارو ته د مکې يې څه درک معلومېږي چې دوی پند او عبرت ځني اخلي؟

ځواب: ددغو قری وو خرابه امارات ښکاره معلومېږي چې هوري تورې اوبه ولاړې دي والله اعلم.

دروښ وايي: چې په حديث صحيح نبوي کې راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام د صحابه کرامو رضي الله عنهم سره په مسجد نبوي کې ناست وُ چې لوی درب يې راورښلی يعني لکه يو لوی دهوال چې ونړېږي صحابه کرام رضي الله عنهم وارخطا سوه او وېرېدل عليه الصلوة والسلام ورته وويل دا درب د څه شي وُ الله ورسوله اعلم، عليه الصلوة والسلام ورته وويل چې دا يوه ډبره وه چې د جهنم له غاړې څخه اوويا کاله کښدله چې راروانه وه اوس يې بيخ ته ورسېدل.

بوه سه: چې عليه الصلوة والسلام دوی ته دا خبره د کنايې په توګه وکړه. دوی له دغو خبرو څخه نه وه فارغه سوي چې د منافق په کور کې بغاړي چې فلانی مړ سو. او عمر د هغه منافق اوويا کاله وُ. نو دا منافق گويا اوويا کاله د دوزخ له غاړې څخه روان وُ چې مړ سو درب يې سو بيخ ته يې ورسېدی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا

او قوم مدين ته مو واستاوه ورور ددوی يعني ددوی د قبيلې او قوم سړی يعني شعيب عليه السلام.

پوه سه: چې مدين د ابراهيم عليه السلام زوی ؤ او وروسته نوم د هغې قبيلې وگرځېدی چې مدين يې جد اعلی ؤ او داغه رنگه نوم د يو ښار هم دی مدين بن ابراهيم جوړ کړی ؤ. فعلى الاول معنى الآية وارسلنا الى قبيلة مدين. وعلى الثاني وارسلنا الى اهل مدينة مدين "شعيبا" عطف دی د اخاهم وهو ابن ميكيل بن يشجر بن مدين بن ابراهيم عليه السلام.

قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ إِلٰهٍ غَيْرُهُ

شعيب (عليه السلام) دوی ته وويل اې قومه زما توحيد د خدای جل جلاله وکړئ يعني لا اله الا الله ولې چې قوم دده مشرکان وه يعني شرک او بت پرستي پرېږدئ. ولې چې تاسي لره نسته معبود بالحق غير له خدای جل جلاله څخه.

دروښ وايي: چې دا معامله مع الحق وه.

وَلَا تَنْقُصُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ

او تاسي کم مه ورکوئ وه خلګو ته په پيمانه يا کيلي شيانو کې او ترازو په وزنې شيانو کې چې دې ته په عربي کې بخس وايي کما جاء في موضع آخر من القرآن الكريم.

دروښ وايي: چې ددوی معامله وه د خلګو سره بالظلم چې شی به يې پر چا خرڅاوه او يا به يې پور ورکاوه په کوچنی پيمانه به يې ورکاوه يا به يې په کوچنې کانې ور تاله. بعض مفسرين وايي چې د هر يوه د شعيب عليه السلام له قومه څخه په کور کې به يې دوې پيمانې وې يوه لويه او بله کوچنی. او بعض د ترازو غټې ډبرې او بعض کوچنی ډبرې چې په عربي يې سنجات بولي. نو چې دوی به له يو چا څخه شی رانيوی هغه لويه پيمانه سنجات به يې ورته ايستل. او چې پر چا به يې خرڅول هغه کوچنی پيمانه يا سنجات به يې ورته راوړه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروبش وایي: چي ورته فعل ته تطفیف هم وایي کما جاء في موضع آخر من القرآن ویل للمطففین الآیة.

إِنِّيٓ أَرَىٰكُم بِخَيۡرٖ

په تحقیق زه تاسي وینم په خیر کي یعني په ثروت او غنا کي چي تطفیف ته ضرورت نه لري او نجس ته د حقوقو د خلګو بلکې تاسي باید په شکرانه کي د نعمتو د خدای ﷻ خلګو ته تر حق بالا شیان ورکولای تفضلاً واحساناً.

وَإِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٖ مُّحِيطٖ ٨٤

او زه بهر هوم پر تاسي باندې له عذاب څخه د یوې ورځې چي د هغې ورځې عذاب په پر تاسي ټولو احاطه وکړي او ټوله به هلاک کړي. بعض مفسران وایي چي مراد د عذاب د ورځې د قیامت، او بعض مفسران وایي چي مراد عذاب د ورځې د استیصال.

فائده: محیط یې صفت د "یوم" وګرځاوه او سره ددې محیط پر دوی خو عذاب دی لاشتمال الیوم علی العذاب المحیط بهم،

وَيَٰقَوۡمِ أَوۡفُواْ ٱلۡمِكۡيَالَ وَٱلۡمِيزَانَ بِٱلۡقِسۡطِ

او اې قومه زما پوره ورکوئ پیمانه او ترازو په عدالت سره یعني د چا حق مه پکښې خورئ.

پوښتنه: خدای پاک د وراندې وویل "ولا تنقصوا المکیال والمیزان" نو دلته د اوفوا الکیل والمیزان فائده څه ده؟

ځواب: مفسرین رحمهم الله وایي چي امر په شي سره لکه دلته اوفوا الکیل آه وروسته نهي له ضد څخه د هغه شي چي لا تنقصوا المکیال آه او لپاره د مبالغې دی، او لپاره د تنبه پر دې دی چي یوازې ځان ساتل له تطفیف څخه عمداً کافي نه دی، بلکې پر خلګو لازمه ده سعي په ایفا کي د کیل او میزان ولو بادنی زیادة في المکیل والموزون، هم ددغه احتیاط له کبله امام اعظم ابو حنیفة رحمه الله وایي چي که چا مکیل رانیوی یا موزون په پیمانه یا ترازو سره لم یجزي للمشتري ان یبیعه حتی یعید الکیل والوزن فیه، لما في الحدیث نهی رسول الله ﷺ حتی یجری فیه الصاعان صاع البائع وصاع المشتري رواه ابن ماجه واسحاق بن ابی شیبة من حدیث جابر رضي الله عنه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: ددې حديث دوه سنده دي دواړه سنده اهل الجرح والتعديل ضعيف ګڼلي دي؟

ځواب: ابن الهمام رحمه الله د هدايې په شرح کې وايي چې دا حديث حجت دی او استدلال په صحيح دی لکثرة طرقه، او نورو امامانو ژموږ د احنافو رحمهم الله د مذهب سره موافق قول په کړی دی. يعني امام مالک والشافعي واحمد رحمهم الله او په بل حديث کې راغلي دي چې احمد. ابو داؤد، ترمذي، نسائي، ابن ماجه او حاکم رحمهم الله له حديث څخه د سويد بن قيس رضي الله عنه قال رسول الله ﷺ زن وارجح فانا معشر الانبيآ هکذا نزن.

وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَآءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ۝

او تاسي کم مه ورکوئ شيان ددوی که مکيل وي او که موزون او که عدد وي، نو دا تعميم بعد التخصيص دی فافهم. او تاسي عثی مه کوئ په محکه کې. والعثی تنقيص الحقوق وغيره من انواع الفساد فيشمل التطفيف في الکيل والوزن والعدد والسرقة والنهب وغيرها من انواع الفساد.

پوښتنه: د مفسدين د قيد څه فائده ده او عثی خامخا فساد دی؟

ځواب: مفسدين حال مؤکده دی د عامل څپل لاندې عثی په معنی د افسد دی.

دروښ وايي: چې ددې سوال يو دقيق ځواب سته چې بعض مفسرينو راوړی دی هغه دا چې عثی مطلق افساد دی که صلاح پکښې وي او که نه. نو فعل د خضر عليه السلام چې يوه کښتی يې عيبي کړه چې د اوبو له خوا يې يوه تختی ځني وکښل او هلک چې نابالغه ؤ مړ يې کړی هم شامل ده. او له مفسدين څخه مراد هغه افساد دی چې هيڅ صلاح يې مقضي نه وي، نو فعل د خضر عليه السلام خارج سو کما في فعليه من الصلاح المذکور في قصة مرافقة موسى مع الخضر عليهما السلام المذکورة في القرآن الکريم في مقامه فتأمل غاية التأمل، حتى تفهم هذا الجواب الدقيق ومن الله التوفيق.

بَقِيَّتُ اللّٰهِ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ۚ

ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې د آيت معنا داده چې هغه باقي مانده مال چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تاسي کيل او وزن پوره ورکړی بهتر دی تر تطفيف په کيل او وزن، ولي هغه باقي مانده مال چې تاسي ته پاته سي تر پوره کولو د کيل او وزن حلال محض دی، او چې تطفيف وکړي هغه حرام دی ولا يستوي الحلال البحت مع الممزوج بالحرام، که تاسي ياست ايمان والا.

پوه سه: چې جزاً د "ان" محذوفه ده يعني فافعلوا ماتؤمرون به من الله وهو ايفا الكيل والوزن وانتهوا عما نهاكم الله عنه من التطفيف والبخس. په شرح السّرعة کې وايي چې مسلمان بايد په حيلو او تلبيس او تطفيف سره مال جمع نه کړي فانه يذهب برکته بلکې شايد چې دغه مال چې ته يې حبةً حبةً سره جمع کوې جمعاً جمعاً به يې خدای پاک درڅخه واخلي او گناه به يې پر تا ذره ذره پاته سي.

حکايت: يو سړی وُ چې د ځپلي غوا شيدې به يې خرڅولې او نيمی به يې اوبه وراچولې، يو وخت تهز باران وسو سهل راغلی د هغه غوا يې ورمړه کړه، نو د هغه سړي يوې کوچنۍ لور وځپل پلار ته داسي يوه د وعظه ډکه خبره وکړه "يا ابت قد جمعت المياه التي تجعلها في اللبن وقتلت البقرة.

وَمَآ اَنَا عَلَيْكُمْ بِحَفِيْظٍ ۝

زه نه يم ساتونکی ستاسي له بدو کارو ځخه، او يا معنا داده چې زه نه يم ساتونکی ستاسي د عملو چې ثواب يا عذاب يې درکړم وانما انا ناصح مبلغ اليكم بالامر والنهي، شيرازي قدس سره وايي:

من آنچه شرط بلاغست باتو ميگويم ..... تو خواه ازسخنم پند وخواه ملال

قَالُوْا يٰشُعَيْبُ اَصَلٰوتُكَ تَاْمُرُكَ اَنْ نَّتْرُكَ مَا يَعْبُدُ اٰبَآؤُنَآ

ابن عباس رضي الله عنه وايي چې شعيب عليه السلام ډېر لمونځونه کول، نو ځکه قوم يې ورته وويل اې شعيب آيا ستا ډېر لمونځونه تا امر کوي چې موږ به پرېږدو يعني عبادت د هغو شيانو چې بتان دي چې د هغو عبادت زموږ پلرو او نيکه ګانو کاوه.

پوښتنه: دوی څرنګه نسبت د امر وه لمونځو ته د شعيب عليه السلام وکړی او سره دې چې هر عاقل په دې پوهېږي چې لمونځونه خو آمر نه سي کېدای بلکې آمر خو شعيب عليه السلام وُ؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: هو! لکن دا خبره دوی استهزاءً ورته وکړه یعنې نور خو ته نه نبي یې او نه د خدای مرسل یې او په تاکې بېله وېره لمونځ بل خوی نسته. نو دا خبره ددوی هم استهزاً بالشعیب علیه السلام ده او هم استهزاً دده په لمونځ ده.

پوه سه: چې انبیاً علیهم السلام دوه قسمه خدای پاک را استولي دي. بعضو ته امر د جهاد خدای پاک ورکړی دی لکه داؤد، سلیمان او موسی علیهم السلام او هم علیه الصلوة والسلام بعد الهجرة مأمور بالجهاد ؤ. او بعض امر د جهاد نه لري صرف او صرف خلګ وه توحید ته په موعظت سره رابولي. شعیب علیه السلام د قسم ثاني څخه ؤ.

أَوْ أَن نَّفْعَلَ فِي أَمْوَالِنَا مَا نَشَاءُ ۖ إِنَّكَ لَأَنتَ الْحَلِيمُ الرَّشِيدُ ﴿٨٧﴾

عطف دی پر موصول یعني کلمه ما، والتقدیر او نترک ان نفعل آه یعني چې موږ په خپلو مالو کې کوو هغه څه چې زموږ خوښ وي من التطفیف.

پوه سه: چې دا خبره دوی په مقابل کې د هغه امر د شعیب علیه السلام وکړه ولاتبخسوا الناس اشیاءهم.

پوه سه: چې "حلیم" (یعني بردبباره) او رشید (پر هدایت) دوه وصفه جلیل دي کما لایخفی، نو دوی یعني کافرانو ده ته دا دوه وصفه څه رنګه ثابت کړه. ابن عباس رضي الله عنهما چې مراد له "حلیم" څخه سفیه (بېعقل) او له رشید څخه غوي (یعني ګمراه) مراد دی، ولي چې عرب شی په ضد سره موصوفوي لکه سړی چې لږم وهلی وي سلیم یې بولي، نو په دې دوو صفتو استعاره تهکمیه ده. فالمراد ضد معناهما تهکماً واستهزاءً والی هذا ذهب قتاده والمبرد. او روح البیان وایي چې حلیم رشید په لغت کې د اهل مدین الاحمق السفیه ته وایي کما في ربیع الابرار.

دروښ وایي: چې که دا ثابته سي نو استعاره او مجاز نسته. او د روح المعاني او مظهري دا احتمال هم راوړی دی چې ته حلیم رشید یې ستا په زعم، او بعض مفسرین رحمهم الله وایي چې مراد ددوی دا ؤ چې ته خو حلیم رشید وې زموږ په زعم، نو تا ولي داسي غلطه لار اختیار کړه وهو المنع عن الشرک الذي هو مذهب ابائنا واجدادنا. لکه قوم د صالح علیه السلام چې ده ته وویل قد کنت فینا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مرجوا، روح المعاني وايي چي اول مذهب يعني د ابن عباس رضي الله عنهما ترجيح وركړه سوې ده بانه انسب بما قيله لانه تهكم ايضاً.

قَالَ يٰقَوْمِ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كُنْتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ وَرَزَقَنِيْ مِنْهُ رِزْقًا حَسَنًا ؕ

شعيب (عليه السلام) ورته وويل اې قومه زما تاسي خبر راكړئ كه چېرې زه وم پر بصيرت او بيان واضح له جانبه څخه د خداى جل جلاله بالوحي والنبوة او ماته رزق راكړه سوى ؤ له جانبه څخه د خداى جل جلاله يعني بې تكليفه زما لخوا په تحصيل كې د رزق "رزقاً حسناً" يعني حلالاً.

پوه سه: چې "منه" حال دى له "رزقاً" څخه اى كائناً منه لكن حال چې مقدم سوى دى لكون ذى الحال نكرة كما هو القانون النحوي چې ذو الحال چې نكره وي تقديم د حال پر واجب دى لانه لو اخر يشتبه بالصفة.

پوه سه: چې راويان وايي چې شعيب عليه السلام كثير المال ؤ من النقود والمواشي

فائده: جواب ده يعني "ان كنت" محذوف ذى، تقديره فهل يجوز لي ان اخون في وحيه واخالفه في امره ولهيه دا عذر د شعيب عليه السلام له خوا څخه ددې لپاره چې قوم وده ته ويل چې دين د قوم تاتر پښو لاندې كړى.

وَمَآ اُرِيْدُ اَنْ اُخَالِفَكُمْ اِلٰى مَآ اَنْهٰىكُمْ عَنْهُ ؕ

او زه اراده نه لرم چې زه دې وكړم هغه كار چې تاسي څخې منع كوم، دده مراد دادى كه ما انهاكم عنه حق وايي او د ثواب كار واى مابه كولاى لكن زه شرك نه كوم او نه بخس تطفيف په بيع كې د مكيل اود وزن كوم او تاسي هم څخې منع كوم، نو په دې پوه سئ چې هغه شى چې زما پر ځان پېرزو دي پر تاسي مې عيناً هغه شى پېرزو دى، پښتانه وايي:

بنده راسه د خداى خپل سه ..... لكه پر ځان داسي پر بل سه

وهذا بعينه مضمون الحديث النبوي الصحيح.

اِنْ اُرِيْدُ اِلَّا الْاِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ ؕ

زما نه ده اراده په منع كې ستاسي له شرك څخه او د بخس او تطفيف څخه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مگر اصلاح ستاسي يعني خلاصون ستاسي له عقائد فاسده وو څخه او له افعال قبيحه وو څخه او ښه له فساد خلاص ژوند ستاسي او له تاريکی څخه د شرک ونور ته د ايمان رابلل ستاسي، په "ما استطعت" کي که کلمه د ما مصدريه سي. نو معنی د آيت داده چي په اندازه د استطاعت خپل او که ما موصوله سي، نو بدل دی له اصلاح څخه. والمعنى ان اريد الا الذي استطعته بحذف العائد الى الموصول.

وَمَا تَوْفِيقِيٓ إِلَّا بِاللَّهِ ۚ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ ﴿٨٨﴾

التوفيق في الشرع موافقة الاسباب للمطلوب الخير يعني ماته نه ده اسانه اصابت و حق ته او اصلاح ستاسي، مگر نه په خدای ﷻ سره ای بهدايته ونصره ومعونته وتهيئ اسباب ذالک الذي اردت، پر هغه خدای ﷻ زما تکيه ده. او خاص وخدای ﷻ ته زما رجوع ده په حوادثو کي د دنيا او په نوائبو کي د آخرت.

پوه سه: چي تقديم د جار او مجرور لپاره د حصر دی. يعني خاص الخاص زما پر خدای ﷻ اعتماد او تکيه ده لان الله يحب المتوكلين.

فوائد: ددې آيت پوه فائده داده چي کفار دي طمع نه زما ورجوع ته ددوی ودين ته کوي لکه چي کفارو به ده ته دعوت د رجوع ورکاوه وه دين ته د آباؤ يعني الشرک، او بله فائده يې داده چي زما ستاسي په تهديداتو او پېښوو باک نه کېږي، او بله فائده يې تهديد دی ودوی ته چي ستاسي رجوع وخدای ﷻ ته ده للجزا في الآخرة.

وَيَٰقَوْمِ لَا يَجْرِمَنَّكُمْ شِقَاقِيٓ أَن يُصِيبَكُم مِّثْلُ مَآ أَصَابَ قَوْمَ نُوحٍ

او اې قومه زما تاسي ته دي کسب يعني پيدا نه کړي زما بغض او عداوت يعني په سبب د دعوت زما تاسي ته وتوحيد ته، چي تاسي ته دي درورسېږي من العذاب، په مثل د هغه عذاب چي قوم ته د نوح ورسېدی من عذاب الاستيصال بالغرق،

أَوْ قَوْمَ هُودٍ أَوْ قَوْمَ صَٰلِحٍ ۚ وَمَا قَوْمُ لُوطٍ مِّنكُم بِبَعِيدٍ ﴿٨٩﴾

يا قوم ته د هود من عذاب الاستيصال بالريح يعني په باد سره، او يا قوم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صالح ته ورسپدی من العذاب بالصيحة (په نعره د جبرئيل) والرجفة (او په زلزلې د مځکې) او نه دی قوم د لوط چې عذاب شديد پر مسلط سو من قلب الارض والرمی بالحجارة له تاسي څخه لهرې په زمانه کې فانهم کانوا اقرب الاقوام المهلكة زماناً منكم، او يا معنا داده چې قوم لوط اقرب مكاناً وتاسي ته وه ولي تاسي او دوی سره همسايه واست، او بعيد چې يې مفرد راوړی او سره ددې چې دا قوم لوط څو ډېر نفر وه، نظراً الى افراد لفظ قوم وان كان جمعاً معنىً.

پوه سه: چې "ان يصيبكم" مفعول ثاني د "لايجرمنكم" ده

تنبيه: امام مظهري رحمه الله د دفع د سوال مذكور لپاره "شيئاً" مقدر کړی دی ولا حاجة الى التقدير لما قلنا ان لفظ القوم مفرد وان كان جمعاً معنىً ومثل ذالك يجوز فيه افراد الخبر وجمعه كما تقرر في كتب النحو.

وَاسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ إِنَّ رَبِّي رَحِيمٌ وَدُودٌ ﴿٩٠﴾

او تاسي طلب د بخښنې وکړئ له خدای ﷻ څخه خپل د هغه سابق کفر او عصيان خپل بالايمان والندامة على المعاصي الصادرة منكم، بيا رجوع وخدای ته وکړئ يعني بامتثال او امره والانتهاء عن المعاصي في المستقبل، په تحقيق زما خدای عظيم الرحمة دی للمؤمنين التائبين "ودود" پر وزن د فعول دی يا په معنى د فاعل دی يعني محب للمؤمنين يا په معنى د مفعول دی ای محبوب للمؤمنين.

دروښ وايي: چې كاشفي رحمه الله په تفسير حسيني کې وايي قطب الابرار مولنا يعقوب چرخي رحمه الله درشرح اسماء الحسنى معنى ودود برين وجه آورده است كه خدای متعال دوست دارنده نيكی بهمه كس وخلق ودوست دردلتهای خلق، يعني او نيک را دوست ميدارد ونيكان اورا دوست ميدارند الى اخيره.

پوه سه: چې خدای ﷻ لره محبت د بندګانو سره نه وای لما هدى عباده ولما فرح بتوبة عبده المؤمن ويدل على ذالك الحديث الصحيح الذي رواه اصحاب الصحاح قال رسول الله ﷺ هر آئينه خدای ﷻ ډېر خوشاله کېږي په توبه د عبد مؤمن تر هغه سړي چې دی واړوي په يو دښت مهلک کې يعني د يوه ګړي ارام لپاره په وخت کې د غايت ګرمي او دده سره راحله ورسره وي چې پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هغه راحله یعني اوښه باندې دده خواړه او اوبه وي (نو اوښه چوکه کړي زنګنونه یې نه وتړي) نو دی سر کښې ږدي بیده سي، یو ګړی وروسته چې راویښ سي اوښه تللې وي یعني په طلب د مرعي پسي، نو دی یوې خوا او بلې خوا ته ځغلي په طلب د اوښي حتی چې ګرمي او تنده یې ډېره سي یعني اوښه هم نه کړي پیدا، نو دی د ځانه سره دا مشوره وکړي چې تر هغې درختي لاندې چې زه دمخه هورې بیده وم پرې به وزم تر هغو چې له تندي مرم، نو هلته چې ورسي او سر کښې ږدي په دریاب کې د خوب غرق سي چې دی راویښ سي، نو راحله سره له باره د طعام او شراب ورته ولاړه وي فلا الله افرح اشد فرحاً بتوبة العبد المؤمن تر دغه سړي چې زاد او راحله پیدا کړي الی اخیر الحدیث او کما قال ﷺ.

قَالُوْا يٰشُعَيْبُ مَا نَفْقَهُ كَثِيْرًا مِّمَّا تَقُوْلُ

جمله مستأنفه ده، وویل قوم د شعیب ﷺ وده ته ای شعیب موږ نه پوهېږو په ډېرو ستا د خبرو.

پوه سه: چې دا قول ددوی یا استهانت او سپکاوی ؤ د خبرو دده لکه په عرف کې هم ورته وینا سته، یو سړی وبل ته وایي د سپکاوي په توګه زه ستا په خبرو نه پوهېږم، او که استهانت نه وای، نو شعیب ﷺ خو ددوی سره ددوی په لغت خبرې کولې.

فائده: مراد ددوی له کثیر قول څخه وعظ د وجوب التوحید لله تعالی وترک الشرک والدلیل علی ذالک من جانب شعیب ﷺ وترک النجس والدلیل علی ذالک او یا واقعاً په دغو خبرو د شعیب ﷺ دوی د زړه له کومې نه پوهېدل لقصور عقولهم وعدم تفکرهم فیه.

دروښ وایي: چې روح البیان ددې آیت په تفسیر کې ویلي دي ای کل ماتقول آه، لکن سید آلوسي رحمه الله په تفسیر روح المعاني کې وایي ولا یصح ان یراد به الکل وان ورد في اللغة، ولي چې مما تقول یابی عنه انتهی، لان من في مما للتبعیض، او بعض مفسرینو چې ویلي دي چې شعیب ﷺ په ژبه کې بند بدی فلیس بشئ لما جاء في الخبر ان شیعباً کان خطیب الانبیاء.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِنَّا لَنَرٰىكَ فِيْنَا ضَعِيْفًا

او مونږ وينو تا اې شعيب په مونږ کې ضعيف، يعني که مونږ تاته اراده د شر وکړو نه زمونږ څخه ځان نه سې ساتلای او يا سپک يې پر مونږ باندې چې هيڅ قدر نه لرې، بغوي رحمه الله وايي چې شعيب عليه السلام په سترګو رونديږ، نو مراد له ضعف څخه ددوی ضعف البصر دی.

مسئله: معتزله وايي چې نبي نه سي اعمی (رونديږ) کېدلای قياس پر قضاً کوي چې قاضي به رونديږ نه وي، او داغه رنګه يې پر شاهد قياسوي چې شاهد به هم رونديږ نه وي، لکن دا قول ددوی غلط دی، ولي چې قضاً او شهادت په سترګو پورې اړه لري بخلاف النبوة لان تبليغ الرسالة لايتعلق ولايتوقف على البصر كما لايخفى وذهاب بصر يعقوب عليه السلام ثبت بنص القرآن، كريمه: وابيضت عيناه فهو كظيم، كريمه: فارتد بصيراً".

فائده: سيد محمود الآلوسي رحمه الله په روح المعاني کې وايي چې تفسير د ضعيف په رانده سره ضعيف دی، ولي چې د فينا قيد نه صحيح کېږي، ولي سړی چې رونديږ وي نو خو هر چېرې رونديږ وي، او د يعقوب عليه السلام رونديږالی خو عارضي وي يعني د ډېرې ژړا پر فراق د يوسف عليه السلام امام همام فخر الدين الرازي په تفسير کبير کې وايي چې بعض اصحابو زمونږ يعني اهل السنة والجماعة رونديږالی پر انبياً روا بللی دی، لکن د شعيب عليه السلام په باره کې دا حمل صحيح نه دی لمامر ان التقيد بالظرف يعني فينا نه صحيح کېږي دی وايي ان المصحح عند اهل السنة ان الانبياً عليهم السلام ليس فيهم اعمى بالعمى الاصلي اصلاً، روح المعاني وايي والاخبار المروية في باب كون شعيب اعمى لم نقف تصحيها ممن يعول عليه سوى الحاكم لكن تصحيح د حاكم لا اعتماد عليها انتهى.

دروښ وايي: چې آلوسي رحمه الله نوري ډېرې اوږدې خبرې کړې دي، فائده: په تحقيق د آلوسي رحمه الله د بغوي رحمه الله خبره رد سوه په باره د شعيب عليه السلام چې په سترګو رونديږ وۀ، دروښ چې هغه مسئله راوړې له قول څخه د بغوي رحمه الله ماخوذ وه والله اعلم حاصل دا چې قول د صاحب د روح المعاني او امام رازي رحمه الله پر ذروة د تحقيق دی او اليق بالقبول دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَوْلَا رَهْطُكَ لَرَجَمْنٰكَ وَمَآ اَنْتَ عَلَيْنَا بِعَزِيْزٍ ﴿۹۱﴾

کـه سـتا قـوم نـه وای مـوږ بـه تـه وژلـی وای پـه ډبرو ویشـتلو سره، بعض مفسرین وایي چې مراد حقیقت رجم بالحجارة دی چې معنی یې سنګسار ده. او بعض مفسرین وایي چې رمی بالحجارة کنایه له سخت وژلو څخه ده وان لم یکن هناک رمی بالحجارة. ووجه هذه الکنایة چې قابیل بن آدم چې خپل ورور په ډبرو مړ کړی، نو له دې سببه هر قتل شدید ته رمی بالحجارة وایي، او ته نه یې پر موږ عزتمند چې ستا عزت به تا له موږ څخه خلاص کړي بلکې ستا رهط پر موږ عزت لري ولې زموږ پر دین دي

پوه سه: چې بغوي رحمه الله وایي چې شعیب علیه السلام د هر قوي قوم درلودی، مطلب دادی چې که موږ ستا له قوم څخه نه بېرېدلای موږ به ته وژلی وای آه.

دروښ وایي: چې دا خبره له بېرې صحیح نه ده. ولې چې رهط له درو کسانو څخه تر لسو پورې بعض وایي له درې څخه تر اوو پورې، نو مخالفین او منکران د شعیب علیه السلام چې تعداد یې وزرو کسانو ته رسېدی څرنګه له لسو یا له اووه کسانو څخه بېرېدل بلکې صحیح هغه ده چې روح البیان او بیضاوي وایي چې معنا د آیت داده چې که نه وای احترام او عزت او مراعات ستا د قوم چې زموږ سره پر کفر متفق دي لرجمناک آه، یعني که تا موږ مړ کړو نو باید د هغو خواه بده نه سي.

دروښ وایي: چې روح البیان او مظهري وایي چې دا تهدید د قوم او پېښ رو د قوم د شعیب ولو رهطک آه د مغلوب سړي او د بېعقل سړي کار دی چې په دلائلو کې مغلوب سي لکه قوم شعیب باره په ښکنځلو او پېښ رو شروع کړی،

قَالَ يٰقَوْمِ اَرَهْطِيْٓ اَعَزُّ عَلَيْكُمْ مِّنَ اللّٰهِ ۭ وَاتَّخَذْتُمُوْهُ وَرَاۗءَكُمْ ظِهْرِيًّا ۭ

شعیب په استفهام د تعجب قوم ته وویل آیا زما قوم پر تاسي عزت د هر لرې تر خدای ﷻ یعني زه د خدای رسول یم د هغه خدای مراعات نه کوئ په منع کې د قتل زما بلکې مراعات د قوم کوئ، او تاسي ګرځولی دی خدای پاک د شا وخوا ته منسوب الی الظهر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې "ظهري" منسوب دی الی الظهر چې په معنا د شا دی که څه هم لفظ ظهر مفتوح دی لکن کسره ورکول له تغیرات څخه د نسبت دی.

دروښ وایي: چې لفظ د ظهري په کلام د عربو کنایه د بې پروایي ده په یو شي یقال فلان جعل امري ظهریاً فلاني وګرځاوه زما امر تر شا غورځولی یعني التفات یې نه ورته وکړی وایضاً یقال السلطان جعل الرعیة وراه ظهریاً پاچا وګرځول رعیت تر شا یعني پروا نه په کوي که څه هم بدحاله وي، ویقال ایضاً ان اولادي جعلني ظهریا، زما اولاد زه تر شا وغورځولم یعني بې باکي راسره کوي احترام د پلار ګلوی مي نه کوي. فالمعنی ه تر کتم قتلی لاجل رهطي او په دې مو باک ونه کړی چې زه خو رسول د خدای یم، نو ګویا تاسي خدای وګرځاوه منبوذ وراً الظهر منسیاً باشراککم به واهانة رسوله، وهذا الصنیع لاینبغي لمن له ادنی فهم وعقل، والاستفهام في قوله قال ارهطي اعز الآیة لپاره د توبیخ او د انکار او د رد او تکذیب والکل محتمل.

إِنَّ رَبِّي بِمَا تَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ﴿٩٢﴾

په تحقیق زما خدای ﷻ ستاسي پر عملو باندې محیط دی علماً او پر جزا دهغو محیط دی قدرة.

وَيَا قَوْمِ اعْمَلُوا عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ إِنِّي عَامِلٌ ۖ سَوْفَ تَعْلَمُونَ مَنْ يَأْتِيهِ عَذَابٌ يُخْزِيهِ

او وویل شعیب (علیه السلام) وقوم ته چې تاسي عمل کوئ پر خپل قدرت چې عداوت زما دی او قصد د اضرار زما دی، زه عامل یم پر خپل قدرت چې وعظ او تبلیغ د توحید د عبادت د خدای ﷻ دی، ژر دی چې تاسي به وپوهېږئ چې چا ته عذاب چې رسوا یې کړي یعني زه به هم که تاسي چې په هغه عذاب به شرمنده او رسوا ئ او دا به هم معلومه سي چې درواغجن په ما او تاسي کې څوک دی.

فائده: که کلمه "من" استفهامیه وي، نو هغه د تعلمون د عمل مانع ده لان ماقبل الاستفهام لایعمل فیما بعده لفوات صدارة الاستفهام. او دا هم احتمال لري چې کلمه د من موصوله وي نو د تعلمون مفعول دی. فالمعنی سوف تعلمون الشقي الذي یأتیه العذاب الموجب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَنْ هُوَ كَاذِبٌ

او څوک دی دروغجن.

پوه سه: چې دا عبارت "ومن هو كاذب" معطوف دی پر من یأتیه او د هغه قسیم او مقابل نه دی، ولي چې قوم ځو شعیب ته پېش رو د عذاب واهه او دی یې کاذب باله، نو ده ورته وویل چې سوف تعلمون من المعذب والكاذب انا او انتم.

وَارْتَقِبُوا إِنِّي مَعَكُمْ رَقِيبٌ ﴿٩٣﴾

او تاسي انتظار وکړئ زما وعید ته چې ما ستاسي سره کاوه او زه ستاسي سره په انتظار د راتلو د عذاب پر تاسي باندي.

وَلَمَّا جَاءَ أَمْرُنَا نَجَّيْنَا شُعَيْبًا وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ بِرَحْمَةٍ مِنَّا

چې راغلی امر زموږ چې موږ مقدر کړی د هلاک د قوم شعیب لپاره فالامر واحد الامور لا الاوامر، موږ نجات ورکړی وشعیب ته او هغه کسانو ته چې ایمان یې راوړی وۀ د شعیب سره "برحمة منا" ای برحمة كائنة في الازل په حق کې ددوی.

پوه سه: چې د رحمةٍ معنا داده چې دا نجات ددوی صرف رحمت او فضل وۀ زموږ لا بسبب من اعمالهم كما هو مذهب اهل السنة والجماعة.

دروېش وایي: چې مظهري رحمه الله ویلي دي چې په عذاب د قوم شعیب ولما جاأ بالواو ووایه لکه په قصه کې د عاد، ولي دمخه په دې دوو قصو کې داسي وعید نه دی ذکر سوی چې سبب د مابعد دي وګرځي او دخول د فاأ دې ځای سي بخلاف قصتي صالح ولوط چې هوري نجات وروسته تر وعید ذکر سوی دی وهو قوله تعالى في قصة صالح ذالك وعد غير مكذوب في قصة لوط ان موعدهم الصبح ولذالك جاأ بفاأ السببية انتهى، روح المعاني دا خبره رد کړې ده او وایي چې په قصه کې د شعیب علیه السلام ځو هم وعید راغلی دی وهو قوله تعالى فارتقبوا الى معكم رقيب که څه هم په لفظ د وعد نه ده راغلې انتهى.

وَأَخَذَتِ الَّذِينَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ فَأَصْبَحُوا فِي دِيَارِهِمْ جَاثِمِينَ ﴿٩٤﴾

او وه یې نیول هغه کسان چې ظالمان وه یعنې قوم شعیب نارې د جبرئیل،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فخرجت ارواحهم، او بعض مفسرين رحمهم الله وايي چي د اسمان له خوا چغه وسوه او دوی يې هلاک کړه. نو دوی وګرځېدل په خپلو کورو کې مړه ځای پر ځای.

كَأَن لَّمْ يَغْنَوْا فِيهَا ۗ أَلَا بُعْدًا لِّمَدْيَنَ

ګويا دوی هيڅ وخت اقامت نه وو کړی په دغو کورو کې، آګاه اوسه چې هلاک او لعنت دی اهل مدين لره بحذف المضاف وهو لفظ الاهل.

پوښتنه: چې په سورة الاعراف کې راغلي دي د قوم شعيب د عذاب په باره کې فأخذتهم الرجفة، ای الزلزلة فکيف الجمع؟

ځواب: تر صيحة جبرئيل وروسته محکه په زلزله سوه.

فائده: بعداً وسحقاً ولعنةً وخيبةً وامثالها مصادر دي چې په ځای کې د افعالو قائم دی، او افعال يې ددوی سره نه مستعملېږي. فمعنى د بعداً بعدوا ای هلکوا ولعنوا بعداً، وقس عليه المصادر الباقية المذکورة.

كَمَا بَعِدَتْ ثَمُودُ ﴿٩٥﴾

لکه چې لېرې وه له رحمت څخه د خدای ﷻ او يا کما هلکت او کما لعنت قبيلة د ثمود. نو تانيث د فعل مسند په تأويل د قبيلې دی. وجه الشبه بينها ان عذاب هذين القومين من نوع واحد وهو صيحة جبرئيل عليه السلام، لکن صيحة د ثمود له کنبتي خوا څخه وه او صيحه د مدين له لوړي خوا څخه وه.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِآيَاتِنَا وَسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ﴿٩٦﴾

ای بالله لقد ارسلنا، نو لام موطئه د قسم محذوف دی، مور استولی موسی سره د معجزاتو باهره ؤ لکه عصا او يد بيضا وغيرهما من الآيات التسع، او په غلبه ظاهره سره چې موسی سره ددې چې يو سړی ؤ غالب سو پر فرعون وجنوده مع ان فرعون کان حريصاً على قتله فلم يقدر او بعض مفسران وايي چې مراد له سلطان مبين څخه لکړه د موسی عليه السلام ده.

سوال: لکړه خو په آياتنا کې داخل وه نو بيا يې جلا ولې راوړه؟

ځواب: هو! داخله خو وه لکن افراد يې په سبب د تنبيه پر عظمت د معجزې د لکړې پر نورو معجزو، او روح البيان وايي چې مراد له آياتنا او د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سلطان مبين څخه يو شى دى يعني معجزات د موسى، والتقدير لقد ارسلنا موسى بالامر الجامع بين كونه آياتنا وبين كونه سلطاناً وحجةً على صدق نبوته.

فائده: له آياتو څخه مراد آيات د تورات نه دي. ولي نزول د تورات خو وروسته تر غرق د فرعون وسو.

فائده: "مبين" مشتق د ابان څخه دى چې لازمي او متعدي دواړه مستعملېږي فعلى الاول معناه الواضح وعلى الثاني معناه الموضح، والمآل واحد فعلى الاول معناه واضح في دلالته على نبوته وعلى الثاني معناه الموضح لنبوته.

إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَإِيْهِ فَاتَّبَعُوٓا أَمْرَ فِرْعَوْنَ ۚ وَمَآ أَمْرُ فِرْعَوْنَ بِرَشِيدٍ ﴿٩٧﴾

وه فرعون ته چې لقب ؤ د سلطان د عمالقه ؤ او نوم يې وليد بن مصعب بن الريان ؤ او وه اشرافو ته دده، نو دوى متابعت وكړى د امر د فرعون في الكفر والضلال وصدقوا معبوديته ودعوى الوهية. او نه دى امر د فرعون ذى رشد وهدايت بل غي وضلال مقصود په دې عبارت كي تنبيه پر حماقت د اشرافو چې دوى څرنگه متابعت كاوه د امر فرعون مع كونه بدهي البطلان حيث ادعى الالوهية مع كونه بشر مثلهم، يطعم ويشرب وينام ويبول.

يَقْدُمُ قَوْمَهُۥ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ فَأَوْرَدَهُمُ ٱلنَّارَ ۖ

دمخه به وي فرعون تر قوم، دا جمله مستأنفه ده لپاره د بيان د حال د فرعون او قوم دده په اخرت كي.

پوه سه! چې يقدم قومه په معنى د يتقدم دى، په ورځ د قيامت وه اور ته لكه چې په دې دنيا دي يتقدمهم الى الكفر والضلال، فرعون به وروڼي قوم اور ته د دوزخ.

سوال: وروستل د فرعون قوم لره اور ته څو مستقبل دى يعني په ورځ د قيامت نو په ماضي يې ولي تعبير وكړى؟

ځواب: نعم لكن تعبير بالماضي للدلالة على يتقن ذالك الايراد لان الماضي يدل على الامر المتحقق.

فائده: ورود په عربي ژبه كي عبارت له ورتگه څخه وه اوبو ته او ايراد چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

باب د افعال دی د بل چا وروستل دي اوبو ته او مورد اوبو ته وايي. نو فرعون يې مشابه کړی د هغه چا سره چې تر واردة دمخه ابو ته ځان ورسوي چې په عربي يې فارط بولي او اتباع دده يې مشابه کړه د واردة سره او اور يې مشابه کړی د اوبو سره ثم قيل.

وَبِئْسَ الْوِرْدُ الْمَوْرُودُ ﴿٩٩﴾

بد دی اور ددوی چې دوی ورته وارد کړل سولو، فالمورد صفت دی ورد، والمخصوص بالذم وهو النار، ولي چې ورد چې په اصل کې ورود الی الماء دی د هغه فائده تسکين د عطش ده، او دفع د احراق الکبد ده من العطش، والنار ضد ذالک فيکون بئس الورود المورود.

وَأُتْبِعُوا فِي هَٰذِهِ لَعْنَةً وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ ۗ بِئْسَ الرِّفْدُ الْمَرْفُودُ ﴿٩٩﴾

او په دوی يعني په فرعون او په اتباعو دده پسې کړه سوی دی په دې دنيا کې لعنت علی لسان الانبياء والملائکة والمؤمنين. او په ورځ د قيامت هم پر دوی لعنت دی.

پوه سه: چې "رفد" کومک او عطيه ته وای او مرفود يې صفت دی او مخصوص بالذم يې محذوف دی وهو اللعنة. والمعنی بد دی کومک او عطيه چې دوی ته ورکړل کېږي چې هغه لعنت دی په دنيا او اخرت کې.

سوال: لعنة في الدنيا والآخرة، نو کومک او عطيه نه ده نو څرنګه اطلاق د رفد المرفود پر صحيح دی؟

ځواب: هو! لکن په لفظ کې د رفد المرفود استعاره تهکميه ده کذا قال صاحب روح المعاني وصاحب التفسير الکبير.

دروښ وايي: چې صاحب د روح المعاني کما هو عادته په تفسير کې د الورد المورود والرفد المرفود ډېرې اوږدې خبرې کړې دي او نقض او ابرام يې راوړی دی چې حاصل د هغو خبرو ببله تشويش او اضطراب د زړو د مخاطبينو بل څه نه ده. فلهذا اعرضنا عنه، و اودنا التفسير اللائق بحال المتعلمين لتفسير الفقير غفرله المولی القدير... بيت:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تاطبع شریفت نه پذیرد ملالتی ..... آن به که نامه را بدعا مختصر کنم

ذٰلِكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْقُرٰى نَقُصُّهٗ عَلَيْكَ مِنْهَا قَآئِمٌ وَّحَصِيْدٌ ﴿۱۰۰﴾

"ذالک" مبتدأ ده او وروسته یې خبر دی یعني دغه بنأ او قصه چې موږ تاته بیان کړه، بعض د خبرو او قصو څخه د قرى مهلکه وو دي، بعض د هغو قریو پر ځای دي یعني آثار یې معلومېږي او بعض له هغو څخه معدوم الآثار دي چې درک یې نه معلومېږي.

پوه سه: چې "حصید" فعیل دی په معنی د محصود وهو في الاصل الزرع المحصود بالمناجل (یعني چې درېبل سي په لورو سره).

دروېش وایي: چې بعض مفسرین ترجمه د قائم په عامر سره کوي او ترجمه د حصید په خراب سره کوي والاول هو الاشهر والانسب کما لایخفی.

فائده: چې آثار یې معلومېږي لکه دپوالونه دیار د عاد او ثمود دي او چې اثار یې محو وي مثل بلاد نوح ولوط علیهما السلام.

وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ وَلٰكِنْ ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَمَآ اَغْنَتْ عَنْهُمْ

او موږ ظلم نه دی کړی پر دغو قرای وو والمراد اهلها یعني موږ دوی نه دي هلاک کړي ظلماً بل هلکناهم بکفرهم وشرکهم، بلکې دوی پر خپلو ځانو ظلم وکړی چې هغه کارونه یې مختاره کړه چې سبب د نزول د عذاب پر دوی وګرځېدی من الکفر والمعاصي کما مرت في قصصهم، نو فائده نه ورسول دوی ته او دفع د عذاب نه وکړه له دوی څخه.

اٰلِهَتُهُمُ الَّتِيْ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ لَّمَّا جَآءَ اَمْرُ رَبِّكَ ؕ وَمَا زَادُوْهُمْ غَيْرَ تَتْبِيْبٍ ﴿۱۰۱﴾

خدایانو ددوی چې دوی یې عبادت کاوه ماسوی له خدای هیڅ فائده، کلمه د "من" لپاره د استغراق د نفي د فائدې ده، هغه وخت چې راغلی عذاب د رب ستا او نه کړی زیات دې بتانو دوی ته ماسوی له هلاک څخه، ولي چې هلاک ددوی په سبب د عبادت ددوی ددغو بتانو منځ ته راغلی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَكَذٰلِكَ اَخْذُ رَبِّكَ اِذَآ اَخَذَ الْقُرٰى وَهِيَ ظَالِمَةٌ ۭ

کلمه د کاف په "وکذالک" کي په محل د رفع ده، خبر مقدم دی د مصدر مذکور وروسته ای اخذ ربک ای مثل ذالک الاخذ الذي مر في القصص المذکورة قبل هذا، نیول د رب ستاسي یعني عذاب د خدای ستا چي نسي قریې یعني اهل د قریو، چي قری ظالمان وي یعني اهل یې، دا جمله حال ده له قرای څخه.

پوښتنه: د اخذ نسبت یې ولي و قریو ته وکړی او سره ددې چي صفت د اهل وُ؟

ځواب: لپاره د اشعار پر دې چي اثر د اخذ الهي دوی لره وُ قریو ته هم وسو چي هغه هم خرابي سوې.

فائده: ددې حال فائده داده چي سامعان په دې پوه سي چي اخذ د خدای پاک په سبب د ظلم او کفر د اهل القری ده لیکون ذالک عبرة لکل ظالم.

اِنَّ اَخْذَهٗٓ اَلِيْمٌ شَدِيْدٌ ۝

په تحقیق نیول د خدای ﷻ یعني عذاب یې دردناکه او سخت دی

په حدیث شریف کي په روایت د ابو موسی الاشعري ﷺ راغلي دي چي رسول الله ﷺ وویل ان الله لیملي للظالم حتی اذا اخذه لم یفلته ثم قرء وکذالک اخذ ربک" په تحقیق خدای مهلت ورکوي ظالم ته، حتی چي ظالم ونسي یعني عذاب پر نازل کړي بیا نه پریږدي نه په توبه او نه په ژړا، بیا علیه الصلوة والسلام دا آیت په طور د دلیل ووایه وکذالک آه، سعدي شیرازي میګوید:

تو پیش از عقوبت دری عفو کوب ..... که سودی ندارد فغان زیر چوب
کسی کزصر صر ظلمش د ما دم ..... چراغ عیش مظلو ما ن بمیرد
نمیترسد که ا یز د تعا لی ..... اگر چه د یر گیرد سخت گیرد

تفریع: پر عاقل سړي لازمه ده چي ګناه یې وکړه د خدای ﷻ د غضب او عذاب څخه دي وه بېرېږي او بلا مهلت والتسویف دي توبه وکاږي "کریمه: هلک المسوفون.... بیت:

قبول توبه بر رب کریم است ..... فعجل ان في التاخیر آفات

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّمَنْ خَافَ عَذَابَ الْآخِرَةِ ۚ

"ان في ذالک" ای فیما انزل بالامم المهلکة. په سبب د کفر او عصیان ددوی او فیما قص الله من قصصهم "لآیة" یعني عبرت او موعظت دی هغه چا لره چې ببربږي له ورځي څخه د آخرت یعني ایمان یې پر ورځ د آخرت وي. ولي هغه سړی دا عذابونه ددې دنیا نمونه بولي د عذاب شدید د ورځي د قیامت. واما من انکر یوم القیامة فهو بمعزل عن العبرة کما لایخفی.

ذَٰلِكَ يَوْمٌ مَّجْمُوعٌ لَّهُ النَّاسُ وَذَٰلِكَ يَوْمٌ مَّشْهُودٌ ﴿١٠٣﴾

"ذالک" یعني ورځ د قیامت چې د عذاب الآخرة څخه وفهمبدله. هغه ورځ ده چې د هغې ورځي لپاره جمع کیږي خلګ یعني لپاره د حساب په دغه ورځ او د مجازات بعد البعث والنشور، او دا ورځ د قیامت هغه ورځ ده چې حاضرول کیږي په دې ورځ خلګ یوله لا یغیب فیه احد. فالمشهود بمعنی المشهود فیه.

وَمَا نُؤَخِّرُهُ إِلَّا لِأَجَلٍ مَّعْدُودٍ ﴿١٠٤﴾

او موږ نه ده څنډولې دغه ورځ مګر نه تر پایه رسېدو پورې د اجل معین په علم کې د خدای "فالکلام علی حذف المضاف ای لانتهاء اجل "حسین کاشفي رحمه الله وایي مګر از برای گذشتن مدتي شمرده. یعني تا وقت وی نه رسد قائم نګردد "حسب ما یقتضیه الحکمة الالٰهیة

يَوْمَ يَأْتِ

پوه سه: چې "یوم" دلته په په معنی حین ده یعني حین یاتي ذلک الیوم المؤخر بانقضاء الاجل المعدود "وهو یوم القیامة.

فائده: موږ چې تفسیر د یوم په حین سره وکړی، نو هغه سوال دفع سو چې ضمیر د یاتي خو ورځ د قیامت راجع دی، نو معنی د کلام داسي سوه چې هغه ورځ چې راسي ورځ د قیامت فیلزم ظرفیة الشئ لنفسه وان یکون للزمان زمان وجه د دفع یې دا ده چې یوم مذکور فی الایة په معنی د حین چې هغه شامل دی ورځي ته د قیامت وغیره من الاوقات، نو دا د قبیلې څخه د ظرفیت د کل دی جز

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لره ولا محذور في جزئية زمان لزمان آخر. الا ترى ان الساعة جزٔ من اليوم واليوم جزٔ من الاسبوع والاسبوع جزٔ من الشهر وهكذا.

فائده: په يات کي ياٴ د اضافت حذف کړي ده اکتفاً بکسرة التاٴ والاصل ياتي کما لا يخفى.

لَا تَكَلَّمُ نَفْسٌ

الاصل لا تتكلم فحذف احدى التائين كما هو القانون الصرفي خبري نسي کولای يعني د قسم څخه د شفاعت او يا نجات ورکونکو خبرو څخه لفرط دهشة ذالک اليوم، نفس هيڅ نفس.

پوه سه: چي نکرة په سياق کي د نفي عام ده.

إِلَّا بِإِذْنِهِۦ

مګر نه په اجازه د رب العزة "کما ورد في موضع آخر من القرآن" لا يتكلمون الا من اذن له الرحمٰن" وقوله تعالى من ذا الذي يشفع عنده الا باذنه.

دروښ وايي: چي چي اول د من ياذن له في الشفاعة هو سيد البشر ﷺ کما ثبت في الاحاديث الصحيحة المروية في البخاري وغيره ثم سائر الانبياٴ عليهم السلام ثم الشهداٴ ثم الاولياٴ ثم وثم.

پوه سه: چي د قيامت ورځ زر کاله ده په کلو د دنيا وفي هذا اليوم مواقف واحوال ففي بعض الاحوال يتكلمون ويتسائلون وفي بعض الاحوال لا يتكلمون من شدة الاهوال، سعيد شيرازي رحمه الله وايي:

گر بمحشر خطاب قهر بود ..... انبياٴ را چه جای معذرتست
پرده از لطف گوبر دارد ..... که اشقياٴ را امید مغفرت است

فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَسَعِيدٌ

پوه سه: چي ضمير د منهم راجع دی واهل الموقف ته کما يدل عليه لاتكلم نفس، او يا وناس ته راجع دی کما يدل عليه يوم مجموع له الناس. يعني بعض د اهل موقف يا بعض د ناس شقي وي يعني بد بخت او ګمراه چي کتب عليه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الشقاوة باختياره طريقهم اى طريق اهل الشقاً. او بعض نېک بختنه او مؤمن وي كتب له طريق السعادة باختيارهم ذالک في الحيوٰة الدنيا فلا دليل في هذه الآية للجبرية خذلهم الله تعالى فتأمل.

فائده: "شقي" مبتدأ ده او "منهم" خبر مقدم دى، وقدم الخبر لتنكير المبتدأ كما هو القانون النحوي. او "سعيد" هم مبتدأ ده خبر يې محذوف دى يعني منهم لدلالة قوله فمنهم عليه.

فائده: شقي يې دمخه راوړى لان المقام مقام الانذار وهو للاشقياً او لكثرة اهل الشقاوة في اكثر الازمنة. په تفسير روح البيان كي وايي چې علامه د شقاوت پينځه شيان دي (١) قساوة القلب: يعني د زړه سخت والى چې د وعظ په اوريدلو نه نرم كيږي (٢) جمود العين: وچ والى د سترګو چې له بيري د خداى له عذابه يو وخت يې هم سترګه وښكه نه كوي (٣) محبة الدنيا: د دنيا محبت چې سره د غنى او فقر كوي (٤) طول الأمل: چې د ژوند حرص يې ډېر وي (٥) قلة الحياً: حياً يې لږ وي يعني بې شرم وي، او د سعادت علامات هم پينځه دي (١) لين القلب: يعني ضد القسوة (٢) كثرة البكاً يعني ضد د جمود العين (٣) زهد في الدنيا يعني ضد محبة الدنيا (٤) وقصر الأمل يعني ضد طول الأمل (٥) كثرة الحياً يعني ضد قلة الحياً.

دروښ وايي: چې له علي بن ابي طالب رضي الله عنه څخه روايت دى، دى وايي چې موږ په يوه جنازه كي په جنة البقيع كي ؤ چې رسول الله ﷺ راغلى او په لاس كي يې لكړه وه، نو كښېنستى او په لكړه يې مځكه ګرولې، يو ساعت وروسته يې وويل "ما من نفس منفوسة الا كتب مكانها من الجنة او النار والا كتب شقي او سعيد" نو يو سړي ورته وويل "الا نتكل على كتابنا وندع العمل؟" آيا موږ توكل پر خپل مكتوب ازلي عند الله ونه كړو او عمل نه پرېږدو؟ عليه الصلوة والسلام ورته وويل "لا، اعملوا فكل ميسر اما اهل الشقا فيسروا العمل اهل الشقاوة، واما اهل السعادة فيسروا العمل اهل السعادة الى اخير الحديث" رواه البغوي بسنده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَأَمَّا الَّذِينَ شَقُوا فَفِي النَّارِ لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَشَهِيقٌ ﴿١٠٦﴾

پس هغه کسان چې پر شقاوت وي هغه په اور کې وي او دوی لره په اور کې زفیر او شهیق وي، ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې زفیر صوت شدید ته وايي او شهیق صوت ضعیف ته وايي، او ضحاک او قتاده رحمة الله علیهما وايي چې زفیر اول ته د نارې د خره وايي او شهیق اخیر ته د نارې د خره وايي کذا في القاموس.

دروېش وايي: چې ولا منافات بین الروایتین کما لا یخفی لان اول صوت الحمار شدید وآخره ضعیف، او روح المعاني وايي چې په اتفاق د اهل اللغة من الکوفیة والبصریة الزفیر بمنزلة ابتداً صوت الحمار والشهیق بمنزلة اخیر نهیقه.

دروېش وايي: چې په لفظ کې د "منزلة" په زفیر او شهیق کې اشاره ودې ته ده چې اطلاق د زفیر او شهیق پر صوت د اهل النار تشبیهاً او استعارةً دی، ویمکن حل کلام ابن عباس رضي الله عنهما او کلام د ضحاک او قتاده رحمهما الله په آیت کې پر قول د روح المعاني فتأمل جداً.

خَالِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ

دوی به همېشه وي په اور کې تر هغو چې دوام او بقا لري اسمانونه او مځکه.

پوه سه: چې آلوسي رحمه الله عليه وايي چې دا عبارت تعبیر د دوام او تابید څخه علی عادة العرب حیث یقولون لایأتیک فلان مادامت السموات والارض یریدون التابید، وایضاً یقول العرب لا افعل کذا ما لاح کوکب کنایة عن التابید وایضاً تقول لایکون کذا ما اضاً الفجر، وما اختلف اللیل وامثال ذالک وکل ذالک کنایة عن التابید، والسر في ذالک ان العرب یعني اهل الجاهلیة یزعمون ان السموات والارض باقیتان ابداً لزعمهم ان الدنیا باقیة ابداً لاباد وینکرون الآخرة وتبدیل السموات والارض وعدم بقائهما انما هو علی رأی اهل الشرع حیث ورد یوم نطوی السما کطي السجل للکتب، وایضاً ورد یوم تبدل الارض غیر الارض والسموات مطویات بیمینه، کریمه: اذا السماً انشقت الآیة" کریمه: اذا السماً فطرت واذا الکواکب انتشرب الآیة" کریمه: اذا الشمس کورت الآیة"

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الى غير ذالک من الآيات الدالة على عدم بقآ هذه السموات والارض.

دروښ وايي: چې پر تقدير د عدم الكناية عن التائيد يمكن ان يراد بها سموات الآخرة وارضها. ولاشک سموات الآخرة وارضها مخلدة دائمة لان اهل الآخرة لابدلهم من مظل ومقل اما سما يخلقها الله تعالى يومئذٍ فتظلهم وقد قالوا كل ما علاک فاظلک فهو سما كل استقرت عليه قدمک فهو ارض.

دروښ وايي: چې په دې آيت کې صاحب د روح المعاني ډېرې اوږدې خبرې کړې او نقض او ابرام يې هم راوړې دی ان شئت فارجع اليه.

إِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ

مګر نه هغه کسان چې د خدای ﷻ اراده ورته وسي د عدم الدوام في النار. مظهري رحمه الله وايي چې دا استثنا دلالت کوي پر عدم دوام د استقرارهم في النار ويؤيده ماروى عن ابن مسعود رضي الله عنه ليأتين على جهنم زمان ليس فيها احد وذالک بعد مايلبثون فيها احقاباً جمع د حقب ده چې اتيا يا سل کاله ته وايي. ومن الصوفية من قال به الشيخ محي الدين بن عربي. په وروسته کې مظهري وايي وهذا القول اى قول ابن العربي مردود بالاجماع والنصوص. طبراني او ابو نعيم له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چې عليه الصلوة والسلام وويل که اهل النار ته وويل سي چې تاسي په اور کې ياست په عدد د تولو سنګرېزو د دنيا دوی په ډېر خوشاله سي يعنې په سبب ددې چې تاييد خو نسته. او که اهل جنت ته وويل سي چې تاسي به په جنت کې ياست په حساب د تولو شګو د دنيا دوی به خوابدي سي، يعنې په سبب ددې چې جنت خو دار الخلود نه دی. په اخير کې عليه الصلوة والسلام وفرمايل لكن جعل لهم (اى لاهل النار واهل الجنة) الابد چې انتهآ نه لري. نو اهل النار ته به ډېر غم پيدا سي او اهل جنت ته به فرح على الفرح پيدا سي، او بخاري او مسلم له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت کړی دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل چې اهل جنت جنت ته داخل سي (يعنې تولې) او اهل النار اور ته داخل سي (يعنې الكفرة) نو يو اعلان کونکی په منځ کې د جنت او دوزخ ودرېږي او ووايي يا اهل النار

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لاموت ویا اهل الجنة لاموت کل خالد فیما هو فیه، واخرج البخاري عن ابي هريرة رضي الله عنه مثل ذالک وامثال تلک الاحادیث کثیرة وفي کتب الصحاح مذکورة وفي ایراد کلها طول.

پوښتنه: په حدیث کي د ابن مسعود او د ابو هریره رضي الله عنهما ټپره سوه "لیاتین علی جهنم زمان لیس فیها احد، وهذا الحدیث معارض لمامر من الاحادیث الدالة علی التائید؟

ځواب: بغوي رحمه الله وایي چې د ابن مسعود او ابو هریره رضي الله عنهما د حدیث معنی په نیز د اهل السنة والجماعة داده چې په طبقه د اهل الایمان من العصاة چې په دوزخ کي وه ځوک به پاته نه سي بلکې ټوله به نقل کړل سي وجنت ته بعد المجازات بالنار موقتاً في تلک الطبقة، واما مواضع وطبقات الکفرة فمملوة منهم علی التابید وهذا وجه التطبیق بین الآحادیث المتعارضة ظاهراً کمامرت عنقریب.

دروښ وایي: چې الا ماشاء ربک آه، حال دی له ضمیر څخه د خالدین فیها، او کلمه د "ما" که چېرې خاص وي په غیر ذوی العقول پوري کما هو المشهور لکن اطلاق یې مجازاً ګاهي پر ذوی العقول هم روا دی عند هؤلاء کما في قوله تعالی "فانکحوا ماطاب لکم من النساء" لکن صحیح داده کما في شرح عبدالرحمن الجامي علی الکافیة چې کلمه د "من" خاص ده په ذوی العقول سره او کلمه د ما عامه ده لذوی العقول وغیرهم، وعلی هذا فلا مجاز في هذه الآیة الی اطلاقها علی ذوی العقول.

بوه سه: چې په دې دوو استثناؤ کي چې یوه په حق کي د اشتقیاً وو ده او بل په باره کي د سعداً وو ده" مفسرانو رحمهم الله قسم قسم توجیهات کړي دي بعض مفسرانو په دواړو استثناؤو کي دوئنه بعیده توجیه مختاره کړې ده چې عقل سلیم ابا ځندي کوي او هیڅ مفسر نه دي ورته تللی" دغه مفسر په اوله استثنا کي وایي قلت او خپل مخالف قول لکل المفسرین یې بیان کړې ده او په دوهم استثنا کي وایي والمختار عندي بیا هغه مخالف الکل توجیه راوړې ده، والحق الصریح ما قال السید محمود اللالوسي رحمه الله في روح المعاني وصاحب روح البیان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والبيضاوي رحمه الله والامام القرطبي رحمه الله والرازي رحمه الله هغه توجيه دا دے چې مصداق ده دواړو استثناو بعض عصات د مؤمنانو دي چې محکوم بالنار وګرځي مور لفظ د بعض وويله له دې کبله چې ډېر عصات المؤمنين په رحمت عامه د خداى ﷻ بخښل کېږي او لوى عدد په شفاعت د اوره خلاصېږي" او هغه څوک چې محکوم بالنار سي هغه هم مصداق د شقى دي په اعتبار د عصيان او هم مصداق د سعيد باعتبار الايمان ويجوز اطلاق الضدين على شيئ واحد" باعتبارين كما تقرر في العلوم العقلية باسرها وههنا مقدمة مسلمة عن جميع اهل السنة والجماعة چې په ورځ د قيامت نه د فتيل ظلم سته نه د قطمير، نو مؤمن به ثواب د ايمان چې اصل الاصول دى خا ما خا ويني او دا مقدمه هم مجمع عليها چې داسې خداى ﷻ نه کوي چې مؤمن ته دي ثواب په جنت کې يو څه موده ورکړي او وروسته دي دوزخ ته د عصيان د جزا دپاره واستوي او بيا دي هلته على التابيد پرېږدي" دا تحقيق چې مور واورېدى" اوس مسلمان عاصي چې ونه بخښل سي او شفاعت يې هم ونسي، نو د اشقياؤ په ډله کې به واستول سي او هر څه جزا چې د ده دپاره لائقه وه عند الله الملک الجبار هغه موده په دوزخ کې تېره کړي بيا به د ثواب د ايمان دپاره جنت ته واستول سي على التابيد فيها، نو دا آيت فاما الذين شقوا ففي النار" عام دى كافرانو ته هم شامل او عصات المؤمنين المحكوم عليهم بالنار ته هم شامل دى، نو د الا ماشآ ربک" استثنا د عصات المؤمنين مراد ده چې هغه خالدين فى النار نه دي بلکه جنت ته به ځي كما مر انفاً.

سوال: د اما الذين شقوا څخه مراد څو اشقيا وه چې كه كافران وي او كه عصات المؤمنين وي، نو بايد گرده د دوزخ څخه ووزي؟

ځواب: الوسوي رحمه الله وايي وذالک كاف في صحة الاستثنا لان زوال الحكم عن الكل يكفيه زواله عن البعض لانه يصح ان يقال جائني القوم كلهم الا زيد وعمر لان نقيض الموجبة الكلية هى السالبة الجزئية" روح المعاني وايي چې هم دغه ډله اشقيا د مؤمنانو مراد دي په اشتثنا ثاني کې چې د سعدا څخه استثنا سوې ده كما سياتي ولي دا كسان مؤمنان د دخول څخه د جنت وځنډېدل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هغه څو ورځي د عذاب د دوی په دوزخ کي لان التابيد من مبدٔ معين ينتقض باعتبار الابتداٗ كما لهوٗلاٗ في دخول الجنة كما ينتقض باعتبار الانتهاٗ كمكث هولاٗ في النار، مثال يې دا دی يو سړی ووايې چې ما د پنجشنبې ورځ په باغ کي تېره کړه الا ثلاث ساعات، نو دا کلام صحيح دی کي په ابتداٗ کي د ورځي د پنجشنبې دريې ساعته وروسته ورغلی وي باغ ته او که په انتهاٗ کي د پنجشنبې د ورځي (۳) ساعته را وتلی وي وفيما نحن فيه هوٗلاٗ وان اشقوا بعصيانهم فقد سعدوا بايمانهم.

پوښتنه: خدای پاک خو انسانان دوه قسمه گرځولي دي فمنهم شقي وسعيد" نو دا تقسيم خو بايد نه سي صحيح ولي چې شرط د تقسيم خو دادی چې صفت د هر قسمه به په قسيم کي د ده نه وي" وقد وجد صفت الشقي فی السعيد وصفة السعيد فی الشقي؟

ځواب: چې دا شرط هلته لازم دی چې تقسيم پر طريقه د انفصال حقيقي وي كما في قولهم العدد اما زوج واما فرد او يا پر وجه د مانعة الجمع وي كما في قولنا الحيوان اما انسان او فرس واما اذا كان التقسيم على طريقة مانع الخلو فيجوز الجمع في قولنا زيد اما انيكون فی البحر او لايغرق جمع يې روا ده چې په درياب کي دي وي او غرق دي نه وي په کښتی کي دي سپور وي او خلوه يې ناروا ده يعني په درياب کي دي نه وي او غرق دي وي ولي د مځکي پتهدو ته خسف وايې غرق نه ورته وايې والتقسيم في قوله تعالى فمنهم شقي وسيد على طريق منع الخلو يعني اهل موقف په ورځ د قيامت د دې دوو قسمو څخه خارج نه دي" و ذالک لا يمنع اجتماع الشقي والسعيد في شخص باعتبارين كالمؤمن العاصي بانواع المعاصي روح المعاني په آخر کي وايې وهذا ما ذكره الامام الرازي رحمه الله في تفسيره الكبير واختاره القاضي البيضاوي رحمه الله وروسته روح المعاني سوال او جواب را وړي دي.

پوښتنه: تا توجيه د استثنائينو په قول د روح المعاني تر اذهانو د متعلمانو ستا د تفسير د پره لوړه کړه حتى چې انفصال حقيقي او مانعة الجمع او مانعة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الخلو چي اصطلاحي الفاظ دي د منطق هم پکښي راوړه، نو ولي دا دوي استثناوي په ساده ډول عام الفهم توجيه نه بيانولې؟

ځواب: په ساده ډول بيان په تفاسيرو موجوده وو کي عند الفقير نه وو" نو زه مجبوره او معذور يم په بيان فوق کي.

إِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ ﴿١٠٧﴾

په تحقيق ستا رب ای محمد ﷺ دپر کونکی دی د شي چي ورته اراده يې سي،

وَأَمَّا الَّذِينَ سُعِدُوا فَفِي الْجَنَّةِ خَالِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ إِلَّا مَا شَاءَ رَبُّكَ عَطَاءً غَيْرَ مَجْذُوذٍ ﴿١٠٨﴾

او هر چي هغه کسان دي چي سعيد او نيک بخت ګنړل سوي وي هغه به په جنت کي وي تر هغو تر هغو اسمانونه او مځکه وي مګر نه هغه کسان چي اراده د رب ستا ورته وسي، ورکړه د خدای ده چي قطعه کړي.

دروښ وايي: چي د دې آيت تحقيق د تفسير هغه وو چي د مخه تېر سو لفظاً لفظاً تضعيفاً وتحقيقاً.

پوه سه: چي "عطاً" مفعول مطلق دی د فعل محذوف ای اعطو اعطاً من قبيل قوله تعالى "انبته الله نباتا" يعني بحذف زوائد باب الافعال في المصدر فتامل او د غير مجذوذ معنا دا ده چي ابد الابدين دا نعم آلهيه باقي وي واعلاها الوصل الى رب تعالى وتقدس بلا حجاب وكيف.

فَلَا تَكُ فِي مِرْيَةٍ مِّمَّا يَعْبُدُ هَؤُلَاءِ

تفريع ده پر ماقبل يعني تا واوريده قصه د متقدمينو د کافرانو او سوء عاقبت د دوی، نو ته مه ګرځه په شک کي له جهت څخه د عبادت د دغو مشرکينو چي ستا د زمانې دي.

پوه سه: چي اصل د "تک" تکن نون يې په سبب د کثرة استعمال حذف سو.

فائده: من په مما کي اجلى او ما مصدري دى والمعنى كن على يقين من ان عبادت يعني للاصنام هؤلاء ضلال سيئي العاقبة وهم بسبب ذالك في ضلال مبين.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مَا يَعْبُدُوْنَ اِلَّا كَمَا يَعْبُدُ اٰبَآؤُهُمْ مِّنْ قَبْلُ ؕ

دوی عبادت نه کوي د بتانو مگر داسي لکه چي عبادت کاوه پلرو او نیکه ګانو د دوی د مخه تر دوی.

پوه سه: چي ضمه د "قبلُ" مع دخول حرف الجر علیه د دې سببه ده چي مضاف الیه د قبل حذف سو قبل مبني پر ضمه سو والاصل قبلهم.

وَاِنَّا لَمُوَفُّوْهُمْ نَصِيْبَهُمْ غَيْرَ مَنْقُوْصٍ ۝

او موږ پوره او کامل ورکوو دوی ته برخه د دوی، یعني د عذاب دنیوي او اخروي چي هیڅ کم به نه وي.

پوه سه: چي غیر منقوص حال مؤکدة دی د نصیب څخه وفائدته دفع توهم التجوز في نصبیه.

بنهانه فائده: د دې آیت څخه دا معلومه سوه چي تقلید یعني قبول د قول د غیر بېله دلیله په اصولو او اعتقادیاتو کي نه دی روا بل لابد من النظر والاستدلال من حدوث العالم ووجود الصانع وقدرته وعلمه وحیاته الی غیر ذالک من الصفات لکن ایمان المقلد صحیح عند الحنفیفة والظاهریة.

پوښتنه: ایمان د مقلد څه معنی ده؟

ځواب: ایمان د مقلد دا معنی ده چي سړی عقیده وکړي پر جمیع ما وجب علیه من حدوث العالم ووجود الصانع وصفاته وارسال الرسل وما جاؤا به حقا من غیر دلیل.

والدلیل علیه ان النبي ﷺ قبل ایمان الاعراب والصبیان والنسوان والعبید والاماً من غیر تعلیم الدلیل علیه لکن مقلد فی الاصول گناه کار دی په ترک د نظر او استدلال ولي پرده واجب دی ولا یحصل الیقین الا بترک التقلید.

مسئله: تقلید په فروع او عملیاتو کي روا دی بالاجماع ونعم ما قال السعدي الشیرازي رحمه الله علیه:

برگ درختان سبز در نظر هوشیار ..... هر ورقي دفتریست معرفت گرگار

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: د موفوهم" معنى څو داده چې پوره ورکوم، نو ده غير منقوص څه فائده ده؟

ځواب: دفع د توهم د مجاز ده ولې چې ګاهي يو څوک وايي وفيته حقه والمراد بعض اکثر د حق مي ورکړی ولو مجازا.

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ فَاخْتُلِفَ فِيْهِ ؕ

لام موطئه د قسم محذوف دی ای والله په تحقيق ورکړی وو موږ موسی ته کتاب يعني التوراة، نو اختلاف وکړه سو په هغه کتاب کې يعني بعض ايمان پر راوړی او بعض انکار څندي وکړی.

وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ؕ وَاِنَّهُمْ لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيْبٍ ۝

که نه وايې يوه کلمة او خبره چې په ازل کې خدای ﷻ کړې ده چې عبارت دی د تاخير څخه د عذاب تر ورځې پورې د قيامت، نو به په دنيا فيصله سوې وای بين المحق والمبطل يعني بانزال العذاب على المبطل ونجات المحق، او په تحقيق اهل مکة من المشرکين هر آئينه په شک کې دي د قرآن څخه او يا د عذاب څخه چې واقع کونکی د اضطراب دی د دوی په زړو کې.

بوه سه: چې په ذکر کې د کتاب موسی او اختلاف په هغه کتاب کې تسلي وعليه الصلوة والسلام ته ده. يعني ته باک مه کوه په اختلاف د قوم ستا په کتاب کې ستا چې قرآن عظيم الشان دی او صبر وکړه پر تکذيب د قوم خپل لکه موسی چې صبر پر تکذيب.

فائده: درويش وايي: چې په بيان سره د اختلاف په کتاب کې د موسی ﷺ هغه سوال دفع سو چې د وړاندې آيت په شان کې د موسی ﷺ او د تورات او اختلاف دده د قوم تپر سو، نو عطف د "وانهم لفي شک آه" څه مناسبت ورسره لري.

سوال: د قرآن ذکر خو دمخه نه دی راغلی، نو ارجاع د ضمير د "منه" وقرآن ته اضمار قبل الذکر نه دی؟

ځواب: مقام د تسلي د عليه الصلوة والسلام دلالت کوي پر قرآن فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِنَّ كُلًّا لَّمَّا لَيُوَفِّيَنَّهُمْ رَبُّكَ أَعْمَالَهُمْ

التنوين عوض من المضاف اليه اى كل واحد من المختلفين فيه المؤمنين منهم والكافرين.

پوه سه: چې لام اول موطئه د قسم دی واللام الثاني جواب د قسم محذوف دی "او لما بتشديد الميم اصل يې لمن ما په کسره د ميم چې لام جاره دی پر ما موصوله داخل سو" يا موصوفه، نو وروسته نون ساکنه سره د ميم د ما جمع سو نو په قانون صرفي يې ادغام واجب دی، نو نون يې په ميم بدل کړی، نو په لفظ کې دري ميم سره يو ځای سوه ،نو يو ځندي حذف کړی اول يا د مابين علی اختلاف اقوال الصرفيين وتقدير العبارة ان جميعهم لمن الذي على تقدير الموصولة او من فريق پر تقدير د موصوفه "والله ليوفينهم" چې پوره به ورکوي خدای ﷻ جزاً د اعمالو د دوی من الايمان وسائر الحسنات والكفر وسائر المعاصي شرا او خيرا.

إِنَّهُ بِمَا يَعْمَلُونَ خَبِيرٌ

په تحقيق خدای په عمل د دوی خبر دی هذا على تقدير انيكون كلمه مصدريه او بما يعملونه كه ما موصولة سي فالعائد محذوف.

فَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ وَمَن تَابَ مَعَكَ

نو دوام وکړه پر استقامت ته ای محمد ﷺ استقامة كما امرت لكه ته چې امر سوی يې په هغه استقامت او هغه څوک چې توبه يې کنبلې وي د شرک څخه او ايمان يې راوړی وي ستا سره.

پوه سه: چې ومن تاب عطف دی پر ضمير مستتر په استقيم کې که څه هم تاکيد په ضمير منفصل سره يې نه دی سوی لان وجود الفصل په كما امرت سره كافي دی په عطف کې پر مستتر كما هو القانون النحوي.

پوه سه: چې لفظ د فاستقم تفريع پر ماقبل يعني چې خدای ﷻ بيان کړی حال د مختلفينو په توحيد او نبوة کې او په وعد او وعيد کې مفصل بيان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وکړی. نو امر کړی رسول خپل ومن تبعه په استقامت سره څرنګه چې د خدای ﷻ د خوا څخه تاسي امر کړه سوي یاست.

فائده: لفظ د استقامت پر ټوله دین محیط دی من العقائد چې توسط دی په مابین کې د تشبیه د خدای ﷻ لکه مجسمه چې وایې خدای لره جسم او اعضا" سته" او تعطیل لکه حکماً چې وایې خدای یوازې عقل اول پیدا کړی وبس" او په مابین کې جبر یعنې چې عبد مجبور محض دئ حسنه او سیئه د خدای ﷻ د خوا څخه دی او د اختیار لکه قدریه چې وایې چې بنده خالق د خپلو اعمالو دی الی غیر ذالک من مذاهب المبتدعه او استقامة په اعمالو کې حین تبلیغ الوحي وبیان شرائع الاسلام مفصلا والقیام بالعبادات من غیر افراط ولا تفریط ومراعات حقوق الناس والانتقام من الظالم للمظلوم وامثال ذالک.

دروښ وایي: چې چونکه استقامة دونه فراخه لمن لري نو څکه صوفیه کرام رحمهم الله وایې چې استقامة فوق الکرامة دی" حاصل د کلام دا دی چې استقامة دېر سخت کمال انساني دی.

دروښ وایي: چې مسلم د سفیان بن عبد الله څخه روایت کړی دی دی وایې چې ما وویل "یا رسول الله قل لي فی الاسلام قولا لا اسئلک عنه احدا بعدک قال قل امنت بالله ثم استقم" هم دا سبب دی چې توله مؤمنان په خپلو لمنځو کې مکرر وایې "اهدنا الصراط المستقیم آه" وایې.

بغوي وایې چې د ابن عباس ﷺ څخه روایت کوي دی رضی الله عنه وایې ما نزلت علی عهد رسول الله ﷺ من ایة هی اشد علیه من هذه الایة ولذالک قال شیبتني سورة هود" چې په هغه کې امر د فاستقم آه موجود دی.

دروښ وایي: چې هغه توجیه د دې حدیث چې مظهري رحمه الله کړې ده چې نفس د علیه الصلوة والسلام خو مجبول علی الاستقامة وو او مخلوق علی خلق عظیم وو لکن د جهت شاق والي د استقامت پر من تبعه د مبارک شفقت علی الامة دا سي وویل شیبتني سورة هود انتهی دې توجیه ته ضرورت نسته ولي چې هر څوچې قرب د خدای ﷻ ته دېر ډېرېږي هغونه خوف او خشیة د خدای ﷻ څخه دېر ډېرېږي؛

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروېش وايي: چې خواجه عصمت بخاري رحمه الله د صفت وبيان اهل استقامت چنين فرموده:

کسی را دانم استقامت ..... که باشد بر سر کوی ملامت
ز اوصاف طبیعت پاک برده ..... باطلاق هویت جان سپرده
تمام از گرد تن دامن نشانده ..... برفته سایه وخورشیده مانده

ابو علي الجرجاني رحمه الله وايي:

کن طالب الاستقامة لا طالب الکرامة
فان نفسک متحرکة في طلب الکرامة..... وربک یطلب منک الاستقامة"

روایت: یو چا د ابو سعید قدس سره څخه چې فلاني ولي الله پر اوبو تګ کوی ده ورته وویل چې "ما هې او چنګوښه هم دغسې کوي" هغه ورته وویل چې فلانی ولی الله په هوا الوزي، ده ورته وویل چې مرغان ټوله دا غسې دي، هغه ورته وویل چې فلانی ولي الله د شرق وغرب ته وبالعکس په یوه آن رفتار کوي ده ورته وویل ابلیس کذالک" نو هغه ورته وویل فما الکمال والولایة عندک ده ورته وویل ان تکون فی الظاهر مع الخلق وفی الباطن مه الحق" چې سادات د نقشبندې طریقې داسې تعبیر کوي " سفر در وطن وخلوت در انجمن ونظر بر قدم.

وَلَا تَطْغَوْا ۚ إِنَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿١١٢﴾

او تاسې طغیان او سرکښي مه کوئ یعني تر حد دودو د شرعې مه تېرېږئ" په تحقیق خدای ﷻ په هغه شي چې تاسې یې عمل کوئ دانا او خبر دی" بالبصیرة "لیس بحاسة البصر بل بمعنی العلم بالمبصرات.

پوه سه: چې جمله ولا تطغوا انهي دي معطوف پر فاستقم دی عطف الانشا علی الانشا.

پوه سه: چې مخاطب په لا تطغوا کې علیه الصلوة والسلام ومن تاب معه دی لکن په نهي کې طغیان تغلیب د من تاب معه یې کړی دی پر علیه الصلوة والسلام باندې لان الطغیان انما یتصور في حقهم کذا في روح البیان ومثل ذالک في روح المعاني ص ۱۳۵، او قال صاحب روح المعاني في تلک الصفحة اي لا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تتحرفوا عما حد لكم بافراط او تفريط فان التوسط هو المحمود انتهى بزيادة.

وَلَا تَرْكَنُوٓا إِلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا

او تاسي ميل مه كوئ وهغو كسانو ته چي ظالمان دي "فائدة الركون المحبة والميل القلبي كذا قال ابن عباس رضي الله عنهما او ابو العالية" لا ترضوا باعمالهم اى الظلمة" او سدي وايي "لا تدهنوا الظلمة" غوږه مالي مه كوئ د ظالمانو سره او بيضاوي رحمه الله وايي "لا تميلوا اليهم ادنى ميل فان الركون هو الميل اليسير" لكه تعظيم د ذكر د دوى او په ملبوساتو كي د دوى سره تشبه كول" وغير ذالك.

دروښ وايي: چي معاني مذكور د ركون سره نژدې دي لكن په بعض كي تغليط دى.

فَتَمَسَّكُمُ ٱلنَّارُ

نو كه ركون وكړئ وظالمانو ته، نو تاسي به مسه كي اور يعني د دوزخ.

دروښ وايي: چي بيضاوي او روح البيان" او روح المعاني او مظهري يو د بل سره په نژدې الفاظو داسي ويلي دي چي لږ ميل وظالم ته سبب د مساس النار دى فما ظنك بالميل اليهم كل الميل" او بيا چي سړى په خپله ظالم وي.

تنبيه: دا آيت ابلغ آية دى په نهي كي د ظلم څخه.

حكايت: يو سړي خلف الامام لمونځ كاوه امام چي دا آيت قرائة كړى مقتدى بيهوښ سو" چي په هوښ كي راغلى چا پوښتنه وكړه چي څه دروسوه، نو هغه ورته وويل "هذا فيمن ركن الى الظالم فكيف حال الظالم" حسن بصري رحمه الله وايي چي خداى عزوجل گرځولى دى تولە دين بين لائين لا تطغوا ولا تركنوا د امام اوزاعي رحمه الله څخه روايت دى "ما من شيئ الى الله من عالم يزور ظالما" يعني تر عالم چي ملاقات ته د ظالمانو ورځي.

دروښ وايي: چي د اوسني عصر ملايان د ظالمانو حكامو ملاقات په واسطو كوي بلكه د امريكايانو او د نورو كافرانو" د اوس رضي الله عنهم څخه روايت دى چي ده واورېدل له رسول الله ﷺ څخه چي ده ﷺ وويل "من مشى مع ظالم ليقويه وهو يعلم انه ظالم فقد خرج من الاسلام.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چي نن صبا مسلمانان د والرو دپاره امریکایانو ته جاسوسي کوي او د مسلمانانو کورونه په بمبارد وي او نر او ښځي حتی د زانګو کوچنیان په وژني وهذه المعاملة اليوم رائجة في افغانستان" الله خیرا.

د ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چي ده واورېدل له یو سړي څخه چي ظالم "لايضر الا نفسه" ابو هریرة رضي الله عنه وویل "بلی والله" یعني نوروته یې ضرر رسېږي قسم په خدای ﷻ "حتی الحبارى لتموت في وكرها هزلاً بظلم ظالم" حتی چي حبارى چي د یوه مرغه نوم دی مري به په خپله خالګی کي د لوږي او د ږنګرو الي له سببه په سبب د ظلم د ظالم . وفي الحديث اياكم والظلم فانه يخرب قلوبكم"

معذرت دربیان حال بعض العلماً سعدي میګوید: بیت

تو ګوی آنچه دانی سخن سودمند ..... وګرهیچ کس نیاید پسند

مسئله: د سفیان ثوري رحمه الله څخه چا پوښتنه وکړه چي یو ظالم که په دښت کي د تندي څخه مړ کېدی یو بل سړی د دې په خوله کي اوبه ورواچوي سفیان ثوري ورته وویل "لا" ولي چي دا د ظالمه سره کومک دی. او نور علماً دا وایي چي اوبه دي ورکړي چي دی وروسته په خپله امکان لري چي د ظلم څخه به توبه وکاږي" وفي الحديث" العلماً امناً الرسل على عباد الله مالم يخالطوا السلطان (ملایان امینان د رسولانو دي پر بندګانو د خدای ﷻ تر هغه پورې چي د سلطان سره خلط ونه کړي) فاذا فعلوا ذالک فقد خانوا الرسل فاحذروهم واعتزلوهم (که دوی دا کار وکړی یعني مخالطة د سلطان سره وکړي، نو د داسي علماؤ څخه وبېرېږئ او څنډي ګوښه سئ).

دروښ وايي: چي والله اعلم مراد د سلطان څخه په دې حدیث کي امیران د جور او ظلم دي چي امارت او سلطنت یې د توفک په زور وي نه د بیعت د اهل العقد والحل په واسطه، نو ددې امیرانو څخه امراً المسلمین في عصر الصحابة كالخلفاً الراشدین رضي الله عنهم وامیران د تابعینو د زمانې خارج دي" البته" د وروسته ازمنه وو د امیرانو په ملاقات کي خیر نسته "الا ماشذ وندر" كعمر بن عبد العزيز رحمه الله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ اَوْلِيَآءَ ثُمَّ لَا تُنْصَرُوْنَ ﴿۱۱۳﴾

او نسته تاسي لره ماسوی د خدای ﷻ څخه هیڅ دوستان یعني چې تاسي دې د عذاب د خدای ﷻ څخه خلاص کړي.

پوه سه: جمله د "ومالکم آه" حال د مفعول څخه د "تمسکم" او بیا ستاسي سره کومک د خدای ﷻ د خوا هم نه کړه کیږي "اذ سبق حکمه تعالی ان یعذبکم فیه" شان نزول الآیة" ترمذي او نسائي د ابي الیسر ﷺ چې نوم یې په قول د بغوي رحمه الله (عمرو بن غزیة الانصاري) وو دی وایي چې ما دوکان د خورما د خرڅولو لپاره خلاص کړی" یوه ښځه راغله چې خورما یې رائیول ما ورته وویل چې په دننه دکان کې تر دې ښه خورما سته. نو ښځه زما سره دننه دوکان ته ولاړه، نو ما په غاړه کې لاس ورواچاوه او مچه مې څندي واخیستله وروسته پښېمانه سوم. نو ابو بکر ﷺ ته ورغلم دا بیان مې ورته وکړی" هغه راته وویل استر علی نفسک وتب" بیا عمر ﷺ ته ورغلم او دا سرګزشت مې ورته ووایه هغه هم داغسي راته وویل "استر علی نفسک وتب" د دوی پر قول باندې مې صبر ونه سو رسول الله ﷺ ته ورغلم هغه ماجرى مې ورته ووایه" ﷺ راته وویل چې د غازي في سبیل الله په مایته کې تا داسي خیانت وکړی حتی چې دی وایي چې زما دا ګمان سو چې زه د اهل النار څخه سوم بیا ﷺ سر کښته وځړاوه او وحی ورته راغلې.

وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ الَّيْلِ ؕ

فقال اصحاب رسول ﷺ آلهذا خاصة ام للناس عامة قال ﷺ بل للناس عامة.

پوه سه: چې "طرفی النهار" منصوب دی علی الظرفیة. ولې چې طرفي مضاف دی ووقت ته چې نهار ده فاعطی حکم المضاف الیه.

فائده: مراد له "طرفی النهار" څخه غدوه ده چې قبل الزوال وخت ته وایي چې په دې کې د سهار لمونځ دی او عشیه ده چې بعد الزوال وخت ته وایي چې په دې کې د ماپښین او مازدیګر لمونځ دی.

پوه سه: چې زلفاً عطف دی پر "طرفی النهار" نو "زلفاً" هم منصوب علی الظرفیة دی، والمعنی ساعات من اللیل القریبة الی النهار، نو په دې کې د مابنام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لمونځ او د ماخستن لمونځ دی، نو پينځه لمونځونه پوره سوه.

فائده: په دې آيت سره اشاره ودې ته ده چې "زلف" چې جمع دی اطلاق يې پر دوو لمونځو چې مابنام او ماخستن دی صحيح دی.

فائده: ددې آيت مثل هغه آيت دی چې په سورت "ق" کې راغلی دی "وسبح بحمد ربک قبل طلوع الشمس ای صل قبل طلوع الشمس وهي صلاة الفجر، وقبل الغروب ای صلاة الظهر والعصر، ومن الليل ای بعض اوقات الليل فسبحه ای صل فيه وهي صلاة المغرب والعشا ومن الليل فتهجد به" او په بعض ساعاتو کې د شپې د تهجد لمونځ کوه چې بعض علما وايي چې د تهجد لمونځ پر عليه الصلوة والسلام واجب وۀ. او بعض علما وايي چې له تهجد څخه صلوة الوتر مراد دی.

فائده: په امر کې د فعل الخير يعني الصلوة يو ازې عليه الصلوة والسلام وګرځاوه في الظاهر وان کان مأمور به في المعنى عاماً، او په نهي کې له محظوراتو څخه يعني "لاتطغوا" ولاتركنوا" مخاطب غير له رسول ﷺ چې امت دي مخاطب يې وګرځول. وهذا من البلاغات الفائقة للقرآن فتدبر.

إِنَّ الْحَسَنٰتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّاٰتِ

يعني مطلقاً خصوصاً الصلوة الخمس كما ههنا، بيا يې بدي يعني حكم د سيئاتو وهو العذاب مطلقا" يعني صغيره ګنهونه چې دلته تقبيل د ابي اليسر وو هغه بښې لره" التقييد بالصغائر بقرينه قوله ﷺ الصلوة الخمس والجمعة الى الجمعة ورمضان الى رمضان مكفرات لما بينهن اذا اجتنب الكبائر.

ذٰلِكَ ذِكْرٰى لِلذّٰكِرِيْنَ ﴿١١٤﴾

"ذالک" اشارة الى قوله فاستقم وما بعده وقيل الى القرآن، موعظة ونصيحة لمن يتذكر وتيغظ.

وَاصْبِرْ فَإِنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيْعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿١١٥﴾

يا محمد على الطاعات وعن المعاصي وما اصابک من الاذى في تبليغ الدين وقيل على الصلوة، په تحقيق خداى ﷻ نه ضائع کوي اجر او ثواب د مخلصينو په عبادت کې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي ټوله امت تبع دي د عليه الصلوة والسلام په امر کي د صبر" لان الخطابات الشرع عامة الا ما خص برسول الله ﷺ.

دروښ وايي: چي تفسير د محسينينو ما په مخلصينو سره وکړی تبعا لما جا في الحديث الطويل الذي رواه البخاري" الاحسان ان تعبد الله كانك تراه الى اخير الحديث.

فَلَوْلَا كَانَ مِنَ الْقُرُوْنِ مِنْ قَبْلِكُمْ اُولُوْا بَقِيَّةٍ

پوه سه: چي لو لا په معنی د هلا چي حرف تخصيص يې بولي که پر مضارع داخل سو يعني باعثه کول پر يو کار مثل هلا تضرب زيدا" او حرف تنديم يې بولي يعني پښېمان کول مثلا هلا لا قيت فلانا" او کان تامه په معنی د وجد دی والمعنی بالفارسية پس چرا نبود او په پښتو نو ولي نه وه او مراد د قرون څخه قرون هالکة دي" او من قبلكم په تقدير د الكائنة صفت دی د القرون پر مذهب د هغه چا چي حذف د موصول چي کلمة ال د سره د بعض صلة چي كائنة روا بولي" او هغه مذهب چي دغسي روانه بولي هغه يې په تقدير د كائنة نكرة حال بولي د القرون څخه.

فائده: هر څه اهل د يوې زمانې قرن بولي لمن بعدهم لانهم يتقدمونهم په قاموس کي وايي چي قرن سل (۱۰۰) کاله ته وايي وهو الاصح ولي چي عليه الصلوة والسلام يو هلک ته داسي دعا وکړه عش قرنا هغه ځوانکی پر سل کاله عمر مړ سو، او دغه رنګه هر امت چي د يوه مخه مړه سي چي هېڅ ځوک يې پاته نسي قرن بولي" لفظ د الو جمع ده ذو على خلاف لفظه او بقية فضل او خير ته وايي ولي خير بولي لان الرجل انما يستبقي مما يكسبه اجوده وافضله، نو تا د بقية د لفظ د پاره د نقل ده كالذبيحة" عربي محاوره ده فلان من بقية القوم ای من خيارهم، ومنه ما قيل في الزوايا خبايا" وفي الرجال بقايا.

دروښ وايي: چي لفظا لفظا ترجمه چي مو واورېده، نو د مجموع عبارت قرآني ترجمه دا ده، ولي نه وه يعني بايد واى د اهل قرون څخه يعني هلاک سوي دي په عذاب الهي سره چي تر تاسي د مخه دی خاوندان د فضل او شرف او خير.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يَنْهَوْنَ عَنِ الْفَسَادِ فِي الْأَرْضِ إِلَّا قَلِيلًا مِّمَّنْ أَنجَيْنَا مِنْهُمْ

چې خلګ يې منع کولای د فساد څخه په مځکه کې بالکفر والمعاصي" او امر بالمعروف يې ورته کولای، مګر نه لږ کسان د اهل قرون څخه چې موږ نجات د عذاب څخه ورکړی دوی ته په سبب د دې چې هغو خلګ د فساد فی الارض څخه منع کوله" وهم اتباع الانبیا ﷺ چې دوی د انبیا مسلک په امر بالمعروف او نهی عن المنکر پرځای کړی وو.

پوه سه: چې استثنا د الا قلیلا" منقطع ده ای قلیلا ممن انجینا فهم نهوا عن الفساد ووجه الانقطاع ان هذا القلیل لم یکن داخلا فی الهالکین" لانهم هلکوا او هم بقوا" او کلمة د من په ممن انجینا کې بیانه ده لا للتبعیض ولې ټوله ناجین نهی کونکي وه د فساد څخه.

وَاتَّبَعَ الَّذِينَ ظَلَمُوا مَا أُتْرِفُوا فِيهِ وَكَانُوا مُجْرِمِينَ ﴿١١٦﴾

او متابعت کاوه هغه کسانو چې ظالمان وه او نهی عن الفساد فی الارض يې نه کاوه.

پوه سه: چې ضمیر د فیه راجع وما ته یعني شي چې مراد څندي شهوات دي والاتراف الانعام من الترف وهو النعمة ای انعموا فیه الشهوات وللذات" نو د دوی ټوله اهتمام په تحصیل کې د اسباب د شهواتو پر کار اچولي وو او د امر بالمعروف او نهی عن المنکر څخه يې اعراض کړی وو" وکانو مجرمین" او وه دوی کافران.

پوه سه: چې کفر اعظم د جرمو او سیئاتو دی لکه توحید چې اعظم د حسناتو دی ولهذا لا یغفر الله الکفر اصلا ویغفر لاهل التوحید ما یشأ من السیئات بلا توبة" یعني المغفرة بلا توبة مقید بالمشیة" واما المغفرة بالتوبة فامر یقیني حسب وعده تعالی ذالک ولا یخلف الله المیعاد" په صحیح حدیث کې راغلي دي خدای ﷻ خواص د بندګانو په عمل سیئ د عوامو نه نسي" یعني عذاب نه ورکوي ترهغو چې خواص قادر پر نهي عن المنکر د عوامو وي او سره ده هغه نهي عن المنکر نه ورته کوي یعني د تملق او غوړه مالي او د تحصیل د اموالو د عوامو څخه، نو که عذاب الهي نازل سي عوام او خواص به ټوله په برکي ونسي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروېش وايي: چې كما هو الشائع فى الزمان الحاضر سنه ۱۴۲۸هـ ق وقبل ذالک بسنين كثيرة تدل عليه التجربة" سعدي شيرازي قدس سره وايي:

گرت نهی منكر بر آيد ز دست ..... نه شايد چو بې دست وپايان نشست
بگو آنچه دانی سخن سود مند ..... و گر هيچ كس را نيايد پسند
چو دست وزبان را نماند مجال ..... بهمت نمايند مردی رجال

يعنې په دعا گوي مړان ښكاره گوي اهل الله" يعنې يقولون اللهم اهد قومنا فانهم لا يعلمون.

وَمَا كَانَ رَبُّكَ لِيُهْلِكَ الْقُرٰى بِظُلْمٍ وَّاَهْلُهَا مُصْلِحُوْنَ ﴿۱۱۷﴾

پوه سه: چې كلمه د لام ليهلک د پاره د تاكيد د نفي ده او وروسته تر لام ان مصدري مقدر دی ولې چې حرف جر پر فعل نه داخليږي او د مخه تر ربک لفظ د صفت مقدر دی والمعنى ما كان صفة ربک اهلاک اهل القرىٰ په ظلم او ناحقي سره.

پوه سه: چې بظلم حال دی د ضمير څخه د فاعل په يهلک كې ای ما كان الله مهلكهم ظالما لهم" او اهل د قريو دي مسلمانان وي.

فائده: په دې آية كې تنزيه د خدای د ظلمه څخه، او روح البيان او مظهري په گډه سره بل تفسير د آيت په قيل سره را وړی دی چې حاصل يې دا دي چې بظلم متعلق په يهلک پورې دی او مراد د ظلم څخه شرک دی يعنې خدای نه هلاک وي اهل القرى په مجرد شرک سره چې اهل يې مصلحون وي يعنې يو پر بل ظلم نه سره كوي او مراعات د حقوق په كښې كېږي او امنيت د خلگو برحال وي ولهذا قيل يبقى الملک مع الكفر ولا يبقى مع الظلم ولې چې نوشيروان سره د دې چې كافر وو لكن چې پر رعيت يې ظلم نه كاوه او د ده په سلطنت كې دروازه د ظلم د رعيت يو پر بل هم بنده وه، نو نوم د عادل يې د تاريخ په پاڼو كې تر اوسه محفوظ پاته دی د ده د تاريخ بيانونكي وايې چې نوشيروان چې مړ سو په قرار د وصيت د ده جنازه په ټوله ملک وگرځول سول او منادي به نعرې وهلې يعنې د نوشيروان د خواځخه كه د چا پر موږ يو حق د حقوقو وي رادي سي چې ور يې كړو ولكن هيڅ څوک پيدا نه سو، تاريخ وايې چې د ده د سلطنت په عصر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كي سيد العالم محمد المصطفى ﷺ زوكړی دی" يو شاعر وايي:

شه کسری از ظلم ازان ساده است ..... که درعهد او مصطفی زاده است

د ننې زمانې د شاهانو او رئيس جمهورانو ددې دوو بيتو څخه د سعدي رحمه الله ملاحظه کړه.

نیاید بنزدیک دانا پسند ..... شبان خفته و گرگ درگوسپند

مکن داتوانی دل خلق ریش ..... وگر میکنی میکنی بیخ خویش

وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ لَجَعَلَ النَّاسَ أُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلَا يَزَالُونَ مُخْتَلِفِيْنَ ﴿١١٨﴾

او که د خدای ﷻ ستا مشیت یعنې اراده وای نو ګرځولې به يې وای ټوله خلګ يوه ډله يعنې مؤمنان صالحان. او همېشه خلګ په اختلاف کې دي له حق څخه وباطل ته قسم قسم اختلافونه من الاسلام والیهودیة والنصرانیة والمجوسیة والشرک، او په فرقو د ضلال بعض جبریان دي بعض قدریان دي بعض معتزله دي بعض مجسمه دي بعض روافض دي بعض خوارج دي الی غیر ذالک.

فائده: ددې آیت څخه دا معلومه سوه چې امر الهي او اراده د خدای ﷻ سره جلا دي، ولې چې خدای پاک ټوله انسانان په ایمان او اصلاح العمل امر کړي دي لکن اراده ددې نه ده کړې لان خلاف ارادته تعالی محال کما في هذه الآیة ایضاً "ماشأ کان وماشأ لم یکن.

دروښ وايي: چې مشیت او اراده دوه قسمه ده کما في تفسیر الکواشي، یوه اراده د قسر او الجأ بولي چې د هغه تخلف نه دی روا کما في هذه الآیة او یو مشیت د اختیار ده چې د بنده د اختیار سره موافق خدای ﷻ ایجاد د شي او د یو کار کوي. مثلاً مرګ د بنده یا ناجوړي فلج وغیره فقر موت الاهل والعیال وغیر ذالک په مشیت قسر سره د خدای ﷻ دی، او لمونځ، روژه، حج وغیره په مشیت اختیار پورې د بنده اړه لري.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِلَّا مَن رَّحِمَ رَبُّكَ ۚ

مگر نه هغه کسان چي رحم وکړي ستا رب يا محمد ﷺ پر دوی.

پوه سه: چي عائد و "من" ته محذوف دی ای رحمه او ربک فاعل د رحم دی. يعني چي خدای پاک پر چا رحم وکړي په خپل فضل او کرم سره. نو هغه پر صراط مستقيم دی او پر عقائد صحيحه وو باندي دی. او امتثال د اوامرو د خدای ﷻ کوي او څانونه له منهياتو څخه ساتي.

پوه سه: چي احمد، نسائي او دارمي رحمهم الله له ابن مسعود رضي الله عنه څخه داسي روايت کړی دی چي يوه ورځ عليه الصلوة والسلام موږ ته يو خط مستقيم وليکی، ثم قال هذا سبيل الله ای الخط المستقيم، ثم خط عن يمينه وشماله خطوطاً ثم قال هذه خطوط ای خطوط المنهيات علی کل خط شيطان يدعوا اليه بيا عليه الصلوة والسلام په تائيد د خپل قول دا آيت ووايه "وان هذا صراطي مستقيماً فاتبعوه ولا تتبعوا السبل آه"



وَلِذَٰلِكَ خَلَقَهُمْ ۗ

درويش وايي: چي ددې آيت معرکة الآرا تفسيرونه دي، چناچه ابن عباس رضي الله عنهم مجاهد، قتاده او ضحاک رحمهم الله چي په "ذالک" کي اشاره ورحمت ته ده او تذکير د اسم الاشاره يا په تاويل د رحمت ده په خير سره او يا په سبب ددې چي رحمت مؤنث لفظي دی وفي مثله يجوز التذکير والتانيث کما تقرر في علوم العربية، او ضمير د "هم" چي په "خلقهم" کي دی راجع وه "من" ته دی باعتبار المعنی، نو معنا د آيت داده چي لپاره د رحمت خدای پاک پيدا کړي دي بندګان، او حسن او عطا رحمهما الله وايي چي لپاره د اختلاف فيما بينهم خدای ﷻ پيدا کړي دي، نو "ذالک" اشاره ده وه مصدر مفهوم ته مختلفين، او ضمير د هم راجع دی وناس ته، او لام د لذالک لام عاقبة دی، يعني ثمرة الاختلاف يې داده من کون فريق في الجنة وفريق في السعير لان حکمة خلقهم ليس الاختلاف لقوله تعالی "وما خلقت الجن والانس الا ليعبدون" او بل دليل دادی چي که خدای پاک خلګ د اختلاف لپاره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پيدا كړي واى، نو دوى ته به يې عذاب نه ورکولاى پر ارتکاب د باطل. روح المعاني وايي كذا قال غير واحد. وروى عن الامام مالك رحمه الله ما يقتفيه.

دروښ وايي: چې كاشكي صاحب د روح المعاني پر دغه ځاى خبره ختمه كړې واى لكن ده دومره اوږدې خبرې سوالونه او جوابونه او تفاسير غريبه روايې دي چې عقل ورته حيران پاتېږي، ولله درصاحب روح البيان حيث اختصر الكلام في تفسير هذه الآية غاية الاختصار واقتصر على احتمال واحد مما ذكروه وهو ماذكره ابن عباس رضي الله عنهما وغيره كمامر اولاً.

وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴿١١٩﴾

او تام او پر ځاى ده خبره د خداى جل جلاله اى حكمه الازلي يا خبره د خداى وملكو ته، هر آئينه به ډكوم زه جهنم دوبرخ د پيريانانو او انسانانو څخه ټوله اى العصات والكافرون منهما.

فائده: پوه سه! چې ذوى العقول په مراتبو كې د دين دارى پر څلور مرتبې دي (۱) سعيد بالنفس والروح في لباس السعادة كالانبياً عليهم السلام والاولياً الكرام ذوى العز والاحترام (۲) شقي بالنفس والروح في لباس الشقاوة كابليس والمصرون على الكفر كفرعون ونمرود وابى جهل وغيرهم (۳) شقي بالنفس والروح في لباس اهل السعادة كبلعم بن باعور وبرصيصاً والمرائين من الناس (۴) سعيد بالنفس والروح في لباس الشقاوة اى الزلة والفقر كبلال الحبشي وصهيب الرومي وسلمان الفارسي رضي الله عنهم في ابتداً حالاتهم.

وَكُلًّا نَّقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنبَاءِ الرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهِ فُؤَادَكَ ۚ

"كلا" اى كل بناء وخبر فالتنوين عوض من المضاف اليه، مورې قصه كوو له اخبارو څخه د رسولانو، يعني وانباً اممهم.

بوه سه: چې "ماثبت به" بيان دى يا بدل دى د "كلا" يعني ددې قصو د انبياً اوددوى د امتو فائده په قرآن كې بيانول داده چې مورې قوي كړو په هغو سره ستا زړه يعني پر اداً د رسالت او پر تبليغ د احكام الهيه به ستا زړه قوي او محكم سي او يقين به دي نور زيات سي، او پر ازار د كفارو به دي صبر محكم سي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَجَآءَكَ فِي هٰذِهِ الْحَقُّ وَمَوْعِظَةٌ وَّذِكْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٢٠﴾

او راغلی وتاته په دغو قصو کي د انبياؤ او د امتو ددوی حق يعني بيان حق مطابق لماهو الواقع او نصيحت، او پند د تولو مؤمنانو لپاره.

پوه سه: چي "ماثبت به فؤادک" فائده خاصه د عليه الصلوة والسلام وه او د "وجاءک الخ" بيان دی د فائدې عامي د قصصو مذکور دوو.

وَقُلْ لِّلَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ اعْمَلُوْا عَلٰى مَكَانَتِكُمْ اِنَّا عٰمِلُوْنَ ﴿١٢١﴾

او ته ووايه وهغو کسانو ته چي ايمان نه راوړي چي تاسي عمل کوئ پر خپل حال چي تاسي پر ياست من الکفر. مونږ عمل کوو يعني پر خپل دين چي ايمان او اسلام دی.

پوه سه: چي امر تهديد دی او امر وعيد دی.

وَانْتَظِرُوْا اِنَّا مُنْتَظِرُوْنَ ﴿١٢٢﴾

او تاسي انتظار کوئ زمونږ وحوادثو او بلا ياوو ته مونږ ستاسي د بلا ووينه انتظار يو لکه چي پر نورو کفارو چي ستاسي مثل وه نازلي سوي دي في الازمنة الماضية.

وَلِلّٰهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

پوه سه: چي "غيب السماوات" مبتدأ ده "لله" يې خبر دی والتقديم للحصر يعني خاص خدای پاک لره دی علم غيب السماوات والارض په حذف د مضاف وهو لفظ العلم، والمراد ماغاب عن العباد لا من الله اذ لا يخفى عليه خافية اصلاً والمقصود انه تعالى لا يخفى عليه اعمالكم.

وَاِلَيْهِ يُرْجَعُ الْاَمْرُ كُلُّهٗ فَاعْبُدْهُ وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِ

او خاص وخدای ﷻ ته راجع کړل کيږي امر د بندګانو تولـه، يعني ستا امر ای عليه الصلوة والسلام او امر د کافرانو، نو ستا انتقام به خدای پاک له کافرانو څخه واخلي، ته د خدای ﷻ عبادت کوه او تکيه پر کوه يعني الاعتماد، کريمه: "ومن يتوكل على الله فهو حسبه".

فائده: عبادت يې پر توکل دمخه کړی تنبيه يې پر دې وکړه چي توکل سره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د عبادت نه فائده کوي وبس..... مصرع: کسب کن پس تکیه بر جبار کن.

وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿۱۲۳﴾

نه دی خدائ ستا یا محمد غافل او ناخبره ستاسي له عمل څخه، که کلمه د ما مصدریه وي، او یا له هغو کارو څخه چي تاسي یې کوئ بحذف العائد که ما موصوله سي.

بوه سه: چي مخاطب په "تعلمون" سره علیه الصلوة والسلام او کافران دواړه دي تغلیباً.

مسئله: علم غیب مختص په خدای ﷻ پوري دی بالذات او اخبار د بعض مغیباتو چي له انبیاؤ علیهم السلام څخه صادر سي هغه په واسطه د وحي دي، او د بعض مغیباتو اخبار چي له اولیاؤ الله الکرام څخه صادر سي هغه په واسطه د الهام دی. ومن هذا القبیل اخباره ﷺ من حال العشرة المبشرة من دخولهم الجنة، وکذا اخباره ﷺ له علاماتو څخه د قرب قیامت وما یظهر في اخیر الزمان من البدع والهوی وغلبة اهلهما وامامة الصلوة واتباع الشهوات.

دروښ وایي: چي په اوسنی زمانه کي یعني (۱۴۲۹ هـ) وقبله دغه بدعات بشکاره سوي دي او په ډیرو بلادو کي یې غلبه کړې ده او د لمانځه ضائع کول او د شهواتو متابعت پر خپل عروج باندي دی. مثلاً یوه فرقه وایي موږ وهابیه یو. بله فرقه وایي موږ سلفیه یو او بعض وایي موږ پنج پیران یو. او بعض وایي موږ اتباع د ظواهر د حدیثو یو الی غیر ذالک.

د بعض اولیاؤ الله رحمهم الله حکایت واوري چي د تاریخ اسلامي په پانو کي مثبت دی، سید الطائفه جنید بغدادي قدس سره وایي چي ماته زما ماما سري سقطي رحمه الله وویل چي ته ورسته تر نن ورځ خلګو ته وعظ او تبلیغ کوه. جنید وایي چي ما له دې کار څخه ځان قاصر باله فرئیت لیلة الجمعة رسول الله ﷺ في المنام فقال لي تکلم علی الناس، نو راویښ سوم او د خپل ماما سري سقطي کور ته ورغلم "فقال لم تصدقنا حتی قیل لک" نو زه صباد وعظ او تبلیغ لپاره پر منبر کښېنستم نو په دوران کي د وعظ یو نصراني ځوان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner


راغلی لکن په لباس کي د مسلمانانو، نو زما څخه يې پوښتنه وکړه ايها الشيخ څه ده معنی ددې قول د عليه الصلوة والسلام "اتقوا فراسة المؤمن فانه ينظر بنور الله" ما سر وځړاوه او بيا مي سر راپورته کړی او ما هغه ځوان ته وويل چي اسلام راوړه ستا د اسلام راوړلو وخت ورسېدی فاسلم الغلام، علماً او فقهاً رحمهم الله وايي چي ورته علم پر احوالو د خلګو نه سي پيدا کېدای بېله اخبار الهامي د خدای ﷻ والا فکل ولي متحير في امره وامر غيره كما قال المولى الجامي قدس سره:

ای دل تو که آن فضولی وبو العجبی .... ازمن چه نشان عافیت می طلبی
سر گشته بود خواه ولی خوانبی .... دروادی ما ادری ما یفعل بی

اشارة الى الحديث الصحيح النبوي..... بيت:

بر فلک برتر بود اسرار او ..... شيئاً لله شيئاً لله کار او

د سورة هود تفسير پوره سو په توفيق د خدای ﷻ پر لس بجې د دوشنبې په ورځ سنه (۱۴۲۹ هـ) ولله الحمد والمنة والصلوة والسلام على رسوله خير البرية وعلى آله وصحبه البررة الكملة.



تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا
سکين او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ
۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹
مکتبة القرائة والتجويد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سورة يوسف عليه السلام هي مكية كلها على المعتمد كما في روح المعاني وآيتها مائة و احدى عشرة (١١١) بالاجماع. او هغه كسانو چې بعض آيت د سورت يوسف مدني بللي دي. فقد قال صاحب روح المعاني هو واه جداً لايلتفت اليه.

سُوْرَةُ يُوْسُفَ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ مِائَةٌ وَاحْدَى عَشْرَةَ اٰيَةً وَّاَرْبَعُ رُكُوْعَاتٍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الٓرٰ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ۝١

دروښ وايي: چې د "الٓرٰ" لکه شان د نورو مقطعاتو قرآنيه وو دی او اختلاف د مفسرينو هم هغه دی چې په مقطعاتو قرآنيه وو کې ؤ او په دې تفسير کې په اول کې د سورة بقره هم راوړل سو.

بوه سه: چې ابي بن کعب رضي الله عنه له رسول الله ﷺ څخه داسې روايت کړی دی چې ده مبارک وويل "علموا ارقائكم سورة يوسف (ارقا جمع د رقيق ده چې مريي او مينځي دواړو ته وايي) فانه ايما مسلم املاها وعلمها اهله ومامملكت يمينه هون عليه سكرات الموت واعطاه القوة كذا في تفسير التبيان، او له ابن عطا څخه روايت دی لايسمع سورة يوسف مغموم الا استراح كما في تفسير الكواشي.

شان نزول السورة: راوي وايي چې د مدينې د يهودانو ملايانو ورئيسانو ته د مکې د قريشو ليکلې وکړه چې تاسي له محمد (ﷺ) څخه پوښتنه وکړئ چې له څه سببه آل يعقوب له شام څخه مصر ته ولاړل، وعن قصة يوسف د مکې ورئيسانو هم داغسې وکړه فنزل السورة بتمامها في مكة، او بعض مفسرين رحمهم الله چې سبب د نزول ددې سورت هغه دی چې سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه وايي چې قرآن په مکه کې پر عليه الصلوة والسلام نازل سوی دی ده مبارک به اصحابو رضي الله عنهم ته د هغه تلاوت کاوه فقالوا يا رسول الله لو قصصت علينا يعني لو انزل عليك سورة فيها قصة غريبة فنزلت سورة يوسف.

فائده: ددې سورت په نزول کې وه عليه الصلوة والسلام ته تسلي هم ده چې قوم دی مبارک زهيراوه بما فعل اخوة يوسف رحمه الله به.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې "تلک" اشاره ده وه آياتو ته د قرآن او اضافت و کتاب ته په چې مراد ځندې قرآن کريم دی په معنی د من تبعيضي ده او د مبين معنی ظاهر فی الاعجاز ده" او په نيز د زجاج رحمه الله معنی يې دا ده چې بنکاره کونکی د حق دی د باطل څخه او بنکاره کونکی د حلال د حرام څخه.

دروښ وايي: چې مفسرانو نوري معناوي د مبين هم بيان کړي لکن معاني يې متناسب او متلازمي دی.

إِنَّآ أَنزَلْنَٰهُ قُرْءَٰنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ۝٢

په تحقيق موږ نازل کړی قرآن مصدد دی په معنی د مقروء دی لکن علم بالغلبة دی د مجموع قرآن فيحتمل ان يراد به مجموع القرآن او سورة يعني سورة يوسف عربيا صفت دی د قرآن.

پوه سه: چې "لعل" په معنی د لام کي دی يعني تعقلونه فالعائد محذوف د دې تعقل وجه دا ده چې قرآن مبارک چې ستاسي د عربو په ژبه دی نو تاسي يې په فصاحت او بلاغت فائقه ښه پوهېږئ تر عجمو او تاسي دی معجزه وبولئ او د شعر يا کلام البشر نوم د حسد او عناد له کبله پر کښېږدي.

دروښ وايي: چې مظهري په منهية د خپل تفسير کي ليکل دي د خالد بن عرفطة په روايت چې زه ناست وم په نېزه د امير المؤمنين عمر رضي الله عنه چې يو سړی د قبيله څخه د عبد القيس را ويستل سو، نو عمر رضي الله عنه ورته وويل "انت فلان العبدي" هغه ورته وويل هو، نو عمر رضي الله عنه د خورما په لرگي دی درې واره ووا هه چې دالته پروت وو، نو هغه سړي ورته وويل ماځه کړي يا امير المؤمنين يعني تازه ووهلم" عمر رضي الله عنه ورته وويل اجلس فجلس الرجل" نو عمر رضي الله عنه بسم الله الرحمن الرحيم ووايه او سورة يوسف يې تر لعلكم تعقلون پوري ووايه او دا آيت درې واره عمر رضي الله عنه ووايه مگر پر هر وار به يې هغه په لرگي ووا هه" هغه سړي ورته وويل مالي يا امير المؤمنين" نو عمر رضي الله عنه ورته وويل چې ته هغه سړی يې چې کتاب د دانيال دي نوشته کړی دی هغه ورته وويل هو لکن ته ما ته امر وکړه زه به ستا متابعت وکړم عمر رضي الله عنه ورته وويل چې ورسه په تودو ابو او وړي يې پرېمنځه "ثم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لا تقرئه ولا تقرئه احدا" يعني مي ته وايه او مي چاته وايه" هغه ورته وويل شه دی وروسته عمر ﷺ سبب د دې غضب د ده وهغه سړي ته بيان کړی "چي ما يو څو آيته د تورات د اهل کتاب څخه نوشته کړي وه پر يوه څرمنه، نو مي ﷺ ته راوړه، نو ﷺ راته وويل ما في يدک يا عمر ما ورته وويل چي يو څو آيته د تورات لتزداد علما الى علمنا فغضب رسول الله ﷺ حتى احمرت وجنتاه چي بار خوګان يې د دې غضبه سره سوه" بيا يې بلال ته امر ورکړی الصلوة جامعة" نو انصار ﷺ وويل غضب نبيکم السلاح السلاح چي نبي ستاسي ته درد ورغلی سلاح دروا خلی. سلاح دروا خلی." باره انصار ﷺ پر منبر نبوي ﷺ سره د سلاح شا وخوا را وګرځېدل" فقال رسول الله ﷺ اني قد اوتيت جوامع الكلم وخواتمه واختصر بي اختصارا ولقد اتيتكم بها بيضاء نقية(په تحقيق ماته د امړه سوی يعني د خدای ﷻ کلمات جامعه يعني چي معنا يې جزيل ده او لفظ يې قليل دی او خواتم د کلم او ما ته اختصار کړی دی خدای ﷻ په اختصار سره).

او ما راتګ کړی په هغو کلمو تاسي ته سپين او صاف يعني تغير او تبديل نسته پکښې) فلا تنهكوا ولا يغرنكم المتهوكون" عمر ﷺ وايي زه ور ولاړ سوم فقلت رضيت بالله ربا وبالاسلام دينا وبک رسولا ثم نزل رسول الله ﷺ انتهى مع بعض الزيادة للتوضيح والاختصار لبعض المقاصد والله اعلم.

نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ أَحْسَنَ الْقَصَصِ

مونږ بيان کوو وتاته يا محمد ﷺ هغه شه د قصو.

دروښ وايي: چي احسن يا مفعول به دی د نقص چي قصص مصدر په معنی د مفعول سي ای احسن ما نقص عليک وهو قصة يوسف ﷺ او يا مفعول مطلق دی چي قصص په معنی د اقتصاص سي. نو پر دې تقدير معنی يې دا ده نبين لک اخبار الامم الماضية مطلقا والقرون السابقه احسن البيان سواء كان اقتصاص يوسف ﷺ او غيره.

سوال: قصه د يوسف ﷺ احسن ده تر قصې د سيد الكونين والمرسلين ﷺ مع انه ليس كذالک؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: دا دی چې قصه د یوسف ﷺ په ځیل باب احسن القصص ده لا من جمیع ما یقص فی القرآن وباب قصة یوسف ﷺ سیجئ في هذه السورة او بعض علماً وایي چې مراد د اسم تفضیل ځخه ګاهي مطلق زیادة من وجه وي محی السنة بغوي رحمه الله وایي سمی الله قصة یوسف احسن القصص لما فیها من العبر والحکم والنکت والفوائد التي تصلح للدین والدنیا وسیر الملوک والممالیک ومکر النساً والصبر علی اذی الاعداً والتجاوز عنهم بعد الاقتدار وغیر ذالک کما سیاتي کل ذالک في آیات هذه السورة" او بعض مفسرین رحمهم الله وایي چې یوسف ﷺ د ابناً د بني اسرائیلو وو او نسب د ده احسن د انسابو وو کما ورد فی الحدیث النبوي الصحیح ان الکریم ابن الکریم ابن الکریم ابن الکریم" یوسف بن یعقوب بن اسحاق بن ابراهیم.

پوه سه: چې کرم اسم جامع دی د ټولو ما یحمد به من الصفات.

پوه سه: چې په یوسف ﷺ کې څو خواص جمع دي (۱) کونه ابن ثلاثة انبیاً متراسلین ای متصلین (۲) شرف د نبوة وو (۳) حسن السورة وو (۴) علم تعبیر الرؤیا (۵) ریاسة الدنیا (٦) حفاظة الرعیة في القحط (۷) ابتلائه بالبلایا المتنوعة من الاخوة وامرئة العزیز کما سیأتي کل ذالک في هذه السورة.

بِمَآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانَ وَإِن كُنتَ مِن قَبۡلِهِۦ لَمِنَ ٱلۡغَٰفِلِينَ

په سبب د دې د وحي زمونږ وتاته دا قرآن یعني هذه السورة والقرآن یطلق علی الکل والبعض اجماعا.

پوه سه: چې ما مصدریه دی ای بایحائنا..

فائده: ان مخفف د مثقل دی یعني انه کنت، الضمیر للشان او شان دا دی چې ته وې د مخه تر بیان زمونږ هر آئنه د غافلانو څخه د قصة یوسف او بعض مفسران وایي چې غافله وې د ټولو قصو او احکامو او شرائعو څخه.

دروښ وایي: چې دا احتمال د مقام سره بعید دی که څه هم صحیح دی.

پوه سه: چې مراد د غفلت څخه عدم العلم دی لکن تعبیر په غفلت سره دپاره د مراعات د علو شان د ځیل حبیب دی ﷺ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اِذْ قَالَ يُوْسُفُ لِاَبِيْهِ

ای اذکر یا محمد ﷺ چي وویل یوسف علیه السلام وخپل پلار ته یعني یعقوب بن اسحٰق بن ابراهیم.

تنبیه: یوسف لفظ عبراني دی نو ځکه غیر منصرف دی للتعریف والعجمة عبراني په بل عبارة عبري لغت وو د ابراهیم علیه السلام لکه سرياني چي هغه ژبه ده چي آدم علیه السلام به عمومي تکلم په کاوه وان کان یعلم اللغات کلها" په انوار المشارق کي وایي چي اسف په لغت کي غم ته وایي او اسیف مریي ته وایي او دا دواړي معناوي په یوسف کي سره یو ځای سوي" وهذه من الاتفاقیات العجیبة النادرة وسیئاتي اجتماع هذین المعنیین في یوسف علیه السلام في هذه السورة.

پوه سه: چي بعض علماً چي په عبري الفاظو کي عربي اشتقاق وایي، نو دوی وایي چي یعقوب او د ده ورور عیص غبر گولیان وه او په قرار د وتود رحم څخه د مور نوبت د یعقوب د مخ وو لکن عیص عصیان وکړی او د مخه تر یعقوب د مور د رحم څخه را ووتی او یعقوب په عقب کي د هغه یعني وروسته فلهذا اسمیا بهذین الاسمین" تاریخ وایي چي عیص دهر په وینښتیانو پټ شخصیت وو او یعقوب پر بدن وینښتیان لږ درلوده چي دې ته اجرد په عربي وایي او عیص پر پلار د هر گران وو او یعقوب پر مور" او عیص به همېشه بنکار کاوه او یعقوب به پسونه ساتل چي راعي او شپانه یې بولي. نو هغه وخت چي اسحاق د هر کلان ساله سو او په ستر گو ړوند سو وعیص ته یې وویل چي ماته د بنکار غوښي راوړه چي زما شوق ورته کېږي، او بیا ماته نژدې کښینه چي زه هغه دعا درته وکړم چي هر نبي ته خدای ﷻ یوه دعا مستجابه ورکړېده او نبي اکرم ﷺ هغه مستجابه دعا ځنډولي ده شفاعةً لامته. نو د یعقوب مور وده ته وویل چي ورسه یو پسه ذبح کړه بنې پوخ کړه. نو هغه چي پوخ کړی مور یې اسحاق علیه السلام ته راوړی او ورته وي ویل چي دغه دی شوا درله راووړه.

دروښ وایي: چي مور د یعقوب په دې خبره کي دواړه جنه نه وه ولي چي دې نوم د عیص نه دی وریاد کړی بلکه دا رنګه یې ورته وویل چي ستا زوی. نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يعقوب خو هم د اسحاق زوی وو) نو مورد يعقوب واسحاق ته وويل چې ستا مستجابه دعا ورته وکړه د اسحاق ﷺ دا خيال سو چې راوړونکی عيص دی، نو اسحاق ﷺ داسې دعا ورته وکړه چې هغه چا چې دا غوښې ماته راوړې (يعنې عيص نوم يې نه واخستی) د هغه په اولاد کې انبيا او ملوک پيدا کړې" يعقوب ولاړی وروسته چې عيص د بنکار غوښې غورمه وپلار اسحاق ته راوړې او پلار ته يې وويل چې دغه دي د بنکار غوښې مې درلـه راوړې اسحاق ﷺ وپوهېدی چې دمخه غوښې يعقوب راوړې وې، نو عيص ته يې وويل چې لويه مستجابه دعا يعقوب يو وړه، نو عيص ته يې وويل لکن يوه دعا زما پاته ده هغه به وتاته وکړم چې ستا اولاد دې خدای ﷻ دونه ډېر کړې لکه خاورې، نو وه عيص ته خدای ﷻ ډېر لوی نسل ورکړی دی" راويان وايي چې اسحاق په کنعان کې اوسېدی او د ده زوی اسماعيل په مکه کې متوطن وو، نو اسحاق ﷺ چې عمر يې (۱۸۰) کاله ته ورسېدی او علامات د وفات يې ولېدل نو پټ وصيت يې وکړی چې يعقوب د ده دماما د وطن په اطرافو کې د شام واستوئ" ولې پر دې ښه پدی چې عيص يې قتل نه کړي حسدا ولې چې عيص په معامله د غوښو کې چې اسحاق ته يعقوب ورورې وې قسم يې اخستی وو، چې زه به يعقوب وژنم، نو يعقوب ولاړی د ماما وطن ته چې نوم يې يحی بن ناهز وُ او هورې اقامت پذير سو او د ماما يې دوې لونې وې، يوه لايا نومېده چې هغه يې مشره وه او بله راحيل نومېده چې هغه کشره وه، نو يعقوب ﷺ وخپل ماما ته وويل چې يوه لور دې ماته په نکاح راکړه ماما يې ورته وويل چې نعم اووه کاله به زما خدمت کوې، يعقوب ﷺ ورته وويل چې ښه دی اووه کاله دې خدمت کوم راحيل به په نکاح راکوې ماما يې ورته وويل نعم يعقوب ﷺ چې اووه کاله خدمت وکړی نو هغه مشره لايا يې په نکاح ورکړه، يعقوب ﷺ ورته وويل چې زما سره دې چم وکړی ما خو کشره راحيل غوښتله ماما يې ورته وويل چې زمونږ دا قانون دی چې کشره لور تر مشرې دمخه په نکاح نه ورکوو، نو که کشره غواړې اووه کاله نور خدمت وکړه کشره به هم په نکاح درکړم، نو يعقوب ﷺ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اووه کاله نور خدمت وکړی نو کشره لور راحیل یې هم په نکاح ورکړه.

مسئله: جمع د نکاح د اختین په نکاح کې دمخه تر بعثت د موسی علیه السلام روا اوه.

فائده: ماما یې هري لور ته یوه مینځه د خدمت لپاره ورکړه چې یوه زلفه نومېدله او بله بلهة نومېدله هغو دوو مامنو د یعقوب علیه السلام لایا او راحیل دا دوې مینځیانې یعقوب علیه السلام ته ور وبخښلې. تاریخ وایي چې د لایا شپږ زامن وه (۱) روبیل (۲) شمعون (۳) یهودا (۴) لاوي (۵) یسجر (۶) زیالون. او یوه یې لور وه دنیه. او زلفه مینځې دوه زامن راوړه (۱) دان (۲) یفتالي. او بلهه هم دوه زامن راوړه (۱) جاد (۲) آشر. او راحیل څو کاله وچه وه. اخیر چې حامله سوه یوسف علیه السلام پیدا سو دا وخت د یعقوب علیه السلام یو نیوي (۹۱) کاله عمر وۀ. او یعقوب علیه السلام اراده وکړه چې آبایي وطن کنعان ته ولاړ سي سره د تولې فامیلې. او خدای جل جلاله د عیص له زړه څخه تولې عداوت د یعقوب ایستلی و. نو چې سره ملاقاتي سوه یو د بل په غاړه کې یې لاسونه واچول او د فراق اوښکې یې توی کړې، او په کلو کې د هجرت راحیل بیا امیدواره سوه بن یامین یې وزېږاوه، او دا په نفاس کې مړه سوه، یوسف علیه السلام د دوو کالو وۀ. او یوسف علیه السلام تر تولو زامنو پر پلار گران وۀ. او یوسف علیه السلام په شپه کې د جمعې چې د شب قدر شپه هم وه او دی د دوولسو کالو په عمر کې وۀ دا خوب یې ولیدی.

يَا أَبَتِ إِنِّي رَأَيْتُ

اې پلاره ما ولیدل یعنې په خوب کې فهو ماخوذ من الرؤیا لا من الرؤیة البصریة بدلیل ماقال له یعقوب لاتقصص رؤیاک آه. په تفسیر کواشي کې وایي الرؤیا في المنام والروية في العين.

راوي وایي چې یوسف وپلار ته نژدې بیده وۀ نابیره له خوب څخه په حال کې د دهشت راوغورځېدی، یعقوب علیه السلام ورته وویل چې ولې داسي سرګردانه یې او دهشت زده راوینې سوې، یوسف علیه السلام ورته وویل یا ابت الخ.

پوه سه: چې اصل د "یا ابت" یا ابي وۀ نو عوض د یا اضافت څخه تاراوړه په سبب د تناسب بین الیاً وتاً التانیث في ان کل واحدة منهما زیادة مضمومة الی اخر الاسم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: چونکه ندآ وپلار ته کثير الاستعمال ده نو ځکه يې په لفظ دال کې توسع وکړه چنانچه يا ابى، يا ابت بکسر التآ يا ابت بفتح التآ لکه ابو عامر المقري او ابو جعفر په تولـه قرآن بفتح التآ وايي يا اباه.

أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا وَّالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ رَأَيْتُهُمْ لِي سٰجِدِيْنَ ﴿۴﴾

يوولس ستوري، لمر او سپوږمى،

يوسف به پدر بزرگوار خود گفت که من بر سر کوه بودم که حوالى آن کوه انهار جارى واشجار سبز بود که واقعه رونما گرديد که زيازده ستاره وآفتاب و ماه.

پوه سه: چې شمس او قمر يې له ستورو څخه بېل راوړه وان کان هما ايضاً کوکبان لزيادة فضلها ونفعها على سائر الطوالع "رأيتهم لي سٰجدين" دا جمله مستأنفه ده گويا پلار ورته وويل چې څرنگه دي وليدل، يوسف وويل "رئيتهم" ما وليدل چې ماته تولو سجده وکړل يعني سجدة الانحناً لا سجدة العبادة. والاول هي المعتاد في زمانهم والثانية ممنوعة في جميع الشرائع لغير الله تعالى.

فائده: سٰجدين" يې په صيغه د جمع مذکر او په ضمير د هم راوړه او سره ددې چې دا مخصوص په عقلاؤ سره دى له دې سببه چې دا ستوري، لمر او سپوږمى موصوف په صفت د عقلاؤ چې سجده وگړځېدل، تأويل ددې څوب دادى چې يوولس ستوري عبارت دي د يوولسو ورنو دمېرې زامن او لمر عبارت دى له پلار څخه او قمر عبارت دى له خالـه څخه د يوسف ﷺ چې دده تربيه له کوچنيوالي څخه دې پر ذمه اخستې وه لان ام يوسف ماتت في نفاس بنيامين كمامر من قبل، او ابن جريج د قمر تعبير په پلار سره کړى او د شمس دا يې په خالـه سره کړى دى ولي چې لمر مؤنث دى لکن دا خبره ليس بشئ لان التانيث د شمس لفظي مخصوص بالعرب دى، ولهذا يقال لها مؤنث سماعي فلا وجه لتعبير الاب بالقمر والشمس بالخالة مع ان الشمس اضوء من القمر ونور القمر مستفاد من نور الشمس كما تقرر في كتب الرياضي، والشمس اعظم جرماً من القمر بمرات كما ثبت في الرياضي ايضاً.

دروښ وايي: چې مظهري او روح البيان په گډه له جابر بن عبد الله ﷺ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څخه روايت کړی دی چې يو يهودي چې نوم يې د بيهقي په روايت بستان د عليه الصلوة والسلام ته راغلی چې ددغو ستورو چې يوسف ته يې سجده وکړه نومان يې څه شی دي؟ عليه الصلوة والسلام يو ګړی ساکت وجبرئيل عليه السلام راغلی نومان يې وروښوول. بيا عليه الصلوة والسلام يهودي ته وويل که مې نومان دروښوول نو ايمان راوړې، يهودي وويل نعم عليه الصلوة والسلام داسې ورته ذکر کړه (۱) جرسان (۲) الطارق (۳) والذيال (۴) قابس (۵) عمودان (۶) الفليق (۷) الصبح (۸) الضروج (۹) الضرع (۱۰) وثاب (۱۱) ذو الکتفين، يهودي وويل اى والله نومان خو يې داغه دي لکن ايمان يې رانه وړی.

قَالَ يٰبُنَيَّ لَا تَقْصُصْ رُءْيَاكَ عَلٰٓى اِخْوَتِكَ فَيَكِيْدُوْا لَكَ كَيْدًا

وويل اې زويه ته بيان مه کوه ددې خوب پر وروڼو خپل، نو دوی به تاته يو عظيم چم وکړي يعني په پټه به ستا د قتل کوشش وکړي حسداً.

پوه سه: چې "بني" تصغير د ابن دی وجه د تصغير يې يا صغر سن د يوسف دی، قال البغوي رحمه الله چې يوسف عليه السلام په دغه وخت کې د مذکور رؤيا د دوولسو کالو وه، او يا تصغير لپاره د شفقت دی.

پوه سه: چې حفص رحمه الله له قرأ سبعه وو دلته "بني" او په سورت صافات کې په زور د يا وايي او نور قرأ يې په کسره د يا وايي.

پوه سه: چې مراد له وروڼو څخه هغه د مېړۍ زامن دي چې لس نفره وه، او بعض راويانو چې يوولس راوړي دي هغو دنيه هم حساب کړې ده لکن دا غلطه ده ولي دنيه خو بنځه وه او د دغو لسو ورڼو خور وه، کما في حواشي السعدي المفتي، او بنيامين هم نه دی پکښې حساب ولي چې هغه د راحيل زوی وه او د يوسف عليه السلام سکه ورور وه، نو د هغه د کيد بېره نه وه، نو صافي چې د کيد بېره پر وه لس نفره دي.

پوښتنه: دا خبره يعقوب عليه السلام ويوسف عليه السلام ته ولي وکړه؟

ځواب: يعقوب عليه السلام د يوسف عليه السلام له خوبه معلومه سوه چې خداى پاک به يوسف وه منصب ته ورسوي من النبوة والحکمة وشرف الدارين، نو له دې کبله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وبهر بدی پر حسد د ورښو او اهلاک دده، نو د پټ ساتلو د خوب مطلب دا ؤ چې نبايد ورونه دده په جريمه کې د قتل د يوسف واقع نه سي او د يوسف په باره کې يې دا مطلب ؤ چې په سختيو کې د حسد د ورونو واقع نه سي.

سوال: د يعقوب ﷺ خو دا يقين ؤ چې مدلول د يوسف ﷺ د خوب به خواه مخواه عالم وجود ته راځي، او خدای پاک مدلول ته د يوسف ﷺ د خوب تحقيق ورکوي او ورونه دده دا نه سي کولای چې دا رؤيا دي له منځه يوسي. او يوسف دي هلاک کړي، نو ولې يې يوسف ﷺ ته دا وويل چې "لاتقصص رؤياک آه؟

ځواب: د يعقوب ﷺ دا طمع وه چې خوب چې پټ وساتل سي يعنې ورونه يې په خبر نه سي نو دا رتبه عليا او منصب سامي به يوسف ته ښکله مشاقه او سخت حالاتو ورسېږي.

پوښتنه: دا قول د يعقوب ﷺ "فيكيدوا لك كيداً" غيبت د ورونو د يوسف نه دی؟

ځواب: لا ولې په دې وينا کې د يعقوب ﷺ ساتنه وه د لسو زامنو له ګناه ځخه او د يوسف د ضرر محتمل ځخه له جانبه د ورونو.

سوال: تا دمخه د ضرر محتمل کسان صافي لس وګڼل او په آيت کې خو داسې راغلي دي "اني رئيت احد عشر كوكباً الآية"؟

ځواب: ما خو وويل چې د بنيامين له خوا بهره د ضرر نه وه ولې هغه سکه ورور ؤ، لکن په سجده کې د خوب بنيامين هم شامل ؤ. حاصل دا چې ساجدين يوولس کسان دي کما سيأتي في القرآن الكريم وقت تحقق السجدة او حاسدين لس وه فلا منافات.

فائده: پوه سه! چې رؤيا مصدر ده رئى په خوب کې يعني مايقع في حالة النوم، او رؤية مصدر دی د رئى البصرية يعني د سترګو د ليدلو، والفرق بين المصدرين په تأنيث د رؤيا، النوم بالياً وتانيث مصدر الثاني بالتاً مثال ددې قربت دی چې تقرب معنوي د خدای ﷻ وايي بالطاعة والاذكار مثلاً والقربى چې التقرب النسبي ته وايي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې رؤیا دري قسمه ده: (۱) حدیث النفس دی چې نائم په ویښه یو کار کوي په خوب کې هم په هغه کار اخته وي دا خوب تعبیر نه لري نه سړی باید په خوشاله سي او نه په خوابدی. او دوه قسمه نور چې مسلم یې له ابي قتاده رضي الله عنه څخه روایت کړی دی قال قال رسول الله ﷺ الرؤیا الصالحة من الله والرؤیا من الشیطان فمن رئ رؤیا فکره منها شیئ نو دري واره دي توکي پر چپه طرف او ددې څخه دي پناه وغواړي له شر څخه د هغه خوب فانها لاتضره، او هیڅ چا ته دي هغه خوب نه وایی، وان رئ رؤیا الحسنة نو دي په خوشاله سي (ولي داد خدای ﷻ څخه دی کما جاء في حدیث آخر صحیح، او نه خوب دي نه وای مګر دوست ته، وقد ورد في الحدیث الصحیح الرؤیا الصالحة جزء من ستة واربعین جزء من النبوة.

دروېش وایي: چې ددې عدد شپږ څلوېښت دی، سړدادی چې علیه الصلوة والسلام شپږ میاشتي تر نبوت دمخه صادقه خوبونه لیدل چې هغه به په ویښه لکه د سپهدو چاودل متحقق کړ څېدله کما في البخاري بروایة عائشة رضي الله عنها او زمانه د نبوت د علیه الصلوة والسلام درویشت کاله وه بالاجماع، نو شپږ میاشتي د درویشت کالو شپږ څلوېښتمه حصه کا لا یخفی.

دروېش وایي: چې په تحقیق کې د ماهیت د خوب او تعبیر د خوبو یو اسانه کار نه دی که څوک غواړي چې زه دي د دې خبرو په تفصیل پوه سم، نو تعبیر المنام د عبد الغني النابلسي رحمه الله او کتاب د رئیس المعتبرین علامه ابن سیرین رحمه الله او کتاب د ابن شاهین رحمه الله چې دا دري سره په یوه جلد کبیر کې چاپ سوي مطالعه کړي "ما لا بد منه" بعض ملایان د مبتدعانو چې وایي چې خوبونه ټوله خیالات فاسده دي" د قرآن کریم او د آحادیثو مبارکه وو څخه مخالف دي فلا یعبیا به.

إِنَّ الشَّيْطَانَ لِلْإِنسَانِ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ۝

په تحقیق سره شیطان لپاره د نوع د انسان دښمن دی ښکاره یعني خپل دښمني یې ښکاره کړې ده اذا خرج آدم وحوا یوسوسته وقوله هل ادلکم علی شجرة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الخلد الآية او د آدم او حوا ځخه يې کالي د نور وکښه "آيت کريمه" فطفقا يخصفان من ورقة الجنة الآية" او ابليس قسم کړی دی "کريمه" لاحتنکن ذريته الآية".

بوه سه: چې دا جمله مستانفه ده چې ځه رنګه به ورونړه د يوسف ﷺ داسې کار وکړي چې د يوسف ﷺ په هلاک او اضرار کې به سعي وکړي حسدا سره د دې چې ورونړه د يوسف ﷺ خو د خاندان ځخه د نبوة وه" فاجيب بان الشيطان يحمله على الحسد مع يوسف ﷺ والاضرار له بكل مايمكن لهم.

مسئله: اولاد د يعقوب ﷺ خو انبيا وه والانبيا معصومون عن الكبائر قبل النبوة وبعدها عن الصغائر والكبائر فكيف يتصور منهم الحسد الذي هو كبيرة وغير ذالک.

دروښ وايي: چې ما يوه رساله لطيفه چې پر هغې د علماؤ د قندهار اوّد مشاتخو د هرات امضاګاني هم سته ٭په باب کې د عصمت د انبياؤ تصنيف کړې ده او معتبرو فتاوی وو ځخه د فقهي او د احاديث صحيحه وو ځخه هم نقل په کښې کړی دی او د ډيرو زمانه دمخه چاپ سوې ده چې په نامه د (کشف الغطا عن عصمت الانبيا) ده، او شايد چې اوس به هم په بعض کتابخانو کې د کوتې موجوده وي.

والجواب: سيد محمود آلوسي په روح المعاني ص ۱۸۲ _ ۱۸۳ کې وايي والظاهر ان الفهم (يعني اخوة يوسف ﷺ كانوا بحيث يكون للشيطان عليهم سبيل) يعني لکه قابيل چې آدم ﷺ زوی وو او خپل ورور هابيل يې د شهوت پرستي پر بنياد قتل کړی) روح المعاني ويلي دي ويؤيد هذا انهم لم يكونوا انبيا (حتى لايكون للشيطان عليهم سبيل ويكونوا محجوبين بحجاب العصمة) ثم قال والمسئلة (يعني مسئلة د نبوة د انبا يعقوب) خلافية فالذي عليه الاكثرون سلفا وخلفا انهم لم يكونوا انبيا اصلا (يعني لا فى الحال ولا فى الازمنة اللاحقه) فاما السلف رضي الله عنهم فلم ينقل من احد من الصحابة رضي الله عنهم منهم انه قال بنبوتهم" ولا يحفظ من التابعين ايضا او په اتباع التابعين د ابن زيد ځخه دا نقل سوي دي چې د اولاده د يعقوب بنيان بوللل روح المعاني وايي وتابعه شرذمة" او متابعت کړی د ابن لږو کسانو" واما الخلف رضي الله عنهم هغه ځو فرقي دي بعض په قول د ابن زيد قائله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی لکه بغوي رحمه الله لوی همکار دی" او هم مذهب دي" دا قدر يې ويلي دي لکن په نقل د قيل ان انبائه کان کلهم انبياً وروسته په قيل دا راوړی وقيل المراد بهم انبياً بني اسرائيل الذين کانوا من ذرية يعقوب عليه السلام.

دروښ وايي: چې که مظهري ته يو منقول شي د صحابه رضي الله عنهم وو او يا د تابعينو ورته معلوم وای حتماً به يې را نقل کړی وای.

پوه سه: چې امام قرطبي رحمه الله په خپل تفسير کي ډېره مبالغه کړې ده په رد کي د قول د ابن زيد" او ابن کثير يې په خپل تفسير کي هم ډېر سخت رد کړی دی او بعض مفسرين صرف دا دوه قوله يعني نبوة اولاد يعقوب او عدم نبوتهم رانقل کړی دی بلا ترجيح کسبط ابن الجوزي او بعض مفسرينو دا مسئله نه ده راوړې بالکلية لکن د اثاراتو څخه داسي فهمېږي چې اولاد د يعقوب نبيان نه وه ولي چې اسباط د لفظ چې په هغه آيت کي راغلی دی "قل آمنا بالله وما انزل علينا وما انزل على ابراهيم واسمعيل واسحق ويعقوب والاسباط الآية" په اولاد د يعقوب عليه السلام نه دی کړی بلکې داسي يې ويلي دي بمن نبي من بني اسرائيل يعني چې وروسته په بني اسرائيلو کي نبيان پيدا سوي دي، دا ؤ تفسير واحدي او د ابو الليث السمرقندي خبره په خپل تفسير کي، او بعض مفسرين هيڅ بحث د نبوت او د نه نبوت ددوی کړی دی لکن تفسير د "اسباط" يې په اولاد د يعقوب کړی دی، نو خلګو له دې تفسير څخه دا وفهمول چې دا قول په نبوت ددوی کما يفهم من الآية المتلوة آنفاً، لکن روح المعاني وايي چې لفظ د اسباط صريح نه دی په اولاد کي بلکې مراد ځني ذريه د يعقوب عليه السلام ده الذين بعث الله فيهم انبياً بني اسرائيل، ونقل صاحب روح المعاني حاصل قول ابن تميه في رسالة خاصة له في هذه المسئلة وهذا قوله "الذي يدلي عليه القرآن واللغة والاعتبار ان اخوة يوسف ليسوا بانبياً وليس في القرآن ولا عن النبي ﷺ ولا عن احد في اصحابه رضي الله عنهم خبر بان الله تعالى بنائهم وانما احتج من قال ذالک اى نبوتهم بقوله تعالى في آيتى البقرة والنسأ والاسباط كماامر وفسر ذالک القائل الاسباط باولاد يعقوب والصواب انه ليس المراد بهم اولاد لصلبه بل ذريته كما يقال لهم بنو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اسرائيل وكما يقال لسائر الناس بنو آدم. ولي تولـه خلگ خو زامن د آدم عليه السلام نه دي بلكي ذريه يې ده، ثم قال فتخصيص الاسباط في الآية بنبيه عليه السلام لصلبه غلط لايدل عليه اللفظ ولا المعنى ومن ادعاه فقد غلط واخطأ خطأ بيناً الى اخير قول ابن تيميه الذي نقله صاحب روح المعاني.

دروښ وايي: چې په قول د روح المعاني له زامنو څخه د يعقوب قرار ذيل كبيره گنهونه صادر سوي وه (۱) حسد د يوسف عليه السلام سره په سبب د محبت د پلار دده سره تر نورو زامنو ډېر (۲) عقوق د يعقوب عليه السلام چې په حيله يې يوسف څنې جلا كړی حتی چې په اوږدو كې د فراق د يوسف يعقوب عليهما السلام په دواړو ستر گو ږوند سو كما سيئاتي (۳) دوی چې يوسف عليه السلام وصحراً ته ويستی قسم قسم وهل پر مخ غورځول الى غيرها ده ته ورسول (۴) بعض ورونو وويل چې يوسف به قتل كړو لكن په دوی كې هغه مهربانه ورور وويل چې تاسي يوسف مه وژنئ بلكې په غيابة الجب كې چې په هغه دښت كې يو ژور څاه ؤ واچوئ. نو په ملا كې يې رسی ورواچول او قميص يې څنې وكښی تر يو ځايه چې يې ورشوه كړی رسی يې پرې كړه يوسف عليه السلام چې د څاه بېخ ته ور رسېدی جبرئيل عليه السلام ټينگ كړی په څاه كې تر اوبو يوه لوړه ډبره وه پر هغه يې كښېنوی او هغه قميص چې د ورېښمو ؤ يعقوب عليه السلام د تعويذ په شان د يوسف عليه السلام په غاړه ورځړولی ؤ چې هغه قميص د ابراهيم عليه السلام ؤ چې نمرود دی اور ته ورغورځاوه قميص يې څنې كښلی ؤ، نو جبرئيل دغه قميص له جنته ور ته راوړی ؤ په ابراهيم عليه السلام يې اغوستی ؤ چې هغه قميص لاس پر لاس يعقوب ته په ميراث پاته سوی ؤ او يعقوب عليه السلام د يوسف عليه السلام په غاړه په مثال د تعويذ ځړولی و.

(۵) مانبام چې كور ته راغله او هغه قميص يې د پسه په وينو لړلی ؤ او د درواغو ژړا يې كوله پلار ته يې درواغ وويل چې مونږ سات تېر اوه يوسف مونږ كالو ته كښېنولی ؤ فاكله الذئب كما سيئاتي في هذه السورة (٦) دوهمه ورځ دوی هغه څاه ته ورغله چې د يوسف عليه السلام د ژوند او مرگ معلومات څان ته حاصل كړي، نو يې ور ناري كړې يوسف؟ د يوسف عليه السلام دا خيال سو چې ما له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځاه ځخه کاږي نو يې دوی ته جواب ورکړی چي هاا دوی يوه لويه ډبره ځاه ته ور وغورځول چي يوسف په قتل کړي. نو خدای ﷻ ځني وساتی. او دوی چي وروسته هر څه ناري يوسف عليه السلام ته وکړی ده جواب نه ورکاوه له بېرې. نو ددوی دا خيال سو چي يوسف يا قتل سو يا تېې سو ځني ولاړه. درېيم ورځ بيا ځاه ته راغله که ګوري چي يوه قافله چي مصر ته روانه وه د ځاه پر شاوخوا يې اړولي وه نو هغه د اوبو د راکښلو لپاره ځاه ته ورغلي وه سولاغه چي يې ځاه ته ورشوه کړه. يوسف عليه السلام په سولاغه کي کښېنستی او په مرانديپوري يې لاسونه ټينګ کړه سولاغه چي د ځاه خولې ته راغله يوسف ماه تابان وځلېدی. سولاغه کشونکي ناري کړې هذا غلام دوی چي ورغله يوسف يې ژوندی وليدی. نو يې په عبري ژبه ورته وويل چي فهم کوه چي حال ونه وايه. نو قافلې والاوو ته يې وويل چي دا زموږ مريی دی چي ځو واره زموږ ځخه تښتېدلی دی. موږ يې خرڅوو. نو هغو ځني رانيوی. نو ورونو يوسف عليه السلام پر کافرانو خرڅ کړی. دا شپږ ګناهوي هره يوه کبيره ګناه وه. نو خبره اوس داده چي انبياً عليهم السلام په نيز د اکثرينو فقهاً. محدثينو او مفسرينو له کبيره ګنهو ځخه قبل النبوة وبعدها معصوم دي. البته په صغائرو کي قبل النبوة اختلاف ستة. نو که اولاد د يعقوب حالاً يا مآلاً انبياً وای. نو دا کبائر ګنهونه ځرنګه ددوی ځخه صادر سوه. نو عدم النبوت ددوی په برهاني توګه ثابت سو. هذا ما عقد عليه صاحب روح المعاني والامام القرطبي. او بل دليل د عدم نبوت ددوی دادی چي خدای ﷻ چي انبياً د ذرية ابرهيم ذکر کړي په قرآن کريم کي داسي يې ويلي دي من ذريته داؤد وسليمان الى اخير الآيات فذکر يوسف ومن معه ولم يذکر اخوة يوسف عليه السلام نو که دوی نبيان وای نو دوی به يې هم ذکر کړي وای لکه يوسف عليه السلام چي يې ذکر کړی. او بل دليل د عدم نبوت ددوی دادی چي خدای پاک د انبياً عليهم السلام په قرآن کريم کي داسي محامد او ثنا ذکر کړې ده چي مناسب د حال سره د انبياً وي که څه هم قبل النبوة وي کما لا يخفى على ماطالع القرآن الکريم. او په حديث صحيح کي راغلي دي اکرم الناس يوسف بن يعقوب بن اسحاق بن ابراهيم. نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

که چېري وروڼه د يوسف عليه السلام انبياً واى لشاركوه في هذا الكرم، او سره ددې چې خداى پاک چې په دې سورت کې قصه د وروڼو د يوسف ذکر کړې ده وما فعلوا باخيهم وذكر وقت اجتماعهم بيوسف في مصر وذكر اعترافهم بالخطيئة وطلبهم الاستغفار من ابيهم كما سيأتي مفصلاً في هذه السورة ولم يذكر من فضلهم ماينا سب النبوة وان كان قبل النبوة فعلم انهم ليسوا بانبياً ، او بل دليل د عدم نبوت ددوى دادى چې خداى پاک نه دي ذکر کړې د هيڅ چا د انبياً عليهم السلام حال نه قبل النبوة او نه بعد النبوة چې هغه دي دومره عظيمه گنهونه کړي وي لکه اولاد د يعقوب عليه السلام چې وکړه كمامر تفصيلها من عقوق الوالد ، وقطيعة الرحم وارقاق المسلم يعني يوسف عليه السلام وبيعه على كفار مصر والكذب البين للوالد اكله الذئب ولتجار مصر من ان هذا غلامنا.

تفريع: نو هغه عذر د بعضې علماؤ لکه بغوي او مظهري چې وايي چې دا کارونه او جرائم چې دوى کړي وه قبل النبوة وه فلا يمنع ذالک النبوة بعدها كذا قال روح المعاني في صفحه ۱۸۴.

دروېش وايي: چې صاحب د روح البيان هغه محقق مفسر دى چې دا مسئله يې ډېره په تحقيق سره څېرلې ده، دروېش له دې تحقيق څخه چې عدم نبوت ددوى ثابت سو او پر دې خبره اجماع د ټولو مجتهدينو ده چې نورانې پرده د عصمت عن الذنوب يوازې او يوازې پر انبياً عليهم السلام اواره ده، نور مؤمنان که څه هم اولياً او صلحاً وي له دې عصمت څخه برخه نه لري يعني د شيطان د غوا لار ورته خلاصه دهو ، يعبد صدور الذنب عن الولي لكن الفرق بين الولي والعامي في صدور الذنب ان الولي اذا صدر عنه الذنب يبادر الى العذر والتوبة، وقد ورد في الحديث الصحيح ان التائب من الذنب كمن لا ذنب له، واما العاصي فيقول سوف اتوب سوف اتوب وقد يموت في ذالک بلا توبة اعاذنا الله من مثل هذه المقالة والموت بلا توبة بفضله وكرمه.

پوښتنه: ډېر علماً په شک کې دي خوب د يوسف عليه السلام اچولې دي "اني رئيت احد عشر كوكباً" دوى رايي که وروڼه د يوسف عليه السلام نبيان نه واى نو په سورت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کي د ستورو څرنګه په عالم مثال کي ښکاره کېدل؟

ځواب: انهم کانوا مؤمنين صالحين لکن الشيطان اوقعهم في ورطة الحسد ففعلوا مافعلوا، والمؤمن الصالح قبل الصدور الذنب عنه لايبعد ظهوره في صورة الکوکب في عالم المثال وکان رؤيا يوسف عليه السلام قبل صدور الذنب عنهم، کما يدل عليه القصة. او دا احتمال هم سته چي ظهور ددوی په صورت د ستورو په عالم مثال کي دي کرامة النسب د يعقوب عليه السلام وي.

پوښتنه: د اولياؤ کرامو رحمهم الله څخه کبيره ګناه ګاه صادرېږي؟

ځواب: نعم! د رسول الله ﷺ اصحاب رضي الله عنهم چي په اتفاق اولياؤ د امت مرحومه وه علی تفاوت مراتبهم کيف صدر عن ماعز الاسلمي رضي الله عنه باعترافه بالزنی والتوبة النصوح عنه وتسليم نفسه الی الرجم کما في البخاري وغيره من الکتب الصحاح. او داغه رنګه په غزا کي د تبوک چي درې کسه د اصحاب کرامو رضي الله عنهم له دې غزا څخه بلا عذر پاته سوه او په نتيجه کي عليه الصلوٰة والسلام تولو صحابه ددوی له خبرو او سلام څخه پينځوس ورځي بند کړي وه اخير الامر خدای پاک ددوی توبه قبوله کړه او دا آيت نازل کړل سو "وعلی الثلثة الذين خلفوا الآية" فافهم.

دروېش وايي: پنې خبري دېرې طولاني سوې لپاره د تحقيق د مسئلې د اولاد د يعقوب عليه السلام چي دهر مختلف فيها مسئله وه، اوس بيرته د قرآن کريم د تفسير پر لور.

وَكَذٰلِكَ يَجْتَبِيْكَ رَبُّكَ وَيُعَلِّمُكَ مِنْ تَأْوِيْلِ الْاَحَادِيْثِ

يعني لکه چي ته مختاره کړې په دغه زېبا خوب سره چي دلالت صريح ستا پر فضل او کمال باندې ثابته مختاره کړي رب ستا للنبوة والملک والامور العظام، والاجتبا من جبت الشئ اذا اخلصة لنفسک يعني يظهر الله مصداق تلک الرؤيا في عالم الشهادة کما سيأتي في القرآن الکريم. او تاته به وښيي يعني خدای پاک تأويل يعني تعبير د خبرو يعني خوبو لان الرؤيا ان کانت من جانب الملک کانت صادقة وان کانت من قبل الشيطان فهي کاذبة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: تعبير ته د خوب يې ولې تعبير وايه؟

ځواب: لان التعبير ما يؤل اليه امر الرؤيا لان التعبير هو المراد من الرؤيا.

دروښ وايي: چې صاحب د روح البيان وايي چې ويعلمک آه کلام مبتدا دی يعني داخل په حکم کې د تشبيه نه دی نو مبتدا ورسره مقدر ده يعني وهو يعلمک من آه لانه يشبه الاجتبا بالاجتبا والتعليم غير الاجتبا. او مظهري وايي چې ظاهره داده چې يعلمک آه او ويتم نعمته آه عطف دی پر "يجتبيک آه" باندې لان تعليم التأويلات واتمام النعمة من انواع الاجتبا فهو من عطف الخاص على العام لپاره د اهتمام په امر د خاص.

دروښ وايي: چې صاحب د روح المعاني په دې عطف کې اوږدې خبرې کړې دي او دواړه قولونه يې رانقل کړي دي ولا فائدة في نقله سوى القا الشكوک والشبهات في قلوب المتعلمين.

وَيُتِمُّ نِعْمَتَهُۥ عَلَيْكَ وَعَلَىٰٓ ءَالِ يَعْقُوبَ

"ويتم نعمة عليک" يعني بالنبوة والملک "وعلى آل يعقوب" المراد بهم انبيا بني اسرائيل من ذرية يعقوب عليه السلام لا اولاده وقد سبق تحقيق ذالک بما لا مزيد عليه قريباً.

كَمَآ أَتَمَّهَا عَلَىٰٓ أَبَوَيْكَ مِن قَبْلُ إِبْرَٰهِيمَ وَإِسْحَٰقَ

"كما اتمها" اى النعمة "على ابويک" يعني جد د يوسف چې اسحاق دی او پلار د جد دده چې ابراهيم على نبينا وعليهم السلام دی "من قبل" دمخه تر اتمام پر تا اې يوسف "ابراهيم واسحق" عطف بيان دی د ابويک وقدم ابراهيم على اسحاق تعظيماً لشانه.

إِنَّ رَبَّكَ عَلِيمٌ حَكِيمٌ

په تحقيق ستا خدای ښه خبر دی يعني بمن يستحق الاجتبا واتمام النعمة على اهلها او په هر کار کې حکمت لري بې فائدې کار نه کوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لَقَدْ كَانَ فِيْ يُوْسُفَ وَاِخْوَتِهٖٓ اٰيٰتٌ لِّلسَّآئِلِيْنَ ۝

پوه سه: چي لام موطئه د قسم محذوف دی ای والله په تحقیق وه په قصه کي د یوسف او ورنهو دده یعني هغه ورونه دده چي په مور نه وه د یوسف علیه السلام سره شریکان چي د هغو تعداد لس ؤ چي شپږ له هغو څخه له بطنه د لیا بنت لیان وه چي د یعقوب علیه السلام د ماما لور وه کما ذکرنا من قبل، او د لیا له نس څخه یوه لور وه چي دنیه نومیدله. او څلور زامن د دوو مینځیانو وه چي یوه زلفه نومیدله ددې زامن دان او تفتان وه او بله مینځه بلهه نومیدله چي ددې زامن جاد او اشر نومیدل کما ذکرنا، کذا قال البغوي. بغوي رحمه الله وایي چي لیا چي وفات سوه یعقوب علیه السلام د هغې خور راحیل په نکاح کړه چي له هغې څخه یوسف او بنیامین پیدا سوه، نو اولاد د یعقوب علیه السلام ټوله دوولس نفره سوه. او قاضي بیضاوي خلافاً للبغوي وایي چي یعقوب علیه السلام دواړې خوندي په یوه وار سره جمع کړې وې. او بیضاوي وایي چي جمع الاختین في النکاح روا وه دده په دین کي والله اعلم بالصواب والیه المرجع والمآب "آیت للسآئلین" یعني آیات عظیمه. فالتنوین للتعظیم والجمعیة للتذکیر یعني ډیر لوی علامات د قدرت او متعددي علامې د قدرت الهي دي چي مشرانو اولادو د یعقوب علیه السلام اذلال بلکې وه قتل ته دده قصد وکړی وفعلوا مافعلوا کما سیأتي في هذه السورة، په مقتضی د آیت کریمه "وتعز من تشآ وتذل من تشآ بیدک الخیر" خدای پاک یوسف علیه السلام ته نبوت ورکړی سره د سلطنته چي صدر اعظم د مصر وګرځیدی او ورنه دده یې منقادین مطیعین خاضعین ورته راوستل وهذا من اجل الدلائل علی قدرته الباهرة د هغه کسانو لپاره چي سوال د قصه یوسف یې کاوه. په تفسیر حسیني کې وایي: آورده اند که چون یوسف خواب مذکور به پدر بزرگوار خود گفت ویعقوب علیه السلام بکتمان آن خواب یوسف را وصیت نمود وباجتبآ واتمام نعمت یوسف را مژده داد، بعض از زنان برادران او آن گفت وشنید یعقوب ویوسف علیهما السلام شنیدند ووقت شام که برادران بخانه آمدند صورت حال را باز نمودند، ایشانرا عرق حسد بحرکت آوردند بتدبیر درمقابل تقدیر الهي مشغول شدند، و یهودا، روبیل و شمعون گفتند که یوسف تنها

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بسجده مایان اکتفاً ننمود بلکه بل پدر ومادر را هم بسجده آوردند وبتدبیر مشغول شدند کما قال الله تعالی.

إِذْ قَالُوا لَيُوسُفُ وَأَخُوهُ أَحَبُّ إِلَىٰ أَبِينَا مِنَّا وَنَحْنُ عُصْبَةٌ

دوی ووېل والله، نو لام موطئه د قسم چې یوسف او ده سکه ورور بنیامین، گران دي دواړه زموږ پر پلار تر موږ.

سوال: یوسف علیه السلام او ده ورور خو دوه نفره دي، نو ولي یې احب مفرد راوړی؟

ځواب: په نحو کې وایي چې اسم تفضیل چې دلته احب دی) چې مستعمل په من سره وي (لکه دلته په منا کې) مفرد، تثنیه او جمع مذکر او مؤنث پکښې برابر دي "ونحن عصبة" او حال دادی چې موږ یو جماعت لس کسه، قال الفراً العصبة هي العشرة فما زاد، ددې مقصود دا ؤ چې موږ حقدار یو په محبت سره تر یوسف او ورور دده ولي چې موږ په قوم کې اهل الحل والعقد یو او دوی کشران هلکان دي.

إِنَّ أَبَانَا لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ

په تحقیق زموږ پلار په ضلال مبین کې دی،

دروښ وایي: چې مراد ددوی ضلال د پلار له دین څخه نه دی ولي که مراد ددوی ضلال مذکور وي نو خو دوی په دې نسبت سره کافران کېدله، بلکې مراد ددوی خطاً مبین ده د یعقوب علیه السلام ده په دنیاوي چارو کې، ولي چې موږ د پسو رمه ورپیایو او د دښمن ومخ ته ولاړ یو فنحن اولی بالمحبة من الطفلین یوسف واخیه بنیامین.

اقْتُلُوا يُوسُفَ

نو مړ کړئ یوسف.

دروښ وایي: چې صاحب د روح البیان وایي چې حسد خو ام الکبائر دی او انبیاً خو معصوم له کبائرو څخه وي. وروسته یې ځواب ورکړی دی لکن دا خبره د روح البیان بناً پر دې ده چې اولاد د یعقوب علیه السلام وروسته نبیان ګرځېدلي دي او موږ ددې مسئلې پوره تفصیل او په زړه پورې تحقیق وکړی چې دغه اولاد د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يعقوب عليه السلام نه په وخت کي د حسد انبيا وه او نه وروسته فتذکر هداک الله.

وهب بن منبه وايي چې د قتل مشوره شمعون رحمه الله ورکړه. او کعب رضي الله عنه وايي چې دان ورکړه او مقاتل رحمه الله وايي چې روبيل ورکړه.

پوښتنه: د اقتلوا يوسف مشوره خو پر هر صورت يو ورور ورکړې وه. نو د اقتلوا نسبت وټولو ته څرنګه وکړل سو؟

ځواب: قاتل که څه هم يو ؤ لکن هغه نور په راضي وه الا من قال لاتقتلوا يوسف، نو اسناد وټولو ته په اعتبار ددوی صحيح دی مجازاً نحو بنو فلان قتلوا وان کان القاتل واحداً منهم لرضا الکل بقتله.

اَوِاطْرَحُوْهُ اَرْضًا يَّخْلُ لَكُمْ وَجْهُ اَبِيْكُمْ

او يا يې وغورځوئ په يوه نابلده مځکه کې چې له آبادی څخه لېرې وي نو ارضا چې يې نکره راوړې او مبهم يې راوړې معنا يې هم د هغه لېرې والي له آبادی څخه. نو ځکه يې ارضاً منصوب کړې لکه ظروف مبهمه يعني قدام وخلف ويمين وشمال الی غير ذالک "يخل لکم" يعني که يې قتل کړئ او که طرح خالي به سي يعني صاف به سي. المراد بالوجه التوجه يعني توجه د پلار يعقوب عليه السلام به وتاسي ته راوګرځي او بل چا ته به التفات نه کوي او شغل د زړه به يې له محبت څخه د يوسف خلاص وګرځي ولا ينازعکم في محبة احد "يخل لکم" جواب د امر دی.

وَتَكُوْنُوْا مِنْۢ بَعْدِهٖ قَوْمًا صٰلِحِيْنَ ۝

عطف دی پر "يخل" او تاسي به وګرځئ وروسته تر قتل د يوسف يا تر طرح د هغه له قوم صالحينو څخه معنی تائبين الی الله تعالی من جنايتکم. او خدای پاک به عفوه راته وکړي، او يا معنا داده چې د پلار سره به صلح کاذبانه وکړې کما قالوا بعد القا يوسف في الجب اکله الذئب.

قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ لَا تَقْتُلُوْا يُوْسُفَ وَاَلْقُوْهُ فِيْ غَيٰبَتِ الْجُبِّ

وويل يو قائل له دوی څخه چې تاسي مه وژنئ يوسف يعني قتل خو ګناه کبيره ده، قائل ددې قول بعض وايي يهودا ؤ. او بعض اهل تاريخ لکه قتاده رحمه الله وايي چې روبيل ؤ. او بغوي رحمه الله اول روايت صحيح بللی دی والعلم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عند الله "وايي چاوه وبهخ ته د ژور څاه (کوهي)"

پوه سه: چي غيابة هر هغه شي ته وايي چي ستا له سترګو څخه شي پټ کړي. نو بهخ ته د څاه په دې غيابة وايي چي دی پټوي له سترګو څخه د ناظرينو شی چي هورې وي، په قاموس کي وايي چي جب نفس څاه ته وايي او هغه څاه ته هم وايي چي ډبري اوبه پکښې وي او بهخ يې لهري وي يعني ژور وي.

يَلْتَقِطْهُ بَعْضُ السَّيَّارَةِ إِنْ كُنْتُمْ فٰعِلِينَ ﴿١٠﴾

دی به واخلي بعض مسافران چي پر دې څاه تهر ېږي والالتقاط في اللغة اخذ الشيئ مما لا يحس به، که تاسي ياست چي زما په مشوره کار کوئ، نو داغسي وکړئ او يا معنی دا ده چي که تاسي هغه کار کوئ چي يوسف اوپلار سره جلا کوئ، نو دغسي وکړئ د يهودا غرض دا وو چي بېله مرګه به د ده څخه خلاص سو او په عين حال يهودا هغه مشفق د ورنړو وو پر يوسف چي د قتل يې په دې ډول دی وساتی.

فائده: هغه وخت چي د ګردو ورنړو اتفاق پر رايه د يهودا وسو، يعني چي په غيابت الجب کي به يې واچوو، نو ټوله راغله وپلار يعقوب ته کښينستل او داسي ورته وويل.

قَالُوا يٰٓأَبَانَا مَا لَكَ لَا تَأْمَنَّا عَلٰى يُوسُفَ وَإِنَّا لَهُ لَنَاصِحُونَ ﴿١١﴾

ای زمونږ پلاره څه سبب دی چي ته مونږ امينان نه بولې يعني زمونږ څخه ولي بېرېږې، پر يوسف باندې او په تحقيق مونږ د ده خير خواه يو" او د ده مصلحت غواړو او خوشحالي غرض يې دا وو چي پلار ه د ګمان څخه د حسد پر دوی او بد ګماني واړه وي.

أَرْسِلْهُ مَعَنَا غَدًا يَرْتَعْ وَيَلْعَبْ وَإِنَّا لَهُ لَحٰفِظُونَ ﴿١٢﴾

واستوه يوسف زمونږ سره صباح يعني الى الصحرا يعني چي وخت د پسرلي دی صحرا او دښتونه ګل او ګلزار دي، نو د يوسف څخه به د کور دغت لهري سي او په صحرا کي به ډېر خوشاله سي، څړ به وکړي يعني د صحرا بعض شيان به وخوري لکه تاتکي "غوی ناړي" پکي پاپکي" او پوځکی" او دی په صحرا کي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سات تېر کړي په غشي وشتلو سره او د صحرا د هوسيو او سويانو يا مرغانو ښکار به وکړي، او مورِد ده ساتونکي يو د هر ضرر او مکروه څخه... بيت:

حريفان در بهار عيش خندان ..... من اندر کنج غم چون درد مندان

راوي وايي ونړو د يوسف دی د صحرا وسيل ته راغب او رازي وګرځاوه

موسم گل دو سه روز است غنيمت دانيد
که ديگر نوبت تاراج خزان خواهد بود

دروښ وايي: چي په دې آيت دليل دی د دې چي صحرا ته وتل د سيل او ساتېري دپاره روا دی چي د کور دغټ په دفعه کړي لکن په شرط د دې چي محرمات د شرع شرېفي په ميله کي نه وي لکه د زمان حاضر د ځوانانو په ميله کي رباب "ډول" سرنا" او شوقيان" مېلي ته ېيول او نور منهيات موجود دي.

قَالَ اِنِّیْ لَیَحْزُنُنِیْۤ اَنْ تَذْهَبُوْا بِهٖ وَ اَخَافُ اَنْ یَّاْكُلَهُ الذِّئْبُ

يعقوب عليه السلام وزامنو ته وويل په باره کي د ېيولو صحرا ته چي په تحقيق ما په غم کي اچوي دا خبره چي تاسي ېيا ياست يوسف يعني اوله خبره خو داده چي د يوسف فراق د ځان څخه نسم برداشتولای او دوهمه خبره دا ده، او زه ېيرېږم پر دې چي يوسف به وخوري ليوه، ولي چي په کنعان کي ليوان ډېر وه او بغوي رحمه الله وايي چي يعقوب په خوب کي ليدلي وه چي يو ليوه پر يوسف حمله وکړي، نو د هغه خوب په سبب دی د ليوه څخه پر يوسف عليه السلام ېيرېدی.

پوه سه: چي حزن دلته په دې معنا دی "الم القلب بفراق المحبوب وعدم الصبر عنه.

دروښ وايي: چي د مظهري رحمه الله اکثر تفسير د بغوي رحمه الله څخه منقول دی لکن دلته يې داسي ويلي دي "وهذا عندي ليس بشيئ" لان رؤيا الانبيا وحي قطعي الوجود ولو قد رئ ذالک لتحقق البتة ولا ينفعه الحذر ولم يتحقق ذالک يعني يوسف خو ليوه نه وخوړی بلکه ورنړو وځا ته واچاوه" والجواب عنه چي غايت محبة د يوسف عليه السلام د يعقوب عليه السلام زړه د دې څخه غافله کړی چي رؤيا الانبيا وحي وجا ان حبک الشيئ يعمي ويعم" فلا غرو في توهم يعقوب عليه السلام ذالک.

فائده: د نحو او معاني وو په کتابو کي وايي چي الف ولام څلور قسمه دی (۱) الف ولام استغراقي نحو "ان الانسان لفي خسر الا الذين امنوا الآية" ولي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كه الف ولام د الانسان د استغراق نسي، نو استثناً متصل د الا الذين" نه ده څندي صحيح كما لايخفى على عارف العلوم العربية (۲) او بل الف ولام د پاره د جنس نحو الحمد لله يعني جنس الحمد على مذهب من قال ان اللام في للجنس" او نحو الانسان هو الحيوان الناطق لان التعريف للجنس وبالجنس لا للفرد وبالافراد (۳) او بل الف ولام دى د عهد څارجي نحو جائني رجل فقال ذالك الرجل (۴) او بل الف ولام د عهدي ذهني دى هغه په هغه څاى كي دى چې هوري استغراق او جنس نه صحيح كېږي او معهود څارجي په مابين كي هم نه وي نحو قول القائل لغيره ادخل السوق فاشترى اللحم" مثلا فاللام في السوق واللحم كي نه استغراق پكښې صحيح كېږي يعنې چې هر بازار ته ولاړ سه او ټولې غوښې راوړه كما لايخفى او نه جنس په كښې ولې چې په ماهيت كي د بازار ماهية د غوښو نه خرڅېږي فالمعنى ه ادخل سوقا من الاسواق واشترى لحماً من اللحوم" او لام عهد خارجي خو نسته ولي د متكلم او مخاطب تر مابين سوق معين او لحم معين نسته وهذا هو معنى العهد الذهني" فاللام في الذئب للعهد الذهني اى ياكله الذئب من الذياب لان ارادة كل الذياب او جنس الذئب غير ممكن او معهود خارجي په منځ كي د يعقوب او زامنو هم نسته.

دروښ وايي: چې دا وه معنى د عهد ذهني، او بې علمه طالبان يا امامان وايي چې عهد ذهني دادى چې د متكلم په ذهن معهود او معلوم شى وي او مخاطب نه وي په خبر نو د آيت ترجمه دغه بېعلمه كسان داسې كوي چې يو شين لېوه ؤ آدم خور په صحرا كي د كنعان، نو د يعقوب عليه السلام هغه لېوه مراد ؤ او زامن يې نه په پوهېدل وهذا كذب بواح. قالوا البلا من المنطق.

پوه سه: چې د يعقوب عليه السلام زامن په دې حيران وه چې صوږ چې يوسف قتل كړو يا يې په جب كي واچوو، نو پلار ته به څه بهانه كوو، نو چې يعقوب عليه السلام ورته وويل اني اخاف ان ياكله الذئب، نو دوى چې يوسف عليه السلام وجب ته واچاوه پلار ته يې وويل چې يوسف اكله الذئب.

وَاَنْتُمْ عَنْهُ غٰفِلُوْنَ ﴿۱۳﴾

او تاسي به له يوسف څخه غافله ياست، يعقوب عليه السلام مطلب دا ؤ چې زه پر دې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نه بهر برم چي تاسي وه يوسف ته يو چم وکړئ بلکې زه له دې څخه بهر برم چي يوسف ته به ضرر ور ورسېږي په سبب د غفلت ستاسي له ده څخه، يعني تاسي به رتع او لعب کوئ اخته به ياست او يوسف به مو يو ځای کښېنولی وي لېوه به يې وخوري، او ورنو چي يوسف عليه السلام جب ته واچاوه عيناً دغه خبره يې پلار ته وکړه چي ماښام راغله کما سيئاتي، وتركنا يوسف عند متاعنا فاكله الذئب الآية" وهذا ايضاً من بلايا المنطق فتأمل في هذا المبحث، قال المولى الجامي قدس سره:

ازآن ترسم کژ و غافل نشنيد ..... زغفلت صورت حالش نبينيد
درين ديرينه دشت محنت انگر ..... کهن گرگی برو دندان کند تيز

قَالُوا لَئِنْ أَكَلَهُ الذِّئْبُ وَنَحْنُ عُصْبَةٌ إِنَّا إِذًا لَّخَاسِرُونَ ﴿١٤﴾

زامنو يې ورته وويل کله يوسف لېوه وخوړی او حال دادی چې موږ يو جماعت قويه يو چې هر يو پر مقابله د لېوه قادر يو او څرنګه کېدای سي چې موږ تولـه د يوسف له حاله غافله سو، حاصل دا چې يعقوب عليه السلام چې د هر الحاح او حرص پر طلب د يوسف ددوی سره وه مهلې ته د صحرا او په عين حال کې مهل د يوسف ومهلې ته د صحرا هم محسوس کړی رضي طوعاً وکرهاً بالقضا الالهي.

فائده: په روايت صحيحه ثابته ده چې څه وخت چې نمرود ابراهيم عليه السلام اور ته اچاوه قميص يې څنې وکښې او لخ يې وه اور ته واچاوه، نو جبرئيل عليه السلام نازل ورښمين قميص له جنته راوړی او په ابراهيم عليه السلام يې واغوستی او هغه قميص ابراهيم عليه السلام واسحاق عليه السلام ته ورکړی ؤ او اسحاق وه يعقوب ته او يعقوب هغه قميص د تعويذ پر ډول پوښ کړی ؤ او د يوسف عليه السلام په غاړه کښې يې اچولی ؤ، حسين كاشفي په تفسير حسيني کې وايي" يعقوب عليه السلام بمشايعه فرزندان تا شجرة الوداع كه بر دروازه كنعان بوده بيرون آمد ويوسف را در كنار گرفته گريه كنان وداع نمود، يوسف عليه السلام گفت اى پدر سبب گريه تو چيست، يعقوب گفت اى يوسف ازين رفتن تو رائحه اندوه بزرگ بمشام دل من ميرسد نميدانم كه سر انجام كار بكجا خواهد رسيد، آرى يعقوب گفت اى پسر اى نور ديده پدر مرا فراموش نكنيد من ترا فراموش نميكنم، فرزندان يعقوب تا وقتيكه يعقوب بر در كنعان استاده در محافظ يوسف مبالغه بسيار بعمل مى آوردند، برادران يكى پس

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دیگری یوسف را برشانه می نشانید ویعقوب نشداره میکرد وهمواره درفراق یوسف میگریست.

راوي وايي چي د يعقوب عليه السلام زامن چي دده له سترگو څخه لهري سوه يوسف عليه السلام يې پر مخکه وغورځاوه وقالوا يا صاحب الرؤيا الكاذبة التي رئيت الكواكب لک ساجدين من يخلصوک من ايدينا اليوم.

حسين كاشفي درتفسير حسيني چنين ميفرمايد درخاک خواری تشنه وگشنه بر روی می کشیدند تانزديک بهلاک بود انتهی، او يوسف عليه السلام به ويل يا ابتاه څرنگه ژر دوی ستا نصيحت زما په باره کي هېر کړی، حاصل د قصې دادی چي بعض وروڼه د يوسف د قتل د فلان خوښ وه لكن يهودا يې له قتل څخه د موضوع خلاف ؤ اخير الامر اتفاق پر رايه د يهودا وسوه قال الله تعالى:

فَلَمَّا ذَهَبُوا بِهِ وَأَجْمَعُوا أَنْ يَجْعَلُوهُ فِي غَيَابَتِ الْجُبِّ

نو څه وخت چي بوتلی وروڼه يوسف او اتفاق او عزم ددوی وکړی چي اچوو به يوسف په پای کي د ژور څاه چي هوري موجود ؤ.

پوه سه: چي جواب د "لما" محذوف دی ای فعلوا ما ارادوبه، تاريخ وايي چي يوسف عليه السلام په دغه وخت کي د دوولسو کالو ؤ، او بعض وايي چي د اتلسو کالو ؤ او دی يې راوستی وه هغه څاه ته چي خوله يې تنګه وه او بېخ يې فراخه، مقاتل رحمه الله وايي چي څاه د يعقوب عليه السلام له کوره درې فرسخه لهري ؤ، راوي وايي چي د څاه غاړې له چي يې راوستی دوی به څاه ته ورپرې واهده به لاسونه د څاه په غاړه پورې تينګ کړه، اخير يې لاسونه وروترل او قميص يې څنې وکښی، دوی خو ددې لپاره څنې وکښی چي مانښام دغه قميص په وينو لړلی پلار ته وروړي چي يوسف اکله الذئب، يوسف عليه السلام ورته وويل يا اخونا ردوا علي قميص اتواري به في الجب (ای زما وروڼو زما قميص بيرته ماته راکړئ چي زه به ځان او بدن په پټوم په جب کي) دوی په بې رحمانه لهجه ورته وويل ادع الشمس والقمر والكواكب التي رئتهم لک ساجدين، يوسف عليه السلام له ډېر وهم او ببري ورته وويل چي ما هيڅ خوب نه دی ليدلی خير په ملاکي يې تناؤ ور واچاوه چي نيمايي ته د څاه ورسېدی تناؤ يې قطع کړی تاچي غالب گمان ددوی دا ؤ چي مړ به سي، يوسف عليه السلام په اويو کي ولوېدی د څاه په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بښځ کي يوه غټه ډبره وه چې تر اوبو راوتلې وه يوسف ﷺ پر هغه ډبره ودرېدی، راوي وايي يوسف چې څاه ته ولوېدی د وروڼو خيال خو دا وُ چې يوسف په اوبو کې د څاه ډوب سوی او مړ سوی به وی، نو يې ورنارې کړې يا يوسف. د يوسف ﷺ دا خيال سو چې مګر او شايد چې په زړو کي به يې رحمت پيدا سوی وي او بيرته به مې له څاه څخه وکاږي، نو ځکه يوسف ﷺ ناره وکړه چې هاء نو وروڼو يې لو ډبره راواخستل چې پر دا سر يې وولي لکن يهودا منع کړه، راوي وايي چې وروڼه ځني ولاړه او يوسف ﷺ يک تنها په ژور څاه تاريک کي پاته سو او په زار زار به يې ژړله، نو جبرئيل ﷺ وحي ورته راوړې کما قال الله تبارک وتعالى:

وَأَوْحَيْنَآ إِلَيْهِ

موږ وحي وکړې وه يوسف ﷺ ته.

دروېش وايي: چې په روح المعاني کي وايي چې دا وحي لپاره د خوشالی د يوسف ﷺ وې او زېرى وُ ددې چې ته به په ډه وروسته کي نبي يې او ازالة د وحشت د ده وه او تسلي د ده وه.

مجاهد رحمه الله وايي چې دا ابهام وو او بعض وايي چې په خوب کي زېرى وو او قتاده وايي چې جبرئيل دا خبره ورته والله اعلم بمراده" انتهى غرض د روح المعاني دا دی چې وحي د نبوت نه وې" او مظهري رحمه الله وايي چې ظاهره دا ده چې وحي د نبوت نه وې او د تبليغ بلکه صرف د اطمنان قلب د يوسف د پاره وې" بلکه دا داسي وحي دي لکه په هغه آيت کي چې راغلي دي" واوحى الى ام موسى ان ارضعيه" وروسته خدای پاک په باره کي د موسى ويلي دي" فلما بلغ اشده (ای زمان قوته عقلا) اتيناه حكما وعلما" ای نبوة وعلما.

دروېش وايي: چې مختاره هم دغه مذهب دی والعلم عند الله لکن صاحب د روح البيان وايي " وكان وحي نبوة ورسالة كما عليه المحققون (دروېش وايي: چې والله اعلم څوک مراد دی د صاحب د روح البيان د محققينو څخه) وروسته دی وايي چې دا خبره صحيح سوې ده چې خدای پاک وحي د نبوت کړې دي ويحى ﷺ ته، او عليه السلام ته د مخه تر بلوغ وروسته، ده دليل پر خپله خبره داسي راوړی دی او قياس د نبوت يې پر ولايت کړی دی حيث قال لان الله تعالى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

باب فتح الولايت الخاصة لبعض الآحاد في صغرهم كا الشيخ سهل قدس سره فلان يكون باب النبوة مفتوحا بالاولى لكمال استعداد الانبياً عليهم السلام فامر النبوة والولاية لايتوقف على البلوغ ولا على سن الاربعين وروسته يې ويلي دي كه څه هم نبي كړځول د خداى په اكثرو انبياؤ كي بعد بلوغ اربعين سنة على ما جرى يې عادة الله عز وجل انتهى.

دروېش وايي: چې قياس د نبوة پر ولايت نه دى صحيح لانهما امور موهبية من الله عز وجل لا مجال للعقل والقياس فيها وايضا قياس د نبوة د يوسف عليه السلام قبل البلوغ پر نبوة د يحيى او عيسى عليهما السلام نه دى صحيح لان لفظ اوحينا اليه" په قصه كې د يوسف عليه السلام يحتمل ان يكون لاطمئنان قلبه لا للاستبناً لكه صاحب د روح المعاني او مظهري چې وويل كما مر عنقريب.

دروېش وايي: چې والعجب ان صاحب روح البيان په اول كې د تفسير د دې آيت داسې ويلي دي" تبشيراً بما يؤل اليه امره آه ولا يرتاب عاقل بان عبارت ما يؤل اليه امره انما يستعمل في الامر الموجود في المستقبل لا في الامر الموجود حالا فتدبر غاية التدبر والله اعلم بحال يوسف في الاستنباً اكان في الحال او في الاستقبال.

فائده: حسن رحمه الله وايي چې يوسف عليه السلام په وخت د القاً في الجب د (۱۲) كالو وو او بعض علماً وايي د (۱۷) كالو وو" او بعض وايي د (۱۸) كالو وو او د پلار يعقوب عليه السلام سره چې ملاقي سو (۸۰) كاله وروسته.

فائده: حسين كاشفي رحمه الله په خپل تفسير كې وايي كه خطاب ملك اعلى بطائر اشيان سدرة المنتهى رسيد" ادرک عبدي جبرئيل" جبرئيل عليه السلام پيش ازانكه يوسف به تگ چاه رسد بوى رسيد ودر پنجه مقدسه خود گرفت وبر صخره چاه بنشانيد واز طعام وشراب بهشت باو داد" وبيراهن خليل عليه السلام كه بر بازوي يوسف تعويز وار بود او را به پوشانيد انتهى بعبارته" والله اعلم بحقيقة حال يوسف عليه السلام في البير.

لَتُنَبِّئَنَّهُمْ بِأَمْرِهِمْ هٰذَا وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿۱۵﴾

لام موطئه د قسم محذوف دى والمعنى و الله ته به خبر كړې وروڼو په دغه كار سره چې ستا سره يې وكړى او دوى به نه پوهېږي چې ته زموږ ورو يوسف

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پې حتی ته به ورته ووایه چې زه یوسف یم ووجه ذالک چې د یوسف شان او حال
دېر لوړ وو چې عزیز مصر وو او د دوی تو هم نه کېدی چې زمونږ ورو یوسف به
ژوندی وي او که ژوندی هم وي د فقر او مسکنت په ژوند کې به وي، او بل زمانه
دېره تېره سوې ده د القاٰ الجب تر مابین په (۱۲) کلنې کې د یوسف (۱۷) کلنې
کې بیا تر دې ملاقات پورې د یوسف سره په مصر کې تخمینا (۸۰) کاله ته
قریب "کریمه" فدخلوا علیه فعرفهم وهم له منکرون" یعنې چې ورونړه د یوسف
داخل سوه پر یوسف وپېژندل دوی ولې د ورونړو حلیه تقریبا پر پخوانې حال پاته
او جامې پر هغه حال د مسکنت پاته وې او ورنړه د یوسف څخه منکر یعنې نې
پېژندی" بغوې وایې چې درې ورځې وروسته دا آیت ویوسف ته راوړی او هغه
خبره چې بغوې کړې ده چې یهودا به دوهمی ورته راوړه دېره بعیده ده ولې چې
یهودا که څه هم په شان کې د یوسف سخت درېزه نه وو لکه نور ورونړه لکن دونه
محبت خو یې هم نه ورسره درلودی چې دوهمه ورته راوړي ولې چې په فراق د
پلار څخه خو یهودا هم راضي ؤ" صرف له قتل څخه د یوسف ﷺ یې ورونه
منعه کړه او په القاٰ فی الجب سره مشوره ورکړه بلکه کما مر طعام او شراب د
یوسف ﷺ له جنته جبرئیل ﷺ ورته راوړه، او جبرئیل دده د تسکین لپاره ورته
راوویلی او زېرې د خروج من الجب به یې ورته کاوه ویخبرنه انه ینبئهم بما فعلوا
وهم لایشعرون، ابن عباس ﷺ وایې چې ورونو چې یوسف ﷺ وجب ته
واچاوه نو سپرلی یې ذبح کړی او د یوسف ﷺ هغه قمیص چې دوی ځنې کنبلی
ؤ کمامر د هغه سپرلي په وینو یې ولړی. قال الله تعالی:

وَجَآءُوٓ اَبَاهُمۡ عِشَآءٗ يَبۡكُونَ ۝

او دوی راغله ماخستن وپلار ته په داسې حال کې چې دوی ژړل یعنې د
درواغو ژړا یې کوله هم له دې سببه دوی ماخستن راغله چې پلار یې سترګې ونه
ړینې چې د اوښکو قطره هم نسته پکښې بلکې صرف اواز د ژړا دی.

پوه سه: چې یعقوب ﷺ چې ددوی د ژړا اوازونه واورېدل نو له کوره ورته
راووتی او داسې یې ورته وویل "مالکم یا بني هل اصابکم في غنمکم شئ" ولې
ژاړئ اې زامنو آیا تاسې ته په پسو کې کوم تاوان درسېدلی یعنې لېوه درځخه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وړي دي؟ دوی ورته وويل يا انو يعقوب عليه السلام ورته وويل چي يوسف څه سو؟ دوی ورته وويل د ژړا په لهجه کي:

قَالُوا يَا أَبَانَا إِنَّا ذَهَبْنَا نَسْتَبِقُ وَتَرَكْنَا يُوسُفَ عِنْدَ مَتَاعِنَا فَأَكَلَهُ الذِّئْبُ ۖ وَمَا أَنْتَ بِمُؤْمِنٍ لَنَا وَلَوْ كُنَّا صَادِقِينَ ﴿١٧﴾

دوی ورته وويل اې پلاره زمونږ په تحقيق موږ په صحرا کي په سيالي منډې سره وهلې چي کوم يو به په ځغاسته کي غالب سي، او موږ پرې يښې ؤ يوسف په نېږد کالو زمونږ يعني پتوان او صدری وغيره چي غالباً د منډو په وخت کي يې خلګ کاږي، نو لېوه راغلی يوسف يې وخوړی يعني چي موږ ده ېر ځني لېرې ؤ او ته په دې خبره کي زمونږ تصديق نه کوې ولي ته پر موږ بدګمان يې او شدت محبت د يوسف سره کوې که څه هم موږ رښتيا ويونکي يو "لسوء ظنک بنا" يعني موږ خو صادق عندالله يو لکن ته مو تصديق نه کوې په سبب د بد ګماني ستا پر موږ په امر کي د يوسف، راوي وايي چي دوی چي د يوسف عليه السلام پر قميص د سېرلي وينې پاشلې قميص يې ځيري نه کړی صرف يې په وينو ککړ کړی.

وَجَاءُوا عَلَىٰ قَمِيصِهِ بِدَمٍ كَذِبٍ ۚ

او دوی راتګ وکړی پر قميصه د يوسف عليه السلام سر بيره په وينو سره کذب، ای ذی کذب او يا مکذوب فيه تاچي حمل د کذب پر دم صحيح سي، او دا هم احتمال لري چي حمل د کذب چي مصدر دی پر "دم" چي ذات دی مبالغه وي لکه زيد عدل، په حديث صحيح کي چي روايت يې حسن رحمه الله کړی دی راغلي دي چي يعقوب عليه السلام چي خبر د هلاک د محبوب زوی يوسف واورېدی بلا اختياره يې لويه چغه وکړه او دوی ته يې وويل چي قميص يې راوړئ، دوی چي قميص ورته راوړی يعقوب عليه السلام پرله واړاوه وينې خو پر قميص وې لکن د قميص يو ځای هم نه ؤ ځيري، نو يې ورته وويل اې زامنو دا عجيب هوښيار لېوه ؤ چي زما زوی يې وخوړی او قميص يې سالم ورپرېښو، نو يعقوب عليه السلام په دې پوه سو چي دوی قميص ځني کښلی دی او قتل کړی يې دی، فلذا قال:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنفُسُكُمْ أَمْرًا ۖ فَصَبْرٌ جَمِيلٌ ۖ

بلكې تاسي ته اسانه كړې دي يا تاسي ته ښائسته كړې دي ستاسي نفسونو چې د يوسف سره مو بغض درلودی يو امر عظيم. نو تنوين لپاره د تعظيم دی وهذا الامر العظيم هو قتل يوسف طفل بې گناه.

پوه سه: چې يعقوب عليه السلام په دوو شيانو سره پر دوی امر ددې وکړی بل سولت لكم آه، يو ددوی سخت حسد د يوسف عليه السلام سره چې ددوی له موره نه وۍ او بل په دې چې پر قميص يې اثر د خرق يا د غاښو د لهوه ونه ليدی.

پوه سه: "فصبر جميل" په حذف د مبتدأ ای فامری صبر جميل يا صبر جميل اختاره "صبر جميل" هغه ته وايي چې شكايت وخلگو ته نه كوي او نه جذع د خلگو په حصور كي كوي، علماً وايي شكايت وخدای پاک ته روا دی يعني په يو مصيبت كي ژړا زاری وخدای پاک ته په دفع كي د هغه مصيبت كوي او اظهار د شكايت په نېږد خلگو ناروا دی لانه شكايت من الله واظهار عدم رضائه بقضاً الله عزوجل ..... بيت:

بر فلک برتر بود اسرار او .....شَيئا لله شيئا لله كار او

وَاللَّهُ الْمُسْتَعَانُ عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ ۝

او له خدای جل جلاله څخه كومک غواړم پر برداشت او صبر پر هغه چې تاسي يې بيان كوئ يعني من هلاک يوسف فكلمة ما موصولة والعائد محذوف ای ما تصفونه. بغوي رحمه الله وايي چې په قصه كي د يوسف راغلي دي چې زامنو د يعقوب عليه السلام يو لهوه په بنكار ژوندی نيولی ۇ او تناؤ يې په غاړه يعقوب عليه السلام ته راوستی او يعقوب عليه السلام ته يې وويل چې دغه لهوه يوسف وخوړی. نو يعقوب عليه السلام لهوه ته وويل چې اې لهوه تا زما زوی وخوړی او زما د زړه مېوه تا قطع كړه لهوه په قدرت د رب العزت خبرې وكړې وقال والله مارئيت وجه ابنک قط يعقوب عليه السلام ورته وويل چې تا په صحرا كي د كنعان څه كوله چې راتلې؟ لهوه ورته وويل چې زه پر بنا د صلة الرحم يعني زما بعض اقرباً په صحرا كي د كنعان وه ما ويل چې د هغو سره به ملاقات وكړم، نو دغو كسانو زه بنكار كړم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې ددې معجزه انګېزه وينا څخه وه يعقوب عليه السلام نه اظهر من الشمس کذب د زامنو معلوم سو.

تنبيه: سوال: بعض مفسران وايي چې يعقوب د يوسف عليهما السلام په فراق ولې دومره په درياب کې د غم خدای پاک ډوب کړی؟ ددې سوال: په ځواب کې مفسران وايي چې يعقوب د يوسف عليهما السلام درضاع لپاره يوه مينځه چې د هغې زوی شيرخوار ؤ رالیول، وروسته يې د مينځې هغه شيرخوار زوی ځنې خرڅ کړی تاچې شيدې ددې يوازې ويوسف ته پاته سي، نو مينځې وژړل په فراق د خپل زوی او خدای پاک ته يې تضرع وکړه اوداسي يې وويل ان يعقوب فرق بيني وبين ولدي ففرق بينه وبين ولده يوسف، نو خدای پاک يې دعا قبوله کړه نو يعقوب او يوسف عليهما السلام نه سوه سره يو ځای تر هغو چې هغه مينځه او زوی يې سره يو ځای کېدل، انتهى.

دروښ وايي: چې دا صرف يوه افواه ده چې هيڅ يو مؤمن دومره جريمه پر غاړه نه اخلي او نه هيڅ ولي فضلاً عن النبي ثم فضلا عن يعقوب بن اسحاق بن ابراهيم عليهم السلام، او بعض وايي چې يعقوب عليه السلام يو وخت د بزې مرغومی د مور په مخ کې ذبح کړی مور يې د خپل اولاد وينې وليدلې فلم يرض ذالک الله عزوجل من يعقوب فاراه دماً بدم وفرقة بفرقة وذالک لعظم شان النبوة، ولهذا قيل حسنات الابرار سيئات المقربين.

دروښ وايي: چې ورته توجيهاتو ته ضرورت نسته بعد ماثبت في الحديث الصحيح اشد الناس بلاء الانبياً ثم الاولياً ثم الامثلى فالامثل، او علماً وايي چې د خدای پاک په جناب کې يو چا ته چې يوه درجه د قرب منظوره وي او هغې درجې ته هغه سړی په طاعات بدنيه او ماليه وو سره نه سي رسېدای صب عليه البلا يا من الامراض وفراق الاحبة ثم وفقه للصبر كما قال يعقوب عليه السلام فصبر جميل لما وصله الله الى تلک الدرجة العلياً وهذا هو السر والحكمة في شهادة الحسين على جده و عليه الصلوة والسلام في برية كربلا، وقصة مشهورة.

دروښ وايي: چې ما يو کتاب په نامه د شهادة الحسنين رضي الله عنهما تصنيف کړی دی چې په دې کتاب کې پوره په زړه پورې قصه د شهادت د حسن او حسين رضي الله عنهما بيان کړې ده، والله الموفق.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَجَآءَتْ سَيَّارَةٌ

او راغله يوه قافله چې دوی سير کاوه له مدين څخه ومصر ته او لار ځندي ورکه سوه، نو نږدې وځاته چې يوسف عليه السلام پکښې وو واړوله او دا ځاى په يوه بيابان کې وو چې د اباتى څخه ډير لير وو صرف د شپنيانو او مسافرينو دپاره وُ او د دې ځاى اوبه تورې وې او هغه تورې اوبه چې يوسف عليه السلام ورچوال يو نهايت خوږې وګرځېدلې "قاله المفسرون رحمهم الله واصحاب التواريخ القديمه" حسين کاشفي وايې روز چهارم مژده نجات به يوسف رسيد.

فَأَرْسَلُوا وَارِدَهُمْ فَأَدْلَىٰ دَلْوَهُ

نو قافلې والا وو واستاوه وځاته اوبه راوړونکى د قافلې دپاره چې نوم يې مالک بن ذعر خزاعي وُ، نو ځاته يې وروځړول سولاغه د ابو د راکښلو دپاره نو يوسف ته وحي راغلې چې د سولاغې تناو تينګ کړه، درمعالم التنزيل آمده که ديوارهای جب بر فراق يوسف گريه کردند وذالک لان للجمادات حيات حقانيه لا يعرفها الا العلماً بالله.

په صحيح حديث کې د بخاري راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام د مخه تر جوړېدو د منبر نبوي پر يو وچ لرګي د خورما په وخت کې د خطبې او وعظ تکيه کوله چې منبر جوړ سو او عليه الصلوة والسلام په ورځ د جمعې پر منبر تشريف فرما سو هغه وچ لرګی په ژړا سو چې تهولو خلګو اوريده حتى چې عليه الصلوة والسلام بهر ته د منبر څخه ورته راغلى او پر هغه لرګي يې لاس کښېښو څو چې هغه لرګی کرار کرار ساکت سو..... بيت:

استن حنانه از هجر رسول.....ناله ميزند همچو ارباب عقول

گفت پيغمبر چه خواهي اى ستون ..... گفت جانم از فراقت گشتت خون

دروېش وايي: چې د دې ډېر مثالونه نور هم سته يطول بذکرها التفسير، نو يوسف چې په تناو پورې لاسونه تينګ کړه سولاغه چې د ځا خولې ته راغله ناګاه يو هلک چې حسن فوق العادة يې درلودی وې ليدی چنانچه په صحيح حديث کې راغلي دی عليه الصلوة والسلام وايې چې يوسف ته نيمايې حسن د ښائسته نرو او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ښځو ورکول سوی وو راوي الحديث المذکور ابن ابي شيبه واحمد وابو يعلى والحاکم عن انس بغوي وايي چې دا جمال د يوسف ﷺ د ده انا ساره په ميراث رسېدلی وو چې هغې ته سدس الحسن ورکړه سوی وو مالک بن وعرچې يوسف وليدی، نو يې داسي وويل.

قَالَ يٰبُشْرٰى هٰذَا غُلٰمٌ

دروېش وايي: چې د عربو دا عادت دی چې په وخت کې د ډېر غم واحسرتاه وايي يا واويلاه چې مقصود مبالغه په غم او حسرت کې ده يعني غمه راځه دغه دي وخت دی، وهکذا او په وخت کې د ډېرې خوشحالی يا بشری ومثله وايي گويا خپل ځان ته د زېرې ناري وهي چې خوشحالي راځه دغه دی وخت دی وهذا ايضا مبالغة والا فمنادی لا يکون الا من ذوی العلم، او بعض مفسرين وايي چې بشری نوم د ملگرې د مالک وو، نو هغه ته يې د دې سببه وکړه چې کومک راسره وکړه په اخراج کې د دلوي مع الغلام دا دی يو هلک يعني بلوغ ته نارسېده" علامه عبد الرحمن الجامي قدس سره العالي" په خپل کتاب کې داسي وايي " بر آمد بس جهان امروز ماهي.

وَاَسَرُّوْهُ بِضَاعَةً

يعني مالک او ملگرې د ده يوسف پټ کړی د نورو قافلې والا وو ځکه چې دوی دعوی د شراکت پکښې ونه کړي. او بعض مفسرين وايي چې حال د يوسف يې پټ کړی يعني چې مور د ځا ځکه راوکښی بلکه داسي اظهارات يې شروع کړه چې مور ته د ځا مالکانو په لاس را کړی چې په مصر کې زمور د پاره خرڅ کړئ يعني دا يوسف د هغه مريې وو "بضاعة" منصوب دی د ضمير ځکه د اسرو چې يوسف ته راجع وو ای حال کون بضاعة ای راس المال د تجارت د پاره يعني سبب د کتې په تجارت کې چې په مصر کې يې خرڅ کړو.

وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِمَا يَعْمَلُوْنَ ۝

او خدای ﷻ خبر دی په هغه کار او عمل چې د يوسف ورونړو د پلار او د ده يوسف سره وکړی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې د يوسف وروڼو به هره ورځ دې ځاته راتله چې د يوسف حال ځان ته معلوم کړي ځلورمه ورځ کې چې راغله يوسف د ځاځخه را ايستل سوی وو. نو دوی مالک ته وويل چې دا زموږ مريې زموږ ځخه راتښتېدلی وو په دې ځاکې ځان پټ کړی وو. نو موږ يې دهر تنګ کړي يو اوس يې خرڅه وو.

سوال: يوسف ولي د قافلې والو ته خپله حال نه وايه چې زه مريې نه يم دا زما وروڼه دي او ټوله قصه يې ولي نه ورته کوله بيا خو قافلي والو نه رانيولی او شايد يعقوب عليه السلام ته بې ور وستلی واى؟

ځواب: يوسف ته وروڼو په اشارات خفيه ووسره د قتل تهديد ورکړی وو که دی صورت حال ووايې او يا پخپل عربي ژبه ورته ويلي وه.

وَ شَرَوْهُ بِثَمَنٍ بَخْسٍ دَرَاهِمَ مَعْدُوْدَةٍ ۚ

نو پر دې تقدير د شروه ضمير د جمع و وروڼو ته د يوسف راجع دی والشرا په معنی د بيع ده لکونه من الاضداد والمعنی وروڼو د يوسف دی خرڅ کړی پر مالک واصحابه باندې په ثمن حرام سره لان بيع الحر حرام قاله ضحاک ومقاتل والسدي رحمهم الله "دراهم معدودة" بدل دی د ثمن ځخه والمعنی ځو درهمه چې په حساب ورکړه سوه.

فائده: حرام مال ته ولي بخس وايې لانه منخوس من البرکة ای منقوص منها" او عکرمه او شعبي د بخس ترجمه په قليل سره کړې ده.

فائده: په هغه زمانه کې رواج دا وو چې يوه وقية زر به دوی په تاله او وزن سره ورکول او کم تر وقيه به يې په حساب ورکولې ابن مسعود او ابن عباس رضي الله عنهم وايي چې (۲۰) درهمه وه چې پر ورور دوه درهمه ور ورسېدله او بعض وايې (۲۲) درهمه او هغه چې بعض مفسرين وايې چې (۴۰) درهمه وه د معدودة وه لفظ خلاف خبر ده ولي (۴۰) درهمه خو مقدار د وقية دی وقد مر ان الوقية وما فوقها کانوا يزنونها فافهم.

فائده: د وروڼو غرض په خرڅولو کې د يوسف دا وو چې قافله بې مصرته بوزي او هوري به يې خرڅ کړي او د يعقوب د سترګو ځخه به ډېر ګوښه سي. وقد کان کذالک.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي بيضاوي او مظهري او روح البيان او روح المعاني دا احتمال هم راوړی دی چي شرا دي پخپله معنا وي يعني رانيول لکن ضمير د جمع د شروه دی راجع وي و مالک او اصحابو ته د ده.

دروښ وايي: چي مشهوره او اسان معنی هغه ده چي مور وکړه ولا يخلو ما قال هولا المفسرين من التكلف كما لا يخفى على من طالع تلك التفاسير والله اعلم.

وَكَانُوا فِيهِ مِنَ الزَّاهِدِينَ ﴿٢٠﴾

او وه وروڼو د يوسف څخه بې رغبته، ولي چي دوی ته منزله د يوسف په نيز د خدای ﷻ نه وه معلومه او يا معنی دا ده چي دوی وه په ثمن کي د يوسف بې رغبته ولي د دوی مقصد روپی نه وې بلکه ليرې کول د يوسف وه د پلار څخه كما مر عنقريب وهذا الغرض انسب ببيعه بدراهم معدودة.

تنبيه: راويان د قصې وايي چي مالک بن وعر چي يوسف له وروڼو څخه رانيوي نو وروڼو د يوسف وده ته وويل چي د هر فکر به پر کوې دا مړی په تهبنته اموخته دی چي درڅخه وه نه تښتي، خير کاروان مصر ته ورسېدی، او مالک يوسف ﷺ وه خرڅولو ته پېش کړی، نو قطفير چي پر خزانو د مصر وزير خزانه وه چي د عزيز په نامه سره مشهور وه رانيوی او پادشاه د مصر او د مصر د شاوخوا ريان بن الوليد بن ثروان وه د عمالقه له قوم څخه. راوي وايي چي دا ملک مصر تر هغو ژوندی وه چي ايمان يې پر يوسف ﷺ راوړی او دده متابعت يې وکړی پر دين دده ثم مات الملک. بعض راويان لکه ابن عباس ﷺ وايي چي قطفير يوسف ﷺ دده د مالک وعر څخه په شل ديناره او يو جوت چوتو او يو دوه جوته سيينو کالو رانيوی، او وهب بن منبه ﷺ وايي چي مالک بن وعر يوسف ﷺ په بازار کي ليلام ته پېش کړی چي په عربي بيع د من يزيد بولي او په پښتو يې بالا دوي بولي، نو تجارانو د مصر يو پر بل بالا دوي شروع کړه حتی چي قيمت د يوسف ﷺ دده په تاله چي وزن دده څلوېښت رطله وه، يوه توله سره زر يوه توله مشک يوه توله ورېښمو ته ورسېدی، نو تجارانو بالا دوي بنده کړه او قطفير يوسف ﷺ رانيوی قال الله تعالى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَقَالَ الَّذِي اشْتَرَاهُ مِنْ مِّصْرَ لِامْرَأَتِهِ أَكْرِمِي مَثْوَاهُ

او وويل هغه چا چې يوسف عليه السلام يې رانيوي د مصر باشنده چې قطفير يې نوم وُ او په عزيز مصر سره يې شهرت درلودی راغلی وخپلې مايني ته چې راعيل يا زليخا يې نوم وُ والثاني هو المشهور عند العوام والخواص. او په روح المعاني کې وايي چې نوم يې راعيل وُ وهو المروي عن مجاهد رحمه الله. او سدي رحمه الله وايي چې نوم يې زليخا بنت تمليخا وُ وقيل اسمها راعيل لقبها زليخا. وقيل بالعكس انتهى.

دروښ وايي: چې په قول د روح المعاني اختلاف د روايانو ختم سو.

فائده: "المثوى" موضع الاقامة والمراد منزلته كما قال ابن جريج وقتاده. وقيل اكرميه في المجلس والمطعم والمقام وهذا التفسير اشمل من الاول واولى منه كما لا يخفى.

عَسَىٰ أَن يَنفَعَنَا أَوْ نَتَّخِذَهُ وَلَدًا

شايد مور ته به نفع راورسوي يعني په ډېره ربح به را خرڅ سي، که مور خرڅاوه. او تفسير حسيني وايي: شايد آنکه سود رساند مارا درکار ضيع وعقار وسر انجام مصالح روزگار ما انتهى والى هذا التفسير اشار المظهري وصاحب روح المعاني ايضاً روح البيان رحمه الله. او يا زوی وگرڅوو چې په عربي يې متبنى بولي. ولي چې قطفير وچ وُ يعني عقيم وُ.

فائده: دروښ وايي چې "تفرس" په فراست سره د يو شي ادارک ته وايي فراست د عقل په نور او رښا سره د يو شي علم ته وايي كما ورد في الحديث النبوي ﷺ "اتقوا فراسة المؤمن فانه ينظر بنور الله" قال ابن مسعود رضي الله عنه فيما اخرجه سعيد بن مسيب والحاكم وصححه وجماعة، افرس الناس في الدنيا ثلثة (۱) عزيز چونکه ده په يوسف عليه السلام کې علامات د رشد او امانت داری وليدل په نور د عقل نو يې ځکه مايني ته وويل "اكرمي مثواه عسى ان ينفعنا الآية" (۲) د شعيب عليه السلام لور وُ هغه وخت چې موسى عليه السلام نبي نه وُ او په خطاء يې قبطي د قوم فرعون مړ کړی او د فرعون له بېرې وتښتېدی او قريې ته د شعيب عليه السلام تللی وُ او هورې يې د شعيب عليه السلام د لونو پسونه ور اوبه کړل كما مر قصة في

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تفسير سورة البقرة، نو شعيب وه موسى عليه السلام ته خپل لور ورواستول او دى يې كور ته وغوښتى، نو د شعيب عليه السلام لور خپل پلار ته وويل "يا ابت استأجره ان خير من استأجرت القوي الامين الى اخير الايات. (۳) ابوبكر رضي الله عنه چې په عمر رضي الله عنه كې يې پالنه د دين او پر مخ بيول د اسلام په ده كې وليدل، نو د ناجوړې په وخت كې يې امير المؤمنين عمر رضي الله عنه خليفة الاسلام وګرځاوه.

دروښ وايي: چې دا تفرس به جاري وي او په كفر او اسلام پورې اړه نه لري لان العزيز كان كافراً، فافهم واحفظ فانها فائدة سنية من سوانح الوقت.

وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي الْأَرْضِ

دغه رنګه لكه موږ چې نجات ورکړى له قتل د ورونو، او له جب څخه مو راويستى او عزيز المصر مو پر ده مهربان کړى كمامر من قوله لامرئته اكرمي مثواه، موږ تمكين، قدر او عزت وده ته ورکړى په مځكه كې د مصر حتى څه موده وروسته پر خزائنو د مصر وزير خزانه مقرر سو كما سيأتي.

وَلِنُعَلِّمَهُ مِن تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ ۚ وَاللَّهُ غَالِبٌ عَلَىٰ أَمْرِهِ

پوه سه: چې كلمه د عطف محذوف المعطوف عليه ده تقديره ليحكم بالعدل ولنعلمه آه وقيل كلمة العطف زائدة، والمعنى چې موږ ورونبير يوسف ته تأويل او تعبير د بعض خوبونو لكه تعبير د خوب د ملك مصر او تعبير د دوو بنديانو دده سره په بندي خانه كې وه كما سيأتي في القرآن الكريم.

پوه سه: چې ضمير د "امره" وه خداى پاك ته راجع دى. والمعنى خداى پاك غالب دى پر خپل كار (نو مراد له امر څخه هغه دى چې جمع يې امور راځي) يعني له كاره د خداى عزوجل څوك منازع او مدافع نسي كېداى يفعل مايشاً ويحكم مايريد. او عين ممكنه ده چې له امر څخه دي مراد هغه معنى وي چې جمع يې اوامر راځي يعني مقابل د نهي قال الله تعالى "انما امره اذا اراد شيئاً ان يقول له كن فيكون"

وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢١﴾

لكن د بر خلګ په حكمتو او په فوائدو د خداى عزوجل د كارو نه پوهېږي.

بود هر كسى را دگر گونه رايى ..... نباشد مگر آنچه خواهد خداى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې علم په حکمتو سره د صنائعو د خدای پاک لويه وظيفه ده او بلنده برخه ده. په صحيح حديث کې راغلي دي چې يو سړي له عليه الصلوة والسلام څخه پوښتنه وکړه ای الاعمال افضل؟ قال عليه الصلوة والسلام العلم بالله. بيا هغه پوښتنه ځني وکړه ای الاعمال يزيد رتبة قال العلم بالله. هغه سړي وويل چې زه پوښتنه د عمل درڅخه کوم ته جواب په علم راکوې فقال ان قليل العمل ينفع مع العلم يعني بالله وان كثير العمل لا ينفع مع الجهل يعني بالله.

حکايت: زما د کوچنيوالي په زمانه کې چې وه حکومت پنجوائي ته نژدې کلی دی يو سړی وُ چې نوم يې سرور وُ د يو پير مريد سوی وُ او ده نفلي روژو او لمونځو ته ځان وقف کړی وُ سره د اعتکافو. چهل روزه يې هم په کال کې دوه درې واره او اذکار يې هم په ډکه پيمانه کول حتی چې علماً ددغې قريې به دده ملاقات ته ورتلل، خير تر يوه کاله پورې تقريباً دده دغه مشاغل وه، وروسته تر کال سرور ږيره وخريل نفلي روژې، اذکار اعتکافونه حتی چې فرضي لمونځونه يې هم پرېښول دا توله شيان يې ختم کړل. ملايانو چې به ده ته نصيحت کاوه ده به ورته ويل چې ما يوه شپه چې زه به په اعتکاف کې وم، نو په خلوت خانه کې به رڼا پيدا سوه او خدای ږغ راباندې وکړی چې ته زما په دربار کې مقبول سوې نور نو عبادت ته هيڅ ضرورت نسته، ملايانو چې به هر څو نصيحت ورته وکړی چې دا شيطاني څراغ او د شيطان خبرې وې، خو د سرور هيڅ قناعت نه کېدی وکان على ذالک حتی مات وکان جاهلاً محضاً.

وَلَمَّا بَلَغَ اَشُدَّهٗٓ

هغه وخت چې ورسېدی يوسف عليه السلام ومنتهی ته د ځوانۍ، مجاهد رحمه الله وايي چې درې دېرش کلن سو، سدي رحمه الله وايي چې دېرش کلن سو چې سن الوقوف يې بولي، يعني چې د انسان تولي قوې د بدن پر دغه عمر درېږي، او ضحاک رحمه الله وايي چې د شلو کلو سو، او کلبي رحمه الله وايي چې اشد له اتلسو کلو شروع کېږي تر دېرش کالو پورې، او صاحب قاموس هم داغه قول راوړی دی.

فائده: اشد له اوزانو څخه د جمع دی لکه انک لکن مفرد نه لري، او بعض وايي مفرد دی ولا نظير لها في المفردات.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي حكماً او اطباً عمر د انسان يعني على الاكثر څلور درجې بولي (۱) سن دی د نشوونما ونهايته الى ۳۰ سنة (۲) سن الشباب والوقوف چې نهايت يې څلوېښت كاله دی (۳) سن الكهولة وهو سن الانحطات اليسير الخفي وتمامه ۶۰ كاله دی (۴) سن الشيخوخة وهو من الانحطاط العضيم الظاهر وتمامه عند الاطباً ۱۲۰ دی.

دروېش وايي: چې دا ټوله په اعتبار د اكثر او اغلب دي فلا يرد مايتوهم ويختلف هذه الاسنان باعتبار بنية الانسان قوة وضعفاً كما يدل عليه التجارب

اٰتَيْنٰهُ حُكْمًا وَّعِلْمًا ؕ وَكَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۲۲﴾

موږ ورکړی ده ته حكم يعني نبوت وقيل الاصابة في القول "وعلماً" يعني خبرتيا په دين كي، او بعض مفسرين وايي چې علم په تاويل او تعبير د خوبو الى غير ذالك، او ورته ثواب او عوض موږ ورکوو وه احسان کونکو ته، ابن عباس رضي الله عنه وايي وه مهتدينو ته، او ضحاک رحمه الله وايي چې هغه كسان چې پر حوادثو د زماني او پر تكاليفو يې صبر كړی وي لكه يوسف عليه السلام ههنا، قاضي بيضاوي رحمه الله وايي چې په دې آيت كي تنبيه پر دې ده چې خداى عزوجل چې يوسف عليه السلام ته مذكوره شيان ورکړه دا ثواب دده د حسناتو دی في عمله او دده پر پرهيز دی له منهياتو څخه خصوصاً في عنفوان الشباب كما يدل عليه ما سيئاتي من القرآن.

تنبيه: دروېش عاصي بانواع المعاصي محمد عبيد الله كندهاري ايوبي غفر الله الباري ذنبه الخفي والجلي وايي چې المولى عبد الرحمن جامي قدس سره السامي قصه د يوسف عليه السلام بتمامها او قصه د عشق د امرة العزيز زلېخا دده سره بالتفصيل بيان كړې ده په كتاب مستقل كي په نامه د "يوسف زلېخا" چې ټوله كتاب په بلاغت كي په فارسي ژبه او په اشعارو يې راوړی دی چې هر چاته معلوم دی، او روح البيان هم دا قصه په متابعت د جامي څېړلې ده او څای پر څای يې د جامي د كتاب ابيات هم راوړي دي، لكن عامو مفسرينو دا قصه په تفصيل مذكور د جامي او روح البيان نه ده راوړې، نو الله اعلم بصحة القصة المذكورة على ما بينه الجامي وروح البيان ولهذا اعرضنا عن التفصيل المذكور على منوالهما واكتفينا بماذكره اكثر المفسرين رحمهم الله فاقول قال الله عزوجل:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَرَاوَدَتْهُ الَّتِيْ هُوَ فِيْ بَيْتِهَا

او حيله وكړه وه يوسف ته هغې چې يوسف د هغې په كور كې وۀ يعني امرئة العزيز زلېخا يعني لپاره د زنا.

پوه سه: چې د "راود" چې له بابه د مفاعله دی او دلته په معنی د مجرد دی اصل يعني مجرد يې راد يرد ومعناه جآ وذهب لطلب شئ بالرفق او له دغه سبب څخه طالب ته د اوبو او وښو رائد وايي. او بعض اهل اللغة طلب د شي په مهلت او كرار كرار سره ومنه، كريمه: امهلهم رويداً. والمعنى طلبت زلېخا من يوسف بالحيل المواقعة.

پوښتنه: التي هو في بيتها وويل سو. زلېخا چې لفظ يې اخصر يې نه راوړی؟

ځواب: لفظ د موصول لپاره غايت طهارت د يوسف د منهي عنه څخه راوړی، ولي چې دی په كور كې د زلېخا وۀ او هغه په غايت حسن او جمال كې وه لوی باعث پر حصول د مقصد د زلېخا وۀ لكن طهارت د زيل د يوسف مانع د نجاست وگرځېدی.

عَنْ نَّفْسِهٖ وَغَلَّقَتِ الْاَبْوَابَ وَقَالَتْ هَيْتَ لَكَ ؕ

"عن نفسه" احتالت وخادعت للمواقعة والجماع من يوسف.، او زلېخا دروازې وترلې او كلفان يې وروا چول، نو باب د تفعيل لپاره د تكثير دی، صحيح راويان د قصې وايي چې زلېخا په اجازه د عزيز مصر يعني ددې مېړه چې يو تعمير جوړ كړی چې اووه دروازې يې درلودې په هره دروازه چې به سړی ورننوتی هورې به فرش اوار وۀ پلنگ په پروت وۀ كوبچې بالبنستان به موجود وه، اووم اوطاق يې د پر عاليشان سويه تعمير كړی و، او نوم يې دار السرور پر اينبی وۀ، نو يوسف عليه السلام چې ددې زرخريد مريی وۀ دې راوبولی پر اوله دروازه چې يې داخل كړی، دروازه يې د دننه دخوا قلف كړه، اووم اوطاق "دار السرور" ته چې يې ورساوه پلنگ او بالښت پروت وۀ.

پوه سه: چې "هَيت" اسم فعل دې مبني پر فتح دی لكه "اين" معنا يې تعال راسه وهلم كار ۀر شروع كړه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: دا خونه که څه هم زلیخا د دار السرور ددې په عقیده نوم پر اینبی ؤ لکن دا خونه په حقیقت کې دار الاحزان والشبور او د شریعت له نکته نګاه څخه وبقعة من بقاع جهنم. زلیخا وه یوسف علیه السلام ته وویل چې دا زیبا او قشنګ قصر ما ستا لپاره جوړ کړی دی چې د خوشالی ژوند پکښې تیر وو. یوسف علیه السلام ورته وویل یا زلیخا ته لما څخه فعل حرام غواړې؟ زلیخا ورته وویل زه پر تا عاشقه یم او ستا سره غایت محبت لرم. یوسف علیه السلام ورته وویل چې زما د پلار یعقوب د محبت له لاسه زما سره وړونو په ما کالي د ذلت او خواری واغوستله نه پوهیږم چې ستا د محبت له کبله ماته څومره ذلت او خواري پېښه سي. لکه وړپېښه چې هم سوه من الحبس مدة مدیدة کما سیئاتي. زلیخا ورته وویل چې ورپښمین قالین پر پلنګ اوار دي راسه په مزه مزه خپل کار وکړو. یوسف علیه السلام ورته وویل یذهب اذاً نصیبي من الجنة.

قَالَ مَعَاذَ اللّٰهِ

پناه په خدای ﷻ چې زه به زنا کوم د باداره ماینې سره.

پوه سه: چې معاذ الله له جملې څخه د هغو مصادرو دی چې منصوب په فعل مضمر سره دي لا یکاد یظهر منها افعالها نحو سبحان الله وغفرانک وعونک والتقدیر هذا اعوذ بالله معاذاً مما تدعونني الیه من الخیانة والفعل الحرام. وحاصل کلام یوسف علیه السلام في هذه الابیات:

زهی خجلت که درروزی قیامت ..... که آید برز نا کاران غرامت
خرابی آن جفا پیشان نویسند ..... مراسر دفتر ایشان نویسند

اِنَّهٗ رَبِّیْۤ اَحْسَنَ مَثْوَایَ ؕ اِنَّهٗ لَا یُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۲۳﴾

"انه" الضمیر للشان. والمبتدأ محذوف ای قطفیر ربي زما مالک دی "ویحتمل" انیکون الضمیر راجعاً الی قطفیر المعلوم من اول القصة. دې هر ښه یې کړی دی زما قیام دده په کور کې وقال لک اکرمي مثواه کمامر. نو زما به څه جزا وي که زه خیانت دده د ماینې سره وکړم یعني زنا. په تحقیق شان دادی چې فلاح او خلاصون د عذاب د خدای پاک به نه وویني ظالمان چې په عوض کې د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

احسان د بل دي بد وکړي، کريمه: "هل جزاء الاحسان الا الاحسان" او بعض مفسران وايي چې مراد له ظالمانو څخه زانيان دي، چې پر خپل ځان هم ظلم کوي او پر مزني باهل يې هم کوي وهو العزيز.

فائده: ابن اسحاق او سدي وايي چې امرئة العزيز چې مراودة او احتيال د يوسف عليه السلام کاوه او دې جلباوه وخپل ځان ته اول خو دې پر حسن خداداده باندې نور لعل او جواهر څرولي وه او ډهر معطر خوشبوي عطر يې هم لګولي وه او يوسف عليه السلام ته يې داسي ويله ما احسن شعرک څه عجيب بنه وېښتان دي دي، يوسف عليه السلام ورته وويل هو! زه چې مړ سم اول په قبر کې دغه وېښتان راتويږي زلېخا ورته وويل ما احسن عينک څه بنه ژېبا او ښائسته سترګې دي دي! يوسف ورته وويل هما اول مايسيل على وجهي يعني ددې دوو سترګو اوبه به اول زما پر مخ رابهېږي يعني في القبر، زلېخا ورته وويل مااحسن وجهک، څرنګه ښائسته مخ دي دي! يوسف عليه السلام ورته وويل هو التراب ياکله دا مخ خاوري ګرځي يعني في القبر، زلېخا ورته وويل ورېښمينه نالي پر پلنګ هواره ده درولاړ سه زما حاجت راد سره کړه يعني الجماع.

فائده: يوسف عليه السلام په عنفوان د جوانۍ او له ډې ښائسته زلېخا دعوت ده نه مکرر ورکول کېدی، قال الله تعالى.

وَلَقَدْ هَمَّتْ بِهِۦ

زلېخا تينګ قصد د جماع له يوسف عليه السلام څخه کاوه.

وَهَمَّ بِهَا

او يوسف په مقتضى د طبع بشري قصد وکړی ودې ته مع کف نفسه عنها باختيار الطاقة الشرعية كما يدل عليه قوله تعالى معاذ الله آه وليس المراد القصد الاختياري واما القصد الطبعي وميلان النفس فهو خارج عن دائره التكليف كما لايخفى، بل كف النفس بان الاختيار مع الميل الطبعي يستحق المدح والاجر الجزيل، ولي بشر چې تر ملکو افضل دی په سبب د کف النفس مع الميل الطبعي وليس في الملائكة ذالک، شيخ ابو منصور الماتريدي رحمه الله وايي چې هم د يوسف عليه السلام يوه وسوسه وه طبعاً ولا صنع للعبد فيما يخطر بباله ولا مواخذة عليه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اجماعاً، که چېرې وای هم د یوسف ﷺ لکه زمونږ هم وه معصیت ته نو خدای پاک په یې مدحه نه کولای "بانه من عبادنا المخلصین" صوفیه کرام وایي چې هم دوه قسمه دی یو هم ثابت بولي چې عزم د زړه ورسره ملګری وي او په ګناه راضي وي لکه هم د امرأة العزیز فالعبد مأخوذ "به" او بل هم عارض دی چې حدیث النفس یې من غیر اختیار ولا عزم مثل هم یوسف. والعبد غیر مأخوذ به مالم یتکلم که قولي شئ وُ او بعمل که عملي شئ وُ، ویدل علیه ما ورد في الحدیث النبوي ﷺ کما رواه البغوي من حدیث ابی هریرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ قال الله تعالی اذا تحدث عبدي بالحسنة بان یعمل حسنة فانا اکتبها له حسنة مالم یعملها (یعني یوه حسنه چې عمل یې هم نه وي کړی) فاذا عملها فانا اکتبها بعشر امثالها (که یې عمل وکړی زه یې لس مثله ثواب د هغې حسنې ورته نوشته کوم) واذا تحدث بان یعمل سیئة فانا اغفرها مالم یعمل بها. فاذا عملها فانا اکتبها له بمثلها. ومعنی الحدیث ظاهر بأدنی تأمل.

لَوْلَآ اَنْ رَّاٰ بُرْهَانَ رَبِّهٖ

که نه وای لیدلی یوسف دلیل د خدای ﷻ دده. وجواب لو محذوف یعني لجامعها. لکن چونکه برهان د خدای پاک یې ولیدی هغه هم بلا اختیار ځني دفعه سو.

پوه سه: چې علماً او مفسرین په دې اختلاف دي چې هغه نو څه شی وُ؟ جعفر بن محمد صادق ﷺ وایي چې هغه نبوت وُ چې په زړه کې دده خدای پاک اینبی وُ هغه مانع سو له فعل څخه د زناً او د قصد د زناً، مظهري ﷺ که څه هم وایي چې دا تفسیر اصوب د اقوال دی په نېز زما لکن دا تفسیر خلاف دی د لفظ رئ او خلاف دی د اکثرو مفسرینو له بیان څخه. او قتاده ﷺ وایي چې اکثره مفسرین پر دې رایه دي چې یوسف ﷺ ته په دغه حال کې خدای پاک دده د پلار یعقوب ﷺ صورت په ولیدی او ورته وه یې ویل اتعمل یا یوسف عمل السفهاً وانت مکتوب في الانبیاً، او حسن بصري، سعید بن جبیر، مجاهد او ضحاک ﷺ وایي چې د خونې بام پورته سو یوسف یعقوب ﷺ ولیدی چې ګوته یې په غاښو نیولې وه، او محمد بن کعب القرضي ﷺ وایي چې یوسف ﷺ چې سترګې د خونې وبام ته پورته کړې پر بام نوشته وه "لاتقربوا الزنی انه کان فاحشة وساً سبیلاً" یعني په عبري ژبه چې معنا یې د آیت مذکوره وه. او علي بن الحسین ﷺ وایي چې د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

زلیخا لږ امید پیدا سو ددې په خونه کې یو بت وڅې دې به یې عبادت کاوه پر هغه بت یې کالي واچول، یوسف علیه السلام ورته وویل لم فعلت هذا، زلیخا ورته وویل چې دا زما خدای دی او زه شرمیږم چې دده په مخ کې زنی کوم، یوسف علیه السلام ورته وویل چې ته د بې روح جماد شي څخه شرمیږې چې نه یې نفع په وسه پوره ده او نه ضرر زانا احق ان استحی من ربي العلیم الخبیر فهرب عنها.

دروښ وایي: چې نور اقوال د برهان ربه په تفسیر کې ذکر سوي دي، وبیان الکل موجب للتطویل.

مسئله: څوک چې نسبت وانبیاؤ ته د فواحشو کوي لکه حشویه چې یې کوي کالعزم علی الزنی في ما نحن فیه من یوسف کفر لانه شتم لهم کذا في القنیة.

پوښتنه: ولي دومره اختلاف په هم کې د یوسف علیه السلام راغلی حتی چې په بعضو روایاتو کې راغلي دي چې هم (قصد) د یوسف علیه السلام دا وڅې چې پرتوګانې خلاص کړي، او په روایاتو کې راغلي دي چې زلیخا ستنې ستنځ پرېږوتله یوسف د پښو په منځ کې ورته کښېښتی پر توګ یې کښی چې برهان ربه یې ولیدی نو ولاړ سو؟

ځواب: دا ټوله واهیات دي ولي چې خو اعلی درجه د عزم ده ونسبة تلک الروایات الی ابن عباس رضي الله عنهما مردود ولله درصاحب روح المعاني حیث قال چې ترجمه د هم د یوسف پر حدیث النفس من غیر اختیار ولا عزم لکه د یو سړي چې د دربي په سخته ګرمي کې روژه وي، نو بلا اختیاره یې اوبو ته شوق کېږي؛ وقال ان هذا التفسیر هو الذي یجب ان نذهب الیه ونتخذه مذهباً وان نقل المفسرون مانقلوا لان متابعة النص القاطع وبرأة المعصوم عن تلک الرزیلة (ای العزم علی الفاحشة) واحالة التقصیر علی الرواة اولی بالمصیر الیه، وقال علا ان اساطین النقل المتقنین لم یرووا في ذالک شیئاً مرفوعاً في کتبهم وجل تلک الروایات بل کلها ماخوذ من اهل الکتاب انتهی.

كَذَٰلِكَ لِنَصْرِفَ عَنْهُ السُّوٓءَ وَالْفَحْشَآءَ ۚ إِنَّهُۥ مِنْ عِبَادِنَا الْمُخْلَصِينَ ﴿٢٤﴾

"کذالک" ای الامر مثل ذالک او فعلنا مثل ذالک، داغه رنګه چې مونږ وارووله یوسف څخه سوء یعني صغیره ګناه، او کبیره ګناه لکه زنی، په تحقیق یوسف زمونږ له مخلصو بندګانو څخه دی په طاعت او عبادت کې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې دا ترجمه پر هغه تقدير ده چې مخلصين په کسره د لام وويل سي کما قرأه کذالک ماسوی د نافع او کوفيانو. او پر قرائت د امام نافع او کوفيانو چې د لام په زور يې وايي، نو يې معنا داده چې يوسف د هغو کسانو څخه دی چې خدای ﷻ غوره کړی لپاره د نبوت.

فائده: امام نافع او کوفيان هر ځای چې مخلصين معرف باللام راسي په قرآن مجيد کې په فتح د لام يې وايي وعلى هذا اجرى طبع المصحف الجليل في جميع المطالع الا ماشذ وندر.

وَاسْتَبَقَا الْبَابَ

يعنې يوسف او زلېخا دواړو وراندې والى يو تر بله سره کاوه او دروازې يوسف لپاره د وتلو او زلېخا لپاره د منع دده له خروج څخه.

پوه سه: چې استباق چونکه لازمي دی، نو تعديه يې ومفعول ته چې لفظ د باب دی يا په حذف د الی دی يعنې الى الباب چې دې ته نحات حذف او ايصال وايي. يعنې حذف د حرف جر او رسول د فعل ومفعول ته، او يا استبقاً په معنى د ابتداً دی چې متعدي بنفسه دی.

پوښتنه: لفظ د باب يې مفرد راوړی او سره ددې چې په دمخه آيت کې وغلقت الابواب راغلی و؟

ځواب: دلته خو مقصود هغه دروازه ده چې له دې قصر څخه تر وځي چې بهروني دروازه يې بولي او په غلق کې خو ټولې دروازې مقصود وې.

سوال: دروازې خو ټولې زلېخا قلف کړې وې او کلياني ددې سره وې، نو څرنګه يوسف ﷺ تر دې دروازو وتلای سواى؟

ځواب: ټوله مفسرين رحمهم الله په يوه خوله وايي چې قلفان په قدرت د خدای ﷻ په خپله خلاصېدل او لاندې غورځېدل او دروازه به خلاصه ولاړه وه.

وَقَدَّتْ قَمِيصَهُ مِنْ دُبُرٍ وَأَلْفَيَا سَيِّدَهَا لَدَى الْبَابِ

او ورځيږي کړی زلېخا قميص د يوسف د شا له خوا چې خونې ته يې بيرته راکشاوه او يوسف زور واهه چې ووځي، او دوی چې تر بهروني دروازې دواړه ورووتل سيد د زلېخا يې په دروازه کې پيدا کړی يعنې قطفير زوج زلېخا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې "قد" څیریوالي ته په طول کې وایي او "قط" څیریوالي ته په عرض کې وایي.

سوال: قطفیر خو د زلیخا مېړه ؤ نو زوجها یې ولې نه ووایه؟

ځواب: د هغو په عرف کې ښځو مېړه ته سید وایه.

سوال: سیدهما په ضمیر د تثنیه یې ولې نه ووایه؟

ځواب: یوسف علیه السلام خو حر ؤ مربی والی یې ناحقه ؤ او نر ؤ، نو د سید اطلاق پر قطفیر د یوسف علیه السلام په باره کې په هیڅ معنا نه ؤ روا. بعض راویان وایي چې قطفیر دباندې تر دروازې د قصر السرور د زلیخا د اکاد زوی سره ناست ؤ او بعض اهل تاریخ وایي چې قطفیر له دباندې څخه کورته راغلی، راویان وایي چې زلیخا چې مېړه ولیدی وارخطا سوه نو لکه د ښځو چې عموماً حیلې ډېرې زده دي.

قَالَتْ مَا جَزَآءُ مَنْ اَرَادَ بِاَهْلِكَ سُوْٓءًا

نو دې وویل وه مېړه ته لپاره د پاکې د خپل ځان له تهمت څخه او د ملامتۍ پر یوسف علیه السلام اچول او مېړه باعثه کول پر تعذیب د یوسف علیه السلام، علماً وایي چې کلمه "ما" یا نافیه ده او یا لپاره د استفهام انکاري او مراد له سوء څخه زنی ده. او له کلمه څخه د من یوسف علیه السلام مراد دی، نه ده جزاً د هغه چا چې ستا واهل یعني ماینې ته یې د زنی اراده کړې وه.

دروښ وایي: چې زلیخا وقطفیر ته وویل چې زه په دار السرور کې په خوابه خوب بیده وم چې دا غلام عبري زما د پرتوګانې په خلاصولو بخت ؤ زه پر راویښه سوم ده راڅخه میدان کړه د فرار وخوا ته.

اِلَّآ اَنْ يُّسْجَنَ اَوْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝

مګر دا چې دی یا بندي کړل سي او یا دي عذاب الیم ورکړل سي مثلاً په درو دي ووهل سي لکه زاني غیر محصن.

روایان د قصې وایي چې یوسف چې د سجن او عذاب الیم لفظ واوریدی وېرېدی او په عین حال کې قطفیر وده ته وویل یا غلام هذا جزائي منک حیث احسنت الیک او تا زما سره خیانت قال المولی الجامي قدس سره في بیان معنی قول قطفیر لیوسف.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نمي شايد درين ډير پر آفات ..... جزا احسان اهل احسان را مكافات
ز كوى حق گذاري رخت بستي ..... نمك خوردي نمكدان را شكستي

نو يوسف د برائة خپل رشتيا ويلو ته مجبوره سو نو را پورد اصل موضوع يې تولە وعزيز مصر ته بيان كړى وقال.

قَالَ هِيَ رَاوَدَتْنِي عَنْ نَّفْسِي وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنْ أَهْلِهَا

او وې ويل چې زليخا زما څخه زما د نفس يعني د ما څخه طلب د جماعو او زنى وكړى "بيت" زليخا هر چه ميگويد دروغ است" دروغ او چراغ بې فروغست عزيز ورته وويل چې زه ستا خبره نه منم بې دليله. او شاهدي ادا كړه يو شاهد د قريبانو څخه د زليخا يعني پر پاكي د يوسف د طلب څخه د زنى د زليخا څخه او ملامتيا د طلب د زنى يې د زليخا پر غاړه واچول. بعض راويان وايې چې د زليخا د اكا زوى او بعض وايي د ماما زوى وۀ او دا شاهد طفل د زانگو ۋچې خداى پاك پر خبرو راوستى چې په وروسته كې به بيان دده معقول شاهدي په تفصيل سره راسي.

نهانه فائده: بغوي رحمه الله له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت كړى دى چې څلور كوچنيانو په وخت كې د غايت كوچنيوالي خبري كړي دي او هغه څلور يې بيان كړي دي. جلال الدين سيوطي رحمه الله وايي چې ما تلاش كړى د هغو كوچنيانو چې په حال كې د زانگو يې خبري كړي دي. نو يوولس تنه مي رسولي دي چې د هغو بيان يې په عربي بيتو كړى دى. او روح البيان شپږ راوړي دي چې په هغو كې څلور هغه دي چې له ابن عباس رضي الله عنه څخه مروي دي. نو عمان يې د روح البيان په اطفالو كې او هغه يوولس چې علامه سيوطي رحمه الله يې نو عمان راوړي وۀ هم په هغه شپارس كې چې راوړي دي ذكر سوي دي.

دروښ وايي: چې روح البيان دا ډول دا نو عمان څېرلي دي (۱) شاهد براءة يوسف عليه السلام كما في نحن فيه (۲) نبينا صلى الله عليه وسلم چې دده مبارك په اول كې د ولادت اوله خبره داوه "الله اكبر كبيراً والحمد لله كثيراً وسبحان الله بكرة واصيلاً" (۳) عيسى عليه السلام اني عبدالله آتاني الكتاب الى آخره كما في سورة مريم (۴) مريم والدة عيسى عليه السلام (۵) يحيى عليه السلام (۶) ابراهيم خليل الرحمن فانه لما سقط على الارض من رحم امه پر پښو جگ ودرېدى وقال لا اله الا الله وحده لاشريك له له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الملک وله الحمد . الحمد لله الذي هدانا لهذا (۷) نوح ﷺ خبري وکړې وروسته تر ولادت. ولي چې دی له موره په یو غار کې پیدا سو خوفاً من الاعداً ، نو مور چې په ده کالي واغوستل او په یوه ټوکره کې یې وپېچې او ځنې تله مور یې داسې وویل واولداه. نو زوی یې ورته وویل لاتخافي احداً علي یا اماه فان الذي خلقني هو یحفظني. وقصة طویلة (۸) موسی ﷺ چې مور وزېږاوه دی کښېښتی او مور ته یې وویل یا اماه لاتخافي من فرعون فان الله معنا (۹) تکلم یوسف ﷺ حین کونه في بطن امه اذا قرب ولادته انا المفقود عن وجه ابي زماناً طویلاً. مور یې وه یعقوب ﷺ ته وویل. ده ورته وویل اکتمي امرک (۱۰) په سود روایت کې راغلي دي چې یوه ښځه امیدواره وه چې وخت د وضع الحمل یې ځدې سو دې ونږل، له نس ځخه ددې زوی یرحمک الله ورته ووایه چې تولو حاضرینو راوږېدی (۱۱) مولود صغیر د یوې ښځې چې خلګو یوه ښځه راکشول چې تازی کړې ده مولود شاهدي د برائة پر اداً کړه (۱۲) طفل د یوې ښځې چې اصحاب الاخدود چې قصه یې په قرآن کې په سورة بروج کې ذکر ده پر خپلې مور ناره وکړه وسیئاتي بیانه في تفسیر تلک السورة ان شاً الله (۱۳) زوی د ماشطة بنت فرعون یعنې د خادمه د لور د فرعون زوی سبط ابن الجوزي دا قصه په بسط او تفصیل سره راوړې ده (۱۴) مبارک الیمامة له بعضو صحابه وو ځخه روایت دی چې یوه سړای ته ورغلم په مکه کې ورئیت فیها رسول الله ﷺ وسمعت عجباً یو سړي خپل زوی په ورځ کې ولادت په یوه ټکوره کې پېچلی وه علیه الصلوة والسلام ته راوړی لپاره د تحنیک چې په هغه کې دا رواج وُ چې د چا به زوی وزېږېدی نو هیڅ شی یې نه ورکاوه اول به یې علیه الصلوة والسلام ته راوړی او علیه الصلوة والسلام به خورما په خوله کې وژوول هغه خوږې مبارکي ناړې به یې د طفل په خوله کې ورکړې تاچې اول د کوچني ونس ته د علیه الصلوة والسلام مبارکي ناړې داخلي سي او دې کار ته یې تحنیک وایه، نو دې سړي چې خپل زوی راوړی، نو علیه الصلوة والسلام وه کوچني ته داسې وویل من انا یا غلام، کوچني په واضح ژبه ورته وویل انت رسول الله ﷺ . علیه الصلوة والسلام ورته وویل صدقت بارک الله فیک. فقط دا یوه خبره چې طفل وکړه بالا ساکت سو، صحابه ﷺ وایي موږ به دا کوچنی مبارک الیمامة باله وهذه الواقعة في حجة الوداع.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې وهذه معجزة جليلة لرسول الله ﷺ (۱۵) په انسان العيون کې چې د يو کتاب نوم دی داسې راغلي دي چې شيخ محي الدين ابن عربي قدس سره وخپلي لور ته وويل چې نوم يې زينب وه او د رضاع په وخت کې نژدې وه يوه کال ته وه، يا زينب ستا څه حکم دی په هغه سړي کې چې په ماينه دخول وکړي او انزال نه سي؟ زينب ورته وويل عليه الغسل فتعجب الحاضرون من ذالک لما ان حکمها بالغسل موافق لما جاً في الحديث الصحيح الذي رواه البخاري وغيره قال عليه الصلوة والسلام اذا جاوز الختان الختان وجب الغسل انزل او لم ينزل او کما قال ﷺ، ابن العربي رحمه الله وايي يو کال مې ددې لور څخه څان پټ ساتلی وُ، مور د زينب چې د ابن العربي رحمه الله ماينه وه اجازه د حج يې له ما څخه وغوښتل، ما هم اجازه ورکړه، نو چې زه ملاقات ته د ماينې ورغلم مور يې پر اوښ سپره وه او زينب ته يې تی ورکاوه، دمخه تر دې چې مور يې ماوويني زينب زه وليدم هذا ابي وضحکت يعني نيکه مي دی ورمت نفسها الي.

دروښ وايي: چې وهذه القصة کرامة جليلة لاولياً الله ومعجزة لرسول الله ﷺ لانهم قالوا ان کرامة الولي معجزة للنبي ﷺ (۱۶) د بخاري د روايت سره سم په بني اسرائيلو کې د جريج په نامه يو راهب وُ چې يوه صومعه يعني عبادت خانه يې د يوه غره په لمن کې جوړه کړې وه چې خلګ به يې ملاقات او زيارت ته ورتله او خلګو ښه عقيده ورته درلوده، نو يوه ښځه يعني بد کاره ښځه وه (يا کونډه يا پېغله) هغې وويل چې زه به دا جريج په يوه فتنه اخته کوم، نو دا ورغله جريج ته چې زما سره زنی وکړه، جريج چې د خدای پاک نېک بنده وُ هيڅ التفات يې ورته ونه کړی، نو يو شپانه چې پسونه يې پېول او د پسو رمه به يې د جريج د صومعې سره ماښام پنډول، دا ښځه ورغله هغه شپانه يې پر ځان وخپړاوه يعني زنی يې ورسره وکړه رفته رفته هغه ښځه حامله سوه او زوی يې راوړی، خلګو ورته وويل چې تا خو مهره نه درلودی دا زوی دي له چا څخه پيدا کړی دی؟ دې ورته وويل چې د جريج څخه چې په بني اسرائيلو کې دی، معاملې شهرت پيدا کړی، نو د بني اسرائيلو يوه لويه ډله ورغله جريج يې مظبوطه ضرب او کوب کړی او صومعه يې ورونړوله، نو جريج ورغلی اودس يې تازه کړی دوه رکعته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نفل يې وکړی او خدای پاک ته يې زاری وکړې چې له دې فتنې څخه مې خلاصوه، وروسته ورغلی د هغه طفل نوزاد څخه يې پوښتنه وکړه او لاس يې پر سر ورکښېښنو، او ورته وه يې ويل په حق د هغه چا چې ته يې پيدا کړی يې اخبرني من ابوک، فتكلم باذن الله تعالى ان ابي فلان الراعي، بني اسرائيل د جريج په پښو او لاسو کې ورپرېوتل او ورته وه يې ويل چې ستا صومعه به موږ په زرو درجو وو، جريج ورته وويل لا پر هغه پخوانۍ حال يې جوړه کړئ.

إِنْ كَانَ قَمِيصُهُۥ قُدَّ مِن قُبُلٍ فَصَدَقَتْ وَهُوَ مِنَ ٱلْكَٰذِبِينَ ﴿٢٦﴾

که قميص د يوسف څير وُد مخ له خوا، نو زلېخا رشتيا وايي او يوسف د دروغو ويونکو څخه دی، ولې چې قميص يې د مخه خوا څيرې وي، نو څو معلومه سوه چې دې يوسف له ځان څخه دفع کاوه هغه نه دفع کېدی ځکه قميص د مخ له خوا څيري سو.

وَإِن كَانَ قَمِيصُهُۥ قُدَّ مِن دُبُرٍ فَكَذَبَتْ وَهُوَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٢٧﴾

او که يې قميص د شا له خوا څيري سوی وُ، نو زلېخا درواغ وايي او يوسف له رشتيا ويونکو له ډلې څخه دی، ولې چې معلومه سوه چې يوسف څنې ځغاستی زلېخا په پسې وه اخير يې د شا تر لمن ټينګ کړی يوسف چې زور کړه د شا د خوا لمن يې څيري سوه.

پوښتنه: څه ربط او تعلق سته ددې دوو شرطيه قضيو د هغه قول سره وشهد شاهد؟

ځواب: دا دوې محکمې دي له قول څخه د شاهد په تقدير د قول والتقدير وشهد شاهد آه وقال ان كان قميصه قد من قبل الى اخير الشريطتين.

سوال: دا قول طفل ته يې شهادت څرنګه ووايه او سره ددې چې شهادت په شرع کې اخبار دی په ثبوت د حق د غير د شاهد پر بل چا باندې بلفظ اشهد؟

ځواب: دا دوې شرطيه قائم مقام د شهادت دي چې يا صدق د زلېخا وملامت د يوسف په ثابتېدې يا صدق د يوسف ملامتي د زلېخا په واضح کېدې کما في الشهادت الشرعية ولهذا اطلق لفظ الشهادة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَلَمَّا رَأَىٰ قَمِيصَهُۥ قُدَّ مِن دُبُرٍ قَالَ إِنَّهُۥ مِن كَيْدِكُنَّ ۖ إِنَّ كَيْدَكُنَّ عَظِيمٌ ﴿٢٨﴾

نو هغه وخت چې وليدی عزيز مصر قطفير د زلېخا مېړه قميص د يوسف د شا له خوا څيرې ؤ او دا يې يقين سو په قرار د شاهدي د طفل چې کار زلېخا کړی دی، نو يې وويل چې دغه کار چې ستا او د يوسف پکښې اختلاف دی دا ستاسي د جنس ښځو له مکر او حيلو څخه دی او ستاسي د نوع مکر د هر لوی دی، نو زلېخا په دې ويناد عزيز د هغه شرمنده سوه.

سوال: کيد يې يوازې وزلېخا ته ولې مضاف نه کړی يعني انه من کيدک بل که خطاب يې عام کړی من کيدکن يې ووايه؟

ځواب: په تعميم کې د خطاب تنبيه پر دې ده چې دا کيد ستاسي د نوع تقاضا ده "فله عرق فيکن" په تحقيق ستاسي د ښځو کيد لوی دی. ولې چې کيد د ښځې د زړه سره د مېړه د پر لصوق لري او اشد تاثيراً دی من مکر الرجال.

فائده: بعض علماً وايي چې زه له کيد او مکر څخه د شيطان دومره نه بېرېږم لکه د کيد او مکر څخه د ماينې، ولې چې خدای پاک وايي "ان کيد الشيطان کان ضعيفاً" او د ښځو په باره کې يې وويل "ان کيدکن عظيم" ولذا ورد ان النساً حبائل الشيطان.

دروښ وايي: چې په تجربه ثابته ده چې ښځه کولای سي چې پلار او زوی سره جلا کړي او په اجنګ يې اخته کړي، او ورور و ورور سره اخته کړي اول مکر د ښځې ژړا او اوښکې تويول چې ددې اختياري کار دی، خصوصاً پر هغه چا د ماينې درواغ او مکر د پر اثر کوي چې مېړه ددې سره ملاعبت او مچې ځنې اخلي چې مقدمه د جماع دي.

دروښ وايي: چې د عزيز ومخته چې طفل شاهدي اداً کړه. نو دده يقين سو پر برائت د يوسف عليه السلام. او پر ملامتيا د زلېخا. نو يې دا خبره وکړه "انه من کيدکن آه" کما قال العارف الجامي قدس سره:

عزيز از طفل چون گوش اين سخن کرد ..... روان تفتيش حال پيرهن کرد
چو ديد از پس دريده پيرهن را ..... ملامت کرد آن مکاره زن را
ز کيد زن دل مردان دو نيمست ..... زنانرا کيدهای بس عظيمست

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عزیزان را کند کید زنان خوار..... بکیدزن بود مردانی گرفتار
زمکرم زن کسی عاجز مبادا..... زن مکاره هرگز خود مبادا

دروښ وايي: چې ظاهرد ښځو ضعيف دی سړی وايي چې دا به رشتيا وايي او باطن ددوی خبيث او کوږ دی. فانهن خلقن من ضلع آدم عليه السلام وضلع لايکون الا اعوج. وعقولهن قاصرة. ځکه د دوو ښځو شاهدي د يوه نر سړه برابره ده او ديانت يې هم کم دی ځکه په مياشت کې پينځه يا شپږ ورځې پهله لمانځه او روژې تېروي کما قال رسول الله ﷺ. او د ښځو سره شيطان سته چې مخامخ ونر ته مکر او حيلې کوي او شيطان په غلا او په پټه وسوسې ونر ته ور اچوي. وفي الحديث الصحيح قال رسول الله ﷺ مارئيت من ناقصات عقل ودين اذهب للعب الرجل الحازم (ای العاقل القوي الرای) من احدی کن.

يُوسُفُ أَعْرِضْ عَنْ هٰذَا ۚ

اې يوسف له دې قصې څخه اعراض وکړه يعني شائع کوه يې مه چې ماته لوی پېښور جوړ ېږي.... بيت:

قدم از جای غمازی بدرنه ..... که باشد پرده پوش از ده دريه.

او بيا عزيز وزليخا ته خطاب وکړی.

وَاسْتَغْفِرِي لِذَنْۢبِكِ ۖ إِنَّكِ كُنْتِ مِنَ الْخَاطِئِينَ ۝

او ته يا زليخا طلب د بخښنې وکړه د خپلې ګناه چې ارادە او عزم دزنی وډ يوسف عليه السلام سره په تحقيق ته په من القوم المذنبين کې يې، نو خطأ په معنی د ذنب ده.

سوال: عزيز خو مخاطب د زليخا وۀ، نو يې من الخاطئات ولې نه ووايه؟

ځواب: د عزيز دا قصد نه وۀ چې يوازې د ښځو حال بيان کړي بلکې بيان د نوع دی که رجل وي او که انثی، نو په صيغه راوړلو د جمع مذکر يې تغليب د نر پر ښځه وکړی. تاريخ پوهان وايي چې عزيز دېر حليم سړی وۀ، او بې غيرته هم وۀ ځکه يې زليخا ته ضرب او کوب ورنه کړی بلکې په دغه قدر يې کفايت وکړی "انک کنت من الخاطئين..... ابيات جامي رحمه الله عليه:

عزيز اين گفت وبيرون شد زخانه ..... بخوش خويی سمرشد درزمانه
تحمل دل کشت اما نه چندان ..... نگر خويی خوشست مانه چندين

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راوي وايي چي عزيز قسم واخستی چي د زلېخا سره به ځلو ښښت ورځي ملاقات ونه کړم او يوسف ﷺ يې له کوره وه ايستی په زورو کارو او خدمت يې الخته کړی او زلېخا يوازې پاته سوه، چي د يوسف ﷺ د نوراني مخ له ليدلو څخه هم محرومه سوه.

وَقَالَ نِسْوَةٌ فِي الْمَدِيْنَةِ

او وويل ښځو په ښار کي د مصر.

پوه سه: چي محمود آلوسي رحمه الله په روح المعاني کي وايي چي مشهوره داده واليه ذهب ابو الحيان چي نسوة جمع تکسير ده للقلة كصبية وغلمة، او مفرد له خپله لفظه نه لري بل من معناه وهو امرئة. او ابن سراج وايي چي اسم جمع د مرئة ده وعلى كل فتانيثه غير حقيقي، ولا التفات الى كون ذالك المفرد مؤنثا حقيقياً. نو ځکه يې فعل مؤنث نه راوړی يعني قالت، ودې ځواب ته مظهري او روح البيان هم اجمالي اشاره کړې ده.

دروښ وايي: چي دا ښځي پينځه وې (۱) زوجة الحاجب (۲) زوجة الساقي (۳) زوجة الخباز (۴) زوجة الدواب (۵) و زوجة البواب، دې ښځو دا ځبري هلته وکړې چي اوازه د امرئة العزيز او د يوسف او مراودة د امرئة العزيز په مصر کي نشر سوه.

پوښتنه: دا اوازه په مصر کي چا ګډه کړه او سره ددې چي عزيز مصر يوسف ﷺ ته وويل اعرض عن هذا؟

ځواب: دا شهرت په مصر کي د يوسف ﷺ له ځوانه دی راغلی بلکې د زلېخا د ځوا ځخه دی، ولي چي دې ته به هره ښځه راغله زلېخا به خپل حال او د معشوق يوسف حال ورته وايه.

مصرع:..... که عشق ومشک رانتوان نهفتن.

امْرَاَتُ الْعَزِيْزِ تُرَاوِدُ فَتٰىهَا عَنْ نَّفْسِهٖ قَدْ شَغَفَهَا حُبًّا

د عزيز ماينې زلېخا مراوده د خپل مريي عبراني ځخه يعني يوسف ﷺ له نفسه دده، يعني دده جماع او فاحشه غواړي. په تحقيق يوسف ورځيرلې ده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پرده ددې د زړه فدخل فيه حباً.

پوه سه: چې لفظ د "حباً" تميز دی له نسبت څخه د شغفها ای دخل حبه قلبها، سدي رحمه الله وايي چې شفاف يوه نرۍ پرده ده پر زړه باندې.

إِنَّا لَنَرَاهَا فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٣٠﴾

مونږ دا وينو (رؤية علمي دی) په ګمراهي کې له هدايت څخه وبعدٍ من الصواب، ولې چې دا د عزيز مصر دا لويه رتبه او دا له هرې څخه جماع غواړي. نو دا ظاهره ګمراهي ددې ده چې خپل د عصمت پرده په خپله پر ځان څيرې او ځان وتوله اهل مصر ته انګشت نما کوي، لکن عشق د زليخا که څه هم مجازي ؤ لکن دا مجبور الحال وه، خواجه عطار قدس سره وايي:

هر که او در عشق صادق آمدست ..... برسرش معشوق عاشق آمدست
گر بصدقی عشق پیش آید ترا ..... عاشقت معشوق خویش آید ترا

دروښ وايي: چې په اخير کې ددې قصې به مصداق د شيخ عطار د بيتو تاته ښکاره سي ان شاء الله تعالى.

فَلَمَّا سَمِعَتْ بِمَكْرِهِنَّ

نو چې واورېدی زليخا مکر ددوی يعنې غيبت ددوی.

سوال: غيبت ته يې مکر ولې ووايه؟

ځواب: له دې سببه چې دا خبره دوی په پټه کول لکه ماکر چې مکر په پټه کوي، او ابن اسحاق رحمه الله وايي چې مکر يې له دې کبله ورته ووايه چې ددوی غرض دا ؤ چې د يوسف عليه السلام وليدلو ته حيله جوړه کړي چې د يوسف د حسن او جمال دوی اورېدلي وه.

أَرْسَلَتْ إِلَيْهِنَّ وَأَعْتَدَتْ لَهُنَّ مُتَّكَأً

دوی يو ځوک ورواستاوه د مهمانۍ لپاره او زليخا ډېره په زړه پورې مهماني مهيا کړې وه او څلوېښت ښځې چې له دوی څخه دا غيبت صادر سوی ؤ راوه يې غوښتلې، ابن عباس او ابن جبير رضي الله عنهما او سعيد بن المسيب او قتاده رحمهما الله وايي چې د "متكأ" معنى طعام دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: متکأ خو د تکيې شي ته وايي، نو طعام ته څرنګه متکأ وويل سو؟

ځواب: مېلمانه چې اول راسي بالښتانو ته تکيه کوي د حضور طعام تر وخته پوري، نو طعام ته يې متکأ وويل استعارةً يقال يتكأنا عند فلان اى طعمنا عنده.

فائده: چونکه تکيه زده طعام خوړل د متکبرانو عادت دی نهی رسول الله ﷺ ان ياكل احد بشماله (اى بغير عذر) ويأكل متكأ (رواه ابوشيبة في كتابه)

او بعض علماً وايي چې متکأ هرهغه طعام ته وايي چې په چاړه قطع کېږي كان القاطع يتكأ عليه بالسكين لكه سېب او نارنج وغيره، او ابو يزيد انصاري وايي چې هر طعام چې په چاړه پرېکېږي هغه عرب ستک بولي، او ستک او بتک بالباً والميم قطع ته وايي، بغوي رحمه الله وايي چې زلېخا خونه ښائسته کړې وه بالمفروشات الفائقة او رنګارنګ مېوې او اطعمه يې اينبي وه او بالښتان يې د تکيې لپاره هم صف صف اينبي وه او دا ښځې يې دعوت کړي وې.

وَآتَتْ كُلَّ وَاحِدَةٍ مِّنْهُنَّ سِكِّينًا وَقَالَتِ اخْرُجْ عَلَيْهِنَّ

او زلېخا د هرې ښځې په لاس چاړه ورکړه چې ددوی په زمانه کې غوښې په قطع د چرې خوړل کېدې كما هو العادة اليوم في المتكبرين والمترفهين، او زلېخا و يوسف ته وويل پر راووځه، زلېخا يوسف عليه السلام په بل ځای کې کښېښولی وُ.

عكرمه رحمه الله وايي چې فضل د يوسف عليه السلام په حسن او جمال کې پر نورو ذی حسن والاوو باندې لکه فضيلت د څلورلسم د سپوږمۍ پر نورو ستورو. په حديث شريف کې چې روايت يې ابن جرير او حاكم کړی دی له ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه چې رسول الله ﷺ وويل چې ما وليدی يوسف عليه السلام په ليلة المعراج کې كالقمر ليلة البدر.

زلېخا ويوسف عليه السلام ته ډېرې زارۍ وکړې چې زه ستا د محبت له سببه د مصر د ټولو ښځو په خوله کې افسانه سوم او پر ما يې دا فيصله کړې ده "انا لنراها في ضلال مبين" او دوی ستا حسن نادیده زه يې د ملامتيا په غټو ويشتلې يم ته ښه ځان په ښو کالو سره اراسته کړه او دوی چې تا ووينې ما به معذوره وګڼي ستا په عشق. او زما به دوی ته ژبه د ملامتيا د جواب خلاصه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سي، او دوی به زما له ملامتیا څخه توبه وکاږي او پښېمانه به سي، دا به ستا لوی احسان وي زما سره. الغرض زلېخا یوسف علیه السلام په وړته زاریو قانع کړی چي ودغو ښځو ته راووځي بې حجابه په ښه لباس کې.

فَلَمَّا رَأَيْنَهُ أَكْبَرْنَهُ

نو چي ولیدی ښځو د یوسف جمال او حسن په حیرت کي ولوېدې او هوش يې له سرو څخه ولاړی، روح البیان، مظهري او روح المعاني له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت کړی دی چي معنی د "اکبرنه" حضن" یعني حیض راغلی، او ضمیر و یوسف ته راجع دی بحذف المضاف ای من اجل یوسف.

پوښتنه: حیض ته کبر ولي وایي؟

ځواب: بلوغ د ښځي په حیض معلومېږي او دا حالت د حیض بې وخته، وښځي ته هغه وخت پېښېږي چي په غایت درجې کي د جماع شوق يې په زړه کي پیدا سي، عربي محاروره يې داده "اکبرت المرئة اذا حاضت کذا في تفسیر الکواشي".

دروښ وایي: چي دا تفسیر چونکه نادر وو، نو ځکه ما وتفاسیرو ته حواله ورکړه تاچي ژبه د حاسد اعظم خپل عاق الاب المرحوم کتاب فروش بنده سي

چشم بد اندیش که بر کنده باد ..... عیب نماید هنرش در نظر

هم یحسدونني وشر الناس کلهم ..... من عاش في الناس یوماً غیر محسود

دا د پوه سړي قاعده ده چي د سپو د غپا په سبب خپل سفر نه قطع کوي.

دروښ وایي: چي ښځي د مصر چي د زلېخا مېلمني وې چړې يې په لاس کي وې چي اترج او سېب وغیره يې قطع کاوه.

وَقَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ وَقُلْنَ حَاشَ لِلَّهِ مَا هَٰذَا بَشَرًا

او دوی په چاړه خپل لاسونه پرې کړه یعني دومره يې هوش له سرو څخه په لیدلو د یوسف علیه السلام ولاړی چي دوی په ځای کي د قطع د سېب وغیره چړې پر خپلو لاسونو تېرولې او د غایت حیرت څخه په الم د قطع الید نه پوهېدلې یعني لاسونه يې له اختیار څخه وتلي وه او زړونه يې له ادارک څخه د الم الید غافله وه کذا في تفسیر التبیان، نو دوی یعني ښځو وویل تنزیه او پاکي ده خدای پاک لره له عجز څخه او تعجب دی خدای پاک لره پر کمال قدرت دده یعني داسي حسن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فوق العادة يې په يوسف عليه السلام کې ايښې دی. اصل ددې کلمې حاشا لله وُ د کثرت استعمال له کبله الف ځنې حذف سو. دا يعنې يوسف خو نه دی بشر، ولې چې په بشر کې دومره خوبصورتي او ښائست چا نه دی ليدلی الی يومنا.

پوه سه: چې عمل د ما نافيه لکه عمل د ليس دی، مذهب د حجازيينو لمشارکتها في النفي. او اهل کوفه يې منصوب په نزع د حرف جر بولي. والتقدير عندهم ما هذا ببشر.

إِنْ هَٰذَآ إِلَّا مَلَكٌ كَرِيمٌ ﴿٣١﴾

نه دی دا شخص يوسف مګر ملکه ده چې ګرانه ده پر خدای.

دروښ وايي: چې د خلګو په عقولو کې دا راسخ ده چې ملائکه احسن صورةً دي تر هر چا چې ژوندی مخلوق دی. او دا هم د خلګو په عقولو راسخ ده چې بدرنګه تر شيطان نسته، داغه رنګه تشبيه د حسن الصورة د ملکې سره کوي وايي فلانی ملکه ده، او د يو قبيح صورته تشبيه د شيطان سره کوي وايي چې فلانی لکه شيطان.

حکايت: جاحظ چې يو ستر عالم وُ په نحو او معانې کې او په صورت او مخ د هر بدرنګه وُ. جاحظ وايي يو وخت زه په بازار کې روان وم يوې ښځې راته وويل چې ملا صاحب تردغه دکان د زرګر به زما سره ولاړ نه سې، ما ورته وويل چې درسره ځم، ښځې زه راهي کړم او زرګر ته يې ودرولم، ښځې زرګر ته وويل چې داغسې ماته اشاره وکړه، ښځې ووېل ملا صاحب تکليف مې درکړی خدای پاک دي ثواب درکړي، ښځه راځخه راهي سوه زه حيران پاته سوم چې ددې ښځې څه مطلب وُ، نو ښځه خو ولاړه ما له زرګر څخه پوښتنه وکړه چې دې ښځې تاته څه اشارتي خبره وکړه؟ زرګر راته وويل چې دا ښځه څو مده په ما پسې ده چې ماته له زرو څخه د شيطان صورت راجوړ کړه ما به ورته ويل چې ما خو شيطان نه دی ليدلی، نو څرنګه بت درجوړ کړم، دې نن ته راوستلې او راته وه يې ويل چې لکه دغه ملا صاحب داسې شی راجوړ کړه، د مصري ښځو د خبرو تائيد: "ماهذا بشراً" په نورو روايتو کې راغلي دي چې يوسف عليه السلام چې به د مصر په کوڅو کې روان وُ. نو د مخ رښا به يې په کوڅو کې داسې معلومېدله لکه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رنها د لمر له اسمان څخه وقد صح ان امه راحيل وجد ته سارة كانتا جميلتين جداً.

دروښ وايي: چې څه وخت چې زلېخا دليل د مجبوريت خپل په حب کې د يوسف عليه السلام وملامتونکو مصري ښځو ته په ښه وجه واضح کړی، نو بيې داسې وويل

قَالَتْ فَذٰلِكُنَّ الَّذِيْ لُمْتُنَّنِيْ فِيْهِ ؕ

دغه دی هغه عبراني مريی چې تاسي زه ملامتولم په عشق کې دده، په تاسي يې په يوه ديدار څه فسادونه وکړه، نو زما به په روز مره ديدار کې څه حال وي.

پوه سه: چې يوسف که څه هم حاضر وٗ لکن اشاره يې په لفظ د بعيد چې "ذالک" دی ورته وکړه اشارةً الی بعد رتبته كذا قالوا في قوله تعالى ذالک الكتاب لاريب فيه فتأمل.

وَلَقَدْ رَاوَدْتُّهٗ عَنْ نَّفْسِهٖ فَاسْتَعْصَمَ ؕ

او په تحقيق ماطلب وکړی له نفسه دده كناية عن الجماع ده لار د عصمت خپله کړه او ماته يې منع وکړه، زلېخا چې دا اقرار ومصري ښځو ته وکړی ددې لپاره چې دوی هم زما سره کومک وکړي او يوسف ته زما سره همکاري وکړي، ولهذا مصري ښځو يوسف عليه السلام ته وويل اطع مولاتک ددې په خوله وکړه.

دروښ وايي: چې زلېخا د حيلو په باب کې نسوه کاميابه په خپل مقصد کې او د عجز او زاريو کار يې هم په درد نه وخوړی اخيراً د زور او پېښ رو کار ته يې لاس ورواچاوه او وه يې ويل:

وَلَئِنْ لَّمْ يَفْعَلْ مَآ اٰمُرُهٗ لَيُسْجَنَنَّ وَلَيَكُوْنًا مِّنَ الصّٰغِرِيْنَ ﴿۳۲﴾

"لام موطئه د قسم محذوف دی" که چېرې يوسف ونه کړي هغه کار چې زه دی په امر کوم يعني الجماع، په تحقيق دی به بنديي کړل سي او هر آئينه دی به ګرځي د ذليلانو په ډله کې.

پوه سه: چې "ليكونن" مؤكد په نون خفيفه دی چې الف سره اوړي په وقف کې لشبهها بالتنوين.

دروښ وايي: چې جامي رحمه الله په بيان کې د وعيد د زلېخا و يوسف ته داسې وايي:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اگر نه نهد بكام من دگر پای ..... ازين پس كنج زندان سازمش پای
بگردد مرغ وحشی بدان رام ..... كه گيرد درقفس يک چند آرام

قَالَ رَبِّ السِّجْنُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا يَدْعُونَنِي إِلَيْهِ

يوسف وويل يا رب بندي خانه زما خوښه ده تر هغه كار چي زلېخا او كومكيانې ددې يعني د مصر ښځې وهغه كار ته ما دعوت كوي يعني فاحشة الزنى.

عجب درمانده ام در كار ايشان ..... مرا زندان به از ديدار اينان
به از صد سال درزندان نشينم ..... كه يكدم طلعت ايشان به بينم

پوښتنه: داعي د زنى خو يوازې زلېخا وه، نو صيغه د جمع يعني "يدعونني" يې ولې راوړه؟

ځواب: ما په ترجمه كې ددې آيت ددې پوښتنې ځواب ته اشاره وكړه په دې عبارت او كومكيان آه. او بعض مفسرين وايي چې هغو نورو ښځو هم يوسف وخپلو ځانو ته دعوت كړى ولپاره د زنا، او داهم يو معقول ځواب دى چې يوسف عليه السلام مراعات د حسن خدمت د زلېخا وكړى، نو له تصريح ځخه يې و تعريض ته مخ واړاوه، علماً وايي كه يوسف عليه السلام د سجن غوښتنه په دې قول دده رب السجن احب الي" نه واى كړى او سوال د عافيت يې كړى واى په سجن به نه واى مبتلاً سوى.

دروښ وايي: چې چونكه خداى پاك ته د يوسف عليه السلام رتبه د عزيز مصر منظوره وه او هغې رتبې ته بېله بندي خانې نسواى رسېدلاى كما سيئاتي في القرآن العزيز، نو ځكه د يوسف عليه السلام پر خوله خداى پاك د "رب السجن احب الي" وروستى لكن قطع نظر له حال ځخه د يوسف عليه السلام مسلمانانو ته اولى سوال د عافيت دى، له دې كبله يو سړى چې سوال د صبر يې كاوه، ترمذي له معاذ رضي الله عنه ځخه روايت كړى دى سمع رسول الله ﷺ رجلاً وهو يقول اللهم اني اسئلك الصبر، قال عليه السلام سألت البلاً (لان الصبر انما يكون على البلاً) فاسئله العافية، طبراني له عباس بن عبد المطلب رضي الله عنه ځخه روايت كړى دى چې ما و عليه الصلوة والسلام ته وويل "علمني شيئاً اسئله ربي عز وجل فقال يا عم سل الله العافية في الدنيا والآخرة انتهى باختصار الحديث.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حکایت: د یوه شیخ په حال کې د غرق په دریاب کې د محبت الهي داسې تر خوله ووتل ستا رضی او محبت غواړم وهري بلا ته د دنیا تیار یم، خدای پاک عذاب د بولو د بند یدلو پر مسلط کړی، یوه ورځ خو یې په غایت مشقت کې صبر وکړی، اخیر یې د صبر پیمانه لبریزه سوه امکان د صبر یې له لاسه ورکړی، چې په ځان پوه سو، نو یې لمن د جوزو ډکه کړه او د کلي کوچنیانو ته یې وویل چې یو یو جوز درکوم زه به څغلم تاسې ناري راپسې وهئ چې خدایه کاکا درواغ ویله پښیمانه دی. د کوچنیانو مهله سوه، یو دوه چکره چې یې ورکړه بولي یې ایله سوې.

وَإِلَّا تَصْرِفْ عَنِّي كَيْدَهُنَّ أَصْبُ إِلَيْهِنَّ وَأَكُن مِّنَ الْجَاهِلِينَ ﴿٣٣﴾

که ته اې خدایه ما خلاص نه کړې له چمو څخه ددوی چې دوی زما په ستر ګو کې فاحشه د زنی بنائسته کوي یعني دوام پر عصمت را نه کړې. زه به میل وکړم دوی ته یعني ددوی دعوت د فاحشة الزنی به قبول کړم یعني په مقتضی د طبع بشري او شهوت انساني. والصبوة في اللغة الميل الى الهوى. نو ددې آیت مقصود دادی چې یوسف علیه السلام په ضمن کې اخبار د خدای ﷻ دوام پر عصمت غواړي، او زه به وګرځم د جاهلانو له ډلې په سبب د ارتکاب د فعل د فاحشة الزنی لان العاقل لا يقبل القبيح شرعاً.

فائده: مسلمان چې هره ګناه کوي په جهالت کې یوه یوه درجه یې پورته کېږي الا ان یتوب.

فَاسْتَجَابَ لَهُ رَبُّهُ فَصَرَفَ عَنْهُ كَيْدَهُنَّ ۚ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿٣٤﴾

نو قبول کړی خدای پاک خواست د یوسف چې په ضمن کې ددې خبرو د یوسف راغلي وه الا تصرف آه، نو خدای پاک دفع کړی له ده څخه مکر او کید د زلیخا او ملګرو پر دې ډول چې یوسف علیه السلام ته یې ثبات او دوام پر عصمت ورکړی حتی چې ده سجن مختار کړی ولو کان مشقة عظيمة على اللذات الشهوية چې په ضمن کې د هغه معصیت الهي د زنی نغښتی دی. په تحقیق خدای ﷻ اوربدونکی دی د دعا د متضرعینو او خبر دی په احوالو ددوی ومن جملتهم یوسف الصدیق.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ثُمَّ بَدَا لَهُمْ مِّنْ بَعْدِ مَا رَأَوُا الْآيٰتِ

وروسته ښکاره سوه عزیز مصر او همکارانو مشاورینو ته دده وروسته تر دې چې دوی ولیدل دلائل دالة پر صدق د یوسف ﷺ او برائت دده من کلام الطفل وقد قمیص من دبر وقطع النسآ ایدیهن وعدم الامتثال لیوسف لدعوتهن وقبول السجن في مقابل دعوتهن الی الزنی مع زلیخا ومعهن.

پوه سه: چې په "بدا" کې ضمیر مبهم دی چې تفسیر یې دادی:

لَيَسْجُنُنَّهُ حَتّٰى حِيْنٍ ۝

چې دی بندي کړو تر یو وخته پورې، غرض ددې دا ؤ چې دی بندي کړونو تهمت له زلیخا څخه به دفع سي. او خلګو ته به په سبب دده د بند دا ثابته سي چې یوسف ملامت ؤ، د "الی حین" معنی داده چې تر هغه وخته پورې چې اواز دفع کیږي او دا اور مړ کیږي یعني بیرته به یې رها کړو.

پوه سه: چې دا کار عزیز وکړی په امر د زلیخا ولي عزیز که څه هم ددې مهره ؤ لکن په حقیقت کې لکه مریی ؤ، او مهار د کارو د عزیز د زلیخا په لاس کې ؤ.

پوښتنه: د زلیخا مقصد په دې کې څه ؤ؟

ځواب: ددې غرض دا ؤ چې یوسف ﷺ چې د بندي خانې خواري او ذلت ووینې زما به مسخر سي او زما ومقصد ته به غاړه کښېږدي، او یا یې دا غرض ؤ چې دا د قریبانو او نورو ښځو له غیبت ویلو څخه شرمیدله.

زلیخا ومهره ته وویل چې دې عبراني مریي زه رسوا او انګشت نما کړم بخبرهم انې راودته عن نفسه، نو یا به ته ماته اجازه راکوې چې خلګو ته ور ووځم او خپل عذر ورته بیان کړم واما ان تحبسه الی ان تنقطع مقالة الناس، یعني یا به یې بندي کوې تر څو چې خبرې د خلګو دفع کیږي او د خلګو به یقین سي چې مجرم یوسف ؤ.

سوال: زلیخا څرنګه پر خپل محبوب قلبي حبس خوښ کړی؟

ځواب: دا ښېږدله چې عزیز دا مریی پر بل چا خرڅ نه کړي یا یې له مصر څخه خارج بل ځای ته یې وانستوي، فرضیت بالحجاب عنه مکان خوف الذهاب للابد. ددې خیال ؤ چې خبر د یوسف له بندي خانې څخه نسي که راښي سو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هوري بندي خانې ته به پته ورځې خپل قضاً حاجت به کوې ..... مصرع:

لکن این خیال بود ومحال بود وجنون.

عارف جامي قدس سره السامي وايي:

زلیخا را چو آن جاد وزیان ..... شد از زندان امید وصل جانان
برای راحت خود زبح او خواست ..... دران ویران امید گنج او خواست
چو نبود عشق عاشق را کمالی ..... نه بند د جز مراد خود خیالی
طفیل خویش خواهد یار خود را ..... بکام خویش خواهد کار خود را
ببوی یک گل از بستان معشوق ..... زند صد خار غم بر جان معشوق

راوي وايي چې د عزیز مصر دریې بندي خانې وې (۱) سجن العذاب چې هغه په مځکه کې کندلی ځای ؤ او په هغه کې لرمان او ماران وه او داسې تاریک ځای ؤ چې د شپې او ورځې درک نه پکښې معلومېدی (۲) یو سجن هغه ؤ چې په مځکه کې یو ځاځلو ښښت گزه ژور ؤ، نو د ملک چې به یو چاته ډېره غصه راغله، نو هغه بندي به یې ودې ځاه ته پر سر ورغورځاوه چې د ځاه پای ته نارسیده به مړ سو (۳) سجن العافیة وه چې هغ د مځکې پر سر ؤ، نژدې وقصر عزیز ته، نو د ملک یا عزیز چې یو نوکر یا حکومتي مأمور ته درد راغلی نو په دغه سجن العافیة کې به یې بندي کړی، نو زلیخا چې په امر د عزیز د یوسف بندي گول وغوښتل، نو د بندي خانې آمر یې په خط کې نوشته کړی چې د یوسف نامي بندي لپاره یو تنها وطاق اراسته کړه، او بیا یې یوسف علیه السلام ته وویل چې پر مادي ډېري ځیگر خونی تېري کړي او زما هره حیله دي ناکامه کړه او زه دي په ټوله مصر کې شرمنده او انگشت نما کړم اوس به دي زه واستوم وعذاب ورکونکو ته د بندي خانې چې تاته جزاً د عذاب ستا چې پر مادي تېري کړي درکړي، او زه به په تا واغوندم په عوض کې د ورېښمینو کالو چې ما په تا اغوستي وه د وړیو کالي چې نازک پوست دي دروځوري، او داسې قید او زولنې به دي په پښو کې دراچوم چې هډوکي د پښو به دي درد کوي او داغه یې هم وکړه.

سوال: څرنگه د زلیخا پر یوسف علیه السلام چې ددې محبوب قلبي ؤ دا دومره تکلیفونه او ربړول روا وبلل؟

ځواب: ددې خیال دا ؤ چې یوسف به زاری راته وکړي چې ستا مقصد به

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درسره کړم خو ماته دا تکليف مه راکوه لکن يوسف عليه السلام د خداى پاک شاکر و چې له مصيبت څخه د فاحشه خلاص سوم او پر دې ناوړه عذاب صابر و.

دروېش وايي: چې مولى جامي قدس سره دغه ماجرى په منځ کې د يوسف او زلېخا په ښوو دلپذيره فارسي ابياتو بيان کړې ده لکن څه وکړم چې د اوسنى زمانې طالبان او امامان د خپل جهل له سببه د فارسي د نظم او نثر څخه ډېر بد وړي. او دروېش ته څو واره طالبانو په دې باب کې شکايتونه کړي دي لکن دروېش يې شکايت ته غوږ نه دى نيولى:

بگوى آنچه دانى سخن سودمند ..... وگر هيچ کس را نيايد پسند

دروېش وايي: چې دوى دي خپل د جهل په لغت فارسي سره چې افصح د السنه وو ده وروسته تر عربي چاره وکړي يعنې کم از کم پنج کتاب، حافظ، بوستان او گلستان سعدي او يوسف زلېخا کتابونه دي پر يوه استاذ مقتدر في اللغة الفارسية زده کړي. وروسو دا مذکوره کتابونه تقريباً په يوه کال کې ښه زده کېږي د عمر لپاره به دي په ښه درسي.

راوي د قصې وايي چې يوسف عليه السلام چې د بندي خانې دروازې ته ورغلى سر يې کښته کړى کښېنستى بسم الله او حمد د خداى عزوجل يې ووايه بندیان پر راتهول سول. ولې چې د يوسف د حسن اوازه او محبت د زلېخا دده سره تولو اورېدلې وه او د تعجب گوتې يې په غاښو کې نيولې وې. راوي وايي چې يوسف عليه السلام عمومي بندیانو ته داسې دعا وکړه اعطف عليهم الاخيار ولا تخف عنهم الاخبار. خلق وايي چې بندیان اعلم الناس دي بکلام خبر يحدث في خارج السجن.

وَدَخَلَ مَعَهُ السِّجْنَ فَتَيٰنِ

او داخل سوه سره د يوسف يعنې په ورځ د دخول د يوسف عليه السلام بندي خانې ته "كما يدل عليه كلمة مع" دوه ځوانان يعنې مريان د وليد بن ثروان العمليقي ملک مصر، چې يو يې اشپز نان واى او بل يې شراب چورونکى ساقي و. بغوي وايي چې سبب د بند ددې دوو مريانو چې خلگو د ملک مذکور لپاره يو دسيسه جوړه کړې وه چې دى ووژني او دده په ځاى کې بل شاه مقرر کړي. نو اشپز او ساقي ته يې ډېرې روپۍ منلې وې چې تاسي د ملک په خوراک او شرابو کې زهر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ګډ کړئ. نو خباز (دودی پخونکي) داغسي وکړه او ساقي له زهر ګډولو څخه پښېمانه سو، نو ماښام چې يې ملک ته طعام او شراب راوړل، ملک چې طعام ته لاس ور وغځاوه ساقي ږغ پر وکړی لاتاکل ایها الملک فان فیه سم، ساقي وملک ته وویل لا تشرب ایها الملک فان الشراب مسموم ایضاً.

پادشاه ملک و ساقي ته وویل چې ته دا شراب وڅيښه، ساقي وڅيښل هيڅ په ونسوه، ولي په شرابو کي خو زهر نه وه اشپز ته يې وویل چې دا طعام وخوره، نان وای له خورک څخه پوه وکړه، نو ملک دغه طعام پر يو حيوان تجربه کړی هغه چې وخوړی مړ سو، نو ملک دوارې بندي خانې ته واستول او هغه ورځ د يوسف عليه السلام د دخول ورځ هم وه.

سوال: ساقي خو بری الذمة ؤ له جنایته، نو هغه يې ولي بندي خانې ته استاوه؟

خواب: د مزید تحقیق لپاره چې تاسي ته ویې چا درکړي وې او هغه کسان څوک وه، راوي وایي چې يوسف عليه السلام به بندیانو ته ویل هر يوه چې خوب ولیدی ماته دې وایي زه يې تعبیر ورته کوم، نو دا دوو بندیانو وویل چې رائځ چې دا غلا، عبراني تجربه کړو، نو له يوسف عليه السلام څخه يې د خپل خوب تعبیر وپوښتی هر يوه بېله دې چې دوی خوب لیدلی ؤ پوښتنه يې وکړه، د ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی "مارئینا شیئاً وان ماتحا لما لیجربنا یوسف، او بعض مفسرین وایي چې دوارو حقیقةً خوب لیدلی ؤ، يوسف عليه السلام چې دوی دوه ولیدل د هره غمناکه ناست وه، نو يې سبب دغم ځني وپوښتی هغو خپل تولـه صورت حال ورته بیان کړی او زیاته يې کړه چې د شپې مور دوارو خوب لیدلی. د هغه په تعبیر کي فکر جن يو، يوسف عليه السلام ورته وویل چې تاسي خوب لیدلی ؤ ماته ووایاست زه بې تعبیر درته وکړم قال الله عزوجل.

قَالَ أَحَدُهُمَا إِنِّي أَرَانِي أَعْصِرُ خَمْرًا

يوه ورته وویل چې ساقي وو چې ما خپل ځان په خوب ولیدی چې زه نبتیځم يعني چوخ تانړوم انګور.

يوه سه: چې خمر يې وانګورو ته په وخت کي دعصر ووایه په اعتبار د مایؤل الیه يعني مجاز دی او بعض علماً وایي چې خمر انګوروته وایي په لغت د عمان فلا مجاز

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حينئذ د عربي عبارت د ساقي ترجمه داده چي ما خوب وليدی چي زه په باغ کي يم او دانګور درخټي ته ودرېدم چي دري وانښکيه انګور پوري څرېدل او د ملک ګلاس زما په لاس کي وو دري سره مي پکښي ونښتېږل ملک ته مي وروړه او ملک وچښل.

وَقَالَ الْاٰخَرُ اِنِّيْٓ اَرٰىنِيْٓ اَحْمِلُ فَوْقَ رَاْسِيْ خُبْزًا تَاْكُلُ الطَّيْرُ مِنْهُ نَبِّئْنَا بِتَاْوِيْلِهٖ

چي مائځان په خوب وليدی چي اخستی مي وي پر سر برسېره ډوډۍ چي مرغان خوراک ځندي کوی دا نفر اشپز وو. موږ خبر کړه په تعبير د دې خوب يعني ما يؤل اليه امره.

سوال: خوبونه خو دوه وه نو مفرد ضمير په "تأويله" کي څه رنګه ورته راجع سو؟

ځواب: محمود الوسي رحمه الله په روح المعاني کي وايي چي افراد د ضمير بتاويل ما ذکر او يا ما رؤيي دی.

اِنَّا نَرٰىكَ مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ ۝

موږ تا وينو يعني په ستر ګو او يا پر تا علم لرو چي رويت علمي سي د محسنينو څخه يعني چي ښه تعبير د خوبو کوي چي د هر بندي خوب چي تايي تعبير ورته کړی وي هغه سي ختلی وي او يا احسان په معنی د علم دی کما في قول کرم الله وجهه قيمة کل انسان ما يحسنه ای يعلمه" او يا احسان کوونکی يې د بنديانو سره" يعني فاحسن الينا بتعبير رؤيانا ان کنت تعرفه.

پوه سه: چي روح المعاني" او مظهري او روح البيان او قرطبي په متقارب عبارتو سره د دې آيت ترجمه داسي کړې ده" په روايت د ضحاک رحمه الله بن مزاحم چي له ده څخه چا پوښتنه وکړه د دې آيت د تفسير په باره کي " ماکان احسان يوسف" ده ورته وويل چي په بنديخانه کي به څوک مريض سو يوسف بيمار پرسي کول او ما يحتاج اليه المريض به يې وربرابروه، او پر يو بندي چي به ځای تنګ سو يوسف به ځای ورته فراخه کاوه او که يو بندي به ډېر مسکين وو پر نورو بنديانو به يې چانده ورکوله، او يو بندي نه بلکه ډېر بنديان په بنديخانه کي وه چي د ډېري زمانې څخه به بنديان وه او اميد د خلاصون به يې نه وو او ډېر به غمجن وه يوسف به دوی ته تسلي ورکول او دوی ته به يې ويل چي صبر وکړئ خدای جل جلاله به اجر درکړي" ان مع العسر يسرا" الاية.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او سره د بنده یوسف په عبادت د خدای ﷻ ډیر کوشان ټوله شپه به یې په قیام اللیل تېرول، نو بنده یانو چې د یوسف اخلاق حسنه او عبادت فوق العادة ولېدی، نو یې وویل یا فتی ما احسن وجهک وخلقک وحدیثک ای ځوانه څرنګه نورانې ښائسته مخ دی ستا او څومره زیبا دي اخلاق ستا او څونه خوږې او په زړه پورې خبرې دي ستا "لقد بورک لنا في جوارک" فمن انت ته څوک یې قوم خو یې زده وُ چې عبراني دی اصل پوښتنه د نسب یې غرض وه د ورته وویل انا یوسف بن صفي الله یعقوب بن ذبیح الله اسحاق بن ابراهیم خلیل الله.

دروښ وایې: چې دا بیان پر یوسف بنا دی پر مذهب د هغو علماؤ چې ذبیح الله اسحاق بولي لکن مشهوره دا ده چې ذبیح الله اسمٰعیل وو چې په اجدادو کې د رسول الله ﷺ وو، او تحقیق د دې بحث ډېر اوږد دی یعني چې ذبیح الله څوک دی ومن الجانبین دلائل رجوابات "چې دا ځای نه دی د بیانولو، یوبندي وان او سر پرست د بندي خانې ورته وویل یا فتی والله لو استطعت لخلیت سبیلک" ای ځوانه که زما په وسه پوره وای ما به ستا لار در خالي کړې وای یعني ده به ایله کړی وای غرض یې دا وو چې زه خو د حکومت نوکر یم ستا ایله کول مې په طاقت نه دی پوره "لکن سئا حسنک جوارک تمکن في ای ناجة السجن شئت" په قصه کې راغلي دی چې هغه دوو بندیانو د ملک چې خباز او شراب جوړونکي وه یوسف ته وویل لقد احببناک حین رئیناک یوسف ورته وویل چې ستاسي دې په خدای قسم وي که به زما سره محبت کوئ" فو الله ما احبني احده الا دخل علي من حبة بلا لقد احبني عمتي فدخل علی بلا ثم احبني ابی یعقوب فمن جهة هذا الحب الفیت في الجب کما مر تفصیله واحبني امرئة العزیز فوقعت فی السجن من حبها.

دروښ وایې: چې د پلار د وروڼو حسد وو چې څاته واچاوه او د زلیخا د محبت بلا دی بندي خانې ته راوستی دا ټولي قصې قریبا او بعیدا تیرې سوې.

یوه قصه د بلاد عمه دلته نه ده تېره سوې هغه قصه داوه چې د یوسف ﷺ مور راحیل په نفاس د بنیامین چې تر یوسف وروسته پیدا سو مړه سوه، نو یعقوب ﷺ بني یامین مرضیه ته په لاس ورکړی او یوسف چې هم کشنی وو لکن پر پښو ګرځېدی، نو یوسف یعقوب علیه السلام وه خپلي خورته چې د یوسف عمه سي په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لاس ورکړی د تربېې لپاره تر څو چې د پلار ه سره ګزاره کولای سي پر عمه باندې
دېر ګران وو يوسف ﷺ چې تقريبا د اوو اتو کاله سو پلار يعقوب ﷺ خپلې خور
ته وويل چې يوسف، نو اوس ماته راواستوه چونکه پر عمه دېر ګران وو، نو يو
کمر بند چې قديما د دې په لاس کې په پټه يعنې د خوب په وخت کې د ده تر ملا
غوټه کړی يوسف چې پلار ته را وستی چې د دې وروړ يعقوب وو دا کورته ولاړه
وروسته بېرته راغله چې يوسف کمر بند غلا کړی دی چې تلاشي يې په کښې
وکړه کمر بند د يوسف تر ملا وو د يعقوبې شريعت سره سم غل د شي به په اندازه د
قيمت د غلا کړې شي به د مالک سره د مال اوسپړي او د هغه خدمت به کوي. نو
يوسف ﷺ بېرته عمه د پلار څخه بوتی خپل کورته او د پلار ه يې جلا کړی تر هغه چې
وخت مقرر تېر سو، نو يې يوسف د پلار يعقوب عليه السلام په لاس ورکړی، نوره
قصه د محبت د يعقوب ﷺ دده سره تېره سوې ده.

قَالَ لَا يَأْتِيكُمَا طَعَامٌ تُرْزَقَانِهِۦٓ إِلَّا نَبَّأْتُكُمَا بِتَأْوِيلِهِۦ قَبْلَ أَن يَأْتِيَكُمَا ۚ

"قال" اى يوسف، تاسي ته به نه سي را طعام حسب المعمول چې تاسي خورئ
په بندي خانه کي، مګر زه مو خبر کړم په ماهيت د هغه طعام چې څه شى او
څومره به وي. او رنګ او خوند به يې څرنګه وي دمخه تر دې چې تاسي ته رائي.

پوه سه: چې اراده د يوسف ﷺ دا وه چې دې دوو بندیانو خباز او ساقي ته د
توحيد دعوت ورکړی لانه اولى و اوجب عليهما تر تعبير د خوب چې دوى له
يوسف ﷺ څخه پوښتنه کړې وه، او هدايت د ايمان يې ورته وکړی او ايمان يې
ددوى په زړونو کې ښائسته او زېبا شى وربنکاره کړی. كما هو طريقة الانبيآ
والعلمآ والصالحين، من الشفقة على الناس. نو يوسف ﷺ دمخه تر ارشاد
ددوى يوه معجزه من الاخبار بالغيب وربنکاره کړه تا چې دده پر صدق په دعوت
د توحيد او په تعبير د رؤيا دلالت وکړي.

سوال: دې خبرتيا ته يې تأويل څرنګه ووايه او سره ددې چې تأويل بحسب
الاستعمال في العربية تعبير ته د خوبو وايي؟

خواب: دا اطلاق له قسم څخه د استعارې دى يعنې مطلق طعام خو مبهم دى
او بندیانو ته چې رائي هغه نوع معين ده. داغه رنګه خوب ليدل يو مبهم نا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

معلومه شی دی او تعبیر یې تعین دی.

پوه سه: چې دا استثناً مفرغ ده من اعم الاحوال والمعنى لا یأتیکما طعام في حال من الاحوال الا حال ما نبأتکما به.

پوه سه: چې "قبل ان یأتیکما" ای قبل ان یصل الیکما.

فائده: دا معجزه په مثال د معجزې د عیسی علیه السلام ده چې خلګو ته به یې ویل "وأنبئکم بما تاکلون وما تدخرون في بیوتکم.

ذَٰلِكُمَا مِمَّا عَلَّمَنِي رَبِّي

دا ښوونه بعض له هغو شیانو څخه چې زما خدای عزوجل ماته ښوونه کړې ده.

دروښ وایي: چې مظهري خو دعوه کړې ده چې دا تعلیم په وحي قطعي اسماني یعني یوسف په دغه وخت کې نبي ؤ. او روح المعاني او روح البیان وایي بالوحي وما یحصل به العلم کما للاولیاً اهل الکشف رحمهم الله ویقال له الالهام

پوه سه: چې غرض په دې قول کې د یوسف علیه السلام دا ؤ چې ښوونه د غیب له قسمه څخه د کهانت او عرافت نه ده.

إِنِّي تَرَكْتُ مِلَّةَ قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ

ما پرې اینبسی دی دین د هغه خلګو چې ایمان نه راوړي پر خدای پاک، یعني پر توحید د خدای عزوجل.

پوه سه: چې دا جمله استینافیه ده جواب د سوال مقدر ده چې له ماقبل څخه پیدا سو، کانه قیل لماذا علمک ربک تلک العلوم الجلیلة الشان. فاجاب اني ترکت آه، یعني ما پرې اینبسی دی هغه دین چې خلګو په جمع واړي کاوه من الشرک وعبادة الاوثان، فبذالک الترک حصل لي تلک المنقبة.

وَهُم بِالْآخِرَةِ هُمْ كَافِرُونَ ﴿٣٧﴾

او دوی په اخیرت سره یعني بعث بعد الموت سره دوی کافران وه یعني منکران وه.

پوه سه: چې کلمه د "هم" ثاني تاکید دی د اول "هم".

د خدای عزوجل حکمت: علماً حقاني وایي چې یوسف علیه السلام خدای پاک مبتلا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړی په مريي توب د قطفير او بيا په بندي خانه کي د زليخا له لاسه تاچي يوسف عليه السلام په اخير کي عزيز مصر وګرځي پر مريانو به رحم کوي او د بنديانو احوال پرسي به کوي تا چي بغير حق بندي خو په بندي خانه کي نسته لکه دی چي ناحقه بندي وٗ. او داغه رنګه يې يوسف مبتلاً کړی په حسد د اقرباؤ او حاسدانو چي دده ورونه وه کمامر قصته. تاچي دی عادت ونسي د حسد او ظلم سره د قريب او بېګانه او برداشت يې کړي. او مبتلاً يې کړی په غربت او مسافری او جلا وطنی. تاچي دی په آئينده کي د غرباؤ سره مرسته او ښه برتاؤ وکړي، وهکذا ددې حکمت داسي مثال دی لکه په سورة والضحی کي چي خدای پاک و عليه الصلوة والسلام ته خطاب کوي او وايي:

أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَـَٔاوَىٰ ۝ وَوَجَدَكَ ضَآلًّا فَهَدَىٰ ۝ وَوَجَدَكَ عَآئِلًا فَأَغْنَىٰ ۝ فَأَمَّا ٱلْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ ۝ وَأَمَّا ٱلسَّآئِلَ فَلَا تَنْهَرْ ۝ وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ۝

كما سيأتي تفصيل ذالک في تفسير السورة المذكورة (سورة الضحى) في هذا التفسير ان شاء الله تعالى.

وَٱتَّبَعْتُ مِلَّةَ ءَابَآءِىٓ إِبْرَٰهِيمَ وَإِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ ۚ

او ما متابعت مختار کړی د دين او د ملت د خپلو پلرو (په معنا عام سره چي نيکه ته هم شامل سي) چي ابراهيم، اسحاق او يعقوب عليهم السلام وه. له جد ابعد څخه يې شروع وکړه پر پلار يې ودرول تقديماً للاشرف فالاشرف او تقديماً للاقدم زماناً فالاقدم زماناً.

فائده: يوسف عليه السلام چي خپل آباً او اجداد وه فتيانو ته د ملک بيانول له دې سببه چي ددوی ښه وثوق او اعتماد پيدا سي دده پر خبره او تبليغ.

پوه سه: چي مظهري رحمه الله وايي چي د يو عالم مرتبه په علم کي خلګو ته نه وه معلومه او دده اراده دا وه چي خپل (پېژند ګلوي) په خلګو کي نشر کړم نو ده ته جائزه ده چي خپل د ځان او خپل د علم صفت وخلګو ته وکړي تاچي خلګ دده قدر وپېژني او له ده څخه د علم استفاده وکړي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: دا تزکیه د خپل ځان نه ده، چې هغه ناجائزه ده؟

ځواب: انما الاعمال بالنیات. حدیث صحیح. او انبیاؑ علیهم السلام ځو مأمور په دغه سره دي. کریمه " وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ﴿۱۱﴾ "

مَا كَانَ لَنَآ أَنْ نُّشْرِكَ بِاللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ

او نسته او نه بنایي موږ دلي لره د انبیاؤ چې موږ به شریک نسو خدای پاک لره یو شی له شیانو که علوي وي او که سفلي وي.

ذٰلِكَ مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ عَلَيْنَا وَعَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ ﴿۳۸﴾

دغه توحید او علم فضل او مهرباني ده یعني په سبب د وحي او یا الهام صحیح کمامر. او پر خلګو باندي یعني په واسطه د تبلیغ او وعظ زموږ لکن د هر خلګ د دغه نعمت د خدای ﷻ شکر نه وایي بقبول النصح والوعظ وتبلیغ الرسل.

يٰصَاحِبَيِ السِّجْنِ ءَأَرْبَابٌ مُّتَفَرِّقُونَ خَيْرٌ أَمِ اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿۳۹﴾

ای دوو ملګرو زما په په بندي خانه کي، آیا خدایان متعدد دي چې په امکان او عجز کي سره یو شی دي، که هغه بتان وي یا د سرو زرو یا د سپینو زرو یا د وسپني یا د ډبرو او یا غیر له بتانو څخه وي لکه ملکي او بشر، نو دغه ښه دي او که الله ﷻ ښه دی چې واحد دی په جلال الذات او کمال الصفات کي چې دده هیڅ شي مشابه نه په ذات او نه په صفاتو کي او نه په افعالو کي سته.

مَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِهِ إِلَّآ أَسْمَآءً

تاسي عبادت نه کوئ پرته له خدای ﷻ څخه.

سوال: مخاطب د یوسف علیه السلام خو دوه کسان وه یعني فتیان، نو صیغه د جمع په "تعبدون" کي څرنګه راغله؟

ځواب: مراد د یوسف علیه السلام کل من کان مثلهما في الشرک.

پوه سه: چې مراد له اسماً څخه مسمیات دي یعني ستاسي معبودات فقط مسمیات دي من اللات والعزی والمنات وغیر ذالک چې په هغو کي هیڅ معنا د الوهیت او د استحقاق العبادة من القدرة علی الخلق والعلم الکامل والترزیق

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والاحيا والاماتة وغير ذالک من صفات المعبود بالحق.

سَمَّيْتُمُوهَآ أَنتُمْ وَءَابَآؤُكُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلْطَٰنٍ

چي دا نومان تاسي پر ايښي دي او ستاسي نيکه ګانو يعني د ارباب او آلهه نومان مو ورته وضع کړي دي بېله تحقق د معبوديت په دوی کي لکه مثلاً پک ته چي سړی وايي څونوره، چي نه دی نازل کړی خدای ﷻ په هيڅ کتاب د کتب سماويه وو په استحقاق سره ددوی عبادت لره يو حجة او دليل لکه خدای ﷻ خپل پر استحقاق د عبادت براهين قاطعه په ټولو کتابو کي د انبياؤ نازل کړي دي.

إِنِ ٱلْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ ۚ أَمَرَ أَلَّا تَعْبُدُوٓا۟ إِلَّآ إِيَّاهُ ۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلْقَيِّمُ

نه دی حکم د معبوديت بالحق مګر خدای پاک لره دی يعني په براهين عقليه وو سره او په دلائلو نقليه وو سره، او هغه خدای امر کړی په واسطه د انبياؤ عليهم السلام او د کتب منزله وو چي تاسي به عبادت مه کوئ مګر نه دده "ذالک دين القيم" يعني انحصار د معبوديت بالحق په الله ﷻ هغه دين دی مستقيم او ثابت کر الازمان ومر الدهور، وفي الدنيا والعقبى وما سوى ذالک کفر وشرک وضلال.

وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٤٠﴾

لکن د پر خلګ چې عبارت دي له مشرکينو او کفره وو څخه علم نه لري چي حق او باطل سره جلا کړي، بيضاوي رحمه الله عليه وايي هذا من التدرج في الدعوة والزام الحجة بين يعني يوسف لهم رجحان التوحيد على اتخاذ الآلهة على طريق الخطاب يعني قوله ياصاحبي السجن آه، ثم برهن على ان ما يسمونها آلهة ويعبدونها لاتستحق العبادة يعني بقوله ماتعبدون الخ، ثم نص على ماهو الحق القديم والدين المستقيم الذي لا يقتضى العقل غيره بقوله ان الحكم الا لله الى قوله ذالک الدين القيم، ثم حكم على اكثر الناس بعدم العلم بما هو الحق وعدم التمييز بين الحق الحقيق بالقبول من الضلال المبين.

دروښ وايي: چي يوسف عليه السلام چي خپل تبليغ د وحدانيت د خدای ﷻ په پوره تفصيل سره صاحبي السجن ته واوراوه، نو شروع يې په ترجمه او تعبير ددوی د خوبو وکړه وقال:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يٰصَاحِبَيِ السِّجْنِ اَمَّآ اَحَدُكُمَا فَيَسْقِيْ رَبَّهٗ خَمْرًا ۚ

اې زما ملګرو په بندي خانه کي يو له تاسي څخه چي صاحب الشراب د ملک مصر ؤ، ورجوړوي خپل ملک ته خمر او شراب، او هغه دې وانبکي د انګورو چي ده په خوب ليدلي وه، د هغه تعبير دادی چي دې ورځي به دی په بندي خانه کي پاته وي دې ورځي وروسته به يې ملک ور وغواړي بيرته به يې پر خپلي پخوانی عهدې مقرر کړي.

وَاَمَّا الْاٰخَرُ فَيُصْلَبُ فَتَاْكُلُ الطَّيْرُ مِنْ رَّاْسِهٖ ؕ

او هغه بل چي د ملک اشپږ ؤ هغه به په دار کړل سي دې ورځي وروسته، او ده چي په خوب کي دې څنځيران ليدلي وه د هغه تعبير دادی چي دې ورځي به په بندي خانه کي وي وروسته به وايستل سي او په دار به سي، نو خوراک به کوي مرغان لکه کارګان تپوسان وغيره دده د سر له غوښو څخه، له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چي فتيانو چي قول او تعبير د يوسف عليه السلام واورېدی دوی وويل چي موږ هيڅ خوب نه دی ليدلی، موږ صرف مسخرې کولې او ستا امتحان مو کاوه قال يوسف عليه السلام.

قُضِيَ الْاَمْرُ الَّذِيْ فِيْهِ تَسْتَفْتِيٰنِ ؕ

قضاً الهي جاري ده په هغه کار کي چي تاسي يې زما څخه فتوی غوښتله يعني تعبير د خوب، يعني ستاسي مرجع د کار هغه ده چي ما درته وويل که مو خوب ليدلی وي او که نه.

سوال: ددې دوو فتيانو خو ددوی د خوبو تعبير غوښتلی ؤ، نو ضمير د "فيه" يې ولي مفرد راوړی؟

جواب: افراد يې په تأويل د مايؤل اليه امر کما.

پوښتنه: لکه په روايت کي د ابن مسعود رضي الله عنه چي تېره سوه چي خباز او ساقي دواړو له خوب څخه انکار وکړی، د شرابي تعبير خو په زړه پوري ؤ، نو ده ولي انکار کاوه؟

ځواب: نسبت د انکار ودواړو ته له قسمه څخه د بنو فلان قتلوا مع ان القاتل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

منهم الواحد. او روح البيان وايي چي انكار د شرابي لپاره د مراعات د خباز ؤ.

تفصيل القصة: ددې دوو كسانو حال هغسي ؤ لكه يوسف ﷺ چي ورته ويلي وه، دري ورځي وروسته ملک صاحب الشراب له بندي خانې وايستی او پر خپله پخوانی وظيفه يې مقرر كړی او دهر احسان يې هم ورسره وكړی. او خلاف يې هم ورکړی ولي چي ملک ته دا معلومه سوه چي شرابي امين دی. او خباز يې له بندي خانې وايستی كالي يې ځني وكښل او په شلاخو يې وواهه حتی چي قريب الموت سو، ولي چي دده خباثت ملک ته ظاهر سو، او پر دار يې پر لويه لار وځراوه او په ټس كي يې په ټپزه وواهه چي مړ سو د خدای پاک په قدرت تور مرغان پيدا سوه دده د سر غوښې او هډوكي يې خوړل، او دغه ملک مصر اول سړی ؤ چي صلب يې پر كار واچاوه وروسته تر ده فرعون موسی ﷺ هم دا صلب اختيار كړی هغه وخت چي ساحرانو د فرعون پر موسی ﷺ ايمان راوړی، نو فرعون داسي دوی ته وويل "ولاصلبنكم في جزع النخل" كما حكى الله عنه في موضع آخر، روح البيان وايي چي عليه الصلوة والسلام رجوع د بدر له غزا ځخه وكړه د مدينې پر لور، نو د عرق الظبية په مقام كي يې له بند يانو ځخه عقبه بن ابي معيط په دار كړی وهو اول مصلوب من الكفار في الاسلام او دې عقبه په مكه كي آنحضرت ﷺ دهر ازاراوه، او يوه ورځ يې پر مبارک مخ د عليه الصلوة والسلام نارې هم توكلي وې والله تعالى اعلم بالصواب.

وَقَالَ لِلَّذِي ظَنَّ أَنَّهُ نَاجٍ مِّنْهُمَا

پوه سه: ظن له اضداد ځخه دی يعني هغه تصديق ته هم وايي چي د جانب مخالف احتمال ضعيف پكښې وي كما هو المشهور في المنطق، او هغه تصديق ته هم وايي چي د جانب مخالف احتمال اصلاً نه وي پكښې چي علم او يقين يې بولي، نو كه ضمير د ظن راجع و موصول ته سي نو ظن په معنی اول سره دی او كه ضمير راجع و يوسف ته سي نو ظن په معنی د يقين دی لقوله قضی الامر الذي فيه تستفيان. والمعنى على الثاني وويل يوسف ﷺ وهغه سړي ته چي دده يقين ؤ چي دی به نجات مومي د ملک له غضب ځخه چي شرابي ؤ. وعلى الاول، وويل يوسف ﷺ و هغه سړي ته چي د هغه غالب گمان دا ؤ چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

زه د ملک له عذاب څخه خلاصيږم.

اذْكُرْنِي عِنْدَ رَبِّكَ

زما حال بيان کړه ستا ورب ته يعني الملک ته، يعني ورته ووايه چې په سجن کې يو ځوان ظلماً بندي دی چې داسې حال او داسې حال يې دی شايد ملک په ما له بنده خلاص کړي، قال المولى الجامي رحمه الله:

بگوهست اندران سجن غريبی ..... ز عدل شاه دوران بې نصيبی
چنينش بی گنه مه پسند رنجور ..... که هست اين از طريق معدلت دور

فَأَنْسَاهُ الشَّيْطَانُ ذِكْرَ رَبِّهِ

دروېش وايي: چې مشهوره ترجمه ددې آيت داده چې هېر کړی له ساقي څخه شيطان ذکر د يوسف عليه السلام په نېز د رب د ساقي چې ملک مصر ؤ. لکن تحقيق دادی چې ترجمه د آيت داده چې هير کړی له يوسف عليه السلام څخه شيطان ذکر د خپل خدای، ولي چې ده استعانت له مخلوق څخه وغوښتی چې ساقي ؤ. ويدل عليه الحديث الذي رواه ابن المنذر وابن ابی حاتم قال رسول الله ﷺ رحم الله اخي يوسف لو لم يقل واذكرني عند ربک لما لبث في السجن طول ما لبث.

فَلَبِثَ فِي السِّجْنِ بِضْعَ سِنِينَ ۝

نو پاته سو يوسف په بندي خانه کې ځو کاله يعني خدای عزوجل له ساقي څخه د يوسف د حال بيانول هېر کړل، مظهري رحمه الله وايي چې يوسف عليه السلام په بندي خانه کې اووه کاله تېر کړه، او روح البيان او کلبي وايي چې يوسف عليه السلام پينځه کاله دمخه بندي ؤ او چې ساقي ته يې خبره وکړه "اذكرني آه" اووه کاله يې نور په بندي خانه کې تېر کړه چې مجموع دوولس کاله سي بعدد حروف "اذكرني عد ربک" فافهم.

دروېش وايي: چې مظهري دوولس کاله بند تر تنقيد لاندې نيولی دی، لکن دده تنقيد بې ځايه دی او دليل پر هغه يې بېخي ضعيف دی فارجع الى تفسيره وتنقيده وتفكر في دليله..

فائده: کعب الاحبار رحمه الله وايي چې يوسف عليه السلام چې استعانت په ساقي سره وغوښتی، نو جبرئيل يوسف عليه السلام ته راغلی او ورته ويې ويل چې خدای پاک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وايي چي ته چا پيدا کړی يې؟ ده ورته وويل الله ﷻ، جبرئيل ورته وويل من حببک الی ابيک؟ يوسف ﷺ ورته وويل الله ﷻ، جبرئيل ورته وويل فمن انجاک من کرب البير؟ قال يوسف الله تعالی، قال فمن علمک تعبير الرؤيا؟ قال الله تعالی، قال فمن صرف عنک السوء والفحشآ يعني کيد د زليخا؟ قال الله تعالی، قال فکيف استشفعت بآدمي مثلک انتهی.

فائده: دروښ وايي: چي په تفسير بحر العلوم کي وايي چي استعانت په غير الله في کشف الشدائد وان کانت محمودة في الجملة ای في بعض الناس لکن لا تليق بمنصب الانبيآ ﷺ الذين هم افضل الخلق ومن اهل الترق، نو دا استعانت بغير الله ﷻ ددوی په شان کي صرف ترک الاولی والافضل ده، او په دې کي هيڅ شک نسته چي انبيآ ﷺ پر ترک الاولي هم عقاب الهي ورته لکه عامو خلګو ته پر کبائرو ګنهو، ولهذا قيل حسنات الابرار سيئات المقربين کذا في تفسير الکواشي، انتهی ما في بحر العلوم مع زيادة.

حاصل دادی چي اولی په حال کي د يوسف ﷺ دا وه چي اقتدآ يې په خپل جد امجد خليل الرحمن ابراهيم علی نبينا وعليه السلام پسي کړې وای، کما روی ان ابراهيم ﷺ حين رماه نمرود بالمنجنيق الی النار جائه جبرئيل ﷺ قبل الوصول الی النار فقال هل لک من حاجة؟ قال ابراهيم ﷺ اما اليک فلا، جبرئيل ورته وويل فسل ربک ابراهيم ﷺ ورته وويل حسبه من سوالي علمه بحالي.

د مالک بن دينار ﷺ څخه روايت دی چي يوسف ﷺ چي ساقي الشراب ته وويل اذکرني عند ربک اوحی الله تعالی اليه يا يوسف اتخذت من دوني وکيلاً لاطيلن حبسک، نو يوسف ﷺ وژړل او ويې ويل چي زما زړه ډېرو غمو لاندي کړی ؤ، ستا څخه استغاثه مي هېره سوه، او هغه خبره مي ساقي ته وکړه او بيا ورته خبره نه کوم، وفي رواية چي جبرئيل و يوسف ﷺ ته وويل چي خدای پاک پر تا سلام وايه، ويقول اما استحييت مني زما څخه نه شرمېدلې چي استغاثه دي په غير سره زما وکړه، وعزتي لابعثنک في السجن بضع سنين، قال يوسف يا جبرئيل وهو عني راض؟ قال نعم فقال يوسف ﷺ اذا لا ابالي، يعني چي خدای پاک راضي وي زه په زيادت د بضع سنين حبس باک نه کوم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې څه وخت چې نېټه د قيد او حبس چې د خدای ﷻ له خوا تاکل سوې وه کما ذکرناه من قبل، نو ملک مصر ریان بن الولید یو خوفناکه خوب ولیدی چې اووه بقرات سمان یعنې چاغې غواوې له دریای مصر څخه راووتلې، او تر هغه وروسته اووه بقرات هزال في الغایة راووتلې یعنې ډېرې ډنګرې. نو ډنګرو بقراتو هغه اووه چاغې غواوې وخوړلې، او هغه اووه بقرات سمان د اوو بقرات هزال په نس کې داسې ځای سوې چې پر ډنګرو یې هیڅ اثر نه سو معلوم، او وروسته یې اووه وړې د غنمو ولیدل چې پخټیا ته نژدې وه، وروسته اووه نور وړې پیدا سوه چې پر اوو وړو خضراتو راوپېچل سول او هغه یې پټ کړه، نو ولید المذکور ساحران د مصر او پوهان او کهنه د مصر یې را غوندې کړل او خپل خوب یې ورته ووایه کما قال الله تعالی:

وَقَالَ الْمَلِكُ إِنِّي أَرَىٰ سَبْعَ بَقَرَاتٍ سِمَانٍ يَأْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ

وویل ملک یعنې الولید و راجمع کړل سوو کسانو ته چې ما ولیدی یعنې په خوب کې اووه بقرات چاغې چې وخوړلې دغه اوو نورو ډنګرو اوو بقراتو.

وَسَبْعَ سُنْبُلَاتٍ خُضْرٍ وَأُخَرَ يَابِسَاتٍ

او اووه د غنمو شنه وړې او اووه نور وچ.

فائده: ملک ددې وړو حال نه کړی بیان یعنې چې وچ پر شنو راوپېچل سول او شنه وړې یې پټ کړل کمامر قیاساً علی حال البقرات السمان والهزل.

يَا أَيُّهَا الْمَلَأُ أَفْتُونِي فِي رُؤْيَايَ إِنْ كُنْتُمْ لِلرُّؤْيَا تَعْبُرُونَ

اې جماعته د اشرافو د مصر ماته فتوی راکړئ زما په دغه خوب کې یعنې تعبیر یې راته وکړئ که ستاسې د خوبونو تعبیر زده دی یعنې چې انتقال د صور مثالیه څخه د خوب وصور التعبیر ته وکړئ.

قَالُوا أَضْغَاثُ أَحْلَامٍ

پوه سه: چې "احلام" جمع د حلم ده په معنی د خوب، او اضغاث جمع د ضغث ده په اصل کې یو غېړي ته د وښو وایي چې ګډوډ وي فاستعیر للرؤیا الکاذبة.

ترجمه: ملاء مذکور وملک ته وویل چې دا کاذبه او ګډوډ خوبونه دي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَا نَحْنُ بِتَأْوِيلِ الْأَحْلَامِ بِعٰلِمِينَ ﴿۴۴﴾

او موږ نه يو په تعبير د ورته خوبونو عالمان.

پوه سه: چې له "احلامو" څخه دلته باطل خوبونه مراد دي که څه هم لفظ د حلم عام دی کمامر، ددوی مراد دا وُ چې موږ د صادقو خوبونو تعبيرونه کولای سو. ن د باطلو خوبونو، گويا ملک مصر ته دوی وويل چې دا ستا خوبونه کاذب او باطل دي.

دروبش وايي: چې تعبير الرؤيا يو ساده کار نه دی، او نه هر ملا يا امام بلکې د هر غايت لوړ علمه ملايان هم نه په پوهېږي، نو تعبير د خوبونو يوه ملکه الهي په بل تعبير الهام دی د خدای پاک له خوا څخه.

ع ..... انجير خوردن نه کار هر مرغی است

چناچه د ملک مصر ريان د خوب چې تعبير يوسف صديق عليه السلام ورته وکړی لکه عنقريب چې به په قرآن مجيد کې بيان سي د هر عقل کار نه وُ، بلکې دا تعبير د کريم ابن الکريم ابن الکريم يوسف بن يعقوب بن اسحاق بن ابراهيم عليهم السلام د پاک او رنج ديده عقل کار وُ، د تعبير الرؤيا لپاره علماؤ رسالې او کتابونه جوړ کړي دي بعض رشتيا بعض درواغ، په دې باره کې د اطمنان وړ کتابونه د علامه ابن سيرين او د علامه ابن شاهين او د علامه عبد الغني نابلسي رحمهم الله دي چې دا دری سره کتابونه په يوه مجلد ضخيم کې سره جمع دې او هم دا اوس په کتب فروشانو کې دستياب کېږي.

دروبش وايي: چې بعض خوبونه د رائي په عقل د هر بد معلومېږي لکن په حقيقت کې هغه د هر ښه خوب وي، او بعض خوبونه د رائي په فکر د هر ښه خوب وي لکن في الواقع هغه د هر بد خوب وي، د مثال په توګه که يو سړی خوب وويني چې ما پر قرآن مبارک بولي وکړي په دې خوب رائي د هر خوابدی وي، لکن معبران يې دا تعبير کوي چې رائي ته به خدای پاک زوی ورکړي چې حافظ د قرآن به وي، يا سړی داسې خوب وويني چې ما ته سره يا سپين زر يو چا راکړي دي، نو دی د هر په خوشاله وي چې زه به غنې سم، لکن معبران يې دا ترجمه کوي چې په اندازه د هغو زرو به رائي ته غمونه پېښېږي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حکایت: یوه سړي په دهلي "ډلی هندوستان" کي خوب لیدلی وُ چي زما د مایني پر فرج د دوو سپو سره حملې وې، چي ویښ سو ډېر فرېشانه سو، ډده په خیال کي دا ور وِ کړ خُپدله چي زما په مایئه لکه چي دوه خلګ به په زنی اخته وي، نو دی شاه ولي الله رحمۃ اللہ علیہ ته د دهلي ورغلی، نو هغه ورته وویل چي دا پرېشاني خوب نه دی. بلکې ددې خوب تعبیر دادی چي ستاسي مایني د صفا کولو د موضع خاص په وخت کي د سر چاړه په لاس ورنه غله، نو د تلوار له کبله یې د غچي څخه کار واخستی.

حکایت: راوي وایي چي ابن سرین رحمۃ اللہ علیہ ته چي د خپل وخت مقبول او منل سوی معبر وُ داسي وخت چي ده ډوډی خوړله یوه بنځه ورغله چي ما خوب لیدی چي سپوږمی په پېرونې کي پته سوه، د ابن سرین رحمۃ اللہ علیہ ګوله له لاسه ولوېدله او مخ یې تک ژړ سو، او ده یې ویل چي زما اته ورځي د عمر پاته دي یعني خپل ځان یې سپوږمی د علم وبلل او پېرونی چي اته ستوري دي د خپل عمر یې وبالله، له دې څخه ده فهمول چي هغې بنځي ته په خوب کي چا ویلي وه چي ورسه د ابن سیرین څخه ددې خوب تعبیر وغواړه، هغه وُ چي ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ خپل د مرګ په کاروبار او وصیت بخت سو، او اته ورځي وروسته وفات سو رحمۃ اللہ علیہ.

حکایت: یو سړی چي ډېر صالح او پرهېزګار سړی وُ، خوب یې ولیدی چي ما رسول الله ﷺ په چپلاځه وواهه چي راویښ وُ ډېر فزع وُ او د غم په دریاب کي ډوب سو مع جلالة النبي ﷺ في قلبه، نو دا سړی د تعبیر د خوب لپاره یو شیخ متمثل معبر ته ورغلی او د خوب قصه یې ورته وکړه، نو شیخ ورته وویل چي آنحضرت ﷺ اعظم دی تر دې چي ستا لاس یا د غیر لاس دي پر ده ومنبلي، او دا خوب چي تا لیدلی دی دلالت پر دې کوي چي تا اخلاص کړی دی په یو حکم کي د احکامو د شریعت نبوي ﷺ وکون اللطعم في وجه النبي ﷺ یدل علی انک ارتکبت محرماً من الکبائر، نو رائي چي هر څه فکر وواهه په ځان کي چې کبیره ګناه نه ولیدله، ولي چي دی لوی دیندار ه سړی وُ، او شیخ هم په تعبیر کي پر خطا په خیال نه ورتلی، ولي چي دده یقین وُ چي دی صالح معبر دی، نو کورته ډېر غمجن ولاړی، مایني یې پوښتنه ځني وکړه چي ولي دومره مغموم یې، نو ده ټوله قصه ورته وکړه، مایني ورته وویل چي دا خوب رشتیا دی او دې تبت الی الله وویل، چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تا يو وخت قسم واخستى چې كه ته زما د فلاني اشنای كورته ورغلې پر ما طلاقه يې، نو زه يوه ورځ ستاد هغه اشنای د كور سره تېرېدم، د كور بنځو او لونو يې دېرې زارۍ راته وكړې چې كور ته به راسره څې زه ددوی له الحاح څخه وشرمېدلم او كور ته ورغلم، او زه په دې پوه سوم چې پر ما طلاق واقع سو. لكن له تا څخه ببرېدم دا حال مې نه درته وويايه، نو ددغه وروسته خو ستا جماع زما سره زنى وه، فتاب الرجل وتضرع الى الحق واعتدت المرئة وتجدد بينهما النكاح.

حكايت: امام تقي الدين ابن خلد رحمه الله خوب ليدلى وُچې عليه الصلوة والسلام ماته شيدې راكړې او ما وځيښلې.

دروښ وايي: چې امام تقي الدين صاحب او مصنف د مسند كتاب دى په حديثو كې، نو چې راوينې سو بيا هم خطاوتى چې د حقيقت ددې خوب معلوم ؤ او په ستونې گوتې چغ كړې شيدې يې قى كړې، او كه تعبير ددې خوب يا يې په خپله يا يې له بل څخه پوښتلى واى، شيدې په خوب كې علم دى خصوصاً من يده رضي الله عنه فحرمه الله علماً كثيراً بسبب ماقاً من اللبن. او كه ده دا قول د عليه الصلوة والسلام مد نظر گرځولى واى، نو هم به ددغه مصيبته د حرمان العلم الكثير به محفوظ واى، قال رسول الله ﷺ من رآني في المنام فقد رآني في اليقظة" معنا داده چې دا خوب درواغ نه دى، گويا زه يې په وينه وليدم. قال عليه الصلوة والسلام فان الشيطان لا يمثل على صورتي.

دروښ وايي: چې سبب د تعبير د شيدو په علم سره دادى چې اوله غذاً د طفل چې له مور څخه جلا سي يعني وزېږي شيدې دي، نو شيدې سبب عادي دى دده د ژوند او حيات دى. او جهل چې لكه موت دى چې سړى عالم سي لكه ژوندى چې سو ..... بيت:

اين سخن پايان ندارد باز گرد ..... در پى تفسير قرآن باز گرد

وَقَالَ الَّذِي نَجَا مِنْهُمَا وَادَّكَرَ بَعْدَ أُمَّةٍ أَنَا أُنَبِّئُكُمْ بِتَأْوِيلِهِ فَأَرْسِلُونِ ﴿

او وويل هغه سړي چې نجات يې پيدا كړى د بندي خانې څخه وهو الساقي د هغو دوو كسانو چې د. وسف عليه السلام سره بنديان وه. د "وادكر" اصل اذ تكرؤ تا يې په دال واړول او په دال كې يې مدغمه كړه يعني ورپياد سو ساقي ته يوسف، او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هغه خبري چي يوسف عليه السلام وده ته کړي وې يعني اذکرني عند ربک کمامر "بعد امة" وروسته تر جماعت د زماني يعني تر ډېري زماني وروسته چي اووه کاله وه.

پوه سه: چي جمله د "وادکر" بعد امة جمله معترضه ده بين فعل قال ومفعوله يعني "انا انبئکم آه" بغوي رحمه الله وايي چي ساقي پر زنګنو وحضور ته د ملک ودربدی او ورته ويې ويل چي په بندي خانې کي يو بندي دی چي هغه په تعبير الرؤيا کي ډېر ماهر دی، نو ما ور واستوه و هغه ته چي زه تعبير د خوب د ملک له هغه څخه وکړم، نو ملک ورته وويل ورسه. نو ساقي بندي خانې ته ورغلی او د يوسف عليه السلام سره يې پرسان حال وکړی او داسې يې ورته وويل.

يُوْسُفُ اَيُّهَا الصِّدِّيْقُ اَفْتِنَا فِيْ سَبْعِ بَقَرٰتٍ سِمَانٍ يَّاْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَّسَبْعِ سُنْۢبُلٰتٍ خُضْرٍ وَّاُخَرَ يٰبِسٰتٍ

يعني يا يوسف چي مبالغ په صدق کي يې ولي ساقي ته د يوسف عليه السلام صدق معلوم سوی ؤ په تعبير کي د رؤيا ده او د رؤيا د صاحب ده چي خباز ؤ کمامر قصة رؤياهما، موږ ته فتوی راکړه يعني تعبير راوښيې د خوب د ملک مصر چي مذکور خوب يې ليدلی دی، او کاهنان ساحران او پوهان د مجلس يې له تعبير څخه ټوله پاته راغله، نو ما چي ستا ذکر ورته وکړی، نو که يې تاته را واستولم.

لَعَلِّيْۤ اَرْجِعُ اِلَى النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۴۶﴾

شايد زه به ورسم خلګو ته يعني الملک ومن عنده من اکابر مملکته، او ستا فتوی او تعبير الرؤيا به ور ورسوم.

سوال: ساقي ولي کلمه د "لعلي" وويل او قطعي خبره يې ونه کړه چي زه به ستا تعبير ور ورسوم؟

خواب: چونکه ملک ډېر خوف زده ؤ، ددې خوب او د ساحرانو او کاهنانو وغيرهم له تعبير څخه باد درمشت ؤ، نو ساقي ته دا متيقن نه وه چي يوسف عليه السلام به دلخواه تعبير د ملک د خوب راته وکړي "لعلهم تعلمون" يعني شايد خلګ يعني ملک ومن معه به وپوهېږي ستا په قدر او منزلت سره.

پوښتنه: دلته ولي "لعل" راوړل سو؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: له دې سببه چې ګاهي متحيرين او متکبرين په سبب د ډېر غفلت ددوی په فضل د اهل علم نه پوهېږي او غوږ نه ورته ونسي. لکه عزيز مصر ته په فضل د يوسف ﷺ بعد ما رأى من الآيات نه سو پوه حتى چې بندي يې ګړی کمامر مفصلاً.

قَالَ

يوسف ﷺ وساقي ته وويل چې بقرات السمان او سنبلات خضر اوده کاله دي چې په هغو کې به ښه باران ونه پر وخت واوري. او خلګ به ښه ښه حاصلات تر لاسه کوي او ډېر ښه آباد کلونه به وي. او بقرات عجاف او وچ سنبلات عبارت دی له اوو کالو کاختی ځحه.

دروېش وايي: چې د ملک د خوب خو هغه تعبيرؤ چې مورږ ذکر کړی. او دا وروسته د يوسف ﷺ له خوا مصلحت او مشوره وه و ملک ته.

تَزْرَعُونَ سَبْعَ سِنِينَ دَأَبًا

تاسي به کښت کوئ اووه کاله داباً "داباً" عادت ته وايي منصوب دی علی الحالية بمعنی دائبين ای علی عادتکم. وقيل معناه بجد او اجتهاد. او بعض مفسران وايي چې تزرعون مضارع په معنی د امر ده مبالغةً في النفح.

فَمَا حَصَدْتُمْ فَذَرُوهُ فِي سُنْبُلِهِ إِلَّا قَلِيلًا مِمَّا تَأْكُلُونَ ﴿٤٧﴾

پس هغه چې تاسي لو کړه يعني غنم وغيره، نو تاسي هغه پرېږدئ په وږو کې تاچې شېږي ونه کړي مګر لږ هغه قدر چې تاسي يې خورئ يعني هر کال دومره پرېږدئ چې تاسي يې په دغه کال کې خورئ.

پوه سه: چې دا مشوره وه چې په تعبير الرؤيا پوري اړه نه لري.

ثُمَّ يَأْتِي مِنْ بَعْدِ ذَٰلِكَ سَبْعٌ شِدَادٌ يَأْكُلْنَ مَا قَدَّمْتُمْ لَهُنَّ إِلَّا قَلِيلًا مِمَّا تُحْصِنُونَ ﴿٤٨﴾

وروسته به راسي اوه کاله سخت يعني د کاختی چې دا کلونه به وخوري هغه خوراکي مواد چې تاسي دمخه ذخيره کړي وه د دې کلو دپاره مګر لږ وه هغه غلو او دانو څخهچې تاسي خوندي کړي وي يعني دپاره د تخم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې اسناد د اکل يې وکلو ته وکړی او سره د دې چې اکل خو د خلګو کار دی مجازا د پاره د مطابقت د ظاهر سره د رؤيا کما لا يخفی.

ثُمَّ يَأْتِي مِنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ عَامٌ فِيهِ يُغَاثُ النَّاسُ وَفِيهِ يَعْصِرُونَ ﴿٤٩﴾

وروسته به راسي يعني وروسته تر سبع شداد يو کال چې په هغه کې به بارانونه کېږي پر خلګو باندې چې په هغه کال کې به خلګو ته ميوې لکه انګور او زيتون او کنجد ونحو ذالک وږي وي چې دوی د هغو څخه شيره باسي د پاره د چښلو او خوراک مقصد دا دی چې بشه کلي به وږه وي او نعمتونه به فراوان وي" او ابو عبده وايي چې د دې آيت معنا داده يعصرون ای ينجون من الکرب والجدب او د عصر معنا ده ځای د نجاة کړې ده" قاضي بيضاوي رحمه الله وايي چې امکان لري چې يوسف عليه السلام ته دي آخيري زبری په وحي معلوم سوی وي او يا په عقل نوراني خپل چې عدت د خدای عليه السلام دا دی چې پر بند ګانو فراخي جوړه وي وروسته تر ضيق او تنګی، کريمه: " فَإِنَّ مَعَ ٱلْعُسْرِ يُسْرًا ﴿٥﴾ إِنَّ مَعَ ٱلْعُسْرِ يُسْرًا ﴿٦﴾ " والله اعلم.

وَقَالَ الْمَلِكُ ائْتُونِي بِهِ ۖ فَلَمَّا جَاءَهُ الرَّسُولُ

راوي وايي چې ساقي چې ملک ته راغلی او تعبير د يوسف عليه السلام د ملک د خوب يې دته بيان کړی ملک قانع سو په فضل د يوسف عليه السلام او پر دې يې يقين سو چې دا اوضاع د خصب او جدب به خامخا راځي، نو يې وويل چې. دغه سړی د بندي خانې رها شده ماته راولی، څه وخت چې راغلی يوسف عليه السلام ته رسول د ملک وقاله اجب الملک قبلونه وکړه د غوښتنې د ملک يعنې د بنده خلاص سوې او ملک غوښتنې ته يوسف عليه السلام منع وکړه د اجابة الملک څخه تر هغو چې ملک ته بنکاره کېږي زما برائة د تهمت څخه د امرئة العزيز چې پر ما يې ولګاوه چې يوسف عليه السلام زما څخه زنی غوښته او د هغه د کبله تر اوسه ممتد زمانه زه په بند کې پاته يم.

قَالَ ارْجِعْ إِلَىٰ رَبِّكَ فَسْـَٔلْهُ مَا بَالُ النِّسْوَةِ الَّاتِي قَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ ۚ

يوسف عليه السلام ورسول الملک ته وويل چې ولاړ سه وسيد ته خپل يعنې الملک او ده ته ووايه چې ته پښتنه وکړه چې څه حال د هغو ښځو چې پرې يې کړل خپل لاسونه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: يوسف ﷺ په دې خبره کې پته اشاره وکړه وضعف ته د سلطنت د ملک يعني چې دونه زمانه ده په حبس کې ظلما تېره کړه تا هېڅ احوال پرسي دبندیانو نه وکړه او بې ګناه او ګناه کاره دي وځان ته نه کړه معلوم.

دروېش وايي: چې وه دغه تعريض ته يوسف ﷺ پر ملک باندې جامي قدس سره په دې خوږو ابياتو کې اشاره ورته کړې ده.

بګفتا من چه ايم سوی شاهي ..... که چون من بيکسي را بګناهي
بزندان سالها محبوس کردست ..... ز آثار کرم ما يوسن کردست
اګر خواهد که من بيرون نهم پای ..... ازين غم خانه گو اول بفرمای
که آنانې که چون بد يد ند ..... زخيرت در رحم کفها بريدند
که جرم من چه بود از من چه دېدند ..... چرا زحتم سوی زندان کشيدند
بود کين سود بر شاه روشن ..... که پاکست از خيانت دامن
مرا به گر زنم ثقب خزائن ..... که باشم در فراش خانه خائن

پوه سه: چې يوسف ذکر د زليخا او مکرد دې نه وکړی د پاره د احترام د حق د خدمت د دې واحترازا عن افشا مکرها.

فائده: په منع کې يوسف ﷺ دليل دی پر دې چې سړی په دفع کې د تهمت د ځانه څخه ډېر کوشش لا سيما من يقتدي به بخاري روايت کړی دی چې په ميانشت کې د روژې په اعتکاف کې وو او دشپې د ازواج مطهراتو څخه د ده زيارة ته راغلې دوه کسه د اصحابو ﷺ څخه تېريدله چې د عليه الصلوة والسلام سره بنځه ولېدل چابک تېر سوله. نو عليه الصلوة والسلام ناره پر وکړه چې ودرېږئ دا فلانة ده يعني د مطهرة ﷺ نوم يې واخستی هغو د دوو کسانو وويل سبحان الله يعني د تعجب د پاره يعني چې موږ به نو توهم کاوه عليه الصلوة والسلام ورته وويل چې ان الشيطان يجري مجری الدم.

دروېش وايي: چې دا خبره عليه الصلوة والسلام صرف د پاره د دفع د تهمت وکړه د خپل ځانه" ولهذا قال رسول الله ﷺ اتقوا من مواقع التهم" وفي رواية من كان يؤمن بالله واليوم الاخر فلا يقعن مواقع التهم.

دروېش وايي: چې ابن اسحاق رحمه الله او طبراني رحمه الله د ابن عباس رضي الله عنه څخه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

داسي حديث نقل كړى دى چي عليه الصلوة والسلام وويل عجبت بطراخي يوسف عليه السلام وكرمه" والله يغفر له" حيث اليه يستفتي فى الرؤيا ولو كنت انا لم افعل" يعني چي ملک تعبير د رؤيا د ده څخه وغوښتى او ده هم فتوى او تعبير د خوب ورته بيان كړى او كه زه واى مابې تعبير د خوب نه واى ورته بيان كړى جزاً لظلمهم عليه" وعجبت لصبره وكرمه والله يغفر له ده ملک دخواسړى ورته راغلى چي د بندي خانې را ووزه، نو دى نه ورسره ووتى حتى خپل عذر يې ورته ووايه ولو كنت انا لبادرت الباب.

عليه الصلوة والسلام وايي كه زه (۱۲) كاله ناحقه بندي واى ما به تلوار كړى واى و دروازې ته چي د بنده ووځم طيبي په شرح كي د مشكوة وايي چي دا حديث محمول پر غايت تواضع د عليه الصلوة والسلام دى وبيان مدح يوسف فى الصبر والاناتة فى الامور، د دې سببه نه دى چي عليه الصلوة والسلام په خپلو كارو كي مستعجل وو او صبر يې نه درلودى او په تواضع سره صغير كبير نه گرځي او نه كښته كبرې رتبه د كبير، بلكه تواضع د متواضع قدر بلند كوي.

تواضع ز گردن فرازان نكوست..... گدا گر تواضع كند خوى اوست.

إِنَّ رَبِّي بِكَيْدِهِنَّ عَلِيمٌ ﴿٥٠﴾

په تحقيق خداى زما په كيد سره د دوى نبه خبر دى "اشاره وهغو خبروته چي د امرائة العزيز ميلمني وې چي دوى داسي ورته وويل يوسف ته اطع مولاتک او دوى ورته وويل چي مونږ هم درته تيارې يو يعني د هغو د كار دپاره" راوي وايي چي رسول بهر ته وملک ته ورغلى او ده يو واړاندې ورته بيان كړى، نو ملک امرئة العزيز او هغه نورې نسخي راوغوښتې.

قَالَ مَا خَطْبُكُنَّ إِذْ رَاوَدْتُنَّ يُوسُفَ عَن نَّفْسِهِ ۚ

څه حال وو ستاسي، يعني په يوسف كي ميل د زنۍ ويوې ته ستاسي ولېدى او كه څرنگه.

پوه سه: چي خطاب د جمع يې راوړى ولي چي دوى تولو يوسف ته وويل اطع مولاتک او يا ددې سببه چي په شمول د امرئة العزيز تولو دعوت د زنۍ يوسف عليه السلام ته وركړى وو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قُلْنَ حَاشَ لِلّٰهِ مَا عَلِمْنَا عَلَيْهِ مِنْ سُوْٓءٍ

پناه په خدای ده او تعجب دی وقدرة د خدای ﷻ چې داسې پاک نفس لکه یوسف ﷺ چې پیدا کړی دی زمونږ علم نه دی راغلی پر یوسف ﷺ د هیڅ ګناه او خیانت د زنۍ.

قَالَتِ امْرَاَتُ الْعَزِيْزِ الْـٰٔنَ حَصْحَصَ الْحَقُّ اَنَا رَاوَدْتُّهٗ عَنْ نَّفْسِهٖ

دغه چې ما رسول د ملک رد کړی تر څو چې زما برائت ښکاره سوی نه وي، چې خبر سي عزیز مصر زوج زلیخا، چې ما خیانت نه دی کړی یعني په ماینه کې د ده چې طلب د زنۍ مې ځندي کړی دی، په غیاب کی د ده کما ادعت امرئة العزیز علی ذالک.

وَاَنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ كَيْدَ الْخَآئِنِيْنَ

او په تحقیق خدای ﷻ نه کامیابه کوي چم د خائنانو "بل یظهر الحق ولو بعد حین کما اظهر الحق ههنا بعد مدة یوسف فی السجن (۱۲) کاله.

درښ وایي: چې په فضل او توفیق د خدای ﷻ پای ته ورسېدی تفسیر د (۱۲) جزء په ورځ د شنبې ساعت (۱۱) بجې په میاست کې د جمادي الاول من شهور سنه (۱۴۲۹).

قال المولی الجامي قدس سره السامي:

درین دهر کهن رسمیست دیرین ..... کي بې تلخي نباشد عیش شیرین
خورد نه ماند طفلی دررحم خون ..... که آید بارخ چون ماه پروین

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې د اخيري آيت څخه يعني "وان الله لا يهدي اه" څخه دا ښکاره سوه چې خيانت له بدو صفاتو څخه دی. لکه امانت داري چې له ښو صفاتو څخه ده.

حکايت: يو ځوان وُ ډېر خوشبويه بدن او جامې يې وې د همېشه لپاره. يو چا پوښتنه ځنې وکړه چې پر دې خوشبويي ستا ډېر مصرف کېږي، ځوان ورته وويل هذا عطاً من الله تعالى. ده وويل چې ما "نوکرزي" خرڅولې د ښار په يوه کوڅه کې روان وم چې يوې ښځې په حيله زه سرای ته بوتلم او د زنا دعوت يې راکړی ما قبول ته کړی دې ډېر الحاح وکړه. نو ما په تښتی کې ځان په خپل نجاست ککړ کړی، نو دې د لېونې په ګمان زه خوشې کړم، زه يوه نژدې مسجد ته ورغلم مخ او کالي مې له نجاست څخه پرېوله. فاعطاني الله تلک الرائحة الطيبة عوض تلک النجاسة. ځوان وويل چې ما د شپې يوسف صديق عليه السلام په خوب وليدی او ما ورته وويل طوبى لک حيث خلصک الله تعالى من كيد امرئة العزيز. نو يوسف عليه السلام راته وويل طوبى لک حيث خلصک الله من كيد تلک المرئة بدون وجودا لهم فيک.

دروښ وايي: چې يوسف عليه السلام اشاره مضمون ته د هغه حديث وکړه "ولقد همت به وهم بها کمامر تفصيله.

خاتمه

دروښ وايي: چې دا دومره لويه وظيفه يعني تفسير د قرآن عزيز وما عمر رسيده ته، کهن سال جهول زمانه عطاً د خدای ﷻ ده.

ع ..... ورنه اين خيال بود ومحال بود وجنون "لكن يفعل الله تعالى مايشاً. ع..... خاص کند بنده منفعت عام را.

وقد ورد في الحديث الصحيح النبوي ان الله قد يؤيد هذا الدين بالرجل الفاجر. واظن انا اكون ذالک الرجل.

ع: ..... ما نيز حاضر مي شويم تفسير قرآن دربغل

اللهم اغفر لمؤلفه ولكاتبه ولجميع المؤمنين والمؤمنات. آمين

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د تفسیر ابوبي حنفي د مضامینو فهرست

شمېر	مضمون	مخ	شمېر	مضمون	مخ
۱	سریزه	۳	۲۶	بښهانه فائده	۹۵
۲	د "یعتذارون" تفسیر	۵	۲۷	د "یاایها الذین آمنوا قاتلوا"	
۳	تنبیه	۶	۲۸	تفسیر	۱۰۹
۴	د "یحلفون لکم" تفسیر	۷	۲۹	دروښ وایي	۱۱۵
۵	حکایت	۸	۳۰	فوائد شتی	۱۲۰
۶	د "والسٰبقون الاولون" تفسیر	۱۲	۳۱	د سورة یونس پیل	۱۲۵
۷	دروښ وایي	۲۰	۳۲	دروښ وایي	۱۳۵
۸	د "لاتقم فیه ابداً" تفسیر	۳۱	۳۳	فائده	۱۵۶
۹	تمهیل	۳۲	۳۴	بښهانه فائده	۱۶۸
۱۰	دروښ وایي	۳۶	۳۵	حکایت	۱۷۳
۱۱	د "لایزال بنیانهم" تفسیر	۴۰	۳۶	دروښ وایي	۱۹۰
۱۲	زهری	۴۱	۳۷	د "ولکل امة رسول" تفسیر	۱۹۳
۱۳	فائده سنیه	۴۸	۳۸	سوال او خواب	۲۰۸
۱۴	د "التائبون العٰبدون" تفسیر	۴۹	۳۹	پوه سه	۲۱۰
۱۵	دروښ وایي	۵۸	۴۰	فائده	۲۴۲
	د "ماکان للنبي والذین آمنوا"		۴۱	دروښ وایي	۲۴۵
۱۶	تفسیر	۶۰	۴۲	د سورة هود پیل	۲۵۷
۱۷	شان نزول	۶۱	۴۳	د دوولسمي پارې پیل	۲۶۳
۱۸	د "وماکان الله لیضل قوماً بعد		۴۴	د "وما من دآبة" تفسیر	۲۶۴
	اذ هدٰهم" تفسیر	۶۶	۴۵	پوښتنه او خواب	۲۶۷
۱۹	د "ان الله له ملک السمٰوٰت		۴۶	واقعه	۲۷۲
	والارض" تفسیر	۶۸	۴۷	پوه سه	۲۷۹
۲۰	پوه سه	۷۳	۴۸	دروښ وایي	۲۸۷
۲۱	دروښ وایي	۷۶	۴۹	د "ام یقولون افتری" تفسیر	۲۹۹
۲۲	د "وعلی الثلثة الذین خلفوا"		۵۰	حکایت	۳۰۱
	تفسیر	۷۷	۵۱	دروښ وایي	۳۲۱
۲۳	پوه سه	۸۱	۵۲	مسئله	۳۲۷
۲۴	سوال او خواب	۸۷	۵۳	نکته	۳۴۰
۲۵	دروښ وایي	۹۱	۵۴	دروښ وایي	۳۵۳

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

۵۵	د "ویٰقوم اوفوا المکیال" تفسیر	۳۵۵
۵۶	حکایت	۳۵۷
۵۷	فوائد	۳۶۰
۵۸	تفریع	۳۷۱
۵۹	فوائد	۳۷۴
۶۰	پوه سه	۳۷۷
۶۱	پوښتنه او ځواب	۳۷۹
۶۲	د "فلاتک في مریة" تفسیر	۳۸۰
۶۳	پوښتنه او ځواب	۳۸۱
۶۴	دروېش وایي	۳۸۴
۶۵	د "واقم الصلوة طرفی النهار وزلفاً من الیل" تفسیر	۳۸۸
۶۶	د "ولوشآء ربک لجعل الناس امة واحدة" تفسیر	۳۹۳
۶۷	فائده	۳۹۵
۶۸	دروېش وایي	۳۹۷
۶۹	د سورة یوسف ﷺ پیل	۳۹۹
۷۰	شان نزول	۳۹۹
۷۱	دروېش وایي	۴۰۰
۷۲	مسئله	۴۰۵
۷۳	پوښتنه او ځواب	۴۰۸
۷۴	دروېش وایي	۴۱۲
۷۵	تفریع	۴۱۴
۷۶	تنبیه	۴۳۰
۷۷	د "وشروه بثمن بخس" تفسیر	۴۳۳
۷۸	حکایت	۴۳۷
۷۹	پوه سه	۴۴۲
۸۰	بیانه فائده	۴۴۶
۸۱	دروېش وایي	۴۴۸
۸۲	حکایت	۴۵۶
۸۳	د "قالت فذالکن الذي" تفسیر	۴۵۷
۸۴	دروېش وایي	۴۵۷
۸۵	د "وقال رب السجن احب الي ممایدعونني الیه" تفسیر	۴۵۸
۸۶	حکایت	۴۵۹
۸۷	د "فستجاب له ربه" تفسیر	۴۵۹
۸۸	د "ثم بدالهم من بعد" تفسیر	۴۶۰
۸۹	د "ودخل معه السجن فتیٰن" تفسیر	۴۶۲
۹۰	سوال او ځواب	۴۶۳
۹۱	دروېش وای	۴۶۵
۹۲	پوه سه	۴۷۲
۹۳	فائده	۴۷۴
۹۴	د "قالوا اضغاث احلام" تفسیر	۴۷۵
۹۵	دروېش وایي	۴۷۶
۹۶	حکایات	۴۷۷
۹۷	پوه سه	۴۸۲
۹۸	د "قال ماخطبکن" تفسیر	۴۸۳
۹۹	پوه سه	۴۸۳
۱۰۰	د "ذالک لیعلم اني لم اخنه بالغیب" تفسیر	۴۸۴
۱۰۱	دروېش وایي	۴۸۴
۱۰۲	حکایت	۴۸۵
۱۰۳	خاتمه	۴۸۵

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

و ټولو دين دوستو وروڼو ته خبر ورکول کېږي چې د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه پر مذهب باندې ليکل سوی کتاب چې له عربي څخه پښتو ته زمونږ د اداري له خوا ژباړل سوی دی په ډېره روانه او سليسه پښتو سره چې د عباداتو تر څنګ د معاملاتو مسائل هم پکښې دي يعنې

المفيد في العبادات والمعاملات

على مذهب امام ابو حنيفه رحمة الله عليه

دې پر ژر به زمونږ د اداري له خوا وچاپ ته ورسېږي ان شاء الله تعالى، ددې کتاب خصوصيات دادي چې د پوښتنې او ځواب په شکل کې ټوله مسائل راوړل سوي دي، په دې کتاب کې څلور کتابونه دي يعنې کتاب الصلوة، کتاب النکاح، کتاب البيوع او کتاب الشفع.

الناشر

مکتبة التراث والتجويد
کاسي روډ کوټه بلوچستان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تفسير ايوبي حنفي۹ ټوک

د نصيراحمد احمدي لخوا

سکين او pdf سو.

تاريخ. ۱۳۹۸-۱۱-۲۳

واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

د دعا محتاج احمدي!

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner